فتاویٰ رحیمیہ

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبدالرحیم لاجپوریؒ

خطیب بڑی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل

حضرت مولانا غلام ربی

مکتبہ فاروقیہ
محلہ جنگی پشاور
Ph: 091 2211181
Mob 0300-9007550

فتــــاوی رحــیمــیه

(اتم جلد)

کـتاب الحج ، کتاب النکاح ، کتاب الطلاق
کتاب العدة

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سید عبدالرحـیم لاجپوري رحمة الله علیه
خطیب بړی جامع مســـجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه :
محمد خلیل (دریزی)

مکتبه فاروقیه محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

د کتـــاب پېژندنه :

د کتاب نوم : فتاوی رحیمیه

جـلد اتم

ترجمه : محمد خلیل

کمپوزر : عبد الشافي

ناشر : مکتبه فاروقیه

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

گڼه	عنوان	صفحه
۱	کتاب الحج	۱
۲	په حج کی تاخیر کول	۱
۳	ایا د جمعی د ورځی حج ته حج اکبر ویل صحیح دي ؟	۱
۴	د حاجیانو استقبال	۱
۵	حج نه کوونکي ته یهودي او عیسائي ویل شوي دي	۳
٦	که د حج په ادائیګي کی تاخیر وکړي	۴
۷	قرض اخستل اوبیا په هغو پیسو حج ته تلل	۵
۸	کومو کسانو چی واده نه وي کړی هغوی حج کولی شي ؟	۵
۹	د حج په سفر کی تجارت کول	٦
۱۰	هغه مور او پلار حج کولی شي چی اولاد یی په نکاح ولاړ وي ؟	٦
۱۱	که د حج فریضه ادا نه کړي نو څه حکم یی دی ؟	٦
۱۲	له اجمیر نه دری طوافه کولو سره حج نه کیږي	۸
۱۳	د سود په پیسو حج کول	۱۰
۱۴	د حاجي لپاره نفلي حج بهتر دی او که بدل حج	۱۱
۱۵	د سود او قمار په پیسو حج کیږي او که نه ؟	۱۱
۱٦	د غربت په حالت کی حج یی کړی دی که وروسته مالدار شي	۱۲
۱۷	د حج په ورځو کی نفلي عمره	۱۳
۱۸	حج مبرور څه ته وایي ؟	۱۴
۱۹	لومړی دی حج وکړي او که کور جوړ کړي ؟	۱۴
۲۰	د حج په متعلق ځینی جزئیات	۱۴
۲۱	که مالدار سړی مفلس شي پر هغه حج فرض پاتی کیږي او که نه ؟	۱۷
۲۲	له مشتبه مال نه خرڅ کول	۱۸
۲۳	د مالدار لپاره حج مقدم دی او که د زوی واده ؟	۱۹
۲۴	حج مقدم دی او که نکاح ؟	۲۱
۲۵	که قرضدار سړی حج ته لاړ شي ؟	۲۲
۲٦	پخپله حج وکړي او که په مور او پلار؟	۲۳
۲۷	که یو سړی حج وروسته کړي وربandی ګنهګاریږي او که نه ؟	۲۴

ګڼه	عنوان	صفحه

كتاب الحج

په حج کې تاخير کول:

(١ - سوال) ايا په حج کې قصداً تاخير کولو سره سړی گنهګاريږي او که نه ؟

(خواب) د حج فرضيدونه وروسته د وخت پيدا کولو با وجود هم که چيرته له څه شرعي عذر نه پرته په لومړی کال حج ته لاړ نشي نو سخت ګنهګار او د سزا مستحق دی. بيا که وروسته بخپل ژوند کې ادا کړي نو د تاخير کولو گناه يې بخښل کيږي.

علي الفور في العام الاول عند الثاني و اصح الروايتين عن الامام و مالك و احمد فيفسق و ترد شهادته بتاخيره اى سنينا...... و لذا اجمعو..... الخ فقط والله تعالى اعلم بالصواب.

ايا د جمعې د ورځې حج ته، حج اکبر ويل صحيح دی؟

(٢ - سوال): سږ کال د جمعی په ورځ حج شوی دی، خلک ديته حج اکبر وايي ايا د هغوی دا خبرې صحيح دي ؟

(خواب): بې له شکه چې د جمعې په ورځ د حج د واقع کيدو لوی فضيلت راغلی دی، په معتبرو کتابونو کې دی چې د جمعې حج اويا درجې افضل دی. په درمختار کې دي:

لوقفة الجمعة مزية سبعين حجة و يغفر فيها لكل فرد (ج ٢ ص ٣٤٨ كتاب اسرار الحج)

و قال بعض السلف اذا وافق يوم عرفة يوم جمعة غفر لكل اهل عرفة و هو افضل يوم فى الدنيا الخ (احياء العلوم ج ١ ص ٣٤٧ ايضا).

ليکن دا خبره دی په ياد وساتل شي چې د جمعې ورځې حج ته حج اکبر ويل معتبر او صحيح نه دي.

د حاجيانو استقبال:

(٣ - سوال): خيني خلک د حاجی د ښه راغلاست او استقبال لپاره هوايی ميدانو پورې ورځي ايا د دي څه اصل شته او که هسې رواج دی؟

(خواب) د حاجیانو استقبال کول ثواب دی. له حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چې تاسی له حاجی سره وګورئ نو سلام ورباندې واچوئ، مصافحه ورسره وکړئ او خپل ځان ته د مغفرت لپاره دعا وغواړئ لدینه مخکې چې هغه کورته ورسیږي، بیشکه هغه بخښل شوی وي.
همدغه راز له حضرت حسن رضی الله عنه څخه روایت دی چې کله حاجی د حج لپاره روان شي نو د هغه د رخصتولو لپاره لاړ شئ او هغه ته د خیر د دعا کولو تلقین وکړئ. او کله چې له حج نه واپس راشي نو هغه ته سترګی مشي ووایئ او مصافحه ورسره وکړئ. لدینه مخکې چې هغه په دنیاوي کار او بار کې مشغول شي او په ګناهونو کې اخته شي. بیشکه د هغه په لاس کې برکت دی. محمد صلی الله علیه وسلم دعا کړی وه چې:
(اللهم اغفر للحاج و لمن استغفر له الحاج.)
ای الله ! حاجی ته بخښنه وکړه او هغه چاته هم چې د هغه لپاره حاجی د مغفرت دعا وغواړي (احیاء العلوم ج ۱ ص ۲۴۸).[1]
لیکن ښځو لپاره ناجائز دی چې د خپل کور او کلي نه د باندې ووځي او د حاجی استقبال وکړي. په مجالس الا برار کې دي:
(و من منکراتهم ایضا خروج النساء عند ذهابهم و عند مجیئهم فان الواجب علی المراة قعود ها فی بیتها و عدم خروجها من منزلها و علی الزوج منعها عن الخروج ولو اذن لها کانا عاصین.... الخ.)
د حاجیانو د تللو او راتلو په وخت د هغوی رخصتولو او بیا د هغوی د استقبال لپاره د ښځو ورتګ معیوب او مذموم کار دی، هغوی ته پکار دی چې پخپلو کورونو کې واوسي که سړی هغوی منع نکړي بیاهم ګنهګاریږي (ص ۱۴۵) فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1]-((البته دغه جواز لازمي ګڼل ناجائز دی، که څوک فرصت لري لاړ دی شي، خو کوم خلک چې لاړ نشی نو پر هغه دی نکیر او ملامتیا ونکړي.))

حج نه کوونکی ته یهودي او نصراني ولی ویل شوي دي؟

(۴ – سوال): په حدیث شریف کې حج نه کـونکي خلکوتـه یهـود او نصـاراو سـره ولی مشابهت ورکول شوی دی؟

(خواب): حج د اسلامی عبادت څلورم رکن او فرض عین دی، ددی له فرضـیت منکر کافر او عمل نه کوونکې سخت ګنهګار دی، له حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

من ملك زاداً او راحلة تبلغهُ الی بیت الله و لم یحج فلا علیه ان یموت یهودیـا او نصرانیاً. یعنی د چا سره چې خوراک او د سواری خرچ موجـود وي چـې تـر بیـت الله پورې ورباندې ورسیږي، مګر بیا هم هغه حج ونکړ، نو هیڅ تعجب نه دی چـې یهـودی او نصرانی مړ شي (ترمذی شریف ص ۱۰۰).

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله علیه د دغه حدیث له نقلولو نـه وروسـته حج نه کونکی کسان. له یهود او نصاراو سره د تشبیه ورکولو وجه بیان کړی ده او لیکلی یې دي:

(و انما شبه تارك الحج بالیهود والنصرانی و تارك الصلوة بالمشـرك لان الیهـود والنصارا یصلون و لا یحجون و مشرکوالعرب یحجون و لا یصلون.).

یعنی حج نه کونکی کسان له یهود او نصاراو سره او لمونځ نـه کـونکی لـه مشـرک سـره خکه مشابهت ورکول شوي دی چې یهود او نصاراو لمونځ کاوه خو حج یې نه کـاوه، او د عرب مشرکانو به حج کاوه لیکن لمونځ یې نه کـاوه. (حجـة الله البالغـة ج ۲ ص ۱۸۵ ابواب الحج زجر تارک الحج مع الا ستطاعه.)

حضرت عمر رضی الله عنه به د داسی شخص په باره کې فرمایل: ماهم بمسـلمین مـاهم بمسلمین. (تفسیر ابن کثیر تحت قول لله علی النـاس حـج البیـت الخ ص ۳۸٦) یعنـی داسې خلک مسلمان نشي کیدلي – او فرمایل به یې:

(لا یجوز الصلوة علی المیت المستطیع الذی لم یحج.)

د داسې خلکو د جنازی لمونځ مه لولئ چې د قدرت با وجود حج یې نه وي ادا کړی.

د حضرت سعید بن زبیر، ابراهیم نخعی، حضرت مجاهد، حضـرت طـاوس او ډیـرو نـورو محدثینو همدا مسلک دی چې د داسې ګنهګار سړی جنـازی لمـونځ دی ونـه لوسـتل شي.

و قال سعید بن جبیر لو مات جار لی و له مسیرة و لم یحج لم اصل علیه .

(تفسیر قرطبی تحت و لله علی الناس حج البیت ج ٤ ص ۹۹.)

لهذا په چاچې حج فرض شي نو په هغه کې دی سستی ونکړي.څه پته ده چـې مـړ شـي او یا هم مفلس شي، نو څکه محمد صلی الله علیه وسلم هدایت کړی دی چې:

(من ارادالحج فلیتعجل) څوک چې د حج اراده وکړی، یعنی حج ورباندې فرض شـي نو بیړه دی وکړي؟ ابو داود ج ۱ ص ۲۴۹ بحواله زجاجة المصابیح کتاب المناسک ج ۲ ص ۹۲) فقط اعلم بالصواب.

که د حج په ادائیګی کې تاخیر وکړي نو څه حکم یې دی؟

(۵ - سوال): په کوم کال چې حج فرض شي نـو پـه همـدې کـال کـې حـج تـه تلـل ورباندې لازمي دی، خو که یو کال یې وروسته کړ نو د دی څه حکم دی؟

(ځواب) په چا چې حج فرض شي پر هغه ضروری دی چـې څـومره ژر ممکـن وي ادا کړي، که لومړی کال یې حج ادا نه کړ نو ګنهګاریږي، کله چې حـج فـرض شـي او پـه هغه کال یې ونکړي بلکی دوه دری کال وروسته یې ادا کړی او بیا مړ شي نو ګنهګار نه پاتی کیږي.

که له ناروغی نه وروسته د روغتیا په حالت کې حـج ادا کـړي نـو دا کوم قسم حج شو؟

(٦ - سوال): که چیرته یو ناروغ سړی وویل چې کـه زه ښـه شـم نـو زه د الله د رضـاء لپاره حج ته ځم. اوس هغه روغ شوی دی، نو اوس د هغه حج په فرض حج کې راځـي او که نفلی او نذر؟

(ځواب) په مسئوله صورت کې که هغه خپل حج نه وي ادا کړي او نفلی حج نیت یـې هم نه وي نو فرض حج یې ادا کیږي، په فتاوی سعدیه کې دی:

و لو قال رب برئت من مرضی هذا فی الله علی ان احج فبرئ فحج اجز من حجه الاسلام لان الغالب من امور الناس انهم یریدون بهذا الکلام حجه الاسلام (ج ۱ ص ۲۲).

قرض اخستل او بیا په هغو پیسو حج ته تلل:

(۷ – سوال): له زید سره پنځوس زره روپی دي لیکن دا پیسي يې بکر ته قرض ورکړي دي. زید حج ته تلل غواړي نو زید د قرض په پیسو حج ته تللی شي او که نه؟

(ځواب): کله چې زید ته یقین وی چې د عمر دا پیسې واپس کولې شم نو د ضرورت په اندازه دی قرض واخلي او خپل حج دی ادا کړي. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا کومو کسانو چې واده نه وي کړی هغوی حج کولی شي که نه؟

(۸ - سوال): سږ کال غواړم چې خپل مشر ورور حج ته واستوم، د هغه عمر ۴۸ کاله دی خو لا واده يې نه دی کړی، ایا هغه حج ته تللی شي او که نه؟بینوا توجروا

(ځواب): په مسئوله صورت کې که حج وربانديې فرض شوي وي نو حج وربانديې ضروري دی، او پدې کې تاخیر کول د ګناه موجب دی، کله چې د واده موقع پیدا شي نو واده دی هم وکړي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د حج په شرایطو کې واده کول شرط نه دی بلکې نا واده شوی هم حج کولی شي.

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهماقال النبی صلی الله علیه وسلم لقی رکبانا بالروحاء فقال من القوم قالوا المسلمون فقالو من انتم قال رسول الله فرفعت الیه امراء صبیافقالت الهذا حج قال نعم ولك اجرٌ) (رواه المسلم مشکوة کتاب المناسك ص ۲۲۱).

(۲) و غریبه ا ... التجارة احسن ولو اتجر لا ینقص ثوابه کالغازي اذا اتجر.(بحرالرائق کتاب الحج جلد۲ ص ۳۰۹).

د حج په سفرکې تجارت کول:

(۹) سوال حاجي په لاره کې هم تجارت او مکې ته له رسیدونه وروسته هم ایا پـه دی کی څه حرج شته ؟

(خواب) د انما العمال بالنیات مشهور حدیث دی، یعنی د اعمالو دار او مـدار پـه نیتونـو باندی دی. داسی یکار نه دی چی اصل مقصد یی تجارت وي او حـج پـه کـی ضـمنا وي په دی صورت کی که څه هم فرض اداکیږي خو د ثواب توقع بی خایـه ده، اوکـه حج او تجارت دواړه مقصود وي نو په دی کی د اخلاص کمی دی نوځکه ثـواب ورتـه کم ورکول کیږي.

دریم صورت یی دادی که چیرته مقصد یی یواځې حج وي او ضمناً لـه خـان سـره څـه مال هم وړي چی په لاره کی تجارت هم وکړي او ګټه ترلاسه کړي نـو پـه دی صـورت کی پوره ثواب ورته ورکول کیږي.

د الله تعالی ارشاد دی:

(لیس علیکم جناح ان تبتغوا فضلا من ربکم.) سورہ بقرہ: ۲٦ رکوع.

که چېرته د چا اولاد د نکاح په عمر کی ولاړ وي ایـا د هغـوی مور او پلار حج کولی شي او که نه؟

(۹ ـ سوال) هلک او جلی دواړه نکاح عمر تـه رسـیدلي دي، خلـک وایی چـی ترڅـو پوری د هغوی واده نه وی شوي مور او پلار یی حج ته نشي تللی یعنـی حـج وربانـدې فرض نه دی، ایا دا عقیده صحیح ده ؟

(خواب) کله چې حج فرض شي نـو حـج تـه تلـل فـرض دی، برابره خبـره ده چـی اولادونو ودونه شوی وي او که نه، که لاړ نشي نو ګنهګاریږي، کوم خلک چی دا خبـرې کوي د هغوی دا قسم خبري او عقیده صحیح نه ده.[1]

---

[1] - ((که د حج موسم نه مخکی ورته پیسی په لاس ورغلی وي نو لوړ ری دی د سپلو اولادو ودونـه وکـړي حـج وربانديې فرض نه دی او که د حج په وخت که پیسی پیدا کړي نو بیا وربانـدې حـج فـرض دی او حـج تـه تلـل ضروری دی.

(و فی الاشباح معه الف و خاف الغروبة ان کان قبل الخروج اهل بلده فله التزویج ولو وقته لرفته الحج (در مختار مع الشامی کتاب الحج ج ۲ ص ۱۹۸).

که د حج فریضه ادا نه کړي نو څه حکم یې دی؟

(۱۱ ـ سوال): که څوک د حج فرض کیدو نه وروسته حـج ونکـړي نـو هغـه لپاره څه وعیدونه دي؟

(ځواب) د داسې سړی لپاره د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

من لم یمنعه من الحج حاجة ظاهرة او سلطان جائر او مرض حابس فمات و لم یحج فلیمت ان شاء یهودیا و ان شاء نصرانیا_ (رواه الدارمی عن ابی امامه (زجاجة المصابیح ج ۱ ص ۹۴، ۹۵ کتاب المناسك).

یعنی له حج فرض کیدو نه وروسته داسې کوم خنډ چې مجبور کړي، یا د ظالم پاچـا له طرف نه قید او بند یا شدید ناروغي چې د هغه په وجه په سفر نشي تللی، که لـه داسې خنډ او رکاوټ نه پرته حج ادا نکړي نو برابره خبـره ده چـې هغـه یهـودی مـري او یا نصراني، یعنی دا ویره ده چې د هغه خاتمه به ښه نه وي. لهذا د حج فـرض کیـدو سره سم پکار دي چې له څه خنډ او تاخیر نه بغیر په همدی کال د حج کولـو پـوره کوشش وکړي، ممکن دی چې مرګ یې راشي یا د کوم عذر په وجه له حج نه محروم پاتې شي نو ځکه محمد صلی الله علیه وسلم تاکید کړی دی چې:

من ارادالحج فلیتعجل . (رواه ابو داؤد عن ابن عباس رضی الله عنهما)

یعنی کوم سړی چې د حج اراده وکـړي نـو هغـه دی بیـړه او عجلـه وکـړي. (زجاجة المصابیح ج ۲ ص ۹۲ کتاب المناسک)

حج په کومو حالاتو که فرض دی او په کومو کی نه دی؟

(۱۲ـ سوال): حج پر چا فرض دی یعنی په کوم حالت کـې حـج کـول ضروري دی هغه کوم موانع دي چې د هغوی د واقع کیدو په وجه حج مـؤخر کیـدلي شـي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): حج په هر داسې مسلمان باندې فـرض دی چـې آزاد، عاقـل، بـالغ، او روغ وي او له هغه سره د اسې حوائجو او ضرورتونه یعنی کور، لباس، نوکر، سـواري، کاروبار د کورنۍ ضروري زراعت سامان او قـرض نـه عـلاوه دومـره مـال وي چـې د عـادت او حیثیت په مطابق بیت الله شریف تـه د تلـو راتلـو تـو ښـه او خرچـه.ورسـره کـافي وي همدغه راز د خپل کور خلکو لپاره هم خرچه موجـود وي، همدغـه راز د لارو امـن او ښځې لپاره محرم شرط دی.

د کومو عذرونو له کبله چی حج وروسته کول جائز دی هغه دا دي:
(۱) مفلس کیدل (۲) د ظالم حکمران ویره (۳) قید خانی ته تلل (بندي کیدل) (۴) د لاری غیر مامون کیدل (۵) ناروغی چی د هغه په وجه سفر نشی کولي (٦) له ښځـی سره د هغه خاوند یا بل کوم محرم نه وي.(۷) ښځه په عدت کی وي.[1]
لیکن د عذرونو له ختمیدو نه وروسته حج ته تللت ضروري دی، کـه نـه نـو حـج بـدل وصیت کول ورباندې لازم وی، د زیات تفصیل لپاره د حج په باره کی کتابونه ولولئ.

له اجمیر نه درې طوافه کولو سره حج نه کیږي:

(۱۳_ سوال): زمونږ په علاقه کی جاهلان وايي چی هرڅوک اووه کرتـه خواجـه معین الدین چشتي مزار ته لاړ شي نو د هغه له ذمی نه حج ساقطیږي او بیت الله شریف تـه د تللو ضرورت نشته، دا عقیده ډیره گمراه کوونکی او خطرناکه ده، خـو د ځینـو خلکـو دا عقیده نشته، مهرباني وکړئ تاسی په دی باره کی رڼا واچوئ.

(ځواب):د شریعت په اصطلاح کی د محمد صلی الله علیه وسـلم د هـدایت او فرمـان په مطابق د الله جل علی شانه تابعداري او فرمـانبرداري کـول اسـلام دی، او د اسـلام ارکان پنځه دي (۱) کلمه شهادت (۲) لمونځ (۳) زکات (۴) روژه (۵) د بیت الله حج.
هر یو رکن پخپل ځای قائم او حتمی دي یو د بل لپاره قائم مقام نشی کیـدلی. مـثلاً: د لمونځ پر ځای ذکات او صدقات، د ذکات پر ځای روژه، د روژی پر ځـای حـج ناکـافی دی. بل دا چی هر یو رکن د اصولو او قوانینو په مطابق په عمل کـی راوسـتل ضـروری دی، د خپل عقل او خواهش په مطابق تر سره کول جائز نه دی، مثلاً د قربـانی لپـاره د زرو روپو د قربانی خاروي د حلالو پر ځـای لـس زره روپـی پـه خـیرات کـی ورکـول د قربانی مثیل نه دی.

---

[1] - ((و شروط فریضة ثمانیة علی الاصح الاسلام والعقل و البلوغ والحریة والقدرة علی الزاد ولوبمکـة بنفقـة وسط والقدرة ..... القدرة فاضلة عن نفقه عیاله الی حین عودة عمالا بدمنه کالمنزل و اثاثه و الات المحتـرفین و قضاء الدین..... و شرط الوجوب الاداء خمسة علی الاصح صحت البدن و زوال المانع الحسی عـن الـذهاب للحج و امن الطریق و عدم القیام العدة و خروج محرم. (نور الایضاح اول کتاب الحج ص ۱۲۳)
۲. و شرعاً عن رکن اذا حضر بعدو اومرض او موت محرم او هلاك نفقة قال فی شامیه تحت قوله او هلاك نفقـه تتمة فزاد فی اللباب مما یکون به محصرا امورا اخر منها العدة ..... و منها لوضل عن الطریق.... و منـها منـع الزوج زوجه اذا احرمت بنفل بلا اذنه. (در مختار مع الشامی باب الاحصار ج ۲ ص ۳۱۹))

خلاصه دا چی شریعت چی د قربانی لپاره کوم خاروي ښودلی دی د هغوی پریښودل او پر ځای ئې د نورو حیواناتو ذبح کول د واجبی قربانی لپاره کافی نه دی.

حج د اسلام با برکت رکن دی، اسلامي شعائر او فرض عین دی، لدینـه منکـر کـافر دی په ټوله دنیا کی بواځی په مکه مکرمه کی هر کال یو ځل د ذی الحجی په میاشت کـی ادا کیږي، په نورو ځایونو کی اصلي حج خو لا څه کوی د هغه نقـل هـم حـرام دی. د نصاب الاحتساب په کتاب کی دی: روی فـی الا خبـار ن قومـاً خرجـوا علـی هیئة الحجاج الی زیارة بیت المقدس فردهم عمرو ضربهم بالدرة قـال لهـم تریـدون ان تجعلوا بیت المقدس کالمسجد الحرام و انما فعـل ذلـك عمـر لانهـم فعلـوا فعـلاً محدثا و لا یجوز لاحد فـی دارالاسلام ان یشتغل بالمحدثات. (من تواریخ الکفایة الشعبیه، باب ٢٤ ص ٦٠ قلمی).

یعنی څو کسان د حاجیانو په شکل کی د بیت المقدس د زیـارت لپـاره ووتـل. حضـرت عمر رضی الله عنه هغوی منع کړل او په درو یی ووهل، ورته یی وویل:

آیا تاسي بیت المقدس د بیت الله شریف مثل جوړول غواړی الخ

تاسي پخپله لږ شوندی فکر وکړئ چی د بیت المقدس په شان ځـای چـی مخکـی قبلـه هم وه او هلته یو لمونځ لوستل د پنځوسوزرو لمونځونو هـومره ثـواب لـري، هلتـه ډیر زیات رسولان او انبیاء مدفون دي، هلته محمد صلی الله علیه وسلم د معـراج پـه شـپه د ټولو پیغمبرانو امامت وکړ، له داسی عظیم الشان مقام او ځای سره د کعبت الله پـه څیر عمل کول جائز نه دی، نو د حضرت خواجه معین الـدین لـه مـزار سـره داسـی عقیـده ساتل څنګه جائز کیدای شي؟ د حضرت خواجه صاحب مـزار تلـل او هغـه د بیـت الله شریف د حج قائم مقام ګرځول بالکل لادینی او مشرکانه عقیـده لروونکـو خلکـو فکـر او عقیده ده. (اعاذناالله منها)

حضرت غوث الاعظم فرمایی:

لیس الشرک عبادة الاصنام فحسب بل هو متابعتک لهواک.

یعنی! شرک صرف بت پرستی نه ده بلکی شرک دا دی چی د خپـل خواهشـاتو متابعـت وکړي. (فتوح الغیب مقاله ٧ ص ٢١ مطبع ګلشن ابراهیم لکنهو)

حضرت شاه ولی الله صاحب فرمایی:

ساقول کان اهل الجاهلية بقصدون مواضع معظمة بزعمهم يزورونها و يتبركون بها و فيه من التحريف والفساد مالا يخفى فسد النبي صلى الله عليه وسلم باب الفساد لئلا يلتحق غير الشعائر بالشعائر و لئلا يصير ذريعة لعباده غير الله.

زه وایم د جاهلیت د زمانی خلکو به پخپل گمان خینی خایونه معظم او محترم گڼل، د هغوی د لیدلو او برکت تر لاسه کولو لپاره به سفرونه کول، حال دا چې په دې کې د دین هغه تحریف او فساد دې چې د هیچا نه پټه نه دہ، نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دغه فساد دروازه بنده کړه ترڅو کوم ځیزونه شعائر الله نه دی هغه شعائر و نه ترځي او دا د غیر الله د عبادت ذریعه ونه گرځي. (حجة الله البالغة ج ۱ ص ۲۸۰ ابواب الصلوة المساجد التی تشد الیها الرحال مطبع اصح المطابع و کارخانه تجارت کتب کراچی).

د سود په پیسو حج کول څنګه دی؟

(۱۴ـ سوال): ایا د سودي پیسو سره حج کول جائز دی او که نه؟ او که وکړي حج یې ادا کیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): په حرام مال سره حج کول جائز نه دی (در مختار) که په سودي پیسو باندې حج کوی نو که څه هم حج یې ادا کیږي لیکن د حج ثواب ورته نه ورکول کیږي ځکه چې دا مقبول حج نه دی. په بحر الرائق کی دي:

ويجتهد في تحصيل نفقة حلال فانه لا يقبل بالنفقه الحرام كماورد في الحديث مع انه يسقط الفرض عنه معها (ج ۲ ص ۳۰۹ كتاب الحج تحت قوله هو زيارة مخصوص الخ و كذا في الشامي جلد ثاني ص ۱۹۱ و عالمگيری جلد اول ص ۲۲۰).

په حدیث شریف کی دی چی کله سړی په حرام مال باندې حج کوي او د لبیک اواز اوچتوي نو الله پاک ورته فرمایي: لا لبيك و لا سعديك و حجك هذا مردود عليك او كما قال عليه السلام. یعنی ستا د لبیک آواز ماته قبول نه دی، ستا دا حج سترد دی. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا د حج د فریضي ادا کولو لپاره د سور اجازه شرط دی؟

(۱۵ـ سوال): ایا د حج له فرضیت نه وروسته د سور اجازه ضروري ده؟ که ځوک د سور د نارضایتی با وجود حج ته لاړ شي نو هغه گنهگاریږي او که نه؟ بینوا توجروا!

(خواب) که والده (مور) یې د خدمت محتاج نه وی نـو لـه هغـی نـه اجـازه اخسـتل ضروري نه دی، که اجازه ورته ورنکړي نو بيا هم د فرض حج لپاره تلـل ضـروري دی، البته د نفل حج لپاره د مور له اجازی نه پرته تلل نه دي پکار.[1]

د حاجی لپاره نفلی حج بهتر دی او که بدل حج؟

(١٦ـ سوال): کوم سړی چې فرضی حج ادا کړی وي نو هغه لپاره نفلی حج ادا کـول افضل دی او که د بل چا حج بدل؟

(ځواب): د نفلی حج پر ځای د بل چا بدل حج ادا کول افضل دی. پـه حـدیث کـی دي:

و عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعاً من حج عن میت کتب للمیت حجة و للحاج سـبع حجات و عن جابر بن عبدالله مرفوعاً من حج عن ابیه او عن امه فقد قضی عنـه حجـة و کان له فضل عشر حجج.

ترجمه : چا چې د مړي له طرف نه حج ادا کړ نو مړي لپاره یو حج او حج کونکی لپاره اووه حجه لیکل کیږي. او په یو روایت کی دي: چا چې د خپل مور یا پـلار لپـاره حـج وکړ نو هغه مور او پلار له طرف نه د هغه حج ادا کړه او پخپلـه هغـه تـه د لسـو حجونـو ثواب رسیږی. (غنیة المناسک ص ۱۸۱ والله اعلم بالصواب.

د سود او قمار په پیسو حج کیږي او که نه؟

(۱۷ـ سوال): که یو سړی د سود او جواري په پیسو حج وکړي نو حج یې ادا کیږي او که نه؟

(ځواب):حج او هغه ته سفر کول نهایت مبارک او پاک سفر دی، حج د اسلام یـو عظـیم رکن او لوی عبادت دی. په حدیث کی دي چې کـوم سـړی د سـورلۍ پـه ذریعـه حـج وکړي نو د هغه د سورلۍ د هر قدم باندې اویا (۷۰) نیکۍ رسیږي، او څوک چـې پیـدل حج ته لاړ شي د هغه د هر قدم په بدل کـی ۷۰۰ اووه سـوه نیکـی ورکـول کیـږي. لـه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې د حرم شریف په وجه څومره نیکـی تر لاسه کیږی؟ ویې فرمایل:

---

[1] - ((فی الملتقط حج الفرض اولی من طاعة الوالدین و طاعتها اول من حج النفل. فتاوی عالمگیری قبیل البـاب الثانی فی المواقیت.))

د یو لک نیکیو په برابر. (مجمع الفوائد)لهذا د حج په شان پـاک عبـادت تفـاوُل او نیـه نیت سره خالص الله او د هغه د رسول رضا او خوشحالی د تر لاسـه کولـو پـه خـاطر لـه حلالو او غیر مشتبه مال څخه ادا کړی شي.

سفیان ثوري رحمه الله علیه فرمایي: کوم سړی چی په نیک کـار کـی حـرام مـال خـرج کړي د هغه مثال داسی دی لکه چی خپله جامی په متیازو سره پاکی کړي.

ابو سلیمان داراني د احرام په حالت کی بیهوشه شو او پر زمکه وغورځید، کله چـی پـه هوش راغی نو خپل ملګري ته وویل: ماته هغه حدیث په یاد راغی چی په حـرام مـال د حج کوونکی خلکو د لبیک په خـواب کـی الله تعـالی فرمـایي: لا لبیـک و لا سـعدیک و حجک هذا مردوداً علیک. ستا لبیک او سعدیک منظور نه دی او ستا دا حج ستا پـه مـخ ویشتل کیږي، زه ویریږم هسی نه ماته هم داسی ځواب رانکړی شي.

لنډه یی دا چی د حلال او پاک مال نه دی حج ادا کړي په حـرام مـال سـره حـج نـه قبلیږي اګرچه ظاهري فرض ترینه ساقطیږي.

که چیرته دا شک او شبه وي چی زما په مـال کـی حـرام ګـډ شـوي دی نـو دی لپـاره شرعي حیله دا ده چی د کوم غیر مسلم نه قرض پیسی واخلي او پر هغـه حـج ادا کـړي او بیا له خپل مال نه د هغه قرض ورکړي. (والله اعلم بالصواب)

په حج کی تاخیر کول:

(۱۸ـ سوال): په کوم کال چی حج فرض شوي وي په هغـه کـال یی ونکـړ بلکـی بـل کال ته حج یی وکړ، ایا په دی کار سره هغه ګنهګاریږي او که نه؟

(ځواب): صحیح دا ده چی په کوم کال وربانديې حج فرض شي په هغه کال دی حـج ته لاړ شي، د څه شرعی عذر نه پرته وروسته کول ګناه ده. فقط والله اعلم بالصواب.

د غربت په حالت کی حج یی کړي دی، که وروسته مالدار شي نو څه وکړي؟

(۱۹ـ سوال): یو سړی له بل چانه قرض حسنه واخیست او حـج تـه لاړ، لدینـه وروسـته دغه سړی مالدار شو، ایا پر هغه دوباره حج کول ضروري دی او که نه؟ بینوا توجروا

که چیرته غریب سړی په کومه طریقه مکی مکرمي ته ورسـید او حـج یـې وکـړ بیـا هغـه مالدار شو نو د هغه حج ادا شوي دی، دویم حج ته ضرورت نشته.

ولو حج الفقير ثم استغنى له يحج ثانيا لان شرط الوجوب التمكن من الوصول الى موضع الاداء الا ترى ان المال لا يشترط فى حق المكى (مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۶۰ كتاب الحج شامى ج ۲ ص ۳۳۲) فقط والله اعلم بالصواب. ۲۳ رجب ۱۳۹۹ ه

د حج په ورځو کی نفلی عمره:

(۲۰ سوال) ایا د تمتع حج کوونکی حاجی له عمری نه فارغیدونه وروسته په مکه مکرمه کې د قیام په وخت کی له حج نه مخکې نفلی عمره ادا کولی شي او که نه؟

(جواب) راجح قول دا دی چی د حج په میاشتو کي متمتع د عرفي، نحر او د تشریق ورځونه علاوه په نورو ورځو کي نفلي عمره له څه حرج نه بغیر کولي شي. (غنیه المناسک ص ۱۰٦) د ارشاد الساري مصنف شیخ عبدالعزیز لیکي: دا چي نا واقفو متمع حجاج کرامو معلم هغوی له نفلي عمری نه منع کوي، دا یو غلط کار دی، غریب نا واقف حجاج له داسی عبادت نه محرومیږي چی دا عبادت هغوی پخپل وطن کی نشي کولی. و له یو لوی عبادت نه محروم پاتی کیږي. (ص ۹۴) لهذا په عمره کولو کی هیڅ حرج نشته، جائز دی. زما خپل عمل هم همدادی عبدالرحیم.

په ځان باندې د نذر کړي شوی حج حیثیت:

(۲۱ـ سوال): یو سری په ناروغی کې نذر ومنله چی که زه له دی ناروغی نه ښه شم نو الله لپاره به حج کوم، الله تعالی هغه روغ کړ او حج ته لاړ، ایا د هغه دا حج فرض حج کیږي او که نفلی حج؟

(جواب) په دی صورت کی که دغه سړی وړاندی فرض حج نه وي ادا کړي او په دی حج کی د نفلی حج نیت نه وي کړي نو فرض حج یی ادا کیږي. په فتاوی سعدیه کی دي:

ولو قال ان برئت من مرضى هذالله على ان احج فبريئ فحج اجزاه عن حجه الاسلام لان الغالب من امور الناس انهم يريدون بهذا الكلام حجه الاسلام. ج ۱ ص ۲۲).

حج مبرور څه ته وایي او ددی څه علامت دی؟

(۲۲_ سوال): د حج مبرور څه نښې نښانې دي؟

(ځواب): مبرور او مقبول حج هغه دی چی له ګناهونو نه توبه او بخښنه وغواړي، او د حج ټول فرائض، واجبات، سنت او مستحبات ټول ادا کړي، د احرام په حالت کـی لـه هر قسم ممنوعاتو څخه اجتناب وکړي، د ریا کـاری او حـرام مـال څخـه ډډه وکـړي، د حج ټول مصارف د حلال مال نه وکړی، بیا لدینه وروسته چی دینی حالت یی هـم ښـه وي نو پوه شه چی حج مقبول او مبرور دی. والله اعلم بالصواب.[1]

کله چی له یو سړی سره پیسې پیدا شی نو هغـه دی لومړی حـج وکړي که کور جوړ کړي او که واده وکړي؟

(۲۳_ سوال): له یوه سړی سره دومره پیسې دي چې حج ورباندې کولې شي، خو هغه خپل کور نه لري، نو په دی صورت کی دی هغـه حـج وکـړي او کـه کـور جـوړ کـړي، همدغه راز له یو سړی سره دومره پیسې شته چې حج ورباندې کولی شي خـو واده یـې نه ده کړی. نو لومړی دی حج وکړي او که واده وکړي؟ بینوا توجروا

(ځواب) که چیرته د حج وخت وي او خلک حج ته روان ويږنو پر هغه لازم دی چـې لومړی حج وکړي، کور وروسته هم جوړیدای شي. که چیرته د حج موسم او وخـت وي مګر په زنا کې د اخته کیدو ویره ورسره نه وي نو لومړی دی حج وکړي، خو کـه پخپل ځان قابو نه لري او په زنا د اخته کیدو ویره وي نو بیا دی واده وکړي. فقـط والله اعلم بالصواب.

د حج په متعلق ځینې جزئیات:

(۲۳_ سوال): څه فرمائي مفتي صاحبان د لاندنیو مسائلو په باره کی؟

(۱): ایا مکې معظمې ته ځوک له احرام نه پرته تللی شي؟

(۲): په مزدلفه کی د ماښام سنت لوستل پکار دی او که نه؟

---

[1] ((للحجه المبروره قیل المراد بها المقبول و قیل الذی لا یخالطه شئی من الاثم ورجحه النووی و فی [illegible] الاقوال فی تفسیره متقاربه المعنی حاصلها انه الحج الذی وفیت احکامه علی الوجه الاکمل کذا قاله السیوطی فی التوضیح حاشیه ترمذی باب ماجاء فی ثواب الحج والعمره ج ۱ ص ۱۶۷)).

(۳) کوم شخص چی د حج په میاشتو کی په مکه کی داخل شي نو ایا پر هغه په همدې کال حج فرض گرځي او که نه؟ که هغه مخکې حج کړی وي نو څه حکم یې دی؟
(۴): محمد صلی الله علیه وسلم حج قران له هدی سره کړی و، نو څکه له هدی نه پرته حج قران نه کیږي ایا دا خبره صحیح ده؟
(۵): د شکر له دم نه علاوه د لوی اختر قرباني علیحده کول واجب دی؟
(٦): ایا په احرام کی گنډل شوی خادر جائز دی، په گنډل شویو جامو کی مجرم کیدای شي؟
(۷) که د ویده کیدو په حالت کی کپړه په مخ باندې پرې اوځي نو ایا په دی سره دم لازمیږي؟
امید دی چی د پورتنیو سوالونو ځواب راکړئ. (حیدر آباد)
(ځواب): کوم خلک چی د میقات او حرم ترمنځ اوسیږی او هغوی د کوم ضرورت په وجه مکې مکرمې ته تللل غواړي نو له احرام نه بغیر مکه معظمې ته تللی شي، او که د حج او یا عمرې اراده وي نو بیا د احرام تړلو نه پرته مکه مکرمی ته نشی تللي، برابره خبره ده چی د حج او عمري اراده یې کړی وي یا د تجارت، تفریح او نورو.
(زبده المناسک ج ۱ ص ۴۰ و معلم الحجاج ص ۱۰۴) فقط والله اعلم بالصواب.
(۲) په مزدلفه کی د ماسختن په وخت له داخلیدونه وروسته دی مابنام او ماسختن په یو اذان او یو اقامت سره ادا کړي او په منځ کی دی سنت او نفل لمونځ نه کوي، بلکې د مابنام او د ماسختن سنت او وتر د ماسختن لمونځ نه وروسته دی ولولي، که اتفاقاً په جمعی سره لمونځ ونکړی شو او یواځې ځان ته یې لمونځ ولوست بیا هم د سنتو همدا حکم دی، همدغه راز د تشریق تکبیرات دی هم د ماسختن لمونځ نه وروسته ولولي نه د مابنام له لمونځ نه وروسته.[۱]

---

[۱]- ((یتطوع بینهما ولو تطوع بینهما او اشتعل بشئ اعاده الاقامه. (فتاوی عالمگیري الباب الخامس ف کیفیه اداء الحج، ج ۱ ص ۲۳۰) .

و ان لا یجب فی العمره الا مره کذا فی محیط السرخسی. فتاوی عالمگیري اول کتاب الحج ص ۲۱٦ .))

[۳] ((و حکم القارن لحکم المتمتع فی وجوب الهدی فاذاراد المتمتع ان یسوق الهدی احرم و ساق هدیه کـذا فی القدوری و هو افضل من الاول الذی لم یسق کذا فی الجوهره السیره. (فتاوی عالمگیری الباب السابع فی القران والمتمع ج ۱ ص ۲۳۹).

(۳). کوم سړی چی د حج په سیاشت کی په مکه معظمه او یا حرم کی داخل شو نو پر هغه په همدغه کال حج فرض کرخي، لیکن شرط دا دی چی د حج په خرچه باندې قادر وي، منی، عرفات او مزدلفې پورې د پیدل تللو قدرت ولري یا په سواري باندې قادر وي. (زبدة المناسک ص ۱۳)

په عمر کی صرف یو ځل حج فرض دی، کله چی یو ځل حج یې کړی وي نو په دویم ځل حاضریدو سره ورباندې حج فرض نه دی ۲. فقط والله اعلم بالصواب.

(۴): په حج قران کی له خان سره د هدی وړل شرط نه دی. فقط والله اعلم بالصواب

(۵): د اختر قربانی په مقیم باندې واجب دی نه په مسافر باندې، خو کوم خلک چی په مکه معظمه کی د حج له ورځو نه مخکې ورسېږي د پنځلسو ورځو د اوسیدو نیت یې کړی وي نو پر هغه د اختر قربانی واجب دی. (معلم الحجاج)

مګر حجاج عموماً مسافر وي. له هغوی نه ډیر کم داسې وي چې د حج له ورځو نه مخکې پر له پسې پنځلس ورځې د مکې مکرمې په ښار کې د اوسیدو نیت کوي. فقط والله اعلم بالصواب.

(٦): په معلم الحجاج کی دي: د ښځې لپاره صرف د مخ او سړي لپاره په احرام کی سر او مخ دواړه پټول منع دي، که چیرته سړي د احرام په حالت کی ټول سر یا مخ یا د سر څلورمه حصه، یا څلورمه حصه د مخ په داسې څیز سره پټ کړ چی عادتاً یې پټوي لکه ټوپی یا پګړی، لدینه علاوه په کومی کپړی سره که هغه ګنډل شوی وي یا نه، په خوب کی وی یا په ویښه کی، قصداً وي یا سهواً، پخپله خوښه وي یا په زوره، په عذر سره وی یا له عذرنه پرته، په هر صورت جزا ورباندې واجب ده، که چیرته پوره یوه ورځ یا پوره یوه شپه پټ کړی وي نو دم ورباندې واجبیږي، خو که له یوی ورځ او یوې شپې نه کم پټ کړ یا څلورمې حصې نه کم پټ کړ نو صدقه ورباندې واجب ده.

د صدقی اندازه نیم ساع غنم (پاو کم دو کیلو) ده. (معلم الحجاج ص ۲۵۳) فقط والله اعلم بالصواب و علمه اتم و احکم ۲۰ ذی قعده ۱۳۹۸ ه

(۲۵_ سوال): په یو سړی باندې حج فرض شوی و، هغه د حج لپاره فارم هم ډک کړ، پوره کوشش یې وکړ چی د حج لپاره نوم یې ووځي مګر نمبر یې و ونه وت. دویم کال

ته له هغه سره مال پاتی نه شو، اوس په هغه باندې د حج ذمه پاتی ده او که نه؟ کـه دا سړی حج ونه کړی شي نو ګنهګاريږي که نه؟ایا هغه لپاره قرض اخستل او پـه هغـه حـج کول ضروري دی او که نه؟ بینوا توجروا. (احمد آباد څخه)

(خواب): غوره دا ده چې دغه سړی د فرض د ادا کولو په نیت قرضـه واخلـي او حـج ته لاړ شي، څرنګه چې هغه د حج د ادا کولو لپاره درخواست ورکـړی او فـارم يـې ډک کړی دی، او کوشش یې هم کړی دی مګر نمبر یې رانغی، نو څکه انشاء الله ګنهګار نه دی.

و قالوا لولم يحج حتى اتلف ماله وسعه ان يستقرض و يحج ولو غير قادر علــى و فايه و يرجي ان لا يوخذه الله بذالك اى ناويا وفاء اذا قدر كما قيده فى الظهيريه.

(در مختار مع الشامي ج ۱ ص ۱۹۲ كتاب الحج.) فقط والله اعلم.

که مالدار سړی مفلس شي نو پر هغه حج فرض پـاتی کيـږي او که نه؟

(۲٦_ سوال): فتاوی رحیمیه پنځم جلد ص ۲۲۰کی فتوه ده چې عنوان يـې دی (کـه مالدار مفلس شي) تاسي د هغه ځواب داسي لیکلی دی:

بهتر دا دی چې دا سړی د فرض ادا کولو په نیت قرضه واخلي حج ته لاړ شي، څرنګـه هغه د فرض حج ادا کولو لپاره فارم ډک کړ او کوشش يې وکړ مګر نمبـر يـې رانغـي نـو څکه انشاء الله ګنهګار نه دی الخ.

دا ځواب وضاحت ته ضرورت لري چې له مفلس کیدونه وروسته ایا پـر هغـه حـج کـول ضروري دی او که فرضیت ترینه ختم شوی دی؟ بل دا چې که قرض وانه اخلي او حـج ونه نکړی نو ګنهګاريږی او که نه؟ بینوا توجروا

(ځواب): د فتوی صورت د لومړی کال دی، که دويم او دريم کال وي نو فـرض ترینـه نه ساقطيږي حج وربانديې ضروري دی. که چیرته د قرض د تـر لاسـه کيـدو او د هغـه د ادا کولو امید وي، د هغه وارثان د قرض د ادا کولو حوصله او اميـد ورکـوي نـو قـرض اخستل او حج ادا کول ضروري دی که نه نو بیا بهتر دا ده چې قرض وانخلي.

په عمده الفقه کې دي: که چیرته په یو سړی باندې د حج په ورځو کې د حـج وجـوب ټول شرائط وموندلې شي او حج وربانديې فرض شي او همغه وخـت د حـج لپـاره روان

شو تر دی چې د هغه مال تلف او فقیر شو نو اوس د فقیری په وجه له هغـه نـه حـج نـه ساقطیږی بلکی د حج وجوب بالاتفاق د هغه په ذمه قـرض پـاتی دی. برابـره خبـره ده چې د هغه مال د بل چا له لاسه تلف شوی دی یا د خپل له لاسـه، کـه چیرتـه هغـه لـه چانه د قرض اخستلو او د حج کولو طاقت او وسعت لري که څه هم د هغـه د ادا کولـو طاقت نه لري نو دغه فقیر لپاره جائز دی چې د حج لپاره قرض واخلي، خو ځینو ویلـی دي چې پر هغه قرض اخستل واجب دی، داد امام ابو یوسف یـو روایـت دی او د دی ضعیف کیدل ښکاره او ظاهر دی، که چیرته له چانه قرض واخست او حج یې ادا کـړ او د قرض په ادا کولو قادر نه شو تر دی چې مړ شو. نو امید دا دی چـې الله تعـالی بـه د قیامت په ورځ د هغـه دا قـرض ادا کـړي، عـذاب بـه ورتـه نـه ورکـوي او هغـه بـه نـه ګنهګاریږي، هله چې د هغه نیت دا وي چې د قدرت د پیدا کولو په صورت کـې بـه ادا کوي. د قرض د ادا کولو د قدرت نه لرلو مطلب دا وچې که هغـه فـی الحـال ددی پـه ادا کولو قادر نه وي مګر غالب ګمان یې دا وي چې که کوشش وکړي نو ادا کولي یـې شي. خو که غالب ګمان یې دا وی چې نه شـي ادا کـولی نـو بهتـر دا دی چـې قـرض وانخلي، ځکه چې په بنده باندې د الله تعالی حق پاتی کیدل د بندګانو د حقوق زیات اسان او سپک دی.

(عمده الفقه ص ٦٧ ـ ٦٨ کتابِ الحج جلد چهارم.) فقط والله اعلم بالصواب)

له مشتبه مال نه خرچ کول:

(۲۷ـ سوال): د یو سړی د آمدنی طریقه دا ده چې د هغه قیمتی کانو کار خانـه ده پـه دی که څه آمدنی جائز او حلال طریقې سره وي، او څـه پـه دوکـې او حـرامې طـریقې سره. ددی صورت دا دی چې په کار خانه کې د قیمتی کانو د صفا کولو لپاره د قیمتـی کانو له مالکانو څخه راوړي، هغه بیا په دی کې ځینې قیمتی کانې پټوي او د هغـوی پـر ځای خراب کانی ورکوي، که څه هم مالکانو ته دا معلومیږي چې کارخانه دار لـه مونـږ سره ټګی کوي مګر هغوی مجبور دي ځکه چې د قیمتی کانو د صفا کولونه پرته هغـوی بل چاره نلري. ایا داسې سړی په دغو پیسو سره حج کولې شي او که نـه؟ او کـه وکـړي نو حج یې ادا کیږي او که نه؟

(خواب): که چیرته څه مال یې په حلاله طریقه ګټلې وي او څه یې په ناجائزی طـریقې سره، نو داسی مال مشتبه دی،لهذا له کوم غیر مسلم څخـه د حـج لپـاره بلاسـود قـرض

واخلي او په هغو پیسو دی حج ادا کړي، او له مشتبه مال څخه دی قرض ادا کړي، امید دی چې په دی سره به حج یې ادا شي.
په معلم الحجاج کی دي: ترڅو پورې چې ممکن کیدای شـي د حـج لپـاره مصـارف او پیسې باید حلالی وي، په حرام مال سره حج نه قبلیږي، که څه هم فرض ساقطیږي، کـه د چا مال مشتبه وي نو له کوم غیر مسلم نـه دی د ضرورت پـه انـدازه بـلا سـود قـرض واخلي او بیا له دغه مشتبه مال څخه دی هغه قرض ادا کړی. (معلم الحجاج ص ۳۳)
د پیسو په کټلو کی دی مکمل احتیاط وکړی شي، کوم مال چې په حلالـه طـریقې سره وګټل شي که هغه لږ هم وي ډیر برکتي وي، مګر کوم مال چـې پـه نـاروا طـریقې سـره ترلاسه شوي وي هغه منحوس او بی برکته وي.

د مالدار سړی لپاره حج مقدم دی او که د زوی واده؟

(۲۸ــ سوال): زه سرکاری ملازم وم، کله چې تقاعـد (ریټائرډ) شـوم نـو ماتـه اویـا زره روپۍ راکړی. زما د حج اراده وه، مګر زما د زوی واده مخې ته راغلـی ده. اوس د واده ابتدایی مراحل دي، ایا زه لومړی حـج وکـړم او کـه د خپـل زوی د واده لپـاره پیسـې جمع کړم. مهرباني وکړئ خواب راکړئ؟ بینوا توجروا
(خواب): په مسئوله صورت کې چې له تا سره کومې پیسـې دی کـه چیرتـه هغـه سـتا د اصلی او ضروري حوائجو نه زیاتیږي او حج ته د تلو راتلو د کرایه لپـاره پـوره کیـږي، د خپلې کورنی نان نفقه هم ورکولې شي نو پر تا باندې حج فرض دی، لومړی بایـد حـج ته لاړ شي ممکن دی چې وروسته کوم خنډ او مشکل درته پیدا شي او د حج له سعادت نه محروم شي. د اولاد نکاح هم ضروری دی.[1]
په احادیثو کې د دی زیات تاکید راغلی دی، د حج لـه ادا کولـو نـه وروسـته د هغـه د واده انتظام هم ضروري دی، مګر د هغه د واده په وجه دی حج وروسته نه کړی شي.

---

[1] (په حدیث کې دی چې چا کره ماشوم پیدا شي نو هغه ته پکار دی چې ډېر ښه نوم کیـږدي او هغه ته ادب وښایی او کله چې بالغ شي هغه ته نکاح وکړي، کله چې ماشوم بالغ شـي او پـلار هغـه تـه واده ونکړي او هغه ګناه وکړي نو د هغه ګناه د هغه په پلار باندې هم ده. (مشکوه شریف ص ۴۷۱ باب الولی فی النکاح) همدغه راز په حدیث کې دي: د چا لور چې بالغه شي او پلار د هغې واده ونکړي او هغه څه ګناه وکړي نو د هغې ګناه د هغه په پلار باندې ده. (مشکوه ص ۲۷)

فقهای کرامو دا بیان کړی دی چې کله څوک مکې مکرمې ته د تللو راتللو د کرایه او په نان او نفقه باندې قادر وي نو پر هغه حج واجب دی. د خپلو زامنو د واده خرچ نه دی بیان کړی ان تردی چې مدینې طیبې ته د تللو خرچ هم د حج د فرضیت لپاره ضروري نه دی گرځولي.

په درالمنتقی کې دي: (وقدره زاد) وسط (وراحلته)..... (و نفقة و ذهابه و ایابه) (فضلت عن حوائجه الاصلیه ..... (و نفقته عیاله مستلزمه نفقه لتقدم حق العبد...... (الی حین عوده) و قیل بعده بیوم و قیل بشهر الخ (در المنتقی شرح الملتقی علی هامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۲٦۱ کتاب الحج).

په زبدت المناسک دي:

حج پر هغه مسلمان فرض گرځي چې عاقل او بالغ وي او له ضروري حوائجونه علاوه دومره مال واري چې حج په سورلۍ باندې لاړ شي او بیرته خپل کورته راشي او د کومو خلکو خرچه چې پر هغه ده تر بیا ستنیدو پورې هغوی ته ورکړي (زبده) که لدینه زیات مال ورسره نه وي نو پر هغه حج فرض نه دی. (زبده المناسک ص ۱۲ ج ۱)

په فتاوی رحیمیه کې دي:

حج پر یو داسې مسلمان باندې فرض دی چې آزاد، عاقل، بالغ او تندرست وي او له هغه سره له اصلی حوائجو یعنې د اوسیدو کور، لباس، سواري، کاروبار او د کور او زمینداری سامان ورسره وي، له قرض نه علاوه دومره مال ورسره وي چې بیت الله شریف ته د تللو راتللو او خرچې کولو لپاره بس وي، لدې نه پرته کومو خلکو نفقه چې په دی باندې واجب وی هغوی ته ورکړی. (فتاوی رحیمیه ص ۳۵ ج ۸).

په فتاوی دارالعلوم قدیم کی دي:

(سوال): که چیرته یو سړی سره دومره روپۍ وي چې هغه حج کولې شي او عیالدار هم دی نو پر هغه باندې لومړی خپل اولاد ته نکاح کول واجب دی او که حج کول؟

(ځواب): هغه ته پکار دی چې لومړی حج وکړي، د هغه پر ذمه صرف د خپلې کورنۍ نفقه واجب ده چې له حج نه واپسې پورې هغوی ته ورکړي. لدینه علاوه د اولاد نکاح او نور سامان د هغه په ذمه نه دی، لومړی دی حج وکړي بیا دی د خپل اولاد د نکاح بندوبست وکړي. (فقط والله اعلم بالصواب)

(فتاودارالعلوم قدیم ص ۷۷ ج ۳ _۴ عزیز الفتاوی)

دویمه فتوی

(سوال): له یو تن سره دومره پیسه وه چې حج یې ورباندې کولی شو، لیکن هغه حج ونکړ او هغه پیسې یې د خپلو اولادونو په ودونو کې ولګولې، اوس مفلس دی، که هغه ټول عمر مفلس پاتې شي او پیسې ونه ګټي نو ایا هغه د حج په نه کولو سره ګنهګاریږي؟
(ځواب): پر هغه حج فرض شوی و که چیرته حج کولونه پرته مړ شي نو د حج پریښودونکی او ګنهګار دی. (فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۷۷ ج ۳_ ۴ عزیز الفتاوی) فقط اعلم بالصواب.

حج مقدم دی او که نکاح:

(۲۹_ سوال): له یو سړی سره دومره مال او پیسه شته چې حج ورباندې کولې شي مګر واده یې نه ده کړی نو لومړی دی حج وکړي او که نکاح؟ بینوا توجروا.
(ځواب): که چیرته د حج د فارم د ډکولو او داخلی کولو وخت وي او خلک د حج تیاري کوي، همدغه راز هغه په زنا کې د مبتلا کیدو ویره نه لري نو لومړی دی حج وکړي، او که پخپل ځان قابو نه لري او په زنا کې د اخته کیدو خطره وي نو لومړی دی نکاح وکړي.

په درمختار کی دي: و فی الاشباه معه الف و خاف العزوبة ان کان قبل خروج اهل بلدة فله التزوج ولو وقته لزمه الحج. په شامی کي دی: (وفی الاشباه) المسئلة منقولة عن ابی حنیفة فی تقدیم الحج علی التزوج. الی قوله. ولذا اعترضه ابن کمال باشا فی شرحه علی الهدایه بانه حال التوقان مقدم علی الحج اتفاقاً لان فی ترکه امرین ترك الفرض والوقوع فی الزنا و جواب ابی حنیفة فی غیر حال التوقان ای غیر حال تحقیق الزنا لانه لو تحققه فرض التزوج اما لو خافه فالتزوج واجب لا فرض فیقدم الفرض فا فهم. (درمختار و شامی ج ۲ ص ۱۹۷، کتاب الحج)

په معلم الحجاج کی دي: که له یو سړی سره د حج کولو په اندازه پیسې وي او واده کول هم غواړي، نو که حج ته د تللو میاشت وي نو پر هغه حج واجب دی، او که اوس حج ته د تللو میاشت وي نو پر هغه حج واجب دی، او که اوس حج ته د تللو

مباشت او ورځې نه وي نو بيا دی نکاح وکړي، ليکن که دا يقين لري چې که نکاح ونکړی نو په زنا کې اخته کيږي نو لومړی دي نکاح وکړي نه حج (معلم الحجاج ص ۹۱ شرائط حج) فقط والله اعلم بالصواب

که يو قرضدار سړی حج ته لاړ شي نو د هغه څه حکم دی؟

(۳۰ سوال): زمونږ په علاقه کې يو سړی وويل چې که په يو چا باندې قرضه وي نو هغه حج ته نه شي تللی، ايا د هغه دا خبره صحيح ده؟ هغه تر اوسه پورې حج نه دی کړی او في الحال له هغه سره دومره پيسې دي چې حج ته تللی او راتللی شي، نو هغه لپاره شرعي حکم څه دی؟ يو سړی حج ادا کړی دی، اوس د نفلي حج لپاره تلل غواړي، مګر پر هغه قرض دی نو په دی صورت کې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

(ځواب): که چيرته في الحال خلک له هغه نه خپل قرض نه غواړي او هغوی پخپله خوښه حج ته د تللو اجازه ورکړي يا قرض داره خپل قرض د بل چا په ذمه واړوي او په دی باندې، د قرض خواهانو اطمنان وشي او هغه ته حج ته تللو اجازه ورکړي نو حج ته تللی شي. د هغه په ذمه چې څومره قرضه وي احتياطاً دی د هغه په متعلق وصيت نامه ونيکی او وارثانوته تاکيد وکړي چې که زما په سر قرض پاتی شي نو زما له ترکې نه دې لومړی قرض ادا کړي، او که په ترکه کې د دی ګنجايش نه وي نو له خپل مال نه قرض ادا کړی که چيرته د قرض ورکوونکو له اجازی نه بغير لاړ شي نو حج يې مکروه دی خو حج يې ادا کيږی که چيرته په همدې وخت کې د قرضونو د ادا کولو ګنجائش وي نو په همغه وخت دی قرضه ادا کړي، دا د حقوق العباد معامله ده او د دی ډير زيات اهميت دی که څوک د پيسو درلودلو با وجود خپل قرض ادا نکړي نو دا ښته ګناه ده.

په حديث کې دي:مطل الغنی ظلم. مالدار سړی چې ټال متول کوي نو دا دهغه لپاره ګناه ده.

په در مختار کې دي: و بالکراهة کالحج بلا اذن ممن يجب استئذانه (درمختار) په شامی کی دي: (قوله ممن يجب استئذانه) وکذالغريم لمديون لامال له يقضی (درمختار مع ردالمختار ۱۹۱/۲۰ کتاب الحج).

په معلم الحجاج کی دي که چيرته ورسره د بل چا امانت موجود وي نو هغه دی واپس کړي او د تلو ضروورياتو په متعلق وصيت نامه وليکي، که له چانه خپل قرض غواړي يا د

بل ځا قرض ذرکول غواړي نو هغه تول دی په تفصیل سره ولیکي او کوم دینـدار عـالم سړی دی خپل وصی (قائم مقام) ودروي (معلم الحجاج ص ۳۲ سفر حج کی اداب)
په فتاوی دارالعلوم کی دي:
(حواب): په درمختار کې دي:
وغیر ها سنن و اداب کان یتوسع فی النفقة الخ....
له نورو روایاتو نه دا معلومیږي چې حج ته د تللو په وخت اجازه غوښتـل مسـتحب دی او یا هم واجـب، ، د قرض د ادا کولو ضرورت پکې نه دی ثابت.
(فتاوی دارالعلوم مدلل و مکمل ص ۵۴۴ـ ۵۴۵ ج ٦) فقط والله اعلم بالصواب
(۲) له نفلي حج نه بهتر دا دی چې خپل قرض ادا کړي. شیخ الحدیث حضـرت مولانـا ذکریا صاحب مهاجر مـدنيلیکي: او ددی پـه مقابـل کـې د نـاداري پـه حالـت کـې بالخصوص کله چې د نورو حقوق په ده باندې وي نو د دغو حقوقو ادا کـول لـه نفلـې حج نه زیات ضروری دی. (فضائل حج ص ۳۳ د دریم فصل نه لږ وړاندې.) فقـط اعلـم بالصواب

لومړی دی پخپله حج وکړي او که په مور او پلار باندې؟

(۳۱ـ وال): یو سړی له خپل مور او پلار نه جلا اوسیږي د هغه کاروبار هم جـدا دی او هغه مالدار دی، خو د هغه مور او پلار کمزورې دي، نـو هغـه شـخص دی لومـړی حـج وکړي او که خپل مور او پلار مخکې حج ته ولیږي؟ دلتـه پـه خلکـو کـې دا مشـهور دی چې لومړی دی په مور او پلار باندې حج وکړي، ایا د هغوی دا خبره صحیح ده؟ بینـوا توجروا
(ځواب): په مسئوله صورت کې هلک سره دومره قدرت او قوت وي چـې خپـل مـور او پلار له ځان سره وړی شي نو له ځان سره دی یوسي، که چیرته د هغوی د وړلـو طاقـت نه لري نو لمړی دی خپله حج ادا کړي، دا شرعي حکم نه دی چې لومړی پخپـل مـور او پلار باندې حج وکړي او بیا پخپله حج وکړي. کله چې مـالی قـوت پیـدا کـړي نـو د خپل مور او پلار حج ته د لیږلو نیت دی هم وکړي او کوشـش کـې دی وکـړي چـې د مال پیدا کولو په صورت کې هغوی هم حج ته ولیږي البته د مور او پـلار اجـازه او دعـا ګانو سره دی لاړ شي.
په فتاوی دارالعلوم کې دي:

(سوال): د يو سړی په ذمه حج فرض دی، ليكن ليكن د هغه مور او پلار سره دوموره مال نشته چې، حج وربانديې وكړی شي، اوس دغه سړی دی لوموړی پخپله حج وكړي او كه لوموړی خپل مور او پلار حج ته وليږي. كه لوموړی خپل پلار حج وليږي نو د هغه له ذمې او غاړينه حج ادا كيږي او كه نه؟

(خواب) لوموړی بايد پخپله حج وكړي، كه چيرته لوموړی خپل پلار حج ته ليږي نو بيا هم په ده بانديې خپل حج ادا كول لازم دی (فتاوى دارالعلوم مدلل و مكمل ص ۵۴۱_ ۵۴۲ ج ٦) فقط والله اعلم بالصواب

كه يو سړی حج وروسته كړي نو ايا په دی سره گنهگاريږي او كه نه؟

(۳۲_ سوال): فتاوى رحيميه اردو ج ۲ ص ۵۳) كې تاسې ليكلى دي:

(سوال): په كوم كال كې چه حج فرض شي په همغه كال تلل ضروري دی، او كه خوك يو كال وروسته وكړي نو د دی خه حكم دی؟

(خواب): په چاچې فرض شي پر هغه ضروري دي چې خومره ژر ممكن وي حج ته دی لاړ شي، او كه په لومړی كال يې حج ادا نكړ بلكې په دويم او دريم كال يې ادا كړ. بيا لدينه وروسته مړ شو نو ايا هغه په دی تاخير سره گنهگاريږي او كه نه ؟ فقط اعلم بالصواب.

او په بهشتي زيور كې ليكل شوی دي: كه چيرته دری خلور كاله وروسته يې حج وكړ نو ادا شو خو گنهگاريږي. (بهشتي زيور ص ۵۱ ج ۳ د حج بيان).

په ظاهره دواړو كې تعارض دی، ددی به خه خواب وی اميد دی چې وضاحت وكړئ.

بينوا توجروا

(خواب): په فتواى رحيميه كې خه ليكل شوي دي ددی تائيد د شامي له عبارت څخه كيږي، عبارت دا دی: په درمختار كې دي:

ولذا اجمعوا انه لو تراخى كان اداء. په شامي كي دي: (قوله كان اداء) اى و يسقط عنه الاثم اتفاقاً كما فى البحر قيل المراد اثم تفويت الحج لا اثم التاخير قلت يخفى مافيه بل الظاهر ان الصواب اثم التاخير اذ بعدالاداء لا تفريق. و فى فتح القدير و ياثم بلتاخير عن اول سنى الامكان فلو حج بعده ارتفع الاثم اه. و فى القهستانى فياثم عندالشيخين بالتاخير الى غيره بلا

عذر الا اذا ادى ولو فى آخر عمره فانه رافع للاثم بلا خلاف. (شامى ص ۱۹۳ ج ۲ ، كتاب الحج).

گناه ساقطیږي مگر د هغه په بروسه باندې تاخیر کـول عقـل منـدي نـه ده او د هغـه دا عمل د مذهب او غندلو وړ دی، د مرگ هیڅ وخت نه دی معلوم، تر بل کـال پـورې بـه ژوندی پاتی کیږي او که نه، ممکن دی داسې ناروغی کې اخته شي چې د هغه په وجه حج ته له تللو نه پاتی شي، یا مال یې ضائع شي، دا ټول څیزونه د انسان په وس کې نـه دی نو ځکه له څه شرعي عذر نه پرته وروسته کول د غنـدنی وړ دی، او کـه حـج ترینـه فوت شو نو بالاتفاق گنهگار دی.

په غایه الاوطار کې دي: حج یو ځل فی الفور فرض دی، په لومړی کال کې. د امام ابو یوسف، امام مالک، امام احمد او امام ابو حنیفه په نزد حج کول لازمـی دی. ځکـه پـه ټول کال کې د حج یو معلوم وخـت دی او د مـرگ وخـت هـیڅ نـه دی معلـوم، نـو د قدرت لرلو با وجود وروسته کول گویا د حج پرېښودل دی، ابو یوسف هغه حدیث دلیـل راوړی چې امام احمد، ابن ماجه او بیهقی روایت کړی دی چې رسـول الله صـلی الله علیه وسلم وفرمایل: هرڅوک چې د حج اراده وکړي نـو پـر هغـه بیـړه کـول لازم دی، ځکه چې انسـان کله کله ناروغیږي، یا سورلی یې ورکیږي یـا بـل کـوم ضـروري حاجـت سخې ته راځي (کذا فی العینی شرح الکنز غایه الاوطـار ترجمـه درمختـار ج ۱ ص ۵۴۸ کتاب الحج) فقط والله اعلم بالصواب.

خاوند ته د حامله ښځې په وجه د حج وروسته کول:

(۳۳ سوال): زما د یو دوست سږ کال حج ته تلل غواړي، ښځې خاونـد دواړو بانـدې حج فرض دی، لیکن ښځه یې حامله ده او د حج په ورځو کې د ولادت امکـان دی نـو آیا خاوند د ښځې د دغه عذر له کبله خپـل حـج وروسـته کـولې شـي او کـه نـه؟ بینـوا توجروا.

(ځواب): صحیح قول دا دی چې کله حج فرض شي نو په هغه کال دی حـج تـه لاړ شي له څه شرعي عذر نه پرته دی وروسته نکړي، په حدیث کې دي:

من اراد الحج فلیتعجل. (رواه ابو داود عن ابن عباس) یعنې څوک چـې د حـج اراده وکړي نو هغه دی بیړه وکړي.

زجاجه المصابیح ج ۲ ص ۹۲ کتاب المناسک لهذا خاوند به همدغه کال حج ته لاړ شي، خپل حج دی نه وروسته کوي، د هغه ښځه دی بل کال ته له خپل خاوند یا له بل کوم محرم سره حج وکړي.

په درمختار کې دي: فرض مرة علی الفور فی العام الاول عندالثانی و اصح الروایتین عن الامام. (در المختار مع رد المختار) ۲/۱۹۱ کتاب الحج.

په هدایه اولین کې دي: ثم هو واجب علی الفور عند ابی یوسف رحمه الله علیه و عن ابی حنیفة رحمه الله علیه ما یدل علیه (هدایة اولین ص ۲۱۲ کتاب الحج) فقط والله اعلم بالصواب

که د کرایه ادا کولو په نیت یې پیسې ورکړی وي پر هغه حج ادا کول:

(۳۴ـ سوال): زه په دوبۍ کې کار کوم، زمونږ د دفتر له طرف نه زمونږ لپاره د کرایی کور انتظام کیږي، مونږ ته د یو کال یکمشت نقدی پیسې راکړی دي، او مونږ دغه کرایه د کور مالک نه په ځلورو قسطونو کې ورکوو. که چیرته زه په دغه پیسو باندې حج ادا کړم او بیا له حج راتلو نه وروسته له خپلو پیسو نه کرایه ورکړم نو شرعاً د دی څه حکم دی؟ بینوا توجروا

(جواب): د کرایه په نوم چې تاته کومې پیسې درکول کیږي هغه له تا سره امانت دي، ته هغو پیسو مالک نه یې، که چیرته تاسې د پیسو له مالک نه اجازه واخلئ نو بیا ورباندې حج کولې شئ. فقط والله اعلم بالصواب

د ملازمت په لټه کې د حج نیت کول:

(۳۵ـ سوال): که د یو سړي مالي حالت ټیک نه وي نو پر هغه حج فرض نه دی، هغه د ملازمت او نوکري پیدا کولو په خاطر جده ته تلل غواړي، لیکن د ملازمت لپاره ورته ویزه نه ورکول کیږي نو ځکه هغه د حج په ویزی سره جده ته تلل غواړي، لهذا د لاندنیو سوالو ځوابونه مونږ ته ولیکئ، مهرباني به مو وي:

(۱): دغه سړی دی د حج او ملازمت دواړه نیت وکړي او که نه؟

(۲): د هغه اصل مقصد ملازمت دی ایا هغه د حج په وخت کې حج کولې شي؟

(۳): دا قسم تلل له شریعت نه خو مخالف کار نه دی؟

جواب کله چې په دی باندې حج فرض نه دی، نو د ملازمت په خاطر جدې ته په سفر کولو کې هیڅ حرج نشته، خو که د حج نیت یې وي نو د ثواب مستحق دی.

۲: که د حج کولو لپاره موقع او فرصت پیدا کړي نو ضروري دی حج وکړي.

۳: شرعاً څه قباحت په کې نشته.

روی مرفوعاً عن ابي امامة التیمی قال قلت لابن عمر انا نکری فهل لنا من حج ؟ قال ليس تطوفون و تابون بالمعروف و ترمون الجمار و تحلقون روسکم؟ قال قلنا بلى فقال ابن عمر جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فساله عن الذی سالتنی فلم یعبه حتی نزل علیه جبرئیل بهذه الایه : ((لیس علیکم جناح ان تبتغوا فضلاً من ربکم)) فدعاه النبی صلی الله علیه وسلم فقال انتم حجاج. (احکام القرآن للشیخ ظفر احمد التهانوی ۱ :۱ ص ۵۱) فقط والله اعلم بالصواب.

د عمرې لپاره ویزه اخستل او بیا هلته پاتې کیدل او حج کول:

(۳۶ـ سوال): خینې خلک د عمرې لپاره ویزه اخلي او هلته د عمرې له ادا کولو نه وروسته څو میاشتې نور اوسیږي او د حج په ورځو کې هلته حج کوي، هلته پاتې کیدل د حکومت له قانون نه مخالف کار دی، نو په دی قسم حج کولو سره د هغه د حج فریضه ادا کیږي او که نه؟

(خواب): دا د حکومت له قانون نه مخالفت دی، داسې کول مناسب نه دی. که کوم سړی هلته په غیر قانوني ډول پاتې شي او حج وکړي نو د حج فریضه یې ادا کیږي، که حکومت د هغه په خلاف قانوني قدم پورته کړي نو تاته چمتو اوسیدل پکار دي. فقط والله اعلم بالصواب

که داسې یو سړی حج ته ځي چې د بل چا حق ورکولو ته تیار نه وي نو حج یې کیږي او که نه؟

(۳۷ـ سوال): یو سړی وفات شو هغه خپل شاته یوه ښځه، یوه لور او دوه وریرونه پریښودل. د هغه خپلوان د مرحوم ښځې حصه نه ورکوي، هغه اوس حج ته روان دی ایا په داسې حالت کې د هغه حج ادا کیږي؟ مهرباني وکړئ د قرآن او حدیث په رڼا کې معلومات راکړئ:

(خواب) حامداً و مصلیاً و مسلما [1] که چیرته دا سړی په جانزه ګڼه حج ادا کړي نو حج یې ادا ګیږي، خو دا چې د بل چا حق ورسره دی د هغه په وجه ګنهکار دی او که چیرته د بل چانه په غصب کړی شویو پیسو باندې حج وکړي نو د حج ذمه یې ادا کیږي خو د الله په نزد قبول نه دی. [2] فقط والله اعلم بالصواب.

که یو غریب سړی د حج ادا کولو نه وروسته غنی شي:

(۳۸_ سوال): که څوک یو غریب سړی ته د نفل حج لپاره پیسې ورکړي او هغه حج ته لاړ شي او حج ادا کړي، بیا لدینه وروسته څه موده وروسته پخپله مالداره شي نو ایا پر هغه دوباره حج کول شته او که نه؟

(خواب): که چیرته حج ته تلونکی سړي د نفلي حج نیت کړی وی نو حج یې نفلي دی او د مالدار کیدو نه وروسته وِرباندې دوباره حج کول فرض دی.

ولیفیدنه یتعین علیه ان لا ینوی نفلا علی زعم انه لایجب علیه لفقره (الی قوله) فلو نواه نفلاً لزمه الحج ثانیا. (شامی ج ۲ ص ۱۹۵ کتاب الحج)

او که د فرض حج نیت یې کړې وي یا یواځې د حج نیت یې کړې وي نو دا حج یې په فرض حج کې حسابیږي، له مالدار کیدو نه وروسته ورباندې بل حج فرض نه دی، د امام ابو حنیفه په نزد د مطلق حج په نیت سره هم فرضي حج یې ادا کیږي. (فقط والله اعلم بالصواب

د نفل حج لپاره چنده کول څنګه دی؟

(۳۹_ سوال): زمونږ د کلي خلکو د مسجد امام لپاره حج ته د تللو په غرض چنده جمع کړی ده، او دا چنده له هغه خلکو نه اخلي چې هغوی پخپله حج ته روان دي، د مسجد امام او مدرس غریب دی او حج ورباندې فرض نه دی، مګر بیا هم د کلي څه

---

[1] - ((لیکن حج یې مکروه کیږي و بالکراهة کالحج بلا اذن ممن یجب استئذانه قل فی الشامیه تحت قوله ممن یجب استئذانه ..... و کذا الغریم مدیون لا مل له یقضی به والکفیل لو بالاذن فیکره خروجه بلا اذنهم کما فی الفتح و ظاهره ان الکراهه تحریمیة. در المختار مع الشامی کتاب الحج ج ۲ ص ۱۹۱.))

[2] ((کوم سړی چې په حرام مال باندې حج وکړي نو د حج ذمه خو یې ادا کیږي لیکن مقبول نه دی.))

کسان حج ته د هغه د لیږلو لپاره اماده دي، حال دا چې له چنده ورکـونکی څخـه څـه کسان داسې هم شته چې د زړه نه خوشحاله نه دي صرف د شرم او حیا په وجـه چنـده ورکوي. خینې د بخشش په توګه چنده ورکوي او خیـنې د حـج پـه نیـت. ایـا دا قسم چنده جمع کول صحیح دی او که نه؟ ایا د چنده ورکوونکو ثواب کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

(خواب): د نفلي حج لپاره چنده کول جائز نه دی، البته که څـو تنـه پخپلـه خوښـه د حج خرچه پر غاړه واخلي نو بیا جائز دی، د نیت مطـابق ورتـه ثـواب ورکـول کیږي. بخشش قبلول ضروري نه دی، خو که قبول یې کړه نو بیا حج ته تلل وربانـدې ضروري دی.

که په مسئوله صورت که چیرته مدرس صـاحب پـه خلکـو بانـدې زور اچـولې وي او لـه خلکو نه یې چنده راغونده کړي وي نو دغه پیسې دی بیرته واپس کړي، خو که مـدرس صاحب په خلکو دباو نه وي اچولی او خلکو پخپله خوښه ورته د ثواب په خـاطر چنـده کړی وي نو بیا د هغه قبلول جائز دی. مګر د چندی رواج صحیح نه دی، د داسې غیر ضروري چندو بندول پکار دي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

که د ناروغې په وجـه طـواف زیـارت ونکـړی شـي نـو اوس د حـج د مکمل کیدو څه صورت دی او هغه د خپل خاوند لپاره کله حلالیږي؟

(۴۰ـ سوال): څه وایي د دین علماء او مفتي صاحبان په لاندیني مسئله کې:

ښځې او خاوند دواړه حج ته لاړل ، هلته یې د حج ټول ارکان ادا کړل، لـیکن آخـري رکن یعنی طواف زیارت له ښځې نه د ناروغی له کبله پاتی شو، نـاروغی یـې دا وه چـې په منی کې وربانـدې د فالج شدید حمله وشوه چې پر دماغ یې هم اثر وشوه. ډاکټر هغه له ګرځیدلو نه منع کړه، څو ورځې بعد خپل وطن ته د راوستلو اراده مو چـې وکـړه نـو هغه د حیض په حالت کې وه نو ځکه د هغې نه طواف زیارت پـاتی شـو، اوس دلتـه پـه کراچي کې ډیر تر علاج لاندې ده، د هغې خاوند فی الحال پـه مسقط کـې دی، اوس زمونږ په ذهن کې څو سوالونه راځي چې ځواب ته یې ضرورت لرو:

---

[1] ((فلو بذل الابن لابیه الطاعة و اباح له الزاد والراحلة لا یجب علیه الحج و کذا لو وهب له مال یحج به لا یجب علیه القبول. (بحر الرائق کتاب الحج تحت قوله بشرط حریه .. الخ ج ۲ ص ۳۱۱))

(لومړی): ایا په دی حالت کې هغه ته د احرام پابندي پاتی دی او که نه
(دویم): د دی د حج مکمل کیدو څه صورت دی؟
(دریم): که د دی پر ځای بل څوک ولیږو نو نیابت یې صحیح کیږي او که نه؟
(څلورم): کاً خپل خاوند خواته لاړ شي نو هغه ته حلالیږي او که نه؟
(پنځم): که الله مکره ښځه تر اوږدې مودې پورې د سفر کولو جوګه نشي نو تر هغه وخته پورې د ښځې او خاوند ترمنځ تعلقات پریښودل ضروري دي؟ او که هغه روغه شي او مکه مکرمې ته لاړه شي نو هلته دی د احرام په حالت کې لاړه شي اوکه د احرام نه بغیر؟ د څه نیت دی وکړي؟ او که د حج په وخت کې لاړه شي نو په هغه وخت کې دی څنګه احرام وتړي. بینوا توجروا. کراچی ۲۸ ربیع الاول ۱۳۹۸ ه
(ځواب): و بالله التوفیق، کله چې ښځې وقوف عرفه، وقـوف مزدلفـه، رمـی، قربـاني او قصر کړی وی، نو په داسې حالت کې ورباندې د احرام پابندي نشته، دا چې د ناروغـی په وجه تر دولسم ذی الحجه پورې طواف زیارت یې نه ده ادا کړی، نو د هغـه پـه ذمـه دم واجب دی، او دا چې د سفر په وخت کې هم د حیض په وجه له طواف نه محرومـه پاتی شوی ده، نو ترڅو پورې چې طواف زیـارت یـې نـه وي ادا کـړی د خپـل خاونـد لپاره حلاله نه ده، که ورسره همبستری وکړی نو دم ورباندې واجب دی، اوس هغـه تـه پکار دی چې د طواف زیارت د ادا کولو لپاره د عمرې احرام وتړي او بیت الله تـه لاړه شي نیابت کافی نه دی، طواف زیارت دی وکړي، کله چې له طواف عمـره او سـعی نـه فارغه شي نو خپل ویښتان دی کټ کړي او خپل احرام دی خلاص کړي، او که د حـج په ورځو کې لاړه نو د طواف زیارت او عمرې څخه د فارغیدو نه وروسته نفلي حـج هـم کولی شي او که مکې مکرمې ته د تللو موقع بالکل پیدا نکړي نو که چیرته په کوم کال کې چې حج ورباندې واجب و او په هغه کال یې حج نـه وي ادا کـړی بلکـی وروسـته یې کړی وي نو بیا د طواف زیارت وصیت کول وربانـدې لازم دی، کـه نـه نـو لازم نـه دی. په درمختار کې دي: (ولا احصار بعد ما وقف بعرفه) للا من من الفــوات. و فی الشامی (قوله و لا احصار) فلو وقف بعرفة ثم عرض له مانع لا یتحلل بالهدی بـــل یبقی محرماً فی حق کل شئي ان لم یحلق ای بعد دخول وقته و ان حلق فهو محرم فی حق النساء لا غیر الی ان یطوف للزیـــاره. (درمختـــار و الشـــامی ج ۲ ص ۲۲ بـــاب الاحصار).

په معلم الحجاج کې دي. مسئله : طواف زیارت په هیڅ څیز سره نه فاسدیږي او نـه هـم فوت کیږي. یعنی په ټول عمر کې کیدای شي البته د قربـاني پـه ورځـو کـې کـول یـې واجب دی. مدینه وروسته وربانديې دم واجبیږي، او دا طواف لازمي دی، بل څه د دی بدل نشي کیدلی. الخ (ص ۱۹۵)

مسئله له طواف زیارت نه وروسته له ښځې سره صحبت حلالیږي. خو کـه چـا دا طـواف ونکړ نو هغه لپاره له ښځې سره صحبت جـائز نـه دی اګرچـه کلونـه تـیر شـي. د طواف زیارت له ادا کولو نه وروسته ورته حلالیږي. معلم الحجاج (ص ۱۹۶)

په زبده المناسک کې دي: مسئله : او دغـه طـواف زیـارت پخپلـه اداد کـول فـرض دی اګرچی د چا په غیږ کې هم وی. په دی کی نیابت جـائز نـه دی مګـر د بیهـوش لپـاره نیابت صحیح دی. (زبده المناسک ص ۱۸۰ حصه اول)

په شامی کې دي: وکونه (ای طواف الزیاره) بنفسه ولو محمولاً فلا یجوز النیابـــه الا لمغمی علیه (شامی ص ۲۵۰ جلد ثاني) بطلب طواف الزیـــارة). فقـط والله اعلم بالصواب.

ایا د تره مسی محرم دی او که نه ؟

(۳۱_سوال): زما نیا حج ته تلل غواړي له هغې سره تره مسی یی دی ایـا د هغـې حـج صحیح کیږي او که نه؟ زما د نیا عمر تقریباً شپیته کاله دی، ایا پر هغه حـج فـرض دی او که نه؟ د کتابونو په حواله خواب راکړئ:

(خواب): که چیرته له ښځې سره د هغه خاوند یا بل محرم نه وي که څه هـم پـر هغـې حج فرض وي مګر ادا کول یې فرض نه دی، مطلب دا چې کـه تـر آخـره پـورې ورتـه محرم پیدا نشي نو د حج نه کولو په وجه نه ګنهګاریږي، البته د فرض کیدو لـه کبلـه پـر هغه د حج بدل وصیت کول واجب او ضروري دی. تره مسی محرم نه دی لهذا له هغـه سره تلل شرعاً جائز نه دی، او که لاړه شي نو پـه تحریمـی کراهـت سـره یـې حـج ادا کیږي خو د قانون ماتولو ګناه ورباندې ده.[1] (شامي ج ۲ ص ۱۹۹)

د خپل مور سکه موانی محرمه ده او که نه؟

[1] ((علی ان وجود الزوج اوالمحرم شرط وجوب ام شرط وجوب اداء الذی اختاره فی الفتح انه مع الصـــحته وامــن الطـــــــریق شـــــــروط وجوب الاداء فیجب الایصاء ان منع المرض او خوف الطریق اولم یوجدزوج ولا محرمـا . الخ کتاب الحج))

(۴۲_ سوال): ایا زما د مور حقیقې موانې له ما سره حج ته تللی شي او که نه؟
(خواب): له تا سره ستا د مور سکه موانې حج ته نشي تللي. څکه چې هغه ستا محرمـه نه ده.'

له کمزورې ښځې سره محرم ضروري دی او که نه؟

(۴۳_ سوال): که چیرته یو عمر رسیده بډۍ ښځه له محرم نـه بغـیر د محلـی لـه خلکـو سره حج ته لاړه شي نو ایا په دی کې څه حرج شته. محرم څوک دی او څوک نه دی؟
(خواب): ښځه که بوډۍ وي یا ځوانه که چیرته د هغه د وطن او مکې معظمـې تـرمنځ ۴۸ میله فاصله وي نو له محرم نه بغیر ورته حج ته تلل جائز نه دی.
محرم هغه کسان دي چې له هغه سره د نسب، رضاع یا د زوم ولي له کبله نکاح جائز نـه وی.

که چیرته یـوه ښځـه محـرم ونلـري او حـج تـه لاړه نشـي نـو ایـا ګنهګاریږي او که نه؟

(۴۴_ سوال): که چیرته یوه ښځه نه پلار ولري او نه هم ورونه او نه هم بل څوک محـرم ولری ایا هغه حج ته د نه تللو په وجه ګنهګاریږي او که نه؟
(خواب): نه ګنهګاریږي البته هغې ته دا وصیت کول لازمي دی چـې کـه پخپـل ژونـد کې حج ونکړی شي نو د هغې له ترکې نه دی لوړی حج ادا کړی شي.
(قوله قولان ، هما مبنیان علی ان وجود الـزوج اوالمحـرم شـرط وجـوب ام شـرط اداء والذی اختاره فی الفتح انه مع الصحه وامن الطریق شرط وجوب الاداء فیجب الایصاء ان منع المرص او خوف الطریق اوله یوجد زوج و لا محرم (شـامی ج ۲ ص ۲۰۰ کتـاب الحج) فقط والله اعلم بالصواب.

ایا حج لپاره نکاح ضروري ده؟

(۴۵_ سوال): که چیرته یوه ښځه حج ته تلل غـواړي مګـر پـلار، ورور او بـل محـرم نـه لري. اې هغې لپاره نکاح او واده کول ضروري دی؟

' - ((والمحرم من لا یجوز مناکحها علی التائید بقرابته او رضاع او صهریة کما ف التحفه شامی کتـاب الحج ص ۱۹۹))

(خواب): په مسئوله صورت کې پر ښځې باندې نکاح لازم نه دی.
قلت لکن جزم فی اللباب بانه لا یجب علیها التزوج مع انه مشی علی جعل المحــرم او الزوج شرط اداء و رجع هذا فی الجوهره (شامی ج ۲ ص ۲۰۰).

ایا دینی ورور سره حج ته تلل جائز دی او که نه؟

(۴٦ـ سوال): یوه کونده ښځه غواړي چې حج ته ولاړه شي لیکن محرم یې نشته، خـو یو چا وویل چې که یو سړې دغې ښځې ته خور ووایی نو له هغـه سـره د تللـو گنجـایش شته. ایا د هغه دا خبره صحیح ده؟

(خواب): نه له داسی سړی سره حج ته تلل جائز نه دی بلکل حرام دی، که لاړه شـي نو گنهگاریږي. دا چې د هغه خاوند مړ شوي دی او بل محرم نه لري نو پـر هغـې حـج واجب نه دی، البته په آخري ژوند کې ورته د حج بدل وصیت کول وربانـدې ضـروري دی، لکه چې شامی او نورو کتابونو کـې راغلـی دي: (د همدغـه بـاب لومړی او دریم سـوال خوابونه ولولی).

که چیرته لدی ځای نه له محرم نه بغیر لاړه شي او پـه مکـه کـې ورتـه محرم پیدا شي نو حج کولی شي او که نه؟

(۴۷ـ سوال): یوه عمر رسیده او بوډۍ ښځه له هندوستان نه د حج د ادا کولو لپاره لـه محرم نه بغیر حج ته ځي د دغې ښځې زوم له افریقي نه مکې تـه راغلـی وي، پـه مکـه مکرمه کې له هغوی سره ملگری کیږي، مگر له هندوستان نه محـرم نـه بغـیر خـي ایـا د هغې دا ورتگ جائز دی.

(خواب): دا بوډۍ ښځه له محرم نه پرته حـج تـه نشـي تللـې، پـه سـفر کـې د محـرم موجودیت ضروري دی، خو که لاړه شي نو فرض یې لـه ذمـې نـه ساقطیږي، خـو لـه شریعت نه د سر غړونی په وجه گنهگاره ده.

که چیرته یو سړي په تجارتی کمپنی کې ۵۰۰۰۰ کلـداري ورکـړی ایا پر هغه حج فرض دی او که نه؟

(۴۸ـ سوال): د یو کس په تجارتي کمپنی کې پنځوس زره کلداری دي په دغه پیسـو د سود کار او بار کیږي ایا پر هغه حج فرض دی؟

(خواب): په دغه سړي باندې حج فرض دی، ځکـه چـې دا دومـره ډیـری روپـی دي چې له خپل اصلي حاجت نه زیاتي دی، داچې په دغو پیسو کـې د سـود پیسـې جمـع

شوی دي نو له بل چانه دی قرض پیسې واخلي او بیا دی لـه خپلـو دغـو پیسـونه هغـه قرض ادا کړي. (ردالمختار ج ۲ ص ۱۹٦. عالمګیري ج ۲ ص ۲٦۰).

ایــا کمزوری او ضعیفه ښځه له محرم نه پرته حج ته تللـی شـي او که نه؟

(۴۹ـ سوال): زه سږ کال حج ته تلل غواړم، له ما سره د پلار تره ښځه هم تلل غـواړي، زه د دری کلنی په عمر کې یتیم پاتی شوی وم او همغې وړوکـی لـوی کـړې یم زه هـم هغه خپل مور ګنم، فی الحال د هغې عمر ٦۵ کاله دی، ایا زه هغه له ځان سره حـج تـه وړلی شم او که نه؟ په تفصیل سره خواب راکړئ.

(خواب): سنا د پلار تره ښځه ستا محرم نشي کیدي، له هغې سره ستا نکاح شـرعاً جـائز دی نو ځکه هغه له تا سره حج ته نشي تللې، که پر هغې حج فرض وي نو بیا هم لـه تـا سره نشي تللې، خو که دی له خان سره یووړ نـو تاسـې دواړه د الله تعـالی نافرمـاني او شرعي قانون نه سر غړونه کوونکی یئ.

په حدیث شریف کې دی چې اجنبي ښځه او سړي دی په خلوت کې نه کینـی او ښځـه دی له محرم پرته سفر ونه کړي. (بخاری و مسلم)

په بل حدیث کې دي:

عن ابن عباس رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیـه وسـلم قـال لا تحـج امـره الا معهما محرم .. الخ. یعنی هیڅ یوه ښځه له محرم نه پرته حج تـه نشـي تللـې. (زجاجـه المصابیح ج ۲ ص ۱۰۱ کتاب المناسک).

په یو بل حدبث کې دي: عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه ان رســول الله صــلی الله تعالی علیه وآله وسلم قال لا تحج امرأة الا و معها محرم الخ (زجاجه المصابیح ج ۲ ص ۱۰۱ کتاب المناسك) ص ٥٤

عن ابی سعید الخدری رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله تعالی صلی الله علیه وآله وسلم لا یحل لأ مرة تومن بالله والیوم الا خران تسافر سفراً یکون ثلاثة ایام فصــاعداً الا و معها ابوها او ابنها او زوجها او اخوها اودو محرم منها رواه مســلم (زجاجــه المصابیح ص ۱۰۰ ، ۱۰۱ و مشکوه).

په الله اود آخرت په ورځ باندې ایمان راوړونکې ښځې لپاره دا حلال نه دی چې هغه له خپل پلار، ورور، یا د خپل خاوند او نور محرم نـه عـلاوه دري یـا لـه دی نـه زیـاتی ورځې له غیر محرم سره سفر وکړي، دا حکم د ځوانې او بوډۍ ښځې لپاره عام دی.
په فتاوی قاضی خان کې دي: اجمعـو علـی ان العجـوز لا تسـافر بغـیر محـرم و لا تحلـو برجل شابا کان شیخاً. (ج ۱ ص ۸۷ شرائط حج)
د فقهاو اجماع په دی خبره ده چې ښځه باید له محرم نه بغیر سفر ونکړي او نـه دی لـه پردیو خلکو سره چیرته په ګوښه کې کیني، برابره ده چې ځوانه وي او یا بوډۍ.
حضرت عایشه رضی الله عنها او د هغه پلار حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دواړه په کوټه کې ناست وو محمد صلی الله علیه وسلم چې هغه دواړه یې ځانله ناست ولیدل نو ویې فرمایل: ای ابوبکره! شیطان لری نه دی، لور سره دی ځانلـه مـه کینـه بلکـی دریم کس هم له ځان سره ملګری کوه. (معیار السـلوک و دافـع الاوهـام والشـکوک ص ۱۶۴ـ مولف محمد هدایت علی نقشبندي مجددی جی پوري).
لهذا له اجنبي ښځې سره سفر کول اګر که ورتـه خـور، مـور، تـرور، او خالـه وایی روا نـه دی، ځکه چې چاته خور، مور، ترور، او خاله ویلو سره نه محرم کیـږي. فقـط والله اعلـم بالصواب.

ښځه له خپل اوښي سره حج ته تللی شي او که نه؟

(۵۰ـ سوال): ایا ښځه له خپلې اوښي سره حج ته تللی شي او که نه؟
(ځواب) اوښی محرم نه دی لهذا حج ته ورسره نشي تللـې. او کـه لاړه شـي نـو سـخته ګنهګاره ده. په درمختار کې دي: و مع زوج او محرم (درمختار).
والمحرم منا لا یجوز له مناکحتها علی التائید بقرابه او رضـــاع او صـــهریة کمـــا ف التحفه. (شامی ج ۲ ص ۱۹۹ کتاب الحج).

حج وربانديې فرض دی خو مدینې ته د تللو پیسې نه لري!

(۵۱ـ سوال): له یو سړي سره دومره پیسې دي چې تر مکې مکـرمې پـورې تللـی شـي خو مدینې منورې ته د تللو پیسې نه لري ایا پر هغه حج فرض دی او که نه؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې په دغه سړي باندې حج فرض دی لهذا پر هغه حـج تـه تلل ضروري دی، که لاړ نشي نو ګنهګار دی.[1]

(۵۲ سوال): یوه ښځه په جهاز کې حج ته ځي، له جده نه ورسره خاوند یـې ملګـری دی خو له ولن نه تر جدې پورې ورسره پنځلس کلن زوی ملګـری وي، د قـرآن کـریم حافظ او ښه پوه دی، له دغې ښځې سره په ملګرو کې د هغه لیور او ښځه یې هم شـامله ده، ایا دغه هلک محرم دی او که نه؟

(ځواب): د هغه دا زوی بالکل د هغې محرم دی، له هغه سره حج ته تللـی شـي، کلـه چې هلک مراهق او د بلوغت عمر ته نژدی وي او هوښیار هم وي نو هغـه د محـرم پـه حکم کې دی، په جـوهره کـې دي: والمراهق بالغ. (ج ۱ ص ۱٥٤ کتاب الحج تحت قوله و یعتبر فی المرأة.. الخ.) د پنځلسو کلو هلک بالغ ګڼل کیږي، له هغـه سـره د مـور سفر جائز دی، مور یې کولی شي چې ورسره حج ته لاړ شي

بوډۍ ښځه له محرم نه پرته حج ته تللی شي او که نه؟

(۵۳ـ سوال): د یوې ښځې عمـر تقریبـاً شـپیته کالـه دی، لـه دوه دریـو کلـو راهیسـی ورباندې حج فرض دی، د خاوند او شرعي محرم د نشتوالی لـه کبلـه حـج ترینـه پـاتی شوی دی، ایا له یو نیک او دیندار ګاونډي سره حج ته تللی شي او که نـه؟ همدغـه راز د کلی څو ښځې هم حج ته رواني دي، که له هغوی سره لاړه شي نو حج یې کیـږي او که نه؟ لدینه علاوه حج ته تللو بل هیڅ لاره نشته، ایـا دا بـه ورتـه ښـه نـه وي چـې لـه هغوی سره لاړه شي؟

(ځواب): تر څو پورې چې د ښځې خپل خاوند یا بل کوم محرم ورسره نه وي نو هغـه حج ته نشي تللې، همدغه راز که یوه ښځه دومره مال لري چې پخپله حج تـه وربانـدې تللی شي مګر له ځان سره د محرم ورلو پیسې نه لری نو پر دغې ښځې باندې حج فرض نه دی ځکه چې د نفس وجوب نه وروسته د وجوب دادا لپاره د خاوند یـا د بـل محـرم موجودیت شرط او ضروري دی،لهذا که داسې ښځه حج ته لاړه نشي نو نه ګنهګاریـږي،

---

[1] - ((و زیـــــارة قبره مندوبة قیل واجبه لمن سعه له، و یبداء بالحج لو فرضاً قال فی الشامیه تحت قوله مندوبـــه ای باجماع المسلمین کما فی اللبـــــاب. (درمختار مع الشامی مطلب فی تفصیل قبره المکرم صلی الله علیه وســـلم ج ۲ ص ۳٥۲ ..))

بلکی که چیرته له محرم نه بغیر حج ته لاړه شي نو ګنهګاریږي، که څه هم حج یې له کراهت سره ادا کیږی

د محمد صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی:

لا یحل لا مرأة تومن بالله والیوم الاخر تسافر مسیرة یوم و لیلة الا مع ذی محرم علیهـا (رواه ابو هریرة: مسلم شریف ج ۱ ص ٤٣٤ باب سفر المره مع محرم الی حج وغیره).

محرم هغه چاته ویل کیږي چې په هیڅ صورت کې ورسره نکـاح جـائز نـه وي دا چې محرم څنګه وي د هغه لپاره هم شرطونه دي، په یوه حدیث کې دي:

لا تحجن امرأة الا و معها محرم. هرګز دی یوه ښځه حج ته نه ځي مګر په داسې حالت کې چې ورسره د هغه محرم وي. او په فتاوای عالمګیري کې دي:

(و منها المحرم للمرأة) شابة کانت او عجوزة اذا کانت بینها و بین مکـة مسـیرة ثلاثه ایام هکذا فی المحیط. (ج ۱ ص ۲۱۸ کتاب المناسك اما شرائط وجوبه.

یعنی د ادا وجوب د شرائطو نه یو شرط دا دی چې که چیرته د ښځې او مکـې مکرمې ترمنځ د دریو ورځو لاره وي نو له هغې سره د محرم ملګرتیا ضروري دی، برابـره خبره ده چې ښځه بوډۍ وي او یا ځوانه. (ج ۱ ص ۲۱۸).

په فتاوای قاضي خان کې دي:

واجمعوا علی ان العجوز لا تسافر بغیر محـرم و لا تخلـوا برجـل شـاباً کـان او شـیخاً و لا تصافح الشیوخ.

د فقها اجماع ده چې بوډۍ ښځه دی له محرم نه پرته سفر ونـه کـړي، او لـه سړو سره دې که هغه ځوان وي یا بوډا خانله ګوښه نه کیني او نه دی له بوډاګانو سـره مصـافحه وکړي، مګر دا چې په دواړه کې د شهوت ویره نه وي خو بیا د مصـافحې اجـازت دی (ج ۱ ص ۸۷).

همدغه راز په هدایه او د فقهی په نورو کتابونو کې دي:

و لنا قوله علیه السلام لا تحجن امرأة الا و معها محرم ولا لها بدون المحرم یخاف علیها الفتنه و تزداد بانضمام غیر ها الیها ..... الخ (ج ۱ ص ۲۱۳ کتاب الحج تحت قوله و یعتبر فی المراه .... الخ).

یعنی له خاوند او محرم نه پرته په سفر کولو کې د فتنې ویره ده او دا فتنه په هغه وخـت کې زیاتیږي کله چې له هغې سره پواخې ښځې وي.
زمونږدلیل د محمد صلی الله علیه وسلم دغه ارشاد دی چې ښځـه دی حـج نـه کـوي مگر په دی صورت کې چې له محرم سره وي، او د دی علت دا هم دی چې لـه محـرم نه پرته د فتنې ویره ده او د نورو ښځو په ملگرتیا کې دا فتنه نوره هم زیاتیږي.
غرض دا چې دغه مزکوره غیر محرمه ښځه د محلی او گاونډ خلکو سره نشـي تللـي کـه هغوی څومره دیندار او متقي ولی نه وی. همدغه راز له ښځو سره هم نشي تللی.
حضرت شیخ نصیر آبادي ته وویل شو چې خلک لـه نـامحرمو ښځـو سـره کینـي او وایی چې زمونږ نظرونه پاک دي، هغه ورته په ځواب کې وویل: مادامت الا شـباح باقیـه فـان الامر والنهی باق والتحلیل والتحریم مخاطب به.
ترڅو پوری چې انساني حسونه پاتی وي نو امر او نهی (شرعي احکام) هم بـاقي پـاتی دي او هغوی د دغو احکامو مخاطب هم دي.
په حدیث کې دي که چیرته پردۍ ښځه او سړی ځانله ناست وي نو ورسره دریم شیطان وي، او د شیطان مقوله ده چې که چیرته د جنید بغدادي په څیر سـړی او رابعـه بصـریه غوندی ښځه ځانله یو ځای کیني نو زه د هغوی مخونه هم توروم. (نعوذ بالله)

په سعودي حکومت کې حج صحیح دی او که نه؟

(۵۴_ سوال): زمونږ په وطن افریقا کې خلک وایی چې په سعودی کـې حـج فـرض نـه دی ځکه چې ابن سعود وهابي دی، او دی لپاره د مولانا مصطفی خان کتاب ((تنـویر)) د دلیل په توگه وړاندې کړي، په هغه کې دا لیکل شوي دی چې په سعودی کې د ابن سعود حکومت دی او هلته بد امني ده لهذا حج فرض نه دی، که څوک په سعودی کـې اوسیږي او حج نـه کـوي نـو نـه گنهگاریـږي. (ص ۹_۱۲_۱۶) ایـا د هغـوی دا خیـال ضحیح دی؟
(ځواب): په سعودی حکومت په عمـومی ډول امـن دی، د ځـان، مـال او ابـرو هـیڅ اندیښنه نشته، او د حج لپاره هیڅ قسم ځنډ او رکاوت نشته، لهذا پورتنی خیـال او عقیـده صحیح نه ده، غلط او گمراه کن ده ، د حج له فریضې او د اسلام د لـوی رکـن لـه ادا کولو نه د مسلمانانو منع کول او د محمد صلی الله علیه وسلم لـه زیـارت نـه محرومـول جهالت او شیطانی حرکت دی، د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چې:

داسې يود زمانه به راځي چې عوام به جهلا خپل پيشوايان وګرځوي او له هغوی نه بـه ديني مسائل زده کوي، هغوی به د جهالت با وجود فتوه ورکوي په دی سره پخپله هم ګمراه دي او نور خلک هم ګمراه کوي. لکه چې په مشکوت کې دي:

و عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان الله لا يقبض العلم انتزاعها ينتزعه من العباد ولكن يقبض العلماء حتى اذا لم يبق عالما اتخذ الناس روسـا جهالا فسئلوا افافتوا بغير علم فضلوا و اضلوا متفق عليه (مشكوه شـريف ص ۳۳ كتاب العلم).

لنډه دا چې کوم خلک د حج کولو طاقت لري هغوی د دغو بې علمو او ګـراه کوونکـو خلکو په خوله عمل کوي او حج ته نه ځـي، همدغـه راز د رحمـه اللعـالمين صلی الله عليه وسلم له مبارک زيارت نه هم محروم پاتې کيږي، په دی سره ګنهګاريږي او لـه لـوي سعادت نه محروم پاتې کيږي. (معاذذ الله)

تاسې غور وکړئ چې محمد صلى الله عليه وسلم څومره سخت وعيد کړی دی:

فمن مات ولم يحج فليمت ان شاء يهودياً و ان شاء نصرانياً.

يعنې که څوک د طاقت لرلو با وجود له حج کولو نه پرته مړ شـي نـو د هغـه خوښـه ده چې يهودی مري او که نصراني. (مشكوه شريف ص ۲۲۲ كتاب المناسك الفصـل الثـاني عن على الخ .)

که چيرته د حج له ورځو نه وړاندې له چا سره پيسې وي مګر بيا د حج په وخت کې ترينه خرچ شي نو د دی څه حکم دی؟

(۵۵ــ سوال): له يو سړی سره د حج د مياشتې نه وړاندې دومره پيسـې وي چـې حـج ورباندې وکړی شي مګر وروسته ترينه د کور په کـارونو کـې ولګيـدلې، اوس د حـج پـه ورځو کې ورسره پيسې نشته، ايا اوس ورباندې حج فرض دی او که نه؟

(ځواب): که چيرته د حج درخواست ورکولو نه وړاندې ترينـه پيسـې لګيـدلې وي نـو ورباندې فرض نه دی، خو که په دی خيال يې خرج کړی چې کيدای شـي حـج لپـاره زما درخواست قبول نشي نو بيا مكروه او لوی سعادت نه محرومي دی.[1]

---

[1]- ((و قد قدمنا ان من الشرائط الوقت اعنى ان يكون مالكا لما ذكر فى اشهر الحج حتى لو ملك مـا بـه الا ستطاعه قبلها كان فى سعة من صرفها الى غيره و افاد هذا قيدا فى صيروته دينا اذا افترهو ان يكون مـا لكـا فى

له غیر محرم سره حج کول:

(۵۶ـ سوال): یو سړی فرض حج کړی دی، اوس غواړي چې د خپل مرحوم تره د بدل حج لپاره لاړشي، غواړی له خپل ځان سره خپل تره ښځه بوځي، ایا دغه ښځه د خپل خاوند له وراره سره حج ته تللی شي او که نه؟

(ځواب): په مذکوره صورت کې ښځه نشي کولې چې د خپل خاوند له وراره سره حج ته لاړه شي، ځکه چې هغه د ده محرم نشي کیدلې او ورسره د سفر اجازه نشته، که چیرته لاړه شي نو د شرعي قانون د مخالفت ګناه به د هغې په سر وي. فقط والله اعلم بالصواب.

که د خور له لور سره حج وکړي نو څه حکم یې دی؟

(۵۷ـ سوال): ایا له ما سره د خورې لور حج ته تللی شي؟ ایا له هغې سره زما نکاح کیږی او که نه؟ بینوا توجروا

(ځواب): د خورې له لور سره نکاح نه کیږي، تاسې د هغې محرم یې، له تا سره د هغې سفر صحیح دی. مګر د محرم سره په سفر کولو کې دا هم شرط دی چې د فتنې ویره نه وي، دیندار او د شریعت پابند وي، فاسق نه وي، له لاابالي او بی پرواه محرم سره سفر کول شرعاً ناروا دی (قوله و لا فاسق) یعم الزوج والمحرم و قیده فی شرح اللبــاب بکونه ماجناً لا یبالي (قوله لعدم حفظهما) والفاسق الذی لا مروه له کذلك ولــو زوجاً (شامي ج ۲ ص ۱۹۹ کتاب الحج) فقط والله اعلم باصواب.

که یو څوک غریب سړی ته د حج کولو لپاره پیسې ورکړي نو پر هغه حج فرض ګرځي او که نه؟

(۵۸ـ سوال): که یو غریب سړی ته چې حج ورباندې فرض نه دی، د هغه خپلوان او دوستان د حج ادا کولو لپاره پیسې ورکړي نو پر هغه حج فرض کیږي او که نه؟

اشهر الحج فلم یحج و الا ولی ان یقال اذاکان قادر اوقت خروج اهل لبلده ان کانوا یخرجون قبل اشــهر الحــج لبعدالمسافه او کن قادرا فی اشهر الحج ان کانو یخرجون فیها ولم یحج حتی افتقر تقرر دینا و ان ملك فی غیر ها و صرفها الی غیره لا شیئ علیه کذا فی فتح القدیر بحرالرائق کتاب الحج تحت قبیل قوله و امن طریــق (ج ۲ ص

ایا هغه دی د، خلکو دا مرسته قبول کړي او که نه؟ که قبول یې نکړي نـو ګنهګاریـږي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): د هغوی له طرف نه هبه او مرسته قبلول د هغه کار دی، که قبول یې نه کړي نو نه ګنهګاریږي، او که قبول یې کړي نو حج ورباندې فرض کیږي پـه دی شـرط چـې بل کوم عذر یې نه وي. په شامی کې دي:

(قوله ولو وهب الاب لابنه ما لا يحج به لم يجب قبوله) و كذا عكسه و حيـــث لا يجب قبوله مع انه لا يمن احد هما على الا خر يعلم الا جنبى بالا ولى و مراده افاده ان القدرة على الزاد والراحلة لا بد فيها من الملك دون الا باحة والعارية كما قد مناه (شامى ج ۲ ص ۹٦۰ كتاب الحج).

د هوایي جهاز په څو ساعته سفر کې هـم لـه ښځـې سـره د محـرم موجودیت ضروري دی؟

(۵۹ـ سوال): د حج په سفر کې له ښځې سره د هغه خاوند یا محرم موجودیت ضروري دی، مګر دوبی، افریقه، انګلند، امریکه او نورو لیرو ملکونو ته سفر له محرم نـه بغیر یـې کوي، او وایې چې د څو ساعتونو یا زیات نه زیات یـوه دوه ورځـو سـفر وي، د دی څـه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(خواب ـ: که د شرعي سفر یعنی ۴۸ میله یا لدینه زیات سفر ته د وتلو اراده وکـړی شـي نو د سفر احکام وزباندې جاري کیږي. مثلاً په لمونځ کې قصر او ښځې لپاره د خاوند یـا د محرم ملګرتیا ضروري ده، برابره خبره ده چې سفر په څو ساعتونو کې ووهلـی شـي، برابره خبره ده چې دغه سفر د تجارت، حج یا تفریح لپاره وي د ټولو حکم یو دی.

عن ابی سعید الخدری قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لا یحل لا مـــراة تؤمن بالله والیوم الآخر ان تسافر سفراً یکون ثلثه ایام فصاعداً الا و معها ابوها او ابنها او زوجها او ذو محرم منها (رواه مسلم زجاجـــه المصـــابیح (ج ۲ ص ۱۰۱ کتاب المناسك).

د مور له ملګري سره يو ځای حج کول:

(۶۰_ سوال): زما مور مړه شوی ده، ما حج ته د تللو اراده کړی ده، زه غواړم چې د خپل مرحوم مور په بدل حج کې د هغې ملګرې له خان سره بوځم، زه هغې ته خاله وایم، ایا زه له خپل خان سره وړلی شم او که نه؟ بينوا توجروا.

(خواب): ستا د مرحوم ملګرې چې ته ورته خاله وايې په حج بدل کې له خپل ځان سره نشې وړلې، هغه ستا محرمه نه ده، له هغه سره سفر کول حرام دی. فقط والله اعلم بالصواب.

محرم نه بغير تر جدې پورې د ښځې تلل او په دې کار د هغه د خاوند سکوت:

(۶۱_ سوال): يو سړی حج ته روان دی، د کلي خلکو پخپلو کې وويل چې د هغه ښځه هم حج ته وليږئ، په همدې غرض يې چنده وکړه، چنده کونکو ته له وړاندې نه معلوم شوي و چې ښځه او خاوند دواړه يو ځای نشي تللې، بلکې په جده کې به سره يو ځای کيږي، په دې سلسله کې دځو کارونو ځواب ته ضرورت لري:

(۱): دا چې له محرم نه بغير ښځه حج ته لاړه. نو شرعاً د هغه سفر جائز دی او که نه؟

(۲): د کلي خلک په دې پوهيدل چې هغه به له محرم نه بغير سفر کوي، مګر بيا هم هغوی ورته چنده وکړه، ايا شريعت د هغوی دغه کار ته د خير کار ويلی شي؟

(۳): خاوند يې د هغه په دې سفر خاموشي اختيار کړ او خلک يې له چندې کولو نه منع نه کړل، ايا د هغه دغه سکوت صحيح دی؟ بينوا توجروا.

(خواب): (۱) : دا چې پر ښځه حج فرض نه و او محرم ورسره هم نه و نو هغې ته تلل نه و پکار، حج خو يې ادا شو ليکن د شرعي قانون ماتولو په وجه ګنهګاره ده.

(۲): دا چنده بلا ضرورت او د بلا محرم سفر لپاره ده نو ځکه دا د خير کار نشي کيدلی.

(۳): خاوند يې له نبوي حديث: من رأى منكم منكراً فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه و ان لم يستطع فبقلبه و ذالك اضعف الايمان) نه مخالفت کړی دی، نو ځکه هغه ته پکار دي چې توبه او استغفار وکړي. فقط والله اعلم بلصواب. (۱۳ محرم الحرام ۱۴۰۰ ه

له ښځې سره په ټول سفر کې د محرم موجودیت ضروري دی:

(٦٢_ سوال): زه سږ کال له خپل نیا سره حج ته روان یم، د تللو پـه وخـت کـې زه لـه هغې سره ملګرې یم، له حج نه فارغیدو نه وروسته لندن ته ځم. د جده له هوایی میدان نه به زما ماما هغه په جهاز کې کینوي، او بل ماما می هم په هوایی میـدان کـې د هغې استقبال لپاره راځي، ایا زما نیا له جده نه تر بمبی پورې د هوایی جهاز سفر کولی شـي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): د حج د وجوب له شرائطو نه یو شرط دا دی چې لـه ښځـې سـره کـه هغـه ځوانه وي یا بوډۍ، محرم ضروري دی، که محرم ورسره نه وي نو له محرم نه پرته حـج ته تلل ګناه ده. که محرم ورته پیدا نشي نو د بدل حج وصیت دی وکړي او هغـه لپـاره دی پیسې جدا کیږدي. په فتاوای قاضي خان کې دي.

واجمعوا علی ان العجوز لا تسافر بغير محرم و لا تخلو برجل شاباً کان او شيخاً. **یعنی د فقهاو په دې خبره اجماع ده چې کمزوری او ضعیفه ښځه دی هم لـه محـرم نـه پرتـه سفر ونه کړي او نه دی له پردیو سړو سره خانله ګوښه ناسـته ولاړه وکـړي، برابـره خبـره ده چې هغه ځوان وي یا بوډا. (فتاوای قاضي خان ج ۱ ص ۸۷).**

ستا د نیا له جده نه تر بمبی پورې له محرم نه بغیر سفر اګر چې دا سفر په پنځو سـاعتونو کې ووهل شي او په دی ضمن کې د ځلور رکعتي لمونځ وخت راشي، نو په لمونځ کې قصر کول واجبیږي، نو کله چې دا شرعي سفر دی نو له محرم نه بغیر دا سفر کول ګنـاه او له نبوي فرمان: لا يحل لا مراة تؤمن بالله واليوم الآخر ان تسافر سفراً يكون ثلثـة ايام الا و معها ابو ها او ابنها او زوجها او اخوها او ذو محرم منـــها (رواه مســـلم زجاجه المصابيح ج ۲ ص ۱۰۱ کتاب المناسك).

که مکې مکرمې ته له رسیدو نه وروسته خاوند یې مړ شي نـو ښځـه څه وکړي؟

(٦٣_ سوال): لدې ځای نه یو سړی خپلې ښځې د حـج د ادا کولـو لپـاره لاړل هلتـه مکې مکرمې نه له رسیدونه وروسته خاوند یې مړ شو، اوس هغـه ښځـې تـه چـې کونـډه شوی ده یو دشکل پیدا شوی دی، امید دی چې په لاندنیو مسائلو کې مونږ ته لارښوونه وکړئ:

(۱): د حج د ارکان د ادا کولو لپاره خو ورځې پاتی دي او دلته هـيڅ محـرم لـه ښځـې سره نشته، نو له غیر محرم سره د حج افعال ادا کولې شي او که نه؟
(۲): که چیرته له دی ځای نه د هغه خوی ولیږل شي نو؟
(۳): ایا له محرم او محرم نه بغیر د عدت په وخت کې مدینه منورې ته تللی شـي او کـه نه؟
(۴): د وفات عدت فی الفور شروع کیږي او که د حج له ختمولو نه وروسته، او که د حج له ادا کولو نه بغیر بیرته واپس راتلل ورته ضروري دي؟ امیـد دی چـې مفصـل ځـواب راکړئ.
نوټ: دا خبره هم په نظر کې ونیول شي چې په دغې ښځې باندې حج فرض و.
(ځواب): حامداً و مصليا و مسلماً. (۱): له غیر محرم سره لـږ غونـدی وخـت تـیرول هـم حرام دی، نو له غیر محرم سره څنګه حج کولی شي.
(۲): د کونډې د حفاظت، اُنس او دلداري لپاره د هغه د زوی استول ډیر ضـروري دی.
فقط والله اعلم بالصواب.
(۳): که د عدت په حالت کی د فرض حج لپاره سـفر کـول صـحیح نـه دی نـو مـدینې طیبې ته د تللو اجازه څنګه کیدی شي؟
(۴): د وفات عدت د وفات له وخت نه شروع کیږي، لدینه نشي وروسته کیدلې، ابتــداء العدة فی الطلاق عقيب الطلاق والوفاة فان لم تعلم بالطلاق والوفاة حتی مضت مدة العدة فقد نقضت عدتها.

(فتاوای عالمکگیري ج ۲ ص ۱٦۰ الباب الثالث عشر فی العده شامي ایضــاً ج ۲ ص ۸۳۹)

که په مکه معظمه کې له خپل محرم سره عدت پورد کړه نو ښها کـه نـه نـو پـه حفاظـت دې وطن ته راشي. په موجوده حالت کې له محرم سره هم حج لپاره عرفات تـه د تللـو شرعاً اجازه نشته.

منها العدة فلو اهلت بالحج فطلقها زوجها ولزمتهاالعدة صارت محصرة ولو مقيمة او مسافرة معها محرم (شامی ج ۲ ص ۳۲۰ باب الاحصار).

که ممکن وي نو دواړه دی یو ځای حج وکړي او واپس دی راشي یا دی آینده کال ته بیرته حج ته لاړه شي، که د شرعي عذر په وجه حج ته ورنغلـه نـو د حـج بـدل وصیت دی وکړي،دا اصل مسئله ده، لیکن څرنګه چې د حکومت لـه طـرف نـه قـانون سـخت شوی دی او له زغم نه وتلی مشکلات دي نو څکه کتاب (زبده المناسك مـع عمـدة المناسك) لیکلی دي چې که څه هم په مکه کې هـم وي نـو عرفـی تـه دی لاړه نشي. بلکې د عمری افعال دی ترسره کړي او ځان دی حلال کړي. او که غواړي نو په عرفه کې له وقوف نه وروسته دی ځان حلال کړي، خو په دی مسئله کې ډیر زیـات مشـکلات مخې ته راځي الی قوله نو دادی هم همغسې معذوره وګڼلی شيً لکه چې په بـوادي او نورو کې چې هلته اوسیدل مشکل وي نو مکې مکرمې ته تلل ورتـه جـائز دی، نـو اوس دی په دی حالت کې عرفات ته د حج لپاره لاړه شي نو عذر کیدلی شي، که نه نـو ډیـر مشکلات مخې ته راځي، که چیرته د عمرې کولو نه وروسته خپل ځان حلاله کړی نو بیـا د حج قضا ورباندې لازمیږي، بیا هغه لپاره هلتـه اوسـیدل یـا واپـس کیـدل ډیـر زیـات مشکلیږي والله اعلم. په یوه کتاب کې مې ددی په متعلق د جواز ګنجائش زما له نظر نـه تیر شوې و لیکن اوس مې له ډیری لټی نه وروسته هم هغه کتاب پیدا نـه کـړ، شـاید پـه کبیري کې دا عبارت ما لیـدلی و. ناقـل (زبـده المناسـک ص ۲۴_۲۵) فقـط والله اعلـم بالصواب

د عدت په حالت کې حج ته تلل جائز دی او که نه؟

(۶۴_ سوال): ښځې او خاوند دواړو حج ته د تللـو اراده کـړی وه خـو د روژي پـه ۲۹ تاریخ خاوند یې مړ شو، ایا اوس د هغه ښځه حج ته تللی شي او که نه؟ له ښځې سره پـه همدې کال د هغه پلار تللو ته تیار دی، هغه د خپل مرحوم زوم لپاره د حج بـدل لپـاره تلل غواړي، هغه پخپله فرض حج اذا کړی دی، زه دا خبره واضح کول غواړم چې کـه سږ کال له حج نه پاتی شي نو اینده لپاره حج ته تلل ګران ښکاري، ځکه چـې کیـدای شي بل کال ته حج ته د تللو اجازه ورنکړی شي، ځکه چې د ښځې خاونـد ډیـر زیـات بوډا دی، مهرباني وکړئ په دی باره کې مکمل او مدلل ځواب راکړئ. (له بمبی نه).

(ځواب): د عدت په حالت کې ښځې ته د حج لپاره سفر کـول جـائز نـه دی، کـه لاړه شي نو ګنهګاریږي، که بل کال ته ورته د حج اجازه ورکړی شي نو لـه محـرم سـره دی

حج ته لاړه نشي. او که خدای نا خواسته تر آخره ورته اجازه ورنکړی شـوه. یـا محـرم ورته پیدا نه شو نو د بدل حج وصیت دی وکړي.

په درمختـار کـي دي : (و مع عدم عدة علیها مطلقا) اية عدة كانت (قوله و مـع عدم عدة .....الخ) ای فلا يجب عليها الحج اذا وجد (قوله اية عدة كانـت) ای سواء كانت عدة وفاة او طلاقة بائن او رجعی (در مختار و الشامی ج ۲ ص ۲۰۰ کتاب الحج).

مسئله : ښځې لپاره حج ته تلل هله جائز دی چې په عدت کې نه وي، او کـه پـه عـدت کې وي نو تلل واجب نه دی، برابره خبره ده عدت د طلاق وي که د خاونـد د وفـات. همدغه راز عدت د رجعي طلاق وي یاهم د بـائن طـلاق د ټولـو یـو حکـم دی. (معلم الحجاج ص ۹۸).

بهشتی زیور کې دي:

مسئله: نمبر ۱٦:

که چیرته دا ښځه په عدت کې وي نو هغه په دی عدت کې حج ته نشي تللـی. (ص ۵۳ دریم حصه) فقط والله اعلم بالصواب ـ ۲۵ شوال المکرم ۱۴۰۴ ه.

ایا خواښی له خپل زوم سره حج ته تللی شي او که نه؟

(٦۵ـ سوال): ایا خواښی له خپل زوم سره حج ته تللی شي او که نـه؟ ایـا زوم د خپـل خواښی لپاره محرم دی او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): زوم د خپل خواښی لپاره محرم دی، د هغـوی تـرمنځ همیشـه همیشه لپـاره نکاح حرامه ده. په فتاوای عالمګیري کې دي:

القسم الثانی المحرمات بالصهريه و هی اربع فرق الا ولی امهات الزوجات و جداتهن من قبل الا ب والام و ان علون (عالمكگيری ج ۲ ص ۵ کتاب النکاح القسم الثانی المحرمات بالصهريه).

مګر نن سبا د فتنې زمانه ده، له خسر ولی رشتې نه احتیـاط ضـروري دی، ځکـه چـې د فتنې زمانه ده، نو ځکه له هغوی سره د حج کولو نه دی احتیاط وکړی شي.

(معلم الحجاج ص ۹۵، شرائط وجوب اداء)

په شامي کـې دي: لما قالوا من كراهة الخلوة بالاخت رضاعاً والقهرة شابة (شـامي ص ۵۲۶). په دی سفر کې زیاتره د خلوت وخت راځي، کله کله بدنونه هم له یو بـل سره لګیږي،لهذا له خواښې سره باید له سفر کولو نه ډډه وکړی شـي. فقـط والله اعلم بالصواب

د خپل خوریی له زوی سره حج ته تلل:

(٦٦ـ سوال): ایا یوه ښځه کولې شي چې د خپلې خـورۍ لـه زوی سـره حـج تـه لاړه شي؟ بینوا توجروا

(خواب): ښځې لپاره د هغې د خورۍ زوی محرم دی او د هغوی ترمنځ نکـاح حرامـه ده.

په فتاوای عالمګیري کې دی: و امـالاخوات فالاخـت لاب وام والاخـت لام کـذا بنـات الاخ والاخت وان سفلن. (فتـاوای عـالمګیري ج ۲ ص ۵ کتـاب النکـاح بـاب ۳ القسـم الاول المحرمات بالنسب).

په القول الجازم فی بیان المحارم کې دي:

د مور او پلار فروع یعنی هغه سړی او ښځه چې د هغه د پیدا کیدو ذریعه مور یا پـلار بـلا واسطه یا بالواسطه طریقې سره وي، لکه ورور، خور، خـوری، خـورزه، وراره، وریـره او د هغوی اولاد څومره چې لاندې طبقې پورې وي ټول حرام دي.

(القول الجازم ص ۴ تفصیل محرمات مصنفه بحـر العلـوم حضـرت مولانـا سـعید احمـد صاحب لکنهوي).

لهذا کله چې د ښځې او د هغه خورۍ د زوی ترمنځ نکاح حرامه ده نـو هغـه دی لپاره محرم شو، نو ځکه په مسئوله صورت کې ښځه د خپل خورۍ له زوی سره حج تـه تللـی شي، خو دومره احتیاط دی وکړی شي چې هغه فاسق او فاجر نه وي، ځکـه چـې په فاسق او فاجر باندې اعتماد او اطمنان نه وي، فققها له داسې محرم سره له سفر کولـو نه ممانعت کړي.

په معلم الحجاج کې دي: مسئله : محرم ته په هغه وخت کې سفر ته تلل جـائز دی چـې کله د فتنې او شهوت ویره نه وي، که چیرته غالـب ګمـان دا وي چـې د سـفر کولـو پـه صورت کې د خلوت یا د ضرورت په وخت د بدن لګیدو په وخت شـوق او شـهوت پیـدا

کیږي، نو له هغه سره په سفر کې ورتګ جائز نه وی (معلم الحجاج ص ۹۷ شرائط وجوب اداء
په شامي کې دي
فلو من کرهه الخلوة بالاخت رضاعا والصهرة شابه. (شامي ج ۱ ص ۵۲۹).
فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته ښځه د خاوند په پیسو حج وکړي نو په هغه پیسو باندې قبضه ضروری ده او که نه؟

(۶۷_ سوال): یو سړی غواړي چې خپله ښځه حج ته بوځي، هغه د خپلې ښځې پیسې پخپله د حج په کمیټی کې ورکړی دي، ایا په دی صورت کې هغه حج ته تللی شي او که نه؟

مونږ دا اوریدلی دي چې لومړی دی ښځې ته دا پیسې ورکړي او مالک دی وګرځوي ترڅو هغه کل. حج وکړی نو فرض حج یې اداشي، په مذکوره صورت کې څه حکم دی؟

که ښځه حج ته لاړه شي نو د هغې فرض حج ادا کیږي او که نه؟

(ځواب): تا چې کومه خبره کړی ده دا د شرط په توګه نه ده دا صرف احتیاطي شکل دی چې که یو سړی بل سړی ته او یا خاوند خپلې ښځې ته پیسې ورکوي او له خپل خان سره حج ته وړي نو په دی کې احتیاط دا دی چې دغه پیسې دی هغه ته ورکړی او د دغو پیسو دی مالک وګرځوي. چې هسې نه چې خدای ناخواسته په لاره کې دواړو ترمنځ خفګان راشي او پر هغه د پیسو لګولو نه ممانعت وکړی، نو په دی صورت کې ورته تکلیف پیدا کیږي. دا هم کیدای شي چې پیسه ورکوونکی او له ځان سره وړونکی شخص نه حج د کوم عذر په وجه پاتی شي نو ممکن دی چې د بل سړی حج هم پاتی شي، که چیرته له مخکې نه ورته پیسې هغه ته ورکړي او مالک یې وګرځوي نو دا قسم پریشانی نه پیدا کیږي.

همدغه راز که له هر یو سره خپلې خپلې پیسې وي نو د ضرورت په وخت کې هر یو تن د خپل ضرورت څیزونه اخستلی شي، بل دا چې په دی طریقه پیسې هم ښه ساتل کیږي که چیرته ټولې پیسې له یو سره وي او له هغه نه ورک شي او یا هم ترینه څوک غلا وکړي نو ټولې پیسې ختمیږي او دواړه پریشانه کیږي. د همدغه مصلحت په خاطر دا

مشوره ورته ورکول کیږي چې خاوند دی خپلې ښځې ته پیسې ورکړي، که نه نو فی نفسه مسئله دا ده چې د غیر مستطیع شخص په شان دی مکه مکرمې ته ورسیږي او فرض حج یا صرف د حج په نیت دی حج ادا کړي نو حج یې ادا کیږي، البته که نفل حج په نیت یې احرام تړلی وي نو نفلي حج یې کیږي،لهذا په مسئوله صورت کې ښځه بلا تکلیف حج ته تللی شي البته د فرض حج په نیت دی احرام وتړی نه د نفلي حج په نیت سره که نه نو فرض حج یې نه ادا کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

بوډۍ او کمزوری ښځه هم له محرم نه بغیر حج ته لاړ نشي.

(٦٩ـ سوال): د یوې ښځې دوه زامن په بل وطن کې اوسیږي، یو زوی یې سږ کال حج ته د راتلو اراده لري، هغه سیده مکه مکرمې ته ورځي، هغه غواړي چې د خپل مور ورور له طرف نه په مور باندې بدل حج وکړي، ددی صورت به داسې وي چې مور به یې د جهاز په ذریعه له بمبی نه جده ته راشي، هلته به په میدان کې د هغه زوي موجود وي، مطلب دا چې دغه ښځه له بمبی نه تر جدی پورې له محرم نه بغیر سفر کوي، له حج نه وروسته بیا تر هندوستان پورې د هغه زوی ورسره ملګری وی، د ښځې عمر تقریباً ۷۰ـ۸۰ کاله دی، په مذکوره صورت کې د شریعت څه حکم دی؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې له بمبی نه تر جدی پورې په سفر کې هم ورسره د محرم سړي ضرورت دی، له محرم نه پرته حج ته تلل منع دی، په حدیث شریف کې دی چې هیڅ یوه ښځه دی له محرم نه پرته حج ته لاړه نشي.

عن ابن عباس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لا تحج امرأة الا و معها محرم. (رواه الدارقطني ایضاً عن ابن جریح و لفظه لا تحجن امـرأة الاّ معهـا ذو محـرم. (زجاجه المصابیح ۲/۱۰۱ کتاب المناسك).

په فتاوای قاضي خان کې دی چې د فقهاو کرامو په دی باندې اجماع کړي ده چې کمزوره ښځه دی هم له محرم نه بغیر سفر ونه کړي. ولا یثبت الاستطاعة للمـراة اذا کان بینها و بین مکة مسیرة سفرٍ شابة کانت او عجوزة الا بمحرم. (فتاوای قاضی خان ۱/۱۳۵ کتاب الحج).

کله چې په فرض حج کې له ښځې سره دخاوند یا محرم موجودګی ضروري دی نو په بدل حج کې، له محرم نه بغیر څنګه جائز کیدلی شي.

يجب الايصاء ان منع المرض او خوف الطريق او لم يوجد زوج ولا محرم. (نسائی ۲/ ۲۰۰ كتاب الحج).
که چیرته دا ښځه خا مخا تلل غواړي نو له هندوستان نه دی له خپل خان سره محرم بوځي یا دی، هم زوی دلته راشي خپل مور دی له خان سره بوځي. لدینه علاوه بل هیڅ صورت نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

د خاوند وراره محرم نشي کیدلې.

(۷۰ـ سوال): ایا یوه ښځه له خپل سکه وراره سره حج ته تللې شي او که نه؟ په داسې حال کې چې بل کوم محرم ونلري؟

(ځواب): ښځه کولې شي چې له خپل وراره سره حج ته لاړه شي، لیکن د خاوند له وراره سره حج ته نشی تللې، که بل محرم ونه لري نو د بدل حج وصیت دی وکړي، له پردو خلکو سره حج کول جائز نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

لیور محرم نه دی:

(۷۱ـ سوال): ښځه او د هغه زوی او د بل زوی ښځه دری واړه یو ځای حج ته تللی شي؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې ښځه حج ته تللی شي ځکه چې د ښځې زوی چې محرم یې دی ورسره دی. لیکن د بلی زوی ښځه ورسره نشي تللې ځکه چې لیور محرم نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

ناسکه زوم محرم نه دی؟

(۷۲ـ سوال): ناسکه خواښې له ناسکه زوم سره حج کولې شي او که نه؟ که ځواب یې په نفی کې وي نو د حج په صورت کې حج یې ادا کیږي؟

(ځواب): ناسکه زوم محرم نه دی لهذا ناسکه خواښی له ناسکه زوم سره د حج په سفر نشي تللې. خو که بیا هم ورسره لاړه شي نو د حج فریضه یې خو ادا کیـزی، لیکن له شرعي حکم نه د مخالفت په وجه دواړه شدید ګنهګاران دی.

ولو حجت بلا محرم جاز مع الكراهية. طحطاوي ص ۳۹۷ كتاب الحج.

د حج لپاره یواځې د ښځو قافله:

(۷۳ سوال) دلته له افریقی نه ښځه شپږ ښځې چې مالي حالت یې ښه دی، ورسره کوم محرم نشته د حج لپاره تلل غواړي، دا قسم قافله تلل څنګه دی؟
که چیرته یوه مالداره ښځه حج کول غواړي مګر محرم نه لري ایا هغه دی له حج نه محرومه پاتی شي؟

(جواب) په فطري توګه د سړی میلان ښځې ته او د ښځې میلان د سړي په طرف وي، ملعون شیطان هم ښه ډیر زور لګوي چې انسانان په ګناه کې اخته کړي. په حدیث کې دی چې سړو لپاره له ښځو نه زیات ضرر رسونکی فتنه نشته.

عن اسامه بن زيد قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما تركت بعدي فتنة اضر على الرجال من النساء. (متفق عليه مشكوه ص ۲٦۷ كتاب النكاح).

محمد صلی الله علیه وسلم سړو ته خبرداری ورکړی دی چې د ښځو له فتنو نه ځانونه وساتی. ځکه چې د بني اسرائیلو د تباهي باعث له ټولو نه مخکې فتنه د ښځو په صورت کې و.

في حديث ابى سعيد الخدرى قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم واتقو النساء فان اول فتنة بني اسرائيل كانت في النساء. (رواه مسلم ايضاً).

دغه شان په یو بل حدیث کې دي: عن الحسن مرسلاً قال بلغني ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لعن الله الناظر و المنظور اليه. (رواه البيهقي في شعب الايمان ايضاً ص ۲۷۰ كتاب النكاح).

د الله لعنت دی په هغه چا چې (له څه عذر او اضطراري حالت) نه بغیر چاته وکتل او پر هغه چاچې ورته کتل کیږي.

له حضرت فاطمه رضی الله عنها څخه پوښتنه وشوه چې ښځې لپاره کومه خبره بهتره ده؟

ویی فرمایل دا چې نه پردي سړي ته وګوري او نه پردی سړی دیته وګوري. روى انه عليه السلام فقال لابنته فاطمة اى شيئى خير للمرأة قالت ان لا ترى رجلاً و لا يراها رجلاً. (مجالس الابرار مجلس ۹۸ ص ۵۹۷_۵۹۸)

په حدیث شریف کې دي چې ښځه دشیطان په صورت کې مخې ته راځي او د شیطان په صورت کې واپس کیږي.

عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان المراة تقبل فى صورة شيطان وتدبر فى صورة شيطان. (الحديث مشكوه ص ٢٦٨ باب النظر الى المخطوبه).

همدغه راز بل حدیث کې دی: المرأة عورة فاذا خرجت استشر فها الشيطان.

یعنی ښځه په پرده کې د پټیدو څیز دی، کله چې یوه ښځه له خپلې پردی نه باهر کیږي نو شیطان سړو ته ښکلې ښکاره کوي. (مشکوه ص ٢٦٩ باب النظر الى المحطوبه)

له کور نه په باهر وتلو کې د فتنې ویره ده نو ځکه الله تعالی ښځو ته تاکید کړی دی چې:

((وقرن فى بيوتكن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الاولى. الاحزاب).

پخپلو کورو کې کینئ او د پخوانیو جاهلانو په شان باهر مه اوځئ.

البته شرعي ضرورت په وخت کې له څه زیب و زینت او سینګار نه بغیر شرعی پابندي او احتیاطی تدبیرونو سره ووځئ نو ددی اجازه ده. د الله تعالی ارشاد دی:

((قل للمومنتٌ يغضضن من ابصارهن و يحفظن فروجهن ولا يبدين زينتهن.)) سوره النور.

مومناتو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې ټیټی ونیسي او د خپل فرجونو حفاظت دی وکړی او خپل ښائست دی نه ښکاره کوي.

په حدیث کې دي: کله چې یوه ښځه خوشبوی ولګوي او د سړو له څنګ تیره شي نو هغه داسې داسې ده، یعنی زانیه ده. (مشکوه ص ٩٦ باب الجماعه و فضلها.)

په یو بل حدیث کې دي چې: سترګی زنا کوي او د هغوی زنا غیر محرم ته کتل دي، غوږونه زنا کوي، د هغوی زنا د غیر محرم آواز اوریدل دي، ژبه زنا کوي او د هغه زنا له غیر محرم سره خبرې اترې کول دي، لاسونه زنا کوي، د هغوی زنا د غیر محرم نیول دي. (مسلم ٣٣٦/٢) _ (مشکوه ص ٢٠ باب الايمان بالقدر).

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای خلکو خپلې ښځې ښایسته جامو او سینګار سره مسجدونو ته له تللو منع کړئ ځکه چې په بني اسرائیلو باندې تر هغه لعنت نه کیده ترڅو پورې چې د هغوی ښځې په ښکلو جامو او سینګار سره مسجد ته نه تللې. (ابن ماجه ص ١٩٧ ابواب الفتن باب فتنه النساء).

د شرعي ضروریاتو له جملې څخه یو ضرورت د حج ادا کول هم دی چې د شرعي ضابطی او فساد څخه د حفاظت یو څو احتیاطی تدابیر دا دي چې له ښځې سره د هغه خاوند یا بل کوم دیندار او متقي محرم موجود وي ترڅو د هغې حفاظت وکړی شي که نه نو د حج سفر هم جائز نه دی. او که له شرعي حکم نه مخالفت وکړي نو گنهګار به شي.

په حدیث شریف کې دي: لا تحجن امرأة الا و معها محرم.

یعني ښځې دی له محرم نه بغیر حج ته لاړی نشي. (زجاجه المصابیح ۱۰۱/۲ کتاب المناسک).

په یو بل حدیث کې دي چې یو اصحابي محمد صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چې یا رسول الله! زه فلانکی جهاد ته تلونکی یم او زما ښځه حج ته تلل غواړي. محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ته لاړ شه له ښځې سره لاړشه او حج وربانديې وکړه.

و فی روایة البزار عن ابن عباس ان رسول الله صلی الله تعالی علیه وآله وسلم قال لا تحج امرأة الا و معها محرم فقال رجل یا نبی الله انی اکتتبت فی غزوة کذا و امرأتی حاجة قال ارجع فحج معها (ایضاً ج ۲ ص ۱۰۱ کتاب المناسک).

همدغه راز د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: په الله او د قیامت په ورځ ایمان لرونکې لپاره حلال نه دي چې درې ورځې (۴۸ میله) مسافي نه دی زیات سفر وکړي مګر دا چې له هغې سره خپلې پلار، ورور یا خاوند وي.

عن سعید الخدری رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله تعالی علیه و آله وسلم لا یحل لا مرأة تومن بالله و الیوم الآخر ان تسافر سفرا یکون ثلاثة ایام فصاعداً الا و معها ابو ها او ابنها او او زوجها او اخوها او ذو محرم منها (مسلم ج ۱ ص ۴۳٤ باب سفر المراد مع محرم الی حج).

په نورو روایتونو کې د حالاتو او فتنې له ویرې نه دوه ورځې، یوه ورځ او یوه شپه یا یواځې یوه شپې سفر لپاره هم د محرم موجودیت شرط دی.

و فی روایه نهی ان تسافر المرأة مسیرة یومین و فی روایة لا یحل لا مراة تومن بالله والیوم الآخر تسافر یوم الا مع ذی محرم و فی روایة لا یحل لا مرأة مسلمه تسافر

مسيرة ثلاثة ايام الا ومعها ذو حرمة منها وفي رواية مسيرة يوم وليلة (مسلم مع شرح النووي ج ١ ص ٤٣٢ ايضا).

د سفر په حالت کې د ښځو د عصمت او ناموس ساتنه چې خوسره خاوندان او محرم کولې شي ښځې يې نشي کولې بلکې ښځې د خپل عصمت او پاک لمنې د حفاظت لپاره د نورو محتاجې دي. ښځه پخپله ناقص العقل او ناقص الدين دي، د نورو ښځو عصمت او دين به څه حفاظت وکړي بلکې د فتنې په زياتوالی کې به نوره خطره هم پيدا شي.

په هدايه کې دي چې: حج لپاره د خاوند يا د محرم موجوديت ځکه ضروري دی چې له محرم نه علاوه د ښځې لپاره د فتنې خطره ده، يواځې د ښځو په موجودګی کې فتنه زياتيږي.

ويعتبر في المرأة ان يكون لها محرم تحج به او زوج. (الى قوله). ولانها بدون المحرم يخاف عليها الفتنه و تزداد بانضمام غير ها اليها. (هدايه ١/٢١٣ كتاب الحج).

په سړک باندې روان ماشوم لپاره د ګاډو او ټانګو د وهلو چې کومه خطره وي نو که له هغه ماشوم سره درې څلور ماشومان نور هم زيات شي نو خطره نور هم زياتيږي.

د ښځې لپاره د محرم شرط له حج نه د محرومي باعث نه دی، بلکې د هغې د عصمت د حفاظت او له تهمت څخه د ساتلو لپاره دي چې له هغه نه پرته د ښځې هيڅ قيمت نشته.لهذا ښځو ته پکار دي چې د شرعي احکامو قدر وکړي.

پاتې شوه د حج مسئله نو که محرم ورته پيدا نشي نو د بدل حج کولو اجازه ورته هم شريعت ورکړې دی چې د پوره ثواب مستحقه ګرځي. لدينه علاوه د شرعي حکم د تابعداري کولو په وجه هم ورته لوی اجر ورکول کيږي. والله اعلم بالصواب.

له هغه چا سره حج ته تللو اجازه شته او که نه چې په زوی ولی يې نيولی دئ.

(٧۴_ سوال): يوی ښځې له ماشوم توب نه يو وړوکی ماشوم لوی کړی دی او خپل خوی يې ګرځولی دی، پخپل مصرف ورته واده هم کړی ده. هغه دغې ښځې ته مور او ښځه هغه ته خوی وايی، ايا دغه ښځه له خپل دغه زوی سره حج ته تللی شي او که نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب): کوم پردي ماشوم چې لوی کړي شي او خپل ځوی وګرځولې شي هغه حقیقي ځوی نشي کیدلې. په قرآن کریم کې دي:

وما جعل ادعیاکم ابناء کم ذلکم قولکم بافواهکم والله یقول الحق و هو یهدی السبیل ○ ادعوهم لاباٰهم هو اقسط عندالله. (سوره احزاب آیت ٤).

تاسې چې په خوله چاته زوی وایئ الله تعالی هغه ستاسی لپاره (حقیقی) زوی نه دی ګرځولې. دا ستاسې صرف د خولی خبره ده (چې غلطه ده) او الله تعالی حق وایی او همغه سیده لاره ښیئ، هغوی د حقیقی پلار په طرف منسوب کړئ دا د الله په نزد حقه خبره ده. لهذا دغه هلک د ښځې لپاره محرم نشي کیدلې له هغه سره حج ته تلل جائز نه دی.

ایا بوډۍ ښځه د خپل خاله زاد ورور سره حج ته تللې شي او که نه؟

(۷۵_ سوال): یوه بوډۍ ښځه ده هغه غواړی چې خپل خاله زوی سره حج ته لاړه شي، ایا هغې لپاره حج ته تلل جائز دی او که نه؟

(ځواب): ښځه که ځوانه وي یا بوډۍ له غیر محرم سړی سره حج ته نشي تللې، په حدیث کې دي:

لا یحل لامرأة تؤمن بالله والیوم الآخر ان تسافر مسیرة یوم و لیلة الامع ذی محرم علیها (رواه ابو هریره مسلم شریف ص ٤٣٤ جلد نمبر ١ باب سفر المراه مع محرم الی حج وغیره).

ترجمه: الله او د آخرت په ورځ ایمان لروونکی ښځې لپاره حلال نه دی چې هغه له محرم نه بغیر یوې شپې ورځې سفر وکړي.

په فتاوای عالمګیري کې دي:(و منها المحرم للمرأة) شابة کانت او عجوزة اذا کانت بینها و بین مکة مسیرة ثلاثه ایام هکذا فی المحیط. (ج ١ ص ٢١٨ کتاب المناسك اما شرائط وجوبه.

یعنی د ادا د وجوب له شرائطو نه یو شرط دا دی چې که چیرته د ښځې او مکې معظمې ترمنځ دری ورځې لاره وي نو له هغې سره د محرم موجودیت ضروري دی، برابره ده چې ښځه ځوانه وی یا بوډۍ.

په فتاوای قاضی خان کې دي: اجمعوا علی ان المعجوز لا تسافر بغیر محرم.

د فقهاو اجماع ده چې بوډۍ ښځه دی هم يواځې له محرم نه بغير سفر نـه کـړي. فتـاوای قاضي خان ۷۸/۱ به حواله فتاوای رحیمیه ۵۵_۵٦.

که چیرت له کومې ښځې سره محرم نه وي او پخپلو پیسو باندې د محرم د وړلو قادر نـه وي نو په داسې ښځې حج ته تلل فرض نه دی.

که چیرته تر آخره پورې ورته څوک محرم پیدا نه شو نو په داسـې صـورت کـې دی د بـدل حج وصیت وکړي. په مذکوره صورت کی ترور زوی محرم نه دی لهذا له هغه سـره حـج تـه نشي تللې. که تاسې د شریعت په پابندي کولو سره له هغه سره حج ته لاړه نشئ نـو تاسـې د حج له ثواب نه محروم نه پاتی کیږئ، انشاء الله اجر او ثواب به درتـه ورکـول کیـږي. فقـط والله اعلم بالصواب.

له زوم سره د حج سفر کول :

(۷٦_ سوال):فاطمه يوه کونده ښځه ده، هغه له خپل زوم سره حج ته تلـل غـواړي. د فاطمی خاوند قرضدار و، له فاطمی سره لږ غوندی سره زر دي، ایا کولې شي چـې هغـه خرڅ کړي او ورباندې حج ته لاړه شي؟ بینوا توجروا

(ځواب): زوم یعنی د فاطمې د سکه لور خاوند د فاطمې محرم دی لهذا هغه سره حـج ته تللې شي په دی شرط چې د دواړو عمر او دینی حالت په نظر کې نیولو سره په ګنـاه کې د اخته کیدو ویره نه وي.

په معلم الحجاج کې دي: محرم هغه سړی وی چې له هغـه سـره پـه هـیڅ صـورت کـې نکاح جائز نه وي. برابره خبره ده چې له پلار له طرف نه محرم وي يا د مور له طـرف نـه او یا هم په رضاعت کې د ګډون او شرکت له کبله ، مګر په دی زمانه کـې د رضـاعی او خسرولی له خپلوانو نه احتیاط ضرورت دی. ځکـه چـې د فتـنې زمانـه ده نـو ځکـه لـه داسې محرمو سره باید حج ته په تللو کې زیات احتیاط وشی.

(معلم الحجاج ص ۸۴ _ شرائط حج _ شرائط وجوب ادا). فقط والله اعلم بالصواب.

د احرام په متعلق احکام

په مکه معظمه کې د داخليدو لپاره احرام وتړي او که نه؟

(۷۷_ سوال): له حج ادا کولو نه وروسته مدينې منورى ته لاړ، له هغه ځای نه وطن تـه د تللو لپاره جده ته راغی، ليکن د جهاز روانيـدو کـې لا وخـت شـته، نـو لـس پـنځلس ورځې په جده کې د پاتي کيدو پر ځای مکې ته تلل او هلته طـواف کـول غـواړي. ايـا هغه لپاره احرام تړل پکار دی او که نه؟

(ځواب): احرام تړل ورباندې ضروری دی، د عمرې لپـاره احـرام تـړل ضـروري دی. (قرة العيون.[1]

په جده کې اوسيدونکی د حج يا عمرې احرام له کوم ځای نه وتړي؟

(۷۸_ سوال): په جده کې اوسيدونکو خلکوته له کوم ځای نه احرام تړل پکار دي؟

(ځواب): کوم خلک چې په ميقات کې د ننه اوسيږي هغوی دحج يا عمـرې احـرام لـه حرم نه باهر له کوم ځای نه چې تړل غواړي تړلی شي. د حل ټولـه زمکـه دهغـه لپـاره ميقات دی.[2]

فقط والله اعلم بالصواب. ۲۹ رمضان المبارک ۱۳۹۹ ھ.

د جده اوسيدونکی له احرام نه پرته مکې ته تللې شي او که نه؟

(۷۹_ سوال): کوم سړی چې د نوکري په خاطر په جده کې اوسيږي، که هغه د جمعې لمونځ يا د خپلې ذاتي کار لپاره مکې معظمې ته لاړ شي نو د احرام تړل ورتـه ضـروري دی او که نه؟ د دی ځای اوسيدونکې وايی چـې جـده پـه حـل کـې شـامل ده. فقـط والسلام. بينوا توجروا

---

[1]-((وجب على من دخل مكة بلا احرام لكل مرة حجة او عمرة...... وصح منه اى اجزاء عملاً لزمه بالدخول. (درمختار مع الشامى باب الجنايات ج ۱ ص ۳۱۳ .))

[2]- فهذا ميقاته الحل الذى بين المواقيت والحرم قال فى الشاميه تحت قوله فهذا الاشارة الى هل داخلها بالمعنى الذى ذكر ناه فالحرم حد فى حقه كالميقات للافاقى فلا يدخل الحرم ان قصدالنسك الا محرما. شامى قبل فصل فى حرام ج ۲ ص ۱۳ .))

(ځواب): کوم خلک چې په حل کې اوسيږي هغوی لپاره په مکه کې داخليدل له احرام نه پرته جائز دی. دا هله چې د حج او عمرې نيت يې نه وي کړی.
کله چې په حل کې وي نو د جدې اوسيدونکی د جمعې لمونځ يا د تجارت لپاره مکې معظمې ته له احرام نه پرته تللې شي، خو که د حج او عمرې اراده يې وي نو بيا د احرام تړل ضروري دی.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

په حرم کې د بيا داخليدو په وخت کې د احرام حکم:

(۸۰_ سوال): که چيرته کوم سړی له مکې مکرمې نه د عمرې له ادا کولو نه وروسته د حرم له حدود نه د باندې لاړ، بيا بيرته د کوم کار لپاره مکې مکرمې ته تلل غواړي نو ايا هغه لپاره دوباره احرام تړل ضروری دی او که نه؟ بينوا توجروا

(ځواب): کله چې عمره ادا کړي او د ميقات له حدود نه د باندې لاړ شي نو بيرته د راتلو په وخت وربانديې احرام تړل ضروري دی، او که د ميقات له حد نه باهر نه وي تللی نو د احرام ضرورت ورته نشته. ۲ فقط والله اعلم بالصواب.[2]

سمندر او د هوا د لارې سفر کونکو ته کله احرام تړل پکار دی؟

(۸۱_ سوال): کوم خلک چې له بحري جهاز نه بيت الله شريف ته تلل غواړي نو هغوی ته کله احرام تړل پکار دي. د ځينو خلکو وينا ده چې جده ته له رسيدو نه وروسته احرام تړلی شي. ايا د هغوی دا وينا صحيح ده؟ او که په څه وجه تر جده پورې احرام وروسته کړی نو دم وربانديې لازم دی او که نه؟

۲ : کوم حاجيان چې په هوائي جهاز کې سفر کوي هغوي ته کله احرام تړل پکار دي. ايا که په جده کې احرام وتړي نو احرام يې صحيح کيږي او که نه؟

---

[1] -((و حل لاهل داخلها يعنی من وجد فی داخل المواقيت دخول مکه غير محرم مالم يرد نسکاً للحرج.، جواهرالفقه ج ۱ ص ۴۸۷ .)

[2] - ((والمتمتع اذا فرغ من عمرية ثم خرج من الحرم ..... وان رجع الی الحرم واهل منه قبيل الاحرام فلا شئ عليه بالاتفاق کذا فی غايه السروجی شرح الهدايه فتاوای عالمکگيری الباب العاشره فی فجاوزالميقات بغير احرام. (ج ۱ ص ۲۵۴ .)

(ځواب): د پاکستان او هندوستان حاجیانو لپاره میقات یلملم دی. لهذا کوم حجاج کرام چې مکې معظمې ته تلل غواړي هغوی دی په یلملم یا د دی له محاذ نه مخکې احرام وتړي.[1]

زمونږ په زمانه کې کوم حجاج کرام هندوستان یا له پاکستان څخه په سمندری جهاز کې سفر کوي، ایا هغوی تر جدی پورې احرام وروسته کولې شي او که نه؟ په دی باره کې زمونږ د زمانی د اکابرو علماء په تحقیق کې اختلاف دی، دحضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله علیه تحقیق دا دی چې په بحري جهاز کې سفر کوونکو حجاجو لپاره تر جدی پورې احرام وروسته کول جائز دی، هغه فرمايي: بحری جهاز چې له یلمم نه وړاندې چې د جدی په طرف تجاوز کوی هغه تجاوز په آفاق کې وي د حرم په طرف نه وي،لهذا که تر جدی پورې احرام وروسته کړي شي نو جائز دی او دم وربانـدې نه واجبیږي.

(زبده المناسک مصنف مولنا الحاج شیر محمد صاحب سندهي او حضرت مولانا منظور نعماني صاحب تحقیق هم همدادی.

د دی په مقابل کې د حضرت مولانا محمد یوسف بنوري او مولانا مفتی رشید احمد لدهیانوي رحمه الله علیه (پاکستان) او د مولانا مفتی ولي ټونکی (پاکستان) تحقیق دا دی چې د یلملم محاذات له جدی نه مخکې راځي او بحری جهاز جدی ته له رسیدونه وړاندی د میقات له محاذاتونه تجاوز کوي او په حدود کې داخلیږي نو ځکه د هندوستان او پاکستان حاجیانو باندې په سمندر کې د یلمم له محاذاتونه احرام تړل ضروري دی. که لدینه تاخیر وکړي نو د میقات له محاذاتونه بلا احرام تیریدلو په وجه دم هم وربانډې لازمیږي او ګنهګاریږي هم.

لهذا غوره دا ده چې جدی ته له رسیدو نه مخکې د یلملم په محاذاتو کې احرام وتړل شي په همدې کې احتیاط دی. لکه چې حضرت مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله علیه همداسې لیکلی دي.

په داسې حالت کې چې په دی مسئله کې د علماو ترمنځ د رایو اختلاف دی احتیاط په دی کې دی چې په بحري جهاز کې په یلمم کې احرام وتړل شي، یا د جده په ساحل

---

[1] - ((میقات اهل الیمن و الهند یلملم جبل جنوبی کله علی مرحلتین منها الفقه الاسلامی و ادلته المطلب الثانی میقات الحج و العمره المکانی (ج ۱ ص ۷۱.))

کې له کوزیدو نه وړاندی احرام وتړي ځکه د فقهاو د تصریح په مطابق د اختلاف په محل کې د احتیاط پهلو غوره کول بنه کار دی ترڅو د خپل عبادت په جواز کې څه اختلاف پاتی نشي.

لدینه علاوه احرام له میقات مخکې تړل هم د ټولو په نزد افضل دی، بلکې په خینو احادیثو کې له خپل کور نه د احرام تړلو فضیلت راغلی دی. خو په دی شرط چې د احرام په محظوراتو کې داخته کیدو خطره نه وي، خو که څوک لدینه ځان نشي ساتلی نو بیا ورته د میقات تر اخري حد پورې وروسته کول بهتر دی.

داسې خلک دی په اخري حد کې دومره احتیاط وکړي چې د هغه احرام د علماو له اختلاف نه ووځي. (جواهر الفقه ج ۱ ص ۴۸۹).

د دغه اختلاف په وجه بنه صورت یې دا دی چې بره یاد شو، هغه دا چې جدی ته له رسیدونه مخکې د یلملم په محاذاتو کې احرام وتړل شي، لیکن که چیرته چا په غلطۍ سره یا د کوم مجبوریت له کبله تر جدی پورې احرام وروسته کړه نو پر هغه دم لازم نه دی مګر که احتیاطاً دم ورکړي نو بهتر دی. فقط والله اعلم بالصواب.

۲ ـ: کوم حاجیان چې هندوستان یا پاکستان نه مکې مکرمې ته په هوائی جهاز کې سفر کوي، هغوی ته پکار دي چې په هوائی جهاز کې له سوریدلو نه وړاندې احرام وتړي،تر جدی پورې د احرام وروسته کول جائز نه دی او که وروسته کړي نو ګناه ورباندې هم کیږي او دم ورباندې هم واجبیږي ځکه چې هوائی جهاز د میقات له حد نه تیریږي او بیا جده ته رسیږي، په هوائی جهاز کې ناستو حاجیانو ته دا معلومول ګران کار دی چې جهاز کله د میقات په حدود کې داخلیږي او که د میقات د حدودو علم هم تر لاسه کړی نو لدینه مخکې د احرام تړل او ترینه فارغیدل مشکل دی. ځکه چې هوائی جهاز په ډیره تیزۍ سره رفتار کوي، بل دا چې په دی وخت د احرام په تړلو کې د احرام د سنتو او مستحباتو رعایت ساتل هم مشکل دی.

حضرت مولانا مفتی شفیع صاحب لیکي: نن سبا د مشرقی هیوادو څخه د راتلونکو حاجیانو لاری دوه دي، یو هوائی او بله بحري، د هوائی جهازونو لاره عموماً د خشکی له بره نه د قرن المنازل په لاره کی وي. هوائی جهاز قرن منازل او ذات عرق له دواړو میقاتونو لپاسه تیریږي. لومړی په حل کې داخلیږي بیا لدینه وروسته جدی ته رسیږي نو ځکه په هوائی جهاز خو قرن المنازل باندې له تیریدو نه وړاندی احرام تړل واجب دی.لیکن څرنګه چې د دی پته لګول مشکل او تقریباً ناممکن دی چې کله او کوم

وخت له قرن المنازل نه تیریږي نو ځکه د پاکستان او هندوستان حاجیانو لپاره پکار دی چې احتیاطا په هوائی جهاز کې له سوریدلو نه وړاندی احرام وتړي. که چیرته د احرام له تړلو نه مخکې جهاز هوا د لاری جدی ته ورسیږي نو پر هغه دم واجب دی او ګناه وربانديږ لا زیاتی دی چې د هغه په وجه حج ناقص ګرځي او د مقبولیت حد ته نه رسیږي. زیات حجاج په دی کې غفلت کوي. (جواهر الفقه ج ۱ ص ۴۷۴_۴۷۵) _ (عمده الفقه ج ۴ ص ۹۲) فقط والله اعلم بالصواب.

د احرام څادر د لنګ په شان ګنډل:

(۸۲_ سوال): د احرام څادر د لنګ پشان ګنډل شوی دی ایا د هغه استعمال جائز دی او که نه؟

ځینی خلک ناګنډلی لنګ نشي استعمالولی او د ستر ښکاره کیدو ویره وي خصوصاً د ویده کیدو په وخت کې، ایا دا صورت خپلولی شو؟ بینوا توجروا

(ځواب): کله چې د ستر د ښکاره کیدو ویره وي نو د احرام د څادر د ګنډلو جواز شته خو له ضرورت نه بغیر ګنډل مکروه دی. په غنیة المناسك کی دي:

و عقد الا زار والرداء بان یربط طرف احدهما بطرفه الآخر شرح و ان یخلله بخلال او یشده بحبل و نحوه (غنیه المناسك ص ۴۷ فصل فی مکروهات الا حرام و محظوراته التی لا جزاء فیها سوی الکراهه)

په معلم الحجاج کي دی: د تهبند (لنګ) دواړه پلی له وړاندی نه ګنډل مکروه دی، که چا د ستر د حفاظت په وجه وګنډل نو دم وربانديږ واجب نه دی.

(معلم الحجاج ص ۱۲۸ مکروهات احرام). فقط والله اعلم بالصواب.

که افاقي د میقات نه د باندې اوسیدونکی د سفر په طریقه جدی ته ورسیږي او له هغه ځای نه مکې مکرمې ته تللو اراده وکړي نو هغه لپاره احرام تړل ضروري دی او که نه؟

(۸۳_ سوال): محترم مفتی صاحب دام الله ظلهم و فیوضهم، اسلام علیکم و رحمه الله و برکاته ؛ ستاسی فتاوه رحیمیه دویم جلد ۵۳ صفحه کې دي:

(سوال): له حج کولو نه وروسته مدینې منورې ته لاړ بیا له هغه ځای نه وطن ته د تللو لپاره بیرته جدی ته راغی لیکن د اوبو جهاز په روانیدو کې لا وخت شته نو که چیرته په

جده کي د اوسیدو پر ځای مکې معظمې ته لاړ شي او هلته طواف وکړي او ووسیږي نو ایا هغه لپاره د احرام تړل ضروري دی او که له احرام نه بغیر تللی شي؟
(خواب): احرام به ضرور تړي، د عمرې احرام په تړلو سره داخلیدلی شي
(قرة العین) فتاوای رحیمیه ص ۵۳ ج ۲)
مګر په معلم الحجاج کې دي چې له میقات نه د باندې اوسیدونکی له میقات نه وړاندی په داسې یو ځای کې چې له حرم نه خارج دی او په حل کې دی د کوم ضرورت په وجه تلل غواړي، مکې ته د تللو او عمرې نیت نه لري نو پر هغه له میقات نه احرام تړل واجب نه دی او لدینه وروسته هغه له همدې ځای نه مکې ته هم له احرام نه پرته تللی شي او پر هغه هیڅ دم واجب نه دی، هلته له رسیدو نه وروسته هغه هم د دغه ځای اوسیدونکو په حکم کې راغلی دی، که د همدې ځای نه د حج یا د عمرې نیت وکړي نو هغه ذی له حل نه احرام وتړي.لهذا د فتاوای رحیمیه په خواب او د معلم الحجاج په عبارت کې ښکاره تناقض معلومیږي، تاسی په دی باره کې څه خواب لرئ؟ بینوا توجروا.
(خواب): فتاوای رحیمیه ص ۵۳ ج ۲ خواب (قرة العین یعنی زبدة المنسك المعروف به قرة العینین فی زیارة الحرمین) په حواله لیکل شوی و. د حج په مسائلو کې دا کتاب ډیر زیات معتبر ګڼل کیږي

د ذی الحجې په اووم ورځ احرام تړل څنګه دی؟

(۸۴_ سوال): نن سبا معلم صاحبان د اووم ذی الحجې په ورځ زیات حاجیان منی ته وړي. د اووم ذی الحجې په ورځ احرام تړل څنګه دی؟ آیا په دی کی څه نقصان راځی او که نه؟
څکه چې مونږ ته معلوم دی چې د ذی الحجې په اتم تاریخ منی ته تلل دي، امید دی چې خواب راکړئ. بینوا توجروا.
(خواب): په مسئوله صورت کې په اووم ذی الحجه احرام تړل او بیا منی ته تلل صحیح دی، هیڅ کراهت پکې نشته بلکی افضل دی. په شرح الوقایه کې دي:

ثم حرم نحج كما مراى يوم الترويه و قبله افضل عمده الرعايه حاشيه شرح الوقايه
کې دي ص ٦ قوله افضل لكونه اشق والنسب بالمسارعة الى الخير (شرح وقايه ص ٣٤٤ ج ١ كتاب الحج طواف القدوم و الخروج لمنى و عرفات).

ملازمت یا د تجارت په ارادی سره مکې مکرمې ته تلونکې لپاره احرام ضروري دی او که نه؟

(٨٥ـ سوال): که چیرته کوم سړی له هندوستان نه د تجارت یا نوکرۍ لپاره مکې مکرمې ته ځي نو پر هغه احرام تړل ضروری دی که نه ؟ او که احرام تړل ضروري وي نو د څه ځیز احرام وتړي. بینوا توجروا.

(ځواب): آفاقي یعنی کوم شخص چې له میقات نه باهر اوسیږي له احرام تړلو نه بغیر مکې مکرمې ته نشي تللی، د حج او عمرې اراده یې وي او یا هم د ملازمت او تجارت. په لومړی هدایه کی دي:

ثم الافاقى اذ انتهى اليها على قصد دخول مكة عليه ان يحرم قصد الحج او العمرة او لم يقصد (بان قصد التجارة ١٢) عندنا لقوله عليه الصلوه والسلام لا يجاوز احد الميقات الا محرماً لان و جوب الا حرام لعظيم هذه البقعه الشريفه فيستوى فيه الحاج والمعتمر و غير هما (هدايه اولين ص ٢١٤ فصل فى المواقيت).

په کوم صورت کې اضطباع مسنون دی؟

(٨٦ـ سوال): د احرام له تړلو نه وروسته په عامو حالاتو کې اضطباع کول پکار دی او که یواځې په طواف کې؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په عام حالات کې دی اضطباع یعنی څادر نه آړوي، خصوصاً په لمونځ کې دی اضطباع نه کوي، له کوم طواف نه وروسته چې سعی کول وي په هغه طواف کې اضطباع مسنون دی، په درمختار کې دي:

(واخذ) الطائف (عن يمينه مما يلى الباب) (جاعلاً) قبل شروعه (رداء ه تحت ابطه اليمنى ملقيا طرفه على كتفهالا يسر). استناناً.

په شامي کې دي:

(قوله استنانا) ای فی کل طواف بعده سعی کطواف القدوم و العمرة و کطواف الزیارة ان کان آخر السعی و لم یکن لا بسا (در مختار ورد المحتار ج ۲ ص ۲۲۸ – ص ۲۲۹ قبیل مطلب فی طواف القدوم).

په معلم الحجاج کې دي: ځیني کسان د احرام په زمانه کې په لمونځ کې هم اضطباع کوي، په لمونځ کې اضطباع کول مکروه دی، صرف په طواف کې اضطباع مسنون دی هغه هم په هر طواف کې نه بلکې له کوم طواف نه وروسته چې سعی وي، البته له طواف زیارت نه وروسته که سعی کول وي او د احرام لباس یې ویستلی وي نو په دی کې اضطباع نشته. (معلم الحجاج ص ۳۷۳_۳۷۴ احرام کې غلطیان.) فقط والله اعلم بالصواب.

متمتع او مکې دی له کوم ځای نه احرام وتړي؟

(۸۷_ سوال): یو سړی د حج تمتع په ارادی سره روان شو، د عمری احرام یې وتړله او مکې مکرمې ته ورسید، هلته یې عمره وکړه او ځان یې حلال کړ، اوس هلته اوسیږي، نو د حج په ورځو کې دی احرام له کوم ځای نه وتړي؟ که له خپلې کوټې نه احرام وتړي نو څنګه دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب):داسې شخص د حج احرام د حرم په د ننه په هر ځای کې تړلی شي، پخپل کوټه کې هم احرام تړلې شي، البته په مسجد کې د ننه احرام تړل افضل دی.

په لومړی هدایه کې دي:

فاذا کان یوم الترویه احرام بالحج من المسجد و الشرط ان یحرم من الحرام اما المسجد فلیس بلازم (بل هو افضل ۱۲ ف) و هذا لا نه فی معنی المکی و میقات المکی فی الحج الحرم علی ما بینا (هدایه اولین ص ۲٤۱ باب التمتع).

په معلم الحجاج کې دی: متمتع حاجي دی د ذی الحجې په اتم تاریخ احرام وتړي خو لدینه مخکی تړل افضل دی، او په حرم کې د ننه چې له هر ځای نه احرام تړل غواړي تړلی شي لیکن په مسجد حرام او د مسجد حرام په حطیم کې تړل افضل دی.

(معلم الحجاج ص ۲۳۸ مسائل تمتع) فقط والله اعلم بالصواب.

که د احرام په وخت کې ورسره ښځه هم وي نـو لـه هغـې سره صحبت کول او بیا غسل کول سنت دی:

(۸۸_ سوال) : زه پروسږ کال حج ته تللې وم، هغه وخت مولانا صاحب ماتـه وویـل چې د یلملم غره راتلونه وړاندې یوه شپیلی وهل کیږي چې احرام وتړئ، که چیرته په دی وخت له چا سره خپله ښځه هم وی او د ویده کیدو جلا انتظـام موجـود وي نو لومړی د خپلې ښځې سره صحبت وکړی او بیـا غسـل وکـړي، ایـا داسـې کـول صحیح دی؟

(خواب): حامداً و مصلیاً: هو! که د احرام په وخت ښځه ورسـره وي اوځـه عـذر او مانع موجود نه وي نو صحبت کول مسنون و مستحب دی. په فتاوای عالمگیري کـی دي:

و من المستحب عند ارادة الاحرام جماع زوجته او جاريته ان كانت معه ولا مانع عن الجامع فانه من السنة هكذا فی البحر الرائق (ج ۱ ص ۳۲۰ كتاب الحج باب الاحرام تحت قوله و اذا ردت ان تحرم ..... الخ). فقط و الله اعلم بالصواب.

د حج ادا کولو کیفیت

له عرفات نه مزدلفې ته تلل:

(۸۹ سوال): له عرفات نه له لمر پرې وتلونه وړاندې مزدلفې ته په تللو کې څو څه بدې نشته؟

(ځواب): له عرفات نه دې د لمر پرې وتلونه وروسته لاړ شي که لدینه مخکې ووځي نو واپس دې وګرځي او د لمر پرې وتلو نه وروسته دې له عرفات نه روان شي. که داسې ونکړي نو ګنهګاریږي او دم ورباندې لازمیږي.

په فتاوای اسعدیه کې دي:

(**سوال**): فیمن خرج من عرفة قبل غروب الشمس و لم بعد ما ذا یجب علیه افتونا!

(الجـــــواب): یجب علیه دم و الحالة هذه، والله تعالی اعلم. (فتاوای اسعدیه ج ۱ ص ۲۱)

ایا حائضه ښځه دې طواف زیارت وکړي او که نه؟

(۹۰_ سوال): که چیرته حائضه ښځه طواف زیارت له کولو نه بغیر لاړه شي نو د هغه څه حکم دی؟

(ځواب): د طواف زیارت له ادا کولو نه بغیر حج نه ادا کیږي، پخپل ژوند کې د دې طواف کول ضروري دي، کله چې دا طواف وکړي نو حج یې ادا کیږي، ترڅو پورې طواف زیارت یې نه وي کړی حج یې نه ادا کیږي او پر دغې ښځې باندې خاوند حرام دی یعنی صحبت ورسره نشي کولی، تر پاکیدو پورې دې صبر وکړي، له پاکیدو نه وروسته دې طواف وکړي، که چیرته د ناخبرۍ په وجه طواف زیارت وکړي نو حج یې ادا کیږي لیکن توبه او استغفار ورباندې لازم دی، اوښ یا غوا یا غوایی به حلالوي.

په فتاوای اسعدیه کې دي:

(**سوال**) فی المرأة اذا حاضت و هی محرمة ما حکمها افتونا؟

(**خواب**): تعمل جمیع ما یعمل الحاج من الوقوف بعرفة و الغسل و الوقوف بمزدلفـــة ولا رمی والتقصیر غیر انها لا تطوف طواف القدوم ولا طواف الا فاضة حتی تطهر و یسقط عنها طواف الوداع ان لم تطهر قبل ذالك و اما طواف الا فاضه فلم یســـقط

حائض و ان لم تطهر یقال لها تربصی حتی تطهری و تطوفی و علیك بدنه . و الله تعالیٰ علمه (۱ ص ۲۱).

د جمرې ویشتل کله افضل دی؟

(۹۱_ سوال): د جمرو ویشتل کله افضل دی، که چیرته په دولسمه ذی الحجه له منی نه مکې مکرمې ته تلل وي نو د اسانئ په خاطر ښځې له غرمې نه وړاندې رمی کولې شي او که نه؟

(ځواب): د رمی د ویشتلو وخت د لسمی ذی الحجې له صبح صادق نه شروع تر یو لسمې سهار پورې دی.[1]

مګر مسنون وخت د لمر ختلو نه تر زوال پورې دی (ښځو لپاره د جمرو ویشتل د لمر ختلو نه وړاندې کراهت نه بغیر جائز دی) له زوال نه تر لمر پری وتو پورې وخت مباح دی. او که لمر خاته نه تر صبح صادق پورې وخت مکروه دی، په یوه لسمه او دوه لسمه کې د رمی وخت له زوال نه وروسته دی،لهذا له زوال نه مخکې رمی معتبر نه دی، له زوال نه وروسته به بیا له سره رمی کوي یعنی جمرې به ولي، که رمی ونکړي نو دم ورباندې لازمیږي. ښځه دی هم له زوال نه وروسته رمی وکړي، که د ازدهام په حالت کې رمی ونه کړی شي نو له ماښام نه وروسته دی رمی وکړي، د ښځو لپاره د شپې وخت ښه مناسب دی. یوه ورځ دی زیات تیر کړي او د دیارلسم ورځ له زوال نه وروسته د رمی نه له فارغیدو نه وروسته مکې مکرمې ته لاړ نشي.

په دیار لسم سهار هم رمی جائز دی مګر تنزیهی مکروه دی، لنډه یې دا چې یولسمه، دولسمه او دیار لسمه ورځ د رمی وخت له زوال نه وروسته دی،لهذا له زوال نه مخکې رمی جائز نه دی.

---

[1]- فی اوقات الرمی وله اوقات ثلاثه یوم النحر و ثلاثه من ایام التشریق او لها یوم النحرو وقت الرمی فیه ثلاثه نواع مکروه مسنون مباح فما بعد طلوع الفجر الی وقت الطلوع مکروه وما بعد طلوع الشمس الی زوالها وقت مسنون وما بعد زوال الشمس الی غروب الشمس وقت مباح و اللیل وقت مکروه (فتاوی عالمکگیری الباب الخامس فی کیفیه اداء الحج)).

ان وقت الرمی فی هذا الیوم بعد الزوال عرف بفعل رسول الله صلی الله تعالی علیه وآله وسلم ولا یجوز قبله (مبسوط ج ٤ ص ٦٨ باب رمی الجمار زبدة المناسك مع عمدة المناسك ج ۱ ص ۱۹۰).

(سوال): شپږ کسان حج ته لاړل له عمرې نه غارغ شول، د ګرانی په وجه قرباني ونکړی شو. که چیرته دوی خپلو کورونوته خط ولیږي چې زمونږ له طرف نه شپږ حصې او یوه حصه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرف نه قرباني وکړئ ایا داسې کول صحیح دی؟

ایا تول دی جلا جلا قرباني وکړی او که یوه قرباني د تولو لپاره کافی دی او که په مکه کې قرباني ضروري دی؟

(خواب): په هر یو حاجی باندې قربانی واجب نه دی بلکې مستحب دی.
قربانی د حرم په حد کې کیږي له حرم نه د باندې جائز نه دی، له کوم حاجی سره چی د قربانی پیسې نه وي یا ورسره سامان نه وي چې هغه خرڅ کړي او د قربانی مال وربانديې واخلی، داسې غریب سړی دی قران یا تمتع وکړي نو پر هغه د قربانی په عوض کې لس روژی نیول واجب دی، دری روژی دی د حج په میاشتو کې له لومړی شوال نه تر لسم ذی الحجې پورې نیول ضروري دی، بهتر دا دی چې اووم، اتم او نهم تاریخ روژه ونیسی او پاتی نور اوه روژې له ذی الحجې نه وروسته کورته له راتلونه بعد ونیسی.
که د لسم ذی الحجې نه مخکې دری روژې نه نیسی نو بیا وربانديې دم واجب دی، په قارن او متمتع باندې د شکر دم (قربانی) واجب دی، اوښ او د غوا اوومه حصه یا یوه چیلی (وزګري) کافی دی.[1]

د حج اسانه طریقه:

(۹۲ـ سوال): د الله په فضل زه سږ کال حج ته ځم، ماته د حج اسانه طریقه ولیکئ او دواړه دارینو اجر ترلاسه کړئ.

۱-((و ذبح للقرآن وهو دم شکر فیأ کل منه بعد رمی یوم النحر لو جوب الترتیب و ان عجز صام ثلاثه ایام ولو متفرقه اخر ها یوم عرفه ..... و سبعه بعد تمام ایام حجه فرضا او واجبا وهو بمضی ایام التشریق (این شاء در مختار مع الشامی باب القرآن ج ۲ ص ۲٦٤).))

(ځواب) د حج درې طریقې دي: (۱): افراد (۲): تمتع (۳): قران.
افراد حج دا دی چې له میقات نه صرف د حج احرام تړل او ورباندې حج کول.
دویم حج دا دی چې له میقات نه د حج او عمرې احرام یو ځای وتړې او په سفر کې د حج په میاشتو کې عمره ادا کړي او په همدې احرام سره حج هم ادا کړي.
دریم قسم حج دا دی چې له میقات نه د حج په میاشتو کې د عمرې احرام وتړي او یواځې عمره ادا کړي، بیا دی احرام پرانیزي، بیا د حج په ورځو کې د حج احرام وتړي او حج ادا کړي. زیاتره خلک دغه دریم قسم حج کوي او په دی اسانی هم دی، لهذا د دی آسانه طریقه لاندې لیکل کیږي:

تمتع طریقه:

کله چې میقات نږدې شي نو غسل دې وکړي، که د غسل انتظام نه وي نو اودس دې وکړي او د لنګ په وهلو سره دې په سر باندې څادر واچوي، خوشبوئی دې ولګوي مګر په کپړه (رخت) باندې دې داغ جوړ نکړي، دوه رکعته نفل لمونځ دې ولولي له سلام نه وروسته دې څادر لرې کړي او په زړه کې دې د احرام نیت وکړي او په ژبه دې هم (اللهم انی ارید العمرة یسر هالی و تقبلها مني.
ترجمه: ای الله زه د عمرې احرام تړم، ما لپاره یې اسانه کړه او زما له طرف نه یې قبول کړه. بیا دې فوراً په زوره درې کرته تلبیه ولولي.
لبیك اللهم لبیك، لبیك لا شریك لك لبیك ان الحمد والنعمة لك والملك لا شریك لك.
ترجمه: زه حاضریم ای الله! زه حاضریم، زه حاضریم، له تا سره هیڅوک شریک نشته، زه حاضریم، بیله شکه ټول تعریفونه ستا لپاره دي او ټول نعمتونه تا راکړي دي، پاچاهي ستا ده، له تا سره بل هیڅوک شریک نشته.
لدینه وروسته ته محرم شولې له تلبي نه وروسته خصوصاً دا دعا ولوله:
اللهم انی اسئلك رضاك والجنة اعوذبك من غضبك والنار.
لدینه پس دې د طواف تر شروع کولو پورې تلبیه ډیر ډیر وایې، له هر لمونځ نه وروسته، ناستی ولاړی او له چا سره د ملاقات په وخت کې دې تلبیه وایې، که په لوړ ځای باندې خیژي نو تلبیه دې وایې، همدغه راز که ژور ځای ته ښکته کیږي نو بیا دې هم تلبیه وایې. د احرام د ماتوونکو شیانو څخه دې ځان وساتي، ګنډل شوي جامې دې نه اغوندي. سر او مخ دې نه پټوي، داسې بوټان او څپلې دې نه اچوي

چې په هغه کې د کوتو او سینکرو ترسنځ هډوکی پټ شي، خوشبویي دی نه لګوي او نه دی هم خوشبونې راکشوي، د بدن ویښتان او نوکان دی نه اخلي. د سرې او سخې له مصافحې نه دی ځان بچ وساتي.

نوټ

ښځې لپاره د ګنډل شویو جامو اغوستل او د پښو پټول جائز دی، مخ دی نه پټوي، په مخ باندې دی داسې پرده واچوي چې پر مخ یې ونه لګیږي، که د پردې ضرورت وي نو ټکې دی لاس کی ونیسي، کله چې غیر محرم ته مخامخ کیږي نو پکه دی د خپل مخ ته ونیسي.

په مکه معظمه کې داخلیدل:

کله چې د مکې معظمې حد او ابادي ته داخل شي نو دا دعا ولولي:

ای پروردګاره ! زه ستا ګنهګار بنده یم زه ستا د فرض ادائیګی او ستا د رحمت طالب یم، ته پر ما درحم دروازې پرانیزه او زما حج د خپل رضا په مطابق وګرځوه. امین.

کعبه شریف :

کله چې په کعبې شریف باندې سترګی ولګیږي نو دا دعا دی ولولي:

الله اکبر، الله اکبر لا اله الاالله والله اکبر، الله اکبر و لله الحمد.

بیا دی تلبیه ولولي، بیا دی له درود شریف نه وروسته دی دا دعا ولولي:

اللهم زد بیتك هذا تشریفاً و تعظیماً و تکریماً و براً و مهابة اللهم انی اسئلك الجنة بلا حساب.

د سلام له باب نه په حرم شریف کې د داخلی په وخت کې دی دا دعا ولولي:

بسم الله والصلواة والسلام علی رسول الله اغفرلی ذنوبی و افتح لی ابواب رحمتك.

لومړی د نبي پښه بیا دی کڼه پښه دننه کړي، کله چې په کعبه باندې نظر یې ولګیږي نو د زړه او ژبی نه دا دعا ووایی:

اللهم زد بیتك هذا تشریفاً و تعظیماً و تکریماً و براً و مهابة و زد من شرفه و کرمه و ممن حجه و اعتمره تشریفاً و تکریماً و براً اللهم انت السلام و منك السلام وحینا ربنا بالسلام.

که د فرض لمونځ وخت وي او جمع تیاره وي نو لومړی دی لمونځ وکړي او بیا دی طواف وکړي که نه نو سمدلاسه دی د طواف تیاری وکړي. لومړی دی اضطباع وکړي یعنی د اغوستل شوي څادر ښی پلو دی د ښی لاس د تخرګلاندې یوسي او په ګڅ اوږه باندې داسې واچوي چې ښی اوږه خلاص پاتی شي، بیا دی طواف شروع کړي.
د حجر اسود په وړاندې دی داسې ودریږي چې حجر اسود پخپل مخامخ په طرف وي او په زړه کې دی د طواف نیت وکړي او په زړه کې دی هم دغه کلمات ووایی:
اللهم انی ارید طواف بیتک فیسره لی و تقبله منی.
د حجر اسود په وړاندې دی ودریږي او بسم الله والله اکبر و لله الحمد والصلواة والسلام علی رسول الله صلی الله علیه وسلم.
ووایی، بیا دی دواړه لاسونه داسې اوچت کړي لکه چې لمونځ د تکبیر په وخت کې اوچتوي بیا دی لاسونه لاندې کړي د حجر الاسود څنګ ته راشي او هغه په داسې ادب سره ښکل کړي چې له خولې نه آواز ونه اوځي، که چیرته خلک ډیر وي او حجر اسود نشي ښکلولې نو دواړه لاسونه یا یواځې ښی لاس پر هغه ولګوي او بیا دی خپل لاس ښکل کړي، یا دی په لاس سره د هغه په طرف اشاره وکړي او بیا دی ښکل کړي، بیا دې نظر ښکته واچوي خپل ښی طرف ته لاړ شي او اووه چکر دی ولګوي، که کولې شوه نو په هر چکر دی حجر اسودښکل کړي. سړی دی په لومړیو دریو چکرونو کې رمل وکړي یعنی اوږی وخوځوي، په وړو وړو قدمونو سره د سینی په ښکلو سره ژر ژر لاړ شي. بلکل داسې لکه چې یو بهادر مجاهد سپاهي د دشمن مقابلی لپاره اوځي. د طواف په حالت کې که کومه دعایي یاده وي ولولي، که نه نو:
(ربنا اتنا فی الدنیا حسنة و فی الآخره حسنة وقنا عذاب النار.) ووایی.
حجر اسود ته د رسیدو په وخت کې که کولای شوه نو ښکل دی کړي، دا یو چکر شو، همداسې دی نور شپږ چکره پوره کړي، په داسې کولو سره یو طواف یې پوره شو.
بیا دی حجر اسود خواته لاړ شي او هغه ښکل کړي که نه نو د هغه په مخامخ دی ودریږي او په لاس دی ورته اشاره وکړي او بیا دی خپل لاس ښکل کړي. د احرام په څادر سره دی خپل اوږی پټې کړی، بیا د مقام ابراهیم شاته نژدی هر چیرته چې ورته ځای پیدا شي دوه رکعته لمونځ دی ولولي، او که مکروه وخت و نو یواځې په دعا باندې دی اکتفا وکړي، او لمونځ دی د مکروه وخت له ختمیدو نه وروسته ولولي، بیا

دی زمزم ځاه ته لاړ شي په دریو ساګانو سره دی اوبه وڅښي په هر یو ساه کې دی دا دعا ولولي

(اللهم انی اسئلک علماً نافعاً و رزقاً واسعاً و شفاء من کل داءٍ).

بیا دی د حجر اسود او د کعبې د دروازې په منځنۍ حصه کې ملتزم سره ځان ونښلوي، خپله ګیډه، سینه او ښی مخ دی ورسره جوخت کړي او د الله په وړاندې په ژړا ژړا دعا وغواړي، بیا دی د حجر اسود ښکل کړي د باب الصفا له جانب نه ووځي او سعی دی وکړي، د صفا له غره نه شروع کړي او د مروی په طرف لاړ شي، او په منځ کې د منډې وهلو پر ځای کې دی منډې ووهي. خو ښځه دی منډه نه وهي، بیا دې له مروی نه د صفا په طرف لاړ شي او د منډې وهلو په ځای کې دی منډه ووهي، دا دوه چکره شوې. همداسې اووه چکره دی پوره کړي او دعا دی وغواړي، ویښتان دی کټ کړي، خپل احرام دی پرانیزي، د سعی په وخت کې چې په مختلفو ځایونو کې دعاګانی ویل کیږي هغه له کتاب نه یاد کړئ.

د حج کولو طریقه:

څرنګه چې د عمرې لپاره احرام تړلی و همدغسې دی د ذی الحجې په اتم سهار له اشراق نه وروسته د حج احرام وتړي (د عمرې پر ځای دی د حج نیت وکړي) بیا دی منی ته د رسیدو کوشش وکړي، د اتمې ذی الحجې له ماسپښین نه د ذی الحجې نهم سهاره پورې پنځه لمونځونه دی په منی کې ولولي، د لمونځ د وخت نه علاوه دی په ذکر او تلاوت کې مشغول شي، د نهمې ذی الحجې د لمر ختلو نه وروسته عرفات ته لاړ شي او لبیک اللهم لبیک ..... دی جاری وساتي.

عرفات ته له رسیدو نه وروسته که آرام کول غواړي نو لږ غونډې آرام وکړي او له زوال کیدو سره سم دی غسل وکړي، که د غسل وخت نه وي نو اودس هم ورته کافي دی.

بیا په مسجد نمره کې امام پسې ماسپښین او مازیګر دواړه لمونځونه د ماسپښین په وخت کې په یو آذان او دوه اقامتونو سره ادا کړی، لومړی آذان کیږي او بیا ورپسې خطبه لوستل کیږي، بیا اقامت ویل کیږي او بیا ماسپښین لمونځ په جمعی سره ادا کیږي، له سنت او نفل لمونځ له لوستلو نه بغیر په همدغه وخت کې بل اقامت ویل کیږي او د مازیګر لمونځ په جمعی سره ادا کیږي.

خبرداری:

(۱) دا حکم د هغو حاجیانو لپاره دی چې له امام سره ماسپښین او مازیګر دواړه لمونځونه ادا کړي. او چاته چې له امام سره د لمونځ لوستلو موقع پیدا نشي نو یا به خانله ادا کوي او یا په جمع سره، مګر ماسپښین دی پخپل وخت کې ادا کړی او مازیګر دی پخپل وخت کې، یعنی مازدیګر لمونځ دی د ماسپښین له لمونځ سره نه لولي.

(۲) که امام مسافر وي نو هغه به قصر کوی، نو کوم مقتدیان چې مقیم وي هغوی به د امام له سلام نه وروسته نور دوه رکعته لمونځ پوره کړي.

(۳) که امام مسافر نه وي بلکې مقیم وي او لمونځ قصر کړي لکه چې حنبلي امام کوي نو حنفی مسافر وي او که مقیم هغه پسې اقتداء نشي کولې، په دی بانديې د پوهیدو لپاره دی کوم خبردار معلم یا تجربه کار عالِم نه د دی تحقیق وکړی شي، په داسې حالت کې بهتر دا دی چې پخپل ځای کې له ملګرو سره ماسپښین پخپل وخت کې او مازدیګر پخپل وخت کې له جمعې سره ولولي. د لمونځونو د وخت نه علاوه وختونه دی په دعا، استغفار او په ژړا کې تیر کړي، کیدای شوه نو د لبیک په ویلو سره دی جبل رحمت ته نژدی ودریدو لپاره لاړ شي او مخ په قبله دې ودریږي او دعا دی وغواړي، سل کرته دی (لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك و له الحمد و هو على كل شيئ قدير) ووايي. او بیا دی سل کرته (قل هو الله احد.........) سل کرته درود ابراهیم ولولي، لدینه وروسته دی د خپل ځان او خپل مور او پلار، ورونو، خویندو، اولاد او نورو خپلو خپلوانو او دوستانو لپاره دعا وغواړي، همدغه راز د ټولو مسلمانانو لپاره دی هم دعا وغواړي دا ورځ ډیر زیات مبارک او مقدس دی، یوه دقیقه هم باید په فضولو خبرو کې تیر نکړی شي.

د لمر پری وتو نه وروسته دی د ماښام لمونځ له ادا کولو نه بغیر مزدلفې په طرف لاړ شي. که له عرفات نه د لمر پری وتو نه مخکې مخکې لاړ شي نو ګنهګاریږي او دم ورباندې لازمیږي، کله چې مزدلفې ته ورسیږي نو ماښام او ماسختن لمونځونه یو ځای د یو آذان او یو اقامت په ویلو په جمعې سره ادا کوي، کله چې آذان او اقامت وشي نو لومړی به ماښام لمونځ په جمع ادا کوي بیا دی له سنت ادا کولو نه بغیر ماسختن لمونځ ولولي. بیا لدینه وروسته دی د ماښام او ماسختن سنتونه او وتر ادا کړي، دا شپه

د حاجیانو لپاره له شب قدر نه هم زیات افضل دی، د الله په ذکر، تلاوت، درود، دعا او استغفار کې دی مشغول واوسي، که ارام کول غواړي نو له ارام کولو وروسته دی تهجد ولولي او بیا دی دعا، تلاوت او استغفار وکړي. د سهار لمونځ دی په تیاره کې ولولي لدینه وروسته دی جبل قزح یا هغه ته نژدې راشي او وقوف وکړي، تلبیه، تکبیر، تهلیل، دعا او استغفار، تلاوت او نورو ذکر او اذکار کې مصروف شي. که هلته ونه رسید نو پخپل ځای کې دی ولولي. کله چې د لمر ختلو وخت وي نو منی په طرف دی روان شي، د رمی لپاره دی ګټکی له مزدلفې نه له ځان سره واخلي، منی ته چې ورسیږي جمره عقبه دی اووه ګټکی وولي، لومړی ګټکی د ویشتلو په وخت دی تلبیه ووایی، د هر یو ګټکی د ویشتلو په وخت دی:

(بسم الله الله اکبر رغماً للشیطن و رضاً للرحمن اللهم اجعلها حجاً مبروراً و ذنباً مغفوراً و سعیاً مشکوراً.)

په لسمه ذی الحجه د رمی وخت له صبح صادق نه د یو لسمې ذی الحجې تر صبح صادق پورې دی. لیکن مسنون وخت له طلوع نه وروسته تر زوال پورې دی.

(ښځو او بوډی ګانو لپاره له طلوع نه مخکې رمی مکروه نه دی.) له زوال نه تر غروبه پورې مباح او له غروب نه تر صبح صادق پورې مکروه دی، لیکن ښځې او بوډی ګانو لپاره مکروه نه دی. که چیرته د یو لسمې تر سهاره پورې رمی ونکړه، له قضا سره دم هم لازم دی. له رمی نه وروسته دی ذبح وکړي او بیا دی خپل سر ویښتان کل کړي او یا دی قینچې کړي، لدینه پس احرام ختم شو. (مګر له طواف زیارت نه مخکې ورته ښځه حلاله نه ده.) لدینه وروسته دی مکې معظمې ته لاړ شي او طواف زیارت دی وکړي، دا بهتر دی. اګر چې د دې وخت د دولسمې ذی الحجې تر لمر پرې وتلو پورې دی. لدینه پس تحریمی مکروه دی. له طواف نه د فارغیدونه وروسته دی شپه په منی کې تیر کړي، د یولسمې او دولسمې ذی الحجې له زوال نه وروسته د درې واړو جمرو ویشتل واجب دی، لومړی جمره اولی، بیا جمره وسطی او بیا دی جمره عقبه وولي.

خبرتیا:

په لسم او یو لسم د ذی الحجې د رمی وخت له زوال نه شروع کیږي له زوال نه مخکې ناجائز دی که رمی وکړي نو معتبر نه دی، ښځې، بوډاګانو، مریضانو او نورو لپاره له ماښام نه وروستی وخت مکروه نه دی، په دولسمه کې مکې معظمې ته ځي نو له زوال نه وروسته دی له رمی نه ځان فارغ کړي او له لمر پرې وتلو نه مخکې دی منی ته لاړ

شي ښه خبره دا ده چې په دیار لسم د ذی الحجې نه له زوال نه مخکښې لـه رمـی نـه فارغ شي او مکې ته لاړ شي.
په مکه معظمه کې دی له دیارلسم نه وروسته خپل او خپل مور او پـلار او نـورو خپلوانـو لپاره عمره وکړي. د عمرې ډیر لوی ثـواب دی. د روانیـدو پـه وخـت کـې دی طـواف وداع وکړي. د زمزم اوبه دی وڅښي، ملتزم سره دی خپل ځان ونغاړي او له الله نـه پـه عجز او تواضع سره دعا وغواړي، د جدائي غم او افسوس کولـو سـره لـه دی ځـای نـه روان شي دروازی ته رسیدو سره سم دی اخري دعا وکړي او د محمـد صـلی الله علیه وسلم روضی نه روان شي، په صلوة او سلام کې دی خـان مشـغول شـي، الله دی ټولـو مسلمانانو ته همدا سعادت نصیب کړي. آمین یا رب العالمین و صلی الله تعالی علی خیر خلقه و بارک وسلم تسلیماً کثیراً کثیرا.

رمی په ښی لاس باندې کول سنت دی:

(۹۳_ سوال): د یو سړي عادت دا دی چې ټول کارونه په ګڅ لاس کوي پـه ښـی لاس کار نشي کولې، هغه حج ته روان دی، په منی کې د شیطان د ویشتلو په وخـت کـې پـه ګڅ لاس شیطان ویشتلی شي او که نه؟ بینوا توجروا.
(خواب): په ښی لاس سره د ګټکو ویشتل مسنون دی او ثوابورباندې زیـات تـر لاسـه کیږي،لهذا حتی الامکان دی په ښي لاس سره رمی وکړي په مراقی الفلاح کی دي:
(والمسنون الرمی بالید الیمنی و یضع الحصاه علی ظهر ابهامـه و یسـتعین بالمسـبحه ..... الخ.(مراقی الفلاح مع حاشیه طحطاوی ص ۴۲۷ فصل فی کیفیه ترتیب افعال الحج.)
که چیرته په ښی لاس رمی نشي کولې نو په ګڅ لاس سره په رمی کولو کـې څـه حـرج نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

که بیروبار او ازدهام په وجه د ښځې له طـرف نـه بـل شـخص رمی وکړي نو دا څنګه دی؟

(۹۴_ سـوال): له مسنون سلام نه وروسته د حج له واجباتو نه یو واجب په ګټکـو سـره د شیطان ویشتل دی، په دی سلسله کې یوه ضروري پوښتنه کوم هغه دا چې ایا د ازدهـام

په وخت کې د ښځې له طرف نه د هغه خاوند یا بل کوم محرم شیطان په ګټکو سره ویشتلی شي او که نه؟

(خواب) د جمرې ویشتل د ناروغی او کمزوري له کبله چې نشي کولی پخپله رمی وکړي نو بل سړی د هغه پر ځای رمی کولې شي (معلم الحجاج ص ۲۰۱) لیکن د ازدهام په وجه بل سړی رمی نشي کولی پخپله دی رمی وکړي، که ونکړي نو دم ورباندې واجبیږي، د شپې په وخت ازدهام نه وي نو د شپې دی شیطان وولي، خو دا مکروه وخت دی، مګر معذورینو او ښځو لپاره د ازدهام په وجه د شپې په وخت رمی کول له کراهت نه پرته جائز دی.[1] فقط والله اعلم بالصواب. ۲۲ شوال المکرم ۱۴۰۱ه.

که د سر له درې څلورو څایونونه لږ لږ ویښتان کټ کړي نو په دی سره حاجی حلالیږي او که نه؟

(۹۵ـ سوال): یو حاجی له عمرې نه وروسته د خپل سر له مختلفو ځایونونه لږ لږ ویښتان په قینچی کټ کوي او بیرته کور ته راځي، ایا د احنافو په نزد هغه حلال شوی دی او که نه؟ که چیرته کورته له راتلو وروسته د سر ټول ویښتان کل کړي او یا هم قینچی کړي نو د دی څه حکم دی دم ورباندې لازمیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): کله چې د یو سړې په سر باندې ویښتان وي نو له عمرې نه د حلالیدو لپاره د احنافو په نزد کلول یا لنډول ضروري دی، او د دی مقدار لږ تر لږه د سر څلورمه حصه ده، لدېنه د کمو ویښتانو په کلولو یا کمولو سره نه حلالیږي. که چیرته د څلورمی حصی ویښتان کمول وي نو لږ تر لږه د ګوتی د یو بند په برابر کمول واجب دی.

(عمدة الفقه ج ٤ ص ٢٤٨ـ معلم الحجاج ص ١٩٥.)

او که دومره ویښتان ونه لري نو د چاړه یا د هغه قائم مقام مشین ګرځول کافی دی. په مسئوله صورت کې مذکوره شخص د عمرې له احرام نه د حلالیدو لپاره که دریو څلورو ځایونو څخه لږ لږ ویښتان کم کړي دي او هغه د سر څلورمی حصی ته نه رسیږي نو هغه

[1] - ((وقته من الفجر الی الفجر و یسن من طلوع ذکاء لزوالها و یباح لغروبها و یکره للفجر قال الشامیه تحت قوله و یکره للفجر ای من الغروب الی الفجر و کذا یکره قبل طلوع الشمس بحر و هذا عند عدم العــذر فــلا اساءه برمی الضعفه قبل الشمس ولا یرمی الرعاه لیلا کما فی الفتح (در مختار مع الشامی مطلب فی رمی جمــره العقبه ج ۲ ص ۲٤۸))

له حیل احرام نه حلال شوی نه دی، ترڅو پورې چې لږ تر لږه د سر څلورمه حصه یا د ګوتې د یو بند په برابر ویښتان کم نه کړي. او په دی وخت کې چې څومره د احرام ممنوعه کارونو ارتکاب کوي، د هغه په اعتبار دم، صدقه یا جزا وربانديږ لازميږي، د زیات تفصیل لپاره معلم الحجاج د حرم او احرام ممنوعات تر عنوان لاندي وګورئ.
که د عمرې له احرام نه د حلالیدو لپاره د حرم له حدود نه د باندې حلق یا قصر وکړي نو له احرام نه حلاليږي مګر دم وربانديږي لازميږي او هغه دم د حرم په حدود کې ذبح کول ضروري دی. پخپل کور یا وطن کې ذبح کول صحیح نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

که دیو سرې په سر باندې ویښتان نه وي نو هغه څه وکړي؟

(۹٦ـ سوال): یو سړی حج ته لاړ، هغه هلته څو عمرې وکړی ایا له احرام نه د حلالیدو لپاره پر هغه د ویښتانو کلول یا لنډول ضروري دی، څرنګه چې هره ورځ یې عمره کول نو څکه معمولی ویښتان کټ کول، اوس سوال دا دی چې دا لږ غوندې کمول صحیح دی او که نه؟
که صحیح وي نو خیر څه پروا نلري او که صحیح نه وي نو د هغه تلافي څنګه وکړي؟
دا شک راته څکه پیدا شو چې د حج کتاب زبده المناسک کې می ولیدل چې په قصر کې د ګوتی د یو بند نه کم ویښتان کمول جائز نه دی، نو اوس دی څه وکړی شي مهرباني وکړئ ځواب راکړئ؟
(ځواب): په مسئوله صورت کې څرنګه چې له وړاندي نه د سر کلولو له کبله په سر باندې ویښتان نشته نو صرف د چاړه یا د هغه قائم مقام مشین ګرځول کافي دی او دا ګرځول واجب دی. په فتاوای عالمګري کې دي:

(و اذا جاء وقت الحلق و لم یکن علی رائسه شعر بان حلق قبل ذلك او بسبب آخر ذکر فی الاصل انه یجری الموسی علی راسه لانه لو کان علی رأسه شعر کان الما خوذ علیه اجراء الموسی و ازالة الشعر فما عجز عنه سقط و ما لم یعجز عنه یلزمه ثم اختلف المشائخ فی اجراء الموسی انه واجب او مستحب و الاصح انه واجب هکذا فی المحیط.)

یعنی د سر کلولو وخت راغی او د هغه په سر ویښتان نشته ځکه چې لدینه مخکې یې سر کل کړی دی، یا کوم بل سبب په وجه په سر کې ویښتان نشته نو پر هغه ضروری ده چې پخپل سر باندې چاړه وګرځوي، ځکه چې که چیرته د هغه په سر باندې ویښتان واي نو د هغه حکم دا و چې په سر باندې چاړه وګرځوي او ویښتان پاک کړي، په دی وخت چې له کوم څیز نه عاجز دی هغه ساقطیږي (یعنی د ویښتانو زائلول) او له کوم څیز نه عاجز نه دی یعنی د چاړه ګرځول نو هغه ورباندی لازم دی. بیا په دې کې د مشائخو ترمنځ اختلاف دی چې د چاړه ګرځول مستحب دی او که واجب؟ خو صحیح قول دا دی چې واجب دی. هکذا فی المحیط.

فتاوای عالمګیري ج ۱ ص ۱۴۹ (کتاب المناسك الباب الخامس فی کیفیة اداء الحج).

په زبده المناسک کې چې د ګوتی د یو بند هومره لیکل شوي دی دا په هغه صورت کې دی چې په سر باندې ویښتان وي. فقط والله اعلم بالصواب.

که د طواف زیارت په وخت ښځې ته حیض راشي نو هغه څه وکړي؟

(۹۷ـ سوال): نن سبا حج ته تلو راتلو تاریخ له وړاندې نه معلومولې شي، د هغه بدلول مشکل وي او سړی کافی پریشانه وي کله کله دوه دری میاشتی هلته د اوسیدو ضرورت پیدا کیږي، لدینه وروسته په جهاز کې ځای پیدا کیږي په داسې مجبوریت کې ښځه د حیض په حالت کې طواف زیارت کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا

(ځواب): د حیض په حالت کې طواف زیارت کول لویه ګناه ده، ځکه چې د طواف لپاره په مسجد حرام کې داخلیدل ضروري دی او د حیض په حالت کې مسجد حرام ته ننوتل او طواف زیارت کول د زغملو کار نه دی،لهذا له پاکیدو نه وروسته دی طواف زیارت وکړي. نن سبا جهازونه ډیر دي، د کوشش په صورت کې کامیابي ممکن دی، له معلم او نورو ذمه وارو خلکو سره د ملاقات او خبرو اترو په صورت کې هم د دی حل ویستل کیدلی شي، ناممکن نه دی. د کوشش په صورت کې الله تعالی یو نه یو حل لاره وباسي د همت ضرورت دی، که هلته د اوسیدو او پاتی کیدو په صورت کې په مصارفو کې د کمی ویره وي نو له چانه دی قرض واخلي، یا دی چنده وکړي، آن چې د پیسو د ختمیدو په صورت کې د زکات پیسې هم لګولې شي. دا ټول کارونه لدینه اهون دي

چې د حیض په حالت کې طواف زیارت وکړي د سهولت پسندي او سستی نه دی هرګز کار وانخستل شي

که چیرته ښځې لپاره د حیض بندوونکی دوا هم نقصاني نه وي او ښځه هغه زغملی شي او د هغې تجربه هم لري نو بیا د حیض بندونکی دوا هم خوړلې شي. په زبده المناسک کې دي: چې که چیرته کومی ښځې ته له طواف زیارت نه مخکې حیض راشي او د هغه ملګرو وطن ته د واپس کیدو فیصله کړی وي او ښځه لا نه وي پاکه شوي نو ایا هغه د بیت الله طواف کولې شي او که نه؟ او که چیرته د حیض په حالت کې یې طواف وکړ نو د هغه حج پوره کیږي او که نه ؟ همدغه راز له احرام نه د صحبت لپاره هم حلالیږي او که نه؟

لومړی په دی خبره پوهیدل پکار دي چې په داسې ناپاک حالت کې یو خو مسجد ته تلل سخت منع دی، بل دا چې د حج لوی رکن طواف زیارت د حیض په حالت کې کول ډیر لوی جرم دی چې د اوښ یا غوایی حلالول وربانديې لازمیږي او دا ډیر حماقت دی چې د خپل ځان نه د فرض د ساقطولو او له احرام نه د حلالیدلو لپاره قصداً داسي ناپاک او ناجائز کار وکړی شي. پکار دا دی چې له حیض نه تر پاکیدو او د طواف زیارت ادا کولو پورې هلته پاتی شي.

خبرتیا :

نن سبا خو د جهازونو او نورو څیزونو ښه ډیر سهولت موجود دی، په یو هفته کې د ننه دی حج پوره کړی شي، په دی کار کې سستی ونکړی شي. که چیرته کومې ښځې د ناپوهي له کبله د حیض په حالت کې طواف زیارت وکړ نو حکماً حج یې پوره کیږي او له احرام نه هم حلالیږي خو وربانديې د اوښ یا غوایی حلالول لازمیږي خو قصداً د داسې کولو اجازه باید ورنکړی شي. ځکه چې دا داسې ګناه ده چې په فدیه ورکولو هم نه بخښل کیږي. لکه چې ګنګوهی رحمه الله علیه د جنایاتو په باب کې لیکلی دي.

(والله اعلم) (زبده المناسک ص ١٨٥_١٨٦ جلد اول) فقط والله اعلم بالصواب.

د طواف په وخت کې د قرآن کریم تلاوت کول:

(۹۸ سوال): د طواف په حالت کې د قرآن کریم تلاوت کول څنګه دی؟

(جواب): د طواف په حالت کې د قرآن کریم تلاوت کولې شي مګر ذکر افضل دی که تلاوت کول غواړي نو په اوچت اواز سره دې نه کوي. په غنیة الناسک کې دي

الذکر افضل من القراءة فی الطواف کذا فی التجنیس وغیره وهو باطلاقه شامل لما ثور وغیره فظهر . ان القراءة فیه خلاف الاولی و ان الذکر افضل منها ما ثوراً او لا الا اذا اقرأ ما فیه ذکر علی قصد الذکر لما صح عنه صلی الله تعالی علیه وآله وسلم انه قال بین الرکنین ربنا آتنا فی الدنیا الآیه و کان ذلک اکثر دعائه صلی الله تعالی علیه وآله وسلم . الی قوله . قلنا هدی النبی صلی الله علیه وآله وسلم هو الافضل و لم یثبت عنه فی الطواف قرأة بل الذکر وهو المتوارث عن السلف والمجمع علیه فکان اولی فتح (قسیه) وفی لکا فی المحاکم یکره ان یرفع صوته بالقراءة فیه ولا باس بقراءته فی نفسه ..... الخ (غنیه الناسک ص ٦٥).

په عمده الفقه کې د مباحات طواف تر عنوان لاندې لیکلي دي:

د طواف په حالت کې د قرآن کریم په زړه کې لوستل څه باک نه لري، همدغه صحیح دی، لیکن د الله ذکر کول له تلاوت نه بهتر دی. (شرح اللباب بتصرف) په عمده الفقه (ج ۴ ص ۸۷) د طواف په مکروهاتو کې لیکلي دي: داسې ذکر، دعا یا د قرآن کریم په اوچت اواز سره لوستل چې طواف کوونکو او لمونځ ګذارانو لپاره خلل پیدا کیږي نه دی پکار.

(۱): معذور شخص دی څنګه طواف وکړي. (۲): په مسجد نمره امام پسې د احنافو ماسپښین لمونځ ادا کول.

(۹۹ سوال): د شریعت مفتیان د لاندنیو مسئلو په باره کې څه فرمایي؟

(۱) دیو سړی له خولې نه هر وخت وینه روانه وي چې د هغې په وجه اودس یې نه پاتې کیږي او دا حالت مسلسل روان دی، د علاج باوجود نه بنه کیږي، همدغه راز هغه په ګیډه کې باد لري. په ګیډه کې هر وخت هوا جمع وي، دا مرض هم هر وخت وي.

اوس پوښتنه دا ده چې که چیرته د طواف په وخت کې دا حالت وي نو په داسي حالت کې زما لپاره طواف کول څنګه دی؟ که طواف وکړم نو ګنهګاریږمه او که نه؟

(۲) که چیرته د عرفات په میدان کې د ماسپښین په وخت کې په مسجد نمره کې د ماسپښین او مازدیګر ترمنځ د جمع بین الصلواتین وخت راورسیږي نو په یو اودس سره د دواړو لمونځونو لوستل څنګه دی؟ ما اوریدلي دی چې په مسجد نمره کې امام د اقامت په حالت کې هم قصر لمونځ کوي نو په دی صورت کې مونږ حنفیانو لپاره هغه پسې اقتدا صحیح دی او که نه؟ مهرباني وکړئ د پورتنیو سوالونو ځوابونه راکړئ، جزاک الله خیر.

(ځواب): که چیرته د معذوروالی ټول شرائط موجود وي خو د کوم عذر په وجه چې هغه معذور وي د دغه عزر د پیښیدو له کبله اودس نه ماتیږي، د دغه عذر په وجه هغه لمونځ کولې شي لهذا څه رنګه چې هغه لمونځ کولې شي همدغسي طواف هم کولې شي، څرنګه چې په عین لمونځ کې د دغه عذر د پیښیدو له کبله نه ګنهګاریږي، همدغسي د طواف په حالت کې هم د دغه عذر د راپیښیدو له کبله نه ګنهګاریږي، البته د معذور شخص اودس د وخت له ختمیدو نه وروسته ماتیږي، که چیرته د طواف په وخت کې د کوم لمونځ وخت ووځی بیا څه وکړي؟ په دی باره کې په معلم الحجاج کې دي:

د کوم سړی چې اودس نه پاتی کیږي او وینه ترینه اوځي، هغه لمونځ تر وخته پورې پاتی کیږي، د لمونځ وخت له ختمیدو نه وروسته پر هغه بل اودس کول پکار دی، همدغه راز که چیرته له څلورو چکرونونه وروسته وخت خلاص شي نو بل اودس دی وکړی او خپل طواف دی پوره کړي، او که له څلور چکرونونه کم لګولې وي نو بیا هم په بل اودس سره پوره کولی شي، لیکن افضل دا دی چې له څلورو چکرونه مخکې اودس وکړي.

(معلم الحجاج ص ۱۵۱ـ ۱۵۲، طواف کې مسائل متفرقه). (عمده الفقه ۱۹۳/۴)

په غنیه المناسک کې دي:

و صاحب العذر الدائم اذا طاف اربعة اشواط ثم خرج الوقت توضأ و بنى ولا شیئى عنیه و کذا اذا طاف اقل منها الا ان الا عادة حینئذ افضل کما قدمنا و الله سبحانه و تعالى اعلم (غنیة المناسك).

(۲) كه چيرته د جمع تقديم شرائط موجود وي نو شرعي معذور د عرفات په ميدان كې له ماسپښين لمونځ سره، مازديګر لمونځ لوستلى شي ځكه چې د شرعي معذور اودس د لمونځ د وخت له ختميدو سره ماتيږي، او په جمع تقديم كې د مازديګر لمونځ د ماسپښين په وخت كې لوستل كيږي، د ماسپښين لمونځ وخت خارج نه دى.لهذا د شرعي معذور اودس نه ماتيږي.

(والمستحاضة و من به سلاسل البول والرعاف الدائم .... يتوضؤن لوقت كل صلوة فيصلون بذلك الوضوء فى الوقت ماشاء و من الفرائض والنوافل...... و اذا خرج الوقت بطل وضوء هم و استانفوا الوضو لصلوة اخرى (هداية اولين ص ٥١ – ٥٢ فصل فى المستحاضة).

كه چيرته له تحقيق نه وروسته معلوم شي چې په مسجد نمره كې امام د دى باوجود چې مقيم دى بياهم قصر لمونځ كوي نو هغه پسې د حنفي مقتديانو لمونځ نه صحيح كيږي. په شامي كې دي:

قوله الامام الاعظم ..... و اطلق الامام تشمل المقيم والمسافر لكان لو كان مقيماً كامام مكه صلى بهم صلوة المقيمين ولا يجوز له القصرولا للحجاج الاقتداء به قال الامام الحلوانى كان الامام النسفي يقول العجب من اهل الموقف يتابعون امام مكة فى القصر فانى يستجاب لهم او يرجى لهم الخيرو صلوتهم غير جائزة قال شمس الا ئمه كنت مع اهل الموقف فاعتزلت وصليت كل صلوة فى وقتها و اوصيت بذلك اصحابى و قد سمعنا انه يتكلف و يخرج مسيره سفر ثم ياتى عرفات فاوا كان هكذا فالقصر جائز والا لا فيجب الاحتياط اه (شامى ج ۲ ص ۲۳۸ مطلب فى شروط الجمع بين الصلوتين بعرفه) فقط والله اعلم.

كه د جمرې د ويشتلو په وخت پاكټ وغورځيږي نو ايا هغه اوچتولى شوو؟

(۱۰۰ـ سوال) د جمرات د ويشتلو په وخت كې زما له غاړى نه هغه پاكټ وغورځيد چې ما هلته روړند كړى و. ما هغه اوچت كړ، ما مخكې دا اوريدلي وو چې كه كټكې وغورځيږي نو هغه ـ اوچتوى ځكه چې هغه مردود وي، ليكن يوه ښځه ماته وايي چې

هر نو خبر هلته وغورځېدې هغه مردود کېږي. ایا د هغې دا خبره درست ده؟ بیښوا بوحروا

(جواب) کومه کنکۍ سره چې رمی شوي وي او هغه جمرې ته نږدې غورځېدلې وي د هغې اوچتول او بیا وربانديې رمی کول مکروه دی ځکه چې هغه مردود دی
په معلم الحجاج کې دي
له مزدلفې نه اووه ګټکۍ چې د خرما یا د لوبیا د دانې هومره وي اوچتول او په هغه کې رمی کول مستحب دي. همدغه راز له هر خای و لارې نه اوچتول هم جائز دي، مګر د جمرې له څنګ نه باید اوچت نکړي.
په حدیث شریف کې دي چې : (د چا حج قبول شي د هغه ګټکۍ اوچتولی شي او د چا چې حج قبول شوی نه وي د هغه ګټکۍ هلته پاتې کیږي لهذا کوم ګټکۍ چې هلته پاتې وي هغه مردود دي هغه مه اوچتوئ، خو که څوک هغه اوچت کړي او وربانديې رمی وکړي نو ورته جائز دی لیکن تنزیهي مکروه دي. (معلم الحجاج ص ۱۸۴).
هر غورځیدلی خیز ته مردود ویل صحیح نه دی، لهذا په مسئوله صورت کې چې تا خپل غورځیدلې پاکې اوچت کړی دی، هغه کې هیڅ قسم کراهت نشته.

په میدان عرفات کې د حائضه ښځې د قرآن کریم د کوم آیت تلاوت، یا سوره اخلاص یا هم د قرآني دعا ګانو د دعا په توګه لوستل :

(۱۰۱ ـ سوال) یوه ښځه وایي چې په عرفات کې د حیض په حالت کې (لا اله الا انت سبحانک انی کنت من الظالمین) آیت شریف نشي لوستلی، ایا په قرآن کریم کې له کتلو نه علاوه په ژبې سره آیت شریف، سوره اخلاص او داسې نور قرآني دعا ګانې نشو لوستلی؟
(جواب) ښځه د حیض او نفاس په حالت کې د قرآن کریم هیڅ یو آیت د تلاوت په نیت نشي لوستلی. البته د قرآن کریم هغه آیتونه او سورت چې په هغه کې دعا یا د الله حمد او ثنا وي، د دعا او ذکر په نیت سره لوستل غواړي نو لوستلی شي. په مراقی الفلاح کې دي

(و يحرم قراءة ... من القرآن الا بقصد الذكر اذا اشتملت عليه لا على ... اه ... الخ .....)

په طحطاوي کې دي

(قوله لا بقصد الذكر) اى او الثناء او الدعاء ان اشتملت عليه فلا بأس به في صلاح الروايات قال في العيون ولو انه قرا الفاتحه على سبيل الدعاء او شيئا من الآيات التي فيها معنى الدعاء و لم يرد به القرآن فلا بأس به اه و اختاره الحلواني و ذكر في غاية البيان انه المختار كما في البحر و النهر ..... الخ (مراقى الفلاح و طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۷۷ باب الحيض و النفاس و الاستحاضه).

په بهشتی زیور کې دي چې: کومه ښځه حائضه یا نفاسه وي او پر هرچا چې لمبل واجب شوی وي هغه لپاره مسجد ته تلل د کعبې شریفې طواف کول او د قرآن کریم تلاوت کول او وربانديې لاس لګول جائز نه دی ..... الخ).

همدغه راز په بهشتی زیور کې دا هم دي: که چیرته الحمد پوره سورت د دعا په نیت ولولي یا نورې دعاګانې چې په قرآن کریم کې راغلی دي، هغه د دعا په نیت ولولي نه د تلاوت په نیت نو صحیح دی هیڅ ګناه پکې نشته. لکه ذا دعا:

(ربنا اتنا فى الدنيا حسنة وفى الاخره حسنة وقنا عذاب النار) **بله دا دعا** : (ربنا لا تو اخذنا ان نسينا او اخطانا الخ ..)

یا لدینه علاوه نورې دعاګانې چې په قرآن کریم کې راغلی دي د دعا په نیت د تولو لوستل جائز دی (بهشتی زیور ص ۷۷_۷۸ حصه دویم نفاس، او حیض او د نورو احکامو بیان)

لهذا په مذکوره صورت کې ښځه د حیض په حالت کې د عرفات په میدان کې د ذکر او دعا په نیت سره. سوره اخلاص(قل هوالله احد ...) لوستلی شي، د تلاوت په نیت دی نه لولي. په عرفات کې د دغې وظیفې زیات فضیلت راغلی دی.

په یو روایت کې دي: کوم مسلمان چې د عرفې د ورځې له زوال نه وروسته په موقف کې ودریږي او د قبلې په طرف مخ اړولو سره سل کرته:

لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك و له الحمد

بیا وروسې سل کرته (قل هوالله احد ....) بیا سل کرته د لمونځ درود ولوست نو الله تعالی فرمایی چې ای زما پرښتو! زما د دغه بنده څه اجر دی چې زما تسبیح او تهلیل وکړ، زما لوئي او عظمت يې بيان کړ او زما ثنايي وويل، زما پر نبی يې درود وليږل، ما هغه معاف کړ او د هغه د نفس په باره کې د هغه شفاعت قبول کړ. که زما بنده په موقف کې ولاړو ټولو سفارښت وکړي نو زه هغه هم قبلوم، هغه چې هره دعا غواړي ودی کړي. (معلم الحجاج ص ۱۷۵_۱۷٦ کيفيت وقوف عرفه.)

البته د حيض په حالت کې دی قرآنی دعاګانی په لاس سره لمس نه کړی، بلکې صرف په ژبه دی په ياده ووايی، يا يې داسې ولولي چې په دغو دعاګانو باندې لاسونه يې ونه لګيږي.

په مراقی الفلاح کې دي:

و يحرم (منها) ای الآية لقوله تعالى لا يمسه الا المطهرون سواء كتب على قرطاس او درهم او حائط (الا بغلاف) متجاف عن القرآن و الحائل كالخريطه فى الصحيح.

په طحطاوی کې دي:

و فيما عدا المصحف انما يحرم مس الكتابة لا الحواشى و يحرم الكل فى المصحف لان الكل تبع له كما فى الحدادى وغيره ..... الخ. (طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۷۷ باب الحيض والنفاس و الاستحاضة) فقط والله اعلم.

حج قران او تمتع

که له حاجی سره د قران او تمتع د دم پیسې نه وي نو هغه دی څه وکړي؟

(۱۰۲ سوال): زمونږ پلار حج ته تللی دی له هغه سره د کلی پنځه تنه نور حاجیان هم شته هغوی ټول عمره کړی او حلال شوي دي، هغوي مونږ ته خط لیږلی دی چې په مونږ ټولو باندې قرباني واجب دی، لیکن د پیسو نشتوالې او شدید ګرانی په وجه مونږ دلته قربانی نشو کولې،لهذا زمونږ د ټولو له طرف نه یو لوی څاروی ذبح کړئ، په دی کې زمونږ د شپږو واړو حصه هم وي او یوه حصه به د محمد صلی الله علیه وسلم له طرف نه وي. پوښتنه دا ده چې ایا مونږ هغوی لپاره دلته قرباني کولی شو او که نه؟ ایا هغوی لپاره یو لوی څاروی کافی دی او که هر یو لپاره به ځانله د وزګړی قربانی ضروري دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په هر حاجی باندې قرباني واجب نه دی، په قارن او متمتع باندې د شکر دم (قرباني) واجب دی، په مفرد باندې واجب نه دی صرف مستحب دی. او دا قرباني همغلته په حرم کې کیږي، د حرم له حدود نه د باندې جائز نه دی.

له کوم حاجی سره چې دومره پیسې نه وي چې د قرباني څاروي واخلي او پاتی پیسو باندې خپل کورته ځان ورسوي، که داسې حاجی حج قران یا حج تمتع وکړي نو د قرباني په عوض کې لس روژی نیول واجب دی. دری روژې د حج په میاشتو کې یعنی له لومړی شوال نه د ذی الحجې تر نهم ورځ پورې نیول ضروري دي.

یو ځای نیول یې هم جائز دی او متفرق هم، خو یو ځای نیول افضل دی.

که چیرته د ضعف او نقاهت ویره نه وي نو بهتر دا دی چې په ۷_۸_۹ ذی الحجه که ونیسي او پاتی نورې اووه روژې دی د ایام تشریق له تیریدو نه ورروسته یعنی د دیارلسمی ذی الحجې نه بعد هر چیرته غواړي ونیسي، برابره خبره ده چې په مکه کې نیسي او یا په بل ځای کې. لیکن په کور کې نیول ورته افضل دي.دا روژې هم متفرق نیولې شي خو مسلسل نیول یې افضل دی.

لیکن په ایام تشریق کې یې ساتل جائز نه دی، که چیرت له حج نه مخکې د حج په میاشتو کې دری روژې ونه نیولې نو بیا په قرباني کوي، روژی ورته کفایت نه کوي. او

که چیرته د قربانۍ کولو په وخت بالکل قدرت نلري نو په حجامت کولو سره دی خار حلال کړي او پر هغه دوه دم واجب دي يو د قران يا د تمتع او بل له ذبح نه مخکې ر حلال کیدو...... په قارن او تمتع باندې د شکر دم واجب دی په دی کې د اوښ يا غوايي اوومه حصه يا يو وزګړی کافی دی، پوره لوی ځاروی وربانديې واجب نه دی.

په درمختار کې دي: (و ذبح للقران) وهو دم شكر فياكل منه (بعد رمى يوم النحر) لو جوب الترتيب (و ان عجز صام ثلاثه ايام) ولو متفرقةً (آخرها يوم عرفه) نـدباً (و سبعه بعد) تمام ايام (حجه اين شاء) فان فاتت الثلاثه تعين الدم ..... الخ (در مختار) و فی الشامی (قوله و ان عجز) ای بان لم يكن فی ملكه فضل عن كفاف قدر ما يشترى الدم الخ (قوله لو جوب الترتيب) ای ترتيب الثلاثه الرمی ثم الذبح ثم الحلق .... والمفرد لادم عليه فيجب عليه الترتيب بين الرمی والحلق (قوله آخرها يوم عرفه) ان يصوم السابع والثامن والتاسع قال فی شرح اللباب لكن ان كان يضعفه ذلک عن الخروج الی عرفات والوقوف والدعوات فالمستحب تقديمه علی هذه الايام ..... الخ)

(در مختار و الشامی ج ۲ ص ۲٦۴ – ۲٦۵) (در مختار ج ۲ ص ۲٦۹ باب القرآن).

په هدایه اولین کې دي:

و اذا رمى الجمرة يوم النحر ذبح شاةً او بقرةً او سبع بدنة فاذا لم يكن له ما يذبح صام ثلثه ايام فی الحج آخر ها يوم عرفة و سبعة ايام اذا رجع الی اهله و ان صامها بمكه بعد فراغه من الحج جاز و ان فاته الصوم حتی اتی يوم النحر لم يجزه الا الدم (هدايه اولين ص ۲۳۹ باب القرآن طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ٤۲۸) فقط والله اعلم بالصواب.

په میقات کې د ننه اوسیدونکو لپاره د تمتع حکم څه دي؟ دویم ځاروی دی چیرته حلال کړی شي؟ که په مسجد نبوي کې ځلوینښت لمونځونه ونه کړل نو؟

(۱۰۳ـ سوال): د څو سوالونو ځوابونه درنه غواړم، مونږ څو کسان د ملازمت په خاطر په جده کې اوسیږو، الله تعالی مونږ ته د حج کولو موقع راکړی دی، مونږ د حج له مسائلو نه ناخبره وو چه څه قسم حج وکړو، اتفاقاً ستاسی فتوه له مونږ سره وو، په هغه کې مونږ وکتل چې تمتع حج بهتر دی نو ځکه مونږ حج تمتع وکړه، سږ کال مونږ ته

معلوم شو چې، مونږ حلي یو له دی کبله تمتع نشو کولی. مونږ ته حج افراد کول پکار دی. دا چې مونږ ته معلوم شو نو زیات افسوس کوو او دا فکر کوو چې زمونږ نیز حج قبول شوی دی او که نه، تاسی مهرباني وکړئ زمونږ دا پریشانی ختم کړی
(۲) مونږ سږ کال هم د حج کولو اراده لرو چې خپل پلار ته ثواب یې وبخښو نو د کوم حج نیت وکړو؟
(۳) زمونږ دا اراده هم ده چې قرباني پخپل وطن کې وکړو، ایا په وطن کې قرباني کولی شوو او که همدلته ضروري دی؟
(۴) یوه خبره دا هم ده چې مونږ دلته د ملازمت له کبله په مسجد نبوي کې د څلویښتو لمونځونو د ادا کولو وخت نلرو نو په حج کې څه فرق خو نه راځي؟ فقط والسلام بینوا توجروا.
(ځواب):
(۱): زمونږ ملک هندوستان د میقات له حد نه خارج دی او مونږ ته افاقي ویلی شي لهذا مونږ لپاره تمتع او قران بهتر دی، په همدې اعتبار سږ په فتاوی رحیمیه کې مو همدا لیکلی دي. خو کوم خلک چې په میقات کې دننه یا عین میقات کې اوسیږي هغوی لپاره دا حکم نه دی، هغوی لپاره صرف د افراد حج دی، تمتع او قران حج ورته ممنوع دی.
په هدایه کې دي:
و لیس لاهل مکه تمتع ولا قرآن و انما لهم الا فراد خاصةً و من کان داخل المواقیت فهو بمنزلة المکی حتی لا یکون له متعة ولا قرآن (هدایه اولین ص ۲٤۳ باب التمتع).
که تاسي تمتع حج کړی دی نو په حج کې څه فرق او خرابي نه دی راغلي، البته دم درباندې لازم دی، لهذا که تاسې د میقات په حد کې اوسیږئ نو یوه وزګړې په حرم کې ذبح کړئ، له حرم نه د باندې صحیح نه دی.
په درمختار کې دي:
والمکی و من فی حکمه یفرد فقط، ولو قرن او تمتع جاز و اساء و علیه دم جبر. (درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۲۷۰ باب التمتع.) والله اعلم بالصواب.
(۳): که چیرته د صاحب نصاب کیدو په وجه قرباني کول غواړئ نو په وطن کې قرباني کول جائز دی. البته د حج په سلسله کې قرباني باید په حرم کې وکړی شي

ولهدی لا یذبح الا بمکه (هدایه ص ۲٦۰ باب الهدی.)

(۳) مسجد نبوي (علی صاحبها الف الف تحیه وسلام.) کې څلویښت لمونځـو پـه جمع سره ادا کول افضل دی، که چیرته د ملازمت او نوکری په وجه په جمع سره ادا نکړی شي نو هیڅ قباحت پکې نشته، پـه حـج کـې هـیڅ خلـل نـه راځـي. فقـط والله اعلم بالصواب. ۳۰ شوال المکرم.

متمتع له حج نه وړاندی مدینې منورې ته تللی شي او که نه؟

(۱۰۴ـ سوال): یو سړي د تمتع حج احرام وتړلو او مکې معظمې ته ورسـید، هلتـه یې عمره وکړه او ځان یې له احرام نه حلال کړ، که لدینه وروسته هغه مدینې منورې تـه لاړ شي نو په شر ي اعتبار سره ورته د تللو اجازه شته او کـه نـه؟ او کـه مـدینې منـورې تـه تشریف یوور ې له هغه ځای نه د واپس کیدو په وخـت څـه قسـم احـرام وتـړي؟ داسې متمتع لپاره لومړی مکې معظمې ته تلل افضل دی او که مدینې منورې ته؟ پـه دی بـاره کې تفصیلی ځواب راکړئ.

(ځواب): که چیرته فرض حج ادا کوي نو هغـه لپـاره بهتـر دا دی چـې لومـړی مکـې معظمې ته لاړ شي، بیا له حج نه وروسته زیارت لپاره مـدینې تـه لاړ شـي. او کـه لومـړی مکه معظمې ته لاړ او د عمرې له احرام نه فارغ شو نو هغه لپاره بهتر دا دی چې په مکـه مکرمه کې واوسي ترڅو تمتع بالاتفاق صحیح شي، او که مدینې منورې ته لاړ نو بیا هـم د دغه سفر په وجه د امام ابو حنیفه په نزد د هغه تمتع باطل نه دی، کله چې له مـدینې منورې نه واپس وګرځي نو هغه لپاره بهتر دا دی چې د افراد حج احرام وتـړی او حـج وکړي. نو په دی صورت کې هم د امام ابو حنیفه په نزد د هغه تمتـع صـحیح دی، او د تمتع انعقاد له لومړی عمرې نه کیږی، او د صاحبینو په نزد لومړی عمره مفـرد شـو او لـه دویمی عمرې نه تمتع منعقد کیږي البته د قران احرام په تړلو سـره راتلـل ممنـوع دی. خکه چې دا حکماً مکـې دی. کـه چیرتـه د قـران احـرام پـه تړلـو سـره راځـي نـو دم ورباندې لازمیږي.

په معلم الحجاج کې دي: مسئله: پر چاچې حج فرض وي هغه له پاره د حج نـه مخکـې زیارت کول جائز دی، په دی شرط چې د حج د فوت کیدو ویـره نـه وي، مګـر بهتـر دا دی چې حج مخکې ادا کړي او بیا زیارت ته لاړ شـي. مګـر نفلـی حـج کوونکـو لپـاره اختیار دی چې لومړی حج کوي او که دمدینې منورې زیارت ته ځي، او د کـوم سـړي په لاره کې چې لومړی مدینه راځي لکه شام نه راتلونکو خلکو په وړاندې نو هغـوی تـه

پکار دي چې لومړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روضې زیارت وکړي (معلم الحجاج ص ۳۴۲).
البته هغه متمتع چې د عمرې له احرام نه فارغ شوې وي هغه لپاره دا بهتر دی چې د حج له ادا کولونه مخکې له آفاق نه باهر لاړ نشي، ترڅو د هغه تمتع بالاتفاق صحیح شي. (لا يخرج المتمتع) اى الفارغ من احرام العمرة كما يفهم من سوق كلام ف الكبير (الى الافاق) لئلا يبطل تمتعه على قول بعض. (معلم الحجاج ص ۳٤۲ حاشيه.)
په زبده المناسک کې دي: ډیر پیښیدونکی ضروري مسئله:
زیاتره حاجیان د حج په میاشتو کې راځي او عمره کوي، بیا د حج په میاشتو کې له حج کولو نه مخکې، مدینه طیبه، روضه مقدسه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم معطرې حجرې د زیارت لپاره ورځي، پس هغوی ته پکار دي چې کله له هغه ځای نه واپس شي نو یواځې د مفرد حج احرام وتړي او راشي نو د امام صاحب په نزد د هغوی تمتع صحیح دی، په دی سفر سره تمتع نه حاصلیږي. ځکه چې هغه د حج په میاشتو کې عمره کړی دی، او له عمرې کولو نه وروسته هغه حکماً د مکیانو په حکم کې داخل دی، اګر چې د حج په میاشتو کې له میقات نه باهر وتلی وي ځکه چې هغه اصلي وطن نه نه دی تللې نو د هغه سفر د حکم په اعتبار سره یو دی، دیته الامام فاسد ویلی شي چې د تمتع باطلونکی نه دی. اوس هغه لپاره له مدینې طیبې نه د قران احرام تړل ممنوع دی ځکه چې هغه د مکیانو په حکم کې دی. که چیرته د قران احرام ونه تړي نو د جنایت دم ورباندې لازمیږي. (شرح اللباب و غنیه ، زبده المناسک ج ۲ ص ۱۴). فقط والله اعلم بالصواب.

متمتع له عمرې نه وروسته مدینې منورې ته لاړ، د واپس کیدو په وخت کې یې د حج یا عمرې احرام وتړله نو د هغه څه حکم دی؟

(۱۰۵ـ سوال): د دین علماء په دی مسئله کې څه وایی چې یو آفاقي شخص د حج په میاشتو کې مکې مکرمې ته لاړ او عمره یې ادا کړه، له عمرې ادا کولونه وروسته مدینې منورې ته لاړ، د مدینې منورې نه د واپس کیدو په وخت یې بل عمره یې هم ادا کړه، بیایې د حج احرام له مکې مکرمې نه وتړله نو:
(۱): ایا د هغه تمتع صحیح ده او که نه؟

(۲): ایا پر هغه د تمتع دم شته او که نه؟
(۳): ایا پر هغه د جبر دم شته او که نه؟
(۴): تمتع له لومړی عمرې نه منعقد شوی او که له دویمی عمرې نه؟
(۵): آفاقی لپاره له یوی عمرې نه زیات کول د حج په میاشتو کې جائز دی او که نه؟
(۶) که له مدینې منورې نه د واپس کیدو په وخت صرف د حج احرام وتړله نو ایا د هغه تمتع ادا کیږي او که نه؟
(۷): ایا پر هغه د جبر دم شته او که نه؟
(۸): د حج په میاشت کې د آفاقي حاجی له میقات نه د باندې وتل څنګه دی؟
له دغو دواړو صورتونو څخه کوم یو صورت بهتر دی؟
مهرباني وکړئ خواب راکړئ ـ مفتی به اقوال بیان کړئ. بینوا توجروا.

(خواب): د امام ابو حنیفه په نزد که چیرته آفاقي د حج په میاشتو کې عمره وکړه او مدینې منورې ته لاړ. بیا له هغه ځای نه د واپسي په وخت د عمرې احرام وتړله او راغی. عمره یې ادا کړه، او د حج په ورځو کې یې احرام وتاړه نو د هغه تمتع صحیح دی او د تمتع انعقاد له لومړی عمرې نه کیږي. خو د صاحبینو په نزد لومړنی عمره مفرد شوه او له دویمی عمرې نه تمتع منعقد کیږي.
په هر حال په مسئوله صورت کې د امام صاحب په نزد هم د هغه تمتع صحیح دی او د صاحبینو په نزد هم.(زبده المناسک ج ۲ ص ۱۴_۱۵)
(۲): کله چې تمتع یې صحیح دی نو د شکر دم هم وربانديې لازم دی.
(۳): د جبر دم وربانديې لازم نه دی. (زبده المناسک ج ۲ ص ۱۵) فقط والله اعلم بالصواب
(۴): د امام صاحب په نزد له لومړی عمرې نه او د صاحبینو په نزد له دویمی عمرې نه.
فقط والله اعلم بالصواب.
(۵): جائز دی. په معلم الحجاج کې دي:
مسئله: متمتع له یوی عمرې نه وروسته د دویمه عمره له حج نه مخکې کولی شي. معلم الحجاج ص ۲۳۸) ۱ فقط والله اعلم بالصواب.

۱ ((مسئله اختلافي ده، دواړه طرف ته دلائل موجود دي، مګر په معلم الحجاج کې چې کوم قول اختیار شوي دی هغه راجح معلومیږي، لهذا که په دې باندې عمل وکړي نو قابل مواخذې نه دی. خصوصاً په دی زمانه کې.

په معلم الحجاج کې چې چیرته مسئله لیکل شوی ده د هغې لاندې مفتی سعید احمد صاحب په حاشیه کې لیکلی دي:

قال في الباب ولا يعتمر قبل الحج و قال القاری فی الشرح و هذا بناء على ان المكی ممنوع من العمرة المفرده ايضا قد سبق انه غير صحيح بل انه ممنوع من التمتع والقرآن و هذا التمتع آفاقى غير ممنوع من العمره فجاز له تكرار ها لا ها عباده مستقله كالطواف اد (ص ١٥٦).

په فتوای رحیمیه دویم جلد صفحه نمبر ۷۲ کې یو عنوان دی چې د حج په ورځو کې نفلی عمره، دا هم ضرور لولئ.

په دی فتوی کې د غنیه المناسک په حواله لیکلی دي چې راجح دا دی چې آفاقی متمتع .....الخ.

هلته د غنیه المناسک حواله ده خو عبارت يې نشته، عبارت دا دی:

و يستحب ان يوخر ها حتى يمضى هذه الايام ثم يفعلها و افادو ابالاقتصاد على الخمسه انها لا تكره فى اشهر الحج وهو الصحيح ولا فرق فى ذلك بين المكى والآفاقى بحرو شرنبلاليه ممنوعنون و الا فلا منع للمكى عن المفرده فى اشهر الحج اذا لم يحج من عامه قال العلامه قاسم انه ليس بمذهب لعلمائنا ولا للائمه الاربعه .... الخ (ص ١٠٦) غنية المناسك **په بل ځای کی دي** (فصل فى كيفيه اداء التمتع المسنون و يعتمر قبل الحج ماشاء و ما فى الباب و الا يعتمر قبل الحج فغير صحيحه لانه بناء على ان المكى ممنوع من العمرة المفردة وهو خلاف مذهب اصحابنا جميعا لان العمرة جائزه فى جميع السنه بلا كراهة الا فى خمسة ايام لا فرق فى ذلك بين المكى و الآفاقى صرح به فى النهايه والمبسوط والبحر و اخى زاده والعلامه قاسم وغيرهم رحمهم الله تعالى كذا فى المنحه بل المكى ممنوع من التمتع والقرآن و هذه عمره لا اثر لها فى تكرار تمتعه شرح .... الخ (غنية المناسك ص ١١٥ لمولانا الحاج حسن شاه پشاورى مهاجرمكى رحمه الله عليه).

عمدة الفقه مولف مولانا سید زاور حسین شاه صاحب نقشبندي مجددی پاکستانی خلورم جلد کتاب الحج کې دي، د تمتع مسنونه طریقه دا ده چې خان دی حلال کړي او په مکه معظمه کې قیام وکړي او په دی وخت کې نفل طواف، عمرې او نور عبادتونه وکړي. (عمده الفقه کتاب الحج ص ۴۶۰ مطبوعه اداره مجددیه ناظم آباد کراچی.

د عمده الفقه په بل ځای کې دي:

(تنبیه): آفاقی متمتع د حج په میاشتو کې مکې مکرمې ته راشي او عمره وکړي بیا د عمرې له احرام نه ځان حلال کړي او له حج نه مخکې مدینې منورې ته لاړ شي نو اما ابو حنیفا په نزد هغه ته له مدینې منورې نه د واپس راتلو په وخت حج افراد احرام تړلو سره راتلل پکار دي او د هغه حج تمتع کیږي. هغه ته د قران یا د عمرې احرام تړل نه دي پکار، ځکه چې د سفر کولو په وجه د مکې په حکم کې دی. که هغه د قران په احرام تړلو سره راځي نو پر هغه د جنایت دم لازمیږي، او د بلې عمرې احرام ځکه نشي تړلې چې د هغه د لومړی عمرې ته تمتع منعقد شوی ده، مګر بیا هم د بلی عمرې ګنجایش ورته شته ځکه چې آفاق نه راځي، لهذا که د دویمی عمرې لپاره احرام تړي او راځي نو د امام صاحب په نزد وربانـدې چنـدان حرج نه لري. کله چې د زیاترو فقهاو په نزد د عمرې له ادا کولو او له هغه نه د حلال کیدو نه وروسته په مکه معظمه کې د اوسیدو با وجود آفاقي ته د نورو عمرو کول جائز دی.نو په دی صورت کې په لومړی درجه ورته عمره کول جائز دی ځکه چې د مکې په حکم کې د کیدو باوجود له آفاق نه راځي. والله اعلم بالصواب. مولف .

لیکن د صاحبینو په نزد هغه دی له مدینې نه د واپسی په وخت د عمرې احرام سره راشي ځکه چې له میقات نه د باندې تللو په وجه د هغه تمتع باطل شوی ده او لومړی چې کومه عمره کړیده د دوه سفرونو په وجه مفرد عمره کیږي او اوس له بلی عمرې سره تمتع له نوی سره منعقد کیږي. (عمده الفقه ج ۴ ص ۲۸۶ کتاب الحج).

(۶): ادا کیږي (زبدة المناسک ج ۲ ص ۱۴ او معلم الحجاج ص ۲۳۵ حاشیه). فقط والله اعلم بالصواب.

(۷): د جبر هیڅ دم وربانديې نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

(۸) د اما ابو حنیفه په نزد له میقات نه د باندې ونلو سره تمتع نه باطلیږي مګر سره کار نه دی او صاحبینو په نزد تمتع باطلیږي.لهذا احتیاط پدې کې دی چې بیا هر لاړ نشي او که لاړ شي نو بهتر دا دی چې د افراد حج احرام وتړي او راشي فقط والله اعلم بالصواب

جنایات او دم (قربانی)

ایا حاجی د بدنی پر ځای اووه وزګړی حلالولې شي او که نه؟

(۱۰٦ سوال): په کوم حاجی باندې چې بدنه لازمه وي ایا هغه پر ځای اووه وزګړي حلالولې شي او که نه؟

(خواب): په مسئوله صورت کې د یوی بُدنی پر ځای اووه وزګړیو د حلالولو جواز نشته، د اوښ یا د غوایي په شان لوی ښاروي قرباني کول ضروري دي. په فتاوای اسعدیه کې دي:

(سوال): عمن وجب علیه بدنه هل یجزی عنه سبعة و دماً من الغنم ام لا افتونا؟

(الجواب): لا به من البدنة لا طلاق العلماء رحمهم الله تعالی فی معین البدنة و لم یقل احد منهم غیر هذا کما یقولون فیمن و جب علیه هدی یجب علیه دم او سبع بدنة و الله اعلم بالصواب (فتاوای اسعدیه ص ۱۹).

که د عمرې په ارکانو کې تقدیم او تاخیر وشي:

(۱۰۷ ـ سوال): د عمرې له طواف او له سعی نه فارغیدونه وروسته لومړی د تخرګ یا د بریتانو د ویښتو اخستلونه بعد سر یې کل کړی ایا په دی کې څه حرج شته؟

(خواب): هو پر هغه دم واجب دی ځکه چې پکار خو دا دی چې لومړی د سر ویښتان واخلي بیا دی د نورو ځایونو ویښتان واخلي. د دی برعکس عمل کولو سره دم لازمیږي. په فتاوای سعدیه کې دي:

(سوال): فی رجل اهل بعمره و طاف وسعی و حلق احد ابطیه ثم حلق راسه و حلق ابطیه الآخر ما ذا یجب علیه ! افتونا.

(خواب): یجب علیه دم والصورة ما شرح والله اعلم (ج ۱ ص ۲۱).

د حج فاسد کیدو په صورت کې دی قضاء حج وکړي او که نه؟

(۱۰۸ ـ سوال): که له چانه حج فاسد شي نو په راتلونکې کال کې پر هغه قضاء راوړل لازم دی او که نه؟

(ځواب): کله چې حج فاسد شي که هغه فرض وي یا نفلي د هغه قضاء راوړل لازمیږي[1] فقط والله اعلم بالصواب

د احرام په حالت کې انجکشن (پیچکاري) لګول

(١٠٩ـ سوال): ایا حاجی د احرام په حالت کې ځانته یا بل چاته انجکشن (ستنه) لګولی شي او که نه؟

(ځواب): هو حاجی د احرام په حالت کې خپل ځانته هم ستنه لګولی شي او بل چاته هم.

ایا محرم د خپل سر له کلولو نه مخکې د بل حاجی سر کلولی شي او که نه؟

(١١٠ـ سوال): ایا متمتع حاجی د قرباني مال له ذبح کولونه وروسته د خپل سر له کلولونه وړاندې د بل محرم سر کلولی شي او که نه؟

(ځواب): هو! متمتع حاجی د قرباني مال ذبح کولونه وروسته خپل سر کلولی شي همدغه راز د خپل سر له کلولونه مخکې د بل محرم ویښتان هم کلولی یا قینچی کولی شي[2] فقط والله اعلم بالصواب.

که قارن له ذبحی نه مخکې حلق وکړي او په ایام نحر کې دم ورنکړی نو د دی څه حکم دی؟

(١١١ـ سوال): زما یو دوست مانه پوښتنه کړي ده چې سږکال په منی کې یوه لسو حاجیانو په ګډه یو غوا حلاله کړه په دغو یوه لسو کسانو کې یوه ښځه او خاوند هم شریک وو، ښځې د قران او خاوند یې د افراد حج کړی و، ایا د هغوی دا قرباني صحیح شو او که نه؟

---

(١) ويفسد الحج بجماع في احد السبيلين ولو ناسياً قبل وقوف فرض يفسد حجه و يمضي و يذبح و يقضي ولو نفلا قال في الشامية نحب قوله و يقضي ای على الفور (درمختار مع الشامي باب الجنايات ج ٢ ص ٢٨٩).

(٢) قال في الهداية و اذا حلق رأسه او رأس غيره عند جواز التحلل ای الخروج من الاحرام باداء افعال النسك لم يضره شيء (الهداية ص ١٥٤) ولو حلق رأسه او رأس غيره حلال او محرم جاز له حلق ثم يلزمه شيء (غنية الناسك ص ٩٣).

که صحیح شوي نه وي نو اوس به له سره قرباني کوي او که نه؟ یو شخص دی یو دم (قرباني) ورکړي یا دوه؟ او دا دم په هندوستان کې ورکولې شي او که نه؟ او که په حرم کې به ورکوي، ایا دم ورکولو پورې ښځه خاوند لپاره حلاله ده او که نه؟ چاچې د افراد حج کړی دی ایا پر هغه دم لازم دی او که نه؟

(نوټ): دغو خلکو حلق هم کړی دی او طواف زیارت هم. بینوا توجروا.

(ځواب): دا چې یوه لسو کسانو د یوې غوا قرباني ورکړې دی نو دا قرباني هیڅ یو لپاره نه دی صحیح شوي. نو څنګه کوم خلکو چې د قران یا تمتع حج کړی و پر هغوی یو دم (د تمتع یا قران) واجب دی. څرنګه چې د یو تن هم قرباني نه دی صحیح شوي نو څکه له ذبحې نه وړاندې د حلق له کبله یو بل دم له ذبح کولو نه وړاندې د حلالیدو په وجه واجبیږي او د قران یا د تمتع دم چې د قرباني په ورځو کې نه دی ورکړي نو یو بل دم د قرباني له ورځو نه وروسته کولو په وجه وربانديږ لازمیږي، ټول دری دم یا ذبحې وربانديږ لازم شول او دا درې واړه دمونه (حلالی) به په حرم کې کوي نه په هندوستان کې، د دم یا حلالی نه مخکې ښځه خاوند لپاره حلاله ده، د هغې حلال والی دم ورکولو پورې موقوف نه دی، چاچې د افراد حج کړی دی هغه لپاره پر هغه باندې هیڅ څیز لازم نه دی. په غنیه المناسک کې دي:

(تتمه) و فی الکبیرا اذا حلق القارن قبل الذبح و اخر اراقه الدم عن ایـــام النحـــر ایضاً ینبغی ان یجب علیه ثلاثه دم دور حلقه قبل الذبح و دم لتاخیر الذبح عن ایام و دم للقرآن او لتمتع (غنیة الناسك ص ۵۰).

په زبدة المناسك کې دي: غنیه المناسك له المنسك الکبیر څخه مسئله نقل کړی ده چې قارن له ذبحې نه وړاندې حلق وکړ او ذبح یې له ایام نحر نه وروسته وکړ نو پر هغه دم واجب دی. یو دم له ذبحې نه مخکې د حلق کولو. دویم دم له ایام نحر نه د ذبحې وروسته کولو. دریم دم د قران یا تمتع (زبدة المناسك مولانا شیر محمد صاحب ص ۷ حصه دویم فقط والله اعلم بالصواب

که څوک دوه ورځې جمرې ویشتل شي نو د هغه څه حکم دی؟

(۱۱۲ سوال) یو سړی حج ته تلی [illegible] په وجه اخره کې دوه ورځې جمرې ونه ویشتلی شو. د دغه [illegible] لیدو په وجه ورباندې دم واجبیږي او

که نه؟ ایا دغه دم پخپل وطن کې ورکولی شي او که نه؟ او که نه په حرم کې حلالولي يې ضروري دی؟ بینوا توجروا

(خواب) دا چې د رمی دوه ورځې ترینه پاتی شوي دی نو پر هغه دم واجب دی. خو د دم د حلالولو لپاره حرم شرط دی پخپل وطن کې ذبح کول صحيح نه دی.[۱] فقط والله اعلم بالصواب.

که د احرام نه د حلال کیدو لپاه د حرم له حدود نه دباندې حلق وکړي نو د دی څه حکم دی؟ ایا د جنایت دم په حرم کې ذبحه کول ضروري دی؟

(۱۱۳_ سوال): یو سړی عمره وکړه لدینه وروسته جدی ته لاړ او هلته یې خپل سر کل کړ چې د حرم له حدود نه باهر دی، ایا دا صحیح دی؟ او که د حرم په حدود کې حلق ضروري دی، نو په مذکوره صورت کې هغه د تلافی لپاره څه وکړي؟ که چیرته دم وربانديِ لازم وي نو هغه په هندوستان کې ذبح کولی شي او که همغلته حرم ته به ئې وړي ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): د عمرې یا د حج د احرام نه حلال کیدو لپاره د حرم په حدود کې حلق یا قصر کول ضروري دی. که چیرته د حرم له حدود نه باهر سر کل کړ نو دم وربانديِ لازم دی. په هدایه کې دي:

فان حلق فى ايام النحر فى غير الحرم فعليه دم و من اعتمر فخرج من الحرم و قصـــر فعله دم (هدايه اولين ص ٢٥٦ باب الجنايات).

په زبدة المناسك کې دي: د عمرې حلق په مکه معظمه کې سنت او د حرم په حد کې واجب دی.

همدغه راز د هدایه په لومړی جلد ص ۱۷۸ کې دي: که چیرته په حج یا عمره کې له حرم نه د باندې حلق وکړ نو دم وربانديِ لازم دی. همدغه راز که څوک په حج کې له

- (۱) ولو ترك الجمار كلها او رمى واحدة او جمرة يوم النحر فعليه شاه فتاوى عالمگيرى باب الجنايات الفصل الخامس فى الطواف ...... الخ))

ایام نحر نه وروسته حلق وکړي نو دم ورباندي لازم دی الخ (زبدة المناسك ج ۲ ص ۸٦

په معلم الحجاج کې دي که چیرته د عمری د احرام نه د حلالیدو لپاره له حرم نه باهر سر کل کړ یا د حج د احرام نه حلالیدو لپاره له حرم نه د باندې د قرباني په ورځو کې سر کل کړ نو بل دم ورباندې واجب دی لو که په حج کې له حرم نه باهر د نحر له ورځو نه وروسته سر کل کړ نو دم ورباندې واجب دی، یو له حرم نه د باندې د سر کلولو او بل .. وروسته والي (معلم الحجاج ص ۲٦۵)

لهذا په مسئول صورت کې چې په جده کې خپل سر کل کړی دی نو یو دم ورباندې لازم دی. دغه دم (قرباني) به په حرم کې حلالوي نه له حرم نه د باندې

په فتاوای عثماني کې دي: له حرم نه علاوه په بل ځای کې د هدی ذبح کول جائز نه دی. الله تعالی د ښکار د جزا لپاره فرمایلي دي: -

هديا بالغ الكعبة. (يکار دی چې هديه کعبې ته ورسوي). نو ګویا د ټولو هدایاو لپاره همدا یو حکم دی. نو کوم هدیه چې د جنایت په عوض کې ورکول کیږي هغه به باید حرم ته یووړل شي، او هدیه همدیته ویل کیږي چې یو خاص ځای ته ولیږل شي او دغه خاص ځای حرم دی، ځکه چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: (منی کلهم منحر و فجاج مکه کلها منحر.) ټوله منیٰ د ذبحې ځای ده.

همدغه راز د مکې کوڅې هم د ذبحې ځایونه دي. (فتاوای عثماني ج ٦ ص ۱۵۰)

فقط والله اعلم بالصواب. ۱۸ صفر ۱۴۰۱ ھ

که چیرته یو سړی له وقوف عرفی نه وروسته او طواف زیارت نه مخکې مړ شي نو د هغه څه حکم دی؟

(۱۱۴_ سوال): په سړی باندې حج فرض و نو ځکه هغه د حج د ادا کولو لپاره لاړ، په عرفه باندې اه ودریدو نه وروسته وفات شو، طواف زیارت ترینه پاتی شو، همدغه راز وقوف مزدلفه او رمی جمار هم ترینه پاتی شوه نو اوس هغه لپاره څه حکم دی؟ مفصل یې ولیکئ.

(جواب): په کوم کال چې ورباندې حج فرض شوی که همغه کال حج ته لاړ وي نو پر هغه د دم او نورو وصیت لازم نه دی، او که په همدې کال نه وي تللی بلکې یو دوه کاله وروسته تللی وي او له وقوف عرفه نه وروسته د طواف زیارت کولو نه مخکې وفات

شو نو پر هغه د بدنه یعنی د لوی ځاروی لکه اوښ یا غوایی د ذبح کولو وصیت لازم دی، او دغه بدنه د وقوف مزدلفه، رمی جمار، طواف زیارت ټولو لپاره کافی دي وقوف مزدلفه، رمی او د نورو په ترک کولو سره دم نه لازمیږي، او که وصیت یې ونکړ او وارثان یې د خپل طرف نه دغه کار تر سره کړي نو ان شاء الله دا به مقبول وګرځي، او دا بدنه دی په حرم کې ذبح کړی شي.

په زبدة المناسک کې دي

مسئله: د طواف زیارت لپاره هیڅ شي مفسد نه دی ماسوا د مرتد والی نه. مګر دا چې که په وقوف عرفه باندې له ودریدو نه وروسته مړ شي او وصیت وکړي چې زما حج تمام کړئ نو د غوایي یا اوښ ذبح کول واجب دی او حج یې پوره کیږي. (زبده) او هغه بدنه د حج د نورو اعمالو لپاره کافی ګرځي. (لباب و غنیه).

مسئله: کوم سړی چې د حج فرض کیدو په کال بلا تاخیر حج ته راغی او وقوف عرفات نه مخکې یا وروسته مړ شو نو پر هغه اتمام حج لازم نه دی. که چیرته د وخت د نه موندلو په وجه له وقوف نه وروسته مړ شو نو د بدنې اوښ یا د غوایی دم ورکول د حج د اتمام لپاره کافی نه دي. لقوله علیه السلام: (من وقف بعرفة فقد تم حجه.) چا چې وقوف عرفه وکړه نو د هغه حج تمام شو. برعکس د هغه چانه چې حج وربانـدې فرض شوي وي او هغه په لومړی کال حج ته نه وي تللی دوه دری کاله وروسته راغلی وي او وروسته مړ شي نو د حج د اتمام لپاره د بدنې د حلالولو وصیت لازم دی. (شامي ـ زبده المناسک ج ۱ ص ۱۸۰ـ ۱۸۱).

په معلم الحجاج کې دي: طواف زیارت په هیڅ څیز سره نه فاسدیږي او نه هم فوت کیږي، یعنی په ټول عمر کې کیدلی شي. البته په ایام نحر کې کول واجب دی. لدینه وروسته دم واجبیږي او دا طواف لازمي دی، د دی بدله هیڅ نشي کیدلې ماسوای له دی صورت نه چې کوم شخص وقوف عرفه نه وروسته له طواف نه مخکې مړ شي او د حج د پوره کولو وصیت وکړي چې زما حج پوره کړئ. نو یوه غوا یا اوښ ذبح کول واجب دی، او حج وربانډې واجبیږي، وقوف مزدلفه، رمی او سعی په پریښودلو سره هیڅ قسم دم وربانډې واجب نه دی.

په حاشیه کې دي : ...... دا اتمام په هغه وخت کې واجب دی چې د حج د واجب کیدو نه وروسته دویم یا دریم کال حج ته راغلی وي، که چیرته په لومړی کال د حج واجب کیدو سره سم حج ته راغی نو اتمام وربانډې واجب نه دی.

لقوله علیه السلام (من وقف بعرفه فقد تم حجه)
برعکس د هغه چا نه چې د حج فرض کیدو نه وروسته دویم یا دریم کال حج ته راغلې
وي نو پر هغه له مخکې نه یا په عرفه باندې د وقوف نه وروسته د مړ کیدو په وخت کې
د حج پوره کولو وصیت کول واجب دی. (معلم الحجاج ص ۱۹۵ طواف زیارت.)
په عمدة الفقه کې دي مگر په یو صورت کې یعنی کله چې له وقوف عرفی نه وروسته له
طواف زیارت نه مخکې مړ شي او د حج د پوره کولو وصیت وکړي نو د هغه د طواف
زیارت لپاره د بدنې ذبح کول واجب دی او د هغه حج جائز دی یعنی د هغه حج
صحیح او مکمل کیږي. پس کله چې یو تن په عرفه کې له وقوف نه وروسته مړ شو نو
ندینه وروسته ټول افعال یعنی وقوف مزدلفه، رمی جمره، طواف زیارت او طواف صدر
د تلافي لپاره یوه بدنه (اوښ) ذبحه کول واجبیږي. (عمده الفقه کتاب الحج ص ۲۵۳
.) فقط والله اعلم بالصواب . یکم محرم الحرام ۱۴۰۵ھ.

که ښځې د هجوم په وجه مزدلفه ونکړی شي نو څه وکړي؟

(۱۱۵_ سوال): څه فرمایي د دین علماء او د شریعت مفتیان په دی مسئله کې:
مونږ حج ته تللي وو، څه زنانه هم له مونږ سره ملګری وی، له وقوف عرفات نه وروسته
مونږ د وقوف مزدلفه په نیت مزدلفی ته روان شوو، کله چې مزدلفی ته ورسیدلو نو هلته
ډیر زیات ازدهام و، د کوشش با وجود مونږ لپاره د وقوف لپاره هیڅ ځای پیدا نشو، هر
چیرته به چې د وقوف اراده کوله نو حاجیانو به ویل چې دا زمونږ ځای دی، بل طرف
ته پولیس هم مزاحمت کاوو، مونږ چې په کوم ځای د وقوف اراده کوله پولیس به نه
پریښودلو،لهذا مونږ زیات پریشانه شولو او د مجبوریت د لاسه منی ته راغلو، ښځې مو
هلته پریښودلی او بیرته مزدلفی ته راغلو او هلته مو وقوف کړ، اوس پوښتنه دا ده چې د
هجوم او د ځای نه پیدا کیدلو له کبله ښځې د مزدلفی له وققوف نه پاتی شوې، اوس
هغوی لپاره څه حکم دی؟ ایا پر هغوی دم لازم دی او که نه؟ بینوا توجروا.
(ځواب): دا چې ښځې د ځای نه پیدا کیدو له کبله مجبوراً منی ته تللی دی او د
مزدلفی له وقوف نه.پاتی شوې دي نو پر هغوی دم لازم نه دی، خو که سړي له منی نه
راتلو نه وروسته وقوف ونکړي نو پر هغوی دم لازمیږي. په معلم الحجاج کې دي:
مسئله که چیرته ښځه د هجوم په وجه په مزدلفه کې ایساری نه شولې نو پر هغوی دم
واجب نه دی، خو که سړی د هجوم په وجه په مزدلفه کې وقوف ونکړی نو پر هغوی
دم واجب دی (معلم الحجاج ص ۱۸۳). فقط والله اعلم بالصواب .

په یولسم د ذی الحجې د ترتیب په خلاف رمی وکړه.

(۱۱۶_ سوال): د ذی الحجې په یولسم تاریخ د دریو جمراتو رمی کیږي. مګر یو سړي له غلطۍ نه داسې رمی وکړه چې لومړی یې د جمرې اخری رمی وکړه بیا یې د وسطی او بیا یې د لومړی جمرې، په دویم ورځ هغه ته معلوم شو چې ما پرون کوم رمی کړې دي هغه له ترتیب نه مخالفه ده، باید له جمرې اولی نه شروع کړی شوی وای نو په دویم ورځ یې په صحیح ترتیب سره رمی وکړه، نو اوس هغه لپاره څه حکم دی؟ ایا پر هغه دم واجب دی او که نه؟

(ځواب): که چیرته دغه سړی ته خپل غلطۍ په همغه ورځ معلوم شي نو هغه ته پکار دي چې په همغه ورځ په ترتیب سره رمی وکړي، که چیرته په دی ورځ ورته معلوم نه شو نو بیا ورباندې دویم ځل اعاده نشته، د دغه غلطۍ په وجه ورباندې دم واجب نه دی، که لږ غوندې صدقه ورکړی نو ورته بهتر دی. په عمده الفقه کې دي: او پاتې دری ورځې په دریو جمرو کې ویشتل په دی ترتیب وکړي چې لومړی د جمرې اولی رمی وکړي بیا د جمره وسطی او بیا د جمره عقبی، او که چا له جمره عقبی نه رمی شروع وکړ بیا یې جمره وسطی وکړ او بیا یې جمره اولی وکړ چې د مسجد خنیف په طرف دی، بیا په همدې ورځ هغه ته په یاد وشو نو هغه لپاره جمره وسطی او عقبه د رمی اعاده زمونږ د اکثرو فقهاو په نزد موکد سنت دی، او که اعاده یې ونکړه نو بیا هم ورته کافي دی. د ځینو په نزد د دغو دواړو رمی اعاده کول واجب دی. (عمده الفقه ج ۳ ص ۲۴۲ کتاب الحج).

په معلم الحجاج کې دي:

مسئله. یولسم، دولسم، او دیار لسم د ذی الحجې د دری واړو جمراتو ویشتل په ترتیب سره کول مسنون دی. که چیرته جمره وسطی یا جمره اخری رمی لومړی وکړ او د جمره اولی وروسته وکړه، نو وسطی او اخری (جمره عقبه) رمی دی بیا له سره وکړي ترڅو ترتیب د سنت په مطابق ادا شي. (معلم الحجاج ص ۱۹۹_ ۲۰۰). فقط والله اعلم بالصواب.



که ئه رمی، ذبح او حلق نه مخکې طواف زیارت وکړي نو دی څه حکم دی؟

(۱۱۷_ سوال) که چیرته کوم شخص د اذدهام په وجه د ذی الحجې په لسمه رمی ذبح او حلق نه مخکې طواف زیارت وکړي نو د دی څه حکم دی؟ ایا پر هغه دم لازم کیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): طواف زیارت د رمی، ذبح او حلق نه وروسته کول سنت دی، واجب نه دی لهذا که کوم سړی رمی، ذبح او حلق نه مخکې طواف زیارت وکړي نو پر هغه دم نه لازمیږي مګر له سنت نه خلاف او مکروه دی.

په شامي کې دي: واماالترتیب بینه. (ای بین طواف الزیارة) بین الرمــی والحلق فسنة. (شامي ص ۲۵۰ ج ۲ مطلب طواف الزیارة.) عمده الفقه هم همداسې لیکلی دي.

په معلم الحجاج کې دي: طواف زیاره له رمی او حجامت نه وروسته کول سنت دی واجب نه دی. (معلم الحجاج ص ۱۹۵ طواف زیارت.)

په دی وخت کې باید اژدهام عذر ونه ګڼل شي ځکه چې طواف زیارت د لسمی ذی الحجې نه وروسته یولسم او دولسم ذی الحجې ته هم کیدای شي. په معلم الحجاج کې دي:

د طواف زیارت لومړی وخت له صبح صادق نه دی، لدینه مخکې جائز نه دی. او آخر وخت یې د ایام نحر د وجوب په اعتبار سره یعنی ۱۰_۱۱_۱۲ ذی الحجې دي که لدینه وروسته ادا کړی شي نو بیا هم صحیح کیږي خو دم وربانديې واجب دی. (معلم الحجاج ص ۱۰۷).

طواف زیارت د حج لوی رکن دی تر دولسم ذی الحجې پورې د دی وخت دی. د ازدهام په بهانه مؤخر څیز مقدم کول د حاجی له شان سره نه ښائي، حتی المقدور باید ټول ارکان د سنت طریقی په مطابق ادا کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د احرام په حالت کې د ویکس او بام استعمالول:

(۱۱۸_ سوال) ویکس او بام چې د سر دردی او یا هم د یخنۍ له کبله استعمالیږي همدغسی بام هم چې یو قسم خوشبوئي پکې وي، د مرض او یا درد په وجه د احرام په

حالت کې استعمالول څنګه دی؟ که چا لګولی وي پر هغه دم واجب دی او که نه؟ بینوا توجروا

(ځواب): ویکس او بام دواړه خوشبو دار څیزونه دی، که په ټول وچولی باندې یې ولګوله نو دم وربانديې لازم دی. علماء کرامو ورغوی لوی عضو شمار کړیدی. (معلم الحجاج ص ۲۴۱) نو څکه وچولی هم لوی عضوه ده. په غنیة المناسك کې دي:

ولو تداوی بالطیب او بدواء فیه طیب غالب ولم یکن کطیوخا و فالزقه بجراحته یلزمه صدقه اذا کان موضع الجراحه لم یستوعب عضوا او اکثر الا ان یفعل ذلك مرارا فیلزمه دم (غنیه الناسك ص ۱۳۳ باب الجنایات مطلب فی التداوی بالطیب).

په معلم الحجاج کې دي: که چیرته خوشبوی یې د دوا په توګه استعمال کړ، یا داسې دوایی ولګاوه چې په هغه کې خوشبوئی غالب وي نو که چیرته زخم د یو لوی عضو په برابر یا لدینه زیات نه وی نو صدقه واجبه ده. او که د یو لوی عضو په برابر وي یا لدینه هم زیات وي نو دم وربانديې واجب دی. (معلم الحجاج ص ۲۴۸). که د عذر په وجه لکه سر دردي لپاره بام یا ویکس ولګاو نو د هغه حکم هم همدادی. په معلم الحجاج کې دي:

که چیرته جنایت قصداً وکړي یا سهواً، په مسئله پوهیږي او که نه، پخپله خوښه وکړي یا په زور، په خوب کې وکړي یا په بیداری په حالت کې، په نشه کې وي یا بیهوشه، مالدار وي او که غریب، پخپله وکړي یا د چا په ویلو، معذور وي یا غیر معذور، په ټولو صورتونو کې وربانديې جزا واجب دی. (معلم الحجاج ص ۲۴ شرائط وجوب جزا) فقط والله اعلم بالصواب.

د احرام په حالت کې د منجن پاوډر یا د غاښونو کریم استعمالول:

(۱۱۹_ سوال): د غاښونو داسې پاوډر چې پکې کافور، لونګ او هیل په خیر نور خوشبو دار څیزونه ګډ شوي وي استعمالول یې څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که چیرته په منجن یا د غاښونو په کریم کې لونګ، کافور، هیل یا نور خوشبو دار څیزونه ګډ کړي وي او هغه پاخه شوي نه وي، د مقدار په حساب سره خوشبودار څیزونه زیات نه وي نو دا داسې منجن د احرام په حالت کې استعمالول مکروه دی خو صدقه وربانديې واجب نه ده، لیکن که چیرته خوشبودار څیزونه پکې غالب وي نو

خرنګه چې منجن یا کریم په تموله خوله کې لګول کیږي نو څکه دم وربانـدې واجـب دی.

نه دا ده چې د احرام په حالت کې مسواک استعمال کړي، د غاښونو پاودر او کریم استعمال نه کړي، په دی سره سنت هم نه اداکیږي،لهذا د مسواک استعمال بهتر دی.

په غنية المناسك کې دي:

فلوا كل طيبا كثيراً وهو ان يلتصق باكثر منه يجب الدم و ان كان قليلا بان لم يلتصق باكثر فمه فعليه الصدقة هذا اذا اكله كما هو من غير خلط او طبخ فلـو جعلـه فى الطعام و طبخه فلا بأس باكله لانه خرج من حكم الطيب و صار طعاماً و كـذلك كل ما غيرته النار من الطيب فلا بائس باكله ولو كان ريح الطيب يوجد منـه . الى قوله . و فى الفتح فان جعله فى طعام قد طبخ كالز عفران و الا فاويه من الزنجبيل و الدار صيني يجعل فى الطعام فلا شئى عليه فعن ابن عمر رضى الله عليه انه كان يأكل السكباج الا صفر وهو محرم و ان لم يطبخ بل خلطه بما يوكل بلا طبخ كالملم وغيره فان كانت رائحته موجودة كره ولا شيئى عليه اذا كان مغلوبا فانه كالمستهلك امـا اذا كان غالبا فهو كالز عفران الخالص فيجب الجزاء و ان لم رأحته ..... الخ (غنيه الناسك ص ۱۳۲ باب الجنايات مطب فى اكل الطيب و شربه).

په معلم الحجاج کې دي: که چیرته یو حاجی ډیر خوشبو وخوري یعنـی دومره چې د خولې اکثر ځایو ته ورسیږي نو دم وربانـدې واجب دی. او که لږ غونـدې یـې خـوړلی وي یعنی د خولې اکثر حصه یې نه وي پکې لګیدلي نو بیا وربانـدې صدقه واجب ده دا په هغه وخت کې دی چې خالص خوشبو وخوري او که چیرتـه دا پـه څـه خـواړه کې واچوله او پخه یې کړه او بیا یې وخوړله نو هیڅ وربانـدې واجـب نـه دی اګـر چې د خوشبو څیزونه غالب وي، که چیرته پوخ شوی خوراک یا خواړه نه وي نـو پـه دی کې دا تفصیل دی چې که چیرته په دی کې خوشبو لروونکی څیز غالب وي نـو دم واجـب دی اګرچې څه خوشبوئی هم ترینه نه اوځـي. او کـه مغلـوب یعنـی کـم وي نـو دم یـا صدقه وربانـدې واجب نه دی که څه هم خوشبو ترینه ښه ډیر اوځي، لیکن مکـروه دی. (معلم الحجاج ج ۱ ص ۲۴۶_۲۴۷ ، خوشبو او تیل استعمالول.)

که ښځه د حیض په وجه طواف وداع ونکړی شي نو د هغه څه حکم دی؟
(ځواب): په مسئوله صورت کې که ښځه هلته نشي پاتې کیدلې او له خپل خاوند سره واپس راشي او طواف وداع ونکړی شي نو پر هغې دم واجب نه دی په حائضه ښځه باندې طواف وداع واجب نه دی. که وخت ورسره وي نو له پاکیدونه وروسته دی طواف وداع وکړي دا ورته افضل دی په معلم الحجاج کې دي. طواف وداع په ساهر پاتې کیدونکی حاجی باندې واجب دی که حج افراد یې کړې وي یا حج تمتع، په دی شرط چې عاقل او بالغ وي، معذور نه وي. اهل حل، اهل حرم، اهل میقات، حائضه نفساء مجنون او نابالغ باندې واجب نه دی. الخ (معلم الحجاج ص ۲۰۷)
همدغه راز په معلم الحجاج کې دي: که چیرته د واپسی په وخت کې حیض یې رغی او طواف وداع یې ونکړه بیا همورباندې دم نه واجبیږي لیکن له پاکیدو وروسته طواف وداع کول ورته بهتر دی. (معلم الحجاج ص ۱۲۵ عورت کا احترام.)
په معلم الحجاج کې دا هم دي: حائضه او نفاسه ښځه دی طواف وداع نه کوي بلکې په باب الوداع کې دی ودریږي او دعا دی وغواړي یعنی د مسجد حرام نه د باندې دی دعا وغواړي. (معلم الحجاج ص ۲۰۷ طواف وداع.) فقط والله اعلم بالصواب.

د حلال کیدو لپاره د محرم خپل ویښتان، یا د بل محرم ویښتان کلول.

(۱۲۱_ سوال):حضرت مولانا مفتی صاحب دامت برکاتهم، له سلام مسنون نه وروسته عرض دا دی چې زه له فتاوای رحیمیه نه ښه استفاده کوم جزاکم الله مني و عن سائرالامه. آمین.
جناب ! د فتاوای رحیمیه په دریم جلد کې یو ځواب دی. (۹۰۸_ سوال).
متمتع حاجی د قربانی له ذبحه کولو وروسته د خپل سر ویښتان هم کلولی شي او د خپل سر له کلولونه مخکې د بل حاجی سر هم کلولې شي، خو تاسی په دی باندې هیڅ قسم دلیل نه دی پیش کړی، که چیرته څه دلیل وي نو ویی لیکئ. زما خیال دا دی چې د خپل سر له کلولو او حلالیدو مخکې د بل سر کلول صحیح نه دي، امید دی چې په دی باره کې مونږ ته معلومات وړاندې کړئ.
(ځواب): محترمی و مکرمی بارک الله فی عملکم. له سلام مسنون نه وروسته د دواړو عافیت له الله تعالی نه غواړم. تاسې چې په کوم ځواب باندې اشکال پیش کړي دی

هغه صحيح نه دی. ماچې کوم خواب ليکلی دی هغه صحيح دی. حاجی متمتع وي که قارن يا مفرد هغه له حلق نه مخکې چې ټول ارکان يې پوره کړي وي او د سر کلولو وخت يې راغلی وي. همدغه راز بل حاجی هم د حج ټول ارکان ادا کړی وي نو په دی وخت کې د خپل سر ويښتان کلول يا د بل ويښتان کلول د هغه په حق کې د احرام له محظوراتو څخه نه دی لهذا محرم خپل سر هم کلولې شي او د خپل سر د ويښتانو کلولونه مخکې د بل حاجی د سر ويښتان هم کلولې شي. دلائل په لاندې دول دي.

بخاري شريف کې دي:

فلما راوا ذالك قاموا فنحروا او جعل بعضهم يحلق بعضاً حتى كاد بعضهم يقتل بعضاً غماً ..... گ. لخ (بخاری شريف ج ۱ ص ۳۸۰ ، کتا بالشروط ، باب الشروط فی الجهاد والمصالحة مع اهل الحرب و کتابه الشروط مع الناس بالقول).

د حديث د دغې ټکړې تعلق د صلح حديبيه له واقعې سره دی، کله چې صلح مکمل شو او هغه صلی الله عليه وسلم قرباني او حلق وکړه نو اصحابو کرامو هم د هغه په ليدلو سره هم قرباني او حلق وکړ او يو د بل سرونه کل کړل د دی با وجود چې محرم وو لدې حديث نه ثابتيږي چې له قربانی نه وروسته محرم پخپلو کې يو د بل سر کلولې شي. په غنيه المناسک کې دي:

ولو حلق رأسه او راس غيره من حلال او محرم جاز له الحلق ولو يلزمها شئی .... (غنيه المناسك ص ۹۳ فصل فی الحلق).

په فتاوای سعديه کې دي:

(**سوال**): فی المحرم فی او ان التحلل هل له ان يحلل غيره قبل ان يحلق راس نفسه ام لا افتونا؟

(**الجواب**). نعم لو ذلك على الصحيح كما ذكره شيخنانی شرحه علی منسك ملتقى الابحر والله اعلم (فتاوی اسعديه ج ۱ ص ۲۱ کتاب الحج)

په معلم الحجاج کې دي: د حلاليدو په وخت کې محرم ته خپل سر او د بل سر ويښتان کلول يا کمول جائز دی نه دی سره جزا نه واجبيږي. (معلم الحجاج ص ۱۹۲).

په زبده المناسك كې دي چې د كوم محرم په لاس دی حلق نه شوي، كه چيرته په محرم باندې حلقق وكړ نو ورته دی وګوري چې كه چيرته هغه محرم داسې وي چې كوم كارونه له حلق نه مخكې وو هغه ټول يې كړي وي او صرف حلق پاتې وي. او د حلق كوونكی (كلوونكی) هم داسې دی، يعنی دواړه همداسې دي چې له حلق نه علاوه ورباندې بل څه نه دي پاتې صرف حلق (كلول) ورباندې پاتې دی، نو د خپل ځان له حلالولو نه مخكې د بل چا د سر ويښتان كل كړي نو دا ورته جائز دی. او دواړو باندې هيڅ څيز نه لازميږي، ځكه چې دا حلق كول هغوی لپاره مباح دی. (غنيه۔ حيات) ليكن له حلق نه مخكې دی خپل نوكان نه كټ كوي كه نه نو جزا ورباندې لازميږي. او كه دواړه محرم داسې وي چې له حلق نه مخكې كوم كارونه ورباندې ضروري دي هغه يې نه وی كړي نو كه يو محرم د بل محرم ويښتان كلوي نو كلونكی باندې صدقه او د چا چې سر كلوي پر هغه دم واجب دی. حيات القلوب از منيه المناسك علامه ابن الضياء حنفی او شرح اللباب او غنية المناسك كې هم همداسې ليكل شوي دي او د بخاری شريف لاندينی حديث هم په دی باندې صريح دلالت وي چې له حلق نه مخكې كوم كارونه ورباندې ضروري وو هغه ټول كړي وو، نو د بل حاجې حلق كولې شي.

و جعل بعضهم يحلق بعضاً حتى كاد بعضهم يقتل بعضاً غماً (ناقل) (زبده المناسك ص ۱۷٦ — ۱۷۷ ، جلد اول . حلقق د حلق كولو بيان).

ايا د جنايت دم د بل چا په ذريعه وركولی شي او كه نه؟

(۱۲۲_ سوال): يو تن تير كال حج وكړ او واپس راغی، او له هغه نه داسې جنايت وشوچې دم ورباندې لازميږي نو ايا داسې سړی حج ته تللونه بغير د بل چا په ذريعه په منَی كې دم وركولی شي او كه نه؟ او كه پخپله به هلته ځي او دم وركوي؟ بينوا توجروا.

(ځواب): كه، چيرته داسې جنايت شوې وي چې دم ورباندې لازميږي نو پخپله هلته تلل او دم وركول ورباندې ضروري نه دی، د بل چا په ذريعه هم دا دم وركولې شي. او دغه دم لپاره كوم تاكلی وخت نه دی مقرر شوي هر وخت چې وغواړي دم وركولې شي خو د حرم په حدود كې د دم ذبح كول ضروری دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د احرام په حالت کې خوشبودار شربت څکل:

۱۲۳ سوال ، خینې شربتونه چې څه نا څه پکې خوشبوئی اچول کیږي د احرام په حالت کې د هغه څکل څنګه دی؟ بینوا توجروا.

(جواب) داسې بوتل، شربت او د ګلونو رس چې په هغه کې خوشبو اچول شوی وي باید د احرام په حالت کې ونه څکل شي، خو که چیرته کوم محرم لږ غوندې وڅکی نو یاوکم دوه کیلو غنم دی په صدقه کې ورکړي، او که زیات یې څکلی وي یا لږ لږ دوه دری ځلې څښلې وي نو بیا وربانديې دم واجبیږي، او په کوم بوتل کې چې بالکل خوشبوئی نه وي اچول شوی ا هغه څکل جائز دی. په شامي کې دي:

و ان خلط بمشروب فالحکم فیه للطیب سواء غلب غیره ام لا غیر انه فی غلبه الطیب یجب الدم و فی غلبه الغیر تجب الصدقه الا ان یشرب مراراً (شــــامی ج ۲ ص ۲۷۷ باب جنایات).

په زبدة المناسک کې دي: که چیرته د څکلو په څیز کې خوشبو ګډه کړه نو که دا خوشبو غالب وي نو دم دی ورکړي او که مغلوب وي نو صدقه دی ورکړي، مګر څوک چې مغلوب په تکرار سره استعمال کړي نو دم وربانديې واجب دی. (زبده المناسک).

که ډیري وڅښلی نو وربانديې دم او که لږ غوندې وڅښلی نو صدقه ده او که لږ لږ بیا وڅښلی نو دم وربانديې واجب دی. (زبده المناسک ص ٦١ ج ۲).

په معلم الحجاج کې دي: د څکلو په شیانو کې مثلاً چای، قهوه او نورو کې خوشبو یو ځای کړ نو که خوشبو غالب وي نو دم وربانديې واجب دی او که خوشبو مغلوب وي نو صدقه ده لیکن که څو ځلی یې وڅښلی نوّ دم وربانديې واجب دی. او که د څکلو څیزونو کې خوشبوئی واچوی او په اور باندې پوخ کړي مګر څه فرق پکې رانشي نو بیا هم وربانديې جزا دی.

لیکن هغه شربتونه او د اوبو بوتلونه چې خوشبوئی پکې نه وي اچول شوی د احرام په حالت کې د هغوی څکل جائز دي. او په کوم بوتل کې چې خوشبوئی ګډه شوی وي اګر که ډیر لږ غوندې هم وي که هغه وڅکی نو صدقه وربانديې واجبیږي. (معلم الحجاج ص ۲۲۷ جنایات، یا د خوشبو لرونکو څیزونو استعمالول.)

د احرام په حالت کې د خوشبودار خوراکونو استعمالول:

(۱۲۴_ سوال): د احرام په حالت کې، پلاو بریانی، زرده و غیره چې په هغه کې زعفران اینس او نور داسی شیان اچول شوي وي نو د داسې خوراکونو د احرام په حالت کې خوړل څنګه دی؟ بینوا توجروا.

(جواب): د داسې خوراکونو خوړل جائز دی، که څومره ډیر خوشبودار څیزونه پکې اچولي وي، د داسې خوراکونو په خوړلو سره هیڅ نه لازمیږي. په شامي کې دي:

اعلم ان خلط الطیب بغیره علی وجوه لا نه اما ان یخلط بطعام مطبوخ او لا ففی الاول لا حکم للطیب سواء کان غالبا او مغلوبا و فی الثانی الحکم للغیبه ان غلب الطیب و جب الدم و ان لم تظهر رائحته کما فی الفتح و الا فلا شئی علیه غیر انه اذا وجدت معه الرائحه کره (شامی ج ۲ ص ۲۷۷ باب الجنایات).

په زبده المناسک کې دي: کوم خوشبوئی چې حقیقي دي لکه مشک، عنبر، زعفران او داسې نور که چیرته دا په وریجو یا قورمه کې یوځای پخه شوي وي نو د هغه په خوړلو کې هیڅ نه واجبیږي اګر چې غالب وي، لیکن کوم طعام چې نشي پخولي او همداسې خام خوړل کیږي نو که په هغه کې خوشبوئی لروونکی څیز غالب وي او خوشبوئی ترینه ونه اوخي نو دم وربانډې واجب دی. او که لږ وي اګرچې خوشبو ترینه ووخي نو هیڅ وربانډې نشته، نه صدقه او نه هم دم، مګر مکروه دی. (زبده المناسک ج ۳ ص ۵۹.) او (معلم الحجاج ص ۲۴۶). فقط والله اعلم بالصواب.

که د ذی الحجې په لسمه د ناروغی له کبله له ماسختن نه وروسته رمی وکړي نو څه حکم یې دی؟

(۱۲۵_ سوال): په لسمه ذی الحجه که د رمی افضل وخت د لمر له ختلونه تر زوال پورې دی، لیکن یو سړی د مرض په وجه په دغه وخت کې رمی ونکړی شو او د شپې ماسختن وخت کې رمی وکړه، ایا په دغه سړي باندې صدقه لازمه ده او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): په مسئوله صورت کې که د شپې له ماسختن نه وروسته رمی وکړه نو رمی یې شویده، چون د عذر په وجه داسې شوی ده نو په دی کې څه کراهت هم نشته، البته که له څه عذرنه پرته داسې وکړي نو د مسنون وخت د ترکولو له کبله مکروه دی او په

ثواب کې نقصان راځي، خو صدقه يا دم وربانديږ واجب نه دی. په هدايه اولين کې دي:

فاما يوم النحر فاول وقت الرمي فيه من وقت طلوع الفجر .... و ان آخره الى الليل رماه (اى في الليل) ولا شئى عليه لحديث الرعاء (هدايه اولين ص ۲۳۲ باب الاحرام).

په عمده الفقه کې دي: او په دغه لومړی ورځ کې يعنی د ذی الحجې په لسمه ورځ د رمی مسنون وخت د لمر ختلونه شروع او تر زواله پورې دی.

او مباح وخت يعنی د بلا کراهت جواز وخت د لمر له زوال نه تر ماښام پورې دی، او کراهت سره د جواز وخت له ماښام نه شروع او د بلی ورځې د صبح صادق له ختلونه مخکې پورې دی. که چيرته د کوم عذر په وجه په دغه وخت کې رمی وکړي نو مکروه نه دی . . الخ. (عمده الفقه ص ۲۲۳ ج ۴).

همدغه راز په عمده الفقه کې دي: د مکروهاتو حکم دا دي چې په کوم عمل کې کوم مستحب پريږدي د هغه په ثواب کې کمی راځي. او د موکده سنت په پريښودلو سره عذاب دی (هله چې توبه ونکړی) په جزا کې دم يا صدقه ورکول هم لازم دی، له واجباتونه علاوه د سنتو او مستحباتو په پريښودلو کې قربانی يا صدقه ورکول لازم نه دی. (عمده الفقه ص ۷۸ څلورم جلد.) فقط والله اعلم بالصواب.

که چا طواف زيارت، طواف قدوم، طواف وداع يا نفلی طواف بې اودسه وکړل نو د دی څه حکم دی؟

(۱۲۶ـ سوال): کله کله زما مذي اوځي چې د هغه په وجه زما اودس ماتيږي، ما طواف زيارت وکړ، کله چې له طواف نه خلاص شوم نو په لباس کې د مذي اثر مې وليده، نو د دی څه حکم دی؟ ايا دم رابانديږ واجب دی؟ که چيرته دوباره اودس وکړم او له نوی سره طواف واړوم نو؟ همدغه راز که طواف قدوم ، طواف وداع يا نفلي طواف بې اودسه وکړم، نو د دی څه حکم دی؟ بينوا توجروا.

(ځواب): که چيرته پوره يا اکثر طواف زيارت (څلور، پنځه يا شپږ چکر) بې اودسه دی وکړه نو دم دربانديږ واجب دی او که له نيمائی لږ يعنی دری يا لدينه کم چکر له اودس نه بغير وکړه نو د هر چکر لپاره نيم صاع غنم صدقه کړه، او که د ټولو چکرونو صدقه د دم په برابر شي نو لږ غونديږ دی کم کړي او که چيرته په دغو صورتونو کې

اودس وکړي او طواف زيارت له سره واړوی برابره خبره ده چې په ايام نحر کې وي يا وروسته نو دم او کفاره درباندې لازمه نه ده. همدغه حکم طواف قدوم، طواف وداع او نورو نفلی طوافونو کې هم دی.

په غنية المناسک کې دي:

ولو طاف للزياره كله او اكثره فعليه شاه و يعيد طاهراً استحباباً و قيل حتماً فانه اعاده سقط عنه الدم سواء اعاده فى ايام النحر او بعدها ولا شئى عليه للتاخير و قيل عليه دم و قيل صدقه لكل شرط ولو طاف اقله محدثاً و لم يعد فعله لكل شوط نصف صاع الا اذا بلغت قيمته دما فينقص منه ماشاء بحز (غنيه المناسك ص ١٤٥ باب الجنايات الفصل السابع).

ولو طاف للصدر جنباً فعليه شاه و ان طافه محدثاً فعليه لكل شوط صدقه . الى . ولو طاف للقدوم كله او اكثر جنباً فعليه لو محدثاً فصدقه لكل شوط نصف صاع من بر الا ان يبلغ دماً فينقص منه ماشاء و يعيده ظهراً و جوباً فى الجنابه و ندباً فى الحدث فان اعاد سقط عنه الجزاء (غنيه المناسك ص ١٤٧).

په معلم الحجاج کې دي: که چیرته پوره یا زیاتره طواف زیارت يې بې اودسه وکړه نو دم ورباندې لازم دی او که طواف قدوم، طواف وداع يا طواف نفل يا له نصف نه کم طواف زيارت بې اودسه وکړه نو د هر يو چکر لپاره دی نيم صاع غنم صدقه ورکړي او که د ټولو چکرونو صدقه د دم په برابر شي نو لږ غوندې ترينه کمه کړي او که په ټولو صورتونو کې دوباره اودس وکړي او له سره طواف وګرځوي نو کفاره او دم ترينه ساقطيږي. (معلم الحجاج ص ٢٦١) او (شامي ٢٨١/٢) او (عمده الفقه ٥٢١/٤_٥٢٢). فقط والله اعلم بالصواب.

حاجی خپل څاروی چیرته حلال کړي؟

(۱۲۷_ سوال): حاجی خپل مال چیرته قرباني کړي؟ پخپل وطن کې يا په حرم کې؟

(ځواب): په دی زمانه کې د مکې له خلکو نه علاوه ټول حاجيان عموماً مسافر وي او په مسافر باندې قرباني واجب نه دی. لهذا په حاجی باندې د خپل مال قربانی لازم نه دی نه په وطن کې حلالول ضروري دی او نه په حرم کې. که پخپله خوښه قرباني

کول غواړي نو چې چیرته یې زړه وي کولی شي. البته که حج تمتع یا حج قران کړی وي نو د شکر دم ورباندې واجب دی او د دی حلالول په حرم کې ضروری دی. په غنیه المناسک کې دي:

(تنبیه) ذکر فی الاصل انه لا تجب الا ضحیه علی الحاج قال فی البدائع و مبسوط السر خسی و اراد بالحاج المسافر و اما اهل مکه فتجب علیه الا ضحیه و ان حجوا اه (غنیه الناسك ص ۱۱٦ فصل فی کیفیه باب التمتع المسنون).

په درمختار کې دي:

(علی حر مسلم مقیم) بمصر او قریه او بادیه بمنی فلا تجب علی حاج مسافر فاما اهل مکه فتلزمهم و ان حجوا قیل لا تلزم المحرم. (در مختار مع رد المختار ج ۲ ص ۲۷۵).

په شامي کې دي:

(قوله و لم تنب الا ضحیه عنه) ای عن دم التمتع لانه اتی بغیر الواجب علیه اذلا اضحیه علی المسافر ...... الخ (شامی ج ۲ ص ۲۹۹ باب التمتع) فقط والله اعلم بالصواب.

که د اودس کولو په وخت کې دوه درې ویښتان وغورځیږي نو د دی څه حکم دی؟

(۱۲۸_ سوال): زه حج ته روان یم، د اودس کولو په وخت کې زما ږیرې دوه درې ویښتان غورځیږي، که چیرته د احرام په حالت کې د اودس په وخت کې زما د ږیرې نه دوه درې ویښتان وغورځیږي نو د دی څه حکم دی؟

(ځواب): که چیرته د اودس کولو په وخت کې د ږیرې ویښتان پخپله وغورځیږي نو یو موټی غنم په صدقه کې ورکړه. په غنیة المناسک کې دي:

(اما اذا سقط بفعل المأمور به کالوضو ففی ثلاث شعرات کف واحده من طعام افاده ابو السعود (غنیه الناسك ص ۱۳۷ باب الجنایات الفصل الرابع فی الحلق و ازاله الشعر).

په معلم الحجاج کې دي که چیرته د اودس کولو په وخت یا لدینه علاوه په نورو وختونو کې د سر یا ږیرې نه درې ویښتان وغورځیږي نو یو موټی غنم دې صدقه کړي او که پخپل لاس وباسي نو د هر یوه ویښته په بدله کې دې یوه موټی غنم ورکړي او که دربو نه زیات ویښتان وباسي نو نیم صاع غنم دې صدقه کړي. (معلم الحجاج ص ۲۵۵).

د حج په احکامو کې دي: که چیرته دمحرم له ارادې نه بغیر د ږیرې یا د سر ویښتان وغورځیږي نو هیڅ څیز ورباندې نشته او که د محرم په فعل سره وغورځیږي نو په دریو ویښتانو کې د یو موټی غنم صدقه کول کافي دي. (زبده) او (احکام حج ص ۹۶_۹۷ مفتی محمد شفیع صاحب دیو بندي.) فقط والله اعلم بالصواب.

که حائضه ښځه له طواف زیارت نه بغیر وطن ته راغله نو هغه دې څه وکړي؟

(۱۲۹_ سوال): که یوه ښځه د حیض په وجه طواف زیارت ونکړی شي او بیرته وطن ته راغله نو د هغې حج وشوه او که نه؟ که بیا لاړه شي نو یواځې طواف زیارت وکړي او که حج دې هم ورسره وکړي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که ښځه په حیض کې وي نو هغه له طواف زیارت نه علاوه د حج هر یو عمل ترسره کولې شي، کله چې له حیض نه پاکه شي نو طواف زیارت دې وکړي، او که د دې عذر په وجه طواف زیارت له ۱۲ ذی الحجې نه وروسته وکړي نو ورباندې دم هم نه لازمیږي. (معلم الحجاج ص ۱۹۶).

ترخو پورې چې طواف زیارت یې نه وي کړی حج یې نه مکمل کیږي. همدغه راز د خپل خاوند لپاره هم نه حلالیږي، په دې صورت کې دوباره د پوره حج ادا کول ضروري نه دي، هغې ته پکار دي چې د عمرې احرام وتړي او حج ته لاړه شي او له عمرې نه فارغیدونه وروسته دې طواف زیارت وکړي.

په منی کې د حجاجو اسلامی بانک په ذریعه د څارویو حلالول:

(۱۳۰_ سوال): ماهنامه الفرقان جون او جولایی ۱۹۸٦ع مطابق، د حضرت مولانا محمد برهان الدین یو مضمون جلد نمبر ۵۰ شماره نمبر ٦_۷ کې خپور شوی دی چې لنډیز یې څه داسې دی:

(د حج په ورځو کې لسم، یولسم، دولسم ذی الحجه کې په منی کې د ننه په لکونو څاروي قرباني کيږي، او څو کاله وړاندې پورې هلته د ذبح شويو څارويو غوښه هسې ضايع کيده، بلکې د هغې له بد بوئی نه د ناروغی پیدا کیدو خطره هم وه. له دغه صورت حال نه ټول حساس خلک فکرمند او د دی هیله من وو چې داسې یو صورت ووځي چې هرکال دومره ضايع کیدونکی غوښه په صحیح ځای کې خرچ شي او د لکونو وږو خلکو ګیډه ورباندې مړه شي، بالاخر د سعودی عرب حکومت د دغو دردمند خلکو آواز ته توجه ورکړه او د دی د حل لپاره آمادګی ښکاره کړه او په دی کامیاب هم شو.

د دغه غرض لپاره دری کاله وړاندې سعودی حکومت یوه لویه مذبح خانه ((مجــزرة المعيضم)) په نامه په منی کې جوړه کړی ده چې هلته نه یواځې په لکونو څاروي جلالولی شي بلکې د هغوی د غوښو د ساتلو او په پاکټونو کې تیار د مختلفو ملکونو غریبانو ته هم استول کیږي. د دی سرپرستی البنک الاسلامي للتنمیه جده کوي، ددغه بینک طریقه دا ده چې هغه یو ځایی (کمپنی د شراکه الراحجی) په ذریعه د قربانی خواهش لروونکو حاجیانو باندې یوه کوپن خرڅوي، په کوپن کې د مختلفو ډولونو قرباني مثلاً : هدی، اضحیه او صدقی لپاره جلا جلا نښی لګول شوي دي. حاجی چې د البینک الاسلامي په ذریعه څه قسم قربانی کول غواړي په هغه نښه باندې کرښه راکاږي، بیا د هغه له طرف نه قرباني کیږي، لیکن حاجی ته بالعموم دا نه وي معلوم چې د دی له طرف نه کله څاروي حلال شوې دی، له دغې طریق نه حنفی حاجیانو لپاره چې حج قران یا تمتع حج کوي یو مشکل پیدا کیږي، ځکه چې په حنفی فقه کې د مفتی به قول په مطابق قران یا تمتع کونکی لپاره واجب دی چې هغه د لسم ذی الحجې له مزدلفی نه د واپسی په وخت کې لومړی جمرة العقبه وولي او بیا دی قرباني وکړي، لدینه وروسته دی خپل سر ویښتان کل یا لنډ کړي. که چیرته څوک له دغه ترتیب نه مخالفت وکړي نو یو دم ورباندې لازمیږي، نو ځکه حنفی حجاجو البنک الاسلامي څخه غوښتنه او مطالبه کړیده چې هغوی ته دی دا وویل شي چې د هغوی له طرف نه قرباني کله او په کوم وخت کې کولې شي، ترڅو په نورو کارونو کې د واجب ترتیب لحاظ وساتي. لیکن په اجتماعي نظم کې هر حاجی ته دا ویل عملاً ممکن نه دی چې د هغه له طرف نه څاروی کله ذبح شوی دی؟ د دغه مشکل حلولو

لپاره البنک الاسلامي جده رئیس صاحب په جده کې د علماو یو غونډه راوبله. په دغه غونډه کې یو حل دا پیش کړی شو چې د صاحبینو په نزد ترتیب واجب نه دی. په داسې صورت کې چې هر کال په لکونو حلال شوي څاروي له ضایع کیدونه بچ کیږي نو د دغه مصلحت په خاطر د صاحبینو قول باندې فتوه ورکول صحیح دی. او سوم انتظام چې نیول شوی دی د دی اختیارول مناسب دی. بینوا توجروا.

(جواب): بسم الله الرحمن الرحیم حامداً و مصلیا و مسلماً.

دا چې حکومت د لکونو څارویو د قرباني کولو ذمه واري پخپل سر اخستلونه وروسته د غوښې د حفاظت لپاره د ډیرو پیسو لګولو لپاره چمتو شوی دی نو لدینه زیات مهم او بهتر کار دا رامعلومیږي چې د قربانی طریقه دی د پخوا پشان جاري وساتي ترڅو حاجیان خصوصاً قارن او متمتع خپل خپل قرباني د خپلو خپلو مسلکونو وکړي. او د غوښې د محفوظ کولو لپاره زیات مزدوران او ملازم مقرر کړي. یو لوی او وسیع مذبح خانه دی جوړه کړي او همغلته دی قرباني ضروري وګرځوي. په دی کار سره ټول مسائل حل شي.

د پیسو راغونډول، حاجیان د وخت پابندول تکلیف مالایطاق دی. کوم حجاج چې محتاط دي هغوی په شکوک او شبهات کې اخته کیږي او د قرباني کیدو معلومات د نه لرلو په وجه په لوی پریشانی کې اخته کیږي ـ کله چې سرکال زمونږ د علاقی یو حاجی صاحب چې ورسره تقریباً اته نور حاجیان هم ملګري وو، ټولو په دغه طریقه باندې عمل وکړ، خو له رمی نه وروسته دا پوښتنه او تحقیق یې کاوه چې زمونږ قرباني شوی دی او که نه؟ کله چې تحقیق لپاره لاړل نو هلته ټاکلی او متعین ځای کې کوم مسئول او ذمه وار شخص ترلاسه نشو، څلور پنځه کرته لاړل خو جا ورته اطمنان ورنکړ. ټول ډیر زیات پریشانه شول چې ایا په حلق کولو سره احرام پرانیزي او که نه؟ له ډیر کشمکش نه وروسته یو تن ورته وویل چې ستاسې قربانی شوی دی، هله یې حلق وکړ او احرام یې پرانست. مګر بیا هم په زړه کې شک پاتې و، نو ځکه د نوی طریقې پر ځای د زړه طریقې جاري ساتل بهتر معلومیږي. همدغه راز په نوې طریقه کې داهم ویل کیږي چې فلان وخت پورې له رمی نه فارغ شئ، په فلان وخت کې به ستاسې قرباني څاروي حلالیږي. په دی باندې عمل کول ګران کار دی، ځکه چې ممکن دی حاجی ته څه عذر پیدا شي مثلاً ناروغ شي یا د کوشش باوجود رمی ته ونه رسید، نو په داسې صورت کې له قرباني نه مخکې له رمی نه فارغیدل او له قربانی نه وروسته حلق کول مشکل

دی، ترتیب قائم ساتل مشتبه کيږي، او کوم عبادت چې ټول عمر په يو وخت کې ادا کيږي او له ډيرو اميدونو او کاوشونو څخه وروسته دا سعادت يې په نصيب شوی وي بلاشک او شبهې نه ادا شي او په همدې سره د زړه اطمنان حاصليږي.
لهذا بهتر همدا معلوميږي چې په مفتی به قول باندې عمل وکړی شي او پخوانی طريقه دی خپله کړی شي. په دی سره د حاجيانو پريشانی او تکليف هم لری کيږي او د حکومت مقصد هم ترسره کيږي. هذا ماظهرلي الان. فقط والله اعلم بالصواب.
په دی اړه نور زيات وضاحت:
(۱۳۱_ سوال): په منی کې د حجاجو کرامو د اسلامی بينک په ذريعه د قربانی کولو په متلق چې ستاسی کومه فتوه شائع شوی ده هغه می په غور سره ولوست، له تاسی نه د دغه فتوی په اړه د زيات غور او فکر غوښتنه کوم. نن سبا د حاجيانو اکثريت او د بی پناه هجوم له کبله له حنفی فقهاو څخه صاحبين رحمه الله عليه د نورو دريو امامانو په قول د ترتيب سقوط (بين الرمی والنحر والحلق) فتوی ورکول شو او که نه؟
اوس اوس شيخ لهند د ديوبند په هال کی ((المباحث الفقهيه)) تر عنوان لاندې په يو غونډه کې هم په دې مسئله باندې غور وشو. په دی کې د مبتلی به ضرورت په مطابق د صاحبينو په قول باندې د عمل کولو د ګنجائش تجويز منظور شوی دی چې متن يې په لاندې ډول دی:
دريم نمبر تجويز: رمی، ذبح او حلقق کې ترتيب: متمتع او قارن لپاره د ذبح او حلق ترمنځ د امام اعظم په قول باندې چې مفتی به دی ترتيب لازم دی، د دې پريښودلو سره دم واجبيږي، مګر د صاحبينو په نزد ترتيب سنت دی، د دی په پريښودلو سره دم واجب نه دی.
د نن سبا حجاج چې د پريشانوونکی عذرونو له کبله که ترتيب قائم ونه ساتلی شي نو د صاحبينو په قول باندې د عمل کولو ګنجائش موجود دی.
د شپږمې فقهی اجتماع تجاويز، اداره المباحث الفقهيه جمعيه علماء هند ۱۸/۱۷/۱۶ ذي قعده ۱۴۱۷ھ ۲۶_۲۷_۲۸ مارچ ۱۹۹۷ ع به مقام شيخ لهند هال ديوبند).
اميد دی چې تاسی په دی مسئله باندې مکرر غور کړئ او واضيح فتوی صادره کړی.
والسلام (مولانا) برهان الدين (صاحب) لکنهو، ۴ صفر ۱۴۱۸ھ.

(خواب): تاسی چې پخپل خط کې له ماته ترتیب بین الرمی والنحر والحلق باندې د زیات غور او فکر کولو لپاره لیکلی دي نو زه له زیات غور او فکر نه وروسته دغې نتیجې ته رسیدلي یم.

نن سبا د زیات هجوم او نور پریشان کن عذرونو له کبله د ترتیب د سقوط په متعلق ستاسی او د دیوبند د فقهی اجتماع فیصله خو غلط نه ده، مګر دا عامه فتوه نشي کیدلي دا باید یواځې معذورینو لپاره مخصوص کړی شي. د استطاعت په حالت کې د قرباني په ورکولو کې احتیاط دی. په رسائل الارکان کې دي:

ترتیب بین الرمی و النحر و الحلق:

ثم الترتیب بین الرمی والذبح والحلق واجب عند الامام ابی حنیفه رحمه الله لان الرمی من المناسك و كذا الذبح فیكونان قبل الخروج من الاحرام فیجب عند فوات الترتیب المذكور الدم عنده و قال الامام ابو یوسف و الامام محمد الترتیب سنه ولا یجب بفواته شئی و هذا اشبه بالصواب لماروی الشیخان عن ابن عباس رضی الله عنه ان النبی صلی الله تعالی علیه وآله وسلم قیل له فی الذبح والحلق والرمی والتقدیم والتاخیر فقال لا حرج و قدروی الشیخان عن عبدالله بن عمرو بن العاص ان رسول الله صلی الله تعالی علیه وآله وسلم وقف فی حجة الوداع بمنی للناس یسئالونه فجاء رجل فقال لم اشعر فنحرت قبل ان ارمی فقال ارم ولا حرج فما سئل النبی صلی الله تعالی علیه وآله وسلم یومئذا عن شئی قدم ولا آخر الا قال افعل ولا حرج والله اعلم بالصواب (رسائل الا ركان ص ۲۵۵ الرساله الرابعه فی الحج بیان الذبح و الحلق)

په هدایه اولین کې دي:

و كذا الخلاف فی تاخیر الرمی فی تقدیم نسك عن نسك لحلق قبل الرمی و نحر القارن قبل الرمی والحلق قبل الذبح لهما ان مافات مستدرك بالقضاء ولا یجب مع القضاء شئی اخرو له حدیث ابن مسعود رضی الله عنه انه قال من قدم نسكا علی نسك فعلیه دم لان التاخیر عن المكان یوجب الدم فی ما هو موقت بالمكان كالا حرام فكذا التاخیر عن الزمان فیما هو موقت بالزمن (هدایه باب الجنایات ج ۱ ص ۲۷۶).

یہ فتح القدیر کی دی

(قوله عما ان مافات مستدرك بالقضاء .... الخ) و لهما ايضا من المنقول ما فى الصحيحين انه عليه الصلوة والسلام وقف فى حجه الوداع فقال رجل يا رسول الله صلى الله تعالى عليه وآله وسلم لم اشعر فحلقت قبل ان اذبح ولا حرج و قال آخر يا رسول الله صلى الله تعالى عليه وآله وسلم لم اشعر و نحرت قبل ان ارمى، قال ارم ولا حرج ، فما سئل يومئذ عن شئى قدم ولا آخر الاقال افعل ولا حرج . والجواب ان نفى الحرج يحقق بنفى الاثم والفساد فيحمل عليه دون نفى الجزاء فان فى قول القائل لم اشعر ففعلت ما يفيد انه ظهر له بعد فعله انه ممنوع من ذلك فلذا قدم اعتذاره على سواله و الا لم يسال او لم يعتذر لكن قد يقال يحتمل ان الذى ظهر له مخالفه ترتيبه لترتيب رسول الله صلى الله تعالى عليه وآله وسلم فظن ان ذلك الترتيب متعين فقدم ذلك الاعتذار وسال عما يلزمه به فبين عليه الصلوه والسلام فى الجواب عدم تعيينه عليه بنفى الحرج و ان ذلك الترتيب مسنون لا واجب والحق انه يحتمل ان يكون كذلك و ان يكون الذى ظهر له كان هو الواقع الا انه عليه الصلوه والسلام عذرهم للجهل ، و امرهم ان يتعلموا مناسكهم و انما عذرهم بالجهل لان الحال كان اذذاك فى ابتدائه و اذا احتمل كلا منهما فالاحتياط اعتبار التعيين و الا خذبه واجب فى مقام الا ضطراب فيتم الوجه لا بى حنيفه و يويده ما نقل عن ابن مسعود رضى الله عنه من قدم نسكا عنى نسك فعليه دم بل هو دليل مستقل عند ناوفى بعض النسخ ابن عباس وهوالاعرف رواه ابن ابى سيبه عنه لفظه من قدم شيئا من حجه او آخره فليهوق دما وفى سنده ابراهيم بن مهاجر مضعف و اخرجه الطحاوى بطريق اخر ليس ذلك المضعف حدثنا ابن مرزوق حدثنا الخصيب حدثنا وهيب عن ايوب عن سعيد بن جبير عن ابن عباس مثله قال : فذا ابن عباس احد من روى عنه عليه الصلاة والسلام افعل ولا حرج لم يكن ذلك عنده على الا باجه بل على ان الذى فعلوه كان على

الجهل بالحکم فعذرهم و امرهم ان یعیدوا مناسکهم ...... الخ (فتح القدير مع الكفايه ج ۳ ص ٦٢ ، ٦٣ باب الجنايات).

د امام ابو حنیفه مسلک نهایت قوي دی، رمی او نحر د حج له عظیمو مناسکو څخه ده لهذا هغه باید نه په شوق او شایان شان سره ادا کړی شي، او هغه لپاره شایان شان او مناسبه طریقه دا ده چې حاجی ته د دی خبری یقین وشي چې هغه دغه مناسک د احرام په حالت کې ادا کړي دي،د ترتیب په نظر کې نه نیولو او د اسلامي بنک په ذریعه قرباني کولو کې په دی باندې عمل نشي کیدلې او له لوی فضیلت نه محرومیږي، د دی تائید د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روایت: ((من قدم نسكاً علی نسكٍ)) او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت: ((من قدم شيئًا من حجرة اواحر فلیهرق دماً)) څخه هم کیږي.

حج په ټول عمر کې یو ځل اداکیږي لهذا د هغه داسې ادا کول پکار دی څنګه چې حق یې دی. لهذا ځوان صحت مند او با همته خلک باید په مفتی به قول باندې د عمل کولو کوښش وکړي، او کوم خلک چې کمزور، ضعیف او معذور دی او په مفتی به په قول باندې عمل نشي کولې نو داسې ضعیف او معذور حضرات که د صاحبینو په قول باندې عمل وکړي نو ورته اجازه ده. حکومت دی د معلمینو، منتظمینو او پولیسو په ذریعه د دی انتظام وکړي په اوچته پیمانه د دی تشهیر هم وکړي، چې کمزور او معذور حاجیان وروسته پاتی شي او ځوانانو ته دی د حکومت له خوا داسې ورکړې شي چې هغوی بلا تکلف د حج مناسک بالترتیب ادا کړي او د ترتیب خیال ساتلو سره پخپله د قابل اعتماد طریق سره د قربانی انتظام هم وکړي. ضعفا، معذورین او کمزوری حاجیان دی د هغوی په وړاندې خنډ نه جوړیږي بلکی له هغوی سره په مخکې کیدو کې مرسته وکړي. پولیس دی هم له هغوی سره مدد وکړي او اسانیانی دی ورته برابر کړي. په داسې کولو سره دواړو لپاره سهولتونه پیدا کیږي. که چیرته په دی باندې عمل ونکړی شي نو مفتی به قول همیشه لپاره متروک العمل کیږي او د ابن مسعود او ابن عباس روایتونه پریښودل کیږي. د صاحبینو چې کوم استدلال دی فتح القدیر د هغه خواب داسې ورکړی دی معاندینو لپاره له امام ابو حنیفه نه د خلکو د بد ګمانه کولو فرصت پیدا کیږي چې له همیشه نه ورته ملاتړل ولاړ دی. فقط والله اعلم بالصواب.

(نوټ): که څیرته څوک دا اعتراض وکړي چې که حاجیان پخپله قرباني کوي نو د زرګونو څارویو غوښه ضایع کیږي، په دې د الله تعالی د لوی نعمت ناقري دی. د دې برعکس که دویم قول باندې عمل وکړی شي چې په هغه کې ترتیب واجب نه دی نو د دغه عظیم نعمت د ضایع کیدو مخه نیول کیدای شي.

پر څمکه د یوې نوري د غورځیدو او د هغه اوچتولو او خوړلو، همدغه راز د لوښي د صافولو هدایات له محمد صلی الله علیه وسلم منقول دي کله چې د یوې نوري ډوډۍ دومره قدر دی نو د لکونو حلال شویو قرباني څارویو د غوښې به څومره اهمیت دي.

د هغوی د دغه وینا په ځواب کې دا عرض دی چې که حاجیان صاحبان د مسافري له کبله د غوښې صحیح انتظام نشي کولې خو دیته د نعمت ناقدري نشي ویل کیدلې او نه هم لدینه ناقدري مقصود دی. د یوې نوري ډوډۍ د غورځیدو او د قدرت لرلو با وجود نه اوچتول ناقدري دی، په مسئوله صورت کې د حاجي مقصد دا دی چې خپل مهم عبادت په غیر مشتبه توګه ادا کړي، که لدینه وروسته هغه د غوښې صحیح انتظام نشي ولې نو هغه معذور دی هغه ته ناقدري نشي ویل کیدای. (انماالاعمال بالنیات) په دې خبره خو ټول خلک پوهیږي چې قرباني د وینې تویولو نوم دی او د وینې په تویولو قرباني ادا کیږي، حاجي صاحبان د دې مکلف دي چې په صحیح ډول عبادت وکړي، لدینه وروسته د قرباني د غوښو انتظام کول د حاجیانو کار نه دی، ځکه چې هغوی مسافر دي او مسافر لپاره په شریعت کې زیات رخصتیاني دي، دا د حکومت ذمه واري ده چې د قرباني د غوښو انتظام وکړي، حجاج میلمانه وي او حکومت کوربه، انتظام کول د کوربه مسئولیت دی. که دا وویل شي چې حکومت لدینه قاصر دی نو دا خبره په ظاهره صحیح نه ده ځکه چې حکومت په یوه شیبه کې د زرګونو خیمو بندوبست کولی شي نو ایا د غوښو د سنبالولو انتظام نشي کولې؟

(۲): په ازاده ذبح کې یوه ګټه دا هم ده چې مقامي او خارجي غربا حبشي و غیره په غرونو کې ناست وی او کله چې کوم حاجي قرباني کوي نو هغوی په منډه راځي او د قرباني څاروی له ځان سره وړي، که چیرته ټول خلک په مذبحه خانه کې قرباني وکړي نو دغه غریبان به څه خوري، هغوی بیچارګان خو محروم پاتې کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

د حج بدل په متعلق احکام

پخپل ژوند کې دی بدل حج په چا وکړي او که نه؟

(۱۳۲_ سوال): که يو سړی د ناروغی يا کمزوري په وجه پخپل ژوند کې پر چا بدل حج وکړي د هغه حج معتبر دی او که نه؟

(خواب): حج يې معتبر دی، ليکن که عذر يې ختم شو نو بيا به پخپله حج ته ځي.

(کما قال فی الدر المختار حتی تلزمه الا عادة بزوال العذر (رد المختار ج ۲ ص ۳۲۷ باب الحج عن الغير).

و فی الدر المختار فجاز حج الضرورة (الی ان قال) کالمراهق . وغير هـــم اولی لعدم الخلاف (رد المختار ج ۲ ص ۳۳۱ باب الحج عن الغير مطلـــب فی حـــج الصروره).

له وصيت نه بغير بدل حج کولی شي او که نه؟

(۱۳۳_ سوال): حج ورباندې فرض و ليکن وصيت يې ونکړ نـو د هغه وارثـانو لـه خپل مال نه د هغه لپاره څوک حج ته ليږلی شي او که نه؟

(خواب): بالکل کولی شي چې هغه لپاره څوک حج ته وليږي ۱ او پخپله د مړي لـه مال نه هم څوک حج ته ليږلی شي چې هغه لپاره بدل حج وکـړي مکـر دا ضـروري ده چې ټول ورثاء ورباندې رضا وي ځکه چې په ترکه کې د ټولو حـق دی لـيکن د نابالغو وارثانو رضا صحيح نه ده.[1]

که حج بدل ته تلوونکی سړی ناروغ شي نو څه وکړی شي؟

(۱۳۵_ سوال): که حج بدل ته تلوونکی سړی ناروغ شي نو هغـه تـه د دی اختيـار شته او که نه چې ځان ته نائب ونيسي؟

---

[1] - ((و منها الا مر بالحج فلا يجوز حج الغير عنه بغير امره الا الوارث يحج عن مورثه بغير امـــره فانـــه يجزيـــه (فتاوی عالمگيری الحج عن الغير ج ۱ ص ۲۵۷))

((وقدمنا ان الوارث ليس له الحج بمال الميت الا ان تجيز الوارثه وهم كبار لان هذا مثل التبرع بالمـــال فالظـــاهر تقيـد حج الوارث هنا بذلك ايضاً تامل (شامی باب الحج عن الغير ج ۲ ص ۳۳٤)).

(خواب): که چیرت د دا مریض چا چې د بدل حج کولو لپاره استولی دی اجازه وي نو هغه نائب نیولي شي،لهذا دا اولی دی چې ورته ووایی چې څنګه تاته مناسب ښکاري همغسې وکړه. په در مختار کې دي:

(واذا مرض المامور) بالحج (فی الطریق لیس له دفع المال الی غیره لیحج) ذالک الغیر (عن المیت الا اذا) اذن له بذالک بان (قیل له وقت الدفع اصنع ما شئت فیجوز له (درمختار مع الشامی ج ۲ ص ۲۳۲ ایضاً).

که حج بدل ته تلوونکی سړی مړ شي نو څه حکم یې دی؟

(۱۳٦۰_ سوال): د یو وفات شوي شخص د وصیت مطابق مو یو تن حج بدل لپاره واستاو، لیکن له بده مرغه د ذی الحجې له نهم تاریخ نه وړاندې مړ شو او حج یې ونکړی شو، ایا اوس د مرحوم له مال نه د بل سړی لیږل ضروري دی او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): ترڅو پورې چې د مرحوم د ترکې دریمې حصې نه د دی ګنجائش وي د حج بدل ادا کول ضروری دی. یعنی که حج بدل ته تللی سړی له وقوف عرفات نه مخکې مړ شي نو د مرحوم چې څه ترکه پاتې ده د هغه له دریمې حصې نه که حج لپاره پیسې برابریدلې نو حج ته دی بل څوک ولیږي، که چیرته له دریمې حصې نه نه پوره کیدلې نو له کوم ځای نه چې حج کولی شي له همغه ځای نه دی څوک ولیږي، بیا څومره کرته چې داسې صورت مخې ته راشي بیا بیا دی حج کولو لپاره ولیږي ترڅو چې د مرحوم د دریمې حصې ترکه خلاص شي یا دومره لږه پاتی شي چې په هغه حج نشي کیدلې نو د هغه وصیت د عمل وړ نه دی. که چیرته د حج بدل پیسې څوک غلا کړي بیا هم همدغه حکم یې دی.

قال (و ان مات) المامور (او سرقت نفقته فی الطریق) قبل وقوفه (حج من منزل آمره بثلث ما بقی) من ماله فان لم یف فمن حیث یبلغ فان مات او سرق ثانیا حج من ثلث الباقی بعد ها هکذا مرة بعد مره اخری الی ان لا یبقی عن ثلثه ما یبلغ الحج فتبطل الوصیة (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۲۳۹ مطلب فی حج الضرورة).

حج بدل کوونکی شخص دی له کوم خای نه احرام وتړي؟

(۱۳۷_ سوال): یو سړی وفات شو خو هغه وصیت نه و کړي لیکن د هغه بنځي پخپلو پیسو له وطن نه د یو تن حج ته د لیږلو اراده کړی ده، هغه سړی د دریاب له لاری په کشتۍ کې تلل غواړي، هغه به په میقات کې له ټولو سره احرام تړي، که چیرته د هغه اراده مدینې ته تلل وي او هغه د حج له ورخونه وړاندې مکې معظمې ته راځي، اوس سوال دا دی چې هغه دی مدینې ته د احرام په حالت کې لاړ شي؟ په دی باره کې معلومات راکړئ. ښنګه نیت دی وکړي او د سفر په دوران کې چې کوم خرچ کیږي د هغه په باره کې رڼا واچوئ.

(خواب): که چیرته لیږونکی سړی اجازه ورکړی وي نو لومړی مدینې ته په تللو کې څه حرج نشته، کله چې لومړی مدینې ته د تللو اراده لري نو د احرام ضرورت نشته، له مدینې نه دی مکې ته لاړ شي نو ذوالحلیفه له احرام وتړي (چې بیر علی ورلـه وبل کیږي) دا د مدینې د اوسیدونکو خلکو میقات دی، له هغه خای نه دی د حج احرام وتړي، که لیږونکې د حج او عمرې دواړو اجازه ورکړی وي نو قران هم کولی شي لیکن د قران قرباني به پخپلو پیسو کوي یعنی د قربانی پیسې به خپل جیب نه ورکوي.

کله چې د احرام په وخت نیت وکړي نو د چا له طرف نه حج کوي د هغه نوم دی واخلي.

د حج په سفر کې دی په اعتدال سره مصرف وکړي، که له ضرورت نه زیات خرچه کوي نو د دی ذمه وار پخپله همغه دی، د حج نه فارغیدونه وروسته چې کومې نقدی پیسې او نور سامان پاتی شوې وي د هغه واپس کول ضروري دی، البته که لیږونکی سړی ورته هدیه کړی نو دا شیان د هغه کیږی.[1]

حج بدل لپاره تلونکی سړی دی کوم یو احرام وتړي؟

(۱۳۸_ سوال): حج بدل لپاره تلونکی سړی لپاره څه شي ضروري دی، د افراد احرام وتړي او که د تمتع احرام هم تړلی شي؟ بینوا توجروا

---

[1] - ((و دم القران والتمتع والجنایه علی الحاج (در مختار مع الشامی باب الحج عن الغیر ج ۲ ص ۳۳۸)).

((و بشرط نیه الحج عنه ای الآمر فیقول احرمت عن فلان ولیست عن فلان (ایضا ج ۲ ص ۳۲۷).

(خواب): حج بدل ته تلونکی سړی دی صرف د افراد یعنی یواځې د حج احرام وتړي، که چیرته هغه د قران اجازه ورکړی نو قران هم کولی شي لیکن د قران دم (قربانی) خرچه پخپله غاړه اخلی ۱ د تمتع په باره کې اختلاف دی راجح او احوط دا دی چې د اجازی با وجود د تمتع احرام ونه تړی لیکن هله چې مجبوری وي.[1]

مکې مکرمې ته څو ورسید مګر له حج کولونه مخکې وفات شو.

(۱۳۹ـ سوال): په یو سړی باندې حج فرض و، د حج په اراده لاړ، کله چې مکې ته ورسید نو د حج ادا کولونه وړاندې وفات شو، نو د هغه حج ادا شو او که نه؟

(خواب): په کوم کال چې حج وربانديې فرض شوي که په همدې کال تللی وي او د حج ادا کولونه مخکې وفات شوې وي نو د هغه له ذمې حج ساقط شو، د حج بدل وصیت کولو ته ضرورت نشته، لیکن که حج له مخکې نه وربانديې فرض شوي وي مګر دوه دری کاله بعد حج ته لاړ نو د حج بدل وصیت وربانديې واجب دی، که وصیت ونکړي نو ګنهګاریږي.[2]

---

[1] - ((و دم القرآن والتمتع والجنایه علی الحاج ان اذن له الامر بالقرآن والتمتع والا فیصر فخالفاً قال فی الشامیه تحت قوله فیصیر مخالفا هذا قول ابی حنیفه ووجهه ان لم یات بالمامور به لانه امره بسفر یصرفه الی الحج لاغیر (در مختار مع الشامی باب الحج عن الغیر ج ۲ ص ۳۳۹).

۲ ((په غنیه المناسک کې دی چې له میقات نه احرام تړل په اصل کې فی نفسه شرط نه دی بلکې د آمر د امر نه مخالفت نه د بچ کیدو لپاره دی ، همدغه راز ملا علي قاري په مناسک کې لیکلی دي چې : میقات اصلاً د حج لپاره شرط نشي کیدلې ترڅو پورې چې د دی د شرط کیدو لپاره صریح دلیل نه وي. افراد، قران یا تمتع څخه هر یو حج چې وکړي په دی سره د آمر حج جائز کیږي اګر چې تمتع حج وکړي څکه چې مامور د آمر له امر نه مخالفت نه دی کړې، لیکن بیا هم احتیاط په دی کې دی چې په حج بدل کې تمتع ونکړی شي څکه چې دا مسئله اختلافی ده څکه چې په دی کې دا شرط دی چې سفر مامور به لپ وکړی شي، یعنی که حج لپاره امر یې کړی وي نو لومړی دی حج وکړي. که لومړی یې عمره وکړه نو ګویا دا سفر مامور به لپاره نه شو.))

[2] - ((و اذا اجمعوا انه لو تراخی کان اداء و ان اثم بموته قبله قال فی الشامیه تحت قوله و ان اثم بموته قبله ای بالاجماع کما فی الریلعی اما علی قولهما فظاهر وما علی قول محمد فانه و ان لم یاثم بالتا خیر عنه ولکن بشرط لا اداء قبل الموت فاذا مات قبله طهرانه ام قیل من السنه الاول و قیل من الاخیره ..... الخ (شامی باب الحج عن الغیر ج ۲ ص ۱۹۲)).

که مریض یو څوک حج بدل لپاره لیږي او بیا ښه شي؟

(۱۴۰_ سوال): یو مریض شخص خپل فرض حج په بل چا باندې وکړه، مګر وروسته بخپله روغ رمټ شو نو دا به حج کوي او که نه؟

(ځواب): دا به بخپله حج ته ځي او خپل فرض حج به بخپله ادا کوي[1]

که روغ سړی د بدل حج لپاره بل څوک ولیږي نو څه حکم یې دي؟

(۱۴۱_ سوال): یو روغ رمټ سړی بخپله حج ته د تللو پر ځای بل څوک ولیږلو، او بیا دائم العذر شو تر مړ کیدو پورې عذر یې لرې نشو، نو دغه مذکوره حج یې صحیح دی او که نه؟

(ځواب): د هغه دغه بدل حج معتبر نه دی ځکه چې د صحت په حالت کوم حج یې چې په بل چا کړی دی هغه صحیح او معتبر نه دی، لـه معـذور کیدونـه وروسـته باید د حج بدل وصیت کړی وای، که وصیت یې نه وي کړی نو ګنهګار دی.[2]

د حج بدل فاسد کیدو نه وروسته دوباره حج کولو سره حج بدل نه ادا کیږي.

(۱۴۲_ سوال): که چیرته حج بدل کوونکی سړی له عرفات نـه مخکـې لـه خـپلې ښځې سره جماع وکړي او حج فاسد کړي نو اوس که دویم کال ته بیا حج وکړي نو دا حج بدل شو او که نه؟

(ځواب): له وقوف عرفات نه مخکې په جماع کولو سره حـج خـو فاسـدیږي لـیکن بقیه مناسک به پوره کوي، او له خپل مال نه به قربانی کوي، بیا راتلـونکی کـال تـه پخپلو پیسو سره د حـج قضـا راوړل ضـروري دی او دا حـج بـه پخپلـه د دی لپـاره

---

[1] - ((قوله حتی تلازم الا عادة بزوال العذر ای العذر الذی یرجی زواله کالحبس والمرض (شامی باب الحج عـــن الغیره ج ۲ ص ۳۲۷)).

[2] - ((و منها ان یکون المحجوج عنه عاجزا عن الاْ داء بنفسه وله ما لا فان قادرا علی الا داء بنفسه بـــان کـــان صحیح البدن وله مال او کان فقیرا صحیح البدن لا یجوز حج غیره عنه (فتاوی عالمکگیری عـــن الغـــیر ج ۱ ص ۲۵۷)).

شمارل کیږي، بدل حج یې نه کیږي، که دریم کال ته دریم حج د حج بدل کوونکی له طرف نه ادا کړی نو حج بدل یې ادا کیږي که نه نو نه ادا کیږي. په درمختار کې دي:

(وضمن النفقة ان جامع قبل وقوفه) فیعید بمال نفسه (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۳۳۹ باب الحج عن الغیر)

که د سترګو معذور حج بدل کولونه وروسته ښه شو نو څه حکم یې دی؟

(۱۴۳ـ سوال): په سترګو کې د ګل د پیدا کیدو له کبله یې نظر نه لګیده نو ځکه یې د حج بدل لپاره بل څوک ولیږه، وروسته چې اپریشن یې وکړه نو ښه شو، نو د هغه مخکنی حج بدل صحیح شوی دی او که نه؟

(ځواب): کوم عذر او مرض په وجه چې بدل حج کولی شي له هغه نه هغه عذر مراد دی چې له هغه نه د ښه کیدو امید نه وی او تر مرګه پورې هغه عذر پاتې شي، لکه ړوند والې داسې دائمي عذر وی چې تر مرګه نه ښه کیږي، که داسې دائمي عذر له امید نه خلاف ښه شي نو بدل حج یې صحیح دی او دویم حج وربانـدې نشته، مګر د سترګو ګل داسې بیماری نه دی چې ښه نشي اکثر د اپریشن نه وروسته ښه کیږي. لهذا د داسې عذر په حالت کې چې په بل چا باندې حج بدل کړی دی، هغه کافي نه دی، وربانـدې ضروری دی پخپله حج ته لاړ شي. البته که دا ناروغی داسې حد ته رسیدلی وچې د بیا روغیدو هیڅ امکان نه ښکاره کیده، بیا وروسته د الله په قدرت سترګی روغی شوې نو په دی صورت کې چې کوم بدل حج یې کړی و هغه کافي دی، فرض یې ادا شوی دی دوباره حج وربانـدې ضروري نه دی.
شامی ج ۲.[1]

[1] - ((هذا ای اشتراط دوام العجز الی الموت اذا کان العجز کالحبس والمرض یرجی زواله ای یمکن و ان لم یکن کذلك کالعمی والزمانه سقط الفرض بحج الغیر عنه فلا اعاده قال فی الشامیه تحت قوله حتی تلزم الا عاده بزوال العذر الذی یرجی زواله کالحبس والمرض (باب الحج عن الغیر ج ۲ ص ۳۲۷)).

ایا نفلي حج په بل چا باندې کولی شي او که نه؟

(۱۴۴ـ سوال): که یو سړی بلا عذره نفلي حج پخپله ونکړي بلکی په بل چا باندې وکړي نو د هغه دا حج کیږي او که نه؟

(خواب): نفلي حج لپاره عذر شرط نه دی‌لهذا له عذر نه بغیر هم نفلي حج په بل چا باندې کولی شي. (فتاوای عالمگیري ج ۱ ص ۲۵۷)[1].

د فرض حج له ادا کولونه مخکې وفات شو نو وصیت دی وکړی او که نه؟

(۱۴۵ـ سوال): حج فرض شو خو د ادا کولو وخت یې پیدا نکړ او مړ شو، نو پر هغه د بدل حج کولو وصیت ضروری دی او که نه؟

(خواب): که چیرته د حج د ادا کولو وخت یې نه وي پیدا کړي او مړ شوي وي نو د هغه له غاړی نه حج ساقط شوی دی. لهذا د بدل حج کولو وصیت وربانـدې ضروري نه دی. همدغه حکم د سفر په وخت کې د مړ کیدوونکی حاجی دی، او که چیرته د حج فرض کیدونه کال دوه کال وروسته مړ شو نو پر هغه د بدل حج کولو وصیت لازم دی. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا ښځه د بدل حج لپاره تللی شي؟

(۱۴٦ـ سوال): ایا ښځه د بدل حج لپاره تللی شي او که نه؟

(خواب): په دی شرط تللی شي چې خاوند یا بل کوم محرم ورسره ملګري وي، لیکن د نر سړی لیږل افضل او اولی دی.[2]

د بدل حج لپاره دی څنګه سړی ولیږي؟

---

[1] - ((و انما شرط العجز المنوب للحج الفرض لا للنفل کذا فی الکنز ففی الحج النفل تجوز النیابه حاله القـدره لان باب النفل اوسع (فتاوی عالمگیری الحج عن الغیر ج ۱ ص ۲۵۷)).

[2] - ((فجاز الحج الصروره بمهلیه من لم یحج والمراه ولو امه (در مختار مع الشامی باب الحج عن الغیر ج ۲ ص ۳۳۱)).

(۱۴۷ـ سوال): یوې مالدارې ښځې له خپلوانو نه یو داسې سړی بدل حج لپاره واستاوه چې هغه لدینه مخکې حج نه دی کړی، ایا دا بدل حج شو او که نه؟
(۲): حج ته تلونکی سړی غریب او پر هغه حج فرض نه و، ایا هغه د بدل حج لپاره تللی شي او که نه؟ او دا حج به د هغه لپاره کیږي او که بدل حج استوونکی لپاره؟ اوس هغه له حج کولونه وروسته مالداره شوی دی، نو پخپله به د فرض حج لپاره ځي او که نه؟
(۳): حج بدل ته تلوونکی سړی مالداره او پر هغه حج فرض و، لیکن ادا کړی نه و، نو په دی صورت کې خپل حج یې وشو او که بدل حج یې وشو؟ که خپل حج یې نه دی شوی نو ایا د خپل حج لپاره به ځي او که نه؟ په حج بدل کې د حاجی سړی لیږل ښه دي او که یو داسې سړي چې مخکې حج یې نه وي کړی؟ بینوا توجروا.
(ځواب): په مسئوله صورت کې حج یې شوی دی د دوباره حج ضرورت نشته.
(۲): تللی شي، خو بهتر نه دی. په دی صورت کې د حج بدل کوونکی حج کیږي نه د هغه خپل حج، البته د مالدار کیدونه وروسته به پخپله حج ته ځي.
(۳): دا حج د هغه چا لپاره شوې دی چې چا د بدل حج کولو لپاره لیږلی دی، دا به د خپل فرض حج لپاره پخپله ورځي. په شامي کی دي:
قال فی الفتح بعد ما اطال فی الاستدلال والذی یقتضیه النظر ان حج الضرورة عن غیره ان کان بعده تحقق الوجوب علیه یملك الزاد والراحله والصحه فهو مکـــروه کراهة تحریم ....الخ (ج ۲ ص ۳۳۱ باب الحج عن الغیر)
پر چاچې پخپله باندې حج فرض وي د بدل حج لپاره د هغه لیږل تنزیهی مکروه دی او تلوونکی سړی لپاره تحریمی مکروه دی. ځکه چې خپل فرض حج پریږدي او د بل چا بدل حج لپاره ورځي. لومړی باید هغه خپل حج ادا کړي، د حج بدل لپاره اولی او غوره دا ده چې هرچا خپل فرض حج کړی وي او د حج له احکامو نه

واقف وي، هغه دی ولیږي. د حج بدل مسائل زیات مشکل او نازک دي. جاهل سړی په غلطی کولو سره حج بدل فاسد او بربادوي. (شامی ج ۲ ص ۳۳۱).[1]

ایا حج بدل له وطن نه کول ضروري دی؟

(۱۴۸ـ سوال): څو تنه په هندوستان کې وفات شوي دي. زه غواړم چې د هغوی د بدل حج لپاره لندن نه کسان ولیږم نو ایا په دی سره بدل حج صحیح کیږي او که نه؟

(ځواب): که په مړ شویو کسانو باندې حج فرض وي او هغوی د بدل حج وصیت کړی وي او د هغوی په پیسو بدل حج لپاره کسان استوئ نو له هندوستان نه لیږل ضروري دی، له لندن نه په لیږلو حج بدل نه صحیح کیږي. که چیرته مړ شویو کسانو له لندن نه د لیږلو وصیت کړي وي نو بیا صحیح دی. ۲ همدغه راز هغوی د وصیت نه بغیر وارثان له خپل طرف نه او له خپل پیسو نه د هغوی لپاره بدل حج کول غواړي نو له هرځای نه چې لیږل غواړی، لیږلی شي، مګر له وطن لیږل ښه کار دی.[2] فقط والله اعلم بالصواب.

د بیمار سړی زوی حج بدل کولې شي او که نه؟

(۱۴۹ـ سوال): ایا د ناروغ سړی زوی بدل حج لپاره تللی شي او که نه؟

(ځواب): که چیرته پلار یې د هغه د خدمت محتاج نه وی نو تللی شي لیکن که هغه حج نه وي کړی نو ورته مکروه دی، که چیرته پر هغه خپل حج فرض وی نو

---

[1] - ((لکنه یشترط لصحه النیابه اهلیة المامور لصحه الافعال ثم فرع علیه بقوله مجاز حج الصروره قال فی الشامیه تحت قول لصحۃ الافعال عبر بالصحه دون الوجوب لیعم المراهق فانه اهل الصحة دون الوجوب قوله ثم فرع علیه ای علی ان الشرط هو الاهلیة دون اشتراط ان یکون الما سور قد حج عن نفسه (باب الحج عن الغیر))

[2] - ((وهی نیة الحج و ان یکون الحج بمال الموصی او باکثره لا تطوعا و ان یکون راکبالا ما شینا و یحج عنه من ثلث ماله سواء فید الوصیة بالثلث بان اوصی ان یحج عنه بثلث ماله بان اوصی بان یحج عنه هکذا ف البدائع فان لم بین مکانا یحج عنه من وطنه عن علی لنا ...... و ان یحج عنه من موضع کذا من غیر بلده یحج عنه من ثلث ماله و رجوعه (فتاوی عالمگیری الحج عن الغیر ص ۲۵۹)).

خپل حج پرېښودل او د بل د بدل حج لپاره تلل مکروه تحریمي دی. او که حج ورباندې فرض نه وي نو مکروه تنزیهي دي. د دی حواله یو سوال وړاندې تیر شوی دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د ښځې حج بدل دی څوک وکړي؟

(۱۵۰ ـ سوال): (۱): ایا ښځه د حج بدل لپاره ښځه ولیږي او که کوم نر سړی ولیږي؟

(۲): ایا په حج بدل کې کوم حاجی ولیږي او که هغه څوک چې لا تر اوسه حج یې نه دی کړی؟

(۳): مرحومې دوه زره روپۍ پرینې دي او د حج د سفر کرایه ۳۰۰۰ روپۍ ده، دا دی څنګه حل کړی شي.

(۴): ایا دا صحیح ده چې که حج بدل ته تلونکی سړی په لاره کې مړ شي یا له حج ادا کولو نه وروسته خپل وطن ته واپس رانشي نو دا حج یې نه قبلیږي؟

(۵): اوریدلي مې دي چې د مکې او مدینې خلک هم بدل حج کوي، ایا دا قسم بدل حج صحیح دی؟

(ځواب): (۱): د ښځې بدل حج ښځه کولې شي مګر که سړی یې وکړي نو دا افضل دی.

(۲): چاچې خپل حج نه دی کړی پر هغه بدل حج کول مکروه دی،لهذا اولی دا ده چې بدل حج لپاره داسې سړی ولیږل شي چې هغه خپل حج کړی وي. (حواله دو سواله وړاندې تیره شوی ده.)

(۳): دا چې دوه زره روپۍ د لاری خرچه نه کیږي یعنی د حج او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روضې مبارکې لپاره ناکافي دي نو یواځې حج دی ادا کړی شي ترڅو مرحومه یې حج له فرضیت نه آزاده شي.

(۴): که د حج ادا کولونه مخکې مړ شي نو حج یې ونه شو، لیکن که چیرته له حج کولونه وروسته هلته یا په لاره کې مړ شي نو حج یې شوی دی.

(۵): که دومره روپۍ یې پریښې وي چې له مکې یا مدینې ورباندې حج کیدلې شي نو له همغه ځای نه دی څوک ولیږي، یا د څوک بلا وصیت له خپل طرف نه پر چا شرعاً حج وکړي نو له کوم ځای نه چې وغواړي ورباندې کولې شي. والله اعلم بالصواب.

که چیرته یو داسې سړی بدل حج ته لاړ شي چې حج یې نه وي کړی نو د هغه څه حکم دی؟

(۱۵۱ سوال): مونږ دری ورونه یو، زمونږ حالت ښه دی، مونږ زکات ورکوو، زمونږ مشر ورور حج کړی دی، اوس وړوکی ورور د بدل حج لپاره تللی شي او که نه؟ هغه خپل فرض حج نه دی ادا کړی، که تللی شي نو ښکه او ولی؟

(ځواب): چا چې خپل فرض حج نه دی ادا کړی هغه لپاره بدل حج ته تلل او یا لیږل تنزیهی مکروه دی، او که هغه مالدار وي او حج ورباندې فرض وی نو د خپل حج پرینبودل او د بدل حج لپاره تلل تحریمی مکروه دی. اګر چې بدل حج ادا کیږي.

((فجاز حج الضروره) (تنویر الابصار) قال في البحر والحق انها تنزیهیه علی الآمر لقوٖلهم و الافضل ..... الخ تحریمه علی الضروره الما مور الذی اجتمعت فیه شروط الحج ولم یحج عن نفسه لا نه اثم بالتاخیراه (شامی ص ۳۳۱ ج ۲ باب الحج عن الغیر).

د حج بدل طریقه:

(۱۵۲_ سوال): یو سړی د بدل حج لپاره روان دی، هغه دی کوم یو حج وکړي، ایا هغه حج تمتع کولې شيٰ او که نه؟ که تمتع نشي کولې نو د حج بدل کولو آسانه طریقه ولیکی، لدینه علاوه کومو څیزونو خیال ساتل ضروري دی، په دی کې جائز ارکان څه دی؟

(ځواب):حج بدل کوونکی دی د حج قران نیت وکړي که د قران او تمتع اجازه ورته نشته خو که اجازه یې ورکړی وي نو د هغه په مطابق عمل کولې شي، مګر قران او تمتع دم دی پخپلو پیسو ادا کوي، لنډه دا چې له اجازی نه پرته قران او تمتع نشي کولې. دا دی هم په خیال کې وساتل شي چې حج بدل تلوونکی سړی دی په خوراک او څښاک او سفر کې احتیا نه کار واخلي، څه چې له هغه سره دي هغه ټول امانت دي، په دی کې د احتیا ضرورت دی، غیر مناسب فضول خرڅې دی نه کوي، له اجازې نه بغیر دی چاته خیرات هم نه ورکوي، د جنایت دم دی پخپل ححان ومني. فقط والله اعلم بالصواب.

خپل فرضي حج پرېښودل او د مور او پلار لپاره بدل حج کول:

(۱۵۳_ سوال): په زيد باندې حج فرض شوی دی مګر هغه غواړي چې لومړی د پلار لپاره بدل حج وکړي او خپله ښځه د مور د بدل حج لپاره له ځان سره یوسي، ایا زيد لپاره داسې کول جائز دي او که نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب): دا چې په زيد باندې حج فرض دی نو پر هغه لازم دي چې په همدې کال کې د خپل فرض حج ادا کولو لپاره حج ته لاړ شي، له څه شرعي عذرنه پرته کال دوه کاله وروسته کولو سره سړی فاسق او ګنهګاريږي، او که حج ادا ونکړی شي نو سخت ګنهګار دی.[1]

لهذا لومړی دی خپل حج ادا کړي که ښځه يې حج نه وي کړی نو هغه دی هم له ځان سره یوسي چې هغوی خپل فرض حجونه کړي وي او د حج له مسائلو نه خبر وي، او که ګنجائش وی نو بيا دی بل کال ته د خپل مور او پلار د بدل حج لپاره ښځه او خاوند لاړ شي. خپل فرض حج پرېښودل د بدل حج لپاره تلل تحريمي مکروه دی.

حج الضرورة عن غيره ان كان بعد تحقق الوجوب عليه بملك الزاد والراحلة والصحة فهو مكروه كراهه تحريم ..... الخ (شامی ج ۲ ص ۳۳۱ باب الحج عن الغير).

که په مور او پلار باندې حج فرض نه وي يا وي خو وصيت يې نه وی کړی او پيسې يې هم په ترکه کې نه وي پرېښې نو هغوی لپاره د بدل حج کول واجب نه دی، که اولاد يې خوشاله وي نو د هغوی لپاره بدل حج کول ډير د نيکۍ او سعادت خبره ده، د الله تعالى له ذات نه اميد دی چې قبول يې کړي، که له وطن نه بدل حج نشي کولي نو په مکه کې اوسيدونکو خلکو باندې دی وکړي، انشاء الله مور او پلار ته به ثواب ورسيږي. فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ((على الفرر فى العام الاول عند الثانى واصح الروايتين عن الامام و مالك و احمد فيفسق و تــرد شــهادته بتاخيره اى سنينا ...... و لذا اجمعوا انه لو تراخى كان اداء و ان اثم بموته قبله (در مختار مع الشـــامى كتــاب الحج ج ۲ ص ۱۹۲)).

د حج بدل نیت دی له کوم ځای نه وکړی شي؟

(۱۵۴ سوال): د مرحوم جهانګیر خپلوان ما د بدل حج لپاره لیږل غواړي، نو زه د حج نیت له کوم ځای نه وکړم، له میقات نه یا د بمبی له هغه ځای نه چیرته چې د مرحوم جهانګیر ټکر (اکسیدنټ) شوی و؟

(خواب): د حج او عمرې نیت له میقات نه (چیرته چې احرام تړل کیږي) چې د احرام په وخت کې کولې شي، د اکسیدنټ له ځای نه نیت کول هیڅ معنی نه لري.[1] فقط والله اعلم باصواب.

که د حج په سفر کې د حج ادا کولونه وړاندې مړ شي نو د هغه څه حکم دی؟

(۱۵۵ـ سوال): په زید باندې له څو کلو راهیسی حج فرض و سږ کال د حج د ادا کولو لپاره له کورنه روان شو او بیت الله شریف ته ورسید، مګر د حج د ورځونه وړاندې وفات شو، په دی صورت کې زید له خپل فرض نه خلاص شو او که نه؟ بینوا توجروا.(له بمبی نه)

(خواب): که چیرته زید په همغه کال حج ته تللی وای په کوم کال چې په دی باندې فرض شوی و نو بدل حج وصیت ورباندې نه واجبیدو، لیکن څرنګه چې تاخیر سره حج ته تللی دی او د حج ارکان یې نه دی ترسره کړي،لهذا پر هغه د بدل حج وصیت واجب دی. په درمختار کې دي: (خرج) المکلف (الی الحج ومات فی الطریق و اوصی بالحج عنه) انما تجب الوصیه به اذا اٰخره بعد وجوبه اما لو حج من عامه فلا (در مختار) (قوله ومات فی الطریق) اراد به موته قبل الوقوف بعرفه ولو کان بمکه بحر (در مختار و شامی ج ۲ ص ٤٣٢ باب الحج عن الغیر)

---

[1] - ((ولب دبر الصلاه تنوی بها الحج ای لب عقبها ناویا بالتلبیه الحج بحر الرائق (باب الاحرام ج ۲ ص ۳۲۱))

که وصیت یې نه وي کړی نو که د هغه وارثان له خپل طرف نه بدل حج وکړي نو بهتر دی. فقط والله اعلم بالصواب.

که له وصیت نه بغیر د مور او پلار لپاره حج وکړ نو ایا د هغه حج ادا کیږي او که نه؟

(۱۵٦ـ سوال): زما په پلار باندې حج فرض و، هغه خپل او خپلې ښځې لپاره د حج فارم ډک کړي و، اتفاقاً اته ورځې مخکې زما پلار له دې دنیا نه سترګې پټې کړې، هغه ته دومره وخت پیدا نشو چې د بدل حج وصیت وکړي، زما پلار چې څومره مال پریښی دی له شرعی تقسیم نه وروسته هغه دومره نه دی چې حج وربانـدې وکړی شي اوس پوښتنه دا ده چې:

(۱): په دې صورت کې په ورثاء باندې بدل حج ضروری دی او که نه؟

(۲): که ضروری نه وي مګر وارثان چې ټول بالغان دي پخپله خوښه بدل حج وکړي نو د هغوی پر ځای ادا کیږي او که نه؟

(۳): که وارثان ټول پخپله خوښه خپل مور او یو ورور د پلار د بدل حج لپاره ولیږي نو جائز دی او که نه؟

(۴): که بالکل اخري جهاز کی لاړ شي نو په دی وخت کې زما د مور د عدت دوه ورځې پاتی کیږي، نو مور مې حج ته تللې شي او که نه؟ بینوا توجروا (له احمد آباد څخه).

(ځواب): په پلار دی حج فرض و او په مور دی فرض نه و، لهذا د مور فکر مه کوئ بلکې د پلار فکر وکړئ، دا چې وارثان ټول بالغ دي او حج بدل کول غواړي نو ډیر ښه خبره ده، انشاء الله حج یې ادا کیږي. په شامی کې دي:

(الا اذا كان وارثا وكان على الميت حج الفرض ولم يوص به فيقع عن الميت عن حجه الاسلام للا مرد لالة وللنص بخلاف ما اذا اوصى به لان غرضه ثواب الا نفاق من ماله فلا يصح تبرع الوارث عنه الى قوله و اخرج الدار قطنى عن جابر رضى الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله تعالى عليه وآله وسلم قال حج عن ابيه ، امه فقد قضى عنه وكان له فضل عشر حج ...... الخ.

(شامی ج ۲ ص ۳۳۷ باب الحج عن الغير).

ضروري نه ده چې خپل مور حج ته ولیږئ ځکه چې پر هغې حج فرض نه دی، لیکن که وارثان یې غواړي نو لیږلی یې شي. خو په عدت کې سفر کول جائز نه دی و شرط و جوب الاداء خمسه علی الاصح، صحه البدن. الی قوله و عدم قیام العده الخ

(مراقی الفلاح ص ۱۴۴ کتاب الحج) فقط والله اعلم بالصواب ۲۰ شعبان المعظم ۱۳۹۹ھ.)

له مکې معظمې نه بدل حج کول:

(۱۵۷_ سوال): یو هغته کیږي چې یو شخص مړ شوې دی، پر هغه حج فرض نه و لیکن د هغه وراره چې په سعودی عرب کې ملازم دی خط واستاو چې زه د خپل تره لپاره بدل حج کوم، د مرحوم زوی له مانه غواړی چې په دې باره کې ورته معلومات درکړم، لهذا زه له تاسونه پوښتنه کوم چې ایا له مکې مکرمې نه د هغه لپاره بدل حج کول صحیح کیږي او که نه؟

(خواب): په کوم سړی باندې چې حج فرض وي نو هغه لپاره دی بدل حج له وطن وکړی شي، یعنی له وطن نه دی څوک ولیږل شي، لیکن په مسئوله صورت کې په مرحوم باندې حج فرض نه و، مګر د دی باوجود د هغه وراره هغه لپاره بدل حج کول غواړي نو له مکې نه هم کولې شي، له مکې معظمې نه په لږو پیسو باندې حج کیږي. که هغه له خپل تره زوی لپاره د ذریعه معاش انتظام هم کوي دا د ثواب کار دی. فقط والله اعلم بالصواب.

له وصیت نه پرته د بدل حج کول څنګه دی؟

(۱۵۸_ سوال): یو شخص وفات شو، پر هغه حج فرض و، اوس د هغه لپاره زوم بدل حج کول غواړي، ایا هغه داسې کولې شي او که نه؟ همدغه راز مرحوم نه د بدل حج وصیت کړی دی او نه یې شاته پیسې پریښې دی، که چیرته د هغه لپاره زوم حج ته لاړ شي یا بل څوک ولیږي هغه دی کوم یو احرام وتړي، د حج افراد او که د قران یا تمتع حج، کوم یوه یې بهتر دی؟

(خواب): کله چې مرحوم د حج بدل وصیت نه دی کړی او نه یې پیسې پریښې دي نو هغه لپاره بدل حج کول ضروري نه دی، خو که د هغه زوم یا نور خپلوان

هغه ته د ایصال ثواب په خاطر له خپلو پیسونه حج کوي نو ان شاء الله مرحوم ته زیات ثواب رسیږي.[1]

او څوک چې له هغه لپاره حج کوي هغه ته هم زیات اجر او ثواب ورکول کیږي، او که په مرحوم باندې حج فرض و نو له الله نه امید دی چې د هغه حج ادا کیږي.

په مسئوله صورت کې چې څوک حج ته ځي نو بهتر دا ده چې صرف د حج احرام وتړي که چیرت قانوني مشکلاتو له کبله قران او تمتع وکړی نو د دی هم ګنجائش دی. فقط والله اعلم بالصواب. ۲۰ شوال المکرم ۱۴۰۱ھ.

د مرحومی مور له طرف نه د بدل حج ادا کولو لپاره نیت وکړ خو بیا د سفر قابل پاتې نه شو، نو هغه دی څه وکړي؟

(۱۵۹_ سوال): ما د خپل مړی مور له طرف نه د بدل حج د اد کولو نیت کړی دی، هغه ماته وصیت نه و کړی بلکې زه له خپل طرف نه بدل حج کول غواړم، لیکن زه اوس د زړه ناروغ یم، حج ته تلل زما لپاره ډیر مشکل دی، که چیرت د حج پر ځای خپل مور ته د ایصال ثواب په خاطر کوم صدقه جاریه وکړم نو کولې شم او که نه؟

(ځواب): دا چې تا خپل مرحومه مور له طرف نه د بدل حج د ادا کولو نیت کړی و، مګر اوس د ناروغی له کبله تاسی پخپله حج ته نشئ تللی نو یو داسې صالح شخص دی د مور له طرف نه د بدل حج لپاره ولیږل شي چې هغه خپل حج ادا کړی وي، دا هله چې ستا په مور باندې حج فرض وي، او له ادا کولو نه پاتې شوي وي، امید دی چې د هغې حج به ادا شي. د مرحوم پلار او مرحومی مور له طرف نه د بدل حج کولو په حدیث کې لوی ثواب بیان شوی دی. په شامي کې یو حدیث دي:

اخرج الدار قطنی عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال رسول الله صلی الله تعالی علیه وآله وسلم من حج عن ابویه او قضی عنهما مغرما بعث یوم القیامه مع

---

[1] - ((و منها الامر بالحج فلا یجوز الغیر عنه ، بغیر امره الا لوارث یحج عن مورثه بغیر امره فانه (فتاوی عالمگیری الحج عن الغیره ج ۱ ص ۲۵۷))

الابرار و اخرج ایضاً عن جابرا انه علیه الصلوٰة والسلام قال من حج عن ابیه و امه فقد قضی عنه حجته و کان له فضل عشر حجج ، و اخرج ایضاً عن زید بن ارقم قال قال رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وآله وسلم اذا حج الرجل عن والدیه تقبل منه و منهما و استبشرت ارواحهما و کتب عند الله براً.)

یعنی دارقطنی له حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه شخص په باره کې وویل چا چې د خپل مور او پلار لپاره حج وکړی یا قرض یې ادا کړي، نو هغه د قیامت په ورځ د صلحاو په ډله کې پاځول کیږي.

له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم تن چې د خپل پلار یا مور له طرف نه حج وکړ نو هغه د هغه طرف نه حج ادا کړ، او هغه ته د دغه زیاتی حج ثواب وکول کیږي.

همدغه راز له زید بن ارقم نه رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړی چې د خپل مور او پلار له طرف نه حج ادا کړي نو د هغه د مور او پلار نه قبلولي شي او د هغوی روحونوته زیری ورکول کیږي او د الله په نزد هغه نیکی کوونکی لیکل کیږي.

لهذا تا چې کوم نیت کړي دی د هغه په مطابق باید عمل وکړی شي، که تاسې پخپله نشي تللی نو داسې پرهیزګار سړی د بدل حج لپاره ولیږئی چې خپل حج یې کړی وي، که لدینه علاوه د خپل حیثیت مطابق صدقه جاریه ورکړی نو دا نور علی النور دی، ستاسې د مور روح به ډیر زیات خوشالیږی او لوی اجر به ورته ورکول کیږي، تاسې هم له ثواب نه نه محروم کیږی انشاء الله تعالیٰ. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا نوي کلنه ښځه پخپل ژوند کې بدل حج ته څوک لیږلی شي او که نه؟

(۱۶۰_ سوال): په یوی ښځې باندې حج فرض و، مګر د محرم نه لرلو له کبله حج ادا نکړی شو، اوس د هغې عمر ۹۰ کاله دی، ډیره زیاته کمزوري ده، په پاڅیدو او کیناستیدو کې هم ډیر زیات ورته تکلیف ده، د سفر کولو خو بالکل طاقت نه لری،

ایا په داسې صورت کې هغه پخپل ژوند کې له خپل طرف نه بدل حج ته څوک لیږلی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کې چې ښځه ډیره بوډۍ او کمزوری ده او د سفر کولو توان نه لري نو هغه پخپل ژوند کې بدل حج کولی شي انشاء الله بدل حج یې ادا کیږي او الله تعالی یې پخپل دربار کې قبلوي. په شامی کې دي:

و من العجز الذی یرجی زواله عدم وجود المراه محرماً فتقعد الی ان تبلغ وقتاً تعجز عن الحج فیه ای لکبر او عمّی او زمانه فحینئذ تبعث من یحج عنهما اما لو بعثت قبل ذلك لا یجوز لتوهم وجود المحرم الا ان دام عدم العجز الی ان ماتت فیجوز کالمریض اذا حج رجلاً و دام المرض الی ان مات کما فی البحر وغیره. (شامی ج ۲ ص ۳۲۷ باب الحج عن الغیر تحت قوله کالحب والمرض).

په معلم الحجاج کې دي: د عاجز کیدو اسباب دا دي: مرګ، بندي کیدل، داسې مرض چې د ختمیدو امید یې نوي لکه فالج، وړوند والې، ګوډ کیدل او دومره بوډا کیدل چې په سورلۍ باندې د کیناستو قدرت ونلري، د ښځې لپاره د محرم نشتوالې، د لارې امنیت نشتوالی او د دغو ټولو عذرونو تر مرګه پاتې کیدل، د عجز د تحقق لپاره شرط دي. (معلم الحجاج ص ۳۰۳ حج بدل) فقط والله اعلم بالصواب.

بدل حج کوونکی دی کوم یو احرام وتړي؟

(۱۶۱_ سوال): مونږ له لندن نه بدل حج لپاره ځوو په دې کې د احرام څه حکم دی؟ ایا په بدل حج کې د عمرې په نیت احرام وتړي او مکې معظمې ته له رسیدونه وروسته له عمرې نه فارغیدونه بعد احرام پرانېزي او د حج په ورځو کې یعنې که د ذی الحجې له اتم تاریخ نه چې د حج احرام تړل کیږي په هغه وخت کې د حج بدل احرام وتړي نو حج بدل یې صحیح کیږي او که نه؟ همدغه راز که له عمرې نه وروسته احرام پرانستلی شي نو د هغه څه حکم دی؟

په حج بدل کې د قربانی تفصیل موږ ته ولیکئ، همدغه راز د ښځې لپاره څه حکم دی؟ مونږ د خپل وفات مور او پلار له طرف نه بدل حج کول غواړو، لهذا تاسې مهرباني وکړئ تفصیلی ځواب راکړئ.

(خواب): په حج بدل کې يواځې د افراد يعنى صرف د حج احرام ترل لازم دى، البته که له آمر له طرف نه اجازه وي نو د قران يعنى د حج او عمرې احرام تړل او بيا خان حلالول يعنى احرام پرانستل او بيا کله چې د حج ورځې يعنى د ذى الحجې اتم تاريخ وشي نو د حج احرام تړل او حج کول هم جائز دى. ليکن د قران او تمتع په احرام کې چې د شکر کوم دم واجبيږي د هغه ذمه وار مامور دى يعنى هغه دى له خپل مال نه قرباني کړي. په مفرد باندې قرباني نشته.

(و دم القران والتمتع والجنايه على الحاج) ان اذن له الامر بالقران والتمتع (قوله على الحاج) اى الما مور اما الاول فلانه وجب شكر اعلى الجمع بين النسكين (شامى ج ۲ ص ۳۳۰ باب الحج عن الغير)

څرنګه چې بدل حج ته تلوونکی سړی مسافر وي نو پر مسافر قرباني واجب نه دى، لهذا پخپل ځان باندې چې کوم واجب قرباني دى هغه هم د سفر په وجه معاف دى. د دى باوجود که څوک قرباني وکړي نو د ثواب مستحق دى.

لا تجب التضحية على حاج مسافر (در مختار مع الشامى ج ٥ ص ۲۷٥).

زما مشوره دا ده چې بدل حج ته تلوونکی شخص دى له آمر نه د هر قسم احرام اجازه واخلي او له ټولو نه مخکې مدينې منورې ته لاړ شي له هغه ځاى نه دى دويم يا دريم ذى الحجې کې دى ميقات ذوالحليفه څخه د افراد حج حرام وتړى بيا دى مکې ته راشي، په دى صورت کې اته ورځې په احرام کې تيريږي.

قال الشيخ الامام ابو بكر محمد بن الفضل رحمه الله تعالى اذا امر غيره بان يحج عنه ينبغى ان يفوض الامر الى الما مور فيقول حج بهذا المال كيف شئت ان شئت حجه و ان شئت حجه و عمرة و ان شئت قرآناً (فتاوى قاضى خان على هامش الهنديه ج ۱ ص ۳۰۷، زبده المناسك ج ۲ ص ۱٥۸)

بل صورت يې دا هم دى چې د عمرې احرام وتړي، له عمرې نه چې فارغ شي نو احرام دى پرانيزي، بيا دى د محمد صلى الله عليه وسلم د زيارت لپاره مدينه منورى ته لاړ شي، بيا دى د حج په ورځو کې له ميقات نه صرف د حج احرام وتړي او حج وکړي....

که چیرته ستاسې مرحوم پلار او مور باندې حج فرض نه و، یا ورباندې حج فرض و خو وصیت یې نه دی کړی، او تاسې له خپل طرف نه پخپله هغوی لپاره بدل حج کول غواړئ. نو تاسې پخپله خوښه حج افراد، قران یا تمتع نه چې هر یو احرام وتړئ صحیح دی، مګر د حج افراد احرام تړل او حج کول غوره دی.
(جواهرالفقه ۵۰۸/۱ په حج بدل کې د قران او تمتع بیان_ فتاوای محمودیه ۱۳ ۱۸۴) فقط والله اعلم بالصواب.

د حج بدل وصیت :

(۱٦۲_ سوال): مونږ دری ورونه یو، زمونږ مور په کال ۱۹۷۳ع د جنوري په پنځم تاریخ مړه شوې ده، مونږ به د خپل مور د حج لپاره فارم له دریو کلو راهیسې ډکوله، کله چې د هغې د حج فارم منظور شو نو هغه وخت زمونږ مور ډیره زیاته ناروغه وه، له هغه نه وروسته په حق ورسیده، له مړ کیدو نه وړاندې وصیت یې کړي و چې ما د حج لپاره کومې پیسې اېښې دي هغه دی استعمال نه کړی شي بلکې په دغو پیسو دی زما لپاره بدل حج وکړی شي.
اوس سوال دا دی: چې مونږ دری واړه ورونو تر اوسه پورې حج نه دی کړی ځکه چې پر مونږ لا حج نه دی فرض شوي، مونږ قرضدار هم یو، نو زمونږ د دغو ورونو څخه کوم یو بدل حج ته لاړ شي؟ او د کوم یو تلل غوره دی؟ د دی تفصیلي ځواب راکړئ.
(ځواب): د مرحوم د دریمې حصې مال نه بدل حج کول ضروري دی. که نه نو وارثان یې ګنهګاریږي، که دریمې حصې مال ناکافي وي نو له کوم ځای نه چې په یو ثلث سره حج کیږي له همغه ځای نه دی حج ته لاړ شي. مثلاً که له جده نه په دغو پیسو حج کیدلی شو نو له همغه ځای نه دی ځوک بدل حج ته ولیږي، یا دی له مکې نه څوک واستوي.
((و حج من منزل آمره بثلث مابقی) فان لم یف فمن حیث یبلغ (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۳۳۹ باب الحج عن الغیر).
که چیرته بالغ وارثان له خپل مال نه نوری پیسې یوځای کړي او د مرحومې لپاره له وطن نه څوک ولیږي نو بهتر دی. (د نابالغو وارثانو رضامندي معتبره نه ده.)

ترخو پورې چې ممکن وي نو د بدل حج لپاره دی داسې څوک واستوي چې خپل حج ادا کړی وي، چاچې خپل حج نه وي کړی د هغه لیږل تنزیهي مکروه دی، او مالدار شخص چې حج ورباندې فرض وي خو نه یې وي کړي د هغه لیږل تحریمي مکروه دی، که همداسې کوم غریب سړی یې واستاوه نو مکروه تنزیهي دی، البته داسې سړي چې حج یې کړی وي او د حج له مسائلونه خبردار وي پیدا نشي نو بیا مکروه نه دی.[1]

ستا په علم کې د زیاتوالي په خاطر لاندینۍ دوه فتوی هم وړاندی کوم:

د حضرت مفتي عزیز الرحمن صاحب مفتي اعظم دارالعلوم دیوبند فتوی:

(خواب): پر چا چې لومړی حج فرض شوی دی د هغه لیږل د بدل حج لپاره په اتفاق سره تحریمي مکروه دی او پر چا چې حج فرض نه وی او د کولو طاقت ورسره نشته، د ځینو علماو په نزد مکې معظمې ته د رسیدو په صورت کې ورباندې فرضیږي، لهذا د دغو علماو په نزد هغه هم د فرض د ترک کولو په وجه د تحریمي کراهت مرتکب دی، لکه چې شامي په ۳۳۲/۲ کې له بدائع نه منقول دی:

(یکره احجاج الضرورة لا نه تارك فرض الحج یفیدانه یصیر بد خول مکه قادرا علی الحج عن نفسه ..... الخ. _ قلت و قد افتی بالوجوب مفتی دارالسلطنة العلامه ابو السعود و تبعه فی سکب الانهر و کذافتی به السید احمد بادشاه و الف فیه رساله ..... الخ.

په هر حال چا چې خپل حج نه وي ادا کړی هغه ته بدل حج کول په هر صورت کې د کراهت نه خالي نه دی، غایه دا چې د ذی استطاعت نه کیدو په صورت کې د ځینو په نزد دا تنزیهي کراهت دی، او د هغو علماو په نزد چې مکې معظمې ته له رسیدو نه وروسته ورباندې حج فرض ګڼي تحریمي مکروه دی، او د ذی استطاعت

---

[1] - ((والا فصل ان یکون قد حج عن نفسه و حجة الاسلام خرجا عن الخلاف ثم قال و الا فضل احجاج الحر العالم بالمناسك الذی حج عن نفسه و ذکر فی البدائع کراهة احجاج الضرورة لا نه تارك فرض الحج .... و یحمل کلام الشارح علی الامر فیوافق ما فی البحر من ان الکراهة فی حقه تنزیهیة و ان کانت فی حق المامور تحریمیة (شامی باب الحج عن الغیر ج ۲ ص ۳۳۱).))

کیدو په صورت کې د ټولو علماو په نزد تحریمی مکروه دی. فط والله اعلم بالصواب.
(فتاوای دارالعلوم مدلل ومکمل ۵۷٦/٦_ ۵۷۷).
د حضرت مفتی سعید احمد صاحب سهارنپوري فتوی:
(ځواب): کوم سړی چې خپل حج نه وي کړی که هغه د بل چا له طرف نه حج وکړي نو حج یې کیږي، لیکن مکروه دی. (معلم الحجاج ص ۱۸۵).
همدغه راز د همدغه کتاب په حاشیه کې لیکلی دي چې ځینې علماء وایی چې پر هغه مکې مکرمې ته رسیدونه وروسته خپل حج هم ورباندې فرضیږي او هغه ته پکار دي چې هلته واوسیږي او راتلونکی کال ته خپل حج ادا کړي او دا مشکل دی، لهذا احتیاط په دی کې دی چې په داسې چا باندې دی بدل حج ونکړي چې هغه خپل حج یې نه وي کړی. فقط والله اعلم بالصواب.
په مذکوره صورت کې بدل حج ته تلوونکی سړی تمتع کولې شي او که نه؟ د

عمرې احرام دی د چا له طرف نه وتړي؟

(۱٦۳_ سوال): یو سړی د خپل مرحوم پلار له طرف نه بدل حج کول غواړي، زما په پلار باندې حج نه فرض و او نه هم هغه د بدل حج کولو وصیت کړی دی، په دی صورت کې بدل حج کوونکی شخص د لیږونکی په اجازی سره د تمتع حج کولې شي او که نه؟ که د تمتع ګنجائش وي نو د عمری احرام د چا له طرف نه وتړي؟ بینوا توجروا.
(ځواب): د چا له طرف نه چې بدل حج کولې شي، که پر هغه حج فرض نه وي او نه د بدل حج کولو وصیت کړی وي، او د هغه کوم خپلوان مثلاً زوی په خپلو پیسو د مرحوم له طرف نه د بدل حج لپاره ځوک ولیږي یا پخپله لاړ شي نو د لیږونکو په اجازی سره د حج بدل لپاره تلوونکی سړی تمتع حج کولې شي. البته د شکر قرباني به پخپلو پیسو کوي، که لیږونکی سړی پخپله خوښه ورته د شکر قربانی پیسې ورکړی نو ورکولې شي او که هغه ورنکړي نو د بدل حج لپاره تلوونکی سړی د قربانی پیسې ترینه نشي غوښتلې.
له میقات نه د عمرې احرام له خپل طرف نه هم تړلی شي او د مرحوم له طرف نه هم تړلی شي، د حج احرام خو د مرحوم له طرف نه تړي. فقط والله اعلم بالصواب.

د بدل حج حج کوونکې تمتع نشي کولې د هغه لپاره له احرام نه پرته د تللو حیله.

(۱٦۴_ سوال): څه وایی په دی مسئله کې د دین علماء او مفتی صاحبان چې بدل حج ته تلوونکی تمتع کولی شي او که نه؟ که نشي کولي نو ایا داسې کوم صورت شته چې هغه د احرام نه پرته مکې معظمې ته داخل شي؟ بینوا توجروا.

(خواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. په دی کې اختلاف دی، صحیح دا ده چې د آمر د اجازی با وجود تمتع نشي کولې، د بل چا بدل حج کوونکی له میقات نه له احرام نه بغیر د حل کوم ځای لکه جدی قصد وکړي، لومړی هلته لاړ شي بیا دی په مکه معظمه کې له احرام نه پرته داخل شي نو په دی حیلې سره له احرام نه بغیر په مکه معظمه کې داخلیدل جائز دی، بیا دی کوم یو میقات ته چې لاړ شي او د آمر له طرف نه دی د حج احرام وتړي. دا صورت په غایة الامل فی بیان مسائل الحج البدل کې لیکل شوی دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د مړ شوي سړي لپاره بدل حج کوونکی شخص له کوم ځای نه لاړ شي؟ له اصلي وطن نه یا د تجارت له ځای نه؟

(۱٦۵_ سوال): په لاندینی مسئله کې می له خپل رای نه خبر کړئ:

یو سړی چې د هغه وطن بهروج ولایت دی، د تجارت په خاطر افریقا کې اوسیدو همغلته مړ شو، د هغو لپاره بدل حج اصلي وطن بهروج نه کول پکار دی یا له افریقې نه؟ حاصل دا چې که له بهروج نه لاړ شي نو بدل حج یې صحیح کیږي او که نه؟

(خواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. په مسئوله صورت کې له دواړو ځایونو څخه بدل حج کول جائز دی.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

واذا کان له اوطان شتی الحج عنه من اقرب اوطانة الی مکة بلا خلاف لا من ابعد اوطانة هکذا فی التاتار خانیة (فتاوی عالمگیری باب الوصیة بالحج ج ۱ ص ۲۵۹).

---

[1] البته کوم وطن چې مکې ته ډیر نژدی وي له همغه ځاینه تلل بهتر دی

د حج متفرقات

د حرم په حدود کې د غیر مسلم سړی داخلیدل:

(۱٦٦_ سوال): څه فرمایی د دین علماء او د متین شریعت مفتیـان پـه دی مسئله کـې چې د حرم په حدود کې د غیر مسلم داخلیدل څنګه دی؟
که چیرته څوک غیر مسلم د شاه فیصل د میلمه په توګه راشي او یا هم شاه فیصـل خپـل غیر مسلم میلمه د حرم په حدودوکې د ننـه کـړي نـو د دی څـه حکـم دی؛ د قـرآن او حدیث په رڼا کې مفصل ځواب ولیکئ؟
(ځواب) ((يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلاَ يَقْرَبُواْ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ))
(ای لا یدخلوا الحرم) بعد عامهم هذا (عام تسع من لهجره) (قرآن حکم تفسیر جلالین) (قران حکیم – تفسیر جلالین).
یعنی ای مومنانو ا مشرکین (اعتقـاداً) ناپاکـه دي .دغـه مشـرکان او کفـار اهـل کتـاب) مسجد حرام ځواله یعنی د حرم په حدودو کې رانشي. (قرآن کریم، تفسیر جلالین.)
دا اعلان محمد صلی الله علیه وسلم په کال ۹ هجري کې وکـړ.پـه تفسـیر کـې مختلـف اقوال منقول دي: له حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې کـافر نجـس العین دی، حضرت حسن رحمه الله علیه وفرمایل: کله چې کفاروتـه لاسـونه ورکـړئ نـو ویی وینځئ، جمهور علماء ویلی دي دا حکمی نجاسـت دی یعنـی د هغـوی اعضـاء د غلو او متیازو په شان ناپاک نه دی، بلکی د هغـه ناپاکـی داسـې دی لکـه چـې د جنـب سړي دی چې قرآن کریم نشي لوستلی، مسجد ته نشي تللی که هغه غسل هم وکړي بیا هم قرآن کریم نشي لوستلی او نه هم په مسجد کې داخلیـدلی شـي.شـوافعو ویلـی دي چې له مسجد حرام نه خاص د کعبې مسجد مراد دی، مالکیـه وایی چـې پـه دی حکـم کې ټول مسجدونه شامل دي، یعنی د شوافعو په نزد باید کفار د کعـبې مسـجد تـه پـری نښودلی شي، خو د مالکیه و په نزد باید کفار له ټولو مسجدونو څخـه بنـد کـړی شـي. د احنافو په نزد باطنی او اعتقادي نجاست مراد دی، که چیرته کفار نجـس العیـن وای او لدینه بدنی نجاست مراد وای نو شمامه بن اثال رضی الله عنه به د اسـلام لـه راوړلونـه مخکې د مسجد نبوي ستنې پورې نه تړل کیدو، همدغه راز د نجران او ثقیف وفد به پـه نبوي مسجد کې نه اوسول کیدل.

له دغو احادیثو څخه د آیت شریف تفسیر معلوم شو چې لدینه باطنی او اعتقادي نجاست مراد دی نه ظاهري او بدني نجاست. لهذا د حرم په حدودو، د کعبې په حدودو او مساجدو کې داخلول حرام او ناجائز نه دی. (و منها جواز انزال المشرکین فی المسجد.

(زاد المعاد ج ۱ ص ۲۵).

البته باطنی او اعتقادي نجاست له کبله د حج او طواف لپاره او د غلبې په توګه د سکونت کولو په غرض د حرم په حدودو کې راتلل منع دی. په هدایه کې دي:

قال (ای فی الجامع الصغیر) ولا بأس بان یدخل اهل الذمه المسجد الحرام و قال الشافعی یکره ذلك و قال مالك یکره فی کل مسجد للشافعی قوله تعالی انما المشرکون نجس فلا یقربوا المسجد الحرم بعد عامهم هذا ولان الکافر لا یخلوا عن جنابة لانه لا یغتسل اغتسالاً یخرجه عنها والجنب ینجب المسجد و بهذا یحتج مالك والتعلیل بالنجاسه عام فینتظم المساجد کلها و لنا ماروی ان النبی علیه السلام انزل وفد ثقیف فی مسجده وهم کفار لان الخبث فی اعتقادهم فلا یوذی الی تلویث المسجد والایة محمولة علی الحضور استیلاءً او طائفین عراة کما کانت عادتهم فی الجاهلیه (ج ۲ ص ٤٥٨ آخر کتاب الکراهیة مسائل متفرقه).

غرض دا چې د آیت د ظاهري الفاظو په لحاظ په دی کې د مجتهدینو اختلاف دی، مناسب دا دی چې د دینی ضرورت او شرعي مصلحت نه پرته کفاروته په مسجد حرام کې د دننه کیدو اجازه ورنکړی شي، که چیرته شاه فیصل د کوم دینی ضرورت او شرعي مصلحت په وجه کوم غیر مسلم ته په حرم کې د دننه کیدو اجازه ورکړي نو د دی ګنجائش شته. (خلاصه التفاسیر و غیره).

عن عثمان بن ابی العاص ان وفد ثقیف لما قدموا علی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم انزلهم المسجد لیکون ارق لقلوبهم (ابو داوٗد شریف ج ۲ ص ۷۲ باب ماجاء فی خبر الطائف).

د زیات اطمنان او معلومات په خاطر د بیان القرآن د تفسیر مضمون هم دلته نقلوم:

،، د ټولو علماو په دی خبره اتفاق دی چې په دی باب کې د اهل کتابو حکم د مشرکانو په شان دی، د دی تائید د در منثور یو روایت هم کوي چې جبرئیل علیه السلام د یهودي لاس د مشرک د لاس په څیر وګرځلو، او لدې نجاست نه مراد د عقیدی نجاست دی نه د جسم، لکه چې په ابو داود کې دا حدیث موجود دی چې د ثقیف وفد په مسجد کې اوسول شوی و، حال دا چې هغوی مشرکان وو. او د الله مقصود د لا یقربوا حکم بیانول دی، په انماالمشرکون کې د دی یو حکمت بیان شوی دی، هغه دا چې په داسې مقدس ځای کې د داسې ناپاکو او ګنده زړونو والاو څه کار دی. او له مسجد نه ټول حرم مراد دی، او همدا خبره په درمنثور کې هم له عطا رحمه الله علیه څخه روایت شوی دی. او په صحیحو احادیثو کې د ټول عربی جزیری همدغه حکم ثابت دی، د مشرکینو لپاره هم او نصاراو لپاره هم. دغه روایتونه په درمنثور او د حدیث په نورو کتابونو کې راغلي دي پس د محمد صلی الله علیه وسلم د وصیت مطابق د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه په زمانه کې د عرب په ټوله جزیره کې قانون نافذ شو، او د حنفی فقهي په مطابق له دی قرب نه مراد د توطن یا استیلا په توګه اوسیدل دي او دا ناجائز دی مګر د پاچا په اجازی سره ، هله چې د مصلحت په خلاف نه وي. راتلل جائز دی، لکه چې بل آیت: ((ماکان‌لهم ان یدخلوها الا خائفین)) څخه علماو همدا مطلب اخستی وي، په دی اړه د قتاده قول:

فلیس لاحد من المشرکین ان یقرب المسجد الحرام بعد عامهم ذلک الاصاحب الجزیه او عبدالرجل من المسلمین رواه فی الدر.

پس کله چې حرم ته دننه کیدو اجازه ده نو مسجد حرام هم د دی په حکم کې دی.

البته کفار او مشرکینو ته د حج او عمری اجازه نشته ځکه چې په حدیث کې د دی ممانعت راغلی دی: الا لا یحجن بعدالعام مشرک.

او په کوم روایت کې چې له مشرک سره د مسافحې کولونه وروسته د لاس وینځلو خبره شوی ده هغه په تغلیظ باندې محمول دی. (بیان القران ج ۴ ص ۱۰۷.) فط والله اعلم بالصواب.

د حج فلم جوړول څنګه دي ؟

(۱۶۷_ سوال): ایا د حج فلم جوړول او د سینما له لاری د هغه ښودل جائز دی او که نه؟د حج په فلم کې څو ګټې دي : (۱): د حج د ادا کولو شوق پیدا کیږي. (۲): د حج کولو طریقه زده کیږي. (۳): د حج کونکو لپاره اسانی پیدا کیږي و غیره.

(خواب): د حج فلم جوړول چې په هغه کې د خاندارو ژرګونه تصویرونه هم وي جـائز نه بلکې حرام دی او دا د سینما له لارې ښودل او په دی باندې پیسې ګټل ګنـاه دی همدغه راز اسلامي عبادت، اسلامي شعائر، د حج مناسک، د مکې معظمې د شـواهد. همدغه راز د قرآن کریم د تلاوت توهین دی.

الله تعالی فرمايي: ((وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ))

او څوک چې د الله تعالی د محترم څیزونو تعظیم کوي دا هغه لپاره د پروردګـار پـه نـزد بهتر دی. (سوره حج). همدغه شان لهی ارشاد دی:

((ومن يعظم شعائر الله ... القلوب))

ترجمه : او کوم شخص چې د خدایی یادګارونو تعظیم کوي نو دا د زړه تقوی ده.

فقهای کرام فرمايي: که چیرته د دکان مالک د خریدار په وړاندې د مال پـیش کولـو پـه وخت کې په دی خاطر درود شریف ولولي چې په خریدار باندې اثر وشـي اؤ ورـه نـه ښکاره شي. نو دا جائز نه دی په دی کې د الله د ذکر بې حرسی دی، ځکـه چـې لـه دی ذکر نه د هغه مراد دنیا وه نه ثواب. د سیما اؤ نورو په تماشه کــې د قرآ ـــت، دعـا او د الله د ذکر هم همدغه حکم دی. لهی ارشاد دی:

((يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَـــرُ مِن نَّفْعِهِمَا))

ترجمه: (ای نبی !) له تانه د شرابو او جواریو په اړه پوښتنـه کـوي ورتـه ووایـه چـې د دواړو په استعمال کې لویه ګناه ده او په دی کې خلکو لپاره ځینې ګټـی هـم دی، او د هغوی ګناه د دی له ګټو نه زیات دی. (سوره البقره).

د شریعت مشهور حکم دا دی چې که په کوم کار کې فائده او نقصـان دواړه وي او کـار ضروري نه وي لکه (د حج فلم) نو د نقصان په وجه د هغه پرېښودل ضروري دی.

حکیم الامت تهانوي د مثال په ترځ کې وايي: که یو سړی د رقص مجلس جوړ کـړي او ووایي چې که څه هم رقص فی نفسه حرام دي مګر زما د دغه مجلـس غـرض د خلکـو جمع کول دی ترڅو له جمع کولونه وروسته لمونځ ورباندې وکـړم او پـه دی ترتیـب د لمونځ کولو عادي وګرځوم. لیکن څرنګه چې په دی مجلس کې له یـوه مصـلحت سـره زیات مفاسد هم دي او رقص مجلس بالذات یـا بـالغیر مطلـوب نـه دی لکـه چـې ترینـه

ښکاره کیږي. لهذا شریعت په دغه مذکوره مصلحت له کبله د دی اجازه نه ورکوي او د دی مفاسدو له کبله د دی انعقاد منع کوي.

(الرفیق فی سواء الطریق ج ۲ ص ۹۵.)

زمونږ جلیل القدر بزرګحضرت پیران پیر غوث الاعظم فرمایی:

(۱): که څوک ووایی چې کله زه ناجائزی سندرې او موسیقی واورم نو د الهی ذکر لپاره زما شوق زیاتیږي، د هغه دا خبره بالکل غلطه ده. ځکه چې شریعت د سندرو او موسیقی د نهی لپاره فرق نه دی کړی. (۲): که چیرته داسې عذرونه او بهانی د منلو وړ وای نو بیا به د ډمانو سندری اوریدل هغه چا لپاره جائز و چې وایی د سندرو په اوریدو سره زما طبیعت کې مستی او شوق نه پیدا کیږي. (۳): او هغه چا لپاره شراب جائز شوې و چې وایی د شراب په څکلو سره نه نشه کیږم او له ډیرو حرامو شیانو څخه محفوظ پاتی کیږم. (۴): که څوک دا ووایی چې د پردیو ښکلو ښځو ته په کتلو او له هغوی سره له ناستی ولاړی نه عبرت حاصلوم او د هغوی د ښکلا په لیدلو سره د الله حمد او ثنا وایم، نو هغه لپاره دا هرګز جائز نه دی بلکی د هغه پریښودل وربانديې واجب دی، د حرامو څیزونو په استعمال سره نصیحت او پند اخستل له حرام کاری نه هم بد تر دی. او هغه د الله په لاره کې حرام کاري او حرام خواري کول غواړي لدینه علاوه بل هیڅ نه کوي. داسې خلک د خپل نفسانی خواهش په مطابق کارونه کوی، د هغوی دا خبری د منلو او اوریدلو وړ نه دي.

(و ان قال قائل اسمعها علی معان اسلم فیها عند الله تعالی کذبناه لان الشرع لم یفرق بین ذلك ولو جاز لاحد جاز للانبیاء علیهم السلام ولو کان ذالك لا عذار لا جزنا سماع القیان لمن یدعی انه لا یطربه و شرب المسکر لمن ادعی انه لا یسکره فلو قال عادتی انی متی شربت الخمر کففت عن الحرام لم یبیح له ولو قال عادتی اذا شهدت المرد والا جنیات و خلوت بهم اعتبرت فی حسنهم لم یجوز له ذلك واجب ان الاعتبار بغیر المحرمات اکثر من ذلك وانما هذه طریقة من ارادالحرام بطریق الله عزوجل فیرکب هواه فلا نسلم لا صحابها ولا نلتفت الیهم (غنیة الطالبین ص ۲۵).

خلاصه دا چې د حج فلم جوړول او د سینما د لاری نه خلکوته ښودل جائز نه دی. لهی فرمان دی:((وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)).

د گناه او ظلم په کارونو کې مرسته مه کوئ او لـه الله نـه وويريـږئ. بيشـکه (د شـرعي احکامو خلاف کوونکو ته) الله تعالی سخته سزا ورکوي.
د حج له فلم نه چې کوم فوائد نبودل کيږي د هغوی د ترلاسه کولو لپاره نوری طريقی هم شته ډيرې دي، بايد له همغونه گټه اوچته کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د پاسپورت د ترلاسه کولو لپاره رشوت اخستل او ورکول څنګه دی؟

(۱۶۸_ سوال): په يوه سړی باندې حج فرض دی، ايـا هغـه د حـج پاسـپورت ترلاسـه کولو لپاره رشوت ورکولې شي او که نه؟ ځرنګه چې دی لپـاره د قرعـه انـدازی سيسـتم دی تقريباً تر دريو کلونو پورې ترلاسه کيدل يې ممکن نه دی، نو ژر تر ژره ترلاسه کولـو لپاره رشوت ورکولې شي او که نه؟ دويم دا چې که چيرته راتلونکی وخـت کـې د حـج پيسې پاتی نشي يا هم صحت يې خراب شي نو ايا د شريعت په نظـر کـې گنهگاريـږي او که نه؟

(ځواب): که چيرته د ظلم د دفع کولو او د خپل جائز حق د ترلاسه کولو لپاره رشـوت ورکوي نو دا ورته جائز دی. مګر دا پکې شرط دی چې د بل چا حق تلـف نشـي څکـه چې د هغه رعايت ضروري دی. (ولو بالرشوه. (در مختار مع الشامي ج ۲ ص ۱۹۸.)
دا چې د حج پاسپورت ژر تر ژره ترلاسه نشي او د حـج پيسـې پـه ضـروری کارونـه کـې خرڅ شي نو هغه گنهگار نه دی، مګر د هغه په ذمه حج پـاتی دي، کـه پخپلـه حـج ادا نکړی شي نو د بدل حج وصيت دی ضرور وکړي. والله اعلم بالصواب.

د زمزم اوبو سره اودس يا غسل کول:

(۱۶۹_ سوال): آيا د زمزم په اوبو سره اودس يا غسل کول جائز دی او که نه؟
(ځواب): د زمزم اوبو سره استنجا کول مکروه دی، د تبرک لپاره د با وضـو سـړی لپـاره اودس يا غسل کول مکروه نه دي بلکـی مسـتحب دی. د سـخت ضـرورت پـه وخـت د جنب سړی لپاره هم جائز دی چې د زمزم په اوبو کې غسـل وکـړي. پـه درمختـار کـې دي:
يکره الاستنجآء بمآء زمزم لا الاعتسال (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۳۵۲ معلم الحجـاج ص ۳۳۰ مطلب فی کراهيه الاستنجآء بماء زم زم). فقط والله اعلم بالصواب.

د حاجیانو رخصتولو لپاره تر ستیشنه پورې د ښځو تلل:

(۱۷۰ سوال): په خینو ځایونو کې دا رواج دی چې کله حاجیان حج ته روانیږي نو د هغوی د رخصتولو لپاره تر ستیشن پورې ښځې هم ورسره ځي، په ستیشن کې ښځې او سړي له یو بل سره ګډوډیږي او بې پردګي پیدا کیږي، ایا دا کار شرعاً جائز دی؟

(خواب): دا رسم ډیر بد او له بدیونه ډک دی لهذا دا باید فوراً پریښودی شي. د حج په نامه خلکو ډیر غلط رسمونه او رواجونه پیدا کړی دی چې ناجائز او د ثواب پر ځای د لعنت سبب ګرځي. لهذا دغه رسم باید قطعاً بند کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د حج د ارکانو د ادا کولو په نیت د حیض منع کونکي دوا خوړل:

(۱۷۱_ سوال): دلته په انګلستان کې د حیض د بندولو لپاره دوایانې پیدا کیږي. ښځې د روژې په میاشت او د حج په ورځو کې دا دوا استعمالوي ترڅو روژه یې قضا نشي او د حج ټول ارکان ترسره کړي. په دې نیت سره د دغو ګولیو استعمالول حکه دي، جائز او که ناجائز؟ بینوا توجروا.

(خواب): حیض یو فطري څیز دی، د هغه په بندولو سره په صحت باندې ډیر خراب اثر مرتب کیږي، لهذا د روژې په میاشت کې دی دغه ګولی نه خوري بلکې وروسته دی د روژو قضائي راوړي، په حج کې دی دا هم نه استعمالوي، له طواف زیارت نه علاوه د حج ټول افعال ادا کولې شي او له حیض نه پاکیدونه وروسته طواف زیارت هم کولې شي، خو که وخت ورسره کم وي او د طواف زیارت وخت نشي ترلاسه کولې نو د استعمالولو جواز یکې شته، له مجبوریت نه علاوه دی نه استعمالوي. فقط والله اعلم بالصواب.

له ځان سره د زمزم اوبو وړل:

(۱۷۲_ سوال): حاجیان د زمزم اوبه په دې خاطر له ځان سره وړي چې دا متبرک دی، ایا په شریعت کې د دی څه ثبوت شته؟ څه خلک وایي چې د دی هیڅ ثبوت نشته لهذا له تاسونه په دی باره کې د تحقیق غوښتنه کوم.

(خواب): په حدیث کې دي:

عن عائشه انها کانت تحمل من ماء زم زم تخبر ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم کان یحمله (ترمذی شریف ج ۱ ص ۱۱۵ کتاب الحج قبیل ابواب الجنائز)

حضرت عائشه رضی الله عنها به له خان سره د زمزم اوبه وړلې او فرمایل به یې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به له خان سره د زمزم اوبه وړلې. (ترمذي ج ۱ ص ۱۱۰ کتاب الحج قبیل ابواب الجنائز.)
لدینه ثابت شو چې حاجیانو لپاره دا جائز دی چې له خان سره د زمزم اوبه راوړي او دا د برکت باعث هم دی، په دی باندې اختلاف کول صحیح نه دی.

د حاجیانو دعوت، د تحفو ورکول، د هغوی رخصتول، همدا راز د هغوی په رخصتولو کې د رسم او رواج او بی احتیاطی کول:

(۱۷۳_ سوال): څه فرمایي د دین علماء او مفتیان دغو لاندینیو مسائلو کې کوم خلک چې حج ته ځي له هغوی سره د ملاقات لپاره هغوی کره تلل؟
هغوی ته دوډی کول، کومه ښځه چې حج ته ځي هغې ته پړونی او څادرونه ورکول، هغوی کره سوغاتونه او مټائی وړل، د شپې تر ناوخته پورې مجلسونه کول، یو بل ته دعوتونه ورکول او داسې نور، او که چیرته څوک داسې ونکړي د هغه بد ګڼل، همدغه تر سټیشن پورې د سړو او ښځو یو ځای تلل او بی ستری کول، په شریعت کې د دی ټولو څه حکم دی، مهربانی وکړئ په دی اړه معلومات ورکړئ ترڅو خلکوته هرڅه معلوم شي او دا د اسلام مهم رکن په صحیح توګه ادا شي. بینوا توجروا.
(ځواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً و هوالموفق، له حاجیانو سره د ضرورت په اندازه تعاون کول او پخپلو پیسو د هغوی د رخصتولو لپاره تلل او د هغوی استقبال کول د ثواب کار دی، د دی ثبوت په احادیثو کې موجود دی:

عن ابن عمر قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا لقیت الحاج فسلم علیه وصافحه و مره ان یستغفر لك قبل ان یدخل بیته فانه مغفور له رواه احمد (مشکوة شریف ص ۲۲۳ کتاب المناسك).

له حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې تاسې له حاجی سره ملاقی شوئ نو سلام ورباندې واچوئ، له هغه سره مصافحه وکړئ او خپل ځان لپاره د مغفرت او بخښنې دعا وکړئ لدینه مخکې چې هغه کورته ورسیږي، بیشکه چې هغوی بخښل شوي دي.
همدغه راز له حضرت حسن رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې حاجی حج لپاره روانیږي نو د هغوی د وداع لپاره لاړ شئ او د

خیر دعا لپارہ له هغوی نه غوښتنه وکړئ، او کله چې له حج نه راشي نو له هغـوی سره ملاقات وکړئ او مصافه ورسره وکړئ لدینه مخکې چې په دنیاوي کار او بار کې مشغول شي او د ګناه کارونه وکړي، بی شکه د هغوی په لاسو کې برکت دی. محمد صلی الله علیه وسلم دعا کړی دی چې: (اللهم اغفر للحاج و لمن استغفر له الحاج.)

ای الله حاجی ته بخښنه وکړه او هغه ته هم چې چاته حـاجی د مغفـرت دعـا وکـړي. (احیاء العلوم ص ۲۴۸ ج ۱ مجالس الابرار ص ۱۴۴ مجلس نمبر ۲۰.)

د حج د فضائلو په باب کې دي چې د سلفو معمـول دا و چـې هغـوی بـه د حاجیانو مشایعت او تعاون کاو، د هغوی استقبال ته ورتلل، له هغوی نه بـه د دعـا کولـو غوښتنه کوله. اتحاف (فضائل حج ص ۲۲ حدیث نمبر ۸)

لیکن ښځو لپاره دا جائز نه دي چې له کلی نه ووځي او تر استیشن پورې لاړ شي، ځکه چې هلته له پردیو سړو سره اختلاط او بی ستري راځي او دا ډیره د ګناه خبـره ده، پـه دی باندې سخت وعید راغلی دی.

(و من منکراتهم ایضاً خروج النساء عند ذهابهم و عند مجیئهم فان الواجب علی المرأة قعود ها فی بیتها و عدم خروجها من منزلها و علی الزوج منعها عن الخروج ولو اذن لها و خرجت کانان عاصیین قد یکون بالسکوت فهو کالقول لان النهی عن المنکر فرض ، و ان خرجت بغیر اذن زوجها یلعنها کل فی اسماء و کل شیئی یمر علیـــه الا الا نس والجن وقد جاء فی الحدیث انه علیه السلام قال ما ترکت بعدی فتنة اضر من النساء فخروج النساء فی هذا الزمان من بیوتهن من اکثر الفتن لا سیما الخروج المحرم کخروجهن خلف الجنازة ولزیارة القبور و عند خروج الحجاج و مجیـئهم والخـیر قعودهن فی بیوتهن و عدم خروجهن عن منزلهن الا تری انه تعالی امرخیر النساء الدنیا وهن ازواج النبی علیه السلام بعدم الخروج من بیوتهن فقال و قرن فی بیوتکن و هذا النظم الکریم و ان نزل فیهن الا ان حکمه یعم الجمیع لما تقرر ان خطابات القرآن تعم الموجو دین وقت نزوله ومن سیو جدالی القیامة (مجالس الابرار ص ١٤٥ مجلس نمبر ۲۰) .

د حج له منکراتو (رسوماتو او بدعاتو څخه) یو دا دی چې د حاجیانو د تللو او راتلو په وخت کې د هغوی د رخصتولو او په خیر راغلاست لپاره ښځو له خپلو کورونو نه د باندې وتل دي. هغوی لپاره خو دا خبره غوره ده چې پخپلو کورونو کې کینی او د باندې نه وځي. په خاوند باندې هم ضروري دی چې ښځه له کورنه د باندې وتلو ته پرې نږدي، که چیرته ورته اجازه ورکړه او هغه د کور نه د باندې ووتله نو خاوند یې هم ګنهکار دی او ښځه هم. ځینې وخت د خاوند خاموشي هم اجازه ګڼل کیږي څکه چې د خاوند نه اجازت غوښتل فرض دی، که هغه د خاوند له اجازی نه بغیر ووځي نو د آسمان ټول ملائکه او د انسان او جن نه علاوه ټول پر هغه لعنت وایی. په حدیث کې دي چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما پخپل امت کې له ښځو نه علاوه بله لویه فتنه نه ده پریښې.

په دی زمانه کې له کورنه د ښځو وتل لویه فتنه ده، خصوصاً په حرامی طریقی سره وتل، مثلاً جنازی پسې تلل، د قبرونو زیارت ته تلل، د حاجیانو د تګ او راتګ په وخت کې تلل. بهتر دا دی چې هغوی پخپلو کورونو کې واوسیږي او د باندې ونه اوځي. ایا تاسوته نه دی معلوم چې الله تعالی له د دنیا غوره ښځې د محمد صلی الله علیه وسلم ښځې وې او هغوی له د کور نه د باندې د نه وتلو حکم کړی دی او ورته یې فرمایلی دي چې له کوره ونه اوځئ.

څکه چې د الله تعالی ارشاد دی : (وقرن فی بیوتکن.) تاسې پخپلو کوروکې په قلاره واوسئ. دا ایت شریف اګر چې ازواج مطهراتو په باره کې نازل شوی دی، مګر د دی آیت حکم ټولوته شامل دی. څکه چې دا قاعده ده چې د قرآن کریم خطابات هغوی ته هم شاملیږي چې د قرآن کریم د نزول په وخت کې موجود وي او هغو خلکوته هم چې تر قیامته پورې پیدا کیږي.

تاسې دا عبارت ښه په غور ولولئ کله چې د دنیا له ټولونه پاکو ښځوته دا حکم دی چې هغوی دی له شرعي ضرورت نه بغیر له کور نه ونه اوځي نو د عامو خلکو لپاره به څه حکم وي؟لهذا ښځو ته له شرعي ضرورت نه پرته له کورنه ونه اوځي، په همدې کې د هغوی د دین حفاظت دی. په دی باره کې د محمد صلی الله علیه وسلم عجیب او غریبه فیصله واورئ: په الترغیب او الترهیب کې حدیث دی:

عن ام حمید امراة ابی حمید الساعدی رضی الله عنها انها جاء ت الی النبی صلی الله علیه واله وسلم فقالت یا رسول الله ! انی احب الصلوه معك ، قال قد علمت انك

تحبين الصلوة معى . و صلوتك فى بيتك خير من صلوتك فى حجرتك و صلوتك فى حجرتك خير من صلوتك فى دارك و صلوتك فى دارك خير من صلوتك فى مسجد قومك و صلوتك فى مسجد قومك خير من صلوتك فى مسجدى ، قال : فامرت فبنى لها مسجد فى اقصى شيئى من بيتها و اظلمه و كانت تصلى فيه حتى لقيت الله عزو جل ، رواه احمد خزيمه و ابن حبان فى صحيحهما (الترغيب والترهيب ص ۱۸۷ ج ۱) .

حضرت ام حمید ساعدي رضی الله عنها د الله رسول په دربار کې عرض وکړ چې زه د دی خبرې شوق لرم چې له تا سره لمونځ وکړم، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې ستا شوق ډېر ښه دی (دیني جذبه ده) مګر ستا لمونځ د کور په دننه کوټه کې د کور د حویلی نه بهتر دی، او د کوټې لمونځ د احاطی له لمونځ نه بهتر دی او د کور د احاطی لمونځ د محلی د مسجد له لمونځ نه بهتر دی، او د محلی د مسجد لمونځ زما د مسجد (مسجد نبوی) نه بهتر دی.

ام حمید رضی الله عنها فرمایش وکړ چې زما لپاره په کوټه کې دننه آخري سرکې چې هلته زیاته تیاره وه د لمونځ کولو لپاره ځای جوړ کړئ. همغلته یې لمونځ کاو تر دی چې له دنیا نه رحلت یې وکړه او د الله په وړاندې حاضره شوه.

تاسې په دی حدیث باندې غور وکړئ چې ام حمید ساعدي محمد صلی الله علیه وسلم په اقتداء کې د لمونځ کولو شوق ښکاره کړه خو محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې ته پخپل کور کې لمونځ کوه دا ستا لپاره زما په مسجد کې لمونځ کولو نه بهتر دی. کله چې محمد صلی الله علیه وسلم د لمونځ لپاره باهر وتل خوښ نکړ، نو ښکاره مخ د باندې د وتلو او ستیشن ته د تللو اجازه څنګه ورکول کیدلې شي؟ حال دا چې هغه د خیرالقرون زمانه وه او نن د شرالقرون زمانه ده.

د پردو سړو نه د پردې کولو څومره اهمیت دی د دی اندازه لدې حدیث نه ولګوئ:

عن ام سلمه انها كانت عند رسول الله صلى الله عليه واله وسلم و ميمونه اذا قبل ابن ام مكتوم فدخل عليه فقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم احتجبا منه فقلت يا رسول الله صلى الله تعالى عيله واله وسلم اليس هو اعمى لا يبصرنا فقال رسول الله

صلی الله علیه واله وسلم افعمیا و ان انتما السنماء لا تبصرانه (مشکوه شریف ص ۲٦۹ باب النظر الی المخطوبه).

ام المومنین ام سلمه فرمایی چې زه او حضرت میمونه د محمد صلی الله علیه وسلم خدمت کې حاضر شولو، په دی وخت یو ړوند صحابي حضرت عبدالله ابن مکتوم د هغه صلی الله علیه وسلم څنګ ته راغی، محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته د پردی کولو حکم وکړ، ما عرض وکړ یا رسول الله ! دا خو ړوند دی مونږ نه وینی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایا تاسې دواړه هم ړندی یئ، تاسې خو ورته کتلی شئ.

همدغه راز په حدیث کې دي:

عن الحسن مرسلاً قال بلغنی ان رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال لعن الله الناظر و المنظور الیه (مشکوات شریف ص ۲۷۰ ایضاً).

له حضرت حسن نه مرسلاً روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله تعالی لعنت دی پر هغه چا باندې چې نامحرمو ښځو ته ګوري، او پر هغو ښځو هم چې ورته کتل کیږي.

کله چې ښځه بی پرده له کورنه اوځي نو پخپله هم د لعنت مستحق ګرځي او چې سړی ورته ګوري نو هغه هم د لعنت مستحق کیږي.لهذا د حاجیانو د الوداع لپاره د ښځو تلل او بی پردګي کول سخت ګناه ده.

د حج سفر په هر لحاظ سره مبارک سفر دی، د دغه مبارک سفر او د مبرور حج لپاره لوی لوی وعدې شوي دي، حاجی داسې مقدس خایوته ورځي چې هلته د دعا ګانو د قبولیت وعدې شوي دي.لهذا د حج له سفر نه مخکې له خپلو خپلوانو سره ملاقات کول او له یو بل نه د دعا کولو غوښتنه کول جائز دی، خصوصاً له هغو رشته دارانو او خپلوانو څخه چې له هغوی سره خفګان راغلی وي او له یو بل سره خبرې یې بندی کړی وي، یو بل سره کدورت او رنجش وي، له هغوی سره ملاقات کول او له یو بل نه معافی غوښتل زیات ضروری دی. همدغه راز که د چا حق پاتی وي، یا پر چا یې څه ګرو وي، یا له چانه قرض یې اخستی وي نو د حج له سفرنه وړاندې دی هغه ادا کړي ترڅو د دغه مبارک سفر برکتونه په پوره توګه ترلاسه کړي. څومره چې د زړه له صفایی او د حقوق العبادو په ادا کولو سره حرمین شریفین ته تللی وي او د هغه د ټولو ادابو رعایت یې کړی وي ان شاء الله د هغه ځای برکتونه ترلاسه کوي.

د حج په فضائلو کې دي (۷): د خپلو ټولو تیرو ګناهونو څخه دی توبه وباسي. د چا چې په ظلم او زیاتی سره مال خوړلی وي نو د هغه معافی وغواړي، له چا سره چې ناسته ولاړه لري له هغوی نه دی معافي وغواړي، که د چا ورباندې قرض وي هغه دی ورته ورکړی او یا هم د ادا کولو انتظام وکړي. الی قوله : علماو لیکلی دي پر چا چې ظلم زیاتی کړی وي یا د هغه حق د دی په سر پاتی وي هغه د قرض په شان دی د هغه مالک هغه ته دا آواز کوي چې ایا ته په داسې حالت کې رب ته حاضریږي چې ته د هغه مجرم یې او د هغه حق دی ضایع کړی دی، ایا لدینه نه ویریږی چې تا مردود کړي، که چیرته ته د خپل حاضري د قبولیت هیله من یې نو لدی ظلم نه توبه وباسه، مطیع او فرمانبردار ورته واوسه، که نه نو ستا دا سفر او حاضري له مشقت نه علاوه بل څه نه دی او د انتهایی مردود او عدم قبولیت دی. (فضائل محمد ذکریا صاحب ص ۶۳.)

همدغه راز د حج په فضائلو کې دي: (۱۳): حج ته د تللو په وخت باید له خپلو رفقاوو، استاذانو او عزیزانو سره ملاقاتونه وکړي او ترینه الله پامانی واخلي له هغوی نه دی د دعا کولو غوښتنه وکړي. محمد صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی: کله چې له تاسې نه څوک سفر کوي نو خپلو ورونو سره سلام کلام کولونه وروسته دی لاړ شي د هغوی دعاګانې د ده له خپلې دعا سره د یو ځای کیدو په وجه په خیر کې نور زیاتوالی باعث ګرځي. د الوداع د ویلو په وخت کې سنت دی چې داسې ووایي:

(استودع الله دینکم و امانتکم و خواتیم اعمالکم. (اتحاف) (فضائل حج ص ۱۶۴ اجمالي اداب.)

لهذا که چیرته کوم خپلوان د صله رحمی په نیت، یا کوم نژدی خپلوان د دغه مبارک سفر په وجه حاجی ته په پوره اخلاص دعوت ورکړي یا ورته څه تحفه ورکړي په دی شرط چې دواړه دا ضروري نه ګڼي، ورکوونکی صرف د الله رضاء لپاره ورکړي، او اخستونکی هم په دی خبره اطمنان ولری چې دا تحفه یواځې د الله تعالی خوښی لپاره راکوي نه د بدلی اخستلو لپاره نو دا فی نفسه مباح ده او انشاء الله چې د اجر باعث دی.

لیکن نن سبا چې په دغو څیزونو باندې په کوم انداز سره عمل کیږي دا عموماً د رسم او رواج په ډول دی. لکه چې په سوال کې د دی په طرف اشاره شوی ده،لهذا په دی

زمانه کې د دغو څيزونو ډېره کول ضروري دی. او د دغه رسم او رواج د بدولو حکم کولې شي.
نن سبا اکثر داسې کيږي چې که حج ته تلوونکی حاجی خلکوته دعوت ورنکړي يا نور خلک ده ته دعوت ورنکړي نو جانبين بد مني، دا دعوتونه دومره ضروري ګڼل کيږي چې په نه کولو سره شکايتونه کوي، طعنې ورته ورکوي، زياتره وخت په داسې دعوتونو کې فضول خرچی او بی ستري هم کيږي، ښځې سړي پخپلو کې بې پردی کيږي. لدينه علاوه نور خرافات هم کيږي، لمونځونه پکې قضا کيږي، د شپې تر ناوخته پورې محفلونه روان وي، همدغه حال د سوغاتونو او تحفو دی، ورکوونکی زياتره د نوم يا ځان ښودنې او شهرت لپاره ورکوي، د تحفو لپاره چې کوم اخلاص او للهيت پکار دی هغه عموماً نه وي صرف د لعن و طعن نه د بچ کيدو يا د بدل خلاصولو او يا هم آينده د دغې بدلې د ترلاسه کولو لپاره په نيت سره وي، کوم هديه او سوغات چې په دی خيال سره ورکول کيږي د هغه قبلول هم جائز نه دی. په حديث شريف کې دي چې د کوم مسلمان مال د هغه د زړه خوشحالی نه بغير قبلول جائز نه دی. همدغه راز په حديث کې دي: محمد صلی الله عليه وسلم د هغو خلکو د دعوت له قبلولو نه منع کړی دی چې د فخر لپاره ډوډی ورکړي. (اصلاح الرسوم ص ۳۲ فصل ۱۱.)
لنډه دا چې کوم شي د مباح په درجه کې و هغه ضروري ګڼل شوی دی، په دی کې شرعی قاعده دا ده چې که چيرته مباح ضروري وګڼل شيّ نو هغه قابل ترک دی او که چيرته په دی کې غير شرعی کارونه وکړ شي نو د هغه پريښودل انتهائی ضروري ګرځي.
په اصلاح الرسوم کې دي: مباح فعل هم کله د غير مشروع کار د يو ځای کيدو په وجه ناروا او ممنوع ګرځي. لکه چې دعوت ته تلل مستحب بلکی سنت دی ليکن که چيرته په هغه کې کوم کار د شريعت نه مخالف وي نو بيا هلته تلل منع دي. لکه چې په احاديثو کې راغلی دي: په هدايه او نورو کتابونو کې د دی بيان شوی دی.
(اصلاح الرسوم ص ۹۷ فصل هفتم قاعده دوم.)
همدغه راز د وليمی دعوت سنت دی او د دغې دعوت د قبلولو هدايت شوی دی، ليکن که چيرته په دی کې خرابی شامل شي نو هغه ته شرالطعام ويل شوي دی. په حديث کې دي:

عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم شر الطعام طعام الوليمة يدعى لها الاغنياء و يترك الفقراء و من ترك الدعوة فقد عصى الله و رسوله متفق عليه (مشكوه شريف باب الوليمه ص ۲۷۸).

له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد وفرمايل: بد ترين ډوډی د وليمې هغه ډوډی ده چې په هغه کې مالدارو خلکو ته دعوت ورکړی شي او فقراء دی پرېښودل شي او چا چې دعوت قبول نکړ نو هغه د الله او د هغه رسول نافرمانی وکړ.

لدينه معلوم شو چې کوم يو شي فی نفسه ښه وي مګر د کوم خرابي د پيدا کيدو په وجه هغه هم خرابيږي.

همدغه راز دا خبره هم د غور وړ دی چې کله پر چا فی نفسه حج فرض ګرځي مګر له هغه سره د دغو رسوماتو د ادا کولو انتظام نشي کولی نو هغوی قرض اخلي او دغه رسومات ادا کوي، بيا وروسته قرض د ادا کولو په غم کې ناست وي او وروسته کوي د آينده کال پورې د ژوندی پاتی کيدو څه ګارنټي دی؟ ممکن دی چې د دغو رسوماتو په وجه د حج له فريضی نه محروم پاتی شي او د دنيا او آخرت نقصان يې وشي.

د يو حاجی صاحب متعلق معلوم شو چې د دغو رسمونو د پابندی کولو په عوض يو لويه ډله يې بمبی ته پوره، په هوټل کې يې واوسول، د دغې قافلی د سفر خرچه د حج د سفر له خرچې نه هم ډيره شوه، دا څومره لوی ظلم دی، که چيرته دا قسم رسم او رواج جاري وي نو حج د رحمت په ځای زحمت او نعمت پر ځای نقمت ګرځي، لعنت دی وي په داسې رسوماتو چې رحمت زحمت وګرځوي.

چا چې حاجی صاحب ته ګلونه او امبيلونه اچوي دا د فضول خرچی نه علاوه بل څه نه دي.

لهذا د دغو ټولو رسمونو ختمول پکار دي ځکه چې په دی کې د خلکو لپاره سهولت او ګته ده. که د رسمی ملاقاتونو فکر نه وي نو پخپلو کې ملاقاتونه کول هم په پوره اخلاص سره کول ممکن ګرځي، کوم خلک چې حج ته ځي هغوی ته پکار دي چې ښکاره اعلان وکړي چې له ما سره دی رسمی لين دين ونکړي، کوم خلک چې د دغه کار د ختمولو لپاره عملاً ګامونه پورته کړي او دغه رسمونه ختم کړي ان شاء الله تعالی هغه ته اجر ورکول کيږي.

په حديث کې دي:
قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم من سن فی الاسلام سنة حسنة فله اجرها و اجر من عمل بها من بعده من غیر ان ینقص من اجورهم شئی ، و من سن فی الاسلام سنه سیئةً کان علیه وزرها ووزر من عمل بها من بعده من غیر ان ینقص من اوزارهم شئی ، رواه مسلم (مشکوه شریف ص ۳۳ کتاب العلم . الفصل اول)
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: کوم سړی چې په اسلام کې ښه طريقه جاري کړه نو هغه ته د دی کار ثواب رسيږي او لدينه وروسته چې کوم خلک په دی باندې عمل کوي د هغه ثواب هم هغه ته رسيږي، لدينه پرته چې د هغه ثواب نه څه کم کړی شي. او کوم سړی چې په اسلام کې خراب رسم جاري کړ نو هغه ته د دغه رسم ګناه رسيږي او لدينه وروسته چې کوم خلک په دغه رسم باندې عمل کوي د هغوی ګناه هم په دی باندې کيږي لدينه بغير چې د هغوی په ګناه کې څه کمی وکړی شي.
الله تعالی دی ټولو خلکوته په دی باندې د عمل کولو توفيق ورکړي او مونږ ټولوته دی په صراط مستقيم او سنت طريقی باندې استقامت او په دی باندې ښه خاتمه په نصيب کړي آمين بحرمت النبی صلی الله علیه وسلم.
(احقر الانام سید عبدالرحیم لاجپوري غفر لـه، ٦ ذی القعده الحـرام ۱۴۱۷هـ ۹۷/۳/۱۶ ميلادی.)

باب العمره

ایا په جده کې اوسیدونکی د حج په میاشتو کې عمره کـولې شـي او که نه؟

(۱۷۴_ سوال): مونږ په جده کې د ملازمـت او مـزدوری لپـاره اوسـیږو، د دی خـای د خلکو د وینا په مطابق مونږ حِلي یو، ځینې کسان وایی چې حلي د حج پـه میاشـتو کـې عمره نشي کولې. ایا د هغوی دا خبره صحیح ده؟ که عمره کول رښتیا ناجـائز وي مګـر مونږ وکړ ایا په دی سره پر مونږ دم لازم دی او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که چیرته په همدې کال د حج اراده وي نو عمره کول مکـروه دی او کـه د حج اراده یې نه وي نو بیا مکروه نه دی. په شامي کې دي:

(تنبیه): یزاد علی الایام الخمسة ما فی اللباب وغیره من کراهة فعلها فی اشهر الحج لاهل مکة و من بمعنا هم ای من المقیمین و من فی داخل المیقات لان الغالب علـیهم ان یحجوا فی سنتهم فیکونوا متمتعین وهم عن التمتع ممنوعون و الا فلا منع للمکـی عن المفرده فی اشهر الحج اذا لم یحج فی تلك السنة و من خالف فعلیه البیان شـرح اللباب و مثله فی البحر (شامی ج ۲ ص ۲۰۸ قبیل مطلب فی المواقیت).

په زبده المناسک کې دي: د مکې اوسیدونکو او کوم خلک چې د مکې د اوسیدونکو په حکم کې دي یعنی په میقات کې اوسیدونکی، او هغه خوک چې د حـج د میاشـتونه پـه مکه کې اوسیږي (لکه چې افاقی سړی د حج د میاشتونه مخکې حلال شي او پـه مکـه کې اوسیږي بیا وربانديې د حج میاشتې راشي.) نو هغه لپاره د حج په میاشتو کـې عمـره کول مکروه دی خو دا هله چې په همدې کال کې حـج کـول غـواړي، او کـه پـه دی کال حج ونکړي نو بیا د حج په میاشتو کې عمره کول مکروه نه دی. (زبـدة المناسـک ج ۱ ص ۲۵۵) که په همدې کال د حج اراده لري مګر عمره یې هم وکړ نو وربانـدې د جبر دم لازمیږي.

په درمختار کې دي: (والمكي و من في حكمه يفرد فقط) ولو قرن او تمتع جاز و اساء و عليه دم جبر (در مختار مع الشامي ج ٢ ص ٢٧٠) (باب التمتع) فقط والله اعلم بالصواب ٢٩ رمضان المبارك ١٣٩٩).

یوه عمره د څو کسانو له طرف نه کول:

(۱۷۵_ سوال): که چیرته یو سړی د څو کسانو له طرف نه عمره وکړي نـو ایـا داسې کیدی شي او که نه؟

(ځواب): نفلی عمره د نفلی لمونځ په شان دی، د یوې عمرې په ثواب کې لـه یـو تـن نه زیات کسان هم شاملولې شي، لیکن که چیرته څو کسانو د عمرې کولو غوښتنـه کـړی وي چې زمونږ لپاره عمره وکړه نو بیا هریو لپاره جلا جلا عمره پکار ده.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

له حج نه وروسته د عمرې لپاره یـې احـرام وتـاړه خـو عمـره یـې ونکړی شوه، په دی سره حج کې نقصان راځي او که نه؟

(۱۷٦_ سوال): سږ کال زه حج ته تللی وم، د حج ټول ارکان مې ادا کړل، د حـج لـه ادا کولونه وروسته مدینې منورې ته لاړم، له هغه ځای نه د واپسې په وخـت کـې مـې د عمرې احرام وتړله او مکې ته ننوتم، لیکن اتفاقاً پـه همـدې ورځ پـه حـرم شـریف کـې هنګامه وشوه چې د هغې په وجه مې نه طواف وکړی شو او نه هم سعی، ځکه چې ټول حرم بند و، تر خلورو ورځو پورې مې انتظار وکړ بالاخره مجبور شوم او په حرم کـې مـې دم ذبح کړ او ځان مې حلال کړ. ایا زما د دغه عمل پـه وجـه عمـرې او حـج کـې خـه خلل راغی او که نه؟ او که خه خلل راغلی وي نو د دی تلافی لپـاره صـورت خـه دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب): تا چې په حرم شریف کې د هنګامې په وجه د عمری افعال ترسـره نکـړی او په حرم کې دی د دم له ذبح کولونه وروسته خپل ځان حلال کړ، نو ستا دا کـار صـحیح دی. ځرنګه چې ته مجبور وي نو ځکه پر تا خه ګناه هم نشته او پـه حـج کـې دی هـم

[1] - ((فاذا حرم بحجه عن اثنين امره كل فهما بان يحج عنه ، وقع عنه ولا يقدر على جعله لاحـــدهما و ان احـــرم عنها بغير امرهما صح جعله لاحدهما او لكل منهما (شامي باب الحج عن الغير ج ٢ ص ٣٣٦))

خخه خلل نه دی راغلی، خو د دغې عمره قضا پرتا واجبه ده، چه کله هم موقع ترلاسه کړي دا قضا عمره ضرور ادا کړه.

(و یجب علیه ان حل من حجه) ولو نفلاً (حجةً) بالشروع (و عمرة) للتحلل ان لم یحج من عامه (و علی عمره) ای علی المعتمر اذا احصر قضاء عمره ..... الخ (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۳۲۲) فقط والله اعلم بالصواب ۱۲ جمادی الاولی ۱۴۰۰ ه ص ۱٤٤ .

د حج په ورځو کې عمره کول:

(۱۷۷_ سوال): مونږ خلک په سعودي عرب کې د ملازمت لپاره اوسیږو. مونږ ته د حج لپاره اووه اته ورځې رخصتی راکوي، مونږ د ذی الحجې په اتم تاریخ مکې معظمې ته ورسیدلواو په همدې ورځ مو عمره وکړه، لدینه وروسته د ذی الحجې په دیارلسم تاریخ واپس کیدل ضروري دی نو د نهم ذی الحجې نه تر دوه لسم ذی الحجې پورې عمره کولې شو او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): له نهم ذی الحجې نه تر دیار لسم ذی الحجې پورې د عمرې احرام تړل او عمره کول تحریمې مکروه دی، د رخصتي د نه ترلاسه کیدو عذر معتبر نه دی. په معلم الحجاج کې دي:

عمره په ټول کال کې کول جایز دی صرف پنځه ورځې (له نهم ذی الحجې نه تر دیار لسم ذی الحجې پورې.) د عمرې احرام تړل تحریمې مکروه دی، که چیرته په دغو ورځو کې احرام ونه تاړه بلکی له مخکې نه احرام یی تړلی نو بیا مکروه نه دی. مثلاً کوم سړی له مخکې نه احرام تړلی راغی خو د حج ورځې یې ونه موندلې او هغه په دغو ورځو کې عمره وکړه نو مکروه نه دی، لیکن هغه لپاره مستحب دا دی چې له دغو پنځو ورځو نه وروسته عمره وکړی. (معلم الحجاج ص ۲۲۳.) والله اعلم بالصواب.

كتاب النكاح

په نكاح كې د ايجاب او قبول طريقه :

(۱۷۸_ سوال): دلته د نكاح په يو مجلس كې كله چې وكيل، منكوحه ، شاهدان و ناكح او منكوحه خپلوانان او نورخلك را غونډ شول او مولانا صاحب د نكاح د خطبې له شروع كولو نه مخكې د وكيل نه پوښتنه وكړه چې ايا زه نكاح وتړم ؟

هغه ورته وويل هو! د وكيل له اجازې نه وروسته مولانا صاحب د نكاح خطبه ولوسته او لدينه وروسته وكيل ته ايا تا خپل موكله مسماه فلان فلان شخص ته په نكاح كې وركړ، هغه يې ايجاب او قبول الفاظ يې وويل، نكاح كوونكې هلك هم وويل چې ما قبوله كړه، ايا په مسًوله صورت كه نكاح منعقده شوه اوكه نه؟ بينوا توجروا.

(۲) د خلكو له حاضريدو نه وروسته او د نكاح خطبې له لوستلو نه وړاندې د مولا نا صاحب دا پوښتنه چې نكاح وتړم ؟ د هغه په ځواب كې د وكيل له خوا د هو ځواب وركول، دا د ايجاب الفاظ كيدلي شي او كه نه؟

(۳) د وكيل د وينا نه بغير چې ما خپله موكله د فلان كس په نكاح كې وركړه، بلكې د مولا نا صاحب په وينا چې فلان وكيل خپل موكله تاته په نكاح كې ردكړه ايا د مولانا صاحب دا الفاظ ايجاب كيدلى شي ؟

(۴) دا چې وكيل دا نه وي ويلى چې ما خپله موكله دفلان سړي په نكاح كې وركړه بلكې مولا نا صاحب دا ووايي چې فلان وكيل خپله موكله تاته په نكاح كې دركړې ده او نكاح كوونكې ځوان دا ووايي چې ما قبوله كړه، ايا په دى سره فضولي نكاح كيږى ؟ د فضولي نكاح صورت خو دا دى چې نكاح تړونكې مولا نا صاحب دا ووايي چې ما فلانكې ښځه ستاسې په نكاح كې دركړه او ناكح ووايي چې ما قبوله كړه. بينوا تو جروا.

(ځواب) (۱) اصلى مسًله داده چې وكيل بالنكاح پخپله نكاح وتړى د موكله له اجازې نه پر ته بل چا ته دا اجازه نشته چې چا ته د هغې د نكاح تړلو ووايي.

(لا يو كل الوكيل باذن او تعميم تفويض.) (اشباه النظائر كتاب الوكاله ص ۳٦۴).

كه چيرته د نكاح وكيل د موكلى له اجازينه بغير بل چاته د نكاح تړلو اجازه وركړى او هغه نكاح وتړله نو دځينو په نزد دا فضولي نكاح ده او د ناوى قولي يا فعلي اجازى پورې موقوف او منعقد دي. اوځينو فقهاء رحمهم الله عليه د دى قائل دي چې كه

وکیل د نکاح په مجلس کې موجـود وي نـو نکـاح یې جـائز او صـحیح دی او همدغه مختار او معمول بها دی.

الوکیل بالتزوج لیس له ان یوکل غیره، فان فعل فزوجه الثانی بحضرة الاول جــاز (فتاوی قاضی خان فصل فی التوکیل بالنکاح والطلاق والعتاق ج ۳ ص ۵۸۰ فتـاوی عالمکیری ص ۲۰ ج ۲). لهذا په مسُوله صورت کې چې کله نکاح لوستونکې له وکیل نـه نکاح دتړلو پوښتنه وکړه او وکیل وویل چـې هـو ویې لولـه، نـودا توکیـل دی، د نکـاح مجلس او عرف عام د دی قرینه ده او ناوی هم پوهیږي چې نکاح بل تن تـړي نـو دا د ناوی له طرف نه اجازه ګڼل کیږي.(لان المعروف کا لمشروط).

لدینه وروسته: د نکاح تړونکې مولا نا صاحب واده کوونکې ځوان ته دا ویل چې فـلان وکیل د خپلی موکلی مسماة فلانکې نفس تا ته په نکاح کې ورکړ تا قبوله کړه ؟

دا ایجاب دی، په ځواب کې د ځون دا ویل چې ما قبوله کړه، نو دا قبول دی.

الاصل ان الامر متی حضر جعل مباشراً (در مختار) (قوله جعل مباشراً) لانــه اذا کان فی اخس العبادة الیه کما قدمناه (شامی ص ۳۷۷ ج ۲ کتاب النکاح).

دزیات تشفي او معلومات لپاره لاندی دوه فتوی نقلوو:

(۱) (۴۲ سوال): د جلی پلار نکاح تړونکې مولا نا ضاحب تـه وویـل چـې زمـا د لـور نکاح وتړه، مولا نا صاحب دا سی وکړه چې ای عمره ! تا د زید لور د سلو روپیـو د مهر په عوض کې قبوله کړه ؟ هغه وویل هو ما قبوله کړه ، ایا له هغې سره یې نکـاح وشـوه او که نه؟ نکاح تړونکې مولا نا صاحب د پلاروکیل دی او که پخپله دجلی؟

(ځواب): په دی صورت کې که ایجاب او قبول د دوه ګواهانو په وړاندی شوي وي نو نکاح صحیح ده، نکاح تړونکې مولا نا صاحب دجلی د پلار وکیل دي.

(فتاوای دار العلوم مدلل و مکمل حضرت مفتی عزیز الرحمن ج ۷ ص ٦۵).

(۲) (۱۳۷ سوال): یو سړي ثالث شخص ته وویل چې ما تاته اجـازه درکړیـده بیـا دغه ثالث سړي واده کوونکې ته وویل : ایا تا فلانکې ښځه قبوله کـړه ؟ هغـه پـه ځـواب کـې وویل هو ما قبوله کړی ده، ایا په دی صورت که نکاح صحیح کیږي او که نه ؟ دلتـه پـه ایجاب او قبول کې صرف یو جزء موجود دی.

(ځواب): په دی صورت کی نکاح منعقد شوي ده ځکه چې ثالـث سـړی دجلـی د ولي وکیل دی، وکیل چې کوم کلام وکړه چې فلانکې ښځه تا قبوله کړه، نو دا ایجـاب دی.

او كله چې خاوند يې وويل هو ما قبوله كړې ده نو دا قبول شوه، پس دغه دواړه اركـان يعنې ايجاب او قبول و موندل شول (ايضا فتاواى دارالعلوم ص ٧٨٢٩).

كه نكاح لوستونكې مولا نا صاحب د وكيل له اجازې نه بغير ايجـاب او قبـول وكـړ او وكيل په مجلس كې موجود وي او هغه له نكاح نه وروسته په خپله ژبه اجـازه وركـړه يـا فعل او حال سره رضا ښكاره كړه نو دا د نكاح د نفاذ لپاره كافي وي.

توكيل اذا و كل بغير اذن او تعميم و اجاز ما فعله وكيله نفذ الا الطلاق والعتــاق. (الاشباه) قوله و اجاز فعله ، وكيله اقول و كذا لو عقد اجنبية فاجازا لاول (حموى شرح الاشباه والنظائر ص ٣٦٨ كتاب الكاله). فقط والله اعلم بالصواب .

(٢) دا ايجاب نه بلكې توكيل دى فقط والله اعلم بالصواب ،

(٣) د لومړى وكيل په موجودګى كې دا الفاظ د ايجاب او قبول دي . فقط والله اعلـم بالصواب.

(٤) د لومړى وكيل په عدم موجودګى كې نكاح فضولى كيږي او د ناوى قولي يا فعلـي اجازت باندې موقوف او منعقد كيږي. فقط والله اعلم بالصواب .

د نكاح خطبه كله ولوستل شي ؟

(١٧٩_ سوال): د نكاح خطبه له نكاح نه مخكې لوستل پكار دى او كه وروسته ؟

(ځواب): د مسنونه نكاح طريقه داده چې د نكاح په مجلس كې لومړى خطبه ولوسـتل شي او بيا دى ايجاب او قبول وكړى شي.[1]

كه په نكاح كه خطبه و نه لوستل شي نو څه حكم دى ؟

(١٨٠_ سوال): كه له نكاح نه مخكې يا وروسته خطبه و نه لوستل شي نو نكاح صـحيح كيږي او كه نه ؟

(ځواب): كه خطبه يې و نه لوست نو نكاح كيږي خو له سنت نه مخالفه او لـه بركـت نه به محرومه وي.[2]

---

[1] قوله و تقديم خطبة بضم الخاوما يذكر قبل اجراء العقد من الحمد والتشهد (شامى كتــاب النكــاح ج ٢ ص ٣٥٩).

[2] - و يستحب ان يكون النكاح ظاهرا و ان يكون قبله خطبه بحر الرائق كتاب النكاح قبيل قوله و ينعقــد ..... الخ.

که چیرته په پټه کورکې نکاح وتړی نو د دی څه حکم دی ؟

(۱۸۱ـ سوال): که چیرته څوک په پټه په کورکې نکاح وتړی نو نکاح یې صحیح کیږی او که نه؟

(ځواب): که چیر ته د ایجاب او قبول په وخت کې ګواهان موجـود وي نـو نکـاح یې صحیح دی، لیکن له عذر نه بغیر نکاح تړل له سنت نه مخالف کـار دی، د نکـاح اعـلان کول پکار دی.

له نا وی نه د اجازی اخستلو په وخت د ګواهانو موجودګی :

(۱۸۲ـ سوال) دناوی نه د اجازی اخستلو په وخت د ګواهانو موجودګی ضـروري دی او که نه ؟

(ځواب): له ناوی نه د اجازی اخستلو په وخت د ګواهانو موجودګی ضروري نـه دی، خو ښه او غوره کار دی. البته د ایجاب او قبول په وخت کې چې د ښځې وکیل یـا ولي موجود وي ضروري دی. (مکتوبات شیخ الاسلام ص ۳۰۴). او په شامي کې دي :

و اعلم انه لا یشترط الشهادة علی الوکالة بالنکاح بل علی عقد الوکیل و انما ینبغی ان یشهد الوکاله اذا خیف جحد الموکل ایاها فـــتح (ج ۲ ص ٤٤٦ مطلـــب فی الوکیل والفضولی فی النکاح) فقط والله اعلم بالصواب .

د نکاح د خطبې مسنونه طریقه کوم یوه ده ؟

(۱۸۳ـ سوال) د نکاح خطبه په ولاړه لوستل سنت دی او که په ناسته ؟

(ځواب): اصل دا دی چې خطبې په ولاړه و لوستل شي، مګر په ناسته هم جائز ده. په هندوستان کې عموماُهمداسی رواج دی . په عربو کـې هـم اوس همداسـې رواج پیـدا شوی دی (مکتوبات شیخ السلام نمبر ۹۴ ص ۳۰۵).

د نکاح وکیل خپل ځانته نائب نیولي شي او که نه ؟

(۱۸۴ـ سوال): د نکاح په وخت کې د ناوی وکیل پخپله نکاح نه لولي بلکې نائـب یـا قاضي او بل شخص ته حواله کوي نو وکیل بل څوک خپل نائب نیولي شي او که نه ؟

(خواب) وکیل ته اختیار نشته چې بل څوک د نکاح د ترلو لپاره وکیل وینیسي البته د لومړی وکیل په موجودگی کې دویم وکیل، نائب، قاضي او یا بل څوک نکاح وتړی نو په دی کې څه حرج نشته، نکاح ورباندې منعقد کیږي. په فتاوای قاضی خان کې دي (الوکیل با لتروج لیس له ان یوکل غیره فان فعل فزوجه الثاني بحضره الاول جاز) یعنی د نکاح وکیل ته دا حق نشته چې بل څوک وکیل وگرځوي که هغه داسی وکړه او دویم وکیل د لومړی وکیل په حاضري کې نکاح وتړله نو نکاح بی صحیح شوه. (ج ۴ ص ۵۸۰ فصل فی التوکیل با لنکاح ... الخ.)

که چیر ته د واده ځلمی او ناوی دواړه په لاس کې کوپره ونیسی او په لاسو کې د گلونو پړی وتړی نو د دی څه حکم دی ؟

(۱۸۵_ سوال): زمونږ په علاقه کې د واده په وخت کې شاه او ناوی دواړه په لاسو کې سوچه کوپره چې له اوبونه دکه وي نیسی او دواړو لاسونو ته د گلونو پړی تاووي چې په هغه کې شپږ یا اووه غوتی اچوي، او دی لپاره یو خاص وخت معلوم دی، غرض دا چې د نکاح په وخت دا کار ضرور کنل کیږي، په خپلو ځایونو کې څوک دا کار نه کوي، ځینی وخت ملایان هم د دی بدی بیانوي او ورته وایی چې دا د کفارو رواج دی، لیکن کله د مصلحت په خاطر یې نکاح تړي، ایا دا ځیزونه په اسلام کې شته او که نه ؟ که څوک دا ضروری وگنی هغه گنهگاریږي او که نه ، که امام صاحب د داسی رسم په حالت کې نکاح وتړي نو په دی کې څه حرج شته ؟

(خواب): دا چې د نکاح په وخت کې د ناوی او شاه په لاسو کې د گلونو پړی تړی او سوچه کوپره چې له اوبو دکه وي په لاس کې ورکوي، اسلامي طریقه نه ده، بلکې دا د کفارو رواج دی . مراه الصفا فتاوی مومنین) مسلمانانو ته پکار دي چې لدینه ځانونه وساتي .

د محمد صلی الله علیه وسلم گرامی ارشاد دی : چا چې د بل قوم مشابهت وکړ نو د همغوی په جملی کې شمارل کیږي. (ابو داود) .

د پخوانیو انبیاوْ څخه یو نبی ته وحی وشوه چې ای نبی خپل قوم ته ووایه :

لا یدخل مداخل اعدائی لا یلبس ملابس اعدائی ولا یرکب مراکب اعدائی ولا یطعم مطاعم اعدائی فیکون اعدائی کما هم اعدائی .

یعنی هغوی دی زما د دشمنانو د داخل کیدو له ځای نه نه داخلیږی ، زما د دشمنانو لباس په شان دی لباس نه اغوندي او زما د دشمنانو دسورلیو پشان، سورلیو باندې دې نه سوریږي او زما د دشمنانو د خوراک پشان دی خوراک نه کـوي. (یعنــی ستاسی او هغوی ترمنځ امتیاز ضروري دی). که نه نو ستا قوم به هـم همغسـی زمـا د دشـمنانو په قطار کې شامل شئ څنګه چې هغوی زما د دشمنان دي. (کتـاب الزواجـر عـن اقتراف الکبائر ص ۱۱ ج ۱).

نوځکه فقیهه ، محدث ، قاضی ثنا ء الله لیکـي: مسـلم را تشـبهه بـا کفـار وفسـاق حرام است. (مالا بد منه ص ۱۳۱).

همدغسې د نکاح په وخت کې د ناوی او شاه په لاس کې پوره کوپره ورکـول د کفارو رواج او ټوټکه دی چې له هغوی سره مشابهت نه علاوه شرک هم دی، مسلمانان بایـد لـه داسی رسمونو او عقیدو څخه توبه وباسی چې ایمان تباه کوي، په لاسونو کې لـه ګلونو نه جوړ شوی پـړی تـاوول هـم اسـلامی رسـم نـه دی دا بایـد پرېښـودلی شـي. نکـاح لوستونکې قاضی د مبارکې مستحق دی چې هغـه لـدی رسـم نـه خلـک منـع کـوی او نصیحت ورته کوي، که داسی خپل فرض ادا کړی نو دیـر ژر بـه دغـه خـراب رسـم لـه منځه لاړشي. فقط والله اعلم بالصوات .

که چیرته د کافر جج په مخکې هلـک او جلـی ایجـاب او قبـول وکړي نو نکاح یې صحیح کیږی او که نه؟ او دا د سنت له طریقـی سره سمون خوري او که نه ؟

(۱۸٦_ سوال): جلی په انګلستان کی د قانون پـه مطـابق د نکـاح رجسـتر کولـو لپاره سرکاري دفتـر تـه ورځـي او د غـیر مسـلم قاضـي پـه وړانـدي د وکیـل او ګواهـانو پـه موجودګی کې هلک اوجلی ایجاب او قبول کوي چې پکې خطبه او دعا نه وی. ایـا دا نکاح صحیح کیږی او که نه ؟ ایا دینه د سنت په مطابق نکاح ویلی شوو او کـه نـه ؟ ایا لدینه پس په اسلامی طریقه دوباره نکاح تړل ضروري دی او که نه ؟ دا نکـاح دی فـوراً وتړل شی او که دوه دری میاشتی مؤخر کیدلي شی؟ بینوا تو جروا.

(ځواب): که څه هم د غیر مسلم جج په وړاندی د دوه مسلمانو سړو یـا د یـو سـړی او دوه ښځه په وړاندی د باقاعده ایجاب او قبول سره نکـاح صـحیح کیـږي او د زوجیـت حقوق هم ترلاسه کیږي (۱) لیکن د نکاح د غه طریقه له سنت نه خلاف ده.

مسنونه طریقه داده چې نکاح علی الاعلان وشـي او خطبـه دی ولوسـتل شـي لهـذا لـه قانوني کاروایی نه وروسته دی په کـورکې فـورا پـه مسـنونه طریقـه نکـاح وکـړی شـي وروسته کول نا مناسب او له مصلحت نه خلاف دی [1] فقط والله اعلم بالصواب

د دویمي نکاح په متعلق د خاوند وصیت :

(۱۸۷ـ سوال): زما خاوند له خپل مرگ نـه مخکـې د تندرسـتی پـه حالـت کـې دخـو وجوهاتو له کبله دا وعده اخستی ده چې زما له مرگ نه وروسته بـه دویم واده زرکـوي . زه اوس څه وکړم یوه طرف ته وعده ده او بل طرف ته شرم او حیـاء ده چـې خلـک بـه څه وایی ؟ مهرباني وکړی په دی باره کې معلومات را کړئ .

(ځواب): که خاوند درنه وعده هم نه وي اخستی بیا هم کـه د نکـاح قابلـه یی او ښـه موقع تر لاسه شي نو قبلول یې پکار دي ، په دی کې د شرم هیڅ خبره نشـته، پـه قـران کریم کې د الله تعالی حکم دی :

(وانکحو الایامی منکم)

یعنی له تاسی نه چې څوک بی نکاح وي د هغوی نکاح وکړئ.

په حدیث که د کونډی ښځې د واده لوی فضیلت بیـان شـوی دی . شـاه عبـد القـادر جیلانی فرمایی :

(انه قال لیس شیئ خیر للمرأة من زوج او قبر .)

یعنی د ښځې لپاره د خاوند غیر او قبر نه علاوه بل هیڅ خیز نشته.

یعنی د ښځې خیر په دی کې دی چې هغه خاوند ولری او یـا پـه قبـر کـې وي. محمـد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي :

مسکینة مسکینة مسکینة امراة لیس لها زوج قیل یا رسول الله صلی الله علیـــه وآلـــه وسلم و ان کانت غنیة من المال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وان کانت غنیة من المال .

---

[1] - و ینعقد بایجاب و قبول و ضعاللماضی او احد هما ..... عند حرین او حرو حرتین عاقلین بالغین مسلمین ولو فاسقین ..... الخ فلم یصح بغیر شهود لحدیث الترمذی البغا یا اللا نی ینکحن انفسهن من غیر بینه بحـــر الرائـــق (ج ۳ ص ۸۷) .

یعنی غریبه مسکینه، غریبه مسکینه، غریبه مسکینه ده هغه ښځې چې خاوند نه لري. عرض وشو چې که څه هم مالداره وی ؟

وفرمایل که څه هم مالداره وي خو لـه خاونـد نـه پرتـه غریبـه او مسـكينه ده . (غنيـة الطالبين ج ۱ ص ۳۲). لهذا پریشانه کیږه مه.

انا لله وانا اليه راجعون . اللهم عندك احتسب مصيبتي فاجرني فيها وابدل لي خيراً.

بیشکه مونږ د الله یو او بیشکه مونږ همغه ته ورپیش کیدونکې یو، ای الله له تـا نـه اجـر و ثواب غواړم د خپل مصیبت، ما ته اجر و ثواب را کړه، او لدینه بهتـر بـدل را کـړه. فقـط والله اعلم بالصواب .

که د وکیل په موجودګی کی قاضـی صـاحب نكـاح وتـړی نـو څنګه دی ؟

(۱۸۸ـ سوال): د دین مفتیان او علماء په دی مسٔله کې څه وائی چې زمونـږ پـه علاقـه کې امام صاحب نکاح تړي. د نکاح په یو مجلس کې د ناوی وکیل د دستور پـه مطـابق له امام صاحب نه د نکاح تړلو غوښتنه وکړه ، امام صاحب خطبه ولوسـت او شـاه تـه یی وویل فاطمه بی‌بی خپل نفس د خپل وکیل پـه وکالـت سـره ددغـو دواړو ګواهـانو پـه ګواهی سره د حاضرینو په مجلس کې ددومره مهر په عوض کې تا ته په نکاح درکـړه تـا قبوله کړه او که نه ؟

شاه وویل هو ما قبوله کړه ، ایا په دی سره نکاح وشوه او که نه ؟ یـو غـیر مقلـد مولـوی صاحب وایی چې نکاح یې نه ده شوی ځکه چې په دی کی ایجاب نه دی شـوې او دا رکن دی‌لهذا نکاح باید دوباره وتړلی شی، که نه نو دوی پـه زنـا کـې ککړشـي. ایـا دا اعتراض صحیح دی ؟ بینوا تو جروا . .

(ځواب): په مسٔوله صورت کې نکاح تړونکې مولوی صاحب د وکیل په اجـازی سـره د نکاح خطبه ولوستله او د وکیل په موجودګی او د شرعی ګواهانو په حاضـري کـې شـاه یا د واده ځلمی ته په خطاب کې ویلی دي چې فاطمه بی بی دهغه د وکیل په وکالـت سره او د ګواهانو په ګواهی سره په مجلس کې د ناستو خلکو په مخکې د دومره مهر پـه عوض می تا ته درکړه ایا تا قبوله کړه ؟ د امام دا خبره ایجاب ده ، د دی په ځواب کـې چې نکاح کوونکې ځلمي ما قبوله کړه وویل نـو دا ایجـاب او قبـول دواړه شـول،لهـذا نکاح ...وشوه . په فتاوای قاضی خان کی دی:

الوکیل بالتزوج لیس له ان یوکل غیره فان فعل فزوجه الثانی بحضرة الاول جاز (ج ۳ ص ۵۸۰ فصل فی التوکیل بالنکاح ..... الخ) (فتاوی رحیمیه اردو ج ۸ ص ۱۴۸ . فتاوی رحیمیه گجراتی ج ۲ ص ۱۰۰۹۹ انگلش ج ۲ ص ۱۵۶) فقط والله اعلم بالصواب .

د عدالت په وړاندی نکاح کول :

(۱۸۹_ سوال): ما او قمر النساء دواړو په پټه په عدالت کې دننه د قاضی په مخکې نکاح کړی ده، وروسته کله چې د جلی مور او پلار ته معلوم شو نو هغوی ډیر خفه شول او خپل لورته یی وویل که چیر ته تا خپل نکاح په عدالت کې ختمه نکړه نو مونږ به تا مړه کړو، ما ته یی سخت اخطارونه را کړل،لهذا مونږ عدالت ته لارو او جلی د خپلو والدینو په موجودگی کې دا درخواست ورکړ چې زه سابقه نکاح ختموم نو د هغې په وینا سابقه نکاح یې ختمه کړه ، لیکن مونږ دواړو دا کار یواځې دهغې مور او پلار دغلی کولو لپاره کړی و. که نه مونږ دواړو پټ عهد کړی دی چې مونږ بوه نه یوه ورځ ضرور خپل مور او پلار رضاء کوو او له یو بل سره د واده رشته قائموو.

اوس یو مولوی صاحب وایی چې کله په عدالت کې نکاح ختم شوی ده نو مغلظ طلاق واقع شوی دی اوس له شرعي حلالی نه پرته ستاسې نکاح نه کیږي، که چیر ته د هغې مور او پلار رضاء شي نو له حلالی نه پر ته زمونږ نکاح کیدای شي او که نه ؟

(خواب): په مسٔوله صورت کې هلک او جلی دواړو په عدالت کې نکاح کړی ده په دی سره شرعاً نکاح نه ده شوی ځکه چې د نکاح د صحت لپاره ددوه شرعي گواهانو په وړاندی ایجاب او قبول ضروري دی.[1]

همدغه راز دواړو چې په عدالت کی د جج په وړاندی تفریق اختیار کړی دی هغه طلاق نه دی ، ځکه نکاح نه ده شوي نو طلاق څنگه واقع کیدلی شي ؟ د مولوی صاحب خبره صحیح نه ده، که چیر ته ستاسی مور او پلار رضاء وی نو ستاسی نکاح کیدلی شی. فقط والله اعلم بالصواب ۲۹ \ ۱۳۹۹ ۵ .

---

[1] - ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین بالغین مسلمین .... الخ (هدایة کتاب النکاح ج ۲ ص ۳۶).

له کوژدن نه وروسته د هلک او جلۍ ناسته او ولاړه ؟

(۱۹۰ ـ سوال): زمونږ په علاقه کې له کوژدن نه وروسته هلک او جلۍ دواړه د ښځې او خاوند پشان آزادانه ډول تفریح لپاره د باندې چکر ته ځي. مور او پلار هم ښه په خوشالي ورته اجازه ورکوي، خوځو ورځې یواځې ګرځي. ایا له کوژدن کیدو نه وروسته دا ډول آزادانه ګرځیدل ناسته ولاړه کول جائز دی ؟ بینوا تو جروا.

(ځواب): کوژدن کول د نکاح وعده ده نه نکاح.لهذا آزادانه ګرځیدل او په خلوت کی ناسته ولاړه کول حرام دی، صحبت کول د زنا په حکم کې دی، که ما شوم بی پیدا شي نو هغه حرامي دی، که چیرته له کوژدن نه وروسته دواړه جلا جلا نشي پاتی کیدلي نو نکاح دی ورته وتړی.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

له واده نه مخکې جلۍ ته په شهوت سره کتل :

(۱۹۱ـ سوال): زید واده نه ده کړی هغه له صفیې سره واده کول غواړي، ایا له واده نه وړاندي صفیې ته کتلی شی که څه هم د شهوت ویره وي ؟ بینوا تو جروا.

(ځواب): دا چې زید له صفیې سره د واده کولو مصممه اراده کړی ده نو هغې ته د ضرورت په اندازه کتلی شي اګرچې د شهوت ویره وي.

(و كذا مريد نكاحها) ولو عن شهوة بنية السنة لاقضاء الشهوة (قوله بنية السنة) ولو ارادان يتزوج امراة فلا بأس ان ينظر اليها و ان خاف ان يشتهيها لقولـــه عليـــه الصلوه و السلام للمغيره بن شعبه حين خطب امرأة انظر اليها فانه احرى ان يـــودم بينكما رواه الترمذى والنسائى و غيرهما (شامى ج ٥ ص ٣٢٥ كتاب الحظر و الا باحه باب فى النظر و اللمس) فقط والله اعلم.

---

[1] - اوهل اعطتنيها ان المجلس للنكاح و ان للوعد فوعد (در مختار مع الشامى كتاب النكاح ج ٢ ص ٣٦٤).

له چا سره چې د واده کولـو اراده وي هغـه تـه د جلـی فوتـو (عکس) لیږل .

(۱۹۲ ــ سوال): هلک په انګلستان کې او سیږی او جلی په هندوستان کې ده، هغـه لـه جلی سره واده کول غواړي نو جلی خپل عکس هغه ته لیږلی شي او کـه نـه ؟ بینـوا تـو جروا.

(خواب): د فوتو (عکس) لیږلو اجازه نشـته، پخپلـه دی راشـي او جلـی دی وګـوري.

فقط والله اعلم بالصواب.

که ښځه او خاوند دواړه مسلمان شي نو څه حکم یی دی ؟

(۱۹۳ــ سوال) ښځه او خاوند دواړه هندوان وو ، اوس دواړو اسلام قبول کړی دی ایـا د هغوی نکاح به دوباره تړل کیږي ؟ بینوا تو جروا.

(خواب) ښځه او خاوند چې دواړه هندوان وو او هغوی د خپل هندو طریق په مطـابق نکاح تړلی و او اوس د الله په فضل مسلمان شوي دي نو د دوباره نکـاح تړلـو ضـرورت نشته ، د اسلام راوړلونه وروسته د نکاح له تجدید نه پرته دواړه د ښځې او خاونـد پشـان اوسیدلی شي. په هدایه کې دي :

و اذا تزوج الكافر بغير شهود اوفى كافر و ذلك فى دينهم جائز ثم اسلما اقرا عليه و هذا عندابى حنيفة (هدايه اولين ص ٣٢٤) باب نكاح اهل الشرك فقط والله اعلـم بالصواب .

• د جمعې لمونځ نه وروسته او له سنتو نه وړانـدې د نکـاح مجلـس قائمول څنګه دی ؟

(۱۹۴ــ سوال): د جمعې لمونځ له ادا کولونه وروسته متصل له سنتو نه مخکـې د نکـاح مجلس قائمول څنګه دی، مقصد دا دی چې ټول خلک د نکاح په مراسمو کـې شـرکت وکړي، شرعاً د دی څه حکم دی؟ بینوا تو جروا.

(خواب) په مسئوله صورت که له سنتو نه وړاندی د نکاح تړلو لپاره مجلس قائمول ښـه کار نه دی چې له ډیرو خلکو نه سنتونه پاتی کیږي ، همدغه راز په مسجد کـې شـور مـا

شور هم کیږي، او کوم خلک چې سنتونه لولی نو هغوی ته هم خلل پیدا کیږي. لهـذا د دی اجازه هرګز نشي ورکول کیدلي.[1] فقط والله اعلم بالصواب

که د منکوحې دوه نومونه وي، د نکاح په مجلس کې دهغې مشهور نوم واخستل شو نو څه حکم یې دی؟

(۱۹۵_ سوال) د یوی جلی اصلی نوم ریحانه بانو بنت عبد الکریم دی، ټول خلک یې په همدې نوم پیژنی، سکول او په راشن کار ډکې هم همدغه نوم یې دی، د هغوی مادری بابا وربانډې مریم نوم ایښي دی او هغوی په همدی نوم یادوي، دهغې د نکاح په دعوت نامه کې مریم نوم لیکل شوی دی، خو د نکاح په مجلس کې دهغې اصلي نوم ریحانه بانو بنت عبد الکریم وویل شو، د نکاح په رجسټر کې هم همدغه نوم لیکل شوي دی، چیرته چې واده شوي ده د هغوی کورنی خوابنې او خسر او خاوند یې هم په همدی نوم پیژني، له نکاح نه وروسته څه خلکو دا ویل شروع کړی دي چې دا نکاح نه ده شوی. ایا دا نکاح شوی ده او که نه ؟ ایا دوباره نکاح کول ضروري دی ؟ بینوا تو جروا

(خواب) د نکاح صحیح کیدو لپاره د منکوحې ممتاز او متعین کیدل ضروری دی، په دی کې باید یوه پوتی‌هم جهالت نه وي ،ګواهان باید په دی خبره بنه پوه شي.

چې د فلانکې جلی نکاح له فلانکې هلک سره تړل کیږي، همدغه راز هلک هم په دی پوه شی چې زما نکاح له فلانکې جلی سره کیږي ، که چیر ته د نکاح په مجلس کې د جلی وکیل موجود وي او یواځې د جلی نوم په اخستلو سره ابهام او جهالت لری کیږي نو یواځې دهغې نوم اخستل کافی دی او که یواځې دهغه نوم په اخستلو سره ابهام او جهالت نه لری کیږي نو د پلار نوم دی هم واخلي، که لدینه هم زیات ضرورت مخې ته راشي نو د نیکه نوم اخستل هم ضروري دی، غرض دا چې د ایجاب او قبول په وخت کې باید ابهام او جهالت بالکل پاتی نشي . په در مختار کې دي :

ولا المنكوحة مجهولة (در مختار ج ۲ ص ۳٦۷) .

---

[1] لـــه ســـنتونو نه وروسته جائز دی. وكونه فی مسجد یوم الجمعه. در مختار مع الشامي كتـاب النكـاح ج ۲ ص ۳٦۰).

تنبيه : اشار بقوله فيما مر ولا المنكوحة مجهولة الى ما ذكره في البحر هنا بقوله ولا بد من تميز المنكوحة عند الشاهدين لتنفي الجهالة (شامى ج ٢ ص ٣٧٤) .

په شامي کې دي:

و يؤيده ما سيأتي من انها لو كانت غائبة و زوجها وكيلها فان عرفها الشهود و علموا انه ارادها كفى ذكر اسمها و لا بد من ذكر الاب و الجد ايضا ..... الخ (شامى ج ٢ ص ٣٦٧ كتاب النكاح.

په امداد الفتاوی کې دي :

په مسٔوله صورت که چونکه د جلې مشهور نوم ریحانه بانو ده او ټول خلک په دې پوهیږي چې ریحانه بانو د عبدالکریم لور ده، د نکاح په مجلس کې خاوند او ګواهان همدغه ګڼي چې ریحانه بانو بنت عبدالکریم نکاح تړل کیږي او د ایجاب او قبول په وخت که هم دهغې اصلي نوم اخستل شوی دی نو نکاح یې صحیح شوې ده، د شک او شبهې کوم هیڅ ضرورت نشته د نکاح په دعوت نامه کې چه کومه غلطی شویده په دې سره د نکاح په صحت که هیڅ اثر نه پړی اوځي. په شامی کې دي :

قوله ولا المنكوحة مجهولة) قلت و ظاهره انها لو جرت المقدمات على معينه و تميزت عند الشهود ايضاً يصح العقد وهى واقعة الفتوى لان المقصود نفى الجهالة و ذلك بتعينها عند العاقدين والشهود و ان لم يصرح اسمها (شامى ج ٢ ص ٣٦٧ كتاب النكاح).

(۱۲٦۹_ سوال): ایا د نکاح په وخت کې دی قاضی د ښځې نوم د خلکو په وړاندې په زوره واخلی او ایجاب و قبول دی وکړي ؟ او که د ښځې د نوم له اخستلو نه بغیر ایجاب او قبول وکړي نو نکاح یې صحیح کیږي او که نه ؟

(ځواب): د نکاح د جواز لپاره شرط دادی چې منکوحه د خاوند او ګواهانو په وړاندې مجهوله پاتې نشي بلکې له نورو ښځو نه متمایز شي، که هغه هر قسم امتیاز او فرق وي. ، که چیر ته منکوحه پخپله حاضره وي نو دهغې په طرف اشاره کول کافی دی او که غائبه وي نو که دهغې د نوم له تصریح نه بغیر په ځینو قیود اتوسره دهغه تعین او معلومول ممکن وي نو د نوم اخستلو ضرورت نشته، او که په اوصافو سره یې

تميز او فرق نه کیده نو دهغې د پلار او نيا نوم اخستل هـم ضروري ده، غـرض دا چـې ابهام رفع شي.

فی الدر المختار ولا المنکوحه مجهولا و فی ردالمختار قلت و ظاهره انها لـــو جـــرت المقدمات ..... الخ (امداد الفتـــاوی ص ۱۵۲ – ۱۵۳ ج ۲ فقـــط والله اعلـــم بالصواب.

((ما خپل ځان تا ته وبخښله)) په دی لفظ سره نکاح کیږی او که نه ؟

(۱۹٦ _ سوال): يوه جلی چې عمر يې ۲۰ کاله دی د دريو ګواهانو پـه مخکـې يـو ۲۷ کلن هلک سره خپل نکاح وکړه، جلی وويل ما خپل ځان تا ته وبخښله، هلک ورته وويل ما قبوله کړی، ایا په دغو الفاظو سره د هغوی نکاح وشوه او که نه؟ جلی او هلـک دواړه هم کفو دي. بينوا تو جزوا.

(خواب): په مسئوله صورت کې که ګواهانو تـه دا خبـره يقينـی وي چـې دوی شـرعی نکاح کوي او متعه نکاح نه ده نو نکاح یې صحيح ده، ليکن دا قسم پټه نکـاح کـول لـه سنت نه خلاف دی، سنت طریقه داده چې نکاح ښه په ښکاره او اعلان سـره وشـي. پـه هدايه اولين کې دي :

و ينعقد بلفظ النکاح والتزوج والهبه والتمليك و الصدقه (هدايـــه اولـــين ج ۲ ص ۲۸۵ کتاب النکاح).

په حدیث کې دي چې نکاح په علی الاعلان سره کوه:

عن عائشه رضی الله تعالی عنها قالت قال رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم اعلنوا هذا النکاح واجعلوه فی المساجدو اضربوا عليه بالدفوف رواه الترمـــذی (مشـــکوه شریف ص ۲۷۲ ، باب اعلان النکاح) فقط والله اعلم بالصواب.

ايا د تيلفون په ذريعه نکاح کیږي او که نه ؟

(۱۹۷_ سوال) هلک په بل ښار کې دی او زمونږ د کلي له یوی جلی سره د تیلفـون لـه لاری نکاح کول غواړي. ایا دهغه نکاح کیږي ؟

(خواب): د تيلفون په ذريعه نکاح نه صحيح کیږي. خو غائبانه نکاح صحيح کیږي چې طريقه یې د غائبانه واده تر عنـوان لانـدی تـيره شـوی ده، زيـات معلومـات لپـاره هغـه وګورئ.

د نکاح مسنونه خطبه :

(۱۹۸ _ سوال): یو سړی د مسنونه خطبی نه بغیر نکاح ولوست ایا په دی سره نکاح وشوه او که نه ؟ بینوا تو جروا.

(خواب): د نکاح مسنونه طریقه داده چې لومړی مسنونه خطبه ولوستل شي او بیا لدینه وروسته دی ایجاب او قبول وکړی شي، که چیر ته مسنونه خطبی نه بغیر د دوه شرعي ګواهانو په وړاندی ایجاب او قبول وکړی شي بیا هم نکاح خو کیږي مګر دا طریقه له سنت نه خلاف ده. (حواله مخکې تیری شوی ده) فقط والله اعلم بالصواب .

(۱۹۹ _ سوال) یو هلک له یوی جلۍ سره د نکاح له پاره خوشاله نه و، لکن څه خلکو هلک نکاح لپاره مجبورولو، خو هلک بالکل صفا انکار کاو. یوه ورځ هلک یی راګیر کړ او د خو خلکو په وړاندې په زوره د هغه نکاح وتړله، هلک د ویری نه په مجلس کې مجبوراً نکاح قبول کړ، ایا په داسې صورت کې نکاح منعقد کیږي او که نه ؟ بینوا تو جروا.

(خواب): کله چې هلک د نکاح کولو لپاره رضا نه و نو زور او زبردستی وربانديې باید نه وای شوی. نکاح د ټول عمر معامله ده، د هغو خلکو داکار دیر نا مناسب او نا معقول دی که چیر ته د نکاح په مجلس کې هلک په ژبه نکاح قبول کړی وي او دوه ګواهانو د ایجاب او قبول الفاظ یی اوریدلي وي نو نکاح یی شوی ده.

(وصح نکاحه وطلاقه و عتقه) لو بالقول لا بالفعل) ... الخ. (در مختار ص ۱۷۱ کتاب الاکراه). په شامي کې دي :

والمذکور منها فی عامه الکتب عشره نظمها ابن لهمام بقوله:

یصح مع الاکراه عتق ورجعه
نکاح وایلاء طلاق مفارق
وفنی ظهار والیمین ونذره
و عفو لقتل شاب منه مفارق.

(شامی کتاب الاکراه ج ۵ ص ۱۱۹)

(نوټ) که چیرته په ژبه د نکاح اقرار ونکړي مګر په زوره په نکاح نامه باندې دستخط وکړی شي نو په دی صورت کې نکاح نه کیږي.[1]

دویمی نکاح لپاره د اولادو او د کور خلکو خفه کیدل غلط کار دی.

(۲۰۰ ـ سوال): زما ښځه مړه شوی ده زما عمر له پنځوسو کلونو نه بره دی، لیکن د الله په فضل سره زما صحت ښه دی ، ما دویم واده وکړه او دواړه ښه خوشاله یو لیکن زما د خاندان خلک او زما اولادونه سخت غصه دي او همدا وائی چې تا ته دویمی ښځې ته هیڅ ضرورت نه و. ایا مونږ ستا د خدمت لپاره کافی نه وو ؟ په دی بوډا توب کې واده څومره د شرم خبره ده، خلک به څه وایی ، زما اولادو له ما سره تعلق ختم کړی دی او زما خپلوان هم له ما نه خفه دي ، ایا زما داکار د شریعت په نظر کې د ملامتیا او نفرت وړدی ؟ بینوا تو جروا .

(ځواب) الله تعالی فرمایی :

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ○ وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ (قران مجید سوره النور).

ترجمه : له تاسو نه چې څوک بی نکاح دي د هغوی نکاح وکړئ، او ستا له غلام او وینځو نه چې څوک د نکاح قابل وي هغوی هم نکاح کړئ ، که هغوی مفلس وي نو الله هغوی پخپل فضل سره غنی کوي، الله تعالی وسعت والا او خبردار دی، او داسی خلک چې د نکاح کولو طاقت نه لري هغوی ته پکار دي چې پخپل نفس کنترول وکړي تردی چې الله تعالی هغوی پخپل فضل سره غنی کړي. (او بیا نکاح وکړی).

په دی آیت کې دا هدایت دی چې کوم خلک بې واده وي ، که هغوی سړي دي یا ښځې، ښځه یې مړه شوی وي او یا طلاقه کړی یې وي.، همدغه راز هغه ښځې چې لا واده یې نه وي او یا هم کونډی شوی وي، مګر د نکاح کولو اهلیت لري هغوی باید نکاح وکړي.

- ((۱) و فی البحر ان المراد الا کراه علی التلفظ بالطلاق فلو اکره علی ان یکتب طلاق امرئه فکتب لا تطلق لان الکتابه اقیمت مقام العباره باعتبار الحاجه ولا حاجه هنا ، شامی کتاب النکاح قبیل مطلب فی المسائل التی تصح مع االکراه ج ۲ ص ۵۷۹.)

د نکاح ډیر لوی فضیلت بیان شوی دی څکه چې نکاح له ډیرو غمو او ورو گناهونو څخه د بچ پاتی کیدولو ذریعه ده ، په دی سره ددین او ایمان حفاظت کیږي په حدیث کې دي

عن انس رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اذا تزوج العبد فقد استکمل نصف الدین فلیتق الله فی النصف الباقی (مشکوة شریف ص ۲٦۸ کتاب النکاح .

حضرت انس رضی الله عنه فرمایی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې بنده نکاح وکړي نو هغه د خپل نیم دین د حفاظت انتظام وکړ اوس هغه ته پکار دي چې پاتی نیم کې له الله ویره او تقویٰ خپله کړي. کله چې سړی بې نکاح وي هغه لپاره محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی :

مسکینٌ مسکینٌ ، مسکینٌ لیس له امرأة ..

مسکین دی هغه سړی چې ښځه و نلري . (غنیة الطالبین ص ۹٦ فصل فی اداب النکاح). همدغه راز په حدیث شریف کې دي :

لیس شیئی خیرالا مرأة من زوج اوقبر.

یعنی ښځې لپاره د خاوند غیر یا د قبر نه کیدی نه بهتر بل څه نه دی. (غنیه الطالبین ج ۱ ص ۳۲).

په حدیث شریف کې دي :

عن عبد الله بن عمرو رضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم الدنیا کلها متاع و خیر متاع الدنیا المرأة الصالحة (رواه مسلم ، مشکوه شریف ص ۲٦۷ ، کتاب النکاح).

له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم و فرمایل : دنیا ټول متاع ده او نیکه ښځه بهترین متاع ده. (رواه مسلم، مشکوه شریف ص ۲٦۷ ، کتاب النکاح).

عن ابی امامة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وآله وسلم انه یقول ما استفاده المؤمن بعد تقوی الله خیراله من زوجة صالحة ان امرها اطاعته و ان نظر الیها

سرته و ان اقسم علیها ابرته و ان غاب عنها نصحته فی نفسها وما له روی ابن ماجه
(مشکوه شریف ص ۲٦۷ کتاب النکاح)

له حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مومن د الله له تقوی نه وروسته له ښځې نه زیات له هیڅ څیز نـه فائـده نـه ده ترلاسه کړی، او د نیکې ښځې نښه دا ده چې د خاوند د حکم اطاعت وکړي، که خاوند ورته وګوري نو خوشاله یې کوي، که چیر ته خاوند د هغې پر اعتماد قسم وخوري نو سر ته دی ورسوي ، د خاوند په غیر حاضري کې د خپل عزت او د خاونـد د مـال حفاظت وکړي.

حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چې نکاح کولو نـه بغیر عبـادت نـه کامليږي.

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ارشاد دي چې: که چیر ته ما ته دا معلوم شي چې زما د ژوند صرف درې ورځې پاتی دي او زما ښځه نـه وي نـو زه داخوښـوم چـې واده وکړم تر څوله الله سره ملاقات په داسې حالت کې وکړم چې ما واده کړی وي .

د حضرت معاذ رضی الله عنه دواړه ښځې د طاعون په نـاروغی کـې مـړی شـوي وي او هغه پخپله هم په دی ناروغی کې اخته و . بیا یې هم وویل چې ما ته واده وکړئ، زه دا نه خوښوم چې له الله سره داسې حالت کې ملاقات وکړم چې واده می نـه وي کـړی. (فضائل نکاح ص ١٦ _ ١٧ تالیف مولانا صدیق احمد باندوی).

لهذا دویم نکاح کول څه بدکار نه دی، که اولادونه او خپلوان ستا د راحت خـومره ډیـر خیال وساتی مګر کوم خدمت چې ښځه کولی شي نور خلک د هغې پشان خدمت نشي کولي، د ناروغی او بوډاتوب په عمر کې ښځه ډیر لوی نعمت ثابته شـوی ده، استنجا او د دی پشان نور خدمت چې ښځه ترسره کولی شي هغه نه مور ترسره کـولی شـي او نـه هم لور او خور،لهذا په ضعیفی کې واده کوونکوته بد رد ویل او ترینه خفه کیـدل ډیـره بده خبره ده . ګو یا د شریعت له یو حکم نه ناراضه پاتی کیدل د شریعت بـدګنل دي ، کومو ښځو ته چې طلاق ورکول شوي وي او هغوی د عدت له تیریدو نـه وروسـته واده کول غواري نو د هغوی په بـاره کـې د الله حکـم دا دي چـې تاسـې هغـوی لـه واده کولونه مه بندوئ. په قران کریم کې دي :

((وإذا طلّقتُمْ النّساء فبلغْن أجلهُنّ فلا تعْضلُوهُنّ أن ينكحْن أزْواجهُنّ إذا تراضوْا بيْنهم بالْمعْرُوف.))،

ترجمه او كله چې تاسو كې داسې خلك و موندل شي چې هغوی خپلو ښځو ته طلاق وركړي بيا هغه ښځه د خپل عدت له پوره كولونه وروسته له بيا سره نكاح كول غواړي اگر كه له لومړی خاوند سره يا په بل ځای كې نو تاسې هغوی لدې كاره مه منع كوئ چې هغوی د خپلې خوښې سړی سره نكاح وكړي، هله چې دواړه پخپلو كې رضاء شي د قاعدې په مطابق. (سوره بقره پاره نمبر ۲)

ځرنگه چې د طلاقی شوی ښځه له نكاح كولو منع كول جائز نه دی، همدغه راز كه نرسړی هم واده كول غواړي نو د هغه منع كول هم جائز نه دی،لهذا كوم خلك چې ستاله دويم واده نه خفه دي گويا هغوی د شريعت له حكم نه مخ گرځوي، هغوی ته پكار دي چې پخپل په دی، عمل باندې توبه او استغفار وكړی . الله تعالى دی مونږ ټولو ته په حق باندې د عمل كولو توفيق راكړي. امين يارب العالمين.

(۱) د گونگا نكاح دی ځنگه وتړل شي؟

(۲) د نكاح په وخت كې كلمه لوستل :

(۲۰۱ _ سوال): يو هلك گونگا دی او عمر يې ۲۵ كاله دی، مونږ د هغه لپاره واده كول غواړو، دوه مياشتې بعد د هغه واده ده، د هغه د نكاح طريقه به ځنگه وي. دا هم وواياست چې د نكاح په وخت كې كلمه وربانديې ويل ځنگه دي ؟ بينوا تو جروا.

(خواب): په مسئوله صورت كې هلك عاقل او بالغ دی، د نكاح صحيح كېدلو لپاره پخپله د هغه قبلول شرط دی، كه هغه پخپله خبرې نشي كولی، كه ليكل اولوستل كولی شي نو هغه ته دی دا وليكل شي چې ستا نكاح د دومره مهر په عوض كې د فلانكې جلی سره كولی شي ايا تا دا نكاح قبوله كړه ؟

هلك دی پر هغه وليكې چې ما دا نكاح قبوله كړه، په دی سره نكاح صحيح كيږي، او كه گونگا هلك په ليك لوست نه پوهيږي نو په اشارې سره دی نكاح قبول كړی شي. گونگا دی داسې اشاره وكړی چې له هغې نه دا واضح معلوم شي چې هغه نكاح قبلوي او گواهانو هم پوه شي چې هغه نكاح قبلوي، نو په دی سره هم نكاح صحيح كيږي په درمختار كې دي :

(او اخرس) ...... و استحسن الكمال اشتراط كتابته باشارته المعهوده فانها تكون كعبارة الناطق استحساناً. **په ردالمختار کې دي:**

(قوله و استحسن الكمال) ..... ففى كافى الحاكم الشهيده انصه فــان كــان لا يكتب و كان له اشارة تعرف فى طلاقه و نكاحه و شرائه و بيعه فهو جائز و ان كان لم يعرف ذلك منه اوشك فهو باطل اه فقد رتب جواز الا شاره على عجــزه عــن الكتبه فيفيد انه ان كان يحسن الكتابة لا تجوز اشارته ..... الخ (در مختار و رد المحتار ج ۲ ص ٥٨٤ كتاب الطلاق) (فتاوى دارالعلوم مدلل و مكمل ج ۷ ص ٦٠).

د نکاح د انعقاد لپاره د ایمان مجمل او ایمان مفصل کلمه ویل ضروري نه ده، مګر بعض خلک له کلمي نه خبر نه وي نو په دی وخت په تجدید کلمه کې څه مضائقه او بدي نشته بلکې په دی کې احتیاط دي، خو په خواصو کې ددی ضرورت نشته. په فتاوای دارالعلوم کې دي :

(ځواب): په نکاح کې ایجاب او قبول ضروري دی ، له ایجاب او قبول نه بغیر نکاح نه صحیح کیږي، د کلمی لوستل د نکاح د صحت لپاره شرط نه دی، له لوستلو نه بغیر هم نکاح صحیح کیږي. (فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ۷ \ ۵۴) فقط والله اعلم بالصواب.

په اسلام کې د نکاح مقام (مرتبه) او د ښځې خاوند حقوق :

(۲۰۲ ـ سوال): په اسلام کې د نکاح څه مرتبه ده، زیات خلک نکاح صرف تفریح او جنسي خواهش د پوره کولو لپاره کوي، تاسې مهرباني وکړئ د قرآن او حدیث په رڼا کې وضاحت وکړئ، داهم ولیکئ چې په اسلام کې ښځې او خاوند څه حقوق دي، خاوند له ښځې سره ښکه ژوند تیر کړي او ښځه له خپل خاوند سره ښکه سلوک او ګذاره وکړي ؟ په یو بل باندې څومره حقوق لري ، نن سبا ښځې او خاوندان یو د بل حقوق نه پوره کوي او په دی وجه عموماً د طلاق نوبت راځي، مهرباني وکړی په دی باره بشپړ رڼا واچوئ تر څو مسلمانان ور باندې عمل وکړي او له جنګ او جدل نه په امن کې پاتی شي. جزاکم الله خير الجزاء فى الدارين ، بينوا تو جروا.

(ځواب): حامداً و مصليا و مسلما، نکاح د الله تعالی ډیر لوی نعمت دی، هغه ښځه چې ورته کتل هم جائز نه وي د نکاح په ذریعه د سړی لپاره حلا لیږي، د ژوند ملګری جوړیږي، د خاوند او ښځې کور ابادیږي یو د بل لپاره همدرد او غمخوار ګرځي . د

اولاد پیدا کیدو له کبله انسانی نسل جاري ساتل کیږي، لدینه پرته نـور هـم دینـي او دنیاوي ګټی شته، خو له ټولونه لوی د نکاح فضیلت دا دی چې دا د محمد صـلی الله علیه وسلم او ټولو انبیای کرامو سنت دی.

په صحیح بخاري او مسلم کې له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چـې دری اصحاب د محمد صلی الله علیه وسلم د عبادت حال د معلومولو لپاره د محمد صلی الله علیه وسلم د بیبیانو په خدمت کې حاضر شول او د هغه صلی الله علیه وسلم د عبادت پـه متعلق پوښتنه وکړه، د هغه صلی الله علیه وسلم د عبـادت حـال لـه معلومولونـه وروسـته ویل: چیرته مونږ او چیر ته محمد صلی الله علیه وسلم، د هغـه صـلی الله علیـه وسـلم مخکینی او وروستی ګناهونه بخښل شوي دي (لهذا هغه صلی الله علیه وسلم ته د زیـات عبادت ضرورت نشته).

بیا له هغوی نه یوتن وویل: زه به همیشه ټوله شپه عبادت کوم.

بل تن وویل: زه به همیشه روژی نیسم او هر ګز به یکې قضایی نه راوړم.

دریم تن وویل: زه به ټول عمر واده ونه کړم (یعنـی د اهـل و عیـال پـه مسـائلوکې د مشغولیدو پرځای به عبادت کوم).

محمد صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ او هغوی ته یې وویل تاسې دا دا خبـرې کـولی، واورئ!

اما والله انی لاخشا کم لله واتقاکم له لکنی اصوم وافطر واصلی وارقد واتزوج النساء فمن رغب عن سنتی فلیس منی. (متفق علیه).

ترجمه: واورئ! په الله قسم زه له تا سونه زیات له الله نـه ویریـدونکې یم او ستاسـې لـه ټولو نه زیات متقی یم، لیکن زما طریقه داده چې زه روژی هم نیسم او افطـار هـم کـوم، تهجد هم کوم او آرام هم، او له ښځو سره نکاح هم (دا زما سنت دی) هر چا چـې زمـا سنت پریښود هغه زما له ډلې څخه نه دی. (مشکوات ص ۱۲۷ باب الاعتصام).

همدغه راز په حدیث کې دي:

عن ابي ایوب رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اربع من سـنن المرسلین الحیاء و یروی الختان والتعطر و السواك و النکاح. (رواه الترمذي)

حضرت ابو ایوب رضی الله عنه فرمائی: چې رسول الله صلی الله علیـه وسـلم فرمایـل: څلور څیزونه د رسولا نو سنت دي:

(۱) حیا کول او د یو بل روایت په مطابق ختنه کـول. (۲) عطـر لگـول. (۳) مسواک کول. (۴) نکاح کول.

ازدواج یعنی د ښځې او خاوند ترمنځ اړیکې عبادت دی، په دی سره اجـر او ثـواب تر لاسه کیږي، په حدیث کې دي چې محمد صلی الله علیه وسـلم وفرمایـل : تاسـی خپل نفسانی غوښتنی پوره کړئ دا هم صدقه ده (عبادت) دی.

اصحابو کرامو عرض وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم ! دا څنگه عبادت کې راځي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : که چیر ته یو انسان په غلط او حرام ځای کې خپل نفسانی خواهش پوره کړی وای نو هغه گنهگاریدولهذا کله چې په حلال ځـای کې خپل خواهش پوره کړه نو هغه لپاره اجر دی.

عن ابی ذر رضی الله عنه تعال قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان بکل تسـبیحة صدقه . . . الی . . . و فی بضع احد کم صدقة،قالوا یا رسول الله صلی الله علیـه وسلم ! یاتی احدنا شهوته و یکون له فیها اجر قال رائیتم لو وضعها فی حرام اکان علیه فیه وزر فکذالك اذا و ضعها فی الحلال کان له اجر رواه مسـلم (مشـکوة شریف ص ۱٦۸ باب فضل الصدقه.

په اهل و عیال باندې د ثواب په نیت خرچه کول هم صدقه ده.لکه چې په حدیث کې دي :

عن ابی مسعود رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله تعالی‌علیه وآله وسلم اذا انفق المسلم نفقه علی اهله وهو یحتسبها قانت له صدقه . متفق علیه (مشـکوة شریف ص ۱۷۹ باب افضل الصدقه).

په نکاح کولو سره د نیم دین د حفاظت سند ورکول شویدی، لکه چې پـه حـدیث کې راځي :

عن انس رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اذا تـزوج العبد فقد اسکمل نصف الدین فلیتق الله فی النصف الباقی (مشـکوه شـریف ص ۲٦۸ کتاب النکاح).

له د ټولو پورتنیو احادیثو څخه ثابت شو چې نکاح عبادت دی، داسې عبادت چې کلونه کلونه جاري پاتې کیږي، که انسان په هر حالت کې وي یعنې ویده وي او که بیدار، ناست وي او که ولاړ، غلی ناست وي یا په خبرو کې بوخت وي، شپه وي یا ورځ غرض هر وخت د انسان دا عبادت جاري وي، لمونځ، روژه، حج او نور عبادتونه وختني عبادتونه دي کله چې انسانه دا عبادت ادا کوي نو دا جاري وي او کله چې ترینه فارغ شي نو موقوف او ودریږي.

هذا د دغه نعمت په ترلاسه کیدو باید انسان شکر وباسي او قدر یې وکړي له دغو ټولو خبرو څخه ثابت شو چې نکاح صرف د طبیعت د تفریح ځیز نه دی بلکې په اسلام کې د نکاح تصور ډیر اوچت دی، او د نکاح په وجه چې د ښځې او خاوند ترمنځ کوم تعلق پیدا کیږي هغه ډیر مضبوط وي. الله تعالی فرمائي :

((هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ))

ښځې ستاسې لپاره د لباس پشان دي او تاسې هم هغوی لپاره د لباس پشان یئ. (سوره بقره).

څرنګه چې په لباس سره ستر پټیږي همدغسې ښځې او خاوند د یو بل د عیبونو د پټولو او له ګناهونو څخه د محفوظ پاتې کیدو ذریعه دي. او څرنګه چې په لباس سره انسانانو ته آرام او راحت محسوسیږي، له ډیرو ضررونونه حفاظت اوله یخنۍاوګرمۍ څخه بچاو حاصلیږي، همدغسې د نکاح په ذریعه ښځې او خاوند دواړو ته له یو بل ته راحت او د زړه سکون حاصلیږي، او څرنګه چې د انسان له لباس سره زیات قریبي تعلق وي، له بدن سره نښتې وي، همدغه حالت د ښځې او خاوند هم دی چې پخپلو کې ډیر قریب ي د صحبت په وخت کې خو بالکل له یو بل سره جوخت او نښتې وي او یو بل لپاره د لباس په څیر وي. په تفسیر کبیر کې دي :

اما قوله تعالى هن لباس لكم و انتم لباس لهن ففيه مسائل (المسئله الاولى) قد ذكرنا فى تشبيه الزوجين باللباس وجوهاً (احدها) انه لما كان الرجل والمرأة يعتنقان فيضم كل واحد منهما جسمه الى جسم صاحبه حتى يصير كل واحد منهما لصاحبه كالثوب الذى يلبسه سمى كل واحد منهما لباساً قال الربيع هن فراش لكم و انتم لحاف لهن و قال ابن زيد هن لباس لكم و انتم لباس لهن يريد ان كل واحد منهما

يستر صاحبه عند الجماع عن ابصار الناس (و ثانيهما) انما سمى الزوجان لباسا يستر كل واحد منهما صاحبه عند الجماع عن ابصار الناس (و ثالثها) انه تعالى جعلها لباسا للرجل من حيث انه يخصها بنفسه كما يخص لباسه بنفسه و يراها اهلا لان يلاقي كل بدنه كل بدنها كما يعمله في اللباس (ورابعها) يحتمل ان يكون المراد ستره بها عن جميع المقاصد التي تقع في البيت لو لم تكن المراه حاضره كما يستتر الانسان بلباسه عن الحر و البرد و كثير من المضار .... الخ (تفسير كبير للامام محمد فخر الدين الرازى ج ۲ ص ۲۰۰) (تفسير روح المعانى ج ۲ ص ٦٥).

که چیر ته د ښځې او خاوند ترمنځ مینه او الفت وي نو د دی تعلق صحیح خوند ترلاسه کیږي او دا د الله تعالی له طرف نه دی. الهی ارشاد دي :

وَمِنْ آيَاتِه أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (سوره روم)

او د الله له نښو څخه دا هم دي چې هغه ستاسی لپاره ستاسی له جنس نه ښځې پیدا کړي تر څو تاسو ته له هغوی نه آرام حاصل شي او ستاسو ښځې او خاوند ترمنځ محبت او همدردی پیدا کړ، په دی کې د هغو خلکو لپاره نښې نښانی‌دي چې له فکر نه کار آخلي .

د قران مفسر حضرت العلامه مولانا محمد ادریس کاندهلوي لیکي :

ومن اياته . . . يتفكرون ،

د دغه آیت شریف له ښوڅخه یو دا هم دی چې هغه ستاسی لپاره ستاسی له جنس څخه جوړی پیدا کړي یعنی ښځې ، تر څو د هم جنس کیدو له کبله د هغوی په طرف رغبت وکړئ او له هغوی سره په یوځای کیدو سره سکون حاصل کړئ، څنګه چې هم جنس کیدل د طبیعت د میلان او رغبت سبب دی او له جنس نه مخالف کیدل د نفرت باعث دی.

نظم :

بجنس خود کند هر جنس آهنگ ،
ندارد هیچ کس از جنس خود ننگ
بجنس خواهش دارد میل هر جنس

فرشــته بــا فــــرشته انس با انس
او ستاسي ترمنځ مينه او محبت يې واچوله ، له عقد او نكاح كيدو سره پخپلو كـې الفـت پيدا كيږي، حال دا چې ډير ځل له پخوانه پيژند ګلونه وي، الله تعالى ستاسى په زړونـو كې مهرباني او همدردى اچولى تر څو يو پر بـل بانـدې رحـم وكـړئ بيشـكه پـه د غـو كارونو كې د الله تعالى د قدرت زياتى نښې نښاني دي.
غرض دا چې ښځې او خاوند ترمنځ مينه د الله تعالى جل جـلا لـه د قـدرت كرشـمه ده چې دوه څيزونه پخپلو كى يو كوي، همدغه راز الله جل جلا لـه پـه دى هـم قـادر دى چې جداجدا اجزا پخپلو كې يوځاى كړي.(معارف القران ادريسي ص ۴۰۲ جلد نمبر۵).
لدينه معلوم شو چې نكاح هم د الله تعالى د قدرت لـه نښوڅخـه دى، كـوم سـړى چـې واده نه وي كړى د هغه په باره كې محمد صلى الله عليه وسلم ارشـاد كـړى دى چـې هغه سړى مسكين دى چې واده يى نه وي كړي.
اصحابو عرض وكړ اګر چې هغه مالدار وي ؟ ارشاد يى وفرمايل هو! اګر چې مالـدار وي. (غنية الطالبين ص ۳۲ ج۱ فصل فى آداب النكاح ، مترجم ص ۹٦، الترغيـب و الترهيـب ص ۴۱ ج ۳)
همدغه راز د هغه ښځې په باره كې چې د هغې خاوند نه وي ارشاد وفرمايل :
مسكينة ، مسكينة ، مسكينة من ليس لها زوج، قيل يا رسول الله وان كانت غنية من المال ... الخ .
مسكينه ده مسكينه ده هغه ښځې چې خاوند ونه لري. تپـوس ترينـه وشـو كـه څه هم هغه مالداره وي، محمد صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هـو بيـا هـم مسـكينه ده غنيــــة الطـالبين ص ۳۲ ج۱ فصـل فـى آداب النكـاح ، متـرجم ص ۹٦، الترغيـب و الترهيب ص ۴۱ ج ۳).
همدغه راز په حديث كې دا هم راغلى دي چې :
(ليس شيئ خير الامرأة من زوج اوقبر.)
يعنى د ښځې لپاره د خاوند له غيږ او د قبـر لـه ګـېدى نـه بهتـر بـل څيـز نشته. (غنيـه الطالبين ص ۳۲ ج ۱، مترجم ص ۱۹٦ ايضاً، الترغيب والترهيب ص ۴۱ ج ۳).
همدغه راز په حديث كې دي :

عن عبد الله بن عمرو رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الــدنيا كلها متاع و خير متاع الدنيا المرأة الصالحة. (مشكواه شريف ص ۲٦۷ كتــاب النكاح).

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : د دنیا هر یـو څیـز د نفعـی قابـل دی او د دنیا له ټولونه ښه د ګټې څیز نیکه ښځه ده.

لهذا په ښځې او سړي دواړو باندې لازم دي چـې د دغـه نعمـت قـدر وکـړی او د دغـه نعمت په تر لاسه کیدو د الله تعالی شکر ادا کړي.

د نکاح صحیح مقاصد هله ترلاسه کیږي چې ښځې او خاوند د یو بل حقـوق ادا کـړي، خاوند ښه اخلاق، نرمي او شفقت نه کار واخلـي او ښځـه د خپـل خاونـد فرمـانبرداري وکړي او د هغه د خوشالي خیال وساتي، که چیر ته څیني د طبیعت نه مخالف کوم کـار وشي نو هغه دي برداشت کړي، له جنګ جګړی نه ډډه وکړي. په قران او حـدیث کـې د دواړو حقوق بیان شوي دي انشاء الله مونږ هغه لیکو، ښځـې او خاونـد بایـد پـه هغـه باندې عمل وکړي او د هغه په رڼاکې د خپل ژوند تیرولو بشپړ کوشش وکړي.

دا حقیقت پخپل ځای مسلم دی چې الله تعالی د خاصو حکمتونو په نظر کې نیولو سره سړي ته پر ښځې باندې برتري راکړی دی، که چیر تـه ښځـې د خاونـد د دغـه برتـري خیال کوي نو کوزنی مسائل به حل وي، که نه نو په خبرو خبرو کې به هر وخت جـنګ او جګړی وي، پر ښځې پکار دي چې خپل خاونـد حـاکم وګڼـي او د هغـه اطاعـت او فرمانبرداري وکړي. الهی ارشاد دی :

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُـواْ مِـنْ أَمْوَالِهِمْ. (نساء : ٤٤)

سړي پر ښځې باندې حاکمان دي پـه دی سـبب چـې الله څینـو تـه پـر څینـو فضیلت ورکـړی دی او پـه دی سـبب چـې سـړو خپـل مـال خـرچ کـړی دی.

د قران کریم مفسر حضرت مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله علیه فرمائی :

په دی آیت کې د سړي او ښځې درجې ښودل شـوي دي، هغـه دا چـې د ښځـې لـه درجې نه د سړی درجه زیاته ده. لهذا د درجو د فرق په وجه چې په احکـامو کـې کـوم فرق دی هغه سراسر حکمت او د منلو وړ دي ښځې او سړي کلـه هـم نشـي برابریـدلي

ښځه باید هیڅکله د سړی سره د برابریدو خواهش ونکړي لنډه یې دا چې الله تعالی سړی پر ښځې په دوه وجوهاتو حاکم ګرځولی دی، لومړی غټه وجه داده چې الله تعالی له لومړی ورځې نه په اصل کې سړوته پر ښځې په علم او عمل کې فضیلت ورکړی دی چې د هغه تشریح په احادیثو کې موجود دی.
دویم وجه دا ده چې سړي پر ښځې خپل مال لګوی د هغوی د خوراک، څښاک، دوا او د نورو ټولو ضروریاتو کفالت کوي، مطلب دا چې ښځې ته پکار دي چې د سړو خبره ومني او اطاعت ئی وکړي (فوائد عثمانی).
همدغه راز الهی ارشاد دی :
وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ. (بقره : ۲۲۸)
څرنګه چې د سړو پر ښځې باندې حق دی همداسې د (شرعی) قاعدی مطابق د ښځې پر سړو هم حق دی، او پر ښځو د سړو فضیلت دی، او الله زبردست او تدبیر والا دی.
په فوائد عثماني کې دي : یعنی دا خبره خو حقه ده چې څرنګه پر ښځې باندې د سړو حقوق دي ، همدغسې د ښځې هم په سړو حقوق ذي . چې د قاعدی په مطابق هر یو باندې ترسره کول ضروري دي، څرنګه چې له سړو سره د هغوی د ښځو بد سلوکې او بد اخلاقی ممنوع دی همدغه راز له ښځې سره د هغوی د خاوندانو بد سلوکي او حق تلفی هم ممنوع دی، خو دا خبره حقیقت لري چې سړوته پر ښځوفضیلت ورکول شوی دی. (فوائد عثماني).
لهذا د قرآنی هدایاتو په نظر کې نیولو سره پر ښځې لازم دي چې د خپل خاوند اطاعت او فرمانبرداري وکړي، د زړه له تل او مینی نه د هغه خدمت وکړی.
په احادیثو کې هم د دی زیات تاکید راغلی دی، او کومه ښځې چې په دی باندې عمل وکړي هغې لپاره د اجر او ثواب لوی لوی وعدی شوي دي، او څوک چې لدینه مخالفت وکړی د هغې په حق کې وعیدونه هم راغلی دي.
مبارک احادیث:

(۱) ولو امرها ان تنقل من جبل اصفر الی جبل اسود و من جبل اســـود الی جبـــل ابیض کان ینبغی لها ان یفعله (رواه احمد) (مشکوة شریف ص ۲۸۳ باب عشره النکاح).

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : که خاوند خپلی ښځې ته حکم وکړي چې لــه زیړ غره ته کانې او چته کړي او تور غره ته یوسی او له تور غره نه سپین غره ته یوسي نو بیا هم هغه دی خپل خاوند اطاعت باید وکړي.

(۲) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم لو کنت امر احداً ان یسجد لاحد لا مرتُ المراة ان تسجد لزوجها (ترمذی شریف ج ۱ ص ۱۳۸) (مشکوة شریف ص ۲۸۱ کتاب النکاح).

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمـد صـلی الله علیـه وسـلم ارشاد وفرمایل : چې که چیر ته ما له الله نه علاوه د بل چا لپاره د سجدی حکم کـاو نـو ښځې ته به مې حکم ورکړی و چې خپل خاوند ته سجده وکړي.

(۳) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قیل لرسول الله صلی الله علیه واله وسلم ای النساء خیر قال التی تسره اذا نطر و تطیعه اذا امرو لا تخالفه فی نفسها ولا ما لها یکره (مشکوة شریف ص ۲۸۳ کتاب النکاح).

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې له محمد صلی الله علیه وسـلم نه پوښتنه وکړی شو، چې کوم یوه ښځه ښه ده.

هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چې خاوند هغـې تـه وګـوري نـو خپـل خاونـد خوشاله کړي او کله چې د څه خبری حکم وکړي نو اطاعت یې وکړی او پخپل ځان او مال کې داسی تصرف ونکړی چې خاوند هغه نه خوښوي.

(٤) عن انس رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم المراه اذا صلت خمسها و صامت شهرها و احصنت فرجها و اطاعت بعلها فلتدخل من ای ابواب الجنة شاء ت . (مشکوة شریف ص ۲۸۱ باب عشره النساء).

له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیـه وسـلم ارشـاد وفرمایل : کومه ښځه چې پنځه وخت لمونځ په پابندی سره وکړي او رمضان د میاشتی

روزي ونيسي او د خپلی شرمګاه حفاظت وکړي او د خپل خاوند اطاعت وکړي، هغه چې د جنت له هر دروازی نه داخلیدل غواړي داخل دی شي.

(٥) عن ام مسلمه رضى الله تعالى عنها قالت قال رسول الله تعالى عليه وآله وسلم ايما امرأة ماتت و زوجها عنها راض دخلت الجنة (ترمذى شريف ج ١ ص ١٣٨) (مشكوة شريف ص ٢٨١ كتاب النكاح).

له حضرت ام مسلمه رضی الله عنها څخه روایت دي چې محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : د کومی ښځې چې په داسی حالت انتقال وشي چې خاوندیی ترینه خوشاله وي نو هغه ښځه جنت ته ځی.

(٦) عن ابى امامه رضى الله تعالىعنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ثلاثة لا تجاور صلا تهم اذا نهم العبد الابق حتى يرجع و امراه باتت و زوجها عليها ساخط و امام قوم وهم لهٔ كارهون . (مشكوه شريف ص ١٠٠ باب الامامه).

له حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دری کسان داسې دي چې د هغوی لمونځ د هغوی له غوږونو نه تجاوز نه کوي یعنی نه قبلیږي، لومړی هغه غلام چې له خپل مالک نه تښتیدلی وي، تر هغه چې واپس راشي.

دویم، هغه ښځه چې په داسې حالت کې شپه تیره کړي چې د هغې خاوند د هغې د بد اخلاقی او نافرمانبرداري په وجه خفه وي.

(دریم) هغه امام چې خلک هغه (د هغه د فسق په وجه) نه خو ښوي.

(٧) عن طلق بن على قال قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم اذا الرجل دعا زوجته لحاجه فلتأته و ان كانت على التنور . (مشكوة شريف ص ٢٨١ باب عشره النساء).

له حضرت طلق بن علی رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : کوم سړی چې خپله ښځې د خپل حاجت لپاره راوغواړي نو هغې ته پکار دي چې فوراً راشی که څه هم هغه دلغزی په خوا کې په کار مشغوله وي.

(۸) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اذا دعی الرجل امرأته الی فراشه فابت فبات لعنتها الملائکه حتی تصبح متفق علیه . و فی روایه لهما والذی نفسی بیده ما من رجل یدعوا امرأته الی فراشه فتابی علیه الا کان الذی فی السماء ساخطاً علیها حتی یرضی عنها (مشکوه ص ۲۸۰ باب عشره النساء).

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : کله چې یو سړی خپله ښځه خپلی بستری ته راوغواړي او هغه انکار وکړي خاوند په خفګان شپه تیره کړي نو پر هغه ښځې تر سهاره پوری ملائکې لعنت وائی.

او په یو روایت کې دي، چې کوم سړی خپله ښځه خپلی بستری ته راوغواړي او هغه انکار وکړي نو الله تعالی له هغې نه تر هغه خفه کیږي تر څو چې خاوند یې له هغې نه نه وي خوشاله شوي.

(۹) عن معاذ رضی الله تعالی عنه عن النبی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال لا توذی امراه زوجها فی الدنیا الا قالت زوجته من الحور العین لا توذیه قاتلک الله فانما هو دخیل (ای غریب و نزیل) یوشك ان یفارقك الینا (مشکوٰه شریف ص ۲۸۱ باب عشره النساء).

له حضرت معاذ رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چې کومه ښځه خپل خاوند ته تکلیف رسوي نو په آخرت کې چې کومه حوره هغه ته رسیدونکې ده هغه داسې وایی: الله دې تا هلاکه کړي دیته تکلیف مه ورکوه، د اله تا سره میلمه دی، څو ورځې بعد تا پریږدي او زما خواته راځي.

(۱۰) عن عائشه رضی الله تعالیعنها قالت : سألت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ای الناس اعظم حقاً علی المرأة ؟ قال : زوجها ، قلت فای الناس اعظم حقاً علی الرجل ؟ قال امه رواه البزار والحاکم (الترغیب و الترهیب ج ۲ ص ۵۳ کتاب النکاح ، ترغیب الزوج فی الوفاء بحق زوجه و حسن عشرتها).

له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی هغه فرمائی : ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې پر ښځې له ټولو نه زیات د چا حق دی ؟
محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : د هغې د خاوند.
بیا ما عرض وکړ، په سړي باندې له ټولونه زیات د چا حق دی ؟
محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل د هغه د مور.

(۱۱) عن ابی سعید الخدری رضی الله تعالیٰ عنه ..... قال حق الزوج علی زوجته لو کانت به قرحة فلحستها او انتثر منخراه صدیداً او دماً ثم ابتلعته ما ادت حقه (الترغیب و الترهیب ص ۵۳ ج ۳).

له حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی . . . الی . . . هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : پر ښځې باندې د هغې د خاوند دومره حق دی چې که د خاوند په بدن باندې زخم وي یا د هغه له بدن نه پیپ او وینه روانه وي او ښځې هغه په ژبه وڅټي او پاک یې کړي بیا هم د هغه حق نشي ادا کولي.

ښځوته پکار دی چې د محمد صلی الله علیه وسلم د غه احادیث بیابیا ولولی اوورباندې عمل وکړي، له نافرماني، بدزباني او بد اخلاقی نه بالکل ډډه وکړي، جنګ جګړی و نه کړي، ان شاء الله ډیر خوشال ژوند به ورته په برخه شي.

محمدصلی الله علیه وسلم د ښځو حقوق هم په بشپړ اهمیت سره بیان کړي دي :
پر خاوند باندې هم ضروري دی چې د خپلی ښځې حقوق ترسره کړي، بیشکه الله تعالی سړوته پر ښځې فوقیت وزکړی دی، خو د دې مطلب دا نه دی چې پر ښځه هر قسم ظلم او زیادتي وکړي او د هغې حق تلف کړي.

د حجه الوداع په خطبه کې محمد صلی الله علیه وسلم ډیر زیات مهمې خبري بیان کړي دي چې له هغو نه یو هدایت دا هم دی.

(۱۲) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم استوصوا بالنساء خیراً فانهن خلقن من ضلع و ان اعوج شئی فی الضلع اعلاه فان ذهبت تقیمه کسرته و ان ترکته لم یزل اعوج فاستو صوا بالنسآء متفق علیه (مشکوة شریف ص ۲۸۰ باب عشره النساء).

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمـد صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : د ښځو په باره کې د خیر خواهي نصیحت قبول کړئ یعنی له هغوی سره ښه سلوک وکړئ. ځکه چې هغوی له پښتۍ نه پیدا شوي دي او په پښتۍ کې لـه ټولونـه کږه حصه برنۍ وي، که تاسې هغه سیده کول غـواړئ نـو مـات بـه یی کـړئ، او کـه پخپـل حالت کې پرېږدی نو همیشه لپاره به کږه وي،لهذا د ښځو په بـاره کـې د خـیر خـواهی نصیحت قبول کړئ.

(۱۳) عن ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله صلی الله علیـــه وآلــه وسلم اکمل المؤمنین ایمانا احسنهم خلقاً و خیارکم خیارکم لنسائکم (ترمذی) (مشکوه شریف ص ۲۸٦ ایضاً).

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : کامل مؤمن هغه دی چې د هغه اخلاق ښه وي او له تا سو نـه بهتـرین خلـک هغه دي چې د خپلو ښځو لپاره ښه وي.

(۱٤) عن عائشه رضی الله تعالیٰ عنها قالت قال رسول الله صلی تعالیٰ علیه والــه وسلم ان من اکمل المومنین ایمانا احسنهم خلقاً و الطفهم باهله (مشکوة شریف ص ۲۸۱ ایضاً.

له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : له ټولونه زیات کامل ایمان والا هغه څوک دی چې اخـلاق یی ښـه وي او لـه خپلي ښځي سره نرمي کوي.

(۱۵) عن عائشه رضی الله تعالیٰعنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خیرکم خیرکم لاهله وانا خیرکم لاهلی (مشکوة شریف ص ۲۸۱).

له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : له تا سو نه غوره شخص هغه دی چې د خپلـی ښځـې لپـاره غـوره وي، زه د خپل اهل لپاره له تاسو ټولو نه غوره او بهتر یم.

(۱٦) عن حکیم بن معاویه القشیری عن ابیه ما حق زوجه احدنا علیـــه قـــال ان تطعمها اذا طعمت و تکسوها اذا اکتسیت ولا تضرب الوجه ولا تقبح ولا تهجر الا

فی البیت رواہ احمد و ابو داوٗد و ابن ماجه (مشکوۃ شریف ص ۲۸۱ باب عشـــرۃ النساء).

حضرت حکیم بن معاویه قشیري له خپل پلار نه نقل کوي هغه وائی چې ما محمد صـلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چې پر مونږ باندې ز مونږ د ښځو څه حقوق دي ؟

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چې تاسو خوړئ نو پر هغوی هم و خوړئ کله چې تاسې واعوندئ نو پر هغوی هم واغوندوئ، یعنی څه څیزونه چې تاســې خــوړئ او کوم څیزونه تاسې اغوندئ همغی پر هغوی هــم وخــوړئ او واغونـدوئ، هغـوی پـرمخ باندې مه وهئ، بدی ردی ورته مه وایئ .

(۱۷) عن عبد الله بن زمعة قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم لا یجلـــد احدکم امرأۃ جلد العبدثم یجامعها فی آخر الیوم فی روایه یعمد احدکم فیجلد امراتـــه جلد العبد فلعله لضاجعها فی آخر یومه ، متفق علیه (مشکوه شریف ص۲۸۰ باب عشره النساء).

حضرت عبد الله بن زمعه رضـی الله عنـه وائـی چـې رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : هیڅوک دی خپله ښځه د غلام په شان نه وهي چی بیا د ورځي آخري حصـه کې جماع ورسره کوئ.

په یو روایت کې دي چې محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : که تا سونه یو تـن اراده کوي او خپله ښځه د غلام پشان وهي کیدای شي چې دورځـي پـه آخـری حصـه کې له هغې سره همبستری وکړي.

(۱۸) عن ابی هریرۃ رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یفرك مومن مومنة ان کرها منها خلقاً رضی منها آخر. (مشکواه ص ۲۸۰)

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمـد صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : کوم یو مومن سړی دی مؤمنه ښځې سره بغض ونه کړي، که چیرته د هغې یـو عادت خوښ نه وي نو له بل عادت نه یې خوشالیږي.

الله جل جلاله فرمائی :

وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا. سوره نساء : ۱۹)

او له د ښځو سره په نیکې طریقې سره ګذران وکړئ که چیرته هغه ستا خوښه نه وي نو ممکن دی، چې تاسی یو شی خوښ نه کړئ او الله تعالی په هغې کې لویه ګټه کیږدي.

په فوائد عثماني کې دي : ممکن دی چې تاسی یو شی بد و ګڼی او الله په هغه کې کومه لویه ګټه (دینی یا دنیاوي) کیږ دي (مثلاً هغه ستاسی خدمت ګذاره او همدرده وي، دا د دنیا ګټه ده یا له هغې نه کوم اولاد پیداشي او په ماشومتوب کې مړشی، یا ژوندی پاتی شي او صالح و ګرځی چې د آخرت لپاره ذخیره ثابت شی، یالږ ترلږه په ناخوښ خیز باندې د صبر کولو فضیلت خو ضرور در کول کیږي. (فوائد عثمانی ص ۱۰۶ ج ۲ سوره نساء)

لهذا که چیر ته د ښځې کوم عادت ستاسي خوښ نه وي نو له هغې سره نفرت مه کوئ بلکې صبر ورباندې وکړئ انشاء لله له مذکوره منافعو څخه یوه نه یوه نفع خو ضرور تر لاسه کوئ.

حضرت شیخ عبد القادر جیلانی علیه الرحمه لیکي :

عن ابن المبارك بن فضالة عن الحسين. قال قال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم استوصوا بالنساء خيراً ..... .وانما اخذ تموهن بامانة الله تبارك و تعالى و استحللتم فروجهن بكلمة الله عزوجل.

ترجمه : ابن المبارک بن فضاله له حضرت حسین رضی الله عنه نه روایت کوي چې محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : د ښځو په حق کې زما نصیحت قبول کړئ، ښځې صرف د الله امانتو نه دي او تاسې د هغوی بدنونه د الله په کلمی سره حلال کړي دی.

و عن عبادة بن كثير عن عبدالله بن الحريرى عن ميمونة زوج النبى رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم خيار الرجال من امتى خيارهم لنساء هم و خير النساء من امتى خيرهن لا زواجهن يرفع لكل امراة منهن كل يوم و ليلة اجر الف شهيد قتلوا فى سبيل الله صابرين محتسبين و تفضل احدهن على الحور العين كفضل محمد صلى الله

عنه وآله وسلم علی ادنی رجل منکم و خیر النساء من امتی ما تاتی میسرة زوجها و کل شیئی هواه ما خلامعصیه الله و خیر الرجال من امتی من تلطف باهله لطف نوالدة بولدها یکتب لکل رجل منهم کل یوم و لیلة اجر مائة شهید قتلو فی سبیل الله صابرین محتسبین فقال عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه یا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم و کیف یکون للمرأة اجر الف شهید و للرجل اجر مائة شهید قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم او ما عملت ان المرأة اعظم اجراً من الرجل و افضل ثواباً فان الله عزوجل یرفع للرجل فی الجنة درجات فوق درجاته برضاء زوجته عنه و دعائها له او ما عملت ان اعظم و زراً بعد الشرك بالله المراة اذا غضبت زوجها الا فاتقوا الله فی الضعیفین فان الله سائلکم عنهما الیتیم و المراة فمن احسن الیهما فقد بلغ الی الله عزوجل و رضوانه و من اساء الیهما فقد استوجب من الله سخطه و حق الزوج کحقی علیکم فمن ضیع حقی فقد ضیع حق الله فقد باء بسخط من الله وما وه جهنم و بئس المصیر .

عبد الله بن کثیر له عبد الله نه او هغه له میمونه رضی الله عنها څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : زما په امت کې بهتر هغه سړی دی چې له خپلی ښځې سره ښه سلوک کوي او زما په امت کې بهتره ښځه هغه ده چې له خپل خاوند سره ښه سلوک کوي، داسې ښځې ته په شپه او ورځ کې د داسې زرو شهیدانو ثواب ورکول کیږي چې د الله تعالی په لاره کې په صبر سره شهیدان شوي دي او له الله تعالی نه د دې اجر توقع لري، له دغو ښځو څخه هر یوه ښځه د هغو غتو سترګو والا حوری باندې دومره فضیلت لري لکه چې محمد صلی الله علیه وسلم ستاسې په ادنی سړي باندې لري، زما له امت څخه هغه ښځه افضله ده چې د خپل خاوند د خواهش په مطابق د هغه فرمانبرداري کوي، له هغه نه علاوه چې ګناه کارونه دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : زما د امت په سړوکې هغه سړی بهتر دی چې له خپل اهل سره په دومره مهربانی سره مخی ته راځي لکه چې مور له خپل

ما شوم سره مهربانی کوي، د داسي سړي لپاره هره شپه ورځ په صبر او شکر سره د الله تعالی په لاره کې شهيد کیدونکي د سلو کسانو ثواب ليکل کيږي.

عمر بن الخطاب رضی الله عنه عرض وکړ، یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته دی د زرو شهيدانو ثواب ورسيږي او سړوته د سلو شهيدانو دا دومره لوی فرق ولی ؟

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمايل : تا سو ته نه ده معلومه چې ښځه د ثواب په کټلوکې د سړونه مخکې ده ؟ څکه چې الله جل جلا له په جنت کې سړي ته مرتبی له پاسه مرتبی څکه ورکوي چې ښځه له هغه خوشحاله ده او هغه لپاره دعا کوي، ايا تاسوته معلومه نه ده چې د الله په نزد له شرک نه وروسته له ټولونه لويه ګناه له خپل خاوند نه د ښځې نافرمانی کول دی،لهذا تاسو خبر واوسئ او له الله نه وويريږئ چې هغه له تاسو نه ددغو ناتوانو په باره کې پوښتنه کوي، يو ناتوان خو يتيم دی او بل يتيم، کوم سړی چې له دغو دواړو سره نيکي او ښکينه کوي هغه الله تعالی ته نږدی کيږي او له هغوی سره بدي کونکي د الله تعالی د قهر ښکارکيږي.

همدغه راز ارشاد دي وفرمايل : د خاوندحق داسې دی لکه چې پر تاسو زما حق دی، چا چې زما حق ضائع کړ هغه د الله تعالی حق ضائع کړ، او چا چې د الله تعالی حق ضائع کړ او د الله تعالی حق ضائع کوونکي د الهی غضب مستحق دی . او د هغه ځای جهنم دی او جهنم ډير بد ځای د ورتلو دی.

و عن ابی جعفر بن محمد ابن علی عن جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه قال بینما نحن عند رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وهو فی نفر من اصحابه رضی الله تعالی عنه اذا قبلت امرأة حتی قامت علی رأسه ثم قالت السلام علیك یا رسول الله صلی الله تعالی علیه واله وسلم انا وافده النساء الیك لیست امرأة یبلغها مسیری الیك الا اعجبها ذلك یا رسول الله صلی الله تعالی‌علیه وآله وسلم ان الله تعالی رب الرجال و رب النساء و آدم ابو الرجال و ابوا النساء و حوّاء ام الرجال و ام النساء فالرجال اذا خرجوا فی سبیل الله عزو جل فقتلوا فاحیا عند ربهم یرزقون و اذا جرحوا فلهم من الاجر مثل ما علمت و نحن تجلس علیهم و نخدمهم فهل لنا من الاجر شئی قال

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نعم اقرای عنی النساء السلام و قولی لهن ان طاعة زوج واعتوافاً بحقه یعدل ماهنالك و قلیل منكن یفعلنه.

حضرت ابو جعفر بن محمد بن علی رضی الله عنه فرمائی : جابر بن عبد الله رضی الله عنه وفرمایل چې یو ځل زه او ځوتنه نور د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر وو چې یوه ښځه راغله او له سلام نه وروسته یې عرض وکړ ای د الله رسوله صلی الله علیه وسلم زه له ډیر لری ځای نه د ښځو له طرف نه نمائنده په تو ګه راغلی یم. د زیات سفر په وجه هیڅ یوه ښځه ستا خواته نشی راتلي، هر یوی ښځې ته چې دا معلوم شي چې ستا خواته راغلی یم نو هغه به ډیره خوشاله شي، ای رسول الله صلی الله علیه وسلم ! الله تعالی د سړو رب هم دی او د ښځو رب هم، او حضرت ادم علیه السلام د سړو او ښځو پلار دی او حوا رضی الله عنها د سړو او ښځو مور ده، پس کله چې سړي د الله تعالی په لاره کې جهاد ته روانیږي او وژل کیږي نو له الله سره ژوندي وي. هلته هغوی ته رزق ورکول کیږي، او که په جنګ کې زخمی شي نو هغوی ته همغسی اجر ورکول کیږي څنګه چې تا فرمایلی دي او مونږ د هغوی خدمت کوو، مونږ د هغوی ملګري یو، اېا مونږ لپاره هم څه اجر شته؟

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هغو ښځو ته زما سلام ورسوه او و ورته ووایه چې تاسو لپاره هم اجر دی، هغه داسې چې تاسې د خپلو خاوندانو فرمانبرداري وکړئ، د هغوی د حقوقو حفاظت وکړئ، د دغو کارونو په عوض کې تا سو ته هم د سړو په برابر ثواب ورکول کیږي مګر له تا سو نه ډیر کم ښځې دي چې داسې کوي.

و عن ثابت عن انس رضی الله تعالی عنه قال حین بعثنی النساء الی رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فقلت یا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ذهـــب الرجـــال بالفضل و بالجهاد فی سبیل الله تعالی فما لنا من عمل مذكور ندرك به عمل المجاهدین فی سبیل الله قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مهنه احدهن فی بیتـــها تـــدرك عمل المجاهدین فی سبیل الله عزوجل.

حضرت ثابت رضی الله عنه له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې ښځو زه د محمد صلی الله علیه وسلم خدمت ته ولیږلم ما د ښځو په نمایندګی د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې عرض وکړ، یا رسول الله ، سړي خو جهاد په وجه له

ښځو نه سخکې شول ، ایا ښځو لپاره هم داسې څه عمل شته چې د هغه په برکت د غازیانو په برابر ثواب ترلاسه کړی شي ؟
محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : پخپل کورکې خدمت کول د غازیانو د ثواب په برابر دی.

عن عمران بن حصين رضى الله تعالى عنه قال سئل رسول الله صلى الله عليه والـه وسلم هل على النساء جهاد فقال صلى الله تعالى عله وآله وسلم نعم جهادهن الغيرة يجاهدن انفسهن فان صبرن فهن مجاهدات فان رضين فهن مرابطات ولهن اجران اثنان فينبغى للزوجين ان يعتقد اهذا الثواب المذكور فى هذا الحديث وما قبله عند العقد و الجماع جميعا و اداء للحق الواجب على كل واحد منهما للاخرة بقوله عــزو جــل ولهن مثل الذى عليهن ليكونا مطيعين لله عزوجل ممتثلين امره جل ثناء ه و تعتقد المرأة ان ذلك خيرا لها من الجهاد و الغزو (غنيــة الطــالبين ص ٩٤ ، ص ٩٥ ، ص ٩٦، فصل فى اداب النكاح).

له حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دی چې لـه رسـول الله صـلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړی شوه چې ایا ښځو ته هم جهاد کول پکار دی ؟
محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل د ښځو جهاد غیرت دی چې هغوی لـه خپـل نفس سره جهاد کوي، که هغه صبر وکـړي نـو جهـاد کـوونکې ده کـه هغـه راضـی او شـاکره واوسي نو هغه د اسلامي سرحدونو ساتونکې ده، او هغې لپاره دوه اجرونه دی.
لهذا خاوند او ښځې لپاره پکار دي چې په دغو احادیثو کې چې کوم ثواب بیـان شـوي دی پر هغه عقیده وساتي او په دغو ټولو احادیثو باندې عمل وکړي، پـه یـو بـل بانـدې چې څومره حقوق دي هغه پوره کړی د الله تعالی جل جلا له ارشاد دی چـې پـر سـړو باندې د ښځوهمغه حق دی چې د سړو پر ښځو باندې دی.
ښځې دی په دی خبره عقیده وساتي چې هغې لپاره په دغو خبرو باندې عمـل کـول او د خاوند حقوق ادا کول له جهاد او غزوی نه زیات ثواب لري. الله تعالی دی مونږ ته په دغو قیمتی هدایا تو باندې عمل کول په نصیب کړي. امین یارب العالمین.

د دویمی واده کولو په وجه د لومړی ښځې طلاق غوښتل:

(۲۰۳ _ سوال) ما دویم نکاح کړی ده له همدی کبله زما لومړی ښځه را نه خفه ده او خپل کورته تللی ده، د هغه ورور هم ما ته د قتل اخطار راکوی، ما خپله لومړي ښځه او د هغه وروړته ویلی دي چې الحمدالله له ما سره هر قسم ګنجائش دی، د دواړو حقوق په صحیح طریق ادا کولی شم. لیکن هغوی زما خبره نه منی او زما مخالفت کوي.
دویمه ښځه می پریشانه ده ځکه چې د هغې خاوند مړ شوی دی. تاسې مهرباني وکړئ د دی خبرې ځواب را کړئ چې په اسلام کې دویمه نکاح جائز ده او که نه ؟
ما په دی خیال له دغې کونډی سره نکاح کړی ده چې له هغې سره تعاون او همدردي وشي، لیکن زما لومړی ښځه او د هغوی وروڼه ما ویره وي او رانه طلاق غواړی.
(ځواب) په قران کریم کې دی :
فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلاَّ تَعُولُواْ: ۲)
او (حلال) ښځو سره چې ستاسی خوښی وي واده وکړئ دوه دوه، دری دری څلور څلور (ښځو سره) که بیاتاسی ویریږئ چې د هغوی ترمنځ عدل نشئ کولي نو بیا یوه ښځه خانته واده کړئ . په دی کې امید دی چې یو طرف مائل نشئ.
لدغه آیت ته ثابتیږي چې یو سړی د کوم مصلحت په خاطر په یو وخت کې له څلورو ښځو سره نکاح کولي شي، البته د ټولو ترمنځ عدل او انصاف کول زیات ضروري دی، د شپې په تیرولو کې به هم وار آچول کیږي، او که برابري نشي کولی نو په یوه ښځه دی اکتفا کوي.
په تفسیر عثمايي کې دي :
په دی خبره پوهیدل پکار دی چې آزاد مسلمان لپاره زیات نه زیات څلور ښځې جائزی دی او په احادیثو کې هم د دی تصریح دی، او د دین ائمه و په دی باندې اجماع ده او ټول امت لپاره همدغه حکم دی.
همدغه راز لیکلی دي : د چا چې څو ښځې وي نو پر هغه واجب دی چې خوراک څښاک او لین دین کې برابر سلوک وکړي او دشپې په تیرولوکې ورسره برابري وکړي، که داسی ونکړي نو د قیامت په ورځ به هغه مفلوج شي په یوه ډډه به څي.

همدغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: كه تا سو تـه ويـره وي چـې د خپلو ښځو ترمنځ انصاف نشئ كولئ نو بيا په يوه ښځه باندې قناعت وكړئ. (فوائـد عثماني پاره نمبر ۴ آیت نمبر ۲ سوره نساء) .

د قران کریم کی مذکوره آیت نه د تعدد ازواجو ثبوت ترلاسه کیږي،لهذا د هـر مسلمان د ایمان تقاضا داده چې هغه تعدد ازدواج جائز وګڼي.

په مسئوله صورت كه كله چې تا د يـو مصـلحت پـه خـاطر دویم واده كـړی ده نـو ستا لومړي ښځه او د هغې خاندان ته پکار نه دي چې له تا سره دشمني او مخالفت وكـړي. د شريعت په اعتبار چې تا كومه دویمه واده كړی ده څه جرم او ګنـاه نـه ده كـړی ستا لومړي ښځې ته خو په هيڅ حالت كې د طلاق مطالبه كول جـائز نـه دی، سـتا لومـړی ښځه او د هغـه ورونـو بانـدې لازم دي چـې هغـوی خپـل مخالفـت او دشـمنی فـوراً پرېږدي. البته پرتا باندې ضروري دی چې اوس د دواړو ښځو ترمنځ هر قسـم انصـاف او برابري وكړی، كه نه نو سخته ګناه كې به ككړشی.

له احاديثو نه هم له يو نه زيات د نكاح كولو ثبوت ترلاسه كيږي، ډيرو اصحابو كرامو لـه يوی نه زياتو ښځې سره ودونه كړي وو، او د دی په خلاف هيڅ قسم احتجاج نـه كيـدو، لهذا د دويمی نكاح په خاطر له خاوند سره دشمنی كول او هغه بد ګڼل يـا طـلاق ترينـه غوښتل د شرعي حكم نه مخالفت دی، او په كې عقيده هم خرابيدلی شي.

په حديث شريف كې دی :

عن ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه ان غیلان بن سلمه الثقفی اسلم وله عشر نســوة فی الجاهلية فاسلمن معه فقال النبی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم امسك اربعـــاً و فارق سائرهن رواه احمد و الترمذی و ابن ماجه (مشكوة شريف ص ۲۷٤ بـــاب المحرمات)..

له حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې غيلان بن مسلم ثقفـی مسـلمان شو په دی وحت د هغه په نكاح كی لس ښځـې وې، هغـوی هـم ورسـره اسـلام قبـول كړی و.

محمد صلی الله علیه وسلم د قران کريم حکم په مطابق هغـه تـه وويـل : خلـور ښځـې ترينه خپل ځان لپاره غوره وكړه او له نـورو ښځـو نـه جـدايی اختيـار كـره. (مشـكوات شريف ۲۰۰۰)

همدغه راز په بل حديث کې دي :

عن نوفل بن معاويه رضى الله تعالى عنه قال اسلمت و تحتى خمس نسوة فسألت النبى صلى الله عليه واله وسلم فقال فارق واحده و امسك اربعـــاً ..... الخ (مشـــكوه شريف ص ۲۷٤ باب المحرمات).

حضرت نوفل بن معاويه فرمايي کوم وخت چې زه مسلمان شوم په هغه وخـت کـې زمـا پنځه ښځې وي، ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه (چې څـه وکـړم؟) محمد صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: يوه پريږده او نور څلور له ځـان سـره وسـاته. (مشکواه شريف ص ۲۷۴).

په هر حال دويمه نکاح کول په شرعي اعتبار سـره جـائز دی، دا د قـران او حـديث پـه خلاف نه دی، هر مسلمان تـه پکـار دي چـې دا جـائز وګنـي او د الله تعـالى او د هغـه رسول الله صلى الله عليه وسلم فيصله پـه پـوره خوښـی سـره ومنـي او ايمـان وربانـدې راوړي، د الله تعالى او د هغـه د رسـول صـلى الله عليـه وسـلم لـه حکـم او فيصـلى نـه انحراف کول ډير زيات خطرناک دی.

په قران کريم کې دی :

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِـنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً مُّبِينًا. (قرآن مجيد ، سوره الاحزاب آيت نمـبر ۳٦ پاره نمبر ۲۲).

ترجمه: کوم مؤمن او مومني ته دا ګنجائش نشته چې کله الله او د هغه رسـول الله صـلى الله عليه وسلم د کوم کار فيصله وکړي، د هغه په خـلاف ديتـه څـه اختيـار وي، او کـوم سړی چې د الله تعالى او د هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم نه مني هغه صـريح ګمراه دی.

همدغه راز لهی ارشاد دی :

فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِــهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا. (قرآن مجيد پاره نمبر ٥ النسآء آيت نمبر ٦٥).

ترجمه: پس قسم دی ستا په رب دا خلک به تر هغه ایماندار نشي تـر څـو پـوری چـې د هغوی ترمنځ کومه جګړه راشي هغه په تا باندې فیصله ونکړي او بیا ستا پـه دغـه فیصله باندې تنګي محسوس نه کړي او په بشپړه توګه ومني.

له مذکوره آیتونو څخه ثابتیږي چې الله تعالی او د هغه د رسـول صـلی الله علیـه وسلم فیصلی دزړه په مینه منل، او پخپلو ټولو کارونو کـې الله تعـالی او رسـول الله صـلی الله علیه وسلم فیصلی خپل مقتدی ګرځول لازم او ضروري دی، او د دی له طرف نه په زړه کې باید یوه پوتی خبره هم رانشی او دا د ایمان نښه ده. د دغه آیت په تفسیر کـې روح المعانی لیکلی دي :

(فلا و ربک ..... حتی یحکمـوک) ای یجعلوك حکماً او حاکماً وقال شیخ الاســلام یتحاکموا الیك و یترافعوا و انما جئی بصیغة التحکیم مع انه الله صلی الله علیه وآلــه وسلم حاکم بامر الله ایذاناً بان اللا ئق هم ان یجعلوه علیه والسلام حکماً فیما بینهم و یراضوا بحکمه ..... (فیما شجر بینهم) ای فیما اختلف بینهم من الا مور ..... ثم لا یجدوا فی انفسهم قلوبهم (حرجاً) ای شکاء ، کما قاله الجبائی . و انما کمــا روی عن الضحاك ، و اختار بعض المحققین تفسیره بضیق الصدر الکراهة و الا بــاء ..... (مما قضیت و یسلموا تسلیماً) ای ینقادوا لا مرك و یذعنوا له ظــاهرهم و باطنهم کما یشعربه التاکید ، و لعل حکم هذه الآیة باق الی یوم القیامــه و لــیس مخصوصاً بالذین کانوا فی عصر النبی صلی الله علیه وآله وسلم فان قضاء شریعته علیه الصلوة والسلام قضاءه ، فقد روی عن الصادق رضی الله تعالی عنه انه قال : لو ان قوماً عبدوا الله تعالی و اقاموا الصلوة و اتوا الزکوة و صاموا رمضان و حجوا البیت ثم قالوا الشئی صنعه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم الا صنع خلاف ما صنع ، او و جدوا فی انفسهم حرجاً لکانوا مشرکین ثم تلا هذه الآیه (روح المعانی ص ۷۱ الجزاء الخامس).

په خلاصه التفاسیر کې دي: له شرعي احکامونـه پـه زړه کـې تکـدر پیـدا کیـدل د بـې ایماني نښه ده. (خلاصه التفاسیر ص ۴۰۹ حصه اول).

به تشریح القران کې دي هر مسلمان ته پکار دي چې د ژوند ټول معاملات او د دنیا او آخرت په ټولو خبرو کې د الله تعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم نسوبی او فیصلی بخپل ځان باندې لازم کړي او په دی فیصله کې هر قسم جاني او مالي نقصان په خوښی سره ومنی او په زړه کې د الله تعالی مینه کلکه کړي، که څه هم فیصلی زمونږ په خلاف ولی نه وي. (تشریح القرآن سوره نساء آیت نمبر ۶۵ مولانا عبد الکریم پاریکه صاحب دام مجده).

فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (قرآن مجید سوره النور آیت نمبر ۶۳ پاره نمبر ۱۸)

کوم خلک چې د الله تعالی له حکم نه مخالفت کوي هغوی ته لدینه ویریدل پکار دی چې هسی نه پر هغوی په دی دنیا کې څه آفت پری نه اوځي یا پر هغوی دردوونکې عذاب رانښکته نشي.

په فوائد عثماني کې دي : یعنی د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د حکم مخالفت کوونکو ته لدینه ویریدل پکار دي چې هسی چیر ته د هغوی په زړونوکې د کفر او نفاق فتنه همیشه لپاره جړی ونه نیسی او په دی ترتیب د دنیا کوم سخت آفت یا د آخرت په سخت عذاب کې اخته نشي. (فوائد عثمانی) .

د مذکوره آیتونو لنډیز دا دی چې پر مسلمانانو د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم احکام منل لازم او ضروري دی، دویمه نکاح د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د فیصلی مطابق جائز دی،لهذا هغه دی له زړه نه قبول کړي شی، او د هغه په خلاف دی په زړه کې هیڅ قسم نفرت پیدا نه کړی شی که نه نو ایمان له منځه ځي، په دنیا کې هم د فتنی باعث دی او په آخرت کې هم د سخت او دردوونکې عذاب باعث ګرځي.

اسلام له یو نه زیاتو ښځې سره د نکاح کولو اجازه ورکړی ده، په دی کې زیات مصلحتونه هم شته، مثلاً په عمومي ډول د ښځې تعداد زیات دی، د زیاتو ښځو په نکاح کولو سره دا مسئله حلیدای شي، خصوصاً کومی ښځې چې کونډه یا طلاقه شوي وي له هغوی سره څوک په آسانه واده نه کوي، د تعدد ازواجو په صورت کې د هغوی مسئله هم حل کیدای شي او داسی ښځې په عفت او حیا کې ژوند تیرولی شي او د هغوی د نان او نفقې مشکل هم په اسانی سره حل کیږي، په حقیقت کې د سړو او ښځې لپاره نکاح کول ډیر زیات ضروري څیز دی .

شیخ عبد القادری جیلانی پخپل مشهور کتاب غنیة الطالبین کې لیکلي دي :

مسکینة مسکینة امراة لیس لها زوج ، قیل یا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم و ان کانت غنیة من المال قال و ان کانت غنیة من المال.

ترجمه: هغه ښځه مسکینه، مسکینه، مسکینه ده، چې خاوند یې نه وي کړی، پو ښتنه وشوه که څه هم هغه ښځه مالداره وي بیا هم مسکینه ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

هو بیا هم مسکینه ده. (غنیه الطالبین عربي ص ۹٦ ج ۱ فصل فی اداب النکاح).

همدغه راز په بل حدیث کې دي : د ښځې لپاره د خاوند غیر نه او د قبر له گوښي نه علاوه بل ښه ځیز نشته. (ایضآ)

(۲) ځینی وخت دا هم کیږي چې له لومړی ښځې نه اولاد نه کیږي، یا داسې کومه ناروغی لري چې د هغې په وجه اولاد بالکل نه کیږي، مگر خاوند او د کور خلک د ماشوم هیله من وي ، نو په دی صورت کې هم تعدد ازواج د دی مسئلي حل دی.

(۳) په ځینو سړو کې شهوانی قوت زیات وي یوه ښځه د هغه خواهش نشي پوره کولی که هغه ته د بل واده اجازه ورنکړی شي نو هغه په زنا کې اخته کیدلی شي، او تعدد ازواج لدینه د بندولو بهترین علاج دی .

په معارف القران کې مولانا مفتی شفیع صاحب فرمائی :

یخوا هم په ټوله دنیا کې له یوی نه زیاتو ښځو سره واده کول جائز گڼل کیده ، اوس هم د دی فطري ضرورت نه څوک انکار نشي کولی، په اوسنی زمانه کې چې اروپا د خپلو اسلافو قانون لغو کړ او تعدد ازواج یې ناجائز وگرځاو نو د هغه نتیجه د زنا کاری په صورت کې مخې ته راغې، بالاخره فطري قانون غالب شو او اوس د هغه ځای د بصیرت خاوند حکما د دی بیا قانونی کولو په حق کې دي.

مستر ډیون پورټ چې مشهور عیسوي عالم دی د تعدد ازواج په حمایت کې د انجیل گڼ ایتونه نقلوي اووایی : " له د غو ایتونو څخه دا معلومیږي چې تعدد ازواج نه یواځې دا چې ښه کار دی بلکې الله تعالی په دی کې خاص برکت ایښی دی.

همدغه راز پادری نکسن او جان ملټن او اپرک ټیلر په کلکه د دې تاکید کړی دی ، همدغه راز ویدک تعلیم هم غیر محدود تعدد ازواج ته جائز ویلی دي او له هغه نه لسو

لسو، دیار لسو، دیار لسو او اووه ویشتو اووه ویشتو ښځو سره په یو وخت کې دواده کولو اجازه معلومیږي.

کرشن چې په هندوانو کې واجب التعظیم اوتار ګڼل کیږي د هغه سلګونه ښځې وې کوم سړی چې مذهب، قانون، عفت او عصمت قائم ساتل غواړي او د زنا کاري بندیدل ضروري ګڼي هغه لپاره هیڅ چاره نشته چې د تعدد ازواج اجازه ورنکړي، په دې سره د زنا کاري مخه هم نیول کیږي او د ښځو د کثرت علاج هم دی. که چیر ته د دې اجازه ورنکړی شي نو د زنا کارو په شمیره کې ښه ډیروالی راشي او هر چیرته به د زنا اډې جوړیږي.

همدغه وجه ده چې په کومو قومونوکې د تعدد ازواج اجازه نشته په هغوی کې زنا ډیره زیاته ده، اروپائي اقوامو ته وګورئ چې هلته په تعدد ازواجو باندې بندیز دی مګر د دوستی په توګه چې له څومره ښځو سره زنا کیږي د هغه پوره اجازه ده، ایا دا عجیبه تماشا نه ده چې تعدد ازواج ناجائز او زنا جائز دی.

لنډه دا چې له اسلام نه مخکې هم له زیاتو ښځو سره په یو وخت کې واده کول رائج و د مذاهبو له تاریخ نه همدا معلومیږي چې په هیڅ یو مذهب او قانون کې په دې باندې بندیز نه و لګول شوی، نه یهود و نصاراو او نه هم هندوانو آر یاو او پارسیانو.

د اسلام په دین کې هم تر څلورو ښځو پوره اجازه ده خو شرط پکې دا دی چې د ټولو (څلورو واړو) ترمنځ یو برابر انصاف وکړي، او که انصاف نشي کولی نو بیا دی په یوه ښځه کفایت وکړي.

اسلام په تعدد ازواجو باندې ضروري بندیز لګولی او د عدل او مساوات قانون یې جاري کړی دی.

قران کریم، د ډیرو ښځو په نکاح کولو باندې بندیز ولګاو او له څلورونه د زیاتو ښځو په یو وخت کې جمع کول حرام وګرځاو، او کومې ښځې چې په یو وخت کې د یو سړي تر نکاح لاندې دي د هغوی په منځ کې د مساوات او انصاف شرط کیښود او کوم خاوند چې مساوات او انصاف نه کوي پر هغه یې سخت وعید نازل کړ. د څلور و ښځو د نکاح کولو اجازې سره سره الله تعالی دا هم وفرمایل :

فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً

که چیرته تاسو ته د دې ویره وي چې عدل نشئ کولی نو په یوې ښځې باندې اکتفا کوئ. لدینه معلوم شو چې له یوې ښځې نه زیاتو ښځو سره نکاح کول په هغه صورت

کې جائز دی، چې د شریعت په مطابق په ټولو ښځو کې برابري او انصاف وکړي او د ټولو د حقوقو پوره پوره يو برابر خيال وساتي، او که د دی قدرت نه لري نو بيا دې په یوه ښځه اکتفا وکړي .

مطلب دا چې، که يو سړی څلور ښځې ولري نو پر هغه دا واجب دي چې د هغوی ترمنځ عدل او انصاف وکړي او د ټولو حقوق يو برابر سرته ورسوي، که چیر ته دا احتمال غالب، وي چې د هغوی ترمنځ عدل او انصاف نشي کولی نو بيا له يوی ښځې نه د زياتو ښځو سره نکاح کول لويه ګناه ده، لدينه بايد ځان وساتل شي او په دی صورت کې يواځې په يوه ښځه باندې بايد اکتفا وکړی شي.

په يو حديث کې محمد صلی الله عليه وسلم ارشاد وفرمايل : د کوم سړی په نکاح کې چې دوه ښځې وي او هغه د هغوی په حقوقو کې برابري او انصاف ونکړي نو د قيامت په ورځ هغه په داسې حالت کې يا څول کيږي چې د هغه يو اړخ فلج وهلي وي. (مشکواه ص ۲۸۷).

البته مساوات په هغو امورو کې ضروری دی چې د انسان په اختيار کې دی، مثلاً په نفقه کې برابري. او کوم کارونه چې د انسان په اختيار کې نه دي مثلاً د زړه ميلان يوی ښځې ته ډير شي نو په دی غير اختياري معامله کې هغه نه نيول کيږي، دا هم په دی شرط چې د دغه ميلان اثر په اختياری معاملا تو باندې و نه غورځيږي. (معارف القران ص ۲۸٦ _ ۲۸۷ _ ۲۹۷ جلد دووم)

حضرت مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله عليه هم په دی مسئله باندې ډيرښه مضمون ليکلی دی چې په لاندې ډول دی .

تعدد ازواج

دتړی تاريخ په دی ګواه دی چې له اسلام نه وړاندی په ټوله دنيا کې دا رواج و چې يوسړي به څو څو ښځې کولی او دا دستور په ټوله نړۍ کې موجود وو، تردی چې انبياء عليهم السلام هم له دی نه مستثنی نه وو، د حضرت ابراهيم عليه اسلام دوه ښځې وی، د حضرت اسحاق عليه اسلام هم ګنې ښځې وې، د حضرت موسی عليه اسلام هم څو ښځې وی،، د حضرت سليمان عليه اسلام څو لسګونه ښځې درلودلی . د حضرت داود عليه اسلام سل ښځې وی.

په تورات او انجيل او په نورو صحيفو کې هم د انبياو عليهم السلام د متعددو او ګڼو ښځو بيان موجود دی. حضرت عيسی عليه السلام او حضرت يحيی عليه اسلام داسې

دوه انبیاء تیر شوي دي چې هغوی ودونه نه وو کړي که چیر ته د هغوی دا کار د استدلال په توګه وړاندې کړی شي نو بیا خو یوه ښځه هم ممنوع ګرځي
که څه هم حضرت عیسی علیه السلام اسمان ته له ختلونه مخکې واده نه ده کړی خو له نزول نه وروسته واده کوي او اولادونه یې هم کیږي لکه چې په احادیثو کې راغلي دي. غرض د یهودو او نصاراو علماء په مذهبي لحاظ سره د یوی نه په ډیرو نکاح ګانو باندې د اعتراض کولو هیڅ حق نشته، د اسلام دین هم لـه یوی نـه زیاتو ښځو کول جائز وګرځاو مګر حدیې قائم کړ چې له څلورو نه له زیاتو ښځو سره به واده نـه کوی، ځکه چې له نکاح نه مطلب عصمت او د فرج ساتل دی یعنی لـه زنانـه د شرمګاهونو ساتل مقصود دی. په څلورو ښځو کې چې هر یـوی ښځې تـه دری دری ورځـی بعد رجوع کوي نو د هغې د زوجیت په حقوق هیڅ اثر نه پری اوځي.
اسلامی شریعت اعتدال او توسط په نظر کې نیولی دی ، نه د جاهلیت پـه شان د غیر محدودو ودونو اجازه ورکړې چې د شهوت رانی دروازه خلاصه شي او نه دومره تنګـی یې راوستی چې له یوی ښځې نه د زیاتو ښځو اجازه ورنکړی شي بلکې منځ منځ حالت یې برقرار وساتل ترڅو :
(۱) د نکاح غرض او غایت یعنی عفت، د نظر او فرج حفاظت ، او اولاد په اسانی سره حاصل شي. او له زنا نه بالکل وساتل شي، ځکه چې الله تعالی ځینو خلکو تـه داسـی قوت او خوشحالي ورکړي دی چې هغوی لپاره یوه ښځه کافي نشي کیدلی او د څلورو ښځو حقوق په صحیح توګه ادا کولی شي، که داسې خلک له دویم واده نـه منـع کړی شي نو د دی نتیجه به دا وي چې هغه پاکدامني پریږدي او زنا کاری تـه مجبـور شـي، که داسې یو سړی چې د کروړونو روپو مالک دی که هغه لـه څـلورو ښځـو سـره پـه دی خاطر واده وکړي چې د هغوی تنګدستی او پریشاني په خوشحالی بـدل شـي نـو امیـد دی چې دا قسم نکاح له څه شک نه پرته عبادت دی، او قـومي نقطـه نظـر سـره اعلی ترین قومي همدردي دی. د کوم سرمایه دار او زمیندار له خزانی نه هـره میاشـت لـس زره مزدوران او د هغوي کورمخی پرورش مومي که چیر ته د هغه پـه نکـاح کـې څلـور ښځې هم راشي او د خوشحال ژوند سره سره د هغوی عزت هم محفوظ پـاتی شـي نـو عقلاً او شرعاً په دی کې هیڅ قسم خرابی نشته.
(۲) همدغه راز ښځه هر وخت د دی قابل نه پاتی کیږی چـې لـه خاونـد سـره جمـاع وکړي شي ځکه چې په لازمی ډول هره میاشت کې ښځه شپږ ورځی پـه داسـې حالـت

کې وي چې خاوند ترينه پرهيز كولوته مجبوريږي، دويم د حمل په آخـرى مياشـتو کـې خاوند له ښځې نه خکه پرهيز کوي چې ماشوم ضائع نشي. دريم دا چې زياتره ښځـې د ناروغۍ له کبله د دى قابل او ور نه پاتې کيږي چې خاوند ترينه ګټه اوچته کړي، نـو پـه دى صورت کې له زنا نه د بچ کيدو لپاره سړی ته عقلاً لدينه بل کوم صورت ښـه نـه دى چې هغه ته د دويمې نكاح اجازه ورکړى شي، که نه نو سړى د خپـل خـواهش د پـوره کولو لپاره ناجائزى لارى او ذرائع په کار آچوي .

حكايت :

د يو بزرګ ښځه ړنده شوه نو هغه بله واده وکړه تر څو دغه دويمه ښځه د لومړى ړنـدې ښځې خدمت وکړي . د عقل خاوندان دى فتوه ورکړي چې که چـير تـه د چـا لومـړى ښځه معذوره شي او دويمه نکاح په دى خاطر وکړى چې د لومړى ښځې خدمت وکړى او د هغې د ماشومانو پالنه وکړي نو ايا دغه دويمه نكاح عين مروت او عين انسـانيت بـه نه وي ؟

(۳) زياتره ښځې د شنډ والي او يا نورو ناروغيو له کبله توالد او تناسل څخـه پـاتې وي، او سړى فطرتاً د خپل د نسل بقاء غواړي، نو په دى صورت کې دغـې ښځـې تـه طـلاق ورکول ښه دى او که دا صورت بهتر دى چې هغه هم وساتي او بله واده هـم وكـړي او دواړه ښځې د هغه په نكاح کې پاتې شي ؟

که کوم قوم غواړي چې خپل نسل زيات کړي نو هغوى ته دا ضروري ده چې څـو څـو ښځې وکړي نرڅو زيات اولادونه يې وشي، د جاهليت په زمانه کـې بـه خلکـو د فقـر او غربت له کبله خپلې لونې ژوندى په قبر کې خښولې خو په موجوده زمانـه کـې د ضـبط توليد دوايانى ايجاد شوي دي پخپل ذهانت سره د نسل وژنـي او د بـد کـاري دپـالـو لپاره عجيب او غريب طريقه جاري کړى ده.

(۴) همدغه راز له تجربې او مشاهدى نه ثابت شوى چې د ښځو تعداد قـدرتاً او عادتـاً هميشه له سړونه زيات وي، سړى د ښځو په نسبت کم پيدا کيږي او مري ډيـر، پـه لکونـو سړى جنګونو کې مړ کيږي، همدغه راز زيات سـړي پـه کشـتيو او زرګونـه سـړي کـانونو لاندى کيږي. مګر ښځې پيدا کيږي ډيرى او مرى کم. پس که چير ته يو سړى ته د يوى نه زياتو ښځو سره د نکاح کولو اجازه ورنکړى شي نو دغې زيـاتى ښځـې بالکـل بيکـار

پاتې کیږي، د هغوی سرپرستی او وکالت به څوک کوي ؟ د هغوی فطري خـواهش بـه څنګه پوره کیږي او څنګه به له زنانه خانونه وساتي ؟
لدینه معلوم شو چې دیوی ښځې نه د زیاتو ښځو سره نکاح کـول. بـی کسـو ښځـو تـه سهارا ورکول او د هغوی د عصمت دساتلو واحده ذریعه ده.
پر ښځو واجب دی چې د اسلام د دین پر دغـه احسـان بانـدې شـکر وباسـي چې لـه تکلیف نه یې بچ کړی او راحت یې ورته ورکړه، د خلکو له تهمـت او بـدګماني نـه یـې وساتلي.
په دنیا که چې ډیر لوی جنګونه کیږي نو سړی پکې زیات وژل کیږي او بـی کسـو ښځـو تعداد زیاتیږي نو په دی وخت د قوم د همدردو وګړو نظرونه د همدغه اسلامي اصـول په طرف اوچنیږي ، د پنځه ویشتو کلو خبره ده چې د جنګ عظیم نه وروسته پـه جرمنـي او نورو اروپائی هیوادو کې چې د هغوی په مذهب د یوی ښځې نه د زیاتو ښځـو سـره واده کول جائز نه دی د ښځو د دغه بد کیفیت به لیدلو سره په زره کې دننه له یوی نـه زیاتو ښځو د واده کولو فتوه ورکوله مګر نه ر بی نه څه تشو ویلی.
کوم خلک چې له یوی ښځی نه زیاتو ښځو سره واده کول حرام یا بد ګڼي له هغوی نـه دا سوال کوو چې کله په خلکو کې د ښځو تعداد له سړو نه د لکونو به حساب زیـات وی نو د هغوی فطری او طبعی جذباتو او د هغوی اقتصادی ضروریاتو د تکمیل لپاره لـه تـا سو سره څه حل دی ؟ او تاسی د هغـوی د دغـو مشـکلاتو د کمولـو لپـاره کـوم قـانون جوړ کړیدی ؟
حکیم الامت، مولانا اشرف علی تھانوي قدس سره، المصالح العقلیـــة ج ۱ ص ۱۷۳ کې لیکي:
په تیره سر شماري کې څینو محاسبینو صرف د بنګال د سړو او ښځو په تعداد باندې نظر اچولی و، په دغه نفوس شماري کې دا معلوم شوي و چې د سړو په نسبت د ښځو تعـداد زیات دی چې په قدرتی توګه په تعدد ازواج باندې یو ښکاره دلیل دی، که چاتـه شـک وي نو هغوی دی د نفوس شماري دفتر ته لاړشي او پخپلو سترګو وګوري چې پـه ټـول هند کې د ښځو تعداد له سړو نه څومره زیات دی. په اروپا کې هم د ښځو تعداد له سړو نه زیات دی. په کال ۱۹۰۰ ع کې چې په فرانس کې کوم سرشمیرنه شوي وه نو په هغـه کې د ښځو تعداد له سړونه خلور لکه دری دیرش زره اووه سوه نه زیـات و، همدغـه راز په جرمنی کې چې په کال ۱۹۰۰ ع کې نفوس شماري شوي وه نو د زرو سړو پـه مقابـل

کې ۳۲ ښځې زياتی وي. ګويا په ټول نفوس کې تقريباً دولس زره کم اته لکه ښځې له سړو نه زياتی وي چې له هغوی سره واده کولو لپاره سړی موجود نه وو . همدغه راز په سويدن کې چې په ۱۸۹۰ ع کال کې کوم سر شميرنه شوی وه په هغې کې خلور لکه اووه پنځوس زره اووه سو دوه شپيته ښځې د سړو نه زياتی وي . په استراليا کې هم ۱۸۹۰ ع کې د سر شميرنه په نتيجه کې شپږ لکه خلور خلو يښت زره اووه سوه شپږنوي ښځې له سړونه زياتی وي .

اوس مونږ پوښتنه کوو چې په دی باندې فخر کول خو اسان کار دي چې مونږ له يوی نه زياتو ښځو سره نکاح بده ګڼو مګر دا دی وويل شي چې لږ تر لږه د خلوينښتو لکو زياتو ښځو لپاره يې کوم قانون تجويز کړی شی؟ ځکه چې د يوې نکاح په صورت کې خو هغوی ته خاوند نشي پيدا کيدلې.

زمونږ سوال دا دی چې کوم قانون چې انسانی ضروريات لپاره جوړيږي هغه بايد د انساني ضرورياتو په مطابق جوړ کړی شي، هغه قانون چې د تعدد ازواج ممانعت کوي نو د غو خلوينښتو لکو ښځو ته همدا وايي چې هغوی د خپل فطرت په خلاف قدمونه اوچت کړي او د هغوی په زړونوکې د سړو خيال له سره پيدا نشي، حال دا چې دا نا ممکن دی. ځکه چې تجربه هم پخپله د دی ګواهي ورکوي.

غرض دا چې که دا جائز لاره ورباندې بنده کړی شي نو هغوی به ناجائزی لاری خپلوي او په دی توګه به زنا عام کيږي، او د دی په نتيجه کې به نه سړی له زنا نه بچ پاتی کيږي اؤ نه ښځې، همدغه راز هر کال به په لکونو تعداد کې حرامي ماشومان پيدا کيږي چې د هغوی سرپرستی کول هم پخپل ځای ګران کار دی.

افسوس

ډير افسوس چې غربيان چې د اسلام جائز او له خير اوبنګينې نه ډک تعدد ازواج ته عيش پسندی نوم ورکړي خو لا محدوده ناجائز جنسي تعلقاتو ته د تهذيب او تمدن نوم ورکړي . زنا چې د ټولو انبياو او رسولا نو په شريعتونو کې حرام او د ټولو حکماو په حکمت کې قبيح او شرمناک فعل دی، د مغرب تش په نامه مهذب دعوه دارانوته د دی بدي په نظر نه راځي او تعدد ازواج چې د ټولو انبياو مرسلينو او ټولو حکماو او عقلمندو په نرد جائز او ښه کار ګڼل شوي دی هغه ورته بدښکاري. د دغو تش په نامه مهذبو غربيانو په نزد تعدد ازواج خو جرم دی ليکن زنا بدکاري او له پرديو ښځو سره

آشنایي کول جرم نه ښکاري، د دغو برای نام مهذبو غربـي قومونـو پـه قـانون د تعـدد ازواجو منع خو موجوده ده مګر د زنا د ممانعت قانون پکې د سره نشته.

(۵) د تعدد ازواج جواز او استحسان اصـل سـبب دا دی چـې دا د عفـت پاکـدامنی، تقوی او پرهیزګاری په شان دلوی نعمت د حفاظت ذریعه ده. کوم خلـک چـې د تعـدد ازواج مخالف دي هغوی دی د خپلو باطني خواهشونو او بیرونی افعالو مطالعه وکـړي، کوم قومونه چې له تعدد ازواج نه منکر دي، هغوی په عملي توګه د ناپـاک تعـدد ازواج یعنی په زنا او بدکاري کې اخته دي، د هغوی د خواهشونو وسـعت او دسـت درازی دا ثابت کړي چې په فطرت کی د تعدد او تنوع آرزو موجود دی ، که نه نو په یوی ښځـې باندې به قناعت کړی و پس خداوند علیم او حکیم ذات په خپل قانون کې د انسانانو د وسیع خواهش او اندرونی میلانونو احاطـه وسـاتله او داسـی قـانون یـې جوړکـړ چـې مختلف جذبات لروونکي طبیعتونه هم د عفت، تقوی او طهارت پـه دائـره کـې محـدود پاتی شي.

محمد صلی الله علیه وسلم ولی څو ودونه وکړل ؟

د محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت مقصد دا و چـې خلـک د هلاکـت او مصیبت لـه ګرداب نه وساتي، دی لپاره الله تعالی یو مکمل قانون او د ستور العمل یعنی قران کـریم نازل کړ چې له دی نه وروسته تر قیامته پورې د بل کوم قانون ضرورت نشته. بل دا چې د هغه صلی الله علیه وسلم پوره ژوند د خلکو لپاره نمونه او اسوه وګرځوله چې خلک د هغه په لیدلو سره عمل وکړي څکه چې محض قانون د خلکـو د اصـلاح لپـاره تـر هغـه کافي نه وي تر څو پورې چې کومه عملي نمونه مخی ته رانشي چې خلک خپـل طـرف ته جلب او راغب کړي او دنیا دا وګوري چې د الله جل جلا له نبي د کوم څیز دعـوت ورکوي د هغه په قول او عمل کې.یوه پوتی هومره اختلاف او تضاد نشته .

کما قال

د انساني ژوند دوه اړخونه

د هر انساني ژوند دوه اړخونه وي یو دننه اړخ او بل باندنی اړخ .

د چا عملی ژوند د صحیح پیژندلو لپـاره دا ضروري دی چـې د دواړو اړخونـو حـالات وڅیړل شي . بیرونی ژوند د هغه حالت نوم دی چې انسـان د عـامو وګـړو پـه وړانـدې ترسره کوي، د دغې حصی په متعلق د انسانه د تفصیلی حالاتو د معلوملـو لپـاره زیـات

شواهد ترلاسه کیدلي شي. او له داخلي ژوند نه کورنی ژوند مراد دی چې له هغه نه د انسان د اخلاقی حالت صحیح اندازه او پته ترلاسه کیدای شي. هر سړی د خپل کور په چار دیواري کې دننه آزاد وي او له خپلی ښځې او کورنۍ سره بې تکلفه وي، د انسان اخلاقی او عملي کمزوریانی له خپلی کورنی له خلکو نه پټ نه وي، پس په داسې صورت کې د انسان د صحیح ژوند د معلوملو لپاره له ټولو نه بهتر معیار همدغه دی چې د هغه کورنی حالات د دنیا د خلکو په وړاندې راشي.

همدغسې د محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند دوه اړخونه وو، یو بیرونی ژوند او بل داخلي ژوند. د هغه د بیرونی ژوند ټول حالات خو ټول تکې په تکې اصحابو کرامو گردی نړی ته ورسول چې د دی مثال په بل کوم مذهب او ملت کې نه لیدل کیږي چې په داسې تفصیل تحقیق او تدقیق سره خلکو ته رسولی وي.

د محمد صلی الله علیه وسلم داخلي او کورنی ژوند حالات د محمد صلی الله علیه وسلم پاکو بیبیانو د دنیا په وړاندې پیش کړ، چې په کورکې دننه د هغه محمد صلی الله علیه وسلم عبادت، تهجد، فقیری، درویشي، اخلاقي او د عملی ژوند ټول حالات دنړی والو په وړاندی پیش شول، او له دینه د محمد صلی الله علیه وسلم ، خدا ترسی، راست بازي او پاک لمني د لمر پشان هر چاته ښکاره شو چې د شپې په تیاره کې چې له عالم الغیب ذات نه علاوه بل څوک لیدونکې نه و څرنگه هغه محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی په عبادت کې په ذوق او شوق سره مشغولیدو چې د مزمل سوره وړاندې گواه او شاهد ده.

د همدې غرض لپاره محمد صلی الله علیه وسلم له خدیجة الکبری نه پرته له لسو ښځو سره نکاح وکړه، تر څو د ښځو یوه ډله د هغه صلی الله علیه وسلم د کورنی ژوند ټول حالات حرف په حرف دنیا ته وړاندی کړي، ځکه چې ښځې څومره د خاوند له رازونو خبره وي بل څوک ترینه دومره واقف نه وي، نو ځکه محمد صلی الله علیه وسلم له څو ښځو سره نکاح وکړه ترڅو د هغه د داخلي ژوند ټول حالات په نهایت امانت داري سره د نړی خلکوته ورسوي او د یوی ډلی له روایت نه وروسته څه قسم شک او شبهه پاتی نشي.

همدغه راز د شریعت هغه احکام او مسائل چې یواځې د ښځو په متعلق دي او له سرونه د آرویدو په وجه حیا او شرم مخی ته راځي نو د داسې شرعي احکامو تبلیغ د ازواجو مطهراتو په ذریعه وشي، له ډیرو ښځو سره نکاح کولو مطلب دانه و چې الله

تعالی دی نکړي هغه عیش خووښونکي و، نو څکه هغه صلی الله علیه وسلم له یوی واده نه علاوه ټول ودونه له کونډو ښځو سره کړي وه چي نه پخپل حسن او جمال کي مشهوری وي او نه هم د مال او دولت په لحاظ سره، بلکي معامله د دی برعکس وه او نه هم دمحمد صلی الله علیه وسلم په کورکي د عیش او عشرت څه سامان موجود و، ځکي لدینه یواځي دا مقصد و چي د ښځو په متعلق کوم مسائل په شریعت کي موجود وي د هغه تبلیغ د ښځو له لاری نه وشي.

د محمد صلی الله علیه وسلم د بیبیانو حجری په حقیقت کي د امت د مورګانو او معلماتو حجري وي ، د چا په کورکي چي په ورځو ورځو د ډوډی پخولو لپاره نغری نه ګرمیده او یواځي په کجورو او اوبو باندي به بیبیانو ګوزاره کاو، او د چا ورخ چي په مسجد کي او شپه یی په کورکي د ننه په مصلی باندي ولاړ داسي تیریدو چي د الله تعالی په خدمت کي په ولاړه ولاړه پښی مبارکي پرخیدلي، هلته د عیش او عشرت ژوند حال دی. (سیره المصطفی ص ۳۵۰ _ ۳٦۳ جلد سوم مطبوعه اداره علم و حکمت دیوبند)

دپلار په وړاندي د دوه ګواهانو په حضور کي د خپل لور نکاح کول او د خاوند له طرف نه قبلول :

(۲۰۴ سوال) جناب مفتی صاحب اسلام علیکم ورحمه الله و برکاته !

ستاسی خواب ترلاسه شو په هغه کي تاسی لیکلي وو چي ستاسی د خپلوان نکاح به دوباره تړل کیږي، نو ما د هغه پلار ورور او پخپله هلک او جلی می راوغوښتل، د هلک پلار د جلی نوم واخست او ورته یی وویل چي ما ته دغه هلک ته په نکاح ورکړی ایا ورباندي خوشاله ئی ؟ جلی ورته وویل هو خوشاله یم، هلک هم وویل چي زه هم رضا یم، مونږ دا ګڼل چي نکاح شوی ده ، دری ورځی بعد هلک ماته راغی او راته یی وویل چي زما په خیال نکاح نه ده شوی، ما د هغه پلار را وغوښت او ورته می وویل چي ستا زوی د نکاح د صحت په باره کي شک کوي، نو هغه په بهشتی زیور کي د لیکل شوی طریقی په مطابق بیا نکاح وتړله، څه وخت لا نه وتیر شوی چي په دی نکاح کي هم شک وکړ ، اوس سوال دا دی چي مونږ څه وکړو ؟ له تا سو نه داغنو ښتنه هم کوو چي داسی یوه وظیفه مونږ ته راوښایه چي د هغه په ذریعه شک ئی زائل شي څکه چي د هغه په طبیعت کي شک دننه شوی دی چي د هغه په وجه د هغه کورنی هم زیات پریشان دي.

خواب : حامداً و مصلیاً و مسلماً ـ دا چې د جلی او هلک پلاران او ورونه حــاظر وو او د هغه د جمع کیدو مقصد هم د هغوی نکاح تړل و او په دغه مجلس کــې د هلــک د پـلار په ذریعه له جلی نه پوښتنه وشوه چې زه ستا نکاح له دغه فلانکې هلک سره تــړم ایـا تـه ورباندې رضائی او که نه ؟ جلی ځواب ورکړ چې هو زه ورباندې راضي یم او هلک هم، وویل چې زه هم په دی نکاح رضایم ، نو نکاح یې شوی دی . په هدایه کې دي :

و علی هذا اذا زوج الاب ابنته البالغة بمحضر شاهد و احد ان کانت حاضرة جار و ان کانت غائبة لا یجوز (هدایه اولین ص ۲۸۷ کتاب النکاح).

نو ځکه د دوباره نکاح تړلو ضرورت نه و ، په بهشتی زیور کـې چـې کومـه طریقـه لیکـل شوی ده هغه هم صحیح ده هیڅ شک او شبهی ته ضرورت نشته ، دا چـې پـه راتلـونکې وخت کې که داسې کومه مسئله پیداشي نو هغه وخت کې هم علماء وي له همغوی نـه به بیا پوښتنه کولې شي.

خپل رشته دار ته ووایه چې داسې غلط او له شک نه دک خیالات پریږدي، سـهار ماښـام او د ویده کیدو په وخت کې، سوره فاتحه، معوذ تین او آیـت الکرسـی پخپـل ځـان دم کړي، همدغه راز په اوبوږی دم کړي او هغه دی وڅکې، دویـده کیـدو پـه وخــت کـې دی دغه لاندینی دعا هم ولولي :

اللهم انی اعوذبک من سوء الاحلام و من ان یتلاعب بی الشیطان مـن البقطـه والمنـام.

فقط والله اعلم بالصواب.

په تیلفون کې د نکاح یو صورت

(۲۰۵ سوال) زید د پاکستان اوسیدونکې دی او له ملک نه د بانـدې مـزدوري کـوي د هغه رشته د یوی ښځې په ذریعه فیصله شوی ده چې هندوستانی ده، د دغو دواړو نکاح په هندوستان کې د تیلفون په ذریعه شوی وه چې پوره تفصیل یې په لاندی ډول دی .

زید خپل یو عکس (فوټو) چې پکې ۲۲ کلن ځوان ښکـاری ولیږلـه، د هنـده عمـر اووه لس کاله دی ، او د زید دغه فوټو هغه تـه وښـودلی شـو ، هنـدی لـه هغـه سـره دنکـاح رضایت ښکاره کړه د نکاح نیته و تا کل شوه چـې پـه دی ورځ بـه د تیلفـون پـه ذریعـه نکاح کیږي، د نکاح په ورځ د جلی په کورکې څه خلک هم راغونډ شول ، یـو سـړی د هندی د نکاح وکیل وټول شو، هغه د دوه ګواهانو په وړاندی لـه هنـدی نـه اجـازه او منظوري واخسته چې د هغې نکاح د لسو زرو مهر په عوض کې له زید سره وتـړل شـی

قاضی صاحب د نکاح په رجستر کې د ټولو ضروری اندراجاتو لپاره زید ته تیلفـون وکـړه او په تیلفون کې ایجاب او قبول هم وشو چې تفصیل یې داسی دی :
قاضی صاحب د وکیل بیان واخست او ګواهانو د هغه تصدیق وکړ، بیا قاضـی صـاحب د تیلفون په ذریعه د نکاح پیغام ورکړ او زید هغه تیلفون لـه لاری قبولـه کـړه لـه نکـاح نـه وراندی زید کله هم خپل ملک هندوستان ته نه و راغلې، پخپله هندی د هغه مـور پـلار، وکیل او قاضی صاحب هغه نه و لیدلی او نه هم د هغه آواز چا پیژندلو چې واقعـی دا د زید غږدی. کله چې یو نیم کال وروسته زید واده لپاره راغی نو هنـده او د هغـې مـور و پلار د هغه فوټو او هغه ترمنځ لوی فرق محسوس کړ ، لدینه عـلاوه د هغـه پـه پاسـپورټ کې د هغه عمر ۴۸ کاله لیکل شوی و، لیکن د نکاح په وخت کـې د هغـه عمـر ۲۵ کالـه ښودل شوي و، ویښتان یې رنګ کړي وو او په ویزه کې د هندی د ورلو لپاره کومه خانـه خالي پر ېښودل شوی وه په هغې کې خادمه لیکل شوی و ، نـو ځکـه هنـده او د هغـې ور او پلار د واده ورکولو نه انکار وکـړ او هنـده ورسـره واده تـه تیـاره نـه شـوه ، اوس وښتنه داده چې په فون کې کومه نکاح شویده ایا هغه د شریعت په رڼا کـې صـحیح ده او که نه ؟ همدغه راز هنده په بل ځای کې واده کولي شي او که نه ؟ بینوا تو جروا.
(ځواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً . دا نکاح د شرعی قانون په مطابق نه ده تـړل شـوې ځکه چې خاوند هم مجهول دی او د ایجاب او قبول مجلس هم متحد نه دی او نه هم ګواهانو په یو مجلس کې ایجاب او قبول اوریدلی دی .

, منها ان یکون الایجاب و القبول فی مجلس واحد حتی لو اختلف المجلس بان کانـــا حاضرین فاوجب احدهما فقام الآخر عن المجلس قبل القبول او اشتغل بعمل یوجـــب اختلاف المجلس لا ینعقد و کذا اذا کان احدهما غائبا لم ینعقد (فتاوی عالمگیری ج ۲ ص ۲ کتاب النکاح) و منها سماع الشاهدین کلا منهما معا هکذا فی فتح القدیر (عالمګیری ج ۲ ص ۱).

نو ځکه ښځه آزاده ده له هر چاسره غواړي نکاح کولی شي، د طلاق ترلاسه کولو او یـا د نکاح د فسخ کولو هیڅ ضرورت نشته . فقط والله اعلم بالصواب.

د خط په ذریعه نکاح کول :

(۲۰٦ ـ سوال): د یو سړی نوسی زید په لندن کې اوسیږي او د هغه نوسی فاطمه دلتـه په هندوستان کې ده، د دواړو نکاح د ځو کلو راهیسی شـوي ده اوس د هغـوی د واده

مسئه ده،د نکاح له اسنادو نه پر ته پاسپورت نشي جوړیدلی، د هغوی نکاح څنگه وتړل شي ؟

(خواب): په صورت مسئوله کې دي زید فاطمی ته ولیکې چې ما له تا سره نکـاح وکړ، کله چې هغه خط فاطمی ته ورسيږي نو هغه دی د شرعي گواهـانو پـه وړانـدی ووايي چې دا خط ماته رسیدلی دی او زه له دغه هلک سره نکـاح کـوم نـو ایجـاب او قبـول صحیح کیږي.

یا دی جلی هلک ته خط ولیږي چې ما خپل ځان تا ته په نکاح کـې درکـړی دی دغه خط دی هلک د شرعي گواهانو په وړاندی.ولولي او ودی وایی چې ما دغه خط منظور کړ نو دا ایجاب صحیح کیږي ، په فتاوی عالمگیری کې دي :

ولو ارسل اليها رسولاً او كتب اليها بذلك كتابا فقبلت بحضرة شاهدين سمعا كـلام الرسول و قراء ة الكتابة جاز لا تحاد المجلس من حيث المعنى. (ج ۲ ص ۲ كتـاب النكاح) فقط والله اعلم بالصواب.

د نکاح گواهان باید څنگه وي ؟

(۲۰۷ سوال) ایا د نکاح د صحت لپاره د گواهانو عادل کیدل شرط دی او که نه ؟

(خواب) د نکاح د عقد د صحت لپاره په حنفـی مـذهب کـې د گواهـانو عـادل والی شرط نه دی البته د قاضی په نزد ثبوت لپاره د گواهانو عادل والی شرط دی.

محرمات

د ښځې په عدت کې د هغې له خور سره نکاح نه کیږي.

(۲۰۸_ سوال): زما ښځه همیشه ناروغه وي لس کاله د واده شوي دي خو تراوسه پورې مې اولاد نه دی شوی، ما د خپلې ښځې سره صلاح مشورې نه وروسته د هغې وړې خور سره نکاح وکړه، وروسته معلوم شو چې د دوه خویندو یوځای نکاح نه روا کیږي، ما لومړی ښځې ته طلاق ورکړه او عدت تیریدونه وړاندې مې دهغې له خور سره نکاح وکړه اوس زما طلاق شوی مخکینی ښځه غواړي چې بیرته ماته واده شي، په دې باره کې ماته هدایت وکړی چې څه وکړم؟

(ځواب): ښځه که په نکاح کې وي یا په عدت کې نو د هغې له خور، خاله، ترور، خورزه او وریرې سره نکاح نه کیږي، حرام او ناجائز دی. په قران کریم کې دي :

« وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ »

او د دوه خویندو یوځای کول حرام دی. (سوره نساء رکوع نمبر ۴).

او په حدیث شریف کې دی: من کان یؤمن بالله والیوم الاخر فلا یجمعن ماء فی رحم اختین.

هر څوک چې په الله او داخرت په ورځ باندې ایمان لري نو هغه دی خپله منی د دوه خویندو په رحمونو که وانچوی. (هدایه ص ۲۸۸ ج ۲ فصل فی بیان المحرمات)..

اوپه حدیث شریف کې دي:

" باب ماجاء فی الرجل یسلم و عنده اختان حدثنا فتیة و ابن لهیعه عــن ابی وهــب الجیشانی انه سمع ابن فیروز الدیلمی یحدث عن ابیه قال اتیت النبی صلی الله علیهوآله وسلم فقلت یا رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم انی اسلمت و تحتی اختان فقـال رسول الله صلی الله علیهوآله وسلم اختر ایتهما شئت : هذا حدیث حسن غریب و ابو وهب الجیشانی اسمه الدیلم ابن هو شع ."(ترمذی شریف ص ۱۳٤ ج ۱).

یعنی کله چې دیلمی ایمان راوړ نو د هغه په نکاح کې دوه خویندی وي، محمد صلی الله علیه وسلم ورته له دواړو خویندو څخه دیوې خور د ساتلو او بلی ته د طلاق ورکولو فیصله ورکړه. (ترمذی شریف ص ۱۳۴ ج ۱)..

دا چې تا خپلې بنځې ته طلاق ورکړی دی مګر دهغې په عدت کې دی دهغې له خور سره نکاح کړی دی نو ستا دا نکاح باطله ده‌لهذا هغه فوراً له خانه جدا کړه.

(والجمع بين الاختين نكاحاً وعده ولو من بائن).(شرح وقایه ص ۱۳ ج ۲ فصل من یحرم نکاحه وغیره)..

له عدت نه وروسته د هغې له خور سره نکاح صحیح ده، تا خپلې بنځې ته دری طلاق ورکړي دي‌لهذا له شرعي حلالی نه بغیر هغه ستالپاره روانه ده، که چیرته دهغې له خور سره دی واده کړی وي نو حلالی په صورت کې هم ستا مخکینۍ بنځه درته نه روا کیږی، له دوه خویندو سره نکاح کولو رواج ورځ په ورځ مخ په زیاتیدودی، پرمسلمانانو باندې لازم دی چې خلک لدې ناروا کارنه منع کړی، که نه نو د الله تعالی په قهر او غضب کې به اخته شي. والله اعلم بالصواب..

غیر مدخوله مطلقه بنځې له لور سره نکاح صحیح ده او که نه ؟

(۲۰۹_ سوال).: له یوی بنځې سره واده وشوه خو له خلوت نه وړاندی طلاقه کړه، نو اوس د هغې له لور سره د دغه سړی واده صحیح کیږي او که نه ؟

(خواب). : په مسئوله صورت کې کله چې خلوت ورسره نه وي شوی او طلاق ورکړي نو د هغې له لور سره نکاح صحیح ده، خو د هغې له مور سره نکاح صحیح نه ده. په قران کریم کې ایت شریف دی :

وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ.

ترجمه : اوسناسی د بنځو لورګانی چې عادتا ستا سې پرورش لاندې وي له هغو بنځو نه چې تاسې ورسره صحبت کړی وي.

په حدیث شریف کې دي :

" باب ماجاء من يتزوج المرأة ثم يطلقها قبل ان يدخل بها يتزوج ابنتها ام لا ؟ حدثنا قتيبه نا ابن لهيعه عن عمرو ابن شعيب عن ابيه عن جده ان النبى صلى الله عليه وآلــه وسلم قال ايمار جل نكح امرأة دخل بها فلا يحل له نكاح ابنتها فان لم يكن دخل بها فينكح ابنتها ، و ايما رجل نكح امرأة فدخل بها او لم يدخل فلا يحل له نكاح امها (ترمذى شريف ص ۱۳۳ ج ۱).

په هدایه کې دي:

ولا یامر امرأته التی دخل بابنتها او لم یدخل لقوله تعالی و امهات نسائکم . من غیر قید الدخول . ولا بنت امراته التی دخل بها لثبوت قید الدخول بالنص سواء کانت فی حجر غیره ..... الخ (هدایه اولین ص ۲۸۷ – ۲۸۸ ج ۲ فصل فی المحرمات.

د خاله او دهغې خورزه دواړه په یو وخت کـې نکـاح کـې سـاتل څنګه دی ؟

(۲۱۰_ سوال).: احمد له خپلې ښځې عائشی سره له خپلو دریو ماشومانو سره یـو ځـای ژوند کوي په دی وخت احمد د خپلې ښځې له خورزی سره هم په عدالت کـې نکـاح کړی دی نو ایا په دی صورت کې دهغې خاله د احمد په نکاح کې پـاتی کیږی او کـه نه ؟

(ځواب).: په مسئوله صورت کې ترڅو پورې چې عائشه د احمد په نکاح کـې وي یـا د طلاق عدت نیروي تر هغه وخته پورې د عائشی له خورزی سره نکاح نه صحیح کیږی او نکاح یې حرامه ده. د محمد صلی الله علیه وسلم ګرامی ارشاد دی:

(الا یجمع بین المرأة وعمته ولا بین المرأه و خالته).. (صحیح مسلم ص ۴۰۲)..

شځه د هغې له ترور او خاله سره په یوځای نکاح کې نشی جمع کیدلی.

او په یو بل روایت کې دي :

(لا تنکح العمته علی بنت لاخ ولا ابنه الا خت علی الخاله)..

یعنی ترور دهغې له وریری سره او خاله دهغې له خورزی سره یـو ځـای پـه نکـاح کـې نشی جمع کیدلی. (نووي شرح مسلم ص ۴۵۲).

څرنګه چې سکه خور او علاتی خور همدغه راز دهغوی اولادونه حرام دي، همدغـه راز اخیافی خور او دهغې اولادونه هم حرام دي. په فتاوای عالمګیری کې دي:

واما الاخوات فالاخت لاب وام الاخت لاب والاخـــت لأم وکـــذا بنـــات الاخ والاخت وان سفل. (ص ۲۷۳ ج ۱ القسم الرابع المحرمات بـــالجمع _ هدایـــه ص ۲۸۷ ج ۲). فقط والله اعلم بالصواب. .

ایا په عدت کې نکاح کیږي او که نه ؟

(۲۱۱ـ سوال) : د طلاق یا د وفات عدت له ختمیدونه مخکې یو سړی ځکه نکـاح وکړ چې له عدت نه وروسته بله نکاح وکړي شی، صحبت یې ورسره نه دی کړي، ایا دهغه د نکاح اختیار لري او که نه. ایا له عدت نه وروسته ښځه دویم نکاح کولي شي او کـه نـه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په عدت کې تړل شوی نکاح صحیح نه دی، ځکه چـې پـه عـدت کـې نکـاح کول حرام دی. که له عدت نه وروسته ښځه رضا وي نـو دوبـاره دې نکـاح وکـړي، پـه عدت کې چې کوم نکاح تړل شوی پـه هغـې سـره د چـا ښځـه نشـی کیـدلی او نکـاح کوونکې د دی حقدار نه دی، ښځه کولی شی چې له هغه نه علاوه له بل چا سره نکـاح وکړی.

وفـــــــیه اشارة الی انه لیس احق بها من غیره بل هو خاطب من الخطاب فتـــنکح من شائت .

(التعلیق المجد. ص ۱۹۳ باب المرأة تزوج فی عدتها.) فقط والله اعلم بالصواب.

که طلاق یافته ښځه په عدت کې دویمه نکاح وکړی نو ځـه اعتبـار لري او که نه ؟

(۲۱۲ـ سوال): یوه ښځه طلاقه شوی ده هغې له یوی حیض نه وروسته پـه عـدت کـې دویمه نکاح وکړه لیکن خلکو هغه ترینه جلا وساتله چې په عـدت کـې نکـاح اعتبـار نـه لری. اوس سوال دا دی چې د پاتی دوه نورو حیضونو له تیریدونـه وروسـته هغـه نکـاح کولی شی او که نه؟

(ځواب): د دوه حیضونو له تیریدونه وروسته نه بلکې د هغې عدت له سـره بیـا شـروع شوی او دری حیض به تیروي، لدینه پس به دهغو عدت ختمیږی. په درمختار کې دي:

(واذا وطئت المعتدة بشبهة وجبت عدة اخری لتجدد البسب وتداخلتا). (شـــامی ص ۸۳۷ـ۸۳۸ ج ۲ باب العده). فقط والله اعلم بالصواب.

له شیعه جلی سره دسنی هلک واده :

(۲۱۳ـ سوال): هلک سنی دی او واده هم لري، دویمه واده له شیعه جلـی سـره کـول غواړي. د جلی مور او پلار اراده دا ده چې نکاح د شیعه پـه طریقـی سـره وشـي، کـه چیرته له هغه نه وروسته که هلک پخپل کور کې د سنی مذهب په طریقه نکاح وکړی نـو په هغه د هغوی هیڅ اعتراض نشته.

(۲): جلی دی لپاره رضا ده چې سني مسلک خپل کړی، هغه صرف د خپل مـور او پـلار د رضا کولو په خاطر د شیعه مسلک په مطابق د نکاح کولو خبره کوي.

(۳) : که د شیعه مسلک په مطابق نکاح وشی نو له اسلام نه اوځي او که نه ؟

(۴) : که له واده نه و روسته جلی د شیعه په مسلک کې پاتی شي او خاوند يې په سني مسلک کې وي نو په مذهبی اعتبار سره ستاسی څه رای ده. ؟

(خواب) : (۱): حامداً و مصلیاً. د شیعه او روافضو ترمنځ ډیر لوی فرق دی او عقیـدی يې هم مختلفی دي، کوم خلک چې حضرت علی رضی الله عنه معـاذ الله خـدای گنـی او له الله سره په قدرت او نوروکې شریک گنـي، او دهغـوی عقیـده داده چـې حضـرت جبریل علیه السلام په وحی راوړو کې غلطی کړی دی، او علی رضی الله عنـه پـه ځـای محمد صلی الله علیه وسلم ته وړی ده، همدغه راز په عائشه رضی الله عنها باندې (معاذ الله). د زنا تهمت لگوي، د ابوبکر صدیق له صحابیت نه انکار کوي، دغې کفري عقیـده لرونکې روافص د اسلام له چوکاټ نه وتلی دي.

نعم لا شك فى تكفير من قذف السيده عائشه رضى الله تعالى عنها او انكرصـــحبة الصديق او اعتقد الالوهية فى على رضى الله تعالى عنه او ان جبريل غلط فى الوحى او نحو ذالك من الكفر الصريح المخالف للقرآن (شـــامى ص ٤٩٦ ج ٣) (فتـــاوى عالمكگيرى ص ٢٦٤ ج ٢ مطلب موجبات الكفر انوداع و منها ما يتعلق بالانبيـــاء ...... الخ)

او د چا عقیده چې د کفر حد ته نه ده رسیدلی هغه مبتدع او گمراه دي، په سوال کـې چې د کومې جلی یادونه شویده هغه کومه عقیده لري او له کومې دلې څخه ده په هغو باندې پوهیدل گران کار دی ، لهذا ترڅو پورې چې هغـې سـنی عقیـده نـه وي خپـل کړی او د سنی مسلک په مطابق د نکاح کولو لپاره رضا نشي نو له هغې سـره دی نکـاح ونکړی شي لکه چې په عقائد الاسلام کې دي:

آخر په شیعه ګانو باندې څه شوي دي چې هغه اصحاب چې دهغوی صفت الله تعالی په قران کریم کې کړی دی او د هغوی ثبوت یقینی دی، نه منی؟ په هغوی ډول ډول عیبونه لګوي. له هغوی سره دشمني او کینه خپل ایمان ګنی. (الی قوله).
د محمد صلی الله علیه وسلم تره عباس رضی الله عنه او د هغه زوی عبد الله او د محمد صلی الله علیه وسلم په ښځو باندې عیبونه لګوي، او ډیرنامناسب الفاظ ورته استعمالوي.
که چیرته د کوم ادنی سړي ښځه هم داسې الفاظ استعمال کړي نو دهغې مخ ته به ټول عمر ونه ګوري.
ډیرافسوس دی په هغومسلمانانو چې له هغوی سره مینه او محبت کوي او واده سره ورکوي ، هیڅ شک نشته چې محمد صلی الله علیه وسلم به له داسې خلکو نه هم خفه شي او له خپل حوض کوثر نه به وشړي. (عقائد الاسلام ص ۲۵). فقط والله اعلم بالصواب..

(۲). : که چیرته جلی د خپل باطل فکر او عقیدې په وجه کافره وي نوله هغې سره نکاح کول حرام دی. او حرام څیز حلال ګڼوونکې سړی له اسلام نه خارجیږي او که چیرته داسې عقیده نه لري نو بیا له اسلام نه خارجیږي، لیکن د شیعه ګانو په طریقه نکاح کول د خپلې طریقې سپکاوی او د هغې د مذهب تعظیم سبب ګرځي او په دی کارسره جرم ورباندې راځي. فقط والله اعلم بالصواب..

(۳). : که د جلی عقیده د کفر پولوته نه ده رسیدلی نو بیا مع الکراهت ورته جائز دی. لیکن د شرعی مصلحت په وجه د دی اجازه نه ورکول کیږي. فقط والله اعلم بالصواب..

(۴). : په قران کریم کې له اهل کتابو سره د نکاح کولو جواز او اجازه موجوده ده. لیکن شرعی مصلحت له کبله حضرت عمر رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کې لدینه خپل مخالفت ښودلی دی.
کله چې حضرت حذیفه رضی الله عنه له یوه یهودی اهل کتاب سره واده وکړه، اوکله چې د دي خبر حضرت عمر رضی الله عنه ته و رسیده نو هغه رضی الله عنه د دواړو ترمنځ د تفریق حکم ورکړ. حضرت حذیفه رضی الله عنه ورته په ځواب کې ولیکل: ایا کتابی ښځې سره نکاح حرامه نه ده؟

د هغه په خواب کې عمر رضی الله عنه ولیکل: حرام خو ورته نشم ویلی. لیکن لـه دی ویری نه د دې اجازه نشم ورکولی چې تاسې د هغوی په جال کې ونخلی.

عن شقیق ابن سلمه قال تزوج حذیفة رضی الله تعالیٰعنه بیهودیه فکتب الیه عمـــر رضی الله تعالی عنه ان خل سبیلها ! فکتب الیه حذیفة رضی الله تعالی عنه احرام هی ! فکتب الیه عمر رضی الله تعالی عنه لا ولکن اخاف ان تواقعوا المواسات منـــهن (احکام القرآن للجصاص ص ۳۹۷ ج ۲ باب تزوج الکتابیات تحت قوله والمحصنات من الذین اوتو الکتاب .....الخ).

تقریباً همدغه واقعه له لږ غوندی وضاحت او بیان نه وروسته امام محمد په کتاب الاثـار کې نقل کړی دی.

محمد رحمه الله قال اخبر نا ابو حنیفة رحمه الله عن حماد عن ابراهیم عن حذیفه ابـــن الیمان رضی الله تعالی عنه انه تزوج یهودیة بالمدائن فکتب الیه عمر ابـــن الخطـــاب رضی الله تعالی عنه عن ان خل سبیلها فکتب الیه احرام هی یا امیر المومنین ! فکتب الیه اعزم علیك ان لا تضع کتابی تحلی سبیلها فانی اخاف ان یقتـــدیك المســـلمون فیختار و النساء اهل الذمة لجمالهن و کفی بذالك فتنة لنساء المسلمین . قال محمـــد رحمه الله و به ناخذ لا نراه حراماً و لکنانری ان یختار علیهن نساء المسلمین وهو قول ابی حنیفة رحمه الله (کتاب الآ ثار امام محمد رحمه الله تعالی علیه ترجمه ص ۱۹۰) فقط والله اعلم بالصواب.

یعنی امام محمد رحمة الله علیه له حضرت امام اعظم، حماد، ابراهیم رحمه الله علـیهم څخه روایت کوي چې حضرت حذیفه ابـن الیمـان رضـی الله عنـه پـه مـدائن کـې لـه یهودی ښځې سره نکاح وکړه نو حضـرت عمـر رضـی الله عنـه هغـه تـه ولیکـل چـې دا پریږده_ حضرت حذیفه ورته ولیکل_ ای امیرالمؤمنینه ! آیا له اهل کتـاب یهـودی ښځـې سره نکاح حرامه ده ؟

حضرت عمر رضی الله عنه ورته په خواب کې ولیکل چې: زه تاته قسم درکوم چـې زمـا خط په لاس کې اخستلو نه مخکې خپله ښځه پریږده څکه چې ماتـه د دی خبـرې ویـره

ده چې خلک، به ستاسي پیروی کوي او له ذمی ښځو سره به د هغوی د ښایست په وجه نکاح کوي. او دا به مسلمانو ښځو لپاره غټه فتنه وي.
حضرت امام محمد و فرمایل چې: همدا خبره مونږ خوښوو، مونږ له یهودی ښځو سره نکاح ته حرام نه وایو، لیکن زمونږ رای دا ده چې مسلمانو ښځو ته دی په هغوی ترجیح ورکړی شي، او همدغه قول د امام ابو حنیفه هم دی. (کتاب الاثار امام محمد رحمه الله علیه مع ترجمه ص ۱۹۰). فقط والله اعلم بالصواب..

د رضاعی لور نکاح د مرضعه له زوی سره جائزه ده؟

(۲۱۴_ سوال). : څه وائي د دین علماء او مفتیان حضرات په دی معامله کې چې : زید او اختري دواړه حقیقی خوراو ورور دي، د زید ښځه په سل مرض کې اخته ده، د هغې یو وړه تی رودونکې لور له لوړی نه مړه کیدله، هغې ته اختری د خپلې سینی شودی ورکړی وی، اوس همغه جلی بالغه شویده، اختری غواړي چې د خپل زوی لپاره همغه جلی په نکاح کړي، ایا داسې کولي شی، مهرباني وکړئ تسلی بخش ځواب راکړئ.

(ځواب). : د رضاعت په موده کې د شودو څکلو یا بل چاته د ورکولو په صورت کې رشته قائمیږي برابره خبره ده چې د ضرورت په وجه یې ورته ورکړی وی یا بلاضرورته. لهذا دا چې اختری د خپل ورور لور ته د خپلې سینی شودی ورکړي دي نو هغه د ده رضاعی لور او د هغه د زوی رضاعی خور شوه نو ځکه د اختری له زوی سره د هغې نکاح صحیح او جائز نه ده. په حدیث شریف کې دي :
ان الله حرم من الرضاعته ما حرم من النسب. (مشکواه شریف ج ۲ ص ۲۷۳ باب المحرمات).
په هدایه کې دي :
ولا یتزوج المرضعه احداً من ولدالتی ارضعت لانه اخوها.(هدایه ص ۳۳۰).
یعنی تي رودونکې جلی د هغې ښځې له هیڅ یو زوی سره واده نشی کولی چې هغې جلی ته د خپلې سینی شودی ورکړی دي، ځکه چې دهغه هلکان د هغې جلی رضاعی ورونه دي. والله اعلم بالصواب..

که چیرته دیوي تنسیدلی ښځې نکاح له چاسره وتړل شي نـو ایـا نکاح یې صحیح کیږي ؟

(۲۱۵_ سوال). : هغه تنسیدلې ښځه چې خاوند لا ورته طلاق نـه وي ورکـړی او نکـاح تړونکې سړی ته دا خبر معلوم هم وي مګر له بل سړي سره یې نکاح وتړله. ایا دا نکـاح صحیح او جائزه ده او که نه ؟

(ځواب). : واده شوی ښځه چې ترڅو پورې له خپل خاوند نه طلاق یا خلع په شـرعی طریق سره وانخلي له بل سړي سره په هیڅ صورت کې نکاح یې نه صـحیح کیـږي، کـه نکاح وکړي نو نه صحیح کیږي، نکاح تړونکې او ګواهان چې لـه دی حقیقـت نـه خبـر وي، سخت ګنهګار دي.[1]

د ورور رضاعي خور او د رضاعي ورور حقیقی خـور سـره نکـاح جائز ده او که نه ؟

(۲۱٦_ سوال).: یو هلک د خپل ترور سینه رودلی ده ایا د هغه جلی ورور د خپلې تـرور لور سره نکاح کولې شي او که نه ؟ ایا دا نکاح حلاله ده او که حرامه).

(ځواب). : کله چې د تې رودونکې هلک ورور د دغه ترور تی نـه ده رودلی نـو دهغـه نکاح د خپلې ترور له لور سره جائزه ده، د ورور له رضـاعی خـور سـره نکـاح حلالـه ده همدغه راز د رضاعی ورور له حقیقی خور سره نکاح هم صحیح ده.

وتحل اخت اخیه رضاعاً کماتحل نسباً مثل الاخ لاب کانت له اخت من امه یحـــل لاخیه من ابیه ان یتزوجها...الخ(فتاوای عالمګیري ج ۱ ص ۳٤۳ کتاب الرضاع)..

د حقیقی ورور د رضاعي خور له حقیقی خور سره نکاح صحیح نه ده :

(۲۱۷_ سوال). : زما د مشر زوی لور زمـا د وړوکـې زوی د ښځـې نـه تـی رودلی دی. اوس هغه جلی او د هغه دویم ورور دواړه خور او ورور شـول، اوس د مشـر زوی د دویم

---

[1] - ((لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجه غیره و کذلك المعتده کذافی السراج الهاج . (فتاوی عالمګیری المحرمـــات التی تتعلق بها حق الغیر ج ۱ ص ۲۸۰.)

زوی لور چې هغه د ورو کې زوی د ښځې شودی نه دي څکلی نو دهغه د زوی د لور نکاح د وړوکي زوی د بل اولاد سره کیدی شي او که نه ؟

(خواب): په مسئوله صورت کې د مشر زوی اولاد چې هغوی د کشر زوی له ښځې نه شودی نه دی، څکلی نو د کشر زوی له نور اولاد سره نکاح جائزه ده.

و تحل اخت اخیه رضاعاً کما تحل نسباً... الخ. (فتاوای عالمگیري کتاب الرضاع ج ۱ ص ۳٤۳)

د حقیقي ورور له رضاعي خور سره نکاح صحیح ده :

(۲۱۸_ سوال): کله چې زید پیدا شو نو دوه دونیم میاشتی وروسته د هغه د مور شدي وچې شوي، د زید ممانی په هغه رحم راغی او په پټه یې ورته خپلې شیدی ورکړی، نو اوس د ماما له لور سره زید نکاح کولي شي او که نه ؟ د زید یو بل حقیقي ورور بکرهم شته ایا د هغه نکاح د ماما له لور سره کیدلی شي او که نه ؟

(خواب): کله چې زید د خپل ممانې تی د رضاعت په موده کې رودلی دی نو د ممانې لور د زید خور شوه، له هغې سره د زید نکاح نشی کیدلی. خو د زید حقیقي ورور بکر له هغه سره واده کولی شي.

و یجوز ان یتزوج الرجل باخت اخیه من الرضاع.... الخ. (هدایه اولـــین ج ۲ ص ۳۳۱ کتاب الرضاع)..

که د عیسویت په طریقه له نکاح نه وروسته په اسلامي طریقه نکاح وتړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۲۱۹_ سوال): مسلمان سړي له عیسوي ښځې سره د عیسویت په طریقه کلیسا کې دننه واده وکړه، بیالره موده وروسته د اسلامي اصولو مطابق د دوه ګواهانو په وړاندی ایجاب او قبول وکړ. اوس پوښتنه داده چې که له دې ښځې نه اولاد پیدا شي او هغه د عیسوي مذهب مطابق چرچ کې عیسایي کړی شي نو په دی سره دمسلمان سړی سره په نکاح کې څه فرق راتلی شی او که نه؟ که څه خرابی راغلی وي نو څه وکړي، دویم دا چې هغه اولادمسلمان دی او که عیسوي. دریم دا چې ایا د اولاد عقیقه کولی شي او که نه ؟

(خواب): بې له شکه ښځه عیسوی وي او که یهودي ، او د خپل مذهب اصول . پیغمبر او اسماني کتابونه مني، هسې تش په نامه کتابیه او په حقیقت کې لامذهبه او د هریه نه وي، اګر چې حضرت عزیر علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام ته ابن الله یعنی د الله زوی وایي نو له هغې سره نکاح جائزه ده. په قران کریم کې ایت شریف دي :

وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ. (سوره مائده).

او هغو خلکوته چې له تاسونه مخکې کتاب ورکول شوی دی، له هغوی نه پاک لمنې ښځې حلالی دي.

لیکن زمونږ په زمانه کې د شرعی مصلحت په خاطر له یهودي او نصراني ښځو سره د واده کولو اجازه نشته، خصوصاً د الحرب او کفرستان کې له هغوی سره د ناسته ولاړي له کبله لومړی پخپله او بیا د هغه د خراب ماحول له اثر نه لومړی پخپله او بیا د هغه د اولادو د عقیدي او اخلاق خرابیدو پوره ویره ده. په شامي کې دي

و یجوز تزوج الکتابیات و الا ولی ان لا یفعل ولا یاکل ذبیحتهم الا لضرورة و تکره الکتابیة الحربیة اجماعاً لا فتتاح باب الفتنه من امکان التعلق المستدعی للمقام معها فی دار الحرب تعرض الولد علی التخلق باخلاق اهل الکفر (الی قوله) وما بعده یفید کراهـــة التحریم فی الحربیه (شامی ج ۲ ص ۳۹۷ فتل فی المحرمـــات). الهی فرمان دی :

وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ.

ترجمه: ای مسلمانانو! تاسی د ظالمانو په طرف میلان مه کوئ ـ که نه نو دوزخ ته لاړشي. (سوره هود پاره نمبر : ۱۱).

د عمر رضی الله عنه زمانه د اسلام د غلبی زمانه وه. دمسلمانانو جذبه ښه ډیر پاک او مقدس وه، اسلامي ذوق ورباندې غالب و. مګر د دی باوجود هغه رضی الله عنه له عیسوی ښځو سره له نکاح کولو نه مخالفت وکړه.

هغه رضی الله عنه وویل : زه حلال ته حرام نشم ویلی. بې له شکه الله تعالی له کتابي ښځو سره د نکاح اجازه ورکړی ده، مګر دمسلمانانو د عمومی مصلحت غوښتنه دا ده چې په دی اجازه باندې عمل ونکړی شي. عمر رضی الله عنه د هغې زمانی د عیسوی

ښځو په متعلق دا ممانعت کړی و، په داسې حال کې چې هغوی مذهبی او اهل کتاب وی ، مګر زمونږ په دور کې نه صحيح کتابيانی دي او نه په مذهب عمل کوي، بلکې د هريانی دی، په دی زمانه کی ډير ضروری دی چې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په ممانعت باندې عمل وکړی شي او له هغوی سره نکاح ونکړی شي.

په تفسير حقانی کې دي چې نن زمانی د يورپ عيسويان خو ملاحـده او د هريـان دي، دوی ته عيسويان نشي ويل کيدی. (ج ۴ ص ۱۱).

حکيم الامت حضرت مولانا تهانوي فتوی ده : ليکن په دی زمانه کې چې څوک خانته نصاری وايی هغوی زياتره د قوم په حساب سره نصـارى دي پـه مـذهبي لحـاظ سره محض دهري او سائنس پرست دي، له داسې نصاراو سره د نکاح جـواز نشـته. (امـداد الفتاوی ج ۲ ص ۱۷۰ تفسير بيان القران ج ۳ ص ۹).

په فتاوای دارالعلوم کې دي : کوم خلک چې نن سبا ځپلو ځانونو تـه نصـاری وايی پـه هغوی کی ډير خلک داسې دي چې دهري دي، هـيڅ يـو مـذهب نـه منـي، د الله لـه وجود نه منکر دي، دا خلک که څه هم د قوميت په لحاظ په تذکره کـی عيسـويان دي، مګر د شريعت پــــه حکم داسې خلک اهـل کتـاب نشـی کيـدلی. (فتـاوای دارالعلـوم قديم ج ۱_۲ ص ۱٦۰).

دعمدة المفسرين حضرت علامه شبير احمد عثمانی تحقيق :

مګر دا خبره دی په ياد وساتل شي چې زمونـږ د زمـانی نصـاری عمومـاً تـش پـه نامـه نصاری دي، په هغوی کې زياتره نه اسمانی کتابونه مني، نه مـذهب او نـه خـدای، پـه هغوی کی اهل کتاب اطلاق نشي کيدلی.لهذا د هغوی ذبيحې او د ښځو حکم د اهل کتابو په شان نه دی. همدغه راز د اخبره دی هم په نظر کې ونيول شي چې د يـو څيـز حلال کيدو معنی دا ده چې په دی کې فی ذاته د تحريک هيڅ وجـه نشـته، لـيکن کـه خارجی اثرات او حالات داسې وي چې له دی حـلال نـه پـه منتفـع کيـدوکې د زيـاتو جرمونه ارتکاب کيږی بلکې په کفر کې د اخته کيدو ويره وي نو له داسـې حـلال نـه د انتفاع اجازه نشي ورکول کيدی. (فوائـد سـورة المائـده ص ۱۷۱ پـاره ٦ مولانـا شـبير احمد عثماني.

د ضعيف الايمان او ضعيف الاعتقاد انجام همداسې وي، ښکاره حقيقت دادی چـې پـه باطن باندې د ظاهر اثر غورځيږی او د پوهانو دا وينا هم مشهوره ده:

(القبائح متعدیة والطبائع متاسرة.)
بد خویونه او عادتونه متعدی وي، او طبعیتونه غله دي د خرابو خبرو اثر قبلوي نوځکه د بزرګانو قیمتی نصیحت دی چې :
تاتوانی دور شو از یار بد
یار بد بدتر بود از مار بد
مار بد تنها همی بر جان زند
یا ربد بر جان و بر ایمان زند
یعنی ترڅو چې کیدای شي له بد دوست نه لری واوسه، بد ملګری له زهر جن مارنه هم زیات خطرناک دی. مار خو فقط په بدن باندې درته ټک درکوي، مګر بد دوست په خان او ایمان دواړو باندې ټک درکوي. (نعوذ بالله من ذلک).
له دی تمهید نه وروسته ستا دسوالونو مختصر ځوابونه دا دي :
(۱). : دا چې مسلمان سړی له عیسوی ښځې سره په ګرجا کې د هغې د مذهبی قواعدو په مطابق نکاح تړلی دی د هغې هیڅ اعتبار نشته که چیرته ښځه رښتیا عیسوی وي لامذهبه نه وي، خپل مذهب خپل پیغمبر او خپل کتاب مني (که څه هم عمل ورباندې نه کوی). او د اسلامي قاعدی په مطابق ایجاب او قبول وشي نو نکاح صحیح او د اعتبار وړ دی، دا چې اولاد یی عیسوی مذهب په مطابق چرچ ته وړی دی نو د اسلامی شان و شوکت څخه مخالف او عملاً د الله او دهغه د رسول له هداياتو نه انحراف او د بی دینی کار دی.لهذا توبه او استغفار او له نوی سره د اسلام راوړلو او له نوی سره د نکاح کولو حکم کیږي. په تفسیر بیضاوي کې دي :
وانما عد منه لبس الغيار و شدالزنار و نحوها كفراً لانها تدل على التكذيب فان من صدق رسول الله صلى الله عليه وسلم لايجترءً عليها ظاهراً لا لانها كفر فى انفسها. (تفسير بيضاوي ج ۱ ص ۲۳ ع ۱).
یعنی زنار او د نورو څیزونو تړلو ته ځکه کفر وویل شو چې دا د تکذیب نبي دي، ځکه خو چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق کړی دی هغه داسې حرکت نشی کولی.
په هر حال دغه سړی ته له نوی سره نکاح تړلو او ایمان راوړلو حکم ورکول کیږي. په در مختار کې دي :

يؤمر بالاستغفار والتوبة و تجديد النكاح. (شامي ج ۳ ص ٤١٤ باب المرتد).

د دريم نمبر سوال ځواب : دا اولادمسلمان گڼل کيږي، په مذهب کې اولاد د پلار تابع وي که پلارمسلمان وي نو اولاد يې هم مسلمان دی .

د دريم نمبر سوال ځواب : عقيقه کولی شي. فقط والله علم بالصواب.

(۲۲۰ـ سوال): ايا د ښځې له خور سره په زنا کولو سره خپله ښځه وربانـدې حراميږي او که نه ؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې د هميشه لپاره نه حراميږي ليکن ځينو فقهاو ليکلـي دي چې ترڅو پورې د ښځې خور حيض رانشي تر هغه پورې دی له خپل ښځې سره جماع نه کوي.

وفى الدراية عن الكامل لو زنى باحدالاختين لايقرب الاخرى حتى تحيض الاخــرى حيضه.... الخ (شامي ج ۲ ص ۳۸٦ فصل فى المحرمات).

د زوی له خوابنې سره د پلار نکاح صحيح ده او که نه ؟

(۲۲۱ـ سوال): يوسړی له هندی سره واده وکړه، اوس د هغه حقيقي پلار د هنـدی له حقيقي مور سره واده کول غواړي، ايا له هغې سره يې نکاح کيږي او که نه ؟ هنـدی او د هغه خاوند دواړه ژوندي دي .

(ځواب): هو واده کولي شي نکاح يې ورسره صحيح ده.

ولا تحرم ام روجه لابن.

يعنى د خپل زوی د ښځې له مور سره نکاح حرامه نـه ده. (شـامي ج ۲ ص ۳۸۳ فصل فى المحرمات).

له غير مسلم ښځې سره نکاح کول او د هغوی په مجلس کې شـرکت کول څنګه دی ؟

(۲۲۲ـ سوال): که يو څوک له هندو ښځې سره په مندر کې دننه نکاح وکـړی نـو څـه حکم يې دی او په دی کې ګډون کول څنګه دی ؟

(ځواب). : له کافری او مشرکې ښځې سره نکاح کول حـرام ده، پـه قـران کـريم کـې ايت شريف دی چې ترهغې له مشرکو ښځو سره نکاح مه کوئی ترڅو چې ايمـان يې نـه

وي راوړی،لهذا په داسې مجلس کې شرکت کول هم حرام دی که حلال وګڼی او ورسره نکاح وتړی نو دا د کفر موجب دی، په هغه ښکاره تجدید ایمان ضروري دی.

په دریو طلاقو سره طلاقه شوی ښځه له شرعي حلالی نه پرته نه حلالیږي.

(۲۲۳ـ سوال): یوی ښځې خپل مذهب پریښی او اسلام یی قبول کړی دی، هغه له مسلمان سره نکاح هم کړیده، له هغه نه اولادونه هم شوي دي، بیاد بی اتفاقی په وجه ورته خاوند طلاق ورکړه، له طلاق نه وروسته بیرته خپل مذهب قبول کړی او پنځلس کاله یې یواځې تیری کړی اوس سوال دا دی چې دهغه ښځه له خپل میړه سره له حلالی نه پرته نکاح کولی شي او که نه ؟

(ځواب): که دا ثابت شي چې خاوند ورته دری طلاقه ورکړی دي او ور باندې بائنه مغلظ شویده نوله شرعی حلالی نه پرته نکاح یی نه کیږي. د مرتد کیدو سره د طلاق ثلاثه مغلظ اسر نه باطلیږي.

ر حرة بعد ثلاث وردة وسبي نظيره من فرق بينهما بظلهار او لعان ثم ارتدت وسبيت ، نكحها لم تحل له ابداً. (در مختار مع الشامي ص ۷٤۰ ج ۲ باب الرجعته مطلب مال اصحابنا الى بعض افعال... الخ).

که چیرته دری طلاقه نه وي ثابت شوی صرف یوه یا دوه طلاقه ورکړی وي نو د حلالی ضرورت نه دی، تجدید نکاح کافی دی. فقط والله اعلم بالصواب.

له نا بالغ سره حلاله :

(۲۲۴ـ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی دي، خلور پنځه میاشتی وروسته د هغې نکاح تقریباً دیارلس کلن هلک سره وکړه، بیا هغه طلاق ورکړ او له مخکینی خاوند سره یی واده وکړه. ایا د هغې نکاح صحیح شوی ده او که نه ؟

(ځواب): که دری طلاقه یی ورکړی وي نو حلاله لپاره لازم دی، چې د عدت له تیریدونه وروسته بله نکاح وکړی او هغه لږ تر لږه ورسره یو ځل صحبت وکړی، بیا هغه طلاق ورکړي یا مړشي نو بیا ښځه د عدت له ختمیدونه وروسته له لومړی خاوند سره نکاح کولی شی.

په مسئوله صورت کې د دیارلسو کلو هلک سره چې د صحبت کولو توان لري او د هغه ولی د هغې نکاح ورته منظور کړی وي. بیا له مجامعت نه وروسته یا مړشی او یا هم له بالغیدونه وروسته طلاق کړی او ښځه له عدت نه وروسته لـه لومـړنی خاونـد سـره نکـاح وکړي نو هغه لپاره حلالیږي.

د نابالغ نکاح د هغه د ولی له قبلولونه پرته نه صحیح کیږي. او نابالغ ته طـلاق ورکولو حق هم نشته، له بالغیدونه وروسته طلاق ورکـولی شـي.لهـذا پـه مسـئوله صـورت کـې د ښځې نکاح له لومړی خاوند سره معتبر نه دی.[1]

د خپلې ښځې د لومړی خاوند له لور سره نکاح کول څنګه دی؟

(۲۲۵ـ سوال): یو سړی غواړي چې د خپلې ښځې له لومړی خاوند له لور سـره نکـاح وکړي د دغونواړو په یوه نکاح کې جمع کول څنګه دی؟

(ځواب). : هو نکاح ورسره کولی شي. (شـرح وقایـه ج ۲ ص ۵ لابـین امرأتـه و بنـت زوجها محرمات).

د ښځې له میرنی مور سره نکاح صحیح ده او که نه ؟

(۲۲٦ـ سوال): د یو سړی ښځه مړه شوی ده اوس هغه د خپلې ښځې لـه میرنـی مـور سره نکاح کول غواړي، د دی څه حکم دی؟

(ځواب). : د خپلې ښځې له ناسکه مور سره واده کولي شي.[2]

ایا د ورور له ښځې سره نکاح صحیح ده ؟

(۲۲۷ـ سوال): زما مشر ورور وفات شوی دی اوس زه له هغې ښځې سره نکـاح کـولي شم او که نه ؟

(ځواب). : د عدت له تیریدونه وروسته د خپل مرحوم ورور له ښځې سره نکاح صـحیح ده او هیڅ ممانعت پکې نشته.

((وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم: (سوره نساء ایه ۲۷.)

---

[1] - ((و ان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة و ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا و یـدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذافی الهدایه (فتاوی عالمگیری فصل فیما تحل به المطلقه وما یتصل ج ۱ ص ۴۷۳).

[2] - ((و یجوز بین امراه و بنت زوجها.... الخ. (فتاوای عالمگیری. المحرمات بالجمع ج ۱ ص ۲۷۷.)

په عدت کې د نکاح څه حکم دی ؟

(۲۲۸_ سوال): د یوی ښځې د طلاق لا دوه میاشتی هم نه وی تیری شوي چې قاضی صاحب، د هغې نکاح له یو سړی سره وتړله، قاضی صاحب خپله غلطی منلی‌ده، ما ورته وویل چې دا شرعی ګناه ده‌لهذا ستا نکاح باطله ده، له نوی سره نکاح یې وتړئ که نه نو تا پسی لمونځ نه کیږي. لدینه وروسته قاضي صاحب وویل چې د ښځې دوه دری حیض راغلي وو، ته چې څه کولي شی وکړه ستا خبره زه نه منم. ته له چانه فتوی وغواړه بیا به وګورو. د داسې سړی په اړه څه حکم دی ؟

(ځواب): د عدت له ختمیدونه مخکې نکاح نه صحیح کیږي.[1] (فتاوای عالمګیري ج ۱ ص ۲۸۰ (۱).

په داسې نکاح سره د ښځې او خاوند تر منځ رشته نه قائمیږي، هغوی باید جداشي یو خای اوسیدل ورته حرام دی، که چیرته دا نکاح په ناپوهي کې شوي وي نو بیا نکاح تړونکي معذور دی ګنهکار نه دی، البته که حالت مشتبه و نو تحقیق او لتون پکې پکار و، که تحقیق یې نه وی کړی نو له الله تعالی نه دی. ښځنه وغواړي، او که چیرته قصداً په عدت کې نکاح یې تړلی ده نو دا ګناه ده، له الله او د هغه د رسول حکم نه بغاوت او سر کشی دی. نکاح تړونکې قاضي، ګواهان او وکیل ټول ګنهکار او فاسق دي، احتیاطاً دی کافر ورته ونه ویل شي او د هغه ښځه دې له نکاح نه د وتلو فتوه ونه لګول شي مګر تجدید ایمان ورته بهتر دی.

د عدت تفصیل دا دی چې که حمل یې نه وي نو دری حیضه عدت دی تیرکړي، له طلاق نه وروسته چې دری حیضه تیرکړي نو عدت یې پوره کیږي او له بل سړي سره واده کولي شي. له عدت نه مخکې چې له چاسره نکاح وکړي هغه مردود او باطل دی.

که چیرته د عدت په باره کې اختلاف پیدا شي نو که د طلاق دوه میاشتی تیرشوي وي او ښځه په قسم سره ووایي چې زما دری حیضه راغلی دي او زما عدت پوره شوی دی نو د هغې خبره منلی شي او له بل چا سره نکاح یې تړلی شي.

---

[1] - ((لا يجوز للرجل ان يتزوج زوجه غيره و كذلك المعتدة كذا فى السراج الوهاج (فتاوى عالمگيرى المحرمات التى تتعلق بها حق الغير ج ۱ ص ۲۸۰).

فإن مضت عدتي وامرأة تحمله وكذبها الزوج قبل قولها مع حلفها و الا لا. (در محتار مع شامي ج ۲ ص ۸٤۲ باب العدة).

نوی‌مسلمانه شوی حامله ښځې سره کله نکاح صحیح دی ؟

(۲۲۹ـ سوال): یوه هندو ښځه‌مسلمانه شـوی او زلیخـا نـوم مـو ورباندې ایښـی دی. یومسلمان غواړي چې له هغې سره واده وکړي، دواړه په واده بانـدې خوشـاله دي د هغې د طلاق صرف اته ورځی تیری شـوي دي، د یـوی میاشـتی بلاربـه ده. دی بـه د طلاق عدت خومره تیروي؟

(خواب): د دغې ښځې عدت د ماشـوم تـر پیـدا کیـدو پـورې دی، د ماشـوم لـه پیـدا کیدونه وروسته واده کولی شي، د ماشوم له پیدا کیدونه مخکې نکاح نشي کولی. (۱).

۱ ((و عدة الحامل ان تضع حملها كذا فى الكافى و سواء كانت المراة حرة او مملو كه قنه او مدبرة او مكاتبة ...... الخ (فتاوی عالمکیری الباب الثلث عشر فی العده).

که د ښځې له خورزی سره جماع وکـړه نـو ښځـه یې وربانـدې حرامیږي او که نه ؟

(۲۳۰ـ سوال): که چیرته یو سړی د خپلې ښځې له خورزی سره جماع وکړی نو ښځـه یې ورباندې حرامیږي او که نه ؟ فتاوای رحیمیه دویم جلد کې می ولوسـتل چـې څینـو فقهاو ویلي دي چې ترڅو پورې د ښځې د خور یو حیض نه وي راغلی تـر هغـه دی لـه خپلې ښځې سره جماع نه کوي، لیکن په مسئوله صورت کې د ښځـې د خـورزی حمـل پاتی شو نو ښځه ورباندې حلال پاتی کیږي او که ورباندې حرامیږي؟ بینوا توجروا.

(خواب): د ښځې خورزی سره په جماع کولو سره ښځه همیشـه لپـاره نـه حرامیـږي البته د ښځې له خور سره که په دی دوکه چې دا مې ښځـه ده وطـی وکـړي نـو عـدت ورباندې لازمیږي. نو څکه د عدت تر ختمیدو یعنی د یو حـیض تـر راتلـو پـورې، او کـه حمل یې پاتی وي نو د وضع حمل پورې له خپلې ښځـې سـره وطـی او صـحبت کـول حرام دی، همدغه حکم د ښځې له وریری سره د بالشـبهی د وطـی هـم دی. (یعنـی د ښځې له خورزی سره په دی غلطی وطی کول چې دا مـې ښځـه ده). پـه دی صـورت کې صحبت حرام او دحد موجب نه دی او که د حمل پاتی کیدو په صورت کې ماشـوم یې پیدا شي نو هغه حرامی نه دی بلکې ثابـت النسـب دی. لـیکن کـه قصـداً د خـپلې

ښځې له خور يا د هغې له لور سره جماع وکړه نو دا زنا ده او د زنــا د اوبـو شـرعاً کـوم حرمت نشته. لهذا عدت هم ورباندې نه لازميږى، لهذا له خپلې ښځې سره صحبت حـرام نه دى. خو د خينو علماو په نزد پـه دويم صـورت کـې د عـدت تـر ختميـدو پـورې لـه صحبت کولو نه ډډه کول ضروري دى.

و في الخلاصة و طى اخت امرأته لا تحرم عليه امراته (در مختار) قوله و فى الخلاصة ..... الخ هذا محترزا لتقييد بالاصول و الفروع و قوله لا تحرم اى لا تثبــت حرمـــة المصاهرة فالمعنى لا تحرم حرمة موبدة و الا فتحرم الى انقضاء عدة الموطوء لو بشـــبهة قال فى البحر لو وطى اخت امراته بشبهةتحرم امراته ماله تنقض عدة ذات الشبهه و فى الدراية عن الكامل لو زنى باحد الا ختين لا يقرب الاخرى حتى تحــيض الاخـــرى حيضه و استشكله فى الفتح ووجهه انه لا اعتبار لماء الزانى و لذا لوزنت امراة رجل لم تحرم عليه و جا زله و طوٴها عقب الزنا اه (در مختار و الشامى ج ۲ ص ۳۸٦ باب المحرمات) فقط والله اعلم.

ايا د مور علاتي خاله سره نکاح جائزه ده او که نه ؟

(۲۳۱_ سوال): څه فرمايي د دين علماء او متين شريعت مفتيان په دى مسئله کې چې مسماه منى بيګم ولد عبدالرشيد او خليل احمد ابن عبدالعزيز خان تر منځ نکـاح جـائزه ده او که نه ؟ د دواړو تر منځ د خپلو لى نقشه څه داسې ده.

د عبدالرشيد دوه ښځې

حليمه بى‌بى	اسيه بى‌بى
/	/
غفوراً بى‌بى زوجه عصمت الله	منى بيګم
/	
حميدا بى‌بى زوجه عبدالعزيز	
/	
خليل احمد	

(خواب): په مسئوله صورت کې د منی بیګم نکاح له خلیل احمد سره نشي کیدلي، ځکه چې منی بیګم د خلیل احمد د مور حاله کیږي او خلیل احمد د منی بیګم د خور زوی دی لهذا نکاح یې صحیح نه ده.

حرم علی المتزوج ذکراً کان او انثی نکاح (اصله و فرعه). علا اونزل (وبنت اخیه واخته وبنتها). (در مختار مع الشـــامي ج ۲ ص ۳۸۱.) فقـــط والله اعلـــم بالصواب..

د مزنیه له لور سره د نکاح حکم :

(۲۳۲ـ سوال): یو سړی له یوی ښځې سره زنا وکړه اوس د هغې لـه لـور سـره واده کول غواړي ایا کولی شي او که نه ؟

(خواب): له کومی ښځې سره چې زنا یې کړی د هغې له لور سـره نکـاح حرامـه ده، مګر د زنا ثبوت به د هغې له اقرار نه کیږئ او یا هم په شرعي شهادت سره.

وحرم إیضاً بالصهریه اصل مزنیته الی قوله وفروعهن مطلقاً. (درمختـار مـع الشـامي ج ۲ ص ۳۸۴ـ ۳۸۰ باب المحرمات). فقط والله اعلم بالصواب..

که ښځې خپل کیدونکې زوم ښکل کړ نو د دی څه حکم دی ؟

(۲۳۳ـ سوال): د زید کوژدن له هندی سره شوی ده، په دی وخت کـې زیـد د خپـل خسر په کور کې ویده و چې د هندی مور راغله او په مینه یې ښکل کړ، زیـد فـوراُ بیـدار شو او ترینه د خفګان څرګندونه وکړه. دویم ځل یې بیا همداسې وکړه. د زید اراده خو له هندی سرن د واده کولو ده خو اوس چا راته ووېل چې اوس ستا نکاح له هندی سره نه کیږي، ایا واقعی له هندی سره نکاح یې نه شی کیدای ؟ فقط، بینوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت که ځوانی ښځې په مینه او شهوت سره خپل زوم په مـخ یـا وچولی باندې ښکل کړی وی نو په دی سره د مصاهرت حرمت ثابتیږي او هنده په زید باندې همیشه لپاره حرامه ده. ځکه چې دا د حدیث له مخی حکمی وطی ده.

ومن مسته امراه بشهوه حرمت علیه امها وبنتها.

یعنی کومی ښځې چې یو سړی په شهوت سره لمس کړ نو په دغه سړی بانـدې د دغې ښځې لور او مور حرامیږي. (هدایه اولین ج ۲ ص ۲۷۹).

په در مختار کې دي :

و فی الکشاف و اللمس و نحوه کالدخول عند ابی حنیفه (قوله و فی الکشاف الخ ، ولا یخفی ان المتون طافحه بان اللمس و نحوه کالوطء فی ایجابه حرمه المصاهره من غیر اختصاص بموضع دون موضع .... الخ (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۳۸۳ باب المحرمات) فقط والله اعلم بالصواب.

(نوټ).

بو اخې مخ، وچولی او په خوله کې مچو کول منحصر نه دی. داهسی د مثال په توګه لیکل شوی دی، که نه د بدن هره حصه چې په شهوت سره لمس کړی شي نو په دی سره هم د مصاهرت حرمت ثابتیږی، شرط دا دی چې په منځ کې کپړه، څادر یا بل څه حائل نه وي. که چیرته حائل هم وي مګر دومره باریکه وي چې حرارت محسوسوي نو په دی سره هم حرمت مصاهرت ثابتیږي او که دومره پیړه وي چې یو د بل ګرمی او حرارت نه محسوسیږی نو حرمت مصاهرت نه لازمیږی.

همدغه راز که دسړی انزال وشو نو حرمت مصاهرت نه قائمیږي ځکه چې د وطی امکان ختم شو. فقط والله اعلم بالصواب..

په زنا سره بلاربه شوي ښځې سره نکاح او د صحبت کولو حکم؟

(۲۳۴_ سوال): مهربانی وکړئ زما لاندینی مشکل حل کړئ. خبره داده چې عمرو له هندی سره زنا وکړه او حمل یی پاتی شو، وروسته له هندی سره بکر واده وکړه کله چې کورته یی راوست نو د حمل پنځه میاشت یی پوره شوي وی. د بکر مور او پلار د جلی کورنی له اصل حقیقت نه خبر کړل، هغوی را غلل او جلی یې له ځان سره بوتله او حمل یی وربانديې وغورځاو. اوس سوال دا دی چې کوم نکاح شوی ده هغه صحیح ده او که نه؟ او له هغې سره همبستری او جماع جائزه ده او که نه ؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې دِ بکر او هندی نکاح صحیح ده مګر د حمل د غور ځولو او د نفاسه وینی تر بندیدو پورې هم بستری ورسره صحیح او جائزه نه دی.

(شرح نقایه ج ۲ ص ۷ من یحرم نکاحه وغیره) وصح نکاح حبلی من زنا لاحبلی من غیره........ وان حرم وطأ ها و دواعیه حتی تمتع. (در مختار علی هامش الشامي ج ۲ ص ۴۰۱ فصل فی المحرمات). فقط والله اعلم بالصواب.

له نکاح نه وروسته معلوم شو چې ښځـه بلاربـه ده نـو د دی څـه حکم دی ؟

(۲۳۵ـ سوال): یوسړی له واده نه شل ورځې بعد خپله ښځه بلاربـه ومونـدلـه او حمـل تقریباً د پنځو میاشتو ده، هغه د طلاق ورکولو اراده وکړه، ښځه یې شفاخانی تـه یـووړ او ماشوم یې ترینه وغورځاو. داهم ثابت شوی چې دا له بل چانه بلاربه شوی ده.

په داسې صورت کې ایا له حامله ښځې سره نکاح صحیح ده؟

(۲): ایا له حاملی سره شوی نکاح پخپله باطل گرځیدلی ده.

(۳): ایا ښځه د مهر حقداره ده ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مذکوره صورت کې نکاح شوی ده، حامله بالزنا سره نکاح صـحیح ده کـه د چا حمل پاتی وي او نکاح وکړي نو ورسره جماع هم صحیح ده، که بل سړی ورسـره نکاح کوي نو د حمل تر وضعه پورې ورسره جماع نشي کولی.

و صح نکاح حبلی من الزنا لا حبلی من غـیره ای الزنـا لثبـوت نسـبته. (در مختـار مـع الشامي ج ۲ ص ۴۰۱ ایضاً).

نکاح یې پخپله نه باطلیږي د طلاق په ورکولو سره به له نکاح نـه ازادیـږي، صـحبت او جماع ورسره شوی ده نو ځکه د پوره مهر حقداره ده. فقط والله اعلم بالصواب.

په شهوت سره یی د خپل لور بدن لمس کړ.

(۲۳۶ـ سوال): یو سړی خپل لور لـه سـینی نـه ونیولـه او ښـه زور یی ورکـړه او بیـایی خوشی کړه، اوس سوال دا دی چې د دغې جلی مور او پلار ترمنځ د زوجیـت تعلـق او رشته پاتی ده او که ختم شوی ده؟ که ختمه شوی دي نو د رجوع څه صـورت یی شـته او که نه ؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې که د جلی په بدن باندې داسې پیـړ قمـیص یـا څـادر وي چې سینو ته یی حرارت نه وي رسیدلي نو حرارت مصاهرت پکې نه ثابتیږي.

(قوله بحائل لا یمنع الحرارة) ای ولو بحائل فلو کان مانعاً تثبت الحرمه کذا فی اکثر الکتب (شامی ج ۲ ص ۳۸۵).

په فتاوی عالمکیري کې دي:

ثم المس يوجب حرمه المطهره اذا لم يكن بينهما ثوب اما اذا كان بينهما ثوب فـان كان صفيقاً لا يجد الماس حراره الممسوس لا تثبت حرمة المصاهرة و ان انتشرت التـه بذلك و ان كان رقيقا بحيث يصل حراره الممسوس الى يده تثبت كذا فى الـذخيره (عالمگیری ج ۲ ص ٦ كتاب النكاح الباب الثالث فى بيان المحرمات).

لهذا كه د جلۍ په بدن باندې كپړه نه وي يا وي خو ډير باريک وي او د لمس حـرارت محسوسوي نو حرمت مصاهرت ثابتيږي او د ده مورورباندې هميشـه لپـاره حـرام ده، د رجوع او تجديد نكاح هيڅ صورت نشته.

و حرم ايضاً بالصهرية (اصل مزنيته و اصل ممسوسته بشهوة) ولو لشعر على الراس بحائل لا يمنع ..... الخ (در مختار مع الشامى ج ۲ ص ۳۸۵ فصل فى المحرمات).

د زاني د لور نكاح د مزينه له زوی سره جائزه ده او كه نه ؟

(۲۳۷_ سوال) يو وړده شوی ماشومداری ښځې له واده كړی شوی ماشـوم دار سـړی سره عشق وكړ او ورسره زنا هم وكړ، بيايې توبه وكـړ، اوس د كـافی وخـت لـه تيريدونـه وروسته د هغوی اولادونه بالغ شوي دي، دغه ښځه د دغه سړی له لور سره د خپل زوی نكاح كول غواړي، نو ايا دا نكاح كيدای شي، دا خبره يقينی ده چې دا هلـک د زانـی له نطفی نه دی. بينوا توجروا.

(خواب): هوا! نكاح يې كيږی. په درمختار كې دي:

و امابنت زوجة ابيه او ابنه فحلال. (درمختار مع الشامى ج ۲ ص ۳۸۳ ايضاً.)

يعنی د خپل پلار د ښځې لور يعنی د ميرنی مور لور چې د پلار له نطفی نـه ده د هغـې نكاح حلاله ده خكه چې د دواړو ترمنځ د وينی رشته نشته.

در مختار شاسي كې دي :

و يحل لاصول الزانى و فروعه اصول المزنى بها و فروعها اه و مثله ما قدمنا قريباً عن القهستانى عن النظم و غيره و قوله و يحل ..... الخ اى كما يحل ذلك بالوط الحلال (شامى ج ۲ ص ۳۸٤ ايضاً) فقط والله اعلم بالصواب . ۲۰ ذى الحجه ۱٤۰۰ ه.

د خپلې ښځې په موجودګۍ کې د هغې له خور سره نکاح کیدلی شي او که نه ؟

(۲۳۸_ سوال): زید له عارفې سره نکاح کړې، ده اووه کاله وروسته زید د عارفې حقیقي خور له زینب سره هم نکاح وکړه او دواړه خویندې یې څو کاله ځان سره وساتلې، وروسته زید ته معلوم شو چې له دوه خویندو سره یو ځای نکاح نه صحیح کیږي، لهذا زید عارفې ته دری طلاق ورکړی. زینب د زید په نکاح کې د خپل پخوانی عقد په مطابق پاتې کیدلی شي او که عقد ثانی ته ضرورت دی او که دواړه زید لپاره حرامې دي ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): دا چې زید د خپلې ښځې له خور سره نکاح وکړه هغه صحیح نه وه دواړو د زنا ارتکاب کړی دی. په هدایه کې دي:

ولا یجمع بین اختین نکاحاً ولا بملک یمین وطئاً لقوله تعالی وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ ولقوله علیه السلام من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلا یجمعن ماء ه فی رحم اختین (هدایه اولین ص ۲۸۸ ایضاً).

په فتاوای عالمګیري کې دي:

و اما الجمع بین ذوات الا رحام فانه لا یجمع بین اختین بنکاح ولا بوطی بملك یمین سواء کانتا اختین من النسب او من الرضاع هکذا فی السراج الوهاج (الی قوله) و ان تزوجها فی عقد تین فنکاح الاخیرة فاسدو یجب علیه ان یفارقها .... الخ (فتاوی عالمګیری ج ۲ ص ۷ – ۸ القسم الرابع المحرمات بالجمع).

دا چې اوس زید خپلې ښځې عارفې ته دری طلاقه ورکړی دي، د هغې د عدت له ختمیدونه وروسته له زینب سره یې نکاح صحیح ده. فقط والله اعلم بالصواب.

د خپل زوی له مزنیه سره نکاح کول او دی لپاره د بل کوم مسلک له امام نه دلیل نیول.

(۲۳۹_ سوال): یو سړی له یو داسې ښځې سره نکاح کړی چې له هغې سره د هغه زوی زنا کړې وه. ایا د هغه دا نکاح جائزه ده او که نه ؟

(۲): دا سړی حنفي دی او تر اوسه پورې په حنفي مذهب باندې عمل کوي، که چیرته د بل امام په مذهب کې دا جائز وي نو په هغه عمل کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب). (۱): که چیرته دا خبره رښتیا وي چې د هغه زوی له هغې ښځې سره زنا کړې ده نو د هغې نکاح له دغه سړي سره نه کیږي او حرام ده.

و حرم ایضاً بالصهریة اصل مزنیه (در مختار) حرمة المراة علی اصول الزانی و فروعه نسبا و رضاعاً (شامی ج ۲ ص ۳۸٤ فصل فی المحرمات).

په فتاوای عالمګیري کې دي:

و کذا تحرم المزنی بها علی اباء الزانی واجداده و ان علوا و ابنائه و ان سفلوا کذا فی فتح القدیر. (عالمګیري ج ۲ ص ۵ کتاب النکاح الباب الثالث بالصهریته).

یعنی هغه ښځه چې ورسره زنا شوې ده هغه د زاني په پلار، نیکه او غور نیکه، همدغه راز د زانی په زوی، نوسی او چې څومره ښکته وي حرامه ده، او نکاح یې ورسره نه کیږي. (عالمګیري ج ۲ ص ۵ کتاب النکاح الباب الثالث بالصهریته).

کله چې دا خبره ثبوت ته رسیدلې ده چې د هغه زوی له د غې ښځې سره زنا کړې ده نو دا څنګه زغملی شي چې د خپل مذهب په خلاف په بل مذهب باندې عمل وکړي شی او له هغې سره صحبت وکړي. د حلال او حرام په کارونو کې باید له احتیاط نه کار واخستل شي.-

لکه چې په بخاري شریف کې یوه واقعه ده چې عقبه رضی الله عنه د ابو اهاب له لور سره نکاح کړې وه، یوه ښځه راغله او دا یې وویل چې ما عقبه ته هم سینه ورکړې او د هغه دغې ښځې ته هم، عقبه ورته وویل ماته دا نه دی معلوم چې تا ماته سینه را کړې ده، نه هم تا کله د دې خبرې ذکر کړی دی.

بیا د ابو اهاب له خپلوانه نه تحقیق وکړ، هغوی هم وویل چې مونږ ته دا نه دی معلوم چې دغې ښځې ستا ښځې ته تې ورکړې وي، بیا عقبه محمد صلی الله علیه وسلم ته راغی او د دغې مسئلې په باره کې یې ترینه پوښتنه وکړه. هغه صلی الله علیه وسلم ورته و فرمایل: کله چې دا ښځه داسې وایي نو ستا ښځه څنګه ستا په نکاح کې پاتې کیدلی شي.

عقبه هغه ښځه پرېښوده او هغې له بل چاسره واده وکړه. (بخاري شـريف ص ۷٦۴ ج ۲ ص ۷٦۵، باب، شهادت المرضعته، مشکواه شريف ص ۳۷۳ ص ۲۷۴ باب المحرمات).

(۲) دی لپاره بل مذهب باندې عمل کول هم جائز نه دی، له اجماع نه خـلاف او د نفسانی خواهشاتو اتباع ده، شرعاً د دی اجازه نشته. حافظ ابن تيميه فرمايي :

يکون فى وقت يقلدون من يفسده و فى وقت يقلدون من يصحح بحسب الغـرض والهوى و مثل هذا لا يجوز باتفاق الامته........

دا خلک په يو وخت کې د هغه امام تقليد کوي چې نکاح ته فاسد وايي او بيـا د خپـل مقصد پوره کولو لپاره د هغه امام تقليد کوي چـې ديتـه صحيح وايي او دا قسـم عمـل کول بالاتنفاق جائز نه دی، (فتاواى ابن تيميه ج ۲ ص ۲۴۰).

صرف د ښځې په خاطر د خپل مسلک مخالفت کول او د خپل مقصد د پوره کولو لپـاره په بل مسلک باندې عمل کول خطرناک دی. په شامي کې دي چې يو حنفـي المسـلک شخص اهل حديث ته د هغه له لور سره د نکاح کولو پيغام واستاو، نو هغه ورته وويل کـه ته خپل مذهب پرېږدی، او قرائت خلف الامام او رفع اليدين وکـړی، نـو سـتا دا پيغـام ماته منظور دی.

حنفي دغه شرط قبول کړ او نکاح وشو، د وقت لوی امام ابو بکر جـوز جـانی چـې لـه دی واقعی نه خبر شو نو افسوس يې وکړه او ويې فرمايل :

النکاح جائز و لاکن اخاف عليه ان يذهب ايمانه وقت النزع لانه استخف بالمذهب الذى هو حق عنده و ترکه لاجل جيفةٍ منتنة.

امام ابوبکر جوزجانی وويل : نکاح خو يې وشوه مګر زه د دغـه سـړی پـه بـده خاتمـه باندې ويرېږم چې هغه د ښځې په خاطر د خپل هغه مذهب مخالفت وکړ چې تـر اوسـه پورې يې حق ګانه.(شامي ج ۳ ص ۲٦۳ باب التعزيـر مطلـب فيمـا اذا ارتحـل الی غير مذهبه). فقط والله اعلم بالصواب.

د فتاوای رحيميه د يوی فتوی په باره کې اشکال او ځواب يې :

(۲۴۰_ سوال): حامد نومی يو سړي له يوی داسې ښځې سره نکاح وکړه چې له خپـل خان سره يې له مخکينی مېړه نه يوه جلۍ راوستی وه، څه وخت وروسته حامد هغې تـه طلاق ورکړ، او د هغې له لور سره يې تعلقات جوړ کړل، له هغې نه يو ماشـوم هـم شـوی دی، اوس سوال دا دی چې حامد له هغې سره نکاح کولي شي او که نه ؟

(وربائبکم التی فی حجورکم من نساء کم التیٓ دخلتم بهن).
څخه معلومیږي چې له هغې سره نکاح نشي کولی. مګر په فتـاوای رحیمیـه دویم جلـد ص ۱۰۸، د جدید ترتیب مطابق په همدې باب کې د خپلې ښځې لومړی خاوند له لـور سره د نکاح په جواز باندې فتـوی ورکـول شـوی ده، چـې پـه ظـاهره قابـل اعتـراض معلومیږي. مهربانی وکړئ په دی باره کې تفصیلی ځواب راکړئ.
(ځواب). : د فتاوای رحیمیه د سوال ځواب عبارت څه داسې دی :
(سوال): یو سړی د خپلې ښځې له مخکینی خاوند له لور سره نکـاح کـول غـواړي، د دغو دواړو ترمنځ جمع کول څنګه دی ؟
(ځواب): واده ورسره کولی شي. (شرح وقایه ج ۲ ص ۱۵ محرمات).
د شرح وقایه عبارت دا دی:
لا بین امرأة و بنت زوجها.
یعنی حرام نه دی له ښځې سره د هغې د خاوند لور جمع کول. څکه چې دغه جلـی د دغې ښځې لور نه ده بلکې د هغې د مخکینی خاوند لور ده، د دواړو تر مـنځ پـه جمـع کولو کې هیڅ بدی نشته، البته د خپلې ښځې لور چې له مخکینی خاوند نـه وي حرامـه ده.
غرض دا چې فتاوای رحیمیه دویم جلد د مسئلی صورت جلاده، تـا چـې کـوم صـورت وړاندی کړی دی په دی کې حامد ته د خپلې ښځې له لور سره نکاح کول حـرام دی، نکاح یې نه ده شوی، د دوی په منځ کې جـدا والی او تفریـق ضـروري دی. پـه عمـده الرعایه کـې دي : قوله لا بین امرأة... الخ ای لایحرم الجمع بین امرأة و بنت و زوجها من زوجتة الاخری (عمدة الرعایه علی شرح الوقایه ج ۲ ص ۱۵ ایضاً). فقــط والله اعلم بالصواب.

د سنی مسلک جلی نکاح د شیعه مسلک له هلک سره کـړی ده ایا دا نکاح یې صحیح ده ؟

(۲۴۱_ سوال): د یوی پارسی جلی او شیعه هلک ترمنځ مینه پیدا شـوه. جلـی د اهـل سنت و الجماعت عالم په لاس اسلام قبول کړ او سنی‌مسلمانه شوه. لدینه وروسـته دواړه زما خواته راغلل او هلـک را تـه وویـل : دا لـو مـړی پارسـی وه، اوس د اهـل سـنت و

الجماعت عالم په لاس مسلمانه شوی ده او مونږ قـانونی کـاروایی هـم کـړی دی، اوس مونږ غواړو چې پخپلو کې نکاح وکړو، ما د دواړو نکاح وتړله، وروسـته را تـه معلـوم شو چې هلک شیعه (د اودی بوهره) دی. د نکاح په وخت کې هغه دا خبره پټه کـړی وه چې ګویا شیعه دی، ایا د هغوی نکاح صحیح ده او که نه؟ د سنی او شیعه تـرمنځ نکاح کیږی او که نه ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): ستا د سوال او بیان څخه معلوم شو چې نوی‌مسـلمانه شـوي جلـی د اهل سنت والجماعت عالِم په لاس اسلام راوړی دی، لدینه وروسته هغې (د اودی بـوهره)، شیعه هلک سره واده کړی ده، د نکاح په وخت کې هلک دا خبـره نـه وه ښکـاره کـړی چې هغه د اودي بوهره شیعه دی.لهذا د هغه نکاح نه ده شوی، د هغې نکـاح بایـد لـه کوم سنی هلک سره وکړی شي. په روافض او شیعه ګانو کې د مختلفو عقیـدو فرقـې دي او تقیه کول د هغوی شعار دی. نو ځکه د اصل حقیقت معلومول ګران کار دی، هغـوی د اهل سنت و الجماعت په خـلاف عقیـده لـری. مـثلاً پـه قـران کـریم کـې تحریـف او دعائشی رضی الله عنه په افک قائل دي. هغوی دا عقیده لري چې له محمـد صـلی الله علیه وسلم نه وروسته زیاد تر اصحاب مرتد او کـافر شـوي وو. العیـاذ بـالله، نـو ځکـه لـه هغوی سره د سنی جلی نکاح جائز نه بلکې باطله ده. په شامي کې دي :

نعم لاشك فى تكفير من قذف السيدة عائشته او انكر صـحبته الصـديق واعتقـده الالوهيّة فى على او ان جبريل غلط فى الوحى اونحو ذلك من الكفر الصريح المخالفه للقران. (باب المرتد مطلب مهم فى حكم سب الشيخين. (شامى ج ٣ ص ٤٠٥ـ ٤٠٦).

قلت وهذا فى حق الرافضته و الخارجية فى زماننا فانهم يعتقدون كفر اكثرالصـحابه فضلاً عن سائر اهل السنه و الجماعه فهو كفر بالاجماع بلا نزاع. (مرقـاه شـرح مشكواة).

د دارالعلوم دیو بند پخوانی مفتی اعظم حضرت مفتی عزیز الرحمان دیوی پـوښتني په ځواب کې لیکي :

د سني او شيعه ترمنځ نكاح جائزه نه ده، د كومې سنې جلۍ كوژدن چې له شيعه هلك سره شوې ده نكاح يې صحيح نه ده، واده بايد ورنكړى شي، له كوم سنى هلك سره دى واده وكړي فقط والله اعلم (فتاواى دارالعلوم ص ۳۰۴ ۱۳٦) (عزيز الفتاوى)

په يو بله فتوى كې ليكي:

كه چيرته د سنى جلۍ نكاح (كوژدن) له غالي رافضي شيعه سره شوې وي نو نكاح يې نه كيږي ځكه چې غالي رافضه شيعه، ابوبكر او عمر رضى الله عنهما ته كنځلې كوي. د حضرت عائشه افك تائيد وي، همدغه راز نور كفري عقيده هم لري، هغوى مرتد دي،لهذا د سنى جلۍ نكاح له هغه سره روانه ده، له سنى هلك سره دى واده وكړي. فقط والله اعلم بالصواب..

حكيم الامت حضرت مولانا اشرف على تهانوي رحمه الله فرمايي:

د سنى جلۍ نكاح له شيعه هلك سره د زياترو علماء په نزد صحيح نه ده نو ځكه د سني جلۍ نكاح دى له شيعه هلك سره هر گز ونكړى شي. (بهشتى زيور مع حاشيه ص ٦ حصه چهارم.)

د مفتى اعظم حضرت مولانا مفتى محمد كفايت الله صاحب فتوى:

د سنى ښځې نكاح له شيعه سړي سره جائزه نه ده. مفتى كفايت الله. كان الله له دهلي. (كفايت المفتى ج ۵ ص ۲۰۹ كتاب النكاح).

د نوموړى دويم فتوى:

كه چيرته شيعه د وحى د غلطى ياد عائشى رضى الله عنها د افک قائل وي، يا په قران كريم كې د كمى زياتى معتقدوي، يا د ابوبكر صديق له محبت نه منكر وي نو له داسې شيعه گانو سره د سنى جلۍ نكاح جائزه نه ده، څرنګه چې په شيعه گانو كې د تقيه عقيده عامه ده نو ځكه د دى خبرې معلومول گران دى چې فلان شيعه د كومې عقيدى مالک دى. (كفايت المفتى ج ۵ ص ۴_۲).

د حضرت مولانا مفتى محمد شفيع صاحب فتوى.

الجواب فى الدرالمختار........ الى قوله........

په مسئوله صورت كې نكاح دلاندينو وجوهاتو له كبله نه ده منعقده شوى.

(۱). د علماؤ لويه ډله دا عقيده لري چې په مطلق ډول د سنى جلۍ نكاح له شيعه هلک سره نه كيږي، ځكه چې د نن وخت شيعه عموماً د اسلام له قطعياتو نه انكار كوي مثلاً پر عائشه صديقه باندې تهمت لګوي، قران د تحريف قائل دي او دا قسم عقيده

لروونکي خلک د امت په اجماع کافران دي، البته کوم شیعه چې د قطعیاتو منکر نه دي، د هغوی په باره کی احوط او غوره خبره داده چې د کفر حکم وربانديې ونکړی شي (فتاوای دارالعلوم، امداد المفتین ج ۳، ۴ ص ۱۷۵، ۱۷٦). فقط والله اعلم بالصواب.

د غیر مقلد هلک سره د سنی جلۍ نکاح کول څنګه دی ؟

(۲۴۲_ سوال): د غیر مقلدینو په باره کې ستاسي فتوی (په ګجراتی ژبه کې). چاپ شوی ده، په دی فتوه کې دی غیر مقلدین او تش په نامه اهل حدیثو ته دراسخو علما په وینا باطل ویلی دي، اوس سوال دا دی چې ایا سنی جلۍ نکاح له غیر مقلد ځوان سره جائزه ده او که نه ؟ زمونږ په علاقه کې ځینې خلک ورسره نکاح کول غواړي. تاسي ژر تر ژره ځواب را کړئ.

(ځواب): د مقلدینو او غیر مقلدینو ترمنځ لوی اصولي اختلاف دی دا خلک اصحاب کرام معیار حق نه مني، خلورو امامانو ته بدی ردی وایی او د هغوی تقلید ته چې امت وربانديې د وجوب اجماع کړی دی ناجائز او بدعت وایی. ځینې خو ورته شرک هم وایی، له ډیرو اجماعي مسائلونه منکر دي، د اصحابو کرامو اجماع ده چې شل رکعته تراویح سنت دی. خو دوی ورته عمری بدعت وایی او د تهجد اته رکعته د تراویح لپاره پیش کوي، د جمعی لومړی اذان ته عثمانی بدعت وایی، په یو مجلس کې د دریو طلاقو له واقع کیدلو نه چې ور باندې د اصحابو او جمهورو علماو اجماع ده انکار کوي، دغه دری طلاقه، یو طلاق حسابوي او خلک په زنا کاري کې اخته کوي، اصحابو ښځې مسح ، ته له راتلو نه منع کړي دي مګر دوی نه مني، ځینې خو له څلورونه زیات نکاح جائز ګڼي، په هره معامله کې له مونږ نه جلا دي، د هغوی علماء زمونږ په جلوسونو کې شرکت نه کوي، د هغوی مسجدونه او عیدګاه جدا دي، د دومره لوی اختلاف باوجود له هغوی سره د نکاح تعلق قائمول څنګه زغمل کیدی شي، دا د فتنې او فساد باعث دي. جلۍ د هلک ماتحت وي،لهذا د هغې عقیده او اعمال په ضرور خرابیږي،لهذا د مصلحت په خاطر دی له هغوی سره د نکاح تعلق قائم نه کړی شي. له کتابی ښځو سره نکاح جائزه ده لیکن اعتقا دي او د اعمالو د خرابی په وجه دوېم خلیفه عمر رضی الله عنه اجازه ورنکړه، بلکې په کلکه ترینه منع وکړه، هغه رضی الله عنه وفرمایل حلال ته حرام نه وایم لیکن دمسلمانانو د عمومي مصلحت تقاضا همداده چې د کتابي ښځو سره نکاح ونکړی شي ځکه چې دا د عقیدی او اخلاق د خرابۍ باعث ګرځي.

اوس د مفتي عزيز الرحمان صاحب فتوی هم ولولئ.

(سوال ۲۳۱): له غیر مقلدو سره چې خپلو ځانو ته اهل حدیث وایی له هغوی سره د نکاح تعلق جوړول جائز دی او که نه ؟

(خواب): نکاح ورسره جائزه ده، لیکن له داسې فرقو او داسې متعصبو خلکو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم مناکحت او مشاورت منع کړی ده، لهذا غوره داده چې له داسې خلکو سره د مناکحت تعلقات قائم نه کړی شي. فقط والله اعلم بالصواب (فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ج ۷ ص ۱۷۵). فقط والله اعلم بالصواب. ۲۸ شوال المکرم ۱۴۰۲ هـ.

د حرمت مصاهرت یو مشتبه صورت :

(۲۴۳_ سوال): په انګلستان کې یوه جلۍ اوسیږي او د هغې کونده مور د لته هندوستان کې اوسیږي، له هغې جلۍ سره د دی ځای د یو هلک کوژدن شوی دی اوس هغه د واده لپاره انګلستان ته د تللو تیاری کوي، په دی وخت د جلۍ سر پرستانو ته ګمنام خطونه راځي چې له کومې جلۍ سره واده کولی شي د هلک پلار له د غی جلۍ سره ناجائز تعلقات لري لهذا دا نکاح نه کیږي، هغه جلۍ دغه هلک باندې حرامه ده، کله چې په دی باره کې تحقیق وکړی شو نو دا معلوم شو چې د دی واقعې هیڅ عیني شاهد نشته، البته دا خبره صحیح ده چې دغه هلک د دغې جلۍ له مور سره ناسته ولاړه لري خو هغه په قسم سره وایی چې ما کوم غلط حرکت نه دی کړی.

اوس سوال دا دی چې ایا دا نکاح کیدای شي او که نه ؟ ایا د دغو مشکوکو خطونو په وجه نکاح ته حرام ویلی شو او که نه ؟ مهرباني وکړئ مدلل ځواب راکړئ. بینوا توجروا.

(خواب): بیشکه چې ګمنام خطونه شرعی ګواهي نه دي، لهذا د دغو خطونو په وجه حرمت نه ساببتیږي او نکاح ته ناجائز او حرام ویل صحیح نه دی. لیکن دا چې هلک د جلۍ له مور سره ټک راټک کوي او همدلته ورسره خوراک او څښاک کوي او کله کله دلته ویده کیږي هم، او دهغې په خبرو عمل کوي نو ځکه د دغو وجوهاتو له کبله چې د خلکو کوم شک دي هغه ته بلا دلیل نشو ویلی بلکې د قرائنو په وجه دا صحیح دی، اوله نظره نه شو غورځولی.

د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد واجب الاذعان دی.

لایخلون رجل بامراه الا کان ثالثها الشیطان. (رواه الترمذی).
یعنی کله چې کوم سړی له یو ښځې سره په خلوت کې اوسیږي نو له هغوی سره دریم شیطان وي. او پوره کوشش کوي چې دواړه ګمراه کړي. (مشکواة شریف ص ۲۶۹ کتاب النکاح باب النظر الی المخطوبة).
په بل حدیث کې دي :
عن جابر رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم لاتلجوا علی المغیبات فان الشیطن یجری من احدکم مجری الدم. .
له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د داسې ښځو خواته مه ځئ چې محرم یې ورسره نه وي، ځکه چې شیطان په سړی کې دننه د وینې پشان ګردش کوي. (مشکواة شریف ص ۲۶۹).
د حرمت مصاهرت ثبوت صرف صحبت پورې منحصر نه دی، بلکې د شهوت په حالت کې دیوبل بدن په لمس کولو، ښکلولو او د شرمګاه په لیدلو سره هم د مصاهرت حرمت ثابتیږي. دا کارونه قصداً وي یا سهواً په خوشالي سره وي یاد مجبوریت په وجه. (درمختار ج ۲ ص ۲۸۶ـ ۲۸۷ ولافرق فیماء ذکر بین اللمس والنظر شهوته بین عمد ونسیان و خطا و اکراه فصل فی المحرمات.)
لهذا په خلکو کې چې کومې خبرې مشهورې شوي دي د هغوی له نظره غورځول او له هلک سره د هغه واده کول له تقوی او احتیاط نه خلاف دی او په دی کې بدنامی هم دی، لدینه ځان ساتل ضروري دی. د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی :
اتقوا مواضع التهمته.
د تهمت له ځایونو نه له غیر محرم نه پرده کول ضروری دی، د دی اندازه له دې حدیث نه ولګوئ. په حدیث کې دي:
د محمد صلی الله علیه وسلم ام المومنین حضرت سوده بنت زمعه رضی الله عنها یې د هغې ورور چې د هغه پلار د وینزي له ګیډی نه و، یو اخې په دې وجه له هغه نه د پردی کولو حکم وکړ چې د هغه په اړه د عتبه دعوه دا وه چې دا زما له نطفی څخه دی، او هغه د عتبه په شان و، که څه هم شرعی قانون (الولد للفراش وللعاهر الحجر) په وجه د عتبه دعوه رد شوی وه او د زمعه زوی ګرځول شوی و. مګر د دی باوجود

محمد صلی الله علیه وسلم حضرت سوده ته وفرمایل چې لدینه پرده وکړه. هغې تر مرګ پورې له هغه نه پرده وکړه (مشکواه شریف ص ۲۸۷ باب اللعان الفصل الاول)
ناسې بخپله غور وکړئ چې په شریعت کې د پردی حکم څومره سخت دی، د شریعت دغه حکم پریښودل او خانله یوی ښځې سره ناسته ولاړه، خوراک څښاک کول او ویده کېدلو ته څنګه صحیح ویلی شو؟
خلکو ته چې دهغه په باره کې کوم شک او شبهه پیدا شوی هغه ته څنګه بلا دلیل ویلی شو؟لهذا غورن خبره دا ده چې د جلی نکاح له بل چا سره وکړی شي، په همدې کې احتیاط او تقوی ده . او له بدنامی نه حفاظت هم دی . د زیات وضاحت لپاره لاندینی واقعه هم ولولئ .
په حدیث کې دي چې عقبه د ابواهاب له لور سره واده وکړه، یوه ښځه راغله او ویې ویل چې ما عقبه ته هم خپل تی ورکړیده او هغې ښځې ته مې هم تی ورکړی چې عقبه ورسره نکاح کړی ده. عقبه ورته وویل چې ماته خو دا نه ده معلوم چې تا ماته شیدی راکړی دي او نه لدینه مخکې تا په دی باره کې څه ویلی وو. بیا د ابو اهاب کورنۍ خلکو هم د دی تحقیق وکړ، هغوی هم همدا وویل چې مونږ ته دا نه دی معلوم چې دی ښځې زمونږ لور ته خپلې شیدی ورکړی دي.
لدینه وروسته عقبه رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته لاړ او د دغې خبرې په باره کې ترینه پوښتنه وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :
(کیف و قدقیل). کله چې دا خبره کولی شي چې ته د هغې رضاعی ورور یې نو اوس هغه ستا په نکاح کې څنګه کولی شی؟
ففارقها ونکحت زوجا غیره.
لدینه وروسته عقبه هغه پریښودله اوله بل چا سره یې واده وکړه. (بخاری شریف ج ۲ ص ۷٦۴، ۷٦۵ باب شهادته المرضعته). (مشکواه شریف ص ۲۷۴، ۲۷۴ باب المحرمات.)
د یوی ښځې په ګواهی سره رضاعت نه ثابتیږی، لیکن تقوی، احتیاط او بدنامی په خیال تفریق او جدایی خوښ کړی شوی دی. په التعلیق الصبیح شرح مشکواه المصابیح کې دي:
قوله کیف و قد قیل ای کیف تباشرها و تفضی الیها والحال انه قد قیل انك اخوها من الرضاعه و ذلك بعید من ذوی المروه والورداع و فیه ان الواجب علــی المــرء ان

حیث موقع التهم والریبة و ان کان بری الساحة . الی قوله . قال القاضی هذا محمول عندنا لاکثرین علی الاخذ بالاحتیاط والحث علی التورع من مظان الشبه لا لحکم بثبوت الرضاع و فساد النکاح بمجرد شهاده المرضعة (کذا فی شرح الطیبی) و فی فتاوی قاضی خان رجل تزوج امراة فاخبره رجل مسلم ثقة او امراة انهما ما رتضعا من امراة واحدة قال فی الکتاب احب الی ان یتنزه فیطلقها و یعطیها نصف المهران لم یدخل بها ولا تثبت الحرمة بخبر الواحد عندنا مالم یشهد به رجلان او رجل و امراء تان و قال التور پشتی وجه ذلك عند اکثر العلماء ان قوله کیف و قد قیل حث علی الورع لمکان الشبهة (التعلیق الصبیح ج ٤ ص ٣٢ – ٣٣ باب المحرمات) فقط واللہ اعلم بالصواب.

ایا په شهوت سره لمس کوونکې هلک د ممسوسی لـه لـور سـره نکاح کولي شي او که نه ؟

(۲۴۴_ سوال): زید څوکاله مخکې هنده په شهوت سره لمس کړی ده، اوس د هنده لور او د زید د زوی تر منځ کوژدن شوی، ډیر ژر واده یې هم کیدونکې ده، ایا د هغوی دا نکاح شرعاً صحیح کیږي او که نه ؟ ځواب را کوئ.

(ځواب): په مسئوله صورت کې چې کوم کوژدن شوی هغه د زید او هنده د اولاد په منځ کې او د هنده لور د زید له نطفی څخه نه ده نو د دوی تر منځ نکاح صحیح ده.

په شهوت سره لمس یا زنا سره ممسوسه یا مزنیه ښځه، د زانی په اصول او فروع باندې حرامیږي، همدغه راز د ماس (لمس کوونکې). یا زانی د مزنی او ممسوسه په اصل او فروع باندې حرامیږي، لیکن زانی یا د مساس اصول او فروع لپاره د مزنیه یاد ممسوسه اصول او فروع نه حرامیږي لهذا نکاح یې صحیح ده.

(قوله و حرم ایضاً بالصهریة اصل مزنیة) قال فی البحرار اد بحرمة المصاهرة الحرمات الا ربع حرمة المراة علی اصول الزانی و فروعه نسباً و رضاعاً و حرمة اصولها و فروعها علی الزانی نسباً و رضاعاً کما فی الوطء الحلال و یحل لاصول الزانی و فروعه اصول المزنی بها و فروعها اه (فصل فی المحرمات شامی ج ۲ ص ۳۸٤).

برد د شامي خط كشيده عبارت د موجوده مسئلی واضـح دليـل دی. فقـط والله اعلـم بالصواب

(نوټ).

د همدې په څير يو سوال او د هغه ځواب د فتاوای رحيميه په همـدې بـاب كـې هـم مخكې تيرشوی دی.

كه ځلور، پنځه كلنه جلۍ په شهوت سره لمس كړی شي نـو پـه دی سره حرمت مصاهرت سابتيږی او كه نه ؟

(۲۴۵_ سوال): يوه شپه زه له خپلې ښځې سره په لهو و لعب كې مشغول وم، لـه هغـې سره په خوا كې ځلرږ پنځو كلو جلۍ پرته وه، په غلطـی كـې د خـپلې ښځـې دلاس پـه خای د هغې جلۍ لاس زما لاس ته راغئ. نو د دی څه حكم دی، ايا پـه دی سـره زمـا ښځه خو په ما حرامه شوی نه ده ؟ بينوا توجروا.

(ځواب): ځرنگه چې جلۍ ډيره وړه او قابـل اشـتها نـه ده لهـذا پـه دی سـره حرمـت مصاهرت نه راځي. په در مختار كې دي :

(هذا اذا كانت حية مشتهاة) ولو ماضيا (اما غيرها) يعنى الميتة و صغيره لم تشته (فلا) تثبت الحرمة بها اصلا.

په شامي كې دي:

(قوله فلا تثبت الحرمة بها) ای بوطئها او لمسها او النظر الى فرجها و قوله اصلاً ای سواء كان بشهوة ام لا و سواء انزل اولا (در مختار و شامی ص ۲۸۷ ج ۲ فصل فی المحرمات.)

په امدادالفتاوی كې دي: يوتن خپل ځلور پنځه كلن لور له ځان سره ځملاوه او ويـده شو، په خوب كې د خپل ښځې په خيال ترينه مچو واخستله او له غاړی نه لی را تاوكړه، لـــيكـــن يو لوی بالبنت يې په منځ كې ايښې و، اوس د هغه ښځه په هغه حلالـه ده او كه نه ؟

(ځواب): په دی سره د مصاهرت حرمت نه دی ثابت شوی، نو ځكه ښځه ورته حلالـه ده، (لانها صغيرة جدا) ځكـه ډيـره وركـوتی ده. (امـدادالفتاوی ص ۲۷۴ ج ۲.) فقـط والله اعلم بالصواب.

كه خسر خپل انګور په خوله كې ښكل كړي؟

(۲۴٦_ سوال): زيد له خپل اهل او عيال سره يو ځاى له خپل كلى نه لرى په بل ښار كې اوسيږي، يو ځل هغه له خپلې ښځې او ماشومانو سره د خپل خور په واده كې دګډون لپاره خپل كلى ته تللى و، په كومه كوټه كې چې د زيد ښځه ويده شوى وه، هلته به د هغه خسر تګ او را تګ كاو. يو ځل چې په كوټه بل څوك نه و نو خسر د همدردى څو الفاظ وويل او د خپل اينګور په ګيډه لاس وګرځاوه او په خوله يې ښكل كړ. انګور يې ډيره غصه شوه خو صبر يې وكړه، بيا كله چې زيد كوټې ته راغى نو هغه ته يې دا خبره وكړه. زيد دا خبره خپل مورته وكړه. د زيد مور دا خبره د زيد پلار ته وكړه. لومړى خو هغه لدينه انكار وكړ خو له شورماشور نه وروسته يې وويل چې ما هغه خپل لور پشان ګڼلې او ښكل كړى ده، زما په زړه كې شهوت بالكل نه و. ايا په دى صورت كې د زيد ښځه د زيد لپاره حلاله ده او كه نه؟ مهرباني وكړئ ځواب راكړئ.

(ځواب): په در مختار كې دي:

(قبل ام امراته حرمت عليه امراته الى ان قال) لان الاصل فى التقبيل الشهوة **په شامي كى دي** : (قوله على الصحيح جوهرة) الذى فى الجوهرة للحدادى خلاف هذا فانه قال لو مص او قبل و قال لم اشته صدق الا اذا كان المس على الفرج والتقبيل فى الفم اه و هذا هو الموافق لما سينقله الشارع عن الحدادى و لما نقله عنه فى البحر قائلا و رجعه فى فتح القدير والحق الخد بالفم اه ..... وقيل لا يصدق لو قبلها على الفم و به يفتى . اه (در مختار و شامى ج ۲ ص ۳۸۸ باب المحرمات كتاب النكاح).

په عالمګيرى كې دي:

و كان الشيخ الامام الاجل ظهير الدين المرغينانى يفتى بالحرمة فى القبله فى الفم والخد والرأس و ان كان على مقنعه و كان يقول لا يصدق فى انه لم يكن بشهوة (**عالمګيرى ج ۲ ص ۷ كتاب النكاح باب ۳ المحرمات بالصهريه**).

له پورتنى عبارتونو څخه معلوميږي چې په مسئوله صورت كې په خوله كې د ښكلولو په سلسله كې د خسر دا خبره چې ما د شهوت په حالت كې هغه نه ده ښكل كړى د منلو

ور نه ده، قرائن د هغدي خبرې ګواهي کوي چې دواړه په کمره کې يـواځې وو. په خوله کې له ښکلولو نه وړاندې د خپل انګور په ګېډه باندې لاس کش کړی او بيانی په خوله کې ښکل کړی ده نو څکه د حرمت حکم ورباندې لګول کيږي او دا خبره واضح ده چې د حرمت د ثبوت لپاره ديو طرف نه د شهوت او شوق موجوديت هم کافی دی په در مختار کې دي : وتكفى الشهوة من احدهما . (درمختار ج ۲ ص ۳۸۹ فصل فی المحرمات). فقط والله اعلم بالصواب.

د حرمت مصاهرت په اړه عجيب سوال :

(۲۴۷ ـ سوال): يو تن له خپلې خوابنې سره زنا وکړ. اوس پخپله په دی ناوړه عمل ډير زيات خفه دی، ليکن د مصاهرت حرمت مسئله هغه لپاره د تشويش باعث ګرځيدلی دی چې څه وکړي، د شريعت مطابق د هغه ښځه ورباندې حرامه شوی ده، که چيرته هغه خپله ښځه طلاقه کړي نو د خسر ګنی له طرف د وژل کيدو خطره ده څکه چې هغوی مالدار هم دي او بدمعاش هم، د دغې علاقې ټول خلک له هغوی نه ويريږي. او که چيرته خبره ښکاره کوي نو بيا هم د هغه د ځان خطره ده. نو په مذکوره صورت کې که اختلاف امتی رحمة په نظر کې نيولو سره (د امام شافعی د مسلک مطابق په زنا سره حرمت مصاهرت نه ثابتيږي). باندې عمل وکړي نو ورته جائز دی او که نه ؟ بينوا توجروا.

(ځواب). : په فتح القدير کې يو حديث دی :

قال رجل يا رسول الله صلى الله عليه واله وسلم انی زنيت بامرأة فى الجاهلية افانكح ابنتها ؟ قال : لا ارى ذلك ولا يصلح ان تنكح امرأة تطلع من ابنتها على ما تطلـــع عليه منها .. .. الخ (فتح القدير ج ۳ ص ۲۲۱ فصل فی بيان المحرمات تحت قولـــه لانها نعمه).

لدې حديث نه دا ثابتيږي چې کوم سړی له يوې ښځې سره زنا وکړي نو د هغې اولاد په دغه سړي باندې حراميږي. په هدايه اولين کې دي :

ومن زنى بامرأة حرمت عليه امها وبنتها، ايضاً هدايه اولين ص ۲۸۹).

په فتاوی تاتارخانيه کې دي

حرمة الصهر تثبت بالعقدالجائز وبالوطی حلالاً کان او حراماً او عن شبهته او زناً. (الفتاوی تاتارخانیه ج ۲ ص ٦١٨ الفصل السابع فی اسباب التحریم).

په مسئوله صورت کې له خپلې خواښې سره زنا کړې ده نو حرمت مصاهرت ثابت شو او ښځه وربانديې حرامه شوه، خاوند دی خپله ښځه طلاقه کړي. په مذکوره صورت کې د امام شافعي صاحب په مسلک باندې د عمل کولو اجازه نشي ورکول کیدلی، که چیرته په یو ځای کې دمسلمانانو اجتماعي ضرورت وي (یعنی عموم بلوی وي). نو په دی صورت کې د بل امام په قول باندې د عمل کولو ګنجائش کیدلی شي، دا هم په دی شرط چې متبحر علماء د دی فیصله وکړي، د انفرادي رای هیڅ اعتبار نشته، د انفرادی ضرورت په وجه د بل چا مذهب د خپلولو اجازه نشي ورکول کیدلی، خصوصاً د ښځې په خاطر د حق مذهب پریښودل ډیر خطرناک دی او په دی سره د بدی خاتمې ویره ده.

په شامي کې، دي چې یو حنفی المسلک سړی د اهل حدیث لور سره د واده پیغام ورکړ، هغه ورته وویل که ته خپل مذهب پریږدی او امام پسې قرائت خلف الامام او رفع الیدین وکړی نو زه تا ته د لور ورکولو لپاره تیار یم.

حنفی المسلک سړی د هغه دا شرط قبول کړ او نکاح یې ورسره وکړه، د وخت امام ابوبکر جوزجانی رحمه الله علیه چې لدې خبرې نه خبر شو نو ډیر افسوس یې وکړ او ویې فرمایل : النکاح جائز و لاکن اخاف علیه ان یذهب ایمانه وقت النزع لانه استخف بالمذهب الذی هو حق عنده وترکه الاجل جیف متنه .

یعنی نکاح یې خو جائزه ده لیکن ماته د دغه تن په بده خاتمه باندې اندیښنه ده چې هغه د یوی ښځې په خاطر دیو داسې مذهب توهین وکړ چې ترنن ورځ پورې یې حق ګڼلو او د ښځې په خاطر پریښود. (شامي ص ٢٦٣ ج ٣ باب التعزیر مطلب فیما اذا ارتحل الی مذهب غیره).

په مذکوره صورت کې د اختلاف امتی رحمة څخه استدلال صحیح نه دی، که د خان خطره وي نو دا ځای دی پریږدي. خلک په معمولی خبره باندې خپل وطن پریږدي. فقط والله اعلم بالصواب.

د حرمت مصاهرت له ثبوت نه وروسته خسر له خپلې مزنیه سره نکاح کولی شی او که نه ؟

(۲۴۸_ سوال): خسر له خپلې انګور سره زنا وکړه د هغه زوی ته هم پته ده، نو دغه ښځه د هغه په زوی باندې حرامه ده او که نه ؟ که حرامه وي نو خسر له خپل انګور سره واده کولی شي او که نه ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که خسر له خپلې انګور سره زنا وکړي نو هغه د هغه پر ځوی بانـدې همیشه لپاره حرامیږي، اوس د هغه زوی ته پکار دي چې خپله ښځه طلاقه کړي. په شامی کـه دي:

(قوله وحرم ایضاً بالصهریة اصل مزنیته). قال فی البحـــر اراد بحرمـــة المصـــاهرة الحرمات الاربع حرمة المراه علی اصول الزانی و فروعه نسبا و رضاعاً.......... الخ.
(شامي فصل فی المحرمات ص ۳۸٤ ج ۲).

کله چې د چا زوی له کومې ښځې سره نکاح وکړي نو که هغې سره جماع کړي وي یا نه نو هغه ښځه همیشه لپاره پخپل خسر باندې حرامیږي. په قران کریم کې دي:

وَحَلاَئِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلاَبِكُمْ.

اوستاسی د هغو زامنو ښځې هم حرامی دي چې ستاسی لـه نسل څخـه وي. (قـران کریم سوره نساء پاره ۴).

په در مختار کې دي:

(و زوجه اصله و فروعه مطلقاً) ولو بعیداً دخل بها اولا .

په شامی کې دي:

(قوله و زوجه اصله و فرعه) قوله تعالی ولا تنکحوا ما نکح اباءکم و قوله تعالی و حلا ئل ابناءکم الذین من اصلابکم والحلیلة الزوجة و ذکر الاصلاب لا سقاط حلیلة الا بن المتبنی لا لا حلال حلیلة الابن رضاعاً فانها تحرم کالنسب بحر وغیره (در مختار و شامی ج ۲ ص ۳۸۳ فصل فی المحرمات) فقط والله اعلم بالصواب.

لهذا په مسئوله صورت کې خسر له خپلې انګور سره نکاح نشی کولی او که نکـاح وکـړي نو نکاح یې نه صحیح کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

ايا د نوسي او کړوسي ښځې له محرماتو ښځه دي او که نه ؟

(۲۴۹ سوال): ايا د نوسى او کړوسى له ښځو نه به پرده او ستر کولى شـي او کـه نـه؟ ايا هغوى له محرماتو ښځه دي او که نه؟ بينوا توجروا.

(خواب): د نوسي او کړوسي له ښځو نه پرده او ستر نشته، هغوى د محرماتو له جملې ښځه دي. قول الله تعالى :

حلائل ابناءكم.

يعنى د زوى له ښځې سره نکاح حرامه ده او د زوى په عموم کې مسى او کړوسـى هـم راځي لهذا د هغوى له ښځو سره هم نکاح حرامه ده. په روح المعانى کې دي :

ثم المراد بالابناء الفروع فتحرم حليلة الابن السافل على الجد الاعلى و كذا ابن البنت و ان سفل (روح المعانى ج ۴ ص ۳٦۰ سوره النسآء) فقط والله اعلم بالصواب.

د اخيافي ماما د خور له لور سره نکاح :

(۲۵۰ـ سوال): عائشه طلاقه شوى ده د هغې له مخکيني خاوند نه يـوه لـور شـوى ده لدينه وروسته عائشه له يو بل سره نکاح وکړه چې له هغه يـو زوى وشـوه اوس سـوال دا دى چې له دغه خاوند نه د پيدا شوى زوى نکـاح د دغـې جلـى لـه لـور سـره يعنـى د عائشى له مسى سره روا کېږي او که نه ؟

(خواب): د عائشى لور او زوى دواړه پخپلو کې اخيافي خور او ورور دي لهـذا د خپـل اخيافي خور له لور سره نکاح جائزه نه ده. ځکه چې دواړه د رشتي په اعتبار سـره ماما خورزه دي.

حرمت عليكم (الى قوله تعالى) و بنت الاخت يعنى فروع الاخ و الاخت بناتهما و بنـات ابنائهما و ان سفلن سواء كان الاخ و الاخت لابوين اولا حدهما (تفسير مظهرى سـوره النسآء ص ٥٦) فقط والله اعلم بالصواب.

په زنا سره د حامله شوي ښځې نکاح :

(۲۵۱ سوال): يو تن له خپل ترور لور سره زنـا وکـړه، هغـه حاملـه شـوه اوس دا تـن غواړي چې له هغې سره نکاح وکړي ايا داسې کول جائز دى ؟ بينوا توجروا.

(خواب): مزنيه چې حامله شوى ده که د بل چا ښځه يا په عدت کې نه وي نو له دغـه زاني سره نکاح يې کېدلى شي. د نکاح په حرمت باندې هيڅ شرعي دليل نشته لهذا د

ایت شریف (واحل لکم ما وراء ذلکم) له مخی نکاح یې صحیح او جائزه ده، اوس کله چې له زانی سره نکاح یې کیږي نو له ولادت نه مخکښې هم ورسره جماع کولی شي ځکه چې نطفه د همدغه سړی ده او د نطفی د اختلاط هیڅ سوال نه پیدا کیږي، البته که بل سړي سره نکاح یې وشی نو بیا ورسره جماع جائزه نه ده ځکه چې دلته کې اختلاف راځي او دا جائز نه دی.

فانه ذا کان الزانی هو الناکح یصح النکاح اجماعاً (شرح النقایه ج ۲ ص ۷ من یحرم نکاحه وغیره) قال ابو حنیفة و محمد رحمه الله تعالی یجوزان یتزوج امرأة حاملا من الزنا ولا یطوْها حتی تضع وقال ابو یوسف رحمه الله لا یصح والفتوی علی قولهما کذا فی المحیط و کما لا یباح و طوها لا تباع دواعیه کذافی فتح القدیر و فی مجموع النوازل اذا تزوج امرأة قد زنی هو بها وظهر بها حبل فالنکاح جائز عند الکل وله ان یطأها عند الکل (فتاوی عالمگیری ج ۱۱ ص ۲۸۰ القسم السادس ما حق الغیر) فقط والله اعلم بالصواب.

د ترور لور سره او د خاله زاد ورور له لور سره نکاح :

(۲۵۲_ سوال): زمونږ په علاقه کې دوه نکاح گانی کیدونکې دي .

(۱) : د حقیقی وزور او خور له اولاد و ښځه د ورور د زوی نکاح د خور له نوسی سره کیږي.

(۲). دویمه نکاح د حقیقی خورگانو ښځه د یوی خور د زوی نکاح د بل خور له نوسی سره کیږي، ایا دغه دواړه نکاح گانی صحیح دي ؟

(خواب): کله چې د ترور لور سره نکاح جائزه ده نو د هغې له لور سره هم نکاح جائزه ده، همدغه راز کله چې د خاله له لور سره نکاح کیدای شی نو د هغې له لور سره هم نکاح صحیح ده. لنډه دا چې دواړه نکاح گانی صحیح او جائزی دي .

و خص تعالی العمات و الخالات بالتحریم دون اولادهن لا خلاف فی جواز نکاح بنت العمه و بنت الخاله (احکام القرآن للجصاص ج ۱ ص ۱۲۳ باب ما یحرم من النسآء تحت قوله و خالتکم ..... الخ) فقط والله اعلم بالصواب.

کله چې شیعه کلمه گومسلمان وي نو له هغه سره نکاح ولی نشي کیدلی ؟

(۲۵۳_ سوال): محترم او مکرم حضرت مفتی صاحب مدضلهم العالي اسلام علیکم ورحمه الله و برکاته، سلام مسنون.

زه په طب پو هنځی (میډیکل کالج). کې سبق وایم او د یوی مسئلې په اړه تحقیق کول غواړم، هغه دا چې یو شیعه له ما سره واده کول غواړي، زما هم د غه رشته خوښه ده، لیکن څه خلک وایی چې له شیعه سره د سنی ښځې نکاح جائزه نه ده، دا خبره زما عقل نه مني، هغه هم زمونږ په شان کلمه وایی او ځانته مسلمان وایی نو د دی باوجود له هغه سره نکاح ولی نه کیږي ؟ تاسی په دی لړکې تسلی بخونکې ځواب را کړئ چې د کلمه گومسلمان کیدو باوجود ورسره نکاح ولی نه کیږي ؟ (بیجاپور کرناټک).

(ځواب): حامداً و مصلیاً ومسلماً. دمسلمان کیدو لپاره یواځې په ژبه دعوه کول صحیح نه ده بلکې په دغه ټولو باندې ایمان راوړل او تصدیق کول هم ضروري دی چې الله او د هغه رسول بیان کړي دي، له هغو نه د یوې خبرې نه انکار کول یا داسې عقیده خپلول چې له قران او حدیث نه مخالف وي انسان د اسلام له دائری نه راوباسي اگر که په ژبه دمسلمانی او اسلام دعوه کوي.

د محمد صلی الله علیه وسلم په زمانه کې منافقانو د اسلام دعوه کوله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس کې به قسمونه خوړل چې تاسې د الله رسول یئ، مگر الله تعالی ایت ولیږلو چې دوی بالکل دروغژن دي او دهغوی په باره کې یې و فرمایل چې دوی جهنمی دي ایت شریف دا دی :

إِذا جَاءكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّه وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللَّـهُ يشْهَدُ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَكَاذِبُونَ ○ اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً.

کله چې تاته دا منافقان راځي نو وایی چې مونږ (له زړه نه). گواهی ورکوو چې بیشکه د الله رسول یی او داخو الله ته معلوم دی چې ته رسول یی، مگر د دی باوجود الله گواهی ورکوي چې دا منافقین پخپلو خبرو کې دروغ وایی د وی دغه قسم د خپلو خانونو د بچ کولو لپاره ډال گرځولی دی.

په بل ځای کې ایت شریف دي :

إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا. (سوره نساء پاره نمبر ۸).
بیشکه منافقین د دوزخ له ټولو نه لاندی طبقه کې وي او ته به هرګز هغوی لپاره څوک مدد کوونکي پیدا نکړی.
مشهور منافق عبد الله بن ابی بن سلول هم خپل ځانته مسلمان ویل، کله چې هغه مړشو نو محمد صلی الله علیه وسلم د هغې جنازی لمونځ ولوست، نو په هغه الله تعالی دا ایت نازل کړ:
وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَىَ قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُواْ وَهُمْ فَاسِقُونَ (سوره توبه پاره نمبر ۱۰).
زمونږ په زمانه کې قادیانیان هم خپل ځانته مسلمان وایی او د دی خبری دعوه کوي چې مونږ الله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم او قران کریم منو، ایا هغوی رښتیامسلمانان دي. د اهل سنت و الجماعت فتوه داده چې قادیاني د خپلې غلطی عقیدی په وجه د اسلام له دائری نه خارج دی.
همدغه حالت د شیعه ګانو هم دی، په هغوی کې مختلفی فرقی او عقیدی دي، خصوصاً د اثنا عشری فرقی عقائد کفري دي.
مولانا حبیب الرحمان رحمه الله علیه د یو ځواب په ترځ کې ویلی دي چې اثنا عشری شیعه بلاشک وشبه کافر مرتد او له اسلام نه وتلی دي. لدینه وروسته حضرت مولانا محمد منظور نعمانی د ماهنامه الفرقان یو خصوصی نمبر چاپ کړ چې د هغې نوم و د امام خمینی او اثنا عشریه په باره کې د علماء کرامو متفقه فیصله. (اکتوبر ۴ دسمبر ۱۹۸۷ شماره نمبر ۱۰_۱۲). تاسی مهربانی وکړی هغه رساله هم وګورئ.

د شیعه ګانو غلطی عقیدة هم ولوله :

(۱). د هغوی عقیده داده چې موجوده قران محرف دی، په دی کې کمی او زیاتی شوی دی، دا بعینه هغه قران نه دی چې د الله له طرف نه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی ده.
یقیناً چې دا عقیده د کفر موجب دی، د اهل سنت و الجماعت عقیده داده چې الله تعالی پخپله د قران کریم د حفاظت وعده کړی ده الهی ارشاد دی:
إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ (پاره نمبر ۱۴).
یعنی قران کریم مونږ نازل کړی او همدا مونږ یې حفاظت کوو.

بلکه عقیده دا ده چې د قران کـریم ټـول الفـاظ محفـوظ دي، پـه دی کـې یـوه ذره حرف هم ردوبدل او کمی زیاتی نه دی شوی.

(۲) ابوبکر صدیق رضی الله عنه او عمر رضي الله عنه له محمد صـلی الله علیـه وسـلم نه وروسته د امت افضل ترین او جلیل القدر اصحابان دي او د هغـوی اسـلام پـه تـواتر سره ثابت دی.

مګر شیعه په دغو دواړو باندې لعن او طعن کوي، هغوی ته منـافق او کـافر وایی، حـال دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د دغو دواړو په باره کې فرمائي:

اقتدوا بالذین من بعدی ابی بکر و عمر.

تـــــه مـــــا نه وروسته د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما اقتداء وکړئ. (مشـکواه شـریف ص ۵۶۰).

همدغه راز خلفای راشدین حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه، حضرت عمر رضـی الله عنه، حضرت عثمان رضی الله عنه، حضرت علی رضی الله عنه په اړه ارشاد فرمایلی دي:

علیکم بسنتی وسنته خلفاء الراشیدین المهدیین عضوا علیها بالنواجد

تاسي پخپلو ځانونو زما سنت او زما د هدایت یافته د خلفاء راشـدینو طریقـه لازم کـړئ او په غاښونو یې کلک و نیسئ. (مشکواه شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنته).

خو شیعه ګان له حضرت علی رضی الله عنه نـه عـلاوه نوروتـه ضـال او ګمـراه وایی، د هغوی صحابیت او اسلام نه انکار کول د کفر موجب دی.

همدغه راز د هغوی عقیده داهم ده چې محمد صلی الله علیه وسـلم نـه وروسـته معـاذ الله زیاتره صحابه مرتد شوي وو. حال دا چې محمد صلی الله علیه د صـحابه کرامـو پـه باره کې ارشاد فرمایی:

اصحابي کالنجوم فبایهم اقتدیتم اهتدیتم.

زما صحابه د ستورو په شان دي له هغوی نه هر یو پسې چې اقتـداء کـوئ نـو هـدایت ترلاسه کوئ. (مشکواه شریف ص ۵۵۴ باب مناقب الصحابته).

(۳). منافقانو په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې د زنا تهمت لګولی و، الله تعالی په قران کریم کې پوره یو رکوع نازل کړ چې په هغه کې د هغـې رضـی الله عنهمـا برائـت بیان کړی و. (سوره نور). مګر شیعه په حضرت عائشه باندې همغـه تهمـت لګـوي چـې قران کریم د هغې برائت کوي. (ده شیعه ګانو دا کار کفر دی).

(۴). حضرت جبریل علیه السلام (معاذ الله). د وحی په راوستو کې غلطی کړی دی د علی کرم الله وجهه په ځای یې محمد صلی الله علیه وسلم ته وحی ولیږه. لدینه علاوه د شیعه ګانو نوری کفري عقیدی هم شته.

د فقهی مشهور کتاب شامي کې دي:

بـ لاشك في تكفير من قذف السيدة عائشه او انكر صحبه الصديق اواعتقدالوهية و على اوان جبريل غلط في الوحى اونحو ذلك من الكفر الصريح المخالف للقران.

یعنی د هغه چا په کفر کې هیڅ شک نشته چې حضرت عائشه رضی الله عنها باندې تهمت لګوي یا لدینه انکار وکړی چې ابوبکر صدیق اصحابي نه و یا د علی رضی الله عنه په باره کې د الوهیت عقیده لري، یا دا عقیده لري چې جبریل امین علیه اسلام د وحی په راوړلو کې غلطی کړی. یا داسې عقیده لري چې صریح کفر او قران نه مخالف وي. (شامی ص ۵، ۴، ۴۰٦ ج ۳ باب المرتد مطلب مهم فی حکم سب الشیخین).

مرقاه شرح مشکوات کی دي:

قلت و هذا فى حق الرافضة و الخارجية فى زماننا فانهم يعتقدون كفر اكثر الصحابه فضلا بين سائر اهل السنه والجماعه فهو كفر بالا جمعاع بلا نزاع (مرقاه شرح مشكوة).

په فتاوای عالمګیری کې دي:

الرافضى اذا كان يسب الشيخين و يلعنها و العياذ بالله فهو كافرو لوقذف عائشه رضى الله تعالى عنها بالزنا كفر بالله و من انكر امامة ابى بكر الصديق رضى الله تعالى عنه فهو كافرو على قوله بعضهم هو مبتدع ليس بكافر و الصحيح انه كافرو كذلك من انكر خلافة عمر رضى الله تعالى عنه فى اصح القول كذافى الظهيرية . و يجب اكفارهم با كفار عثمان و على و طلحة و زبير و عائشة رضى الله تعالى عنهم.

و يجب اكفار الزيدية كلهم فى قولهم بانتظار نبى من العجم ينسخ دين نبينا و سيدنا محمد صلى الله عليهواله وسلم كذافى الوجيز للكردرى و يجب اكفار الروافض فى قولهم برجعه الاموات الى الدنيا و بتناسخ الا رواح بانتقال روح الا له الى الائمة و

بزعمهم في خروج امام باطن و تعطيلهم الا مرو النهي الى ان يخرج الامام البـــاطن و بزعمهم ان جبرائيل عليه والسلام غلطط في الوحي الى محمد صلى الله عليهواله وسلم على بن ابي طالب رضى الله تعالى عنه وهو لاء القوم خارجون عن ملة الاسلام و احكامهم احكام المرتدين كذا في الظهرية (فتاوى عالمگيرى ص ٢٦٤ ج ٢ جبات الكفر منها ما يتعلق بالانبيآء عليهم الصلاة).

د فتاوای عالمگیري د عبارت لنډیز او خلاصه دا ده:

ز شخصه چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی الله عنهما ته بدی ردي وايي او په هغوی لعن او طعن کوي هغوی کافر دي، او که په عائشه رضی الله عنهما باندې د زنا تهمت ولګوي نو هغه هم کافر دی، همدغه راز که د حضرت عمر له خلافت نه انکار وکړي نو د اصحابو اقوالو مطابق هغه هم کافر دی، څوک چې حضرت علی، حضرت طلحه، حضرت زبیر، حضرت عائشه رضی الله عنهم ته کافر وايي هغه هم کافر دی، څوک چې دا عقیده لري چې يو پټ امام به ښکاره کيږي او هغه به د شريعت اوامر او نواهي ختموي هغه هم کافر دی، که څوک داهم عقيده لري چې جبريل امين په وحی راوړلو کی غلطي کړی او حضرت علي په ځای محمد صلی الله عليه وسلم ته راوړ نو هغه هم کافر دی.

لکه شيعه ګان چې دو قسم عقيده لري هغه کافر مرتد او د اسلام له دائرې نه وتلی دی، له هغوی سره نکاح کول بالکل صحيح نه دی.

دا خبره په خصوصي توګه په ذهن کی وساته چې تقيه کول د شيعه ګانو مذهبی عقيده او شعار دی يعنی پخپل قول او عمل سره دراصل حقيقت پټول او خلاف واقعه ښکاره کول او په دی ترتيب خلک په دوکه کی اچول، نو څکه دا حقيقت معلومول چې دا شيعه څه قسم عقيده لري ډير مشکل کار دی لهذا د خپل ايمان حفاظت په دی کی دی چې خپل خان داسی بد عقيده سری ته حواله نکړی.

ستاسی دا خبره چې شيعه ګان له محمد صلی الله عليه وسلم نه وروسته پيدا شوي دي، نو دا خو د شيعه ګانو په حقانيت باندې دلالت نه کوي. څکه چې له احاديثو نه دا ثابتيږي چې محمد صلی الله عليه وسلم د داسی ګمراه فرقو د پيدا کيدو پيش ګوبی کړې دی، لکه چې محمد صلی الله عليه وسلم فرمايي: زما په امت به ټول هغه حالتونه راځي چې په بنی اسرائيلو باندې راغلي وو. بنی اسرائيل په ۷۳ فرقو ويشل شوي وو،

زما امت به هم ۷۳ فرقی شي، ټول بـه دوزخـي وي مګـر يـواځي يـوه فرقـه بـه نجـات مونـدونکی وي.

اصحابو عرض وکړ هغه به کومه فرقه وي؟ هغه صلی الله علیـه وسـلم وفرمايـل: "ما انـا علیه واصحابی" دا هغه فرقه ده چې زه او زما اصحاب وربانـدې دي. (مشـکواه شـريف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنه).

په دی حدیث باندې غور وکړئ چې محمد صلی الله علیه وسلم پیش ګوئي وکـړه چـې زما دا امت به ۷۳ فرقی جوړیږي او د دوی ټولو په بـاره کـی و فرمايـل چـې لـه يـو نـه علاوه به ټول دوزخي وي، د نجات موندونکی فرقی نښې نښانی وویل چې دا هغه فرقـه ده چې په کې زه او زما اصحاب دي.

لدینه معلوم شو چې هغه فرقه نجات موندونکی ده چې د محمد صـلی الله علیـه وسـلم او د هغه د اصحابو طریقه خپله کړی وي، همـدغې فرقـی تـه اهـل سـنت و الجماعـت وایی. د شیعه ګانو حالت خو معلوم شوی دی چې هغوی د اصحابو اقتدا خو څـه چـې حضرت ابوبکر، حضرت عمر، حضرت عثمان او زیادتر د اصحابو رضی الله عنهم تـه کـافر او مرتد وایی، ایا له داسی جهنمی فرقی سره تاسی نکاح کـول او خپـل ځـان هغـه تـه حواله کول خوښوئ. له تاسی نه چې کوم اولاد وشي هغـوی بـه هـم د خپـل پـلار پـه طریقه وي.لهذا تاسی هرګز له شیعه سره نکاح مه کوئ او که نکاح وکړئ نو نکاح باطلـه ده او اولادونه به دی حرام وي. فقط والله اعلم بالصواب. احقرالانـام سـید عبـدالرحیم لاجپورې ۴ ربیع الاخر ۱۴۱۴ه شب.

د زوی له خوابنې سره د پلار نکاح :

(۲۵۵_ سوال) : زید له هندی سره واده کړی ده او اوس د زید حقیقی پلار د هندی له مور سره نکاح کول غواړي ایا له هغې سره نکاح یې صحیح کیږي؟

(خواب) : حامداً مصلیاً ومسلماً! د زید پلار د زید د ښځې له مور سره نکاح کـولی شـي دا نکاح حرامه نه ده.

ولا تحرم ام زوجته الابن (شامی ج ۲ ص ۳۸۴ فصـل فـی المحرمـات) فقـط والله اعلـم بالصواب.

د علاتی خور له نوسی سره نکاح جائزه نه ده:

(۲۵٦ سوال) عبدالوهاب له خپل علاتی (په پلار کی شریک) خور له کړوسی بلقیس سره نکاح کولی شي او که نه؟

(خواب) حامداً و مصلیاً ومسلما! حقیقی، علاتی او اخیافي دری واړه قسمه خویندو له لور ګانو یعنی له خورزو او د هغوی له لور ګانو سره نکاح حرامه ده. وکذ الاخوات من ای جهته کن وبنات الاخوات وان سفلن. (قاضي خان ج ۲ ص ۱٦۵ ایضاً) فتاوی عالمګیري ج ۱ ص ۲۷۳)

لهذا د عبدالوهاب د خپل علاتی خور له نوسی سره نکاح نشی کیدلی. فقط والله اعلم بالصواب یکم محرم الحرام ـ ۱۳۸۰ه.

د خوابنی له میرنی مور سره نکاح صحیح ده:

(۲۵۷ـ سوال): ایا ده طاهری خاوند د خپلی ښځی د میرنی نیا محرم دی او که نه؟

(خواب): حامداً و مصلیاً ومسلماً! په مسئوله صورت کی د طاهری خاوند د طاهري دنیکه د ښځی لپاره محرم نه دی له هغې سره د دی نکاح کیدلی شی ځکه چې د طاهری او د هغې میرنی نیا تر منځ داسی رشته نشته چې د حرمت موجب وي که چیرته د طاهری میرنی نیا سړی فرض کړی شي نو د هغې او طاهری تر منځ هیڅ رشته نشته.

ولو فرضت المرأة ذکراً جازله ان یتزوج بنت الزوج لانها بنت رجل اجنبي. (طحاوي ج ۲ ص ۲۷ ایضاً).

البته که طاهره سړی وګڼل شي نو د هغې ناسکه انی د هغې د نیکه د مدخوله کیدو له کبله په طاهره باندې حرامه ده، مګر دا قسم رشته یکطرفه ده د جمع مانع نه دی.

واذا لم یحرم النکاح بینهما الا عن جهة واحدة جاز الجمع بینهما کما اذا جمع امرأــــه وبنت زوج کان لها من قبل. (عیني شرح الکنز ج ۱ ص ۱۱۸ ایضا)

دغایت الاوطار دا عبارت چې د خپلی ښځی مور او نیا ګانی او انی ګانی که هغه سکه وي یا میرنی حرامی دي (ج ۲ ص ۱۲)، دا د طاهری د نیکه ناسکه ښځی لپاره هیڅ نه دی. ځکه چې دا په شرع کی انی نه ده بلکی د نیکه ښځه ده. فقط والله اعلم بالصواب ۲ جمادی الثانی ۱۳۸۰ه

له تره لور چې رضاعی وریره هم ده نکاح نه کیږي:

(۲۵۸_ سوال) : د هندی دوه زامن دي چې د یو نوم حسن او د بل محمد. د حسن زوی اسماعیل نومیږي، هنده د حسن ښځې (خپل انګور) د مړکیدو لـه کبلـه اسماعیل ته سینه ورکړه، محمد د اسماعیل تره دی، دا چې هنده اسماعیل ته خپله سینه ورکړې ده اوس د اسماعیل رضاعي ورور هم دی، اوس مسئله دا ده چې ایا د اسماعیل نکاح د محمد له لور فاطمی سره کیدی شي او که نه؟

(خواب) : حامداً و مصلیاً ومسلماً، د اسماعیل واده د هغه تره او رضاعي ورور د محمد له لور فاطمی سره نشي کیدلي. فاطمه د تي رو دلو په رشته کی د اسماعیل وریره کیږي ځکه ورسره نکاح نشي کیدلی.

فالکل اخوته الرفیع واخواته واولادهم اولاد اخوته واخواته.(عـالمګیري ج ۲ ص ۳۵۷ کتاب الرضاعه .

په شامي کی دي:

ولاحل بین الرضیعة وولد مرضعها وولد ولدها لانه ولد.... الخ. (در مختـــار مـــع الشامي ج ۲ ص ٦١ کتاب الرضاع). فقط والله اعلم بالصواب.

باب الاولیاء والاکفاء

که ولی د جلۍ بدل نکاح وکړی نو صحیح ده او که نه؟

(۲۵۹_ سوال): څه وایی د دین علماء په دی مسئله کی چې دیوی وړی جلۍ نکاح شوی ده او د دی بدل نکاح د ده ولی لوستلی دی، بیاله هلک سره جګړه وشوه نو جلۍ یې رخصت نکړه، اوس غواړي چې دغه جلۍ په بل خای کی واده کړي ایا له هغه نه طلاق اخستل او عدت تیرول ضروري دی؟

(خواب): که چیرته د وړی جلۍ نکاح د هغه پلار یا نیکه کړی وي نو دا معتبره ده د هغې له بالغیدونه وروسته هغه ترینه نشی بندولی.

فان زوجها الاب اوالجد فلاخيارلهما بعد بلوغها. (هدایه ج ۲ ص ۹۷ باب فی الاولیاء والاکفاء)

لهذا که د هلک له خوانیدو نه وروسته ورته طلاق ورکړي نو هلـه لـه بـل چا سره واده کولي شي، که له خلوت مخکی طلاق ورکړي نو عدت ورباندې واجب نه دی.

د نابالغ ایجاب او قبول اعتبار د ولی قبولیت پورې منحصر دی.

(۲٦۰_ سوال): نابالغ هلک په سفر کی خپل مور او پلار سره اوسیږي هغه غواړی په هندوستان کی اوسیدونکی نابالغی جلۍ سره نکاح وکړی، له جلۍ سره په هندوستان کی د هغې مور او خور اوسیږي او ورور یې چې عمر یې ۱۹ کاله دی مسافر دی. چیرته چې واده کوونکی هلک اوسیږي نو د هغه د واده کولو اجازه پخپله هلک ورکړي او که د هغه ولي، همدغه راز جلۍ پخپله اجازه ورکړي او که د هغې مور یا مسافر ورور یې؟ د مذکوره نکاح صحیح طریقه واضح کړی.

(خواب): د نابالغ هلک او جلۍ ایجاب او قبول اعتبار نه لري. د هغوی د ولیانو په قبولیت باندې موقوف دی.[1]

په صورت مسئوله کی د نکاح اسانه طریقه دا ده چې د جلۍ ورور د نکاح په مجلس کی د شرعي ګواهانو په مخکی د هلک پلار ته ووایی چې ما خپل فلانکی خور د

---

[1] - ((و اذا زوجت الصغيرة نفسها فاجاز و لها الخيار بلغت كذا فى محيط السرخسى (فتاوى عالمگيرى الباب الرابع فى الاولياء ج ۱ ص ۲۸٦).

دومره مهر په عوض کی ستاسی فلانکی هلک په نکاح کی ورکوم، دهغه په خواب کی د هلک پلار دی ووایی چې زه د خپل فلان زوی له طرف قبلوم. نو په دی ترتیب سره نکاح صحیح کیږي.

د واده لپاره دی ښځه جلی، منتخب کړی شي؟

(۲٦١_ سوال) : د یو سړی د زوی او لور د نکاح خبرې روانی دی. دواړه لمونځ گذاره او دیندار دي. خو مالی حالت یی کمزوری دی نو ځکه له نظره غورځول کیږي، بل طرف ته داسی جلی ده چې نه دینداره ده او نه لمونځ گذاره مگر مالی حالت یی ښه دی هغې ته اهمیت ورکول کیږي، د محلی خلک هم له هغې سره د نکاح کولو مشوره ورکوي، صرف ما د دینداری او لمونځ گذاری سره د نکاح کولو مشوره ورکړی ده، ایا دا نامناسب دی؟

(خواب) : د واده په باره کی د جلی، د انتخاب او غوره کولو لپاره شریعت مال، جمال حسب، نسب (خاندانی شرافت) او دینداري په اوصافو کی دیندار ته ترجیح ورکړی دی. په بخاري شریف او نورو کتابونو کی دي چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د څلورو اوصافو په وجه له ښځی سره نکاح کولی شي. مال، جمال، حسب و نسب او دینداري، خو ستاسی کامیابي داده چې تاسی له دینداری سره نکاح وکړئ.[1]
په بل حدیث کی پنځم وصف اخلاق یې هم بیان کړی دی، په دی کی د حسب یا دونه نه ده شوی.
په یو بل حدیث کی دي چې هغه ویښځه چې غوړونه او پوزه یې غوڅ شوي وي تکه توره وي خو چې دینداره وي، هغه له بی دینه، ازاد، مالدار او ښکلی جلی نه ډیره ښه ده چې نکاح ورسره وکړی شي. (جمع الفوائد ج ۱ ص ۲۱٦)

---

[1] - ((عن ابی هریره رضی الله تعالی عنه عن النبی رسول الله صلی الله تعالی علیه وآله وسلم قال تنکح المراه لا ربع لما لها ولحسبها و جمالها و لدینا فاظفرت بذات الدین تربت یداك (کتاب النکاح باب الا کفاء فی الدین).

په ترمذی شریف کی دي چې که تاسو ته داسی یو سړی د نکاح پیغام واستوي چې د هغه دین او اخلاق ستاسی خوښ وي نو هغه سره د خپل لور نکاح وکړئ که نه په زمکه لوی فساد او فتنه به پیدا شي. (ج ۱ ص ۱۲۸).[1]

په هر حال د رسول الله صلی الله علیه وسلم تاکید دا دی چې نکاح لپاره دیندار منتخب کړی شي، لهذا ستا مشوره صحیح ده، دا چې له تانه هغه مشوره غوښتی ده نو ستا فرض دا و چې ته کومه خبره صحیح او موزون وګڼی د هغې مشوره ورکړی. په حدیث شریف کی دي چې له چانه مشوره اخستلی شي هغه امین وي. (ترمذی شریف ج ۲ ص ۱۰۰.[2]

په یو حدیث کی دي: هر څوک چې خپل مسلمان ورور ته د داسی کار مشوره ورکړي چې لدینه علاوه په بل کار کې خیر او برکت وي نو هغه له خپل ورور سره خیانت وکړ. (ابو داود ج ۲ ص ۱۰۱).

ډیر افسوس دی د دغی پیړی مسلمانانو باندې چې د محمد صلی الله علیه وسلم له مقدس تعلیم نه قولاً، فعلاً او عملاً خلاف ورزي لپاره ملاګانی تړلي دي. د عبرت لپاره له معتبرو کتابونو څخه دوه واقعات ستاسی په وړاندی پیش کولي شي.

(۱) : د یو بزرګشخص له لور سره د نکاح لپاره له څو ځایونو څخه پیغامونه راورسیدل، لویو لویو نوابانو، رئیسانو او شاهزادګانو هم پیغامونه واستول، بزرګ له خپل یهودي ګاونډی سره مشوره وکړه چې د چا پیغام قبول کړي؟

یهودي ورته وویل ما او ریدلي دی چې ستاسی نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې د څلورو شیانو په وجه د ښځی نکاح کولی شي اول مال، دویم جمال، دریم حسب، څلورم دین، مګر له ټولونه ښه او بهتر له دیندار سره نکاح کول دي. لدینه معلوم شو چې دیندار له ټولو نه مقدم دی، که چیرته زما خبره صحیح وي نو د خپل لور واده

[1] - ((عن ابی هریره رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اذا خطب الیکم من ترضون دینه و خلقه فزوجوه الا تفعلوه تکن فتنه فی الارض و فساد عریض ابواب النکاح باب ماجاء فی من ترضون دینه فزوجوه (ج ۱ ص ۲۰۷).

[2] - ((عن ابی هریره رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم المستشار مؤتمن باب ماجاء ان المستشار مؤتمن (ج ۲ ص ۱۰۹).

له فلانکی طالب سره وکړه، له مالدارو او غټوخلکونه انکار وکړه، بزرګشخص همداسې وکړه.

(۲): نوح بن مریم وغوښتل چې د خپلې لور نکاح له چاسره وتړي، نو هغه له یو مجوسي سره مشوره وکړه هغه وویل چې د فارس پاچا کسری خو مال ته ترجیح ورکاو. خو قیصر حسن او جمال خوښاو، د عربو رئیسانو به خاندانی شرافت او حسب و نسب ته اهمیت ورکول او ستاسی سردار حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به په ټولو باندې دینداري ته لومړیتوب ورکاو. یعنی یو دیندار او متشرع موجود دی. لیکن مال، حال، جمال او شرافت نه لري. نو داسی چاته به له مالدار، جمال او خاندانی شرافت در لودونکی ته ترجیح ورکول، اوس ته پخپله غور وکړه چې د چا اقتداء کوی؟ غرض دا چې دینداری غوره کړه ، که په دی کی مال، جمال او شرافت هم وي نو دا نور علی النور دی.

که بالغه جلۍ پخپل سر نکاح وکړي نو نکاح صحیح ده او که نه؟

(۲٦۲ـ سوال): یوه جلۍ ده له هغې سره مې پاکه مینه ده، هغه له مانه علاوه له بل چا سره واده کول نه غواړي. زما پلار د هغې له پلار نه د نکاح غوښتنه وکړه خو هغه سوچ انکار وکړ، اوس هغه جلۍ وایی چې رازه بیرون لاړ شو او هلته نکاح وکړو. اوس سوال دا دی چې په دی طریقه زمونږ نکاح صحیح کیږي او که نه؟

(ځواب) : که ته د هغه کفوه یې نو ستاسی نکاح کیږي ځکه چې کله جلۍ عاقله او بالغه وي نو له خپل کفو (خاندانی برابری) له هلک سره نکاح کولي شي. د ولی اجازه ضروري نه دی. په هدایه کی دي:

و ینقعد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضائها و ان لم یعقد علیها ولی بکراً کانت اوثیباً (الی) و عن ابی حنیفة و ابی یوسف انه لا یجوز فی غیر الکفو (هدایه ج ۲ ص ۲۹۳ — ۲۹٤ باب الاولیآء و الاکفاء).

شرعي ګواهانو یعنی له دوه مسلمان عاقل، بالغ سړي یا یومسلمان سړی او دوه مسلمانو ښځو په مخکی عاقل، بالغ هلک او جلۍ ایجاب او قبول وکړي نو نکاح صحیح کیږي، خو مسنون دا دی چې نکاح ښکاره وکړی شي.

ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین، عاقلین، بالغین، مسلمین، رجلین او رجل وامراتین. (هدایه ج ۲ ص ۲۸٦ کتاب النکاح)

جلۍ کله بالغیږي؟ که هغه له بالغیدونه وروسته خپله نکاح پخپله وکړی نو نکاح یې صحیح کیږي او که نه؟

(۲٦۳_ سوال) : یوه جلۍ کافي صحت منه ده او د مکتب (سکول) د دفتر مطابق د دغه جلۍ عمر پنځلس کاله او پنځه میاشتې دی، هغې پخپله خوښه د دوه مسلمانو ګواهانو په وړاندی یو تن د خپل نکاح وکیل ګرځولي دی او خپل عمر یې ۲۱ کاله لیکلی دی، هغې پخپله خوښه له یو خوان سره نکاح تړلی ده ایا د هغې نکاح صحیح ده او که نه؟ بینواتوجروا.

(خواب) : پنځلس کلنه جلۍ شرعاً بالغه ده.

والجارية بالا حتلام والحيض والحبل و لم يذكر الانزال صريحا لانه قلما يعلم منها فان لم يعلم فيها شيئ فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنتة به يفتى. (در مختار مع الشامی ج ٥ ص ۱۳۲).

لهذا که د عدم جواز بل کوم وجه نه وي صرف د عمر په وجه شبه وي نو دا د عدم جواز لپاره دلیل نشی کیدلی له څه شک نه پرته نکاح صحیح ده. (فقط والله اعلم بالصواب).

د نابالغو ماشومانو د نکاح څه طریقه ده؟

(۲٦٤_ سوال) : نابالغ هلک او نابالغه جلۍ دی د نکاح ایجاب څنګه وکړي؟ که چیرته چا په لاندی ډول ایجاب او قبول کړی وي نو هغه صحیح دی او که نه؟

(الف) : د نکاح په مجلس کی نکاح لوستوونکی د دوه ګواهانو په مخکې او په مجلس کې د ناستو خلکو مخامخ د نابالغې جلۍ پلار ته ووایی چې تا خپل لور د دومره مهر په عوض کې د فلان سړی زوی ته په نکاح کی ورکړه؟ د نابالغی جلۍ پلار وویل هغه ما ورته په نکاح کی ورکړه، بیا د نابالغ هلک پلار ته ووایی چې تا د فلان سړی لور د خپل زوی لپاره په نکاح کی قبوله کړه؟ هغه ووېل چې هو ما قبول کړه، ایا دا قسم ایجاب او قبول سره نکاح صحیح ده او که نه؟

(خواب) : په مسئوله صورت کی نکاح منعقده شوی ده، د ایجاب او قبول همدا طریقه صحیح ده، د هلک او جلۍ پلاران وکیلان نه بلکی ولیان دي. فقط والله اعلم بالصواب.

سوال (ب) : د نکاح په رجسټر کی د جلی پلار دلور په ځای پخپله دستخط وکړي، یا د جلی پلار د ولی په تو ګه خپله ګوته ولګوي. نو دا کافي دی او که نه؟ د جلی او هلک دستخطونو ته ضرورت شته او که نه؟

خواب (ب) : په رجسټر کی چې د هلک او جلی نوم لیکل شوي وي او ولی په قلم باندې خپل خپل نومونه ولیکی نو د جلی او هلک دستخطونو ته ضرورت نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

سوال (ج) : که چیرته بالغ واده کوونکی نکحتها وقبلتها الفاظ ویلو سره قبول کړي نو دا صحیح دی او که نه؟

خواب (ج) : د دی ضرورت نشته د هغه له طرف نه د ولی قبلول کافي دی. فقط والله اعلم بالصواب.

سوال (د) : له نابالغی جلی څخه د رسمی اجازی غوښتلو ضرورت شته او که نه؟

خواب (د) : د اجازی ضرورت نشته او د هغې اجازه په هغه وخت څه اعتبار هم نه لري. فقط والله اعلم بالصواب.

که جلی د پلار د عزت په وجه هغه ته د نکاح اجازه ورکړه نو د دی څه حکم دی؟

(۲٦۵_ سوال) : عاقله او بالغه جلی د خپل پلار د عزت او احترام په وجه خپل پلار په خوله اجازه ورکړه. خو په زړه کی په دی واده خفه وه، نور خپلوان یی هم خفه وو، مګر د پلار د اصرار په وجه جلی د هغې د عزت او احترام په خاطر خپل واک هغه ته ورکړ چې له کوم ځوان سره زما نکاح کول غواړی. نکاح می دی کړي. هغه د نکاح په وخت کی هم په دی واده خفه وه او له واده نه وروسته هم خفه ده. ایا دا قسم نکاح جائزه ده؟

(خواب) : په مسئوله صورت کی که جلی په زړه کی که ډیره خفه وه مګر دا چې د پلار د لحاظ د ساتلو په خاطر د نکاح کولو اجازه ورکړیده نو نکاح یی صحیح ده. هغې

ته پکار دي چې له خپل خاوند سره ښه په خوشالی وخت تیر کړي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

که جلۍ د مور او پلار د خفګان باوجود پخپل کفو کی نکاح وکړي نو صحیح ده او که نه؟

(۲٦٦ـ سوال) : هلک او جلۍ دواړه بالغ او عاقل دي، پخپلوکی واده کول غواړي. هلک د جلۍ کفو دی، مګر د دواړه پلاران خفه او ناراضه دي، نو دغه دواړه پخپلو کی نکاح کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب) : په مسئوله صورت کی کله چې هلک او جلۍ دواړه بالغ دي خاندان، دینداري او کسب په لحاظ سره له هغوی نه کم نه وی نو د هغوی پلاران خفه وي او که خوشاله د دواړو نکاح صحیح دی، له څه شریعی دلیل نه بغیر باید د هغوی پلاران خفه نشي، د هغوی د نکاح اجازه باید ورکړي که نه ګنهګاریږي. په حدیث کی دي:

من ولد له ولد فليحسن اسمه وادبه فاذا بلغ فليزوجه فان بلغ و لم يزوجه فاصاب اثما فانما اثمه على ابيه.

یعنی چا کره چې ماشوم پیداشي نو هغه ته پکار دي چې ښه نوم وربانديې کیږدي. اوښه ادب ورته وښايی، او کله چې ځوان شي نو هغه ته دی واده وکړي که بلاعذره ورته واده ونکړه او هغه د ګناه مرتکب شو. نو د هغه دا ګناه د هغه په پلار باندې ده.(مشکواه شریف ص ۲۸ کتاب النکاح.)

همدغه راز محمد صلی الله علیه وسلم په یو بل حدیث کی فرمایی:

اذا خطب اليكم من ترضون دينه وخلقه فزوجوه ان لاتفعلوه و تكن فتنته فى الارض وفساد عريض.

---

[1] - ((ولا يجوز نكاح احد على بالغه صحيحه العقل من اب او سلطان بغير اذنها بكرا كانت او ثيبا فان فعل ذلك والنكاح موقوف على اجازتها فان اجازته جاز و ان ردته بطل كذا فى السراج الوهاج (فتاوى عالمگيرى الباب الرابع فى الاولياء ج ۱ ص ۲۸۷).

کله چې تاسوته هغه څوک د نکاح پیغام ورکړي چې د هغه دین او اخلاق ستاسې خوښ وي نو هغه ته خپل لور نکاح کړئ، که نه نو په زمکه کې به فتنه او فساد پیدا کیږي. (مشکواه شریف ص ۲٦۷ کتاب النکاح.)
خو که جلۍ له خپلې کفو نه باهر نکاح وکړي نو د ولی رضا ضروري ده، د هغه له رضانه بغیر نکاح یې نه صحیح کیږي.

فان حاصله ان المرأة اذ زوجت نفسها من کفو لزم علیٰ الاولیاء وان زوجت من غیر کفوء لایلزم ولایصح. (شامي ج ۲ ص ٤٤٦ باب الکفاء ته) فقط والله اعلم بالصواب.

که د نژدې ولی په موجودګي کې لرې ولي د صغیره جلۍ نکاح وکړي نو څه حکم یې دی؟

(٢٦٧_ سوال) : د یوې ماشومې پلار موجود دی، خو د هغې نکاح د هغه تره وکړه حال دا چې د جلۍ پلار په دې نکاح باندې رضا نه دی، نه له نکاح نه مخکې خوشاله و او نه وروسته. ایا دغه نکاح صحیح ده او که نه؟ په دې صورت کې پلار خپل لور بل چاته په نکاح ورکولي شي او که نه؟
(۲) : که د پلار په موجودګی کې د جلۍ مور خپل وړه لور چاته په نکاح ورکړي نو د دې څه حکم دی؟ بینواتوجروا.
(ځواب) : که چیرته پلار عاقل پوه او د ولایت اهل وي نو د هغه په موجودګی کې د صغیره جلۍ نکاح بل څوک وکړي. نو د هغې نکاح د پلار اجازې پورې موقوف دی. که هغه اجازه ورکړي نو نکاح یې کیږي او که اجازه ورنکړي نو نه کیږي. په در مختار کې دي: فلوزوج الا بعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته. (در مختار ج ۲ ص ۴۴۲ باب الولي.)
په فتاوای عالمګیري کې دي:
و ان زوج الصغیر او الصغیره ابعد الاولیاء فان کان الاقرب حاضراً وهو من اهل الولایة توقف نکاح الا بعد علی اجازته و ان لم یکن من اهل الولایه بان کان صغیراً

او کبیراً مجنوناً جاز .... الخ (فتاوی عالمگیری ص ۱۲ ج ۲ کتاب النکاح الباب الرابع فی الاولیاء).

په مسئوله صورت کی که د نابالغی جلی پلار د ولایت اهلیت لري، یعنی له عاقل، بالغ او هوښیار وي، مجنون او کم عقل نه وي نو د هغه په موجودګی کی د هغه تره نکاح نه صحیح کیږي. پلار یې کولی شي چې د خپل لور نکاح له بل چا سره وتړي. په امدادالفتاوی کی دي:

(سوال) : هنده نابالغه جلی ده که د هغې د ولي په موجودګی کی د هغې نکاح بل چا وکړه نو دا نکاح مردوده ده اوکه مطرود؟

(خواب) : دا نکاح موقوف او معلق ده کـه ولي تـه خبر ورسید او هغه د دی اجازه ورکړه نو نافذه او جائزه ده. او که اجازه یې ورنکړه نو ناجائزه ده. (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۲۳۲ مطبوعه دیوبند).

(۲) : که د پلار په موجودګي کی مور د خپلې وړی لور نکاح له چا سره وتړی نو دا نکاح هم د هغې د پلار اجازی پورې موقوفه ده که پلاریې اجازه ورکړی نو صحیح ده او که ورنکړي نو صحیح او جائزه نه ده.

په امداد الفتاوی کی دي: د پلار په موجودګي کی مور ولی نشـی کیدلی نو ځکه د هغه له طرف نه تړل شوی نکاح موقوف او معلقه ده، کله چې د جلی پلار وویل چې دا نکاح ماته منظوره نه ده نو هغه نکاح باطله شوه. (امداد الفتاوی ص ۱۹۷ ج ۲ مطبوعه دیو بند). فقط والله اعلم بالصواب.

د جلی له رضانه بغیر نکاح لپاره د هغې مجبورول.

(۲۶۸ـ سوال) : زید د خپلې لور چې بالغه ده په یو ځای کی د نکاج کولو اراده کړی وه. کله چې هغې ته معلوم شو نو فوراً انکاری وکړ او ویې ویل چې زه هلته هرګز واده نه کوم، هغه زما بالکل نه دی. خوښ هغه ډیر خراب سړی دی، بی دینه او نـالائق دی، زه ورسره ګوزاره نشم کولی.

زید د خپل لور خبرې ته اهمیت ورنکړ او په وهلو ټکولو د هغې کوژدن له همغه هلک سره وکړه، له کوژدن نه وروسته هم جلی مسلسل له واده نه انکار کـوي، پـه دي ضـمن کی یوه بله رشته راغله، هلک لمونځ ګذار او دیندار دی، جلی له دغه هلـک سـره واده کولو ته رضا او خوشاله ده، لیکن د جلی پلار وایی چې ما په کوم ځای کی ستا کـوژدن

کړی د. ه همغه هلک سره به واده کوی، تاسی ووائي چې په دی باره کی شریعت څه وايي، مهرباني وکړئ خواب راکړئ، بینوا توجروا.

(خواب) : کومه جلی چې بالغه وي، په هغې دهیڅا اجباري ولایت خونشته. یعنی پلار او نور خپلوان د هغې نکاح جبراً او زبردستی له چا سره نشي تړلی.

بالغه جلی د خپل نفس پخپله ولي او اختیار منه وي.

په در مختار کې دي:

((ولا تجبر البالغة البكر على النكاح) لا نقطاع الولاية ، و فی الشامی (قولــه ولا تجبر البالغه) ولا الحر البالغ (در مختار و شامی ج ۲ ص ۴۱۰).

یعنی بالغه جلی دهغې له خوښې نه بغیر نکاح ته نشي مجبورولي، د هغه پلار نیکه او نور خپلوان یې په هغې د ولایت حق نه لري، همه غه راز آزاد او بالغ هم له چاسره د نکاح کولو لپاره نشي مجبور ولی.(در مختار و شامی ج۲ص ۴۱۰ باب الولي.)

الاختیار لتعلیل المختار کې دي :

(ولا اجبار على البكرالبالغه فی النكاح.) (الاختیار ج۳ص ۹۲).

که چیر ته په مسٔوله صورت که په سوال کې لیکل شوي خبرې صحیح وي نو د هغه پلار ته پکار دي چې په خپل لور زور او زبردستی ونکړي، دا د ټول عمر مسٔله ده، ښه په فکر او غور سره دی د جلی په مشوره د هغې نکاح وکړي شي، که چیرته د هغې له خوښی نه بغیر نکاح یې وکړی شوه او خدا ناخواسته د ښځې او خاوند ترمنځ جوړښت رانشي نو هره ورځ به جنګ او جګړی وي، د طلاق او جدائی نوبت هم راتلی شي.

لهذا د هغه پلار ته پکار دي چې خپل ضد پریږدي او د هغه پرځای دیندار او لمونځ ګوزار هلک ته دی واده کړي ځکه چې په حدیث کې دي :

اذا خطب اليكم من ترضون دينه و حلقه فزوجوه ان لا تفعلوه تكن فتنه فی الارض و فساد عريض (مشكوه شريف ص ۲٦۷ كتاب النكاح).

یعنی کله چې تاسې ته داسې شخص د نکاح پیغام درکړي چې د هغه دین او اخلاق ستاسې خوښ وي نو خپل لور هغه ته په نکاح کړي. که داسې ونکړئ نو په زمکه به فتنه او لوی فساد جوړ شي. (مشکواه شریف ص ۲٦۷ کتاب النکاح).

زمانه ډیره ازاده شوي ده، مور او پلار ته پکار دي چې پخپل اولاد بې ځای زور او زبردستی ونکړی، کله کله دزیات سختی په وجه جلی له کور نه تښتی او د دی غټ او

د نه زغملو وړ نتائج مخې ته راځي،لهذا که د جلۍ خبره صحيح وي نــو د هغــې خبره دې ومنل شي.
مناسبه خبره داده چې له مخکې نه د هغې رای معلوم کړی شي، خو که جلۍ په غلطه وي او نا تجربه توب په وجه غلط رای قائم کړی وي نو په دلائلو او خوږو خبرو دې پوه کړی شي، اولاد ته هم پکار دي چې د خپل مور او پلار عزت او احتـرام وکـړي، مـور او پلار هميشه د خپل اولاد خير غواړي، که مور او پلار د خپل لور نکاح لـه دينـدار، متقـي او اخلاقي ځوان سره کول غواړي نو بايد د هغوی اطاعت وکړي شي، هغوی بايد خفه نه کړي شي، د دی به ډيری ښې نتيجې اوځي (انشاءالله).
(۲) دا چې جلۍ پخپله خوښه له چاسره نکاح وکړی نو د دی به څه حکم وي؟
په دی باره که په فتاوای رحيميـه کـې دي چـې کلـه هلـک او جلـۍ دواړه بـالغ وی، خاندان، ديندار وي او د پيشې په لحاظ سره هلک له هغوی نه کم نه وی نو کـه مـور او پلار ورباندې خوشاله وي يا نه وي د دواړو نکاح صحيح ده، له څه شرعی عذر نـه پرتـه بايد مور او پلار خفه نشي. خو که جلۍ له خپلې کفوی نه باهر نکاح وکړي نو د هغـې د ولي رضا شرط دی، د هغه له رضا نه پرته يې نکاح نه کيږي. په شامي کې دي .
فان حاصله ان المرأة اذا زوجت نفسها من كفوء لزم على الا ولياء و ان زوجت من غير كفوٍ لا يلزم او لا يصح (شامی ج ۲ ص ٤٣٢ باب الكفـــاء بحوالـــه فتـــاوی رحيميه ص ٢٢٤ ج ٨) فقط والله اعلم بالصواب.) (شامي ج ۲ص ٤٦٢ بـــاب الكفائه.)

د ولي له اجازی نه بغير له کفوی نه باهر نکاح نه صحيح کيږي :

(٢٦٨ ـ سوال): هلک او جلۍ دواړه عاقل بالغ سنی او حنفي دي، جلـۍ دسـيدانو لـه کورنۍ څخه ده او هلک سيد نه دی. دواړه غـواړي چـې پخپلـوکې واده وکـړي، مګر جلۍ په ښکاره دا شرط لګوي چې زما د مور او پلار رضا ضـروري دی، لدينـه بغير واده نشم کولې، هلک ډير کوشش وکړ چې د هغه مور او پلار رضا کړي مګـر هغـوی رضـا نـه شول.
يوه روځ هلک د خپلو دوستانو په کور کې ملا را وغوښت او دوستانو په مخکې لـه هغـې سره نکاح وتړله. کله چې دهغې مور او پلار خبر شول نو هغوی دا نکـاح مسـترده کـړه

ایا دا نکاح شرعاً صحیح ده او که نه ؟ که صحیح وي نو د هغې مور پلار دا نکاح نسخ کولي شي او که نه ؟ بینوا توجروا.

(خواب): په مسئوله صورت کې د عدم کفو په وجه نکاح اصلاً نه ده شوي لهذا د نسخ کولو ضرورت یې هم نشته. په در مختار کې دي :

((و یفتی) فی غیر الکفء (بعدم جوازه اصلاً) وهو المختار للفتوی لفساد الزمان (قوله وهو المختار للفتوی) و قال شمس الائمه و هذا اقرب الی الاحتیاط کذا فی تصحیح العلامه قاسم ..... الخ (در مختار و شامی ص ۴۰۸ - ۴۰۹ جلد نمبر ۲ ، باب الولی).

په الحلیه الناجزه کې دي : لومړی صورت دادی چې بالغه جلۍ د عصبه د اولیاو له اجازی نه پرته له خپلې کفو نه علاوه له بل چاسره واده وکړي نو په دی صورت که فتوی داده چې نکاح یې نه صحیح کیږي ځکه چې له نکاح نه مخکې اجازه شرط دی، نو ځکه پر ښځه لازم دی چې کله هم داسې ونکړی او که داسې وکړی نو د نکاح دنه صحیح کیدو په وجه همیشه ګنهګاریږي.

(کما فی تنویر الابصار نفذ نکاح حرة مکلفة بلا ولی وله اذا کان عصبه ولو غیر محرم کابن عم فی الاصح والام والقاضي الاعتراض فی غیر الکفوْ ما لم تلد ، ویفتی بعدم جوازه اصلاًه و ایده صاحب الدر بقوله وهو المختار للفتوی والعلامه الشامی وغیره بقول شمس الا ئمه و هذا اقرب الی الاحتیاط (الحیله الناجره ص ۸٤ خیار کفاء ت).

په فتاوای دارالعلوم کې دي :

(سوال) زید خپل ځان شریف خاندان ته منسوب کړ او د سیدی کورنۍ جلۍ هندی سره یې د ولي له وکالت نه بغیر نکاح وکړه، ایا په دی صورت که نکاح نسخ کیدلی شي او که نه ؟

(خواب) په در مختار کې دي :

(و یفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهو المختار لفساد الزمان ..... الخ (فتاوی دارالعلوم مدلل و مکمل ص ۲۰۹ - ۲۱۰ ج ۸) فقط والله اعلم بالصواب.)

د دی حاصل دا دی چې که چیرته یوه بالغه جلۍ له خپل کفو نه باهر د ولي له اجازی او رضا نه بغیر نکاح وکړي نو نکاح یې نه کیږي نو کله چې نکاح یې نه ده منعقده

... نو د نسخ ضرورت نشته . (فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ص ۲۰۹ _ ۲۱۰ ج ۸)
فقط والله اعلم بالصواب .

د قرآنكريم حافظې جلۍ سره د غير حافظ هلک واده :

(۲۶۹ سوال): ايا داسې يو ځوان چې د قرانكريم حافظ نه وي له حافظې جلۍ سره نکاح کولي شي او که نه ؟ زمو نږ په علاقه کې يو سړی وايي چې په قران کريم باندې د بل څيز اېښودل جائز نه دی لهذا نکاح يې نه شي کيدلي. مهرباني وکړئ تاسې د دی ځواب را کړئ .

ځواب): کله چې هلک ديندار، متشرع او متقي وي نو د قران کريم حافظې جلۍ سره نکاح کولی شي، د عدم جواز هيڅ وجه نشته، د جلۍ حفظ او دينداري په وجـه د هغـه په مرتبه کې زياتوالی راځي، د قران کريم د حفظ په وجه به د هغې احترام هـم کـوي، ليکن د دی مطلب دا نه دی چې ورسره نکاح جائز نشي او ښځه پر سړي حاکمه شي او د (الرجال قوامون على النساء) حکم تبديل شي.
په سوال کې چې کوم دليل ويل شوی دی هغه په داسې صورت کې دی چې قـران کريم په محسوس شکل کې وي، نو په دی وخت په قران کريم باندې بل کوم کتـاب يـا بل څيز اېښودل جائز نه دی، خو په مسئوله صورت کې دا خبره نه ده که نه نـو بيـا خـو دغې جلۍ ته بيت الخلا ته تلل او استنجا کول هم جائز نه دی، ځکه چې بيـت الخـلا ته د قران کريم وړل او د قران کريم په وړاندې ځپل سترښکاره کول لازميـږي، حـال دا چې هيڅوک دا نه مني، او بلا تکلف ورته دا شيان جائز دي. فقط والله اعلم بالصواب .

که چيرته قاضي د عاقلې او بالغې جلۍ له پلارنه پوښنـه وکـړي او د هغو نکاح و تړی نو دا نکاح صحيح ده او که نه ؟

(۲۷۰ سوال): د دين علماء او د شريعت مفتيان په دی لا ندينۍ مسئله کـې څـه وايي چې زيد د خپلې عاقلې او بالغې لور نکاح له بکر سره وکړی، د نکاح تړلو پـه وخـت پـه مجلس که قاضي صاحب د هغې له پلار زيد څخه له پـوښتنې نـه وروسـته نکـاح وتړلـه، هيڅ وکيل او ګواه نه و او نه هم له چا نه پوښتنې وکړی شوی. نو پـه دی صـورت کـې نکاح وشوه او که نه ؟ بينوا توجروا.

ځواب): حامداً ومصلياً و مسلماً . کله چې پلار لـه خپـل لورنـه اجـازه اخسـتې وی او قاضي ته د نکاح تړلو ووايي او قاضي د مسلمانانو پـه وړانـدې نکـاح وتـړي نـو نکـاح

صحیح او منعقده ده. خو کې جلی د خپلې نکاح خبر واوري او انکار وکړي چې ما ته دا نکاح منظوره نه ده او ما اجازه نه وه ورکړې نو نکاح يې نه صحيح کيږي.[1] فقط
والله اعلم بالصواب.

[1]- (ولا يجوز نكاح احد على بالغه صحيحه العقل من اب او سلطان بغير اذنها بكرا كانت او ثيبا فان فعل ذلك فالنكاح موقوف على اجازتها فان اجازته جازو ان ردته بطل كذا فى السراج الوهاج (فتاوى عالمگيرى، البـــاب الرابع فى الاولياء ج ١ ص ٢٨٧).

باب المهر والجهاز

له خلوت نه مخکې طلاق یا د مرګ په صورت کې مهر:

(۲۷۱ سوال) د جلۍ واده شوی ده لیکن خپل خاوندخواته نه ده رسیدلي چې هغه مړ شو. یا هغه ورته طلاق ورکړ. په دواړو صورتونو کې ورسره.صحبت نه دی شوی نو آیا پـه دی صورت کې ښځه د مهر مستحقه ده او که نه ؟

(خواب): هو! د خاوند له مړ کیدونه وروسته هغه دټول مهر حقـداره ده او د طـلاق پـه صورت کې د نیمایی مهر حقداره ده.[1]

د مهر په عوض کې چې د ښځې په نوم کوم څیزونه ولیکل شي د هغه مالک څوک دی ؟

(۲۷۲_ سوال): زید د نکاح په وخت کی خپلې ښځې ته سره زر او خپل کور د مهـر پـه عوض کې ورکړ او د نکاح په دفتر کې دواړه یې د مهر په عوض کـې ولیکـل چـې اوس هم د نکاح په دفتر کې لیکل شوی موجود دی. اوس د هغه خاوند او کورنی یـې دغـه کور ښځې ته نه ورکوي، ښځه پریشانه ده. ایا په مذکوره صورت کـې ښځـه د سـروزرو او کور شرعاً حقداره ده او که نه ؟

(خواب): کله چې نکاح په وقت کې زید او د هغه پلار پخپل رضا د شرعي ګواهـانو پـه موجودګی کې سره زر او کور د مهر په عوض کې لیکلـی دی نـو د هغـوی مالکـه اوس ښځه ده ورته نه ورکول د هغې حق تلفی او ظلم دی. والله اعلم بالصواب.

له خلوت صحیح نه وړاندې د طلاق ورکولو په صورت کې مهـر لازم دی او که نه ؟

(۲۷۳_ سوال): دیوی عاقلی او بالغی جلۍ نکاح شـوې خـو لـه خپـل کـور نـه نـه ده رخصته شوي جلۍ د طلاق غوښتنه کـوي، کـه ورتـه طـلاق ورکـړی شـي نـو مهـر یـې لازمیږی او که نه؟ همه غه را د عدت خرچ به هم ورته ورکوي او که نه؟ بینوا توجرو.

---

[1] ((والمهر يتاكد باحد ثلاثة الدخول والخلوة الصحيحه و موت احد الزوجين (فتاوى عالمگيرى الفصل الثانى يتاكد به المهر و المتعه ج ۱ ص ۳۰۳).

(ځواب): که ښځې ته له کور نه رخصتولو نه مخکې طلاق ورکړی شي نو هغـه د نصف مهر حقداره ده، هغې لپاره نه عدت شته او نه هم نان او نفقه، او که چیرتـه جلـی د مهـر په عوض کې د طلاق مطالبه وکـړي او هلـک یـې قبـول کـړي نـو جلـی لـه نکـاح نـه خارجیږي او مهر یې ساقطیږي دیته په شریعت کې خلع ویل کیږي.

و یجب نصفه بطلاق قبل وطی و خلوة (قوله و یجب نصـــفه) ای نصـــف المهـــر المذکور (درمختار مع الشامی ج ۲ ص ٤٥٦ باب المهر) فقط والله اعلم بالصواب.)

(قوله ویجب نصفه)

در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۴۰٦ باب المهر) فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته د ښځې له مړکیدونه وروسته د هغې مور پلار د هغـې مهر معاف کړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۲۷۴ـ سوال): زمونږ په ښار کې دا عرف ګرځیدلی دی چې د واده په وخت کې چې کوم مهر مؤجل مقرریږي هغه ناوی د مړکیدونه وروسته د هغې مور پلار معافوي، لدې نـه ناوی هم ښه خبره وي.

(الف) ایا د مور او پلار له طرف نه په معافولو سره معافیږي ؟

(ب) که نه معافیږي نو بیا د ناوی له مړکیدونه وروسته به د ادا کولو صورت څنګـه وي؟ بینوا توجروا

(ځواب): مهر مؤجل د ښځې قرض دی اوس د هغې له مړکیدونه وروسـته د هغـې ورثـا چې په هغوی کې د هغه خاوند هم شامل دی حقدار دي،کـه چیرتـه مـور او پـلار یـې حصه نه آخلی نو بل چاته هبه کولی شي، یواځې دا کافی نه دی چې مونږ معاف کړ.

(نوټ) که د ښځې اولاد وي نو خاوند ته یې څلورمه حصه که نه نـو نیمـه حصـه ورتـه رسیږي.

بدکاره ښځه د مهر حقداره ده او که نه ؟

(۲۷۵ـ سوال): یو سړي وایی چې ما پخپلو سترګو خپله ښځه پـه زنـا کـې لیـدلی ده او هنوی دواړو د جرم اعتراف هم کړی دی، نو څکه خاوند خپلې ښځه ته طـلاق ورکـړی دی، ښځه زنا کاره ده ایا هغه د مهر د ترلاسه کولو حقداره ده او کـه نـه؟ همدغـه راز د عدت خرچې ور باندې ده او که نه ؟ بینوا توجروا.

(خواب): کله چې ښځه بد کاره او نافرمانه وي نو عدت د خرچې حقداره نـه ده البتـه دمهر حقداره ده، په مسئوله صورت کې مهر یې نه ساقطیږي. والله اعلم بالصواب.

که له کورنه د رخصتولو نه وړا ندی طلاق ورکړی نو مهر ور باندې لازم دی او که نه ؟ او داسې ښځې سره دوباره نکاح کول څنګه دی ؟

(۲۷٦ ـ سوال): د زید واده تیار شوه مګر د واده په شپه جلی له کور نه وتښتیدلـه، کله چې دا خبر زید ته ورسید نو هغه د واده ګواهانو په وړانـدې داسـې وویـل مـا هغـه تـه طلاق ورکړ، طلاق ورکړ، طلاق ورکړ، اوس سوال دا دی چې زید دی مهر ورکړی او کـه نه؟ او که زید دوباره له هغې سره واده کول وغواړي نو د هغه صورت به حـ وي؟ نکاح یې کیدلی شي او که نه؟ عدت لازم دی او که نه ؟ بینوا توجروا.

(خواب): نیم مهر به ورکوي.

(و ان طلقها قبل الدخول والخلوه فلها نصف المسمی لقوله تعالی و ان طلقتمـــوهن من قبل ان تمسوهن (هدایه اولین ص ۳۰٤ باب المهر).

(۲) کله چې له خلوت نه مخکې خاوند یې دری کرته دا الفاظ ویلي دي چې ما هغې ته طلاق ورکړی نو په لو مړی طلاق سره ښځه د هغه له نکاح نه ووتله، هغې لپاره عـدت هم نشته،لهذا دویم او دریم طلاق نه واقع کیږي د دواړو په رضا او خوشی سـره دوبـاره نکاح یې کیدلي شي. او که دا لفظ یې ویلی وي چې مادری طلاقه ورکړی دي نو دری طلاقه واقع کیږي، له شرعي حلالی نه پرته نکاح یې نه صحیح کیـږي. پـه هدایـه کـې دي:

و اذا طلق الرجل امراته ثلثا قبل الدخول بها وقعن علیها فان فرق الطلاق بانت بـــالا ولی و لم تقع الثانیه و الثالثه و ذلك مثل او یقول انت طالق طالق طالق لان کل واحد ایقاع علی حده اذلم یذکر فی آخر کلامه ما یغیر صدره حتی یتوقف علیه فتقـــع الا ولی الحال فتصادفها الثانیه وهی مبانة (هدایه اولین ص ۳۵۱ فصل فی الطلاق قبـــل الدخول) فقط والله اعلم بالصواب . ۱۸ شوال المکرم ۱٤۰۲ ه .

که خلوت صحیح نه وروسته طلاق ورکړي نـو مهـر او عـدت ور باندې لازم دی او که نه ؟

(۲۷۷_ سوال): ناوی له کور نه رخصته شوه او له خپل خاوند سره یـې خلـوت صـحیح هم وشو مګر له هم بستری کیدونه مخکې په څه وجه خپلې ښځې ته طلاق ورکړ. ایـا پـه داسې صورت کې مهر او عدت ورباندې لازمیږي او که نه ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): کله چې خلوت صحیح شوي وي نو جماع یـې کـړې وي یـا نـه، پـوره مهـر وزباندې واجبیږي او عدت هم ورباندې لازم دی.[1] فقط والله اعلم بالصواب

فاطمی مهر څه ته وایی او د دی مقدار څومره دی ؟

(۲۷۸ _سوال): فاطمی مهر څه ته وایی او د دی مقدار څـومره دی، د وزن پـه لحـاظ سره څومره تولې کیږي، او که پیسې مقررول غواړي نو څومره رو پۍدی مقرر کـړي ؟ او که چیرته باهر ملک کې پوند، ډالر وغیره مقررول غواړي نو څومره دی مقرر کړي. خلـک وایی چې ۱۲۷ نیمی رو پۍ فاطمی مهر دی. ایا دا خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا.

(ځواب): محمد صـلی الله علیـه وسـلم خپـل لـور سیدالنسـاء حضـرت فاطمـه الزهـرا رضی‌الله عنها چې کوم مهر مقرر کړی و هغه ته فاطمی مهر ویل کیږي، هغـه څلـور سـوه مثقاله سپین زر و. (مظاهر حق ج ۳ ص ۱۴۵ کتاب النکاح باب الصداق).

په هغه زمانه کې به روپۍ (سکه) د سپینو زرونه وه او وزن به یې تقریباً یوه تو لـه کیدلـه نو ځکه یو نیم سل تولې (روپۍ) شوی.

د حضرت مولانا مفتی محمود حسن صاحب ګنګوهي فتوی:

(سوال): د حضرت فاطمی مهر څومره وه چې مهر فاطمی ورته ویل کیږي؟

(جواب) ۴۰۰ مثقاله چې زمونږ په حساب سره یو نیم سل تولې سـپین زر دی. (ماهنامـه نظام جولاي ۱۹٦۵ع مطابق ربیع الاول ۱۳۸۰ھ ص ۴۰ باب الاستفار).

حضرت مولانا سید احمد رضا صاحب بجنوري مدظلله فرمایی :

---

[1] - ((والخلوة مبتدء خبره قوله الآتی کالوطء بلا مانع حسی کمرض لاحدهما یمنع الوط وطبعی کوجود ثالـث ...... و شرعی کاحرام الفرض او نفل .... الخ (در مختار مع الشامی باب المهر مطلب فی احکام الخلـوه ج ۲ ص ٤٦٥.)

د مهر فاطمی مقدار څلور سوه مثقاله نقل شوی دی، مثقال، څلور نیمی ماشی وي.لهذا ټول وزن ۱۵۰ تولی شو. (انوار لباري شرح صحیح بخاري اردو ج ۴ ص ٦١).

حضرت مولانا صدیق احمد باندوي وایی:

د حضرت فاطمې رضی الله عنها مهر یو نیم سل تولی سپین زر و.(فضائل نکـاح ص ۳۱ مطبوعه مکتبه رحمانیه هتهوړه ضلع بانده.)

حضرت مولانا محمد برهان الدین استاد دار العلوم ندوه العلماء لکهنو لیکي :

د حضرت فاطمې د مهر صحیح مقدار څلور سوه مثقاله سپین زر و چې د وزن پـه حساب ۱۵۰ تولی کیږي . (معاشرتی مسائل دین فطرت کې روشـنی مـین ۵۳ ، مطبوعـه مجلس تحقیقات ونشریات اسلام لکهنو).

د فاطمې مهر د تولي په هکله نور اقوال هم شته، لکه چې مولانا محمـد شـفیع صـاحب لیکې :

مهر فاطمی چې د هغه مقدار منقول =۵۰۰= درهمه ده لکه چـې پـه عـامو روایـاتو کـې راغلی دی. د تولی په حساب یو سلو یو دیرش تولي اودری ماشي کیږي. (اوزان شرعیه ص ۱۰ جواهرالفقه ج ۱ ص ۴۲۴).

د نوموړی یوه بله فتوه داده :

د فاطمې مهر مقدار پنځه سوه درهمه وه چې داوسنی وخت د تولې په حسـاب سـره یـو سلو پنځه څلو ینبت تولی او لس ماشی کیږي.

فتاوای دارالعلوم امداد المفتین ج ۳_ ۴ ص ۲۰۱ خیرالامور فی مقدار المهـور. مطبوعـه کتب خانه امدادیه دیو بند.

دا دری اقواله دي پدې باندې چې په هر یو عمل کول غواړي کولی شي. مګر احتیاط په دی کې دی چې یو سلو پنځوس توله سپین زر مقرر کړي شي او د نن سبا د تـولی پـه لحاظ سره یوه توله: ۱۱ ګرام او ٦٦۴ ملی ګرام کیږي. د دی کسـر پـوره کولـو سـره دی ۱۷۵۰ ګرام حساب کړی شي.

که چیرته په مهر کې ۱۵۰ توله سپین زر یا د نن سبا په حساب سره (۱۷۵۰) ګرامـه سـپین زر مقرر کړی شي نو دا بهتر او غوره ده، او که په مهر کې پیسې مقرروي نو څرنګـه چـې د سپینوزرو قیمت په بازار کې کمیږي زیاتیږي نولهذا په کوم ورځ چې مقرر کړی شي نو په هغه ورځ چې په بازار کې د سپینوزرو کوم قیمت دی په هغه حسـاب سـره دی پیسې

مقرر کړي ترڅو د ادا کولو په وخت کې جنجال پیدانشـي دهـر ملک د پیسـو همـدې حکم دی.

(نوټ) که چیرته د سپینو زرو په حساب سره روپۍ مقرر کړی وي نـو سمدلاسـه یـې مهـر ادا کوي او یا وروسته یې ادا کوي نو همدغه مقرر شوي پیسې دی ورکړي. او که چیرته ۱۵۰ توله سپین زر مقرر کړی وي نو کوم وخت چی مهر اداکوي نو یاد۱۵۰ تـولی سـپین زر ورکړي اویا هم دهغه قیمت ورته ورکړي.

یو سل او اووه ویشت نیمی روپۍ فاطمی گڼل صحیح نه دی، غالباً په یوه زمانه کـې بـه ۱۵۰ توله سپین زر همدومره روپۍ کیدلي، خونن سبا په هیڅ صورت کې دومره نه کیږي.

دنکاح پیغام د ورکولو په وخت کې د جلۍ له طرف نه د جهیـز پـه نوم پیسې غواړي، که چیرته د دغه رسم د ختمولو په نیـت د پیسـو پرځای فاطمی مهر پیشګی ورکړی شی نو دا به ښه وي ؟

(۲۷۹_ سوال) زمونږ په علاقه کې دا رواج دی چې کله د هلک له طـرف نـه چـا تـه د نکاح پیغام ورکړی شي نو د جلۍ د کورنۍ له طرف نه د جهیز په نوم پیسې غـواړي، پـه دغو پیسو جلۍ لپاره لباس او نور ضروری شیان آخلي، او دغه پیسـې هـر کـال زیاتیـږي، لدینه بغیر د نکاح پیغام څوک نه مني، د دغه رسم په وجه زیات هلکـان او جنوکیـان لـه واده نه پاتی کیږي، ځکه چې ډیر خلک د دومره پیسو ورکولو طاقت نه لري.

په شریعت کې د جلۍ له طرف نه د پیسو د غوستلو رواج ښه دی ؟ په دغه رسـم کـې ډیری زیاتی پیسې لګول کیږي، مګر مهر ډیر کم مقرروي، زمونږ په ذهـن کـې دا سـوال پیدا شوي چې فاطمی مهر سنت تقریباً متروک دي، د رسم او رواج په توګه چـې کـومی پیسې ورکول کیږي د هغه پرځای دی فاطمی مهر د نکاح نه مخکـې جلـۍ تـه ورکـړی شي نو د دی قوی امکان شته چې د جهیز په نوم د پیسـو ورکولـو رسـم خـتم شـي اود فاطمی مهر سنت ژوندی شي.

اوس پو ښتنه دا ده چې د فاطمی مهر له نکاح نه مخکې ورکـول ښکـه دی، مهربـاني وکړئ خواب را کړئ. (کو سمبا ضلع سوات)

(ځواب): ستا سوال په لو ستلو سره زه ډیر خفه او غمګین شوم، د جهیز په نوم چې کوم سودا بازی کیږي دا ډیر بد او قبیح کار دی، پـه شـریعت کـې د دی رواج هـیڅ ځـای

نشه او دا عمل غير اسلامي كار دي. په حديث كې دي چې لـه ټولـو نـه زياتـه بركتي نكاح هغه ده چې په هغه كې خرڅې كم وي.

عن عائشه رضى الله تعالى عنها قالت قال رسول الله صلى الله تعالى عليه وآله وسلم ان اعظم النكاح بركة ايسرة مؤنه (مشكوة شريف ص ۲٦٨ كتاب النكاح).

ښكار دي چې په ټولو كليو كې د دې په خلاف قدمونه او چت كـړى شـي او خلكوتـه د سـنت په مطابق د نكاح كولو ترغيب وركړى شي. نن سبا د غلط مـاحول او بـې حيـائى زمانه ده، پـه هـر كـور كـې تلـويزون موجـود دى، دبـې سـترى دوران دى، هلكـان او جنوكيانى ښه ښكاره له يو بل سره خبرې اترې كـوي، پـه دې نازكـه زمانـه كـې د زنـا اسباب ډير زيات موجود دي كه چيرته په نكاح كې دا قسم غلط رواجونه جـاري وي نـو زنا كاري به نور هم زيات شي. په دنيا كې به لويه فتنه وي او ډيـر هلكـان او جنوكيـانى به له شرعى نكاخ نه پاتې او محروم شي.

د نكاح په وخت كې د جلۍ يا د هلك له طرف نه له مهر نـه عـلاوه د بـل څيـز مطالبـه كول او آخستل رشوت دى او په شريعت كې دا حرام دى . په در مختار كې دي :

(اخذ اهل المرأة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده) لانه رشوة (قوله عند التسليم) اى بان ابى ان يسلمها اخوها او نحوه حتى ياخذ شيئاً و كـذالو ابى ان يزوجهـا فللزوج الاسترداد قائما او هالكاً لانه رشوة بزازيه (شامى ج ۲ ص ۵۰۳ بـاب المهر).

دنكاح په وخت كې شرعاً په خاوند باندې مهر لازميـږي، د مهـر لـږ نـه لـږ مقـدار سـل دراهمه تقريبا دوه توله يولس ماشې سپين زر دى .

كه څوك مالدار وي نو فاطمي مهر دى ورته مقرر كړى شي، محمد صلى الله عليه وسـلم د خپل لور حضرت فاطمه الزهراء رضى الله عنها چې كوم مهر مقرركړى ده هغه فـاطمى مهر دى، د هغه مقدار څلور سوه مثقاله سپين زر او يو مثقال څلور نيمى ماشـه وي،لهـذا څلور سوه مثقاله سپين زر يو سلو پنځوس تولې شو.

د نورو پاكو لورګانو او پاكو بيبيانو مهر هم همدومره و. خود حضرت ام حبيبه مهـر لدينـه مستثنى ده . خو افسوس چې دا سنت تقريباً متروک شوى دى. په رسـم او رواج كـې پـه زرګونو پيسې فضول لګولى شي مګر مهر چې په حقيقت كې دا د سحې اصـل حـق دى د خلكو توجه ورته نشته. د توان لرلو باوجود بياهم د كم مهر مقررولو كوشش كـوي. كـه

چیرته له نکاح نه مخکې مهر ورکړی شي او د جلۍ کورنۍ دا منې نوله نکاح نه مخکې هم مهر ورکول کیدای شي.

د درمختار او شامي له عبار تونو څخه دا مفهوم تر لاسه کیږي. په در مختار کې دي:

(خطب بنت رجل و بعث الیها اشیاء و لم یزوجها ابوها فما بعث للمهر یسترد عینه قائماً) فقط و ان تغیر بالاستعمال (او قیمته هالکا) لانه معاوضة و لم تتم فجاز الاستر داد .... الخ (قوله فما بعث للمهر) ای مما اتفقا علی انه من المهر (شامی ج ۲ ص ۵۰۱ باب المهر مطلب فیما یرسله الی الزوجه).

په غایة الاوطار کې دي:

یو هلک د یو سړي له لور سره کوژدن وکړ او هلک د جلۍ لپاره خو څیزونه ولیږل، مګر د جلۍ پلار د خپل لور نکاح له هغې سره ونکړه، نو د مهر په نوم چې کوم څیزونه لیږلی دي نه دی هغه واپس واخلي نه د هغوی قیمت، اګر چې هغه څیزونه خراب شوي وي. او که هغه څیزونه موجود نه وي نو قیمت دی واپس واخلي، دا حکم واپس واخلي چې دا بدله وه او پوره نه شوه. (غایت الاوطار ص ۵۹ ج ۲).

په مسئوله صورت کې چې تا د فاطمې مهر د پیشګۍ ورکولو کومه رای لیکلی ده په هغه عمل کیدلی شي، خود جهیز په نوم چې کوم شیان اخستلی کیږي هغه بالکل غلط رواج او ظاهراً رشوت دی، لدینه ستا رای په خو چنده بهتره ده. پر مسلمانانو لازم دی چې د دغه غلط رواج د ختمولو لپاره عملی قدمونه او چټ کړي او هر چیرته د معاشرې د اصلاح کوشش وکړي. فقط والله اعلم بالصواب.

که احتیاطاً د تجدید ایمان او تجدید نکاح حکم شوی وي هلته د مهر تجدید ته ضرورت نشته.

(۲۸۰_ سوال): (الف) د کفر په کومو الفاظو چې مفتیانو د تجدید نکاح حکم ورکړی وي، په دی د مهر تجدید هم ضروري دی او که سابقه مهر کافي دی؟

(ب) په دی کې ښځې ته پوره حق حاصل دی یا له همدغه خاوند سره یې نکاح ضروری ده؟

(ج) که له همدې سره نکاح یې ضروري نه ده نو له عدت نه وروسته له بل سړی سره واده کوي شي او که نه ؟

(د) عدت به تيروي او كه نه ؟

(خواب): حامداً و مصلياً و مسلماً . په لو مړی فتوی کې د هغه په کفر او له اسـلام نـه د وتلو حکم نه دی لګول شوي. صرف د ایمان خطره لیکل شـوی ده، احتیاطـاً، زجـراً او تشدیداً د ایمان او نکاح د تجدید حکم ورکول شوي دی. په در مختار کې دي:

(وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة و تجديد النكاح (قوله والتوبة) اى تجديد الاسلام (قوله و تجديد النكاح) اى احتياطاً .. الخ (شامی ج ۳ ص ۱۱٤ بـــاب المرتد).

د عامی شخص خپلې ښځې ته دا ویل چې اوس دا نفرت خدای هم نشـي ختمـولي، د زیات نفرت د ښکارد کولو لپاره وي، د هغه دا مطلب نه وي چې الله تعالی پـه دی قـادر نه دی (معاذ الله) لهذا په مذکوره صورت کې تجدید ایمـان او تجدیـد نکـاح احتیاطـاً دی او دی لپاره د مهر د تجدید ضرورت نشته، د هغه ښځه-لدینه عـلاوه لـه بـل چاسـره واده نشي کولي، البته ښځې ته دا حق حاصل دی چې ترڅو پورې خاونـد يـې تجديـد ايمان او تجدید نکاح لپاره چمتو نشي او له نورو نـا جـائزو کـارونو څخـه لاس وانخلـي خپل ځان دی ورته حواله نه کړي.

قال الشامی عن الفتح والتاكيد خلاف الظاهر و علمت ان المرأة كالقاضى لا يحل ان تمكنه اذا علمت منه ما ظاهره خلاف مدعاه ص ۷٦۹ ج ۳ (امداد الفتـــاوی ص ٤٦۳ ج ۲ مطبوعه دیوبند) (بحواله فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ٤۱۲) فقـــط والله اعلم بالصواب.

كه چيرته د خاوند سره زر له طلاق شوی ښځې سره وي، نـو د هغه څه حکم دی ؟

(۲۸۱_ سوال): زما د کور سـره زر او نـوره ګانـه زمـا لـه ښځـې سـره ده، ايـا زه ترينـه غوستلی شم ؟

(خواب): هغه سره زر او نوره ګانه چې د واده په وخت ښځې ته ورکول شوی وي کـه هغه يې د مهر په عوض کې ورکړی وي ، يا هم د عطيه او تحفې په شکل کې، د هغـوی ټولو څیزونو مالک ښځه ده او که عاریتاً یې ورکړی وي نو د هغه مالک خاوند دی. او که

د دی له سره وضاحت نه وي شوي نو د خپلې علاقې دستور او رواج تـه اعتبـار دی او د هغه په مطابق به ورباندې عمل کولی شي.[1] فقط والله اعلم بالصواب

د نکاح په وخت کـې چـې کـوم سـره زر او ګانـه ښځـې تـه ورکول کیږي هغه د چا ملکیت ګرځی ؟

(۲۸۲_ سوال): ذاکری ته چـې د واده پـه وخـت کـې کـوم سـره زر او ګانـه ورکـول شوی،د هغو ټولو مالک څوک دی ؟ د ذاکری د خاوند دستور دا دی چې دا شیان جلی ته بخښل کیږي، د ذاکری خورته چې کوم سره زر او نور سامان ور کول شوی هغـه هـم بخشش دي. اوس که د نکاح په رجسټر کې د بخشش تصریح نه وي نو د خاندانی عـرف په بنا د غه ګانه او سامان بخشش ګڼل کیږي او که نه ؟

او د ذاکری د مړکیدونه وروسته د هغې دا مال د هغې په ورثاو بانـدې ویشـل کیـږي او که خاوند به یې بیرته آخلي ؟ بینوا توجروا

(خواب): دا مسئلة د قوم عرف او دستور تابع ده، صرف د ښځې دسـتور پـورې موقـوف نه دی، په دی کې د قوم دستور ته کتل کیږي او د دی مختلف صورتونه دي. لـو مـړی صورت دا دی چې د غه ګانه او نور سامان د مهر په عوض کې ورکول کیږي کـه چیرتـه دا شیان له مهر نه زیات وي نو دا هبه ګڼل کیږي، او یا ورته عاریتاً ورکول کیږي.

(۲) (مهر موجل) او ګانه بخشش (۳) مهر مؤجل او ګانه عاریتاً ورکول کیږي. (۴) مهـر معجل او ګانه بخشش یا عاریتاً، د بخشش حکـم دا دی چـې د دی مالـک د هغـه ښځـه ګرځي او د عاریتاً حکم دا دی چې مالک یې خاوند وي او ښځـه تـه صـرف د اسـتعمال حق وي.

لهذا په مسئوله صورت کې چې ښځپلو کې کومه فیصله شوی ده او د نکاح په رجسټر کـې چې د دواړو په رضا څه لیکل شوي دي د هغه په مطابق به عمـل کیـږي، پـه اختلافـی صورت کې به د هغې لپاره شرعی ګواهان وړاندې کولي شي، که نـه د خاونـد خبـره د قسم خوړلو په صورت کې منل کیږي.

---

[1] - (و اذا بعث الزوج الى اهل زوجته اشيآء عند زفافها منها ديباج فلما زفت اليه اراد ان يسـتـرد مـن المـرأة الديباج ليس له ذلك اذا بعث اليه على جهه التمليك كذا فى فصول العامديه (عالمگيرى الفصل السادس عشر فى جهار البنت ج ۱ ص ۳۲۷).

(وبو بعث الى امرأته شيئا و لم يذكر جهة عند الدفع غير جهة المهر الى قوله . فقالت هو المبعوث هدية و قال هو من المهر او من الكسوة فالقول له بيمينه والبينة لها ..... الخ (در مختار مع الشامى ج ۲ ص ۴۹۹ — ۵۰۰ باب المهر مطلب فيما يرسله الى الزوجه).

په فتاواى دارالعلوم کې دي :

(ځواب): دا مسئله اصلاً د عرف او رواج تابع ده، زمونږ د ښارونو عرف خو دا دی چې د جلۍ پلار کوم سره زر وغیره په جهیز کې ورکوي هغه د جلۍ په ملکیت کې ورکوي او خاوند چې ورته کوم سره زر وغیره ورکوي نو هغه د هلک په ملکیت کې ورکوي او ښځه هغه عاريتاً استعمالوي، نو په کوم ځای کې چې دا عرف وي نو هلته د هلک له طرف نه چې ښځې ته کوم سره زر وغیره ورکړی دي هغه د هلک ملکیت او میراث دی. (فتاواى دارالعلوم (قديم) ج ۸۰ ص ۷۹ _ ۸۰). حضرت مولانا مفتی شفیع صاحب.

د عارف بالله مولانا مفتي عزيزالرحمان صاحب فتوى:

کوم ځيزونه چې د مور او پلار له طرف نه ورکړی شي هغه د ښځې ملکیت دی او کوم شیان چې د خاوند یا د هغه مور او پلار له طرف نه ورکړی شي نو په دی کې د نیت اعتبار دی، څنګه او چا لپاره چې نیت یې وي دا مال د هغه لپاره کیږي. (فتاواى دارالعلوم مکمل و مدلل ج ۳ ص ۳۶۳).

د موصوف دويمه فتوى:

(سوال): له نکاح نه وروسته چې ناوی ته د خسرګنی له طرف نه د سروزرو یا سپینو زرو کومه ګانه او جامې ورکول کیږي،د ښځې له مړکیدونه وروسته دا د ښځې په مال کې حسابیږي او که هغې د خاوند په مال کې ؟

(ځواب): که چیرته د غه سره زر او نور ځيزونه يې د مهر په عوض کې ورکړی وي او يا هم ورته هبه کړی وي نو د هغو ټولو مالکه ښځه ده او د هغې له مړکیدونه وروسته خاوند یې له هغې نه واپس نشي اخستلی، بلکې د ښځې په وارثانو باندې به تقسیمیږي او د هغې خاوند ته به هم د خپل حق په اندازه ورکول کیږي، او که په مهر کې نه وي ورکړی، یا هم ورته هبه کړی نه وي بلکې عاريتاً یې ورکړی وي نو د هغې خاوند د

هغې له مړکیدونه وروسته واپس اخستلی شي. فقط والله اعلم بالصواب (فتاوای دارالعلوم مکمل و مدلل ج ۸ ص ۸۳) ۱۷ ربیع الاول ۱۳۹۰ء)

مور او پلار چې خپل لور ته کوم جهیز ورکوي د هغه مالک څوک دی ؟

(۲۸۳ _ سوال): که چیرته مور او پلار خپل لور ته په جهیز کې ګاڼه، لباس او نور سامانونه ورکړي وي او جلۍ څه وخت وروسته مړه شی نو په دی صورت کې د غه مال د چا حق ګرځي ؟

(ځواب): دا مسئله د عرف تابع ده، زمونږ د علاقې عرف دا دی چې هغه جلۍ ته هبه ورکول کیږي،لهذا د جلۍ له مړ کیدونه وروسته د هغې وارثانو ته رسیږي. په شامي کې دي :

(قال الشیخ الامام الاجل الشهید المختار للفتوی ان یحکم بکون الجهاز ملکاً لا عاریة لا نه الظاهر الغالب الا فی بلده جرت العادة بدفع الکل عاریة فالقول للاب (شامی ج ۱ ص ۵۰۴ باب المهر مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریه) فقط والله اعلم بالصواب.

د نکاح په وخت کې په سلامی او هبه کې د ورکول شویو خیزونو حکم :

(۲۸۴ _ سوال): که جلۍ ته نکاح په وخت د هغې ملګرو او نورو خپلوانو له طرف د سلامی یا د تحفې په توګه څه ګاڼه یا نور خیزونه ورکول شوي وي، یا ښځې له خپلو پیسو نه اخستی وي د هغه مالک څوک دی ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): جلۍ ته چې د نکاح په وخت د هغې د ملګرو او خپلوانو له خوا په سلامی کې یا د هبی په توګه څه خیزونه ورکول شوي د هغه مالک ښځه ده، همدغه راز کوم شیان چې پخپلو پیسو اخستی وي د هغه مالک هم ښځه ده.[1]

---

[1] ...ثبت من ذلك ما یبعثه الیها قبل الزفاف فی الاعیادو المواسم من نحو ثیاب و حلی و کذا ما یعطیها من ذلك او من دراهم او دنانیر صبحة لیلة العرس و یسمی فی العرف صبحة فان ذلك تعورف فی زماننا کونه هدیه (شامی باب المهر مطلب فیما یرسله الی الزوجه ج ۲ ص ۵۰۱).

د نکاح متفرقات

خاوند له ښځې نه څومره وخت جدا او سیدلی شي ؟

(۲۸۵ سوال): جناب مفتي صاحب ! له سلام نه وروسته عرض دا دی چې دلته په دوبۍ کې زیات کسان د نو کرۍ په خاطر راغلي دي، ځینې داسې دي چې ودونه یې کړي دی خو قرضداره دي، د هغوی ښځې دینداری دي او پوره پوره اعتماد وربانـدې لري، له خپلو خپلوانو سره اوسیږي، لیکن د هغوی د حقوقو مسئله ور پیښه وي چې د هغو په وجه پریشاني وي تر څو پوري چې قرض نه وي خلاص شـوي او حالـت نـه وي صحیح شوی د خپلو ښځو راوستل هم ګران کار وي، هر وقت تګ او را تګ هـم مشـکل کار دی، زیاتره وخت دوه دری کاله آن چې لدینه هم زیات وخت لـه خـپلې ښځـې نـه دلری پاتی کیدو شرعاً اجازه شته او که نه ؟ په داسې حالت کې شرعی حکـم څـه دی ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): زما ډیرو محترمو دوستانو ! الله تعالی مو صـحیح سـلامت لـره . لـه سـلام نـه وروسته ستاسې د سوال ځواب دا دی چې د ښځې حاجت، خواهش او د حقوقو لحـاظ ساتل زیات ضروری دی، ځرنګه چې سړی ته د ښځې خواهش پیـدا کیـږي همدغـه راز ښځې ته هم د سړی ډیر زیات خواهش وي.

فان لم تشتق الی الجماع لا یجوز له ترکه لان لها حقاً فی ذلك و علیها مضرةً فی ترکه لان شهوتها اعظم من شهوته .

یعنی که خاوند ته د جماع خواهش نه وي بیا هم هغه لپـاره د جمـاع پریښـودل روا نـه دی ځکه چې په خاوند باندې د ښځې دا حق دی او د جماع په ترک کولو کـې ښځـې ته ضرور نقصان رسیږي، ځکه چې د ښځې خواهش له سړی نه زیات وي.

و قدروی ابو هریرة رضی الله تعالی عنه ان النبی صلی الله تعالی علیه وآله وسلم قال فضلت شهوة النساء علی الرجل بتسعه و تسعین الا ان الله تعالی القی علیهن الحیاء و قیل الشهوه عشره اجزاء تسعة منها للنساء و واحدة للرجل . و القدر الذی لا یجوز ان یؤخر . الوطء عنه اربعة اشهر الا ان یکون له عذر...... التاقیت الذی وقته عمر

ابن الخطاب رضی الله تعالی عنه للناس فی مغازیهم لیسیرون شهراً و یقیمون الشهر و یسیرون راجعین الی اهلهم شهرا (غنیه الطالبین ص ۳۳ ج ۱).

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې ښځې د سړو په نسبت ۹۹ درجه زیات خواهش لري مګر الله تعالی په هغوی د شرم او حیآ پرده آچولی ده. (نو څکه د هغوی شهوت مغلوب وی).

د خینو پو هانو وینا ده چې د شهوت لس حصې دی، په دی کې د ښځې ۹ حصه دی او دسړي یوه حصه ده. له شرعی عذرنه پرته له ښځو نه له څلورو میا شتونه زیات علیحده اوسیدل جائز نه دی، که چیرته سړی په سفر کې له شپږو میاشتو نه زیات واوسي او ښځه هغه راوغواړي او خاوند یې د قوت او استطاعت لرلو باوجود رانشي نو حاکم ته پکار دي چې د ښځې د خواهش په مطابق د دواړو ترمنځ تفریق (جداوالی) وکړی.
(غنیة الطالبین ص ۳۳ ج ۱ فصل فی اداب النکاح.)

نو څکه فقهای کرام فرمایی چې ښځې له اذن نه بغیر دی خاوند له څلورو میاشتو نه زیات له کور نه باهر تیر نه کړي.

" و یجب ان لا یبلغ له عدة الابر ضائها و طیب نفسها به ...... الخ " (شامی ص ۵٤۷ ج ۲ باب القسم)

امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د شپې په وخت د مدینې طیبې په کوڅو کې ګشت کاو، له یو کور نه دیوی ښځې آواز واورید چې د خپل خاوند په جدائی کې د غه شعر یې ویل :

فوالله لولا الله تخشی عواقبه
لذحذح من هذا السریر جوانبه ،

یعنی په الله قسم که زه له الله نه نه ویریدای نو اوس به د کټ بازوګان خوځیدل.

هغه رضی الله عنه چې د دی وجه معلوم کړ نو هغې وویل : دیر وخت کیږي چې زما خاوند جهاد ته تلی دی، د هغه په جدائی کې مې دا شعر لو ستله .

عمر رضی الله عنه خفه شو، کورته چې را غی نو له خپل لور حضرت حفصه رضی الله عنها څخه یو ښتنه وکړه چې: ښځه خاوند نه بغیر څومره وخت صبر کولي شي؟ هغه

وویل خلور میاشتي، لدینه پس حضرت ... رضی الله عنه فرمان جاري کړ چې واده لرونکی مجاهدینوته دی څلور میاشتی بعد کورته د راتللو اجازه ورکړی شي.

قو الله لو لا الله تخشی عواقبه

لزحزح من هذا السرير جوانبه

فسئل عنها . فاذا زوجها فی الجهاد . فسئل بنته حفصه رضی الله تعالی عنها . کم تصبر المرأة عن الرجل ؟ فقالت اربعة اشهر . فامر امراء الا جناد ان لا يتخلف المتزوج عن اهله اکثر منها ولو لم يکن فی هذه المدة زيادة مضارة بها لما شرع الله تعالی الفراق بالا يلاء فيها (شامی ص ۵٤۸ ج ۲ باب القسم) فقط والله اعلم بالصواب.

ولیمه کله سنت دی ؟

(۲۸٦ــ سوال): (۱) ولیمه دی کله وکړی شي ؟ له خلوت نه مخکې او که وروسته ؟ او له خلوت نه مراد ضروری صحبت دی او که یوازی د دروازی بندیدل ؟ مهربانی وکړئ د دی ځواب را کړئ.

(۲) ایا له نکاح نه فوراً وروسته ، خو له خلوت نه مخکې خلکوته ډوډی ورکول په مسنونه ولیمه کې حسا بیږي او که نه ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): دواړه ډوډی یا ولیمه د ښځې او خاوند له جماع نه وروسته ورکول پکار دی، کله چې ښځه او خاوند دواړه دشپې پخپلو کې صحبت وکړي د هغه په سهار یا بله ورځ د واده په خوشالی کې، خپلو خپلوانو، ګاونډیو او دوستانو ته ډوډی ورکړي.

(و وليمة العرس سنة و فيها مثوبة عظمية وهی اذا بنی الرجل بامرأته ينبغی ان يدعوا جيران و الا قرباء و الا صدقاء و يذبح لهم و يضع لهم طعاماً (الی قوله) ولا بـاس بان يدعو يومئذ من الغد و بعد الغد ثم ينقطع العرس والوليمة كذا فی الظهيرية (**فتاوی عالمکیری ص ۲۲۹ ج ٦ کتاب الکراهيه الباب الثانی عشر فی لهدايا والضيات مطبع احمد).**

د ولیمې په باب نور اقوال هم دي . مثلاً (الف) د عقد په وخت کې (ب) له عقد نه وروسته او له د خول نه وروسته هم (ج) له دوه ورځونه وروسته مکروه ده (مظاهر حق کتاب النکاح ص ۱۴۹ ج ۳)

(۲) د خینو په نزد ولیمه صحیح ده. والله اعلم بالصواب

(سوال): د ولیمې موده څومره ده ؟

(ځواب): تر دوه ورځو پورې دعوت ته ولیمه ویلی شي، لدینه وروسته د ولیمې دعوت نشي ویل کیدلې.

(ولیمة العرس سنة و فیها مثوبة عظیمة وهی اذا بنی الرجل بامرائته ینبغی ان یدعوا الجیران ..... الخ (فتاوی عالمگیری ص ۲۲۹ ج ۲ باب الهدایا مطبع احمد) فقط والله اعلم بالصواب.

د نکاح له پاره د لومړی ښځې د طلاقولو شرط ایښودل.

(۲۸۷_ سوال): له واده نه وروسته څو کاله تیر شوي دي خولا تراوسه مې اولاد نه دی شوی،لهذا دویم واده کول غواړم، خوله چا نه چې جلی غواړم هغه ماته دلومړی ښځې د طلاقولو غوښتنه کوي او راته وایي چې لو مړی ښځه پریږده هله به ستا واده کیږي. زه په دی صورت کې څه وکړم ؟

(ځواب): دا چې اولاد دی نه کیږي دا ستا د ښځې قصور نه دی، نو څکه بلا عذر ښځې ته طلاق ورکول گناه ده، هغوی ته پکار دي چې داسې بې ځای شرط له لگولونه ډډه وکړي. په حدیث شریف کې ددې کلک مخالفت را غلی دی:

" لا تنسال المراه طلاق اختیها لتستفرغ صحفتها ولتنکح فان لها ما قدرلها. (متفق علیه) (مشکوه شریف باب اعلان النکاح والخطبه والشرط ص ۲۷۱) والله اعلم بالصواب.

که د وطن د پریښودلو په شرط نکاح وکړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۲۸۸_ سوال): جلی په دی شرط سره له یو هلک سره واده وکړه چې هغه لندن ته لا ړه نشي او خاوند یې هر کال دوه دری میاشتو لپاره راشي، د شرط مطابق یوځل راغی، اوس دری کاله وشول چې هغه نه دی راغلی. د نه راتلو وجه دا لیکې چې د تک او را

ٹک مصرف ډیر کیږي او ملازمت هم په خطره کې غـور خیـزي، اوس کـه هغـه د شرط قبلولو با وجود خپله ښځه لندن ته راوغواړي نو د دی خبرې ګنجائش شته او که نه ؟

(خواب): هو د شرط قبلولو باوجود هغه د خپلې ښځې په رضا کولـو سـره کـولي شي چې لندن ته یې را وغواړي، خو زور وربانديې نشي کولي، که ښځه ورسره تلل نه غواړي نو په هغه خرڅې بندول یا خطونه ورته نه استول جائز نه دی، د حضرت عمر رضـی الله عنه ارشاد دی : (اذا تزوج الرجل امراه و شرط لها . ان لا یخرجها من مصرها فلیس له ان یخرجها ...... " (ترمذی شریف ص ١٣٤ ج ١ ابواب النکاح باب ماجـآء فی الشرط عند عقده النکاح.)

یعنی کله چې یو سړی له ښځې سره په دی شرط نکاح وکړ چې هغه به له وطن نه بـاهر نه وړي نو اوس د ښځې له رضا نه پر ته نشيوړي. (ترمذی شـریف ص ١٣٤ ج ١ ابواب النکاح باب ما جاء فی الشرط عند عقدة النکاح.)

او د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: کـوم شـرط چـې د هغـه ترسـره کـول ډیـر ضروري دی هغه شرط دی چې د هغه په بنیاد نکاح شوی وي، ایضاً ترمذی شـریف ص ۱۴۴ ج ۱ ایضاً). که چیرته لندن ته تللو کې د صحت، عزت، آبـرو او دینـداری پـه بـاره کې څه نقصان نه وي نو ښځې ته تلل ښه دی، بلکې خینې وخت تلل ضـروري ګرخـي. فقط والله اعلم بالصواب.

د واده لپاره قرض اخستل :

(۲۸۹ ـ سوال): که هلک او جلۍ بالغ شوي وي او د واده قابل وي. مګر له پـلار سـره دومره مال نه وي چې د هغوی واده وکړي، ایا دی کار لپاره قرض اخستلی شي؟ او کـه د مالدار کیدو پورې صبر وکړي او چې کله مالدار شي نو واده یې وکـړی، پـه دی اړه د شریعت حکم څه دی ؟

(خواب): که چیرته د واده په وروسـته کولـو کـې د ګنـاه مرتکـب کیـدو ویـره وي نـو وروسته دی نه کړی شي. د ضرورت په مطابق چې د سنت په مطابق د واده کولـو لپـاره کافي وي د قرض اخستلو شرعاً اجازت دی. په شامي کې دي:

(قوله و الا ستذانة له) لان ضمان ذالك علی الله تعالی فقد روی الترمذی والنسائی و ابن ماجه . ثلاث حق علی الله تعالی . عوهم المکاتب الذی یرید الا داء ، والناکح

الذی یرید العفاف ، والمجاهد فی سبیل الله تعالی (ص ۳٦۰ ج ۲ کتاب النکاح)
فقط والله اعلم بالصواب.

له کومی ښځې سره چې واده کول غواړي هغې ته کتل :

(۲۹۰ـ سوال): یوې خوانی ښځې ته په دی نیت کتل چې واده ور سره وکړي څنګه دی ؟ بینوا توجروا

(خواب): د خو ښولو په خاطر ورته کتل جائز او مستحب دی، په دی شرط چې د پیغام د قبلولو امید وي او که امیدېږ نه وي نو بیا ورته اجازه نشته.

(قوله والنظر الیها قبله) ای و ان خاف الشهوة صرحوا به فی المحیط و الا باجة و هذا اذا اعلم انه یجاب فی نکاحها (شامی ج ۲ ص ۳٦۱ ایضاً) فقط والله اعلم بالصواب.

د غائبانه ودونو صورتونه :

(۲۹۱ ـ سوال):ایا غائبانه واده کیدای شي او که کیدای نشي نو د دی څه طریقه ده ؟

(خواب): هو په غیاب کې واده کیدای شي او د دی طریقه څه داسې ده:

(۱) مثلاً واده کوونکې هلک جلۍ ته خط واستوي چې زه له تا سره نکاح کوم، کله چې هغه ته خط ورسیږي نو د شرعي ګواهانو په مخکې دی هغه ولوستل شي او په همدغه مجلس کې واده کیدونکې جلۍ ووایی چې ما نکاح قبوله کړه نو په دی سره نکاح منعقده کیږي.

(۲) یا جلۍ هلک ته خط ولیږي چې زه له تا سره نکاح کوم، کله چې خط هغه ته ورسیږي نو شرعي ګواهان را جمع کړي او د هغوی په وړاندې دی دا خط ولولی او هلک ووایی چې ما نکاح قبول کړ.

(۳) په منځ کې دی وکیل وینول شي او وکیل دی له ایجاب نه وروسته موکل یا د موکله له طرف نه د شرعي ګواهانو په وړاندې نکاح قبول کړي.

(۴) یا ناوی د واده خوان، یا خوان د واده جلۍ د خپلو خطونو په ذریعه خپل وکیل وګرخوي، نو وکیل (هلک وي او یا جلۍ) د شرعي ګواهانو په وړاندې د غه مضمون ادا کړي او له خپل خان ته نکاح کړي نو په دی سره هم نکاح ي کیږي.

(قوله بل غائب) الظاهر ان المراد به الغائب عن المجلس و ان كان حاضرا في البلد، فيزوجه ان يكتب اليها يخطبها . فاذا بلغها الكتاب احضرت الشهود و قرائه عليهم و قالت زوجت نفسي منه ، او تقول ان فلانا كتب الي يخطبني فاشهدوا اني زوجت نفسي منه اما لو لم تقل بحضرتهم سوى زوجت نفسي عن فلان لا ينعقد ، لان سماع الشطرين شرط صحة النكاح ...... الخ (شامی ص ٣٦٤ ج ٢ كتاب النكاح فقط والله اعلم بالصواب.

د حمل له وضع نه وروسته له زانیه سره واده کول :

(٢٩٢ـ سوال): یو سړي له یوی ښځې سره زنا وکړه او هغه بلاربه شوه او جلۍ یې پیدا شوه، اوس د هغې پلار غواړي چې واده یې کړی، کوم سړي چې له دغې ښځې سره زنا کړی وه هغه مالداره کورنۍ څخه دی او شرابخور دی، لـه وړا ندینـه واده هـم لـري او بچې یې هم شته. د دغی جلۍ د واده خبره له بل چاسره هم روانه ده. اوس سـوال دا دی چې د دی جلۍ واده له چاسره وکړی شي له زانی سـره او کـه لـه بـل چاسـره؟ د دغې ښځې مخکینۍ لور چې له زنا نه پیدا شوی ده کرسچن عیسویانو وړی ده، هغې تـه د عیسویانو تعلیم ورکوي، د هغې په باره کې څه حکم دی ؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که چیرته د حمل په صورت کې له همغه زانی سره واده یې کړی وای نکـاح یې کیده او د جلۍ مستقبل به هم خراب نه و، اوس چې دا مصلحت لـه لاسـه وتلـی او هغه شرابي او عیال دار هم دی نو که له بل چاسره یې واده وکړي ښه به وي که نـه نـو همدیته دی ورکړي. که جلۍ تر لا سه کولی شي نو پوره پوره کوشش دی وکـړي شـي تر څو مستقبل ئی خراب نشي. فقط والله اعلم بالصواب.

داسې قانون جوړول څنګه دی چې له خپل کلی نه بـاهر دی واده ونکړی شي ؟

(٢٩٣ ـ سوال): د مسلمانانو یو قوم چې چوهدري ورته ویل کیږي دا قـانون جوړکـړی چې چوهدری خاندان له خپل ښارنه علاوه په بل ښار کې کـه هغـوی د چوهـدری لـه کورنۍ سره تعلق ولی ونلري، واده نشي کولي. که څوک لدینه مخالفت وکړي نو هغه به له چوهدري خاندان نه ویستل کیږي، نه به څوک له هغـه سـره خبـرې کـوي او نـه بـه

خوک ورته نوکري ورکوي. همدغه راز د هغه په مړي او ژوندی کې به شرکت نه کوي او سلام ته به يې وعليکم نه ويل کيږي.
اوس سوال دا دی چې دا قسم قانون جوړول د شريعت په نظر کې څنګه دی ؟ بينوا توجروا.

(خواب): داسې قانون جوړول بالکل صحيح نه دی بلکې سراسر ظلم او ناروا دی. اسلام هر چا ته آزادی ورکړی دی چې پخپل قريه کې واده کوي يا په بله قريه کې، لهذا د قريبې او کلی قيد لګول د شريعت په خلاف اقدام دی، له داسې قانون نه بايد په کلکه ډډه وکړی شي، که نه د ټولو فسق و فساد او خرابيو مسئوليت به د هغوی په غاړه وي. فقط والله اعلم بالصواب.

د نکاح په وخت کې د قران کريم ختم کول :

(۲۹۴ ـ سوال): زمونږ په علاقه کې د واده په ورځ خلک د قران کريم ختم کوي، ګويا په دی ورځ مړي ته ايصال ثواب کولی شي، او په دی کې دوستانو او عزيزانو ته خصوصي دعوت ورکولي شي، په دی مجلس کې خواږه څيز ويشل کيږي يا په خلکو باندې شربت څکلی شي. شرعاً دا څنګه دی ؟

(خواب): په دی کې د رسم او رواج لوی لاس دی، د ايصال ثواب لپاره د خلکو غونډلوته څه ضرورت دی، دا هسې غير مقصود کار دی، پخپله د قران کريم په لو ستلو سره مړوته ايصال ثواب کولي شي، او همدا کار له ريا نمود نه لری والی او مړو لپاره زيات ګټور دی.

(و اطال فى ذلك فى المعراج و قال هذه الا فعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لانهم لا يريدون وجه الله تعالى (شامى ج ۱ ص ۸٤۸ كتاب الجنائز مطلب فى كراهة الضيافة من اهل الميت) فقط والله اعلم بالصواب.

د نکاح په وخت کې امام ته وريجې او کوپره ورکول :

(۲۹۵ ـ سوال): زمونږ په علاقه کې دا رواج دی چې د نکاح په وخت د ناوي او شاه په وړاندې پاره باندې پنځه کيلو وريجې او يوه دانه کوپره ږدي او له شاه نه پنځه روپۍ اخلي، لدينه وروسته امام صاحب نکاح تړي. د غه وريجې او کوپره امام صاحب ته ورکوي او د نکاح تړلو اجوره پنځه روپۍ آخلی، د دی څه حکم دی ؟ بينوا توجروا.

(خواب): دا د هندوانو طریقه ده او په دی کې عقیدوي خرابي دی،لهذا دا واجب الترک دی، له دینه بچ کیدل ضروري دي، توبه وباسئ او د خپلې عقیدی اصلاح وکړئ. که نه نو گنهګار به شئ. د نکاح تړلو اجرت دی هغه څوک ورکړي چې چاغوښتی وي او کوم اجرت چې له مخکې نه فیصله وي د هغه اخستل صحیح دي.فقط والله هاعلم بالصواب.

په تبلیغی اجتماعاتو کې نکاح کول :

(۲۹٦ ـ سوال): د نکاح تړلو لپاره تر ټولو ښه کوم ځای دی ؟ نن سبا دا طریقه روانه ده چې چیر ته تبلیغی اجتماع کیږي همغلته د شاه او ناوی وکیل او شاهدان ورځي او په دی ترتیب څو څو نکاح ګانی هلته تړل کیږي. ایا دا طریقه صحیح ده ؟ بدعت خو به نه وي ؟ هلته علماء هم وي خو په دی باره کې هیڅ قسم مخالفت نه کوي، تاسئ مهرباني وکړئ په دی باندې رڼا واچوئ.

(خواب): بهتر خو دا دی چې په خپل کور کی د واده د خوشحالی مراسم منعقد کړي شي، ځکه چې هلته نژدی خپلوان هم شریکیدلی شي، نکاح دی په مسجد کې ولوستل شي ځکه چې دا مستحب دی، لیکن نن سبا د واده رسومات دومره ډیر شوي دي چې زیاترو ښځو لمونځونه قضا کیږي او فضول خرچې پکې کیږي، زیادتره وخت په دی وجه خلک قرضداره کیږي،لهذا که په تبلیغی اجتماعاتو کې نکاح وتړل شي نو څه غلط کارنه دی، له ډیرو خرابیانو نه محفوظ پاتي کیږي. اجتماعات عموماً به مسجدونو کې کیږي او چیرنه چې په مسجدونو کې ځای نه وي . هلته د اجتماع په ځای کې تر دوه درې ورځو پورې له آذان او اقامت سره پنځه وخت لمونځونه په جمعی سره کیږي نو ځکه په داسې ځای کې نکاح تړل په مسجد کې د نکاح تړلو په څیر شو. ځکه علماء حضرات څه نه وایي. فقط والله اعلم بالصواب.

د نکاح په رجسټر کې د نکاح د لیکلو حکم او د رجسټر ورکیدل :

(۲۹۷ ـ سوال): زمونږ په علاقه کې دیوې سړی واده وشوه، د څو کلو را هیسې د ښځې او خاوند تر منځ بی اتفاقی او نا چاقی دی، خاوند غواړی چې ښځه ته طلاق ورکړي، خو د مهر په باره کې اختلاف دی، د نکاح په وخت کې د نکاح دکمیټی له طرف نه کوم سند ورکول شوي و او په هغه کې پوره تفصیل وه هغه له دواړو سره نشته، خاوند يې چې د کمیټی نه د سند فوټو کاپی وغوښت نو هغوی له ټولونه وروسته ووېل

چې له مونږ سره نشته، په دی وخت ښځې د کمیټی په خلاف مقدمه دائره کړه، خو کمیټی ریکارډ ضائع کړی ده، عدالت په پوره کمیټی باندې جرمانه لګولی ده. اوس پوښتنه داده چې د شریعت په لحاظ سره د نکاح ریکارډ دسا تلو څه حکم دی؟ ایا د نکاح انعقاد لپاره د نکاح خواني په رجیسټر کې اندراج او لیکل ضروري دی ؟ که د نکاح ریکارډ د نکاح له کمیټی نه ورک شي نو ایا دا جرم دی ؟ بینوا توجروا.

(خواب): د نکاح د صحت لپاره ایجاب او قبول، د دوه مسلمان سړو یا د یو مسلمان سړی او د دوه مسلمانو ښځو د ګواه په توګه موجودیت ضروري دی. د نکاح تړلو لپاره د نکاح په رجسټرډ کې لیکل شرعاً لازمي او ضروري نه دی لیکن اوس څرنګه چې د مهر اوګانو لانجی او جګړی زیاتی شوي دي، همدغه راز د سفر په وخت کې د نکاح ثبوت غواړي نو څکه د دی لیکل ضروري دی،کومو خلکو چې د نکاح په رجسټرډ کې ضروری خبرې لیکلی دي مګر اوس هغه ترینه ورک شوی دی نو په هغوی هیڅ جرم نشی عائد کیدلي، څکه چې ډیر څیزونه ورکیږي، کله کله سرکاري کاغذونه هم ورکیږي، دا چې د ښځې او خاوند تر منځ د مهر په باره کې اختلاف دی نو د مهر چې کوم دستور او رواج ستاسې په خاندان کې دی د هغه په مطابق دا فیصله وکړی شي.

په فتوی دارالعلوم کې دي :

(سوال): که چیرته په نکاح کې د حکومت له طرف نه رجسټرډ ضروري وګر څول شي نو بیا خلکو ته د دی رجسټر کول ضروري دی او که نه ؟ همدغه راز له رجسټر کولونه پر ته نکاح منعقد کیږي او که نه ؟

(خواب): هو له رجسټر کولونه بغیر نکاح صحیح کیږي لیکل یې ضروري نه دی. یواځې د نکاح شرائط لکه ګواهان او داسې نور پکار دي چې موجود وي . په حاشیه کې دي :

(والثانی اعنی الشروط الخاص انعقاد سماع اثنین بوصف خاص للایجاب والقبول ...... الخ ورکنه الایجاب والقبول حقیقةً او حکماً (البحر الرائق ج ۳ ص ۸۳ کتاب النکاح) (فتاوی دارلعلوم مدلل و مکمل ج ۷ ص ۸۵ — ۸۶) فقط والله تعالی اعلم بالصواب.

په لو مړی شپه د مباشرت او صحبت آداب :

(۲۹۸ ـ سوال): په لو مړی شپه له ښځې سره د ملاقات په وخت کې دی کوم یوه دعا ووایی او د مباشرت او صحبت آداب څه دي ؟ امید دی چې خواب راکړئ.

(خواب): په لو مړی شپه د ملاقات په وخت کې دی د ناوی د وچولی ویښتان ونیسی او دا دعا دی ووایی :

(اللهم انی اسئلك من خیرها و خیر ما جبلتها علیه و اعوذو بك من شرها و شـــرما جبلتها علیه)

لدینه وروسته دی دوه رکعته د شکرانی لمو نځ ولولی، سړی دی مخکې ودریږی او د هغه ښځه دی وړسی ودر یږي، له لمـو نـځ نـه وروسته دی د خـیر او برکـت ، مـوٌدت، محبت او پخپلو کې د اخلاص، اتفاق و اتحاد دعا وکړي. په غنیة الطالبین کی دي :

(فاذا زفت الیه اتبع ماروی عن عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه و ذلك انـــه جاءه رجل فقال انی تزوجت بجاریة بکر وقد خشیت ان تکرهنی او تفرکنی فقال له ان الالف من الله والفرك من الشیطان و اذا دخلت فمرها ان تصل خلفك رکعتین و قل اللهم بارك لی فی اهلی و بارك لاهلی فی اللهم ارزقنی منهم وارزقهم منی اللـــهم اجمع بیننا اذا جمعت فی خیر و فرق بیننا اذا فرقت الی خیر (غنیه الطالبین ، متـــرجم ص ۹۷ ، اداب النکاح).

کله چې ښځه کورته راوړی شي نو د دغه روایت پـه مطـابق دی عمـل وکـړي چـې لـه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی: یو سړی د عبدالله بن مسـعود رضـی الله عنه خواته راغی او ورته وویل چې ما له یوی پیغلی سره واده کړی ده او زه ویریـږم چي هغه ما خوښ نه کړي او دښمن می وګڼي. حضرت عبـدالله بـن مسـعود رضـی الله عنه ورته وفرمایل: محبت د الله له طرف نه دی او دشمنی د شیطان عمل دی، کله چـې ښځه ستا کورته راشي نو هغې ته ووایه چـې سـتا شـاته ودریـږي او دوه رکعتـه لمـو نـځ ولولي او ته دا دعا ولولي:

(اللهم بارک لی فی اهلی ....)

ای الله ! زما لپاره زما په اهل کې برکت واچوه او زما اهل لپاره په ما کې برکت کېږده، ای الله ! ما ته له هغې نه او هغې ته له مانه رزق راکړه، ای الله ! کله چې ته مونږ پخپلو کې جمع کوی نو په خیر سره مو جمع کړه او چې کله مو جدا کوی نو له خیر سره مو جدا کړه.

لومړی ملاقات باید په ډیره ښه جذبه او ښه امید سره وکړی شي او دواړه ښځه او خاوند دی په د غه لوی نعمت شکر وباسي،د لومړی ملاقات د شکریې لپاره شریعت د ولیمې دعوت سنت کړی دی، خاوند دی په ډیر مینه او محبت سره سلوک وکړي او د رعب اچولو کوشش دی نه کوي، د هغې دی هر قسم دلجویې وکړي په دی سره مکمل سکون او راحت تر لاسه کیږي او له یو بل سره مینه او انس پیدا کیږي.

کله چې خاوند د مباشرت اراده کوي نو لومړی دی ښځه مانوس او اماده کړي، چې خومره مینه ور سره کولي شي ودی کړي او د دی خبرې خیال دی په هر مباشرت کې وساتي. فوراً دی صحبت او مباشرت نه شروع کوي، او د دی خبرې خیال دی هم وساتي چې ښځه دی هم لدینه ماړه شي، له انزال کیدونه فوراً وروسته دی نه جدا کیږي. د ښځې د خواهش د پوره کیدو انتظار دی وباسي، که نه نو د ښځې په طبیعت کې نفرت پیدا کیږي او زیاتره وخت پخپلو کې دشمنی پیدا کیږي چې بلاخر د جدائی سبب هم ګرځي.

په غنیة الطالبین کې حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله علیه فرمایی :

(و یستحب لها الملاعبة لها قبل الجماع و الا نتظار لها بعد قضاء حاجته حتی تقضی حاجتها فان ترك ذلك مضرة علیها ربما افضی الی البغضاء والمفارقة (غنیة الطلبین ص ۹۸ اداب النکاح.)

او ادب دا دی چې له ښځې سره له جماع نه وړاندې لوبه او مستی وکړی او دا هم د جماع ادب دی چې د ښځې د خواهش د پوره کیدو انتظار وکړي، په داسې نه کولو سره ښځې ته تکلیف رسیږي چې بیا د دواړو ترمنځ د طلاق نوبت رسیږي.

د صحبت په وخت کې دی د قبلې په طرف مخ نه کوي، خپل سر دی پټ کړي او چې خومره کیدای شي په پرده کې دی صحبت کوي، د هیچا ان چې د وړو ماشومانو په مخکې دی هم مباشرت نه کوی. او د ضرورت په مطابق دی ستر ښکاره کړی. په غنیة الطالبین کې دي:

(ولا یستقبل القبلة عند المجامعة و یغطی رأسه و یستر عن العیون و ان کان عن صبی طفل لا نه روی عن النبی صلی الله علیه واله وسلم انه قال اذا اتی احدکم اهله فلیستر فانه اذا لم یستر استحیت الملئکة و خرجت و یحضره الشیطن و اذا کان بینهما ولد کان الشیطان فیه شریکاً (غنیة الطالبین ص ۹۸ کتاب النکاح).

د جماع په وخت کې دی قبلی ته مخ نه کوي، خپل سر دی پټ وساتی، داسې پرده دی وکړي چې د چا سترګی وربانديې ونه لګیږي تر دی چې ماشوم یې هم ونه ویني.

د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : کله چې له تاسونه څوک له خپلې ښځې سره مجامعت کول غواړي نو په پټه او سترکې دي وکړي، کوم سړی چې د صحبت په وخت کې ستر نه کوي نو فرښتی له هغوی نه حیا کوي او له هغه ځای نه ځی. او شیطان حاضریږي او کله چې د هغوی ماشوم پیدا شي نو شیطان په دی کې شریکیږي.

دا احکام عام دي، دا یواځې له لومړی شپې سره خاص نه دی په هر مباشرت په دی باندې عمل کول پکار دی. کله چې د صحبت کولو اراده وکړي نو لو مړی دی بسم الله ووایی او بیا دی دا دعا ولولي :

(اللهم لا تجعل للشیطان فیما رزقتنا نصیباً.)

بیا له صحبت نه وروسته دی دا دعا ولولي :

(الحمد الله الذی خلق من الماء بشراً و جعله نسباً و صهراً.)

په غنیة الطالبین کې دي :

(عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لو ان احدکم اذا ارادان یاتی اهله قال بسم الله اللهم جنبنا الشیطان و جنب الشیطان ما رزقتنا ثم ان قدر ان یکون بینهما ولد فی ذلك لم یضره شیطان ابداً . الی قوله . کذلك یروی عن السلف انه اذا لم یسم عند الجماع التف الشیطان علی احلیله یطاء کما یطاء (غنیة الطالبین ص ۹۶ — ۹۷ ایضاً).

حضرت کریب له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړی دی چې محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد و فرمایل چې: له تا سونه څوک له خپلې ښځې سره د صحبت کولو اراده وکړي نو بسم الله دی ووایی. ای الله موږ ته او د غه ماشوم ته، چې موږ ته را

کوي له شیطان نه لری وساته، که چیرته د هغه په مقدر کې له دی نطفی نه ماشوم وي نو شیطان له دی ماشوم نه لری خي. او کله هم هغه ته تکلیف نشي رسولي الی قوله .....

له سلفو علماو څخه روایت دی چې کله ښځې ته د نژدی کیدو په وخت کې بسم الله نه وایی نو شیطان د هغه په مباشرت کې شریکیږي، په بدن کې چې د صحبت په وخت کې کوم ګندګی نښتي وي هغه پاک کړئ، که چیرته دویم ځل لپاره د صحبت اراده پیداشي نو اودس کولونه وروسته جماع وکړئ ،که نه غسل وکړئ، له غسل نه پرته مه ویده کیږئ، البته که کوم عذر وي نو بیا خیر دی، مګر سهار وختی دی غسل وکړي او لمونځ دی نه قضا کوي.

په غنیة الطالبین کې دي :

(فاذا فرغ من الجماع تنحی عنها و غسل ما به من الاذی و توضأ ان اراد العود الیها و الا اغتسل ولا ینام جنباً فانه مکروه و کذلك روی عن النبی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم الا ان یشق ذلك علیه لبرد او بعد حمام و ماء او خوف و نحو ذلك فینامالی حین زوال ذلك (غنیه ص ۹۷ – ۹۸ آداب النکاح).

له جماع نه فارغیدونه وروسته چې کوم نجاست لګیدلي وي هغه دی وویندځئ او که چیرته دویم ځل لپاره بیا جماع کول غواړي نو اودس دی وکړي، خو غسل کول افضل دی، له غسل نه پرته ویده کیدل مکروه دی .

محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې: که له ډیر یخنی نه غسل ونکړی شي یا اوبه ترینه لری وي، یا بل کوم عذر ولري نو په دی صورت کې له غسل نه بغیر ویده کیدل جائز دی.

خاوند چې له خپلې ښځې سره له مینی محبت او صحبت نه وروسته غسل وکړي نو الله تعالی ورته په دی باندې هم اجر او ثواب ورکوي. په غنیه الطالبن کې دي:

(قالت عائشة رضی الله عنها اعطی النساء کثیراً فمابا لکم یا معشر الرجال فضحك رسول الله صلی الله تعالی علیه وآله وسلم ثم قال ما من رجل اخذبید امرائته یسرا و دها الا کتب الله تعالی له حسنة فان عانقها فعشر حسنات فاذا اتتها کان خیراً من الدنیا وما فیها فاذا قام لیغتسل لم یمر الماء علی شعره من جسده الا تکتب له حسنة و

تمحی عنه سیئه و ترفع له درجة وما یعطی بغسله خیر من الدنیا وما فیهما و ان الله عزوجل یباهی به الملائکة یقول انظروا الی عبدی نام فی لیلة قرة یغتسل من الجنابة یتیقن بان ربه اشهدوا بانی قد غفرت له (غنیة الطالبین ص ۹۳ — ۹٤ ، فصل فی آداب النکاح).

حضرت عائشه رضی الله عنها چې دا حدیث شریف واورید نو وي ویل: یا رسول الله! ښځو ته خو ډیر زیات ثواب حاصل شو، د سړو باره کې هم ووایئ.

محمد صلی الله علیه وسلم په خندا شو او وي فرمایل: سړي چې د خپلې ښځې لاس نیسي او هغه ځانته راغواړي نو په دی سره یو اجر ورته لیکل کیږي، کوم خاوند چې د خپلې ښځې په غاړه کې له مینی نه لاس آچوي نو هغه ته لس نیکې لیکل کیږي او کله چې ورسره مباشرت کوي نو له دنیا او ما فیها څخه افضل وي، او کله چې غسل کوي نو د بدن له هر یوی ویښته نه چې اوبه تیریږي نو هغه ته د هری یوی ویښته په عوض کې یو نیکې لیکل کیږي، او یوه ګناه یې معاف کیږي او یوه درجه یې او چتیږي او د غسل په عوض کې چې کوم څیزونه ورکول کیږي هغه له دنیا او ما فیها څه افضل وي.

بیشکه الله تعالی په دی باندې فخر کوي او ملائکو ته وایی چې زما بنده ګانو په طرف وګوره چې په داسې سخته شپه کې د غسل لپاره پاځیدلی دی او هغه په دی خبره یقین لري چې زه د هغه رب یم، تاسې په دی خبره ګواه واوسی چې ما هغه وبخښله.

دلومړی شپې خبرې او په صحبت کې چې کومی پټې خبرې دي هغه دی چاته نه وایی، نه سړی ته او نه هم ښځې ته ځکه چې دا بی حیائی او بی مروتی ده.

په غنیة الطالبین کې دي :

(ولا یجوز له ان یحدث غیره بما جری بینه و بین اهله من امر الجماع ولا للمرأة ان تحدث بذلك للنساء لان ذلك سخف و دناءة و قبیح فی الشرع والعقل لما روی ابو هریرة رضی الله تعالی عنه فی حدیث فیه طول عن النبی صلی الله علیه واله وسلم الی ان قال ثم اقبل علی الرجال فقال هل منکم الرجل اذا اتی اهله فاغلق علیه بابه و القی علیه ستره فاستتر بستر الله قالوا نعم یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم قال ثم یجلس بعد ذاك فیقول فعلت کذا فعلت کذا قال فسکنوا قال فاقبل علی النسآء فقال

هل منکن من تحدث فسکتن فجثت فتاة علی احد رکبیتها و تطاولت لرسول الله صلی الله علیه واله وسلم لیراها و یسمع کلا هما فقالت انهم لیتحدثون و انهن لیستحدثنه فقال هل تدورون ما مثل ذلك انما مثل ذلك شیطانة لقیت شیطانا فی السکة فقضی منها والناس ینظرون الیه (غنیة الطالبین ص ۹۰۹ — ۹۱۰ ، فصل فی آداب النکاح) فقط والله اعلم بالصواب.

ترجمه : سړی لپاره دا جائز نه دی چې د جماع په متعلق پټې خبرې چا ته بیان کړي. همدا حکم ښځې لپاره هم دی ځکه چې دا د شرع او عقل دواړه په لحاظ سره کم عقلي او ذلت دی.

حضرت ابو هریره رضی الله عنه یو اوږد حدیث روایت کړی دی چې: یو ځل محمد صلی الله علیه وسلم له سړو نه یو ښتنه وکړه چې ایا داسې کوم سړی هم شته چې خپلې ښځې خواته د تللو په وخت دروازه بنده کړي او پرده واچوي او په پټه دا کار کوي؟

اصحابو عرض وکړ یا رسول الله ! هو داسې خلک شته دي. بیا محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : لدینه وروسته هغه د خپل صحبت او جماع په متعلق خلکو ته وایی چې ماله خپلې ښځې سره داسې او داسې وکړل ؟ په دی خبره اصحاب کرام غلي شول.

بیا محمد صلی الله علیه وسلم ښځو ته وویل: چې ایا په تاسو کې داسې ښځې شته چې د خپل خاوند خصوصی خبرې نورو ښځو ته کوي ؟ ښځې هم غلي شولې.

لږ وخت وروسته یو ځوان پاځید او عرض یې وکړ چې: داسې خبرې سړي هم کوي او ښځې هم، محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کوم سړي او ښځې چې داسې خبرې کوي د هغوی مثال داسې دی لکه چې یو شیطان له بل شیطان سره په بازار او کوڅه کې یو ځای کیږي او د خپل حاجت له پوره کولو نه وروسته روانیږي حال دا چې خلک هغوی ته ګوري.

له کوژدن کولونه دوه کاله وروسته د هلک انکار :

(۲۹۹ _ سوال): زما د لور کوژدن له یو هلک سره شوي و، د دی کار دو کاله په کیدو دی لیکن ترا ،سه پورې هلک د تنګدستی په وجه واده ونکړه، له واده نه مخکې جلې په یوه حادثه کې د غورځیدو په وجه هسپتال کې داخل کړی شوي وه، الحمدالله اوس

روغه رمته ده، کله چې ما د هلک مور پلار ته واده کولو وویل نو هغوی او پخپله هلک له واده کولو نه انکار وکړ او وي ویل چې مونږ له تاسره هیڅ قسم خپلولی نه لرو، ته د خپلې لور واده د خپلې خوښې په مطابق بل خای کې وکړه.

زمونږ په قوم کې د هلکانو کمی دی، اوس سوال دا دی چې مونږ د جلی کوم علاج کړی دی او په هغې مو څومره خرچه کړی ده له هغې نه څه حصه له هلک نه غوستلی شوو او که نه ؟ همدغه راز هغوی واده لپاره مجبورولی شوو او که نه ؟ مفصل خواب را کړئ.

(خواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. کله چې کوژدن وشي نو دواړو لورو ته پکار دي چې په دی باندې کلک ودریږي او خپل قول او وعده دی سر ته ورسوي. الله تعالی فرمایی:

(وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً.) سورة بنی اسرائیل

یعنی خپل عهد او قول باندې وفا کوئ بیشکه د عهد په اړه پوښتنه کیدونکې ده (سوره بنی اسرائیل).

لهذا له کوم شرعي سبب نه بغیر له خپل قول او اقرار نه وروسته کیدل او تردوو کلو پورې امید ورکولونه وروسته یکدم وروسته کیدل گناه ده. د قوم مسئولینو فرض دی چې هغوی واده ته اماده کړي، خو مجبور دی نه کړي شي. عدالت ته تلل او یاله هغوی نه خرچې آخستل غلط کار دی. فقط والله اعلم بالصواب یکم ذی القعده ۱۳۸۰ھ.

کتاب الرضاع

د رضاعت موده څومره ده او لدینه وروسته د تی ورکولو حکم څه دی ؟

(۳۰۰ ـ سوال): د رضاعت موده څومره یعنی په کوم عمر کې د تی په رودلو سره د نکاح حرمت ثابتیږي ؟

(ځواب): ماشوم ته د تی ورکولو موده دوه کاله ده، له دوه کلونه وروسته تی ورکول جائز نه دی، لیکن د نکاح د حرمت لپاره دونیم کاله موده ده. یعنی که چیرته یو ماشوم تر دوه نیم کلنی پورې د کومي ښځې تی وڅکي نو هغه ښځه د ده مور او د هغې اولاد د دی خور او ورور کیږي، د ښځې ورور د ماشوم ماما، د هغې خور ماشوم خاله او د هغې مور او پلار د ماشوم نیکه او آنی کیږي. خود هغې خاوند د ماشوم هیڅ نه کیږي. مگر هغه ماشوم او د هغه اولاد د مدخوله اولاد کیدو په وجه پر هغه حرام دي.

مثلاً یوی حاملی ښځه ته د هغه خاوند طلاق ورکړ یا یې خاوند مړ شو، کله چې دا ماشوم پیداشي نود ښځې عدت ختمیږي اوس که دغې ښځې له کوم سړی سره نکاح وکړ او کوم ماشوم د ده تی ورودله نو لومړی خاوند د دغه ماشوم رضاعي پلار گرځي خو دویم خاوند یې رضاعي پلار نشي کیدلی مگر هغه هلک او د هغه اولاد د هغه مدخولی د اولاد کیدو په وجه وربانديې حرام دي، خو کله چې له دویم خاوند دغې ښځې ماشوم پیداشي او بیا دغه ښځه بل کوم ماشوم ته تی ورکوي نو لومړی خاوندیې نه بلکې دویم خاوند د دغه ماشوم رضاعی پلار دی.

(درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۵۵۲ باب الرضاع جلد اول جوهره ج ۲ ص ۹٦).

ایا د خپلې ښځې له سینې نه شیدو رودلو کې څه حرج شته؟

(۳۰۱ـ سوال): که چیرته خاوند د خپلې ښځې د سینې سر په خوله کې ونیسی او کش یې کړي او خولی ته یې شیدی راشي او لاندې گیدی ته لاړی شي نو په دی سره ښځه وربانديې حرمیږي او که نه؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې ښځه په خاوند باندې نه حرامیږي. په فتاوای قاضی خان کې دي:

زنا ... الرجل ثدی امرأة و شرب لبنها لم تحرم علیه امرأة لما قلنا انه الا رضاع بعد الفصال (فتاوی قاضی خان ج ۱ ص ۸۹ ایضاً مطبع نو لکشور لکهنو).

لیکن قصداً داسې کول جائز نه دی ځکه چې د شیدو رودلو په عمر کې خو ماشوم لپاره د ښځې شیدی ځکل جائز دی، خو د شیدو رودلو عمر تیریدونه وروسته د ښځې شیدی ځکل حرام دی.

د خورزی له رضاعی ماما سره نکاح صحیح نه ده:

(۳۰۲_ سوال): څه فرمایی د دین علماء او د متین شریعت مفتیان په دی مسئله کې چې یوه ښځه مثلاً د رشیدی دوه لورګانی حمیده او هاجره دي، د حمیدی یوه لور ... او د هاجری یو هلک، د هاجری زوی قاسم د خپلې انی رشیدی تی رودلی دی، اوس پوښتنه دا ده چې د حمیدی د لور نکاح د هاجری د زوي قاسم سره کیږي او که نه؟ ایا قاسم د حمیدی د لور رضاعی ماما کیږي او که نه؟ که رضاعی ماما یې شي نو له هغه سره نکاح یې کیږي او که نه؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې که قاسم د رضاعت په عمر کې د خپلې آنی رشیدی بیګم تی رودلې وي نو هغه د ده رضاعی مور او د هغه خاله حمیده یې رضاعی خور او د هغې لور د قاسم رضاعی خورزه او قاسم د هغې رضاعی ماما شو، لهذا د دواړو ترمنځ نکاح نه کیږي.

فتاوای عالمګیري کې دي:

تحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع و اصولهما و فروعهما من النسب والرضاع جمیعاً (ص ٤٨ ج ٢ کتاب الرضاع).

یعنی تي رودونکی باندې که هغه جلی وي یا هلک د هغه رضاعی مور او پلار او د دواړو اصول یعنی تر بره پورې، او فروع لور، خوی او لاندې پورې حرامیږي.(اصول او فروع نسبی یا رضاعي ص ۴۸ ج ۲ کتاب الرضاع.)

و اذا رضعت المرأة صبیة حرمت علی زوجها و ابنائه و ابتائه (المختار) فتکون المرضعة ام الرضیع و اولادها اخوته و اخواته من تقدم و من تاخر فلا یجز ان یتزوج شیئاً من ولدها وولدها و ان سفلوا .... الخ و الا شرح المختار (ص ۱۱۸ ج ۳ کتاب ارضاع) فقط والله تعالی اعلم بالصواب.

که خاوند د خپلي ښځې شیدې وڅکې نو څه حکم یې دی؟

۳۰۳_ سوال) که چیرته یو سړی قصداً د خپلې ښځې سینه په خوله کې ونیسي او شیدې ترینه وڅکې نو په دې باره کې د شریعت څه حکم دی؟ او که ښځه د خپل خاوند په خوله کې خپل سینه ورکړي او د شیدو څکلو ورته ووایي نو په دې باره کې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

ځواب): په لوی عمر کې د کومې ښځې شیدې څکل حرام دی، لیکن نکاح یې نه ماتیږي خو گنهگاریږي، لهذا په مسئوله صورت کې ښځه او خاوند دواړه گنهگار او د الله او د هغه رسول نافرمانه دي، هغوی ته له دې نه توبه ایستل ضروري دي. فقط والله اعلم بالصواب.

په رضاعي وریره سره مې نکاح شوې ده د دې څه حکم دی؟

(۳۰۴_ سوال): زید او بکر دواړه رضاعي ورونه دي، بکر د خپل رضاعي ورور د زید له لور سره نکاح شوې ده ایا دا نکاح صحیح ده او که نه؟ که نه صحیح کیږي نو اوس دې څه وکړی شي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): د رضاعي ورور له لور سره نکاح نه کیږي بلکې حرام دی، نو ځکه دا نکاح نه ده شوی. په حدیث شریف کې دي:

ان الله حرم من الرضاعة ما حرم من النسب (مشکوٰة شریف ص ۲۷۳ بـــاب المحرمات).

په هدایه اولین کې دي:

و یحرم من الرضاعة ما یحرم من النسب (هدایه اولین ص ۳۳۱ کتاب الرضاع) ص ۲۵۰ و اخوالمرضعه و اختها خالته.

لهذا فوراً د دواړو ترمنځ تفریق ضروري دی. که چیرته په حقیقت باندې پرده اچول غواړئ چې خلکو ته اصل حقیقت معلوم نشي نو د جنگ جگړې په بهانه دې ورته طلاق ورکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب. ۲۹ جمادی الثاني ۱۴۰۰ھ

د رضاعی خور له لور سره نکاح کیږي او که نه؟

(۳۰۵_ سوال): یاسمین بانو د غلام محمد لور ده، عزیز الدین شیخ د غلام محمد خور دی، عزیز الدین او یاسمین بانو د نیا شیدی څکلی دي، ایا د عزیزالدین نکاح له یاسمین بانو سره کیدای شي یا نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کې که عزیزالدین د رضاعت په موده کې د یاسمین بانو د نیا شیدی څکلي دي نو د یاسمین نیا د هغه رضاعی مور، او د یاسمین مور د هغه رضاعی خور او یاسمین د هغه رضاعی خورزه ده او پخپله عزیزالدین د یاسمین رضاعي ماما شو، نو ځکه یاسمین بانو او د عزیزالدین ترمنځ نکاح نشي کیدلې. حواله یې مخکې تیر شوې ده. فقط والله اعلم بالصواب.

د خپل ورور رضاعي خور سره نکاح کیږي او که نه؟

(۳۰٦_ سوال): د رفیق ورور د یوی ښځې شیدی څکلی وی، هغه خو مړ شوی دی، اوس د رفیق واده د هغې له لور سره کیدلی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کې د رفیق واده د خپل ورور له رضاعي خور سره صحیح ده.

و تحل اخت اخیه رضاعً. (عالمگیري ج ۲ ص ۴۸ کتاب الرضاع.) فقط والله اعلم بالصواب. ۲ رمضان المبارک ۱۴۰۰ھ

د خپل خور له رضاعي ورور سره نکاح کول:

(۳۰۷_ سوال): زما حقیقی (سکه خاله) زما ورو کی ورور او خور چې دواړه غبرګ پیدا شوي دي، خپلی شیدی ورکړی وی، هغوی دواړه بیا مړه شول. له دغو دواړو نه مشره خور می چې بالغه ده ایا د ده نکاح زما د خاله له زوی سره روا ده او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کې نکاح یې جائزه ده. په فتاوای عالمګیری کې دي:

و تحل اخت اخیه رضاعاً .. الخ. له خپل رضاعی ورور له خور سره نکاح جائزه ده. (عالمګیري ج ۲ ص ۱۸ کتاب الرضاع.) فقط والله اعلم بالصواب.

له رضاعی ماما سره نکاح.

۳۰۸_ سوال): څه فرمایی د دین علماء او د متین شرع مفتیان په دی مسئله کې چې فاطمی د خپل ترور لور خالده شیدی څکلی دي، فاطمی نکاح د هغه د ترور زوی سره کیدای شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): دا چې فاطمی د خپل ترور لور شیدی څکلي دي نو خالده د هغې رضاعی مور او د خالدی ورور د زید رضاعي ماما شو، نو ځکه د فاطمی نکاح د زید سره نشي کیدلې. په فتاوای عالمګیري کې دي: واخوالمرضعته خاله و اختها خالته، فقط والله اعلم بالصواب.

د ښځې سینه په خوله کې نیول:

(۳۰۹_ سوال): عمر د صحبت په وخت کې د شهوت د غلبی په وجه د خپلې خوانی ښځې سینې په خوله کې نیسي، ایا د ښځې سینی په خوله کې نیول چې شیدی پکې نه وي جائز دی او که نه؟ او که د ماشوم د پیدا کیدو په وجه شیدی ووځي او بیا هم دا کار کوي نو نکاح یې پاتی کیږي او که ماتیږي؟ بینوا توجروا.

(خواب): که چیرته د شهوت په جوش کې د خپلې ښځې سینه په خوله کې نیسی نو څه ګناه نشته، البته شیدی څکل حرام دی، مګر په دی سره د رضاعت حرمت نه ثابتیږی، ځکه چې دا د رضاعت عمر موده نه ده.

و اذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم كذافى الهداية (عالمگيرى ج ٢ ص ٤٨ كتاب الرضاع) فقط والله اعلم بالصواب.

د رضاعی مور لور د رضاعی زوی لپاره روا ده او که نه؟

(۳۱۰_ سوال): څه وایی د دین علماء او د متین شرع مفتیان په دی مسئله کې چې ساجده او ماجده دوه سکه خویندی دي، د ساجدی هلک پیدا شوه چې نوم یې سالم دی، ماجده خپل خوریی سالم ته شیدی ورکړی، څو کاله بعد د ماجدی لور پیدا شوه د هغې نوم زینب ده، اوس دواړه بالغان او د نکاح عمر ته رسیدلی دي. ماجده غواړي چې د خپل لور زینب نکاح له سالم سره وکړي، دلته خلک په

دی باره کې دوه رای لري، خینې خلک دغه نکاح ته ناجائز وایی او خینې جائز او دلیل دا وړاندې کوي چې زینب څو کاله وروروسته پیدا شوی ده، تاسی مهربانی وکړئ مفصل خواب راکړئ. الله تعالی دی تا سوته لوی اجر درکړي. بینوا توجروا.

(خواب): په مسئوله صورت کې سالِم د رضاعت په موده کې د ماجدی پی رودلي دي نو ماجده د هغه رضاعی مور شوه او د ماجدی خاوند د هغه رضاعی پلار. او د ماجدی ټول اولادونه برابره خبره ده چې له سالم نه مخکې پیدا شوي دی یا وروسته هغوی ټول د سالِم رضاعی ورونه او خویندی دي، او د هغوی ترمنځ نکاح حرامه ده. لهذا له زینب سره د سالم نکاح نه کیږي.

الاختیار لتعلیل المختار کې دي:

(و اذا ارضعت المرأة صبية حرمت على زوجها و ابائه و بناته) فتكون المرضعة ام الرضيع و اولادها اخوته و اخواته من تقدم ومن تاخر فلا يجوز ان يتـــزوج شيئاً من ولدها وولد ولدها وان سفلوا ...... الخ (الاختيار لتعليل المختار ج ٣ ص ١١٨ كتاب الرضاع).

په درالمنتقی فی شرح الملتقی کې دي:

(ولا) حل (بين رضيع وولد مرضعته) سواء ارضعت ولدها او لا ...... الى قوله ...... (و ان سفل) لانه ولد الا ..... الخ (درالمنتقى على هامش مجمع الانهر ص ٣٧٧ ج ١ كتاب الرضاع).

په فتاوای عالمګیري کې دي:

تحرم على الرضيع ابواه من الرضاع و اصولها و فروعهما من النسب والرضـــاع جميعاً (فتاوى عالمگيرى ص ٤٨ ج ٢ كتاب الرضاع).

یعنی شیدی رودونکی باندې که هغه هلک وي که جلۍ د هغه رضاعي مور او پلار او د دغو دواړو اصول او فروع حرامیږي، دا اصول او فروع نسبي وي یا رضاعي. (فتاوای عالمګیري ص ۴۸ ج ۲ کتاب الرضاع.)

درمختار کې دي:

(ولا) حل (بين الرضيعة وولد مرضعتها) اى التي ارضعتها (وولد ولدها) لانه ولد الاخ.

په شامي کې دي:

وصفقه فافادا التحريم و ان لم ترضع ولدها النسبى . الى قوله . و شامى ايضاً مائو ولدته قبل ارضاعها للرضيعة او بعده ولو بسنين (در مختار و شامی ص ۵٦۱ ج ۲ باب الرضاع).

په القول الجازم کې دي:

لومړی قائده : په رودونکی باندې د هغه رضاعي مور، پلار او د دواړو نسبي او رضاعي حراميږي.

فى الهنديه تحرمه على الرضيع ابواه من الرضاع و اصولهما و فروعهما من النسب والرضاع جميعاً. (القول الجازم ص ٦)

په يو بل ځای کې ليکلی دي:په رضيع باندې رضاعی مور او پلار او د دغو دواړو اصول او فروع نسبي او رضاعي حراميږي، تر دی چې د مرضعه نسبي اولاد که هغه د رضيعه له رضاعی پلار نه هم وي يا له کوم بل سړي نه له رضاع نه مخکې وي يا وروسته په رضيع باندې حرام دي ... الخ. (القول الجازم فی بيان المحارم ص ۱۱_ حضرت علامه مولانا سعيد صاحب لکنهوي.)

له پورتنيو حوالو څخه ثابتيږي چې په مسئوله صورت کې د ساله او زينب ترمنځ نکاح بالکل حرام او باطل دی، ځکه چې دواړه رضاعی خور او ورور دي او يو بل لپاره حرام دي. فقط والله اعلم بالصواب.

د رضاعت د حرمت لپاره د تي رودلو يوه زمانه ضروري نه ده:

(۳۱۱_ سوال): صالحه ناصر ته شيدی ورکړی بيا لس کاله وروسته خديجې ته تی ورکړه، اوس د ناصر او خديجه ترمنځ نکاح کولې شي او که نه؟ يو مولوی صاحب وايی چې د دواړو شيدو څکلو ترمنځ زمانه جلا جلا ده،لهذا نکاح يې کيدی شي. ايا د هغه دا خبره صحيح ده ؟ بينوا توجروا.

(خواب) په مسئوله صورت کې ناصر او خدیجه دواړو د رضاعت په عمر کې شیدی څکلی دي نو دواړه پخپلو کې رضاعي خور او ورور دي اګر که د شیدو څکلو زمانه یې جلا جلا وي. د رضاعت د ثبوت لپاره په یوه زمانه کې یو ځای تی رودل شرط نه دی. په درمختار کې دي:

(ولاحل بین (رضیعی امرأة) بکونهما اخوین وان اختلف الـزمن والاب. په شامي کی دي: (قوله و ان اختلف الزمن) کان ارضعت الولد الثانی بعد الاول بعشرین سنه مثلاً و کان کل منهما فی مدة الرضاع (در مختار و شـامی ج ۲ ص ۵٦۱ باب الرضاع).

په درالمنتقی شرح المنتقی کې دي:

ولا یحل بین رضیع ثدی و ان اختلف زمانهما) و ان کان بین رضاعهما سنون لانهما اخوان.

په بهشتی زیور کې دي:

مسئله نمبر ۱۳ـ یوه جلۍ او یو هلک دواړو د یوې ښځې شیدې څکلـی دي نـو د دواړو ترمنځ نکاح نشي کیدلې، برابره خبره ده چې دواړه په یوه زمانه کې څکلی وي یا مخکې یا وروسته، دواړو حکم یو دی. (بهشتی زیور ص ۲۱ څلورمه حصه.)

د خپل رضاعي مور له رضاعی خور سره نکاح کول:

(۳۱۲ـ سوال): یو هلک د رضاعت په عمر کې د یوې ښځې تـی رودلی دی اوس هغه له بالغیدو نه وروسته د خپل رضـاعي مـور لـه رضـاعي خـور سـره چـې د دی رضاعي خاله کیږي نکاح کول غواړي یا له هغې سره د ده نکاح کیـږي او کـه نـه؟ بینوا توجروا.

(خواب): کومی رشتې چـې لـه نـسب نـه حـرام وي هغـه پـه رضـاعت سـره هـم حرامیږي.

و یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب. (هدایه اولین ص ۳۳۱ کتاب الرضاع.)

او د خاله نسبی مور له خور سره که هغه حقیقی وي یـا علاتـی او اخیـافی، هغـه د دی خاله ده او نکاح ورسره نه کیږي.

و تدخل فيها العمات المتفرقات والخالات المتفرقات اى من الا بوين او من الاب او من الام (هدايه اولين ص ۲۸۷ ايضاً).

همدغه راز د رضاعی مور خور هم که هغه (حقیقی وي یا علاتی او اخیافی) رضاعی خاله یې کیږي او نکاح ورسره حرامه ده.

(واخوا المرضعة خاله و اختها خاله.)

د شیدی ورکوونکی ښځې ورور د دغه ماشوم ماما دی او د دغې ښځې خور د دغه هلک خاله ده. (عالمگیري په حواله فتاوای رحیمیه ۲۷۳/۱.)

لهذا په مسئوله صورت کې هغه هلک د خپل رضاعی مور له اخیافي خور سره چې د دغه هلک رضاعی خاله ده، نکاح نشي کولی. فقط والله اعلم بالصواب.

كتاب الطلاق

په طلاق باندې بندیز لګول څنګه دی؟

(۳۱۳ـ سوال): د کیړا اولسوالی سني مسلمانانو چې د بهورا برادري (قوم) په نامه یادیږي یوه کمیټه جوړه کړي ده چې د قوم د ټولنیز حالت د ښه کولو دعوه کوي. د هغوی په قوم کې د طلاق د زیات والی له کبله چې هسې بې موجبه ښځې طلاقوي او بیا هغوی له مشکل سره مخامخ کیږي، د دې مخ نیوی په خاطر دا بندیز لګولې دی چې هرڅوک خپلې ښځې ته بې ځای او بې موجبه طلاق ورکړي نو پر هغه دی جرمانه مقرر کړی شي، همدغه راز دا بندیزي هم لګولې دی چې داسې سړی ته دی آینده هیڅوک خپل لور ورنکړي او که ورکړی نو جرمانه به ورباندې لګیږي، له هغه سره به هر قسم ټولنیز بندیز لګیږي او هیڅوک به له هغه سره اړیکې نه قائموي. اوس زه ستاسې نظر لاندینی سوالونو ته را اړوم او د دې په باره کې ستاسې شرعی فیصله غواړم.

(۱): ایا په شریعت کې پر چا باندې مالی سزا ایښودل جائز دی؟

ایا طلاق ورکوونکی سړی ته بله ښځه نه ورکول او ورسره هر اړخیزه مقاطعه کول صحیح دی؟ ایا کوم سړی چې خپله ښځه طلاقه کړي د قوم د مشرانو په وړاندې د طلاقولو وجوهات بیانول ضروري دی؟ که داسې ضروري وي نو بیا د دې خبری امکانات هم زیاتیږي چې طلاق ورکوونکی د خپل ځان د خلاصون په خاطر پخپلې ښځې تورونه ولګوي او د هغې ابرو خراب کړي چې بیا به له هغه سره د واده کولو لپاره هیڅوک نه اماده کیږي، بل دا چې کله څوک پر ښځه باندې بې ځای تهمت او تور ولګوي نو د هغې پلار او ورونه به ډیر سخت غصه کیږي او خبره جنګ جګړی ته ورسیږي دا خبره دی هم په یاد وساتل شي چې بعضې وخت طلاق ورکوونکی سره معقول دلائل او وجوهات موجود وي خو د قوم د مشرانو په وړاندې د هغوی له بیانولو نه شرم و حیا کوي، اوس پوښتنه دا ده چې ایا کمیټی دغه پورتنی کارونه د شریعت په رڼا کې صحیح دي او که نه؟ او بل دا چې د دغې کمیټی ممبرانو ته فیس ورکول او یا ورسره مرسته کول صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): (۱): مالي جرمانه صحیح نه ده، له طلاق ورکوونکی سره هر اړخیز تعلقات غوڅول ان تر دی چې د هغه د جنازی په لمونځ کې ګډون نه کول او په تجهیز او تکفین کې شرکت نه کول صحیح کار نه دی. د اصلاح پر ځای به نور مشکلات پیدا

کیږی، په تعلیم، نصیحت او اخلاقی دباو سره د بدی مخه نیول کیدای شي. د کلیو او قریو په سطحه د طلاق بدي بیانولو سره د دی مخه نیول کیدای شي. خو طلاق فی نفسه مباح دی او د خاوند حق دی، لیکن له ضرورت نه بغیر دا حق استعمالول د الله تعالی خوښ نه دی، د الله تعالی په نزد په مباحو شیانو کې تر ټولو زیات مبغوض څیز طلاق دی، په یو حدیث کې دي چې نکاح وکړئ خو طلاق مه ورکوئ. په طلاق ورکولو سره عرش لړځیږي. په یو بل حدیث کې دي:

عن جابر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان ابلیس ص۲۵٦

یعنی ابلیس خپل تخت په سمندر باندې ږدي، بیا خپل پوځ د خلکو ګمراه کولو او فساد خورولو لپاره استوي، په هغوی کې له ټولونه د اوچتې مرتبې شیطان هغه وي چې لویه فتنه یې تر سره کړی وي، د هغه معتقد یو د بل پسې راځي او خپل فعالیت او کار ګذاري بیانوي، هغه ورته وایی چې تا هیڅ نه دي کړي، تردی چې یو راځی او ورته وایی ما تر هغه پری نښود ترڅو پورې مې چې د خاوند، ښځې او د هغوی د ماشومانو ترمنځ مې تفرقه او جدایی واچوله، نو غټ شیطان هغه ته شاباشی ورکوي او له خپل سینی سره جوختوي. (مسلم).

نکاح یو نعمت دی او د دین د حفاظت لپاره لوی ضمانت دی، خو طلاق د دغه نعمت بی قدري او ناشکري دي، په خاندان کې کلونه کلونه عداوت او دشمني وي، الله خفه کیږي او شیطان خوشحالیږي، په طلاق کې ښځې ته تکلیف او غم رسیږي او له قصور نه بغیر ښځې ته طلاق او غم ورکول ظلم او ګناه ده.

مباش در پی آزار و هرچه خواهی کن
در شـــریعت ما غیر این گناهی نیست

که ښځه بد رنګه او بد سیرته وي نو صبرورباندې کول پکار دی، هغې ته طلاق ورکول او کور ورانول ښه کار نه دی. محمد صلی الله علیه وسلم ښځه له کږی هډوکی سره مشابه ګرځولې او ورسره د نرمی کولو تاکید یې کړی دی. الله تعالی په ټولو خبرو ښه پوه دی، کیدای شي په داسې ښځه کې الله تعالی برکتونه ایښې وي. الله تعالی فرمایی:

که چیرته تاسی هغوی محبوب ونه ګرځوئ یعنی خپلی ښځې خوښ نکړئ، نو کیدای شي چې یو څیز ستاسې خوښ نه وي مګر الله تعالی په هغه کې لویه ګټه ایښې وي. (سوره النساء).

همدغه راز ښځې ته هم پکار دي چې له عقل او پوهې نه کار واخلي او د الله تعالی په فیصله باندې خوشحاله واوسي او د خوښې ژوند تیر کړي. له طلاق ورکوونکی سړی نه طلاق ورکولو وجه معلومولې شي لیکن هغه دیته نشي مجبوروِلی چې د خفیه او راز خبری ښکاره کولوته مجبور کړي. په حالاتو باندې د پوهیدو او د دواړو نزاع او اختلاف لری کولو لپاره د هغوی نژدی خپلوان زیات موزون او مناسب دي. ځکه چې هغوی د دواړو له حالاتو او ځګړونه خبر وي او له هغوی نه د خیر خواهی امید هم کیدلې شي، او د هغوی د عزت او آبرو پوره پوره خیال هم ساتلی شي. الهی ارشاد دی:

((وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا.))

که تاسوته د ښځې او خاوند ترمنځ د کشمکش ویره وي نو یو سړی چې د روغی جوړی کولو قابلیت لري، د سړی له خاندان څخه او یو سړی د ښځې له خاندان څخه ورته ولیږئ، که د دغو دواړو سړو اصلاح منظور وي نو الله تعالی به د هغوی ترمنځ اتفاق راولي، بیله شکه الله تعالی لوی علم لروونکی او خبردار ذات دی. (بیان القران، سوره النساء).

که چیرته د کمیټی په ارکانو کې زیاتره علماء وي او د هغوی د رای په مطابق عمل کیږي نو د دی ممبر جوړیدو او مدد کولوکی څه بدی نشته.

ایا د حمل په حالت کې طلاق واقع کیږي او که نه؟

(۳۱۴_ سوال): ایا د حمل په حالت کې طلاق واقع کیږي او که نه؟

(ځواب): هو د حمل په حالت کې هم طلاق واقع کیږي.

وَأُوْلَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ.

ایا د ښځې په ګستاخانه الفاظو باندې پر نکاح څه اثر کیږي او که نه؟

(۳۱۵_ سوال): د یو سړی ښځه هر وخت دا خبره کوي چې مونږ خومره له الله تعالی نه ویریږو هومره زیات الله مونږ ویروي، ایا په داسي الفاظو سره ښځه طلاقیږي او که نه؟

(ځواب): دا الفاظ ډیر بد او له ګستاخی نه ډک دي، پر هغې توبه کول واجب دی، او زجراً د تجدید نکاح حکم وکړی شي، مګر په دی الفاظو سره له خپل خاوند نه نه طلاقیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته د دویم نکاح کولو لپاره د کوم عذر په وجه لومړنی ښځې ته طلاق ورکړي نو د هغه څه حکم دی؟

(۳۱٦_ سوال): زما د واده تقریباً ۱۵ کاله کیږي او ښځه مې سل ناروغه ده، هیڅ کار مې نه کیږي او اولاد مې هم نشته، د دو کلو راهیسی پلار کره ناسته ده، کورته نه راځي. په کور کې زما مور بوډی ده او بل هیڅوک نه لرم، اوس زه غواړم چې بل واده وکړم. مګر له چانه چې واده غواړم هغوی ماته وایی لومړنی ښځه دی طلاقه کړه که نه نو مونږ خپل خور تاته نه ورکو. که چیرته زه خپلې ښځې ته طلاق ورکړم نو څه ګناه خو به پکې نه وي، شرعاً د دی څه حکم دی؟ وجه ښکاره ده چې ښځه مې ماکره نه راځي او خپل پلار کره ناسته ده، مهرباني وکړئ ځواب راکړئ.

(ځواب): له څه شرعي عذر او شدید مجبوري نه بغیر ښځې ته طلاق ورکول او هغې ته تکلیف رسول د ګناه موجب دی. په مسئوله صورت کې تاسی معذور او مجبور یئ، لهذا تاسی ګنهګار نه یئ، لیکن کوم خلک چې تاته خپل خور درکوي هغوی لپاره دا مناسب نه دی چې د مخکینی ښځې د طلاقولو شرط کیږدي، دا کار د حدیث شریف له کبله منع دی.

و عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لا تسئل المرأة طلاق اختها لتستفرغ صحفتها ولتنکح فان لها ما قدرلها . متفق علیه (مشکوة شریف ص ۲۷۲ باب اعلان النکاح والخطبه والشرط).

د حاملی د طلاق په باره کې:

(۳۱۷_ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته د خراب تعلق په وجه دری طلاقه ورکړې، ښځې ته مهر او نفقه هم ورکړی ده، اوس سوال دا دی چې ایا په حمل کې طلاق واقع کیږي او که نه؟

(ځواب): کله چې حاملی ښځې ته طلاق ورکړی شي نو واقع کیږي، حمل د طلاق مانع نه دی.

و طلاق الحامل یجوز عقب الجماع (هدایه ص ۳۳٦ ج ۲ کتاب الطلاق باب طلاق السنه) فقط والله اعلم بالصواب.

که خپله ښځه د زنا په حالت کې ووینی نو څه حکم یې دی؟

(۳۱۸ـ سوال): یو سړی خپله ښځه د زنا کولو په حالت کې ولیدله، اوس هغه وساتي او که طلاق ورته ورکړي، که طلاق ورنکړی نو ګنهګاریږي او که نه؟

(ځواب): که چیرته د خاوند ورسره مینه وي او یقین ولري چې بیا به زنا نه کوي او د زوجیت په حقوقوکې فرق نه راولي نو هغې ته طلاق ورکول واجب او ضروري نه دی. که هغه پخپل کور کې وساتی هیڅ ګناه پکې نشته. په درمختار کې دي:

(لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة).

یعنی پر خاوند باندې د بد کارئ ښځې طلاق ورکول واجب نه دی، د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې داسې مقدمه پیش شوې وه، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې ښځه دی طلاقه کړه، هغه وویل چې دا زما خوښه ده، نو محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې پخپل نکاح کې ساتلی هم شي.

قوله لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة ولا علیها تسریح الفاجر الا اذا خاف ان لا یقیما حدود الله فلا باس ان یتفرقا اه مجتبی والفجور یعم الزناء وغیره وقد قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لمن کانت زوجته لا ترذید لامس و قد قال انی احبها استمتع بها اه (در مختار مع الشامی ص ۳۷۷ کتاب الحضر و الا باحه فصل فی البیع).

یواځې په سوچ کولو سره ښځه نه طلاقیږي.

(۳۱۹ـ سوال): د سړی او ښځې ترمنځ هر وخت جنګ او جګړی وي، ښځه د سړي په خبرو عمل نه کوي، نو ځکه کله کله دماغ ډیر سخت خرابیږي مګر زړه د ښځې د طلاقولو اجازه نه ورکوي، ځکه چې د خپلولی او د اولادو مستقبل ته ګوري خو په زړه کې هر وخت وسوسی وي او کله کله د طلاق ورکولو نیت هم پیدا کیږي، خو په ژبه یې نه راولم، ایا یواځې په سوچ سره ښځه طلاقیږی او که نه؟

(خواب): د ژبې تلفظ نه بغیر یواځې په زړه کې د سوچ په وجه طلاق نه واقع کیږي

بلا نیت او له اضافت نه پرته د طلاق حکم:

(۳۲۰_ سوال): یو سړی پخپل زوی باندې قهر او غصه کاو، په دی ضمن کې د هلک مور په منځ کې راودنګل او مداخله یې وکړه، نو هغه خپلې ښځې ته وویل: فارغه یې. او بیایې وویل طلاق، طلاق، طلاق. حال دا چې د هغه نیت د طلاق نه و او نه هم د ښځې لپاره دا الفاظ استعمال کړی دي. بلکې هغه له خپل زوی سره خبری کولې او په منځ کې دا خبری یې وکړی، په دغو الفاظو کې داسې هم نه دي ویلی چې ته طلاقه یې. نو ایا په دی باره کې د سړي خبرې معتبر ګڼل کیدلی شي؟ (۲): ایا په مذکوره صورت کې طلاق واقع کیږي او که نه؟ (۳): که طلاق یې واقع شوي وي نو دا رجعی طلاق دی او که بائن او که بائن وي نو څو طلاقه واقع شوي دي، که یو طلاق واقع شوې وي نو سړی ته د رجوع حق شته او که نه؟ (۴): که د رجوع حق ورته حاصل نه وي نو ایا د حلالې نه علاوه له خپلې ښځې سره دوباره نکاح کولې شي او که نه؟

(خواب): که چیرته یو څل خپل ښځې ته فارغه یې ویلی وي نو بائن طلاق واقع شوی ده، د فارغه یې لفظ له کنایاتو څخه دی، لدینه بلا نیت طلاق واقع کیږي، لکه چې په امدادالفتا وی کې دي چې فارغه یې لفظ کنایه ده نو څرنګه چې لدینه د بائن طلاق واقع کیدل متعارف دی نو ځکه بلانیت په دی لفظ بائن طلاق واقع کیږي. (ص ۳۹۳ ج ۲).

د فارغه یې لفظ نه وروسته د طلاق لفظ دری ځلې ویل شوی دی، او قاعده دا ده چې کله ښځه مدخوله وي نو بائن طلاق ته صریح طلاق لاحق کیږي.

الصریح یلحق الصریح و یلحق البائن بشرط العدة. (در مختار مع الشامی ص ٦٤٥ ج ۲ باب الکنایات مطلب الصریح یلحق الصریح والبائن.)

لهذا وروستی دوه صریح طلاق لاحق شول او په دی سره مغلظ دری طلاقه واقع شول، له حلالې نه پرته وربانديې ښځه نشي حلاله کیدلې.

- ((و ادنی الجهر اسماع غیره و ادنی المخافة اسماع نفسه و یجری ذلك المذکور فی کل ما یتعلق منطق کتسمية علی ذبیحه و وجوب سجدة تلاوة و عتاق و طلاق و استثناء ...... الخ (در مختار مع الشامی فی القراة ج ۱ ص ۵۳۵)

،، فإن طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره.

په صريح طلاق کې نيت شرط نه دی.

ولا يفتقر الى نية لانه صريح فيه لغلبة الاستعمال. (هدايه ص ۳۳۹ ج ۲).

و صريح الطلاق لا يحتاة اى النيه (المختار) لا نه موضوع له شرعاً فكان حقيقة والحقيقه لا . يحتاج الى نية (الاختيار شرح المختار ص ۱۲۵ ج ۳ كتاب الطلاق).

لفظ الطلاق لا يستعمل الا في الطلاق فذلك اللفظ صريح يقع به الطلاق من غيرنية

(فتاوای عالمگیری ص ۴۰۰ ج ۲)

لهذا د فارغه نی او طلاق په لفظ کې د ويرولو او عدم نيت خبره د منلو وړ نه ده.

و ان قال تعمدته تخويفاً لم يصدق قضاءً الا اذا اشهد عليه قبله به يفتى (در مختار مع الشامی ص ۵۹۲ ج ۲ باب الصريح نوعان ...... الخ).

باتی شوه په طلاق د اضافت شرط والی نو صريح اضافت پکښې شرط نه دی، معنوي اضافت ورته هم کافی دی او هغه دلته موجود دی. لکه چې په سوال کې موجود دی چې ښځه غوښتله نو خاوند د ښځې د ويرولو لپاره دا الفاظ استعمال کړل، دلالت حال د طلاق مذاکره او قرائن معنوي اضافت دی.

((قوله لتركه الاضافة) اى المعنوية فانها الشرط والخطاب من الاضافة المعنوية و كذا الاشاره .... الخ و الا يلزم كون الاضافة بصريحة فى كلامه (الى) و ظاهره انه لا يصدق فى انه لم يرد امرأته للعرف (شامى ص ۵۹۰ - ۵۹۱ ج ۲ مطلب الصويح نوعان .... الخ).

لهذا ښځه له څه شک او شبهې نه پرته طلاقه شوی ده. فقط والله اعلم بالصواب.

(۲): طلاق دی واقع شوې دی.

(۳): دری مغلظ طلاق واقع شوي دي.

(۴): دری طلاقه واقع شوي دی.

(۵): رجوع نشي کيدلې.

(۶): له شرعي حلالې نه بغير ښځه نشي حلال کيدلې. قوله تعالى:

وان ضفها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره ، فقط والله اعلم بالصواب

د زیات معلومات او تشفی لپاره د مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمن صاحب فتوی پیش کولې شي.

(۱) (سوال ۳۳): یو سړی خپله ښځه په دریو طلاقه طلاقه کړه، خو طلاق اضافت یې خپلې ښځې ته ونکړه. یا په دی صورت کې د هغه ښځه بائنه طلاقه شوه او که نه؟

(خواب): په دی صورت کې ښځه یې په دریو طلاقو طلاقه شوی ده.

کما فی الدر المختار ولا یلزم کون الاضافه صریحه فی کلامه (الی قوله) فهذا یدل علی وقوعه و ان لم یضفه الی المراه صریحا(شامی ص ۴۳۰ ج ۲) فقط والله اعلم بالصواب.

کتبه عزیز الرحمن عفی عنه (فتاوی دارالعلوم دیو بند ج ۳ ، ۴ ص ۴۵۴).

(۲): (سوال ۷۳۴): د زید نکاح له هندی سره شوی ده، د دواړو ترمنځ جګړه وشوه، زید په غصه کې وویل. یو طلاق. دوه طلاق. دری طلاق، ایا په دغو الفاظو سره طلاق واقع شو او که نه؟

(خواب): په دی صورت کې دری طلاقه د هغې پر ښځه باندې واقع شوي دي او د درد د واقع کیدو قرینه هم موجوده ده چې هغه خپلې ښځې ته ویلی دي. والله اعلم بالصواب. کتبه عزیز الرحمن عق عنه فتاوای دارالعلوم دیو بند ص ۴۵۵ ج ۳_۴).

(۳): (سوال ۱۴۳۲): یو سړی د غصې په حالت کې د طلاق الفاظ تکرار کړل یعنی له دریو خلونه زیات وویل خو ښځې ته خطاب ونکړ، ایا په دی صورت کې د هغه ښځه طلاقه شوې ده او که نه؟ او که واقع شوې وي نو کوم یو طلاق واقع شوی دی، ایا له حلالی نه پرته خپله ښځه ساتلی شي او که نه؟

(خواب): طلاق یې واقع شوی دي او دری طلاقه یې واقع شوي دی، هغه مغلظ او بائنه شوی ده، له حلالی نه پرته یې خانته نکاح نشي کولې. که څه هم په لفظ کې خطاب نشته مګر مفهوم او مقصد په لحاظ سره خطاب موجود دی. کله چې انسان په همدغه حالت کې خپلې ښځې ته طلاق ورکوي.

کما قال الفقهاء لان العادة ان من له امرأة اذا انما یحلف بطلاقها لا بطلاق غیرها ...... الخ (ص ۴۳۰ ج ۳) فقط والله اعلم بالصواب.

طلاق ورکولوته مجبوروول څنګه دي؟

(سوال ۳۲۱): یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکول نه غواړي، نور خلک یې مجبوروي، نو مجبورونکی ته څه حکم دی؟

(ځواب): له څه شرعي وجې نه بغیر طلاق ورکول یا د طلاق ورکولو لپاره زور اچول منع دی. څکه چې په طلاق سره ښځې ته تکلیف رسیږي او بلا ضرورت تکلیف رسول ناجائز او ګناه ده. واده د ښځې او خاوند د آرام او سکون لپاره وي، په طلاق سره دا تول ختمیږي او خاندان کې تر کلونو کلونو پورې دشمنی پاتی کیږي. لدینه علاوه د الله تعالی د نعمت ناشکري او کفران نعمت دی، لهذا له شدید ضرورت نه پرته طلاق ورکول او طلاق ورکولو لپاره مجبوروول ناروا کار دی. په حدیث شریف کې دي:
(د الله تعالی په نزد په مباح څیزونو کې له ټولونه خراب څیز طلاق دی. په یو حدیث کې دي چې نکاح وکړئ خو طلاق مه ورکوئ څکه چې په طلاق سره عرش لړځیږي.
په یو حدیث کې دي چې شیطان د دریاب په اوبو باندې خپل تخت ږدي او خپل فوځ د خلکو د ګمراه کولو او فتنه او فساد پیدا کولو لپاره آستوي. کوم شیطان چې د ښځې او خاوند ترمنځ بی اتفاقی او جدائی راولي نو لوی شیطان هغه ته شاباشي وایی او له خپلی سینی سره لګوي او ورته وایی چې تا ډیر ښه کار کړی دی. (مسلم شریف ج ۲ ص ۳۷٦ باب تحریش الشیطان و بعثه سرایاه لفتنه الناس .. الخ.)
که چیرته شکل و صورت یا بل څه په وجه له هغې سره نفرت وي نو هغه له نظره وغورځوئ او خپل کور مه ورانوئ، د هر شي انجام الله تعالی ته ښه معلوم دی، کیدای شي په دغه ښځه کې چې ستاسی نه خوښیږي الله تعالی ستاسی لپاره پکې خیر او برکت اچولی وي، او نوې ښځه چې تاسې ورسره واده کول غواړئ پکې بدیانی اینبې وي او تاسوته د هغه علم نه وي، نو څکه الله تعالی فرمایی:

فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا سوره النساء

که تاسې خپلې ښځې خوښې نه کړئ نو ممکن دی چې کوم څیز نه خوښوئی الله تعالی په هغه کې زيات خیر او ښیګڼه اینبې وي.

کوم خلک چې په زوره پر تا ښځه طلاقول غواړي هغوی ښه کار نه کوي، بلکې داسې کار کوي چې په هغه کې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم خفګان او د شیطان خوشالي دی. که چیرته ښځه بد رنګه، بد اخلاقه او نالائقه وي..بیا دی هم د

طلاق ورکولو کوشش ونکړی شي، کله چې د خاوند ورسره مینه ده او طلاق ورکول نه غواړي نو په زوره د طلاق ورکولونه وروسته هم ورسره خپله مینه جاري ساتلی شي او پیدای شي د دغې مینې په وجه په لویه ګناه کې اخته شي، او د دی ګناه بوج به په همدې خلکو وي.

• حدیث شریف کې دي چې یو سړی د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او عرض یې وکړ چې زما ښځه احتیاط نه کوي، محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: طلاق ورته ورکړه. هغه وویل زما ورسره مینه ده. هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: له هغې نه خپل کار آخله.

عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه قال جاء رجل الی النبی صلی الله علیه واله وسلم فقال ان لی امرأة لا ترديد لا مس فقال صلی الله علیه واله وسلم طلقها قال انی احبها قال فامسکها اذا (مشکوة ص ۲۸۷) (شامی ج ۲ ص ۴۰۲) (تفسیر روح بیان ج ۲ ص ۲۰۳).

که واده شوی ښځه زنا وکړي نو څه حکم یې دی؟

(۳۲۲_ سوال): که ښځه زنا وکړي نو ایا هغه طلاقیږي؟

(ځواب): په زنا سره طلاق نه واقع کیږي البته په ځینې صورتونو کې د حرمت مصاهرت په وجه په خاوند باندې همیشه حرامیږي، لکه چې ښځه د خپل خاوند له پلوی سره بدکاري وکړي نو په خاوند باندې همیشه لپاره حرامیږي، لیکن نکاح نه ماتیږي.

کما قال فی الدرمختار ، درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۳۸۶_ ۳۸۷ باب المحرمات.)

د لیوني سړي طلاق معتبر دی او که نه؟

(۳۲۳_ سوال): یو ځوان چې واده یې کړی او تقریباً د شلو کلو دی، لیونی دی، د ماشومانو پشان خبرې کوي یو ځل چې تبې نیولی و له ښځې سره جګړه وکړه او سیده قبرستان ته لاړ، له هغه ځای نه د کلي مشرانو ته لاړ او هلته یې په یو کاغذ کې طلاق ولیکله، لیکن الفاظ یې صحیح نه وو،خط یی د مسجد یو مشر ته ورکړ ، هغه و رته وویل چې دا لیک صحیح نه دی زما د وینا مطابق ولیکه، هغه د هغه د وینا مطابق ولیکله، بیا د کلي مشرانو یو نقل د هغه خسر ته ورکړه، خسر یې راغې او خپل لور یې له ځانه سره

یوورہ. لیونی څو دقیقې وروسته خپل مورته وویل چې زما ښځه څه شوه راویې وغواړه، مور یې ورته وویل چې ته څه بکواس کوی مور یې ټوله خبره ورته وکړه هغه وویل زه هیڅ نه پوهیږم د کلي سړانو چې ماته څه ویلي دي همغه مې لیکلي دي. د ډاکټر رای دا ده چې دا لیونی دی او د لیونتوب سند یې هم ورکړی دی، ایا د هغه دا طلاق واقع شوې دی او که نه؟

(ځواب): په خط کې چې کوم صورت لیکل شوی دی که هغه رښتیا وي نو بیا د هغه دا طلاق معتبر نه دی، په شرعي اصطلاح کې داسې سړی ته چې مغلوب العقل و قلیل الفهم وي او ګډې وډې خبرې کوي، نه صحیح فکر کولې شي او نه هم صحیح کار کولې شي البته د لیونیانو په شان وهل ټکول نه کوي او خپل ویښتان او لباس نه شلوي، نو داسې سړی ته معتوه ویل کیږي او د داسې سړي طلاق نه واقع کیږي. په حدیث شریف کې دي:

کل طلاق جائز الا طلاق المعتوه والمغلوب علی عقله. (مشکوة ج ۲ ص ۲۸٤ باب الخلع والطلاق.)

یعنی هر یو طلاق جائز دی مګر د معتوه او مغلوب العقل طلاق جائز نه دی.

ان المعتوه هو القلیل الفهم المختلط الکلام الفاسد التدبیر لکن لا یضرب ولا یشتم بخلاف المجنون و یدخل المبرسم المغمی علیه والمدهوش (بحر الرائق ج ۳ ص ۲٤۹ کتاب الطلاق تحت قوله لا طلاق الصبی والمجنون) انا لم نعتبر اقوال المعتوه مع انه لا یلزم فیه ان یصل الی حالة لا یعلم فیها ما یقول و یریده ...... الخ (شامی ج ۲ ص ۵۸۷ مطلب طلاق المدهوش).

که څوک خپله ښځه په دبر کې وطی کړي نو په نکاح کې څه فرق راځي او که نه؟

(۳۲۴_ سوال): که چیرته یو سړی خپله ښځه په دبر کې وطی وکړي نو نکاح یې مات شوی او که نه؟

جواب): د ښځې په دبر کې وطی کول بالاجماع حرام او کبیره گناه ده. لدینه بایـد د زړه له تل نه توبه وکړي او د خپلو گناهونو معافي وغواړي. خـو پـه دی سـره ښځـه لـه نکاح نه نه اوځي.[1]

ایا د حمل په حالت کې طلاق واقع کیږي او که نه؟

۳۲۵_ سوال): له یوې ښځې سره زما واده شوې ده چې یو کال نـه زیـات وخـت یـې وي، د هغې مور او پلار سره زما جگړه وشوه، هغوی خپل لور مجبوره کړه چې له مانـه طلاق واخلي، هغې طلاق وغوښت ما هغې ته طلاق ورکړ، د هغې پـه گیـډه دوه میاشتو حمل دی خو بیا هم هغې طلاق واخیست، په داسې صورت د طلاق او عدت څه حکـم دی؟

جواب): دا چې تا ورته طلاق ورکړی دی نو طلاق واقع شوی دی، د حمل په حالـت کې هم طلاق واقع کیږي.[2] د ماشوم زیږیدو سره سم عدت یـې ختمیـږي کـه مهـر یـې درباندې پاتې وي هغه به ضرور ورکوي، د عدت خرچ به هم ورکوي، که پخپلو کې مـو بیا روغه جوړه کړی وی نو پر هغه به عمل کوئ.

ایا د زچگی په زمانه کې طلاق واقع کیږي او که نه؟

۳۲۶_ سوال): یو سړی له خپلې ښځې سره د جگړی په وخـت طـلاق، طـلاق، طـلاق ووېل، ښځه یې د زچگی په حالت کې ده او ماشوم یې ډېر وړوکـی دی، ایـا پـه داسـې حالت کې پر ښځې طلاق واقع کیږي او که نه؟ یو بل څلور کلن ماشوم یـې هـم دی، د دغو ماشومانو پالنه د چا په سر دی؟ بینوا توجروا.

جواب): مدخوله ښځې ته د قسم طلاق ورکولو سره دری طلاقه واقع کیږي.[3]

---

[1] - ((عن ابی هریره قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ملعون من اتی امراته فی دبرها. (مشـکوة بـاب المباشره ص ۲۷۱.)

[2] - ((وطلاق الحامل یجوز عقب الجماع و یطلقها للسنه ثلاثه .... الخ. (فتاوای عالمگیري کتاب الطلاق ج ۱ ص ۳۷۸.)))

[3] - ((متی کرر لفظ الطلاق بحرف الواو او بغیر حرف الواو یتعدد الطلاق ... الخ. (فتاوای عالمگیري الفصـل الاول فی الطلاق الصریح ج ۱ ص ۳۵۶.)

د زچګۍ په حالت کې هم طلاق واقع کیږي، د ماشومانو د پرورش او پالنې مسئولیت د هغوی په پلار باندې دی. فقط والله اعلم بالصواب.

که خاوند خپلې ښځې ته د کوم شرعي عذر په وجه طلاق ورکړي، پر هغه جرمانه لګول څنګه دی؟

(۳۲۷_ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته د هغې د بد اخلاقۍ، له شریعت نه مخالف کارونو کولو او له زغم نه وتلي د عیبونو له کبله طلاق ورکړ، ایا د کلي با اثر خلک هغه له بل واده نه منع کولې شي؟ او جرمانه وربندې لګولې شي؟ ایا خاوند چې خپلې ښځې ته د شرعي عذر په بنا طلاق ورکړي هغه ګنهګاریږي، له طلاق نه وروسته خاوند غوښتل چې عدت د خاوند په کور کې تیر کړي مګر هغه پلار کره لاړه، په دې صورت کې هغه د عدت په وخت کې د نفقې غوښتنه کولی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): دا چې خاوند خپلې ښځې ته د هغې د بد اخلاقۍ یا بل کوم شرعي عذر په وجه طلاق ورکړی دی، نو هغه له دویم واده نه منع کول او ورباندې جرمانه لګول ظلم او زیاتی دی. کله چې د خاوند په کور کې په عدت تیرولو کې څه قباحت نه وي او خپل پلار کره عدت تیروي نو د نفقې مطالبه نشي کولې، لیکن که خاوند یې تبرعاً ورکړي نو ښه کار دی، کله چې د شرعي عذر له کبله طلاق ورکول جائز دی نو بیا ولې ګنهګاریږي؟ فقط والله اعلم بالصواب.

که مور او پلار طلاق ورکولوته مجبور کړي نو د هغه خبره ومنل شي او که نه؟

(۳۲۸_ سوال): هلک او جلۍ دواړه بالغ دي، دواړه له یو قوم سره تعلق لري، له کلي نه تښتیدلې او پخپلو کې با قاعده واده کړی ده، دواړه یو ځای په خوشحالي اوسیږي. مګر د هلک مور او پلار په دغه واده باندې خوښ نه دي او خپل زوی ته په کور کې د اوسیدو اجازه هم نه ورکوي، هغوی خپل زوی دیته مجبوروي چې جلۍ ته طلاق ورکړي، ایا په دې کار کې د خپل مور او پلار خبره منل او جلۍ ته طلاق ورکول ضروري دی او که نه؟ جلۍ حامله هم ده، بینوا توجروا.

(ځواب): په حدیث شریف کې دي چې په حلالو څیزونو کې له ټولو نه خراب څیز د الله په نزد طلاق دی. طلاق د ښځې او خاوند ترمنځ جدائی راولي، کله چې دواړو ترمنځ ښه مینه او محبت وی او په زوره وربانـدی څوک طلاق کړي نو له طلاق نه

وروسته هم د دوارو ترمنځ د ناجائزو تعلقاتو قائمیدل ضروري دي. دا چې ښځه بلاربه شوې ده په دې سره د ماشوم د ضایع کیدو امکان هم شته. د ښځې ژوند د تباه او برباد کیدو اندیښنه هم شته،لهذا د مور او پلار د ناخوښی په وجه ښځې ته طلاق ورکول واجب او ضروري نه دي. بلکي طلاق نه ورکولو کې شرعي مصلحت مضمر دی. که ښځه کې څه خامی وي نو سړی هم له نقصان او خامی نه خالي نه دی. د ښځې اصلاح کیدلې شي.لهذا مور او پلار ته پکار دي چې له خپل ضد نه لاس په سر شي.

قوله تعالی فان کرهتموهن...... خیراً کثیراً.

یعنې که تاسې دغه ښځې خوښ نه کړئ نو کیدای شي چې یو خوبي ستاسې خوښ نه وي. لیکن الله تعالی ستاسې لپاره یو خوبی او بهتري اینې وي.

په حدیث شریف کې دي:چې خلکو لپاره هغه څیز خوښ کړئ چې هغه د خپلو ځان لپاره او اولادونو لپاره خوښوئ او هغه څه مه خوښوئ چې د خپلو ځان لپاره نه خوښوئ.

مور او پلار ته پکار دي چې خپل ضد پریږدي او د خپل زوی گناه معاف کړي. تکلیف او آزار ورته نه رسوي. د دین بزرگان فرمائي:

مباش در پی آزار و هرچه خواهی کن

که در شریعت ما غیر از این گناهی نیست

یعنې د چا آزار پسې مه کیږه او څه چې غواړې کوه، زمونږ په شریعت کې لدینه غټه گناه نشته.

په حدیث کې دي چې یو سړی د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او عرض یې وکړ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما ښځه بدکاره او زانیه ده، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: طلاق ورته ورکړه. هغه وویل له هغې سره مې ډیره مینه ده، ډیره ښکلې ده. محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیا ورته طلاق مه ورکوه. (مشکوه شریف ص ۲۸۷ باب اللعان.)

نو څکه فقهای کرام لیکي: لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة.

یعنې پر خاوند باندې د بد کارې ښځې طلاق ورکول واجب نه دی. (درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۴۰۲ کتاب الحضر و الا باحه فصل فی البیع.) فقط والله اعلم بالصواب.

بلا وجه د طلاق ورکولو بدي :

(۳۲۹ سوال): زما ورور یونیم کال مخکې واده کړی ده، لیکن دری خلور میاشتې له تیریدو نه وروسته د طلاق ورکولو خبرې کوي، د کور خلکو هغه ډیر پوه کړ او ترینه پوښتنه یې وکړ چې په څه وجه ورته طلاق ورکوي؟ هغه هیڅ وجه ونه ویل، له پوهولو نه وروسته له داسې خبرونه لاس واخیست، بیا څو هفتې وروسته همدغسې خبرې شروع کړي، د کور خلک بیا هغه پوه کړ چې بلا وجه ښځې ته طلاق ورکولو کې مونږ لپاره بد نامي دی او د هغې عزت سوال دی. لیکن هغه یې نه مني، مور او پلار مې ډیر زیات خفه دي. تاسې مهرباني وکړئ د طلاق په باره کې چې څومره مذمتونه او قباحت دي هغه ټول ولیکئ او د مور او پلار خوشال ساتلو په باره کې هم تاکید ولیکئ ترڅو زما ورو له خپلې ارادی نه لاس په سر شي.

(ځواب): ښځه لوړی په سړی حرامه وه، د الله تعالی قانون (نکاح) سره حلاله شوه د ژوند ملګری شوه، کور آباد شو، د یو بل همدرد، غمخوار او وارث وګرځیدل، د نیم دین د حفاظت سند یې ورکړ او د نسل د جاری کیدو ذریعه یې وګرځوله، د دغو ټولو نعمتونو د شکرانې د ادا کولو پر ځای بلا وجه طلاق ورکول د نعمت کفران دی چې الله تعالی یې بالکل نه خوښوي، د ښځې او خاوند په خپلوانو باندې لازم دی چې دواړه ترمنځ ناچاقی لری کړي او د دواړو کور د آبادولو لپاره هرممکن کوشش پکار واچوي. لیکن که چیرته دواړو ترمنځ اختلاف او نفرت دومره ډیر شوی وي چې ګوزاره یې مشکل وي او د زوجینو حقوق پایمال کیږي نو بیا د خپل مور او پلار عزت دې خیال وساتي او له خپل کور نه دی جهنم نه جوړوي. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا د طلاق مضمون په لوستلو سره طلاق واقع کیږي او که نه؟

(۳۳۰_ سوال): زما د واده دری کاله کیږي، زمونږ د دواړو ترمنځ جنګ جګړی کیږي، یو خل ما د قران کریم ترجمه لوستله په دی کې مې د طلاق مضمون ولوست، زما طبیعت شکي دی، له همغه وخت نه ماته خیال راځي چې شاید زما ښځه طلاقه شوی وي، نو ځکه زه پریشان یم، مهربانی وکړئ ځواب راکړئ چې طلاق واقع شوي ده او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): طلاق په هغه وخت واقع کیږي چې د طلاق لفظ له خوالې نه وویستل شي، د قران کریم په ترجمه یا په کتابونو کې د طلاق مضمون په لوستلو او کتلو سره پر ښځې باندې طلاق نه واقع کیږي لو کرر مسائل الطلاق بحضرتها ولا ینوي لا تطلق. (البحر الرائق ج ۳ ص ۲۷٦ کتاب الطلاق.) فقط والله اعلم بالصواب.

د طلاق واقع کیدو لپاره د گواهانو د موجودیت شرط نه دی.

(۳۳۱_ سوال): ما خپلې ښځې ته په کاغذ کی لیکلی طلاق ورکړی دی. هغه وخت هغه د یوې میاشتی حامله وه او د طلاق قبلولو لپاره بالکل چمتو نه وه. لیکن ما طلاق نامه د هغې په صندوق کې کیښودله او د مهر پیسې مې هم د هغې په صندوق کې کیښودلې کله چې هغې خپل صندوق خلاص کړ نو هغې ته معلوم شو چې ما هغه طلاقه کړی ده. د دغې واقعه یونیم کال کیږي. او تر اوسه پورې یې له چا سره واده نه دی کړی. ماشوم یې پیدا شوی دی. اوس غواړم بیرته په نکاح کړم. مانه څه کول پکار دي. کوم وخت چې ما ورته طلاق ورکړی و نو هیڅ گواه موجود نه و او ما په خوله طلاق نه دی ورکړی، بلکی په کاغذ کې لیکلی طلاق می ورکړی دی. ایا طلاق واقع شوی او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): دا چې تا په طلاق نامه کی څه الفاظ لیکلی دي د هغه په لیدو سره فیصله کیدلې شي. که چیرته په هغه کې تا دری طلاقه ذکر کړی وي نو ښځه دی مغلظ طلاق شوې ده. له حلالی نه پرته نکاح ورسره نشي کولې. او که د دریو طلاقو ذکر دی نه وي کړې نو تجدید نکاح سره ستا کار کیدلې شي. په حمل کې طلاق واقع کیږي او د طلاق واقع کیدو لپاره د گواهانو موجودیت شرط نه دی، له گواهانو نه علاوه هم طلاق واقع کیږي، البته که خاوند د طلاق اقرار نه کوي نو د طلاق ثبوت لپاره شرعي گواهان ضروري دي، که ښځه دا گنی چې طلاق ورته ورکول شوي نو هغې ته پکار نه دی چې خپل ځان خاوند ته حواله کړي.

(المراه کالقاضي. (شامي باب الصريح تحت قوله دين.)[1] فقط والله اعلم بالصواب.

۱۶ شوال المکرم کال ۱۳۹۹ھ.

که چیرته غیر مدخولی ته طلاق ورکولو نه وروسته خاوند یې د خلوت دعوت ورکړي نو د هغه څه حکم دی؟

(۳۳۲_ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته له خلوت صحیحه نه وړاندې شرطیه یو طلاق ورکړ، کله چې د علاقی علماو نه د مسئلی پوښتنه وشوه نو د بائنی طلاق د واقع کیدو

---

[1]- ((فروع کتب الطلاق ان مستبيناً على نحو لوح وقع ان نوى و قيل مطلقاً قال في الشاميه تح قوله مطلقاً المرادبه في الموضعين نوى او لم ينو ..... الخ (در مختار مع الشامي مطلب بالكتابه ج ۲ ص ۵۸۹).

خواب راكړى شو. لدينه وروسته خاوند وويل چې زمونږ ترمنځ د ښځې او خاوند پشان خلوت شوى دى خو زما يا زما د ښځې په كوركې نه بلكې په بل ځاى كې زمونږ ترمنځ خلوت شوى دى، ښځه انكار كوي او هغه بالغه هم نه ده. په دى صورت كې كوم يو طلاق واقع كيږي؟ او د خلوت په باره كې د چا خبره معتبره ده؟ بينوا توجروا.

(خواب): په مسئوله صورت كې چې جلى د خپل كور نه نه ده رخصته شوې او د خلوت لپاره ګواهان هم نشته. جلى هم انكار كوي او نابالغه هم ده.[1] نو د هغې د خاوند خبرې ته اعتبار نشته په يو طلاق سره بائنه شوى ده، عدت هم لازم نه دى لهذا دويم نكاح كولې شي، د دريو طلاق وركولو ضرورت نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

كه د طلاق په وخت كې ښځه حاضره نه وي نو څه حكم يې دى؟

(۳۳۳_ سوال): د يو سړى له خپل ورور او خويندو سره جنګ وشو او په غصه كې په يو ساه كې طلاق، طلاق، طلاق وويل، په دى وخت د هغه ښځه په كور كې نه وه خپل پلار كره تللى وه، د ښځې او خاوند ترمنځ هيڅ قسم جګړه نه و شوې، دواړه ښه په مينه اوسيدل. ښځه هم خپل پلار كره په خوشالى تللى و. د مذكوره شخص نيت هم د طلاق وركولو نه و، د هغه ښځه لا اوس هم پلار كره ده، د هغې مور او پلار بيرت خپل خسر كره تللونه منع كوي او فتوه غواړي. د طلاق وركولو په وخت كې د هغه مور، خور او وريندار موجودى وې.

اوس سوال دا دى چې په موجوده صورت كې طلاق واقع شوى دى او كه نه؟ كه واقع شوي وي نو څو طلاقه؟ ښځې او خاوند دواړه پخپلو كې ډير مينه لري، په بهشتى زيور كې دي چې كه چيرته نيت يې نه وي نو طلاق نه واقع كيږي. فقط والسلام، بينوا توجروا.

(خواب): د طلاق واقع كيدو لپاره د ښځې موجوديت او د طلاق الفاظ هغې ته آورول. يا د ښځې نوم اخستل او طلاق وركول شرط نه دى، كه څه هم خاوند د خپلې ښځې نوم نه دى ياد كړى، مګر كه دلالت حال او قرائنو څخه معلوم شي چې د هغه مقصد خپلې ښځې ته طلاق وركول و نو مغلظ طلاق واقع شوى دى.

---

[1] - ((والخلوة بلا مانع حسى كمرض لاحد هما يمنع الوط و طبعى كوجود ثالث ... و شرعى كا حرام الفرض او نفل و من الحسى رتق و قرن و عفل و صغر (در مختار مع الشامى مطلب فى احكام الخلوه ج ۲ ص ٤٦٥).

(قوله لترکه الاضافه) ای المعنویة فانها الشرط والخطاب من الاضافة المعنوية و ... الاشارة ...... الخ ولا یلزم کون الاضافة صریحه فی کلامه . الی قوله . و ظاهره انه لا یصدق فی انه لم یرد امرأته تعرف (شامی ج ۲ ص ۵۹۰ باب الصریح).

اگر چې جګړه یې له خپل ورور او خویندو سره وه او له ښځې سره نه وه. مګر د دې امکان شته چې خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړی وي، په دې فکر چې د ښځې په وجه په دې کور کې اوسیږم او د خور او ورور طعنې آورم: که ښځه مې نه وای نو چیرته به مې خپل ژوند تیر کړی وای، خو که داسې خبره نه وي او له خپل ورور او خویندو سره د جګړې په وخت کې بې اختیاره د طلاق الفاظ له ژبې نه جاري شوي وي، د ښځې په وجه نه جګړه وه او نه د هغې نوم اخستل شوې نو د طلاق حکم نشي لګول کیدلې. فقط والله اعلم بالصواب.

(نوټ): د طلاق لفظ صریح دی د نیت محتاج نه دی، د کنایې الفاظ د نیت محتاج دي، په بهشتی زیور کې د همدغې خبرې بیان شوی دی. (۱۸ ذیقعده کال ۱۳۹۶ه .

ایا په غلط اقرار سره طلاق واقع کیږي او که نه؟

(۳۳۴ـ سوال) محمد سعید خپل دوستانو ته مخاطب شو او ویې ویل: ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړه. دوستانو ترینه پوښتنه وکړه چې ایا تا خپلې ښځې ته طلاق ورکړه؟ محمد سعید په ځواب کې وویل: هو ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړه. دوستانو بیا ترینه پوښتنه وکړه څنګه طلاق دی ورکړه؟ نو محمد سعید ورته په ځواب کې وویل: څنګه مې چې دغې ښځې ته طلاق ورکړی و، له تفتیش نه وروسته معلوم شو چې محمد سعید له خپلې ښځې سره جګړه خو کړی وه مګر طلاق یې ورته نه و ورکړی او هغه د دوستانو په مخکې غلط اقرار کړی دی، ایا په دې صورت کې طلاق واقع شوی دی او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کې یو رجعی طلاق واقع شوی دی، په غلط اقرار سره هم طلاق واقع کیږي.[1]

---

[1] قوله او هازل لا ای فیقع قضاء بانه کمایذ کر الشارح و به صرح فی الخلاصه ..... الخ (شـامی ج ۲ ص ۵۸۲ قبیل مطلب فی تعریف السکران و حکمه).

دا چې دوه درې کرته ویلې دي چې ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دی دا د لوړې طلاق خبر دی. نوی طلاق نه دی.لهذا محمد سعید خپلې ښځې ته په عدت کې دننه رجوع کولې شي. د جدید نکاح او حلالې ته ضرورت نشته. فقط والله اعلم بالصواب
۲۰ جمادی الاولیٰ ۱۳۹۷ھ.

که خاوند د طلاق اقرار وکړي او بیا ترینه منکر شي نو څه حکم یې دی؟

(۳۳۵_ سوال): زما خاوند زما د پلار په وړاندې درې طلاقه راکړل او د دوه کسانو په مخکې د طلاق ورکولو اقرار وکړ، مګر اوس هغه انکار کوي او وایې چې ما طلاق نه دی ورکړې. زه پخپل پلار او دغو دوکسانو باندې اعتماد لرم،لهذا زه دا ګنم چې زه پر هغه طلاقه شوې یم.مګر زما خاوند انکار کوي. اوس ما لپاره څه حکم دی؟ ځواب راکړی.

(ځواب): که چیرته ستا پلار او دوه نور کسان رښتوني ګواهان وي او تا ته د هغوی په ګواهۍ سره د دریو طلاقو یقین یا غالب ګمان وشي نو په داسې صورت کې ستاسې لپاره حلال نه دی چې خپل ځان خپل خاوند ته وسپارې او ورسره جماع وکړې. که خاوند دی نه مني نو پر تا لازم دی چې څه مال ورته ورکړه او ځان ترینه خلاص کړه، له حرام کارې او زنا څخه خپل ځان وساته. په شامي کې دي:
والمرء کالقاضي اذا سمعته او اخبر ها عدل لا یحل لها تمکینه.)
ښځه د قاضي په شان ده کله چې هغه پخپله د طلاق آواز واوري یا ورته معتبر سړی د طلاق خبر ورکړي نو هغې لپاره جائز نه دی چې د خاوند خبره ومني او خپل ځان هغه ته حواله کړي. (شامي ج ۲ ص ۵۹۴ باب الصریح.)

چاته چې په زوره نشه ورکړی شي او هغه ښځه طلاقه کړي د هغه حکم:

(۳۳٦_ سوال): یو سړی بالکل شرابی نه و او کله یې هم شراب نه دي څکلي ځینو د طلاق ورکولو په غرض هغه ته په چل کې شراب ورکړ او د نشې په حالت کې وربانـدې طلاق واچول. ایا د هغه دا طلاق معتبر دی او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): د نشې په حالت کې چې ښځې طلاق ورکړی شي که څه هم هغه واقع کیږي.مګر جبراً یا په دوکی سره شراب ورکولو په صورت کې چې طلاق واچولی شي هغه معتبر نه دی او نه واقع کیږي.

(واختلف التصحيح فيمن سكر مكرها او مضطرا) (قوله واختلف التصحيح اه) فصحح في التحفة و غيرها عدم الوقوع و جزم في الخلاصة بالوقوع قال في الفتح والاول احسن لان موجب الوقوع عند زوال العقل ليس الاالتسبب في زواله بسبب محظور وهو منتف و في النهر عن تصحيح القدوری انه التحقيق (در مختار والشامی ج ٢ ص ٥٨٣ كتاب الطلاق) فقط والله اعلم بالصواب.

د ليوني او معتوه سړي د طلاق حكم:

(٣٣٧ ـ سوال): حاجي صاحب له څه وخت راهيسې ليوني شوی دی، د علاج لپاره مو څو خلې شارتونه هم ورکړل، ليکن کله کله د ليونتوب دوری وربانـدې راځـي. اوس تقريباً پنځوس فيصده ليونی دی، هغه خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي دی. نـو ايـا د هغه طلاق واقع شوي دي او كه نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب): (و يقع طلاق كل زوج عاقل بالغ مستيقظ) لقوله عليه الصلوة والسلام كل طلاق واقع الاطلاق الصبي والمعتوه و في زوايه الا طلاق الصبي والمجنون اه (الاختيار لتعليل المختار ج ٣ ص ١٢٤ كتاب الطلاق).

و اراد بالمجنون من في عقله الاختلال فيدخل المعتوه . و احسن الاقوال في الفرق بينهما ان المعتوه هو القليل الفهم المختلط الكلام الفاسد التدبير ولكن لا يضرب ولا يشتم بخلاف الجنون ..... الخ (البحر الرائق ج ٣ ص ٢٤٩ ايضاً تحت قوله لا طلاق الصبي والمجون).

و صرح الا صوليون بان حكمه كالصبي الا ان الدبوسی قال تجب عليه العبادات احتياطاً ورده صدر الاسلام بان العته نوع جنون و جوب اداء الحقوق جميعاً ما بسطه في شرح التحرير (در مختار مع الشامی ج ٢ ص ٥٨٦ مطلب في طلاق المدهوش).

و كذا المعتود لا يقع طلاقه ايضاً و هذا اذا كان في حالة العتة اما في حالة الافاقة فالصحيح انه واقع هكذا في الجوهرة النيرة (فتاوی عالمگیری ج ٢ ص ٥٥ كتاب الطلاق).

نه درمختار کې دي

(و مسه الحجر) (صغر و جنون) يعم القوى والضعيف كما في معتوه و حكمه كممیز كما سيجئى . الى قوله . مع ان طلاق المعتوه ايضا لا يقع كما افاده بقوله حكمه و معه الشارح (در مختار مع الشامى ج ٥ ص ١٣٣ ـ ١٣٤)

له مذكوره پورتنى احاديثو او رواياتو څخه معلوميږي چې په مسئوله صورت كې طلاق نه واقع كيږي. د زيات وضاحت لپاره وګورئ فتاواى دارالعلوم. په عزيز الفتوى كې دي

(ځواب): د افاقى او صحت په حالت كې كه هغه تام العقل كيږي نو طلاق يې صحيح دى

كما حققه الكمال قال فى الشامى فيحترز عمن يفيق احيانا اى يزول عنه ما به بالكلية و هذا كالعاقل البالغ فى تلك الحالة . (شامى جلد خامس . كتاب الحجر . فقط والله اعلم بالصواب . كتبه) (العلامه مفتى) (عزيز الرحمان عفى عنه) (رحمه الله ج ٣ ص ٢٩٥).

(ځواب): كه چيرته ليونى مكمل صحت ياب كيدو په حالت كې طلاق واچوي نو طلاق يې واقع كيږي. (فتاواى نظاميه، مفتى ركن الدين، مفتى مدرسه نظاميه حيدر آباد دكن ج ٢ ص ٢٦٠) فقط والله اعلم بالصواب.

كوم سړى چې خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړي وي، مګر د غير مقلدينو په فتوى له ځان سره وساتي له داسې سړي سره قطع تعلق كول څنګه دى؟

(٣٣٨ ـ سوال): زما وركوټي ورور خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړې، دوه مياشتې بعد د غير مقلد مفتى په فتوى عمل وكړ او خپله ښځه يې له ځان سره وساتله. دوكاله بعد نرينه زوى پيدا شو. هغه نعوذ بالله منها د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان كې هم ګستاخي كړې دى او ويلې يې دي چې ايا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هم دا فكر لاحق شو چې په دريو طلاقو سره ښځه بالكل طلاقيږي؟ ايا داسې خبرې كوونكى كافريږي او كه نه؟

د همدغه دوه وجوهاتو له کبله ما له خپل ورور سره قطع تعلق کړی دی. مګر زما نور خپلوان مانه وايي چې له خپل ورور سره خپل تعلقات بيرته برحال کړه. هغه پوهېږي او اعمال يې. نه قبر کې خپل حواب پخپله وايي. تاسې مهرباني وکړی په دې باره کې معلومات راکړی چې څه وکړم؟ بينوا توجروا

حواب په مسئوله صورت کې د غير مقلد مفتي فتوی چې نصوص قطعيه شرعيه، قران او حديث او د اصحابو له اجماع نه خلاف ده، پر هغه باندې عمل کول او خپل ښځه بيرته ورته راورل قطعي حرام او زنا ده. د خپل حنفي مذهب او نورو مذاهبو نه مخالفت دی. ويره ده چې د داسې سړی انجام خراب شي. په شامي ج ۲ ص ۲۶۳ کې دي

ليس للعامي ان يتحول من مذهب الى مذهب و يستوى فيه الحنفي والشافعي و قيل لمن انتقل الى مذهب الشافعي يتزوج له اخاف ان يموت مسلوب الايمان لاهانه للدين لجيفه قذره (شامي باب القبول (الشهاده) و عدمه ج ۵ ص ۴۸۱).

لدينه علاوه هغه چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په باره کې کومه ګستاخي کړی ده دا د محمد صلی الله عليه وسلم صريح اهانت دی.

لهذا له داسې سړی سره تر څو پورې چې خپله ښځه له خانه نه وي لرې کړي او تجديد ايمان يې نه وي کړی قطع تعلق ورسره ضروري دی، ترڅو نور خلک هم ترينه عبرت واخلي.

مونږ هره ورځ د وتر په لمونځ کې دا اقرار کوو چې (ونترک من يفجرک) ای الله مونږ هر هغه څوک پرېږدو چې ستا نافرماني کوي.

له داسې خلکو سره ترڅو پورې چې له ګناهونو نه نه وی وروسته شوي خبرې اترې نه کول او سلام نه اچول له محمد صلی الله عليه وسلم او اصحابو نه ثابت دی. د غزوه تبوک په وخت کې وروسته پاتې کيدونکی دری اصحابو سره محمد صلی الله عليه وسلم او اصحابو کرامو د هغوی د توبې تر قبليدو پورې. سلام و کلام او ناسته ولاړ پرېښې و په بخاري شريف کې د هغوی واقعه مفصل له حضرت کعب بن مالک څخه روايت شوی دی. د هغه يوه حصه دا ده:

و نهى رسول الله صلى الله عليه واله وسلم المسلمين عن كلامنا ايها الثلاثه من بين من تخلف عنه فاجتنبنا الناس و تغير والناحيتي فتنكرت في نفسي الارض فما هي التي اعرف

فمنا على ذالك خمسين ليلةً (بخاری شریف ج ۲ ص ٦٣٥ باب غزوه تبوك وهي غزوة العسرة) (الاصح السير ج ۱ ص ۳۳۷) فقط والله اعلم بالصواب.

له ناحق طلاق ورکوونکی سړی سره د تعلقاتو غوځول ښنګه دی؟

(۳۳۹ـ سوال): زمونږ په خلکو کې د طلاق ورکولو رواج عام شوی دی، په معمولی معمولي خبرو باندې طلاق ورکوي او په دی وجه په ښځو باندې ناحقه ظلم او تیری کیږي، نو ځکه زمونږ د سیمو خلکو دا فیصله کړی ده چې کوم سړی خپلې ښځې ته په ناحقه طلاق ورکړي نو هغه ته دی تر دریو کلونو پورې ځوک خپل خور یا لور په نکاح ورنکړي. اب زمونږ دا فیصله جائزه ده؟ ایا په دی باندې په عمل کولو سره د سړو حق تلفی خو نه کیږي؟ بینوا توجروا.

(خواب): د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې د الله تعالی په ټولو مباح څیزونو کې له ټولو نه زیات مبغوض څیز طلاق دی. (البغض الحلال الی الله الطلاق.) لیکن بعض وخت طلاق ورکول ضروري ګرځي‌لهذا په دی باندې د بندیز لګولو په وجه لوی خرابي پیدا کیدلې شي. مثلاً کله چې د خاوند او ښځې د حماقت او بد اخلاقی په وجه سخت اختلاف پیدا کیږي او د دواړو ترمنځ دومره نفرت او بعد پیدا کیږي چې حقوق زوجین تر پښو لاندې کیږي، نو په داسې حالاتو کې جبر او اکراه سره د نکاح برحال ساتل لوی بلا وي. په حجة الله البالغه کې دي:

و مع ذلك لا يمكن سد هذا الباب (اى باب الطلاق) والتضييق فيه فانه قد يصير الزوجان متنا شزين اما لسوء خلقهم او لطموح عين احدهما الى حسن انسان او لضيق معيشتهما او لحرق و احد منهما و نحو ذلك من الاسباب فيكون ادامه هذا النظم مع ذلك بلاء عظيم و حرجاً (حجة الله البالغه ج ۲ ص ۳۹۸ كتاب الطلاق).

په بل ځای کې وایي: که چیرته ښځه بد طبعیته ده او د هغې په مزاج کې تشدد او ژبه کې سختی ده نو د هغې پر خاوند باندې ځمکه د خپلی پراخوالی باوجود تنګیږي او د نکاح مقصد له منځه ځي بلکی په فساد بدلیږي.

فلو كان بها جبلة سوء و فى خلقها و عادتها فظاظه و فى لسانها بذاء ضاقت عليه الارض بما رحبت والنقلب عليه المصلحة مفسدة (حجة الله البالغه ج ۲ ص ۳٦٠

خضه و ما یعلق بها). شیخ سعدی علیه الرحمه په گلستان کې بد خلق، بد زبان او جګړه ماری ښځې په باره کې لیکي:

زن بد در سرای مرد نکو

هم درین عالم است دوزخ او

زنهار از قرین بد زنهار

وقنا ربنا عذاب النار

بداخلاقه او بد اطواره ښځه د نیک سړی په کور کې دوزخ ده.

الله تعالی دې له بدې ښځې نه محفوظ او د دوزخ له عذاب نه وساتي.

(گلستان باب دوم در اخلاق درویشان)

په حقیقت کې په داسې حالت کې ژوند د دوزخ نمونه ګرځي،لهذا داسې ښځې ته طلاق ورکول ښه کار دی، لیکن لومړی دې یو طلاق ورکړی شي او که دری طلاقه ورکول غواړي نو په دریو طهرونو کې دی ورکړي. لیکن یو طلاق ورکول بهتر دی، په یو ځل دری طلاقه ورکول غلط رواج او له سنت نه مخالفت دی. په دی باندې بندیز لګول ښه کار دی، که بیا هم د دریو طلاقو ورکولو نه لاس وانخلی نو با اثر خلک دی ورسره خپل تعلقات قطع کړي، خو هغه ته تر دریو کلو پورې واده نه ورکول ظلم او د ګناه باعث دی،لهذا د داسې قانون جوړولو اجازت نشي ورکول کیدلې. فقط والله اعلم بالصواب.

د اکراه او جبر یو نادر صورت:

(۳۴۰_ سوال): ښځه او خاوند دواړه معزز او خاندانی دي، په څه وجه باندې د ښځې په زړه کې د خاوند په خلاف نفرت پیدا شوی دی. هغه د طلاق غوښتنه کوله، خاوند د هغې رضاء کولو لپاره له خپل ځان سره امارت شرعیه بها راړسیه دفتر ته یووړ، هلته دفتر بند و. د واپسې په وخت کې ښځه له ډیر غصې نه خپله برقعه ایسته کړه او په ډیر قهر سره د خپل خاوند ګریوان ونیوه او ورته یې وویل چې ماته فوراً طلاق راکړه. هلته د هغوی د شور او جنګ په وجه نور خلک هم راجمع شول، خاوند د خپل بی عزتی او د ښځې زبردستی له کبله طلاق نامه ولیکله، هغه لدینه هم مطمئنه نه شوه او دری کرته وربانديې طلاق نامه ولیکله، خاوند یې په ژبه د طلاق الفاظ نه دی استعمال کړي. اوس

... دا ... ايا دا د اكراه صورت دی او كه نه؟ او طلاق يې واقع شوی دی او كه نه؟ بينو توحروا.

(جواب): حامداً و مصلياً. د اكراه په صورت كې چې د ځان خطره وي، يا د كوم اندام د خوځولو ويره وي. يا د سخت وهلو او ټكولو په وجه په ژبه د طلاق الفاظ استعمال كړي نو هغه واقع كيږي، خو كه په ژبه د طلاق الفاظ نه وي ويلي صرف ليكلي يې وي نو بيا نه واقع كيږي، په مسئوله صورت كې چون خاوند يې د منصب او جاه خاوند دی او واقعه د تحريری طلاق ده.نو ځكه طلاق نه واقع كيږي. پاتې شوه دا خبره چې دا د اكراه صورت دی نو ددی لپاره لاندينۍ عبارت ليكل كيږي.

د مدينې شريفې مفتي حضرت علامه سيد اسعد المدنی رحمه الله فتوی ولولئ:

(سوال): في رجل تشاجر مع زوجته فقامت عليه و مسكته من زيق ثوبه و قطعت ازراره و قالت طلقني وما عرف يخلص نفسه منها الا بقوله البعيدة طالق و لم يقصد طلاقها و انما حيلة للخلاصة منها و كان قبل ذلك طلقها تطليقتين فهل تقع عليه هذه الطلقة و يلحق ماسبق ام كيف الحال ؟ افتونا.

(جواب): نعم تقع عليها طلقه ثالثه ولا تعتبر هذه النية و قد اطال في البحر الرائق فيه فراجع ان شئت و هي من قسم طلاق المكره ولا شك في وقوعها والله اعلم (فتاوی سعديه ج ١ ص ٥٧).

لدينه ثابتيږي چې مذكوره صورت د اكراه دی لهذا تحريری طلاق نه واقع كيږي. په درمختار كې دي:

والثالث (كون الشيو المكره به متلفا نفساً او عضواً او موجباً غماً بعدم الرضا) و هذا ادنى مراتبة وهو يختلف باختلاف اشخاصه فان الا شراف يغمون بكلام خشن و الارذال ربما لا يغمون الا بالضرب المبرح ابن كمال (در مختار مع الشامی ج ٥ ص ١١٠ كتاب الاكراه).

په غايت الاوطار كې دي:

او دريم شرط دا دی چې د كوم ځيز له كبله اكراه وي او هغه ځيز د ځان يا د عضوی تلفوونكی وي، يا د داسې غم او اندوه موجب وي چې رضامندي نيست او نابود

کوونکی وي الی قوله: او دا یعنی د غم موجب د اکراه کمه مرتبه ده او هغه د اشخاصو په لحاظ مختلف دی، ځکه اشراف له سختی خبرې نه غمګین کیږي او دلیل خلک اکثر نه خفه کیږي مګر په کلک وهلو سره. کذا ذکره ابن الکمال. (غایة الاوطار ج ۴ ص ۸۱_۸۲.)

د درمختار په بل ځای کې دي:

...... الرابع .... (فلو اکره بقتل او ضرب شدید) متلف لا بسوط او بسوطین الا علی المذاکیر والعین بزازیه (اوحبس) او قید مدیدین بخلاف حبس یوم او قیده او ضرب غیر شدید الالذی جاه (در مختار مع الشامي ج ۵ ص ۱۱۰ کتاب الاکراه).

په غایت الاوطار کې د دی ترجمه داسې کوي:

ولو کره . . . که چیرته په یو سړی باندې د وژلو یا د وژلو لپاره د سختو وهلو، له یوه دوه قمچینه چې پر هغه سړی نه مړ کیږي، البته په سترګه یا آله تناسل باندې تلفوونکی دی. الی قوله.... او حبس یا اکراه او زور وي د اوږد حبس او قید نه د دوه دری ورځو قید او حبس یا خفیف او کمزوری وهل چې هغه اکراه نه ده مګر د عزت منو خلکو لپاره اکراه دی.

(کذا فی الدر و غایت الاوطار ج ۴ ص ۸۲.)

په بحر الرائق کې دي:

و فی المحیط قال مشایخنا الا اذا کان الرجل صاحب منصب یعلم انه یتضرر بضرب سوط او حبس یوم فانه یکون اکراهاً .... الی قوله ...... لانه یختلف باختلاف احوال الناس فمنهم لا یتضررون بضرب سوط او بفرك اذنه لا سیما فی ملأ من الناس او بحضرة السلطان ..... الخ (البحر الرائق ج ۸ ص ۷۱ تکمله).

عینی شرح کنز کې دي:

ولو اکراه بحبس یوم او قید یوم او ضرب سوط لا یکون اکراهاً اذا کان ذا عـزو مرتبه کتاب الاکراه له ، دغو حواله جاتو څخه په مشترکه ډول دا ثابتیږي چې مسئوله صورت کې چون خاوند یې شریف النسب، ذی منصب او ذی جاه دی، نو ځکه دا د اکراه او جبر صورت دی، واقعه هم د تحریری طلاق دی، نو ځکه طلاق یې نه واقع کیږي، د تحریری طلاق د نه واقع کیدو په لړ کې د نور تائید لپاره لاندینی حوالی ولولی.

عارف بالله مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي عزيز الرحمن صاحب قدس سره د پلار مسكان او ناراضي هم په اكراد كي داخل كړى دى. په فتاواى دارالعلوم قديم كي ...

سوال (۶۳ ۸۸۹) بيكم خالده چي زما په نكاح كي وه څه كسانو زما پلار ته وويل چي دا ښځه له خپل زوى نه عليحده كړه. ما خپل پلار ته په ډير ادب سره وويل چي كه زه حمله ښځه خوشي كړم نو زما حالت به ډير خراب شي. پلار ماته وويل كه زما خبره نه منې نو زه به درسره كله هم خبرې ونكړم. ما په دوه روپۍ يو سركاري كاغذ (سټامپ پيپر) له بازار نه واخيست پر هغه مې طلاق نامه او مهر نامه وليكله. په هغه وخت زما حالت ډير خراب و. زه نه پوهيدم چي زه په كوم حالت كې يم. زه په غم كې وم كله مې ژړل او كله غلى كيدم. زه په قسم وايم چي زما خيال په دغه حالت كې زما له خولې نه دوه طلاقه وتلي دي. ايا دا جائز دى او كه نه؟

(خواب): په كاغذ باندې ليكل شوى طلاق د عدم رضا په حالت كې نه دي واقع شوي. مګر له ژبې نه چې دوه كرته طلاق لفظ وتلى دى نو دوه رجعي طلاق واقع شوي دي. په عدت كې دننه دننه رجوع كولې شي فقط والله اعلم بالصواب.

(فتاواى دارالعلوم قديم ج ۳_۴ ص ۲۴۲ فقط والله اعلم بالصواب و علمه اتم و احكم ۱۳ رجب كال ۱۴۰۰هـ)

كه يو سړى د خوب ګولۍ وخوري او ښځې ته طلاق وركړي نو څه حكم يې دى؟

(۳۴۱_ سوال): يو سړى له ډاكټر له تجويز نه پرته پخپل سر د خوب ګولۍ خوري، څرنګه چې په هغه كې نشه راوړونكى اجزا وي نو څكه د هغه پر دماغ باندې څه وخت لپاره اثر كوي او دماغى توازن يې قائم نه پاتى كيږي، په دغه حالت كې هغه خپلې ښځې ته طلاق وركړ نو طلاق يې واقع كيږي او كه نه؟ بينوا توجروا.

(خواب): و هوالموفق للصواب: له تحقيق نه معلوم شوي دى چې دغه خوب راوړونكى ګولۍ له مخدرات او سمياتو څخه مركبى دي، لږ غونډې بى احتياطى سره هم خطرناك صورت پيدا كوي او هلاكت پورى نوبت رسيږي، لهذا له حاذق حكيم او ډاكټر له مشورى نه بغير بايد ونه خوړل شي. او كه كوم سړى دا ګولۍ وخوري او

دماغی حالت، یې خراب شي او خپل ښځې ته طلاق ورکړي نو رجوا د طلاق د واقع کېدو فتوه ورکولې شي. نصاب الاحتساب قلمی کې دي.

ذکر فی شرح الکرخی قالوا ان شرب النبیج یجوز للتداوی فاذا زال العقل لم یجز . الی قوله . و ذکر فی المحیط فی هذا تفصیلاً منقولة عن ابی حنیفة رحمه الله تعالی عنه ان السکر من النبج حرام و ان طلاق البنجی واقع فقال علیه السلام من اکل البنج صار نور فیه ولا یعود الیه الا ان یتوب و رجع . الی قوله . والدلیل علی ان النبج حرام ظاهر لان اهل الطب ذکروا النبج فی السموم والسم بانواعه حرام فکذا البنج ولانه مضر یتوله منه کثیر من الامراض یعرف ذلك فی کتب الطب . الی قوله . و ذکر فی الذخیره : ذکر عبد العزیز الترمذی قال سالت ابا حنیفه رحمه الله تعالی علیه و سفیان الثوری عن رجل شرب البنج فارتفع الی رأسه فطل امراته قال ان کان حین یشرب یعلم ما هی فهی طالق و ان کان حین یشرب لا یعلم انه ما هو لا یطلق (نصاب الاحتساب باب نمبر ۳٦ ص ۷٤ — ۷٥).

په بهشتی زیور کې دي چې د کشتو او نشئی شیانو حکم هم راووت چې طبیب او ډاکټر له اجازې نه بغیر استعمال صحیح نه دی، که کوم حاذق طبیب او معتمد علیه ډاکټر ورته وکړي نو صحیح ده څکه چې هغه د ګټې لپاره ورکوي چې ګټه ورته ورسوي.

په حاشیه کې دي علی هذالقیاس هغه ډاکټري دوایانو خوړل چې تیزې دی او نشه پکې هم وي لکه استیکینیا (جوهر کچله) مارفیا او داسې نورو دوایانو خوړل د ډاکټر له اجازې نه بغیر جائز نه دی ... الخ. (بهشتي زیور ص ۱۳۰_۱۳۱ حصه نهم) والله اعلم بالصواب.

که د طلاق په تعداد کې شک پیدا شي نو څه حکم یې دی؟

(۳۴۲_ سوال): که چا ته دا شک راشي چې یوه طلاق یې ورکړی دی او که دوه، نو د دې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(جواب): فقهاء کرامو لیکلي دي چې خاوند قسم خوړلې دی مګر دا یې په یاد نه دی چې د طلاق قسم یې خوړلې دی او که د بل څیز، نو داسې قسم لغوه دی، طلاق نه

واقع کیږي. ځکه چې نکاح بالیقین ثابت دی او طلاق چې د نکاح قطع کوونکی دی. مشکوک دی قاعده دا ده چې
الیقین لا یزول بالشک بناء خاوند په شک کی دی چې یو طلاق یې ورکړی دی او که دوه یا لدینه هم زیات. که چیرته په یوه دوه طلاقو کې شک مں وي نو تحرا دی وکړي. کوم طرف ته چې غالب گمان یې وشي همغه دی اختیار کړي. او که دواړه جانب ورته برابر ښکاره شي نو اقل یې شمارل کیږي. لیکن د احتیاط تقاضا دا ده چې زیات حساب کړی شي. ځکه چې ځینو فقهاو لیکلی دي چې باب الفروج کې احتیاط اولی دی

علم انه حنث و لم یدر بطلاق او غیره لغا کما لو شک الطلاق او لا ولو شک اطلق ام لا و لو شک اطلق واحدة او اکثر بنی علی الاقل (در مختار) (قوله بنی علی الاقل) ای کما ذکره الا سبیجابی الا ان یستیقن بالاکثر او یکون اکبر ظنه و عن الامام الثانی اذا کان لا یدری اثلاث ام اقل یتحری و ان استویا عمل باشد ذلک علیه اشباه عن البزازیه و علی قول الثانی اقتصر قاضی خان و لعله لانه یعمل بالاحتیاط خصوصاً فی باب الفروج اه (شامی ج ۲ ص ۲٦٤ قبیل باب طلاق غیر المدخول بها) فقط والله اعلم بالصواب.

د معنوي اضافت په صورت کې طلاق دیانتاً او قضاءً واقع کیږي یا صرف قضاءً؟

(۳۳۳ سوال): د مفتی حضراتو په مدونه فتوی گانو کې لیکل شوی دی چې د اضافت معنویه په صورت کې پر بنځه طلاق واقع کیږي، عموماً دا گڼل کیږي چې طلاق دیانتاً و قضاءً دواړه قسمه واقع کیږي، لیکن په دی علاقه کې ځینې مولوي صاحبان تفصیلاً ځواب ورکوي چې اضافت معنویه په صورت کې د اقرار کاذب په مثال دیانتاً طلاق نه واقع کیږي صرف قضاءً واقع کیږي، که همدا صورت دی نو تفصیل یې په کوم کتاب کې دی د صفحې په حواله ولیکئ؟ بینوا توجروا: (بنگله دیش.)

ځواب : د طلاق د واقع کیدو لپاره اضافت الی المنکوحه شرط دی، برابره خبره ده چې اضافت صریح وي یا معنوي په درمختار کې دي:

م نفع لترکه الاضافه الیها (قوله لترکه الاضافة) ای المعنویة فانها الشرط والخطاب من الاضافة المعنویة کذا الاشاره نحو هذه طالق و کذا نحو امراتی طالق و زینب طلاق اه (شامی ج ۲ ص ۵۹۰ باب الصریح).

د صریح په صورت کې قضاءً و دیانتاً طلاق واقع کیږي او د معنوي اضافت په صورت کې که خاوند مزاحم او منکر نه وي نو قضاءً و دیانتاً طلاق واقع کیږي. او که خاوند مزاحم وي او انکار کوي او حلفیه بیان ورکوي چې ما خپلې ښځې ته طلاق نه دی ورکړی نو د احتمال په وجه دیانتاً طلاق نه واقع کیږي او د قرائنو او دلالت په وجه حال قضاءً طلاق واقع کیږي. په شامی کې له بحر الرائق نه منقول دی:

لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلثاً و قال لم اعن امراتی یصدق اه و یفهم انه لو لم یقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امراه انما یحلف بطلاقها لا بطلاق غیرها ...... الخ (شامی ج ۲ ص ۵۹۱ ایضاً).

کله چې حاکم یا قاضي هغې ته طلاق ورکړي او د تفریق حکم نافذ کړي نو دیانتاً هم ښځه ورباندې حرامیږي، کله چې ښځې ته د طلاق واقع کیدو یقین راشي نو بیا هغې لپاره جائزه نه، ده چې له خپل خاوند سره د ښځې په توګه ورسره واوسي. ځکه چې ښځه د قاضي په څیر ده. (امرأة کالقاضی.) فقط والله اعلم بالصواب.

بې قصور او بې ګناه ښځې ته طلاق ورکول:

(۳۴۴_ سوال): د یو سړي دوه ښځې دي، هغه خپلې یوې ښځې ته د څه قصور او ګناه نه بغیر طلاق ورکول غواړي، خو ښځه یې په دې طلاق خفه ده او نه غواړي چې طلاقه شي. ایا خاوند دا حق لري چې له څه شرعي عذر نه پرته خپلې ښځې ته طلاق ورکړي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): نکاح یو عبادت دی او د ښځې او خاوند ترمنځ د ژوند تر آخرینو سلګیو پورې په مینه او محبت کې د اوسیدو معاهده هم ده،لهذا له څه شرعي عذر نه پرته ښځې ته طلاق ورکول له معاهدې نه مخالفت، ظلم او نا انصافي دی. که چیرته د ښځې کوم عادت یا شکل او صورت یې ښه نه وي چې د هغه په وجه ورته طلاق ورکول غواړي نو دا خیال دی هم وساتل شي چې په هغې کې به څه خوبیانې هم وي، لکه چې الله تعالی مبارک ارشاد دی:

وعاشروهن بالمعروف فان كرهتموهن فعسى ان تكرهوا شيئا ويجعل الله فيه خيرا كثيرا

ترجمه يې مخکې تيره شوی ده.
په هر حال له څه شرعي وجې نه پرته ښځې ته طلاق ورکول ظلم او قابل مواخذه ده.
فقط والله اعلم بالصواب.

صرف شرعی شهادت باندې د طلاق فيصله کول صحيح دی او که نه؟

(۳۴۵ـ سوال): لاندې د الاشباه يو عبارت ستاسی په خدمت کې پيش کوم چې د هغه حل مې مطلب دی:

قال تقبل شهادة الحسبة بلا دعوى فى طلاق المرأة ... الخ.(الاشباه ص ۲۱۳ شامی ص ۳۷۱ كتاب الشهاده.).

که چيرته د دی مطلب دا وي چې د شهادت له اهليت لروونکو څخه دوه ګواهان ګواهي ورکړي چې فلان شخص خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی نو د هغوی په ګواهی باندې فيصله کيدلې شي اګر که ښځه او خاوند دواړه له طلاق نه انکار کوي، دا حکم علی الاطلاق دی او که نور هم څه شرائط او ضوابط لري؟ که دا حکم علی الاطلاق وي نو بيا به په ډيره آسانۍ سره خلک د ښځې او خاوند ترمنځ د تفريق بهانه جوړه کړي او د ښځې او خاوند ترمنځ به جدائی راوړي. مهرباني وکړئ د دی ځواب وليکئ. بينوا توجروا.

(ځواب): په ليکل شوي صورت کې زما په خيال کې دا راځي چې د دروغو ګواهي وعيد ((چې د قيامت په ورځ به تر هغه پورته نکړی شي چې ترڅو پورې چې د هغه لپاره د جهنم فيصله ونکړی شي.)) (ابن ماجه ص ۱۷۳ باب شهاده الزور با وجود که چيرته ګواه منشرع، عادل او ثقه وي او د ښځې او خاوند دشمن هم نه وي نو که داسې ګواهي ورکړي چې دغه سړی زمونږ په وړاندې خپلې ښځې ته بائن طلاق ورکړی دی، او قاضی او مفتی ته کامل اطمنان هم وشي چې دا ګواهان دروغ نه وايی نو داسې ګواهي شرعی دليل او حجت دی او د هغه په مطابق فيصله کول صحيح دی.

(ان هذه شهادة بحرمة الفرج و هو حق الله تعالى.)

د دی تائيد له دی روايت نه هم کيږي:

اخبرنا عبدالرزاق قال اخبرنا هشيم قال اخبرني يزيد بن زوايه انه سمع الشعبي يسأل عن رجل يشهد عليه الرجلان انه طلق امرأته ففرق بينهما بشهادتهما ثم تزوجها احد الشاهدين بعد ما تنقضت عدتها ثم يرجع الشاهد الآخر فقال الشعبي لا يلتفت الى رجوعه اذا قضى الحاكم (مصنف عبدالرزاق ج ۸ ص ۳۵۳).

يعنې له امام شعبی نه د يوې مسئلې پوښتنه وشوه چې د يو سړی په خلاف دوه کسانو ګواهی وکړه چې دغه سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی. قاضی د هغوی ګواهي په وجه د ښځې او خاوند ترمنځ تفریق وکړ. د عدت له پوره کيدو نه وروسته يوه ګواه له هغې سره نکاح وکړه بيا دويم ګواه له خپلې ګواهی نه رجوع وکړه. نو امام شعبي ووېل کله چې قاضی د هغه په ګواهی فيصله وکړه نو اوس د هغه د رجوع هيڅ اعتبار نشته. (خکه چې هغه اوس رجوع کوي او دا ثابتوي چې ما دروغ ويلي وو نو دا فاسق شو او د فاسق د خبرې هيڅ اعتبار نشته. هغه چې مخکې کومه خبره کړی وه او د هغې په وجه کومه فيصله شوې وه هغه برقرار دی.) پاتې شو دا انديښنه چې په دی صورت کې د طلاق دروازه خلاصيږي نو دا خبره د مکره طلاق په مسئله کې هم ويلې شي. يواځې د دغه احتمال په وجه شرعی شهادت چې شرعی دليل او حجت دی، ردول صحيح نه دی خکه چې ګواهی د حق ژوندی ساتلو ذريعه ده او په دی باندې زياتره دارومدار د حقوق الله او حقوق العباد دی. د زانی رجم کول، د غل لاس پری کول، له قاتل نه قصاص آخستل د شرعی شهادت په وجه کيږي، نو داسې ګواهی دی په طلاق کې ولې قبول نشي. په شامی کې دي:

والمرأة كالقاضی اذا سمعته او اخبر عدل لا يحل لها تمكينه (شـامی ج ۲ ص ۵۹۴ باب الصريح) فقط والله اعلم بالصواب.

ښځه د قاضي په شان ده کله چې هغه خپله واوري چې د هغې خاوند ورته طلاق ورکړی دی يا يو عادل ثقه شخص ورته خبر ورکړي چې د هغې خاوند ورته طلاق ورکړی دی نو ښځې لپاره حلال نه ده چې سړی ته پخپل ځان اختيار ورکړي، اګر که خاوند يې منکر وي. (شامی ج ۲ ص ۵۹۴ باب الصريح) فقط والله اعلم الصواب. ۲۵ رمضان المبارک ۱۴۰۱ھ کال.

طلاقه شوې ښځه خپل کورته راوړل څنګه دي؟

(۳۴۶ـ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکوي او بیا یو کال وروسته همغې ښځې ته پخپل کور کې ځای ورکوي او د همغې د لاس نه خوراک څښاک کوي او ورسره خبرې اترې کوي. ایا دا ورته جائز دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که چیرته دغې ښځې ته یو یا دوه طلاق ورکړی وي نو له هغې سره له نکاح کولو وروسته په کور کې له ځان سره ساتلی شي، له نکاح نه بغیر په کور کې ساتل او د هغې د لاس نه خوراک څښاک کول جائز نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

په طلاق ورکولو کې سړی ولې مختار دی؟

(۳۴۷ـ سوال): په طلاق ورکولو کې سړی مختار دی چې د نکاح په وخت د ښځې رضا معلومولې شي نو د طلاق په وخت کې ولی د هغې رضاته نه کتل کیږي؟
که چې ښځه په معقول دلیل له خاوند نه طلاق آخستل غواړي نو ضدي خاوند یې طلاق نه ورکوي او نه هم د خپلې ښځې حق ادا کوي، نو په داسې صورت کې ښځې ته کومه لاره خپلول پکار دي، ایا په اسلامي قانون کې د دی څه حل شته؟ بینوا توجروا.

(ځواب): الله تعالی سړی کامل العقل، معامله فهم او دور اندیش پیدا کړی دی، هغه چې څه فیصله کوي په فهم او غور سره کوي نه د جذباتو د مغلوب کیدو په وجه. په ښځو کې د دغو صفاتو کمی وي، هغه ډیره وارخطا او له جذبات نه مغلوبیږي او ژر فیصله کوي، نتائجو ته نه ګوري، دی سره الله تعالی سړی ته پر ښځې فوقیت ورکړی دی، الهی ارشاد دی:

وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ البقره

همدغه راز الهی ارشاد دي:

((الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ .))

سړي پر ښځو حاکمان دي. (سوره النساء.)

د دغو وجوهاتو له کبله شریعت د طلاق اختیار سړي ته ورکړی دی. اقا او بادار چې ملازم نیسی نو د دواړو په رضا باندې دا کار کیږي لیکن کله چې ملازم د آقا د کار پاتی نشي نو اقا هغه له کارنه لری کوي، برابره خبره ده چې غلام خوشال وي یا خفه، همدغه راز کله چې د ملازم زړه وغواړي نو استعفا ورکوي، دا یو دنیاوي قاعده ده چې

دواړه يې په خوښۍ سره قبلوي، نو د شرعي قانون په قبلولو کې څه حـرج دی. پـه دی باره کې شرعي قانون دا دی چې کله خاوند او ښځې ترمنځ اختلاف پيدا شـي او ښځـه چې د سکون او آرام ذریعه ده، د خاوند لپاره درد سر جوړه شي او کور پـه جهـنم بـدل کړي نو په دغه حالت کې دا ښځه د هغه غاښ په شـان ده چــې چنجـو خــوړلی وي او هر وخت سخت درد کوي، اوس په حقیقت کې دا غاښ غاښ نه دی پاتی، سـلامتی پـه دی کې دی چې دا وویستل شي. همدغه راز سلامتي او قلبی سـکون پـه دی کــې وي چې دغې ښځې ته طلاق ورکړي او ځان ترینه خلاص کړي ځکـه چــې د نکـاح اصـلي مقصد يکې ختم شوې دی.

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله علیه فرمـايي: د داسـې ښځـې لاربنونـه ضروري ده چې له هغې سره نکاح کول د حکمت موافق وي او د کور ټـول مصـلحتونه په پوره توګه ترسره کړي، ځکه چې د ښځې او خاوند ترمنځ صحبت لازمي خيـز دی او د دواړو طرف، نه حاجتونه ضروري وي، پس کله چې ښځه بد اخلاقـه ده او عـادت ئـی سخت دی. نه بې ګنده ده نو پر هغه زمکه د پراخوالي بـاوجود، تنګيـري او مصـلحت په فساد بدليږي. (حجة الله البالغة ج ۲ ص ۳۵۹ - ۳٦۰.)

په بل ځای کې فرمايي: د الله رسول فرمايي کومه ښځه چې له څه شـديد ضـرورت نـه پرته له خپل خاوند نه طلاق وغواړي نو پر هغې د جنت خوشبو حـرام دی. همدغـه راز محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: د الله تعالی په حلالو څیزونو کـې لـه ټولـو نـه زيات بد څیز طلاق دی، لیکن د دی با وجود د طلاق دروازی بالکل بنـدول او پـه دی تنګی راوستل ناممکن دی، ځکه چې کله ښځې او خاوند ترمنځ مخالفت پيدا کيـږي يـا د رزق د تنګی په وجه اختلاف پيدا کيږی، يعنی د نکاح مقصد فوت کيـږي او يـو د بـل حقوق ضائع کيږي، نو په داسې حالت کې جـوړه پخپـل حالـت کـې پـاتی کيـدل بـلا ګرځي نو ځکه شريعت د طلاق صورت هم د مجبوريت په وخـت کـې مقـرر کـړی دی. (حجت الله البالغه ج ۲ ص ۳۹۷_۳۹۸.)

شيخ سعدي رحمه الله علیه ارشاد فرمايي:

زن بــــد در سـرای مرد نــکو
همدرین عالم اســت دوزخ او
زنهار از قــــرین بــــد زنهار
وقنـــا ربنــــا عـذاب النار

که چیرته ښځه له خاوند نه تنګه شي نو هغې لپاره د خلع حق ورکول شوی دی. هغه په عدالت کې، کولې شي د خپل نکاح د فسخ کولو دعوی دائر کړي. به راه راست د طلاق حق ورته نه دی ورکول شوی چې خپل خان پخپله طلاقه کړي.

که چیرته د طلاق پر ځای یوه، دوه،دری ووایي نو څه حکم یې دی؟

(۳۴۸ـ سوال): که چیرته یو سړی خپلې ښځې ته یوه، دوه، دری ووایي او ورسره د طلاق لفظ ونه وایي، نو طلاق واقع کیږي او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که چیرته یوه، دوه، دری د طلاق په نیت سره یا د طلاق په وخت کې ووایي، نو دری طلاقه واقع کیږي. که چیرته د طلاق نیت یې هم نه وي او د طلاق مذاکره او بحث هم نه وي نو طلاق نه واقع کیږي. په فتاوای قاضی خان کې دي:

رجل قال لأمراته ترا یکی او قال تراسه قال الصدر الشهید رحمه الله تعالی علیه طلقت ثلاثاً ولو قال توسه قال ابو القاسم رحمه الله تعالی علیه لا یقع الطلاق قال مولانا رضی الله تعالی عنه و ینبغی ان یکون الجواب علی التفصیل ان کان ذلک فی حال مذاکرة الطلاق یقع الطلاق و ان لم یکن لا یقع الا بالنیة کما لو قال بالعربیة انت واحدة .... الخ (فتاوی قاضی خان ج ۲ ص ۲۱٤ مطبوعه نولکشور).

په بزازیه کې دي:

(نوع اخر) قال لها ترا یکی او تراسه قال الصفار لا یقع شیئی و قال الصدر الشهد یقع بالنیة و به یفتی و قال القاضی ان کان فی حال مذاکرة الطلاق او الغضب یقع و الا لا یقع بلانیة کما فی العربیه انت واحدة...... الخ (بزازیه علی هامش الهندیه ص ۱۹۷ ج ٤ **کتاب الطلاق ، الثانی فی الکنایات و فیه اجناس**).

په فتاوای دارالعلوم کې دي:

(۵۲۸ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته د غضب په حالت کې وویل یوه، دوه، دری لاړ شه زما مور او خور یې، د طلاق د لفظ د ویلو نه علاوه او د طلاق د مذاکری او بحث نه برته نو په دی صورت کې کوم یو طلاق واقع کیږي؟

(خواب): د طلاق د لفظ د ويلو نه علاوه او د طلاق او مذاکری نه بغير په يوه، دوه، دری لاړ شه ربنا سور او خور ئي ويلو سره طلاق نه واقع کيږي.
(فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ص ۴۴۳_۴۴۴ ج ۹.) فقط والله اعلم بالصواب.

ايا زانی ښځې ته طلاق ورکول ضروري دي؟

(۳۴۹_ سوال): يو سړی خپل خوانه ښځه پريښودله او باهر تـه د مـزدوري لپـاره لاړ. د هغه په عدم موجودګی او غير حاضري کې ښځې د خاوند له وراره او خوری سـره دری ځلور کرته زنا وکړه، حمل يې هم پاتی شو مګر هغه يې وغورځوله. خاوند چې خبـر شـو نو خپل کورته راغی ښځه يې خپل پلار کره وشړله او د بيا راغوښتو لپاره تيـار نـه دی. د داسې شخص لپاره څه حکم دی؟ ايـا طـلاق ورکـول ورتـه ضـروري دی؟ د هغـه دری ماشومان هم دي. بينوا توجروا.

(ځواب): كه چيرته دا ثابت شي چې ښځې د خپل خاوند په غير حاضري کې زنا کـړی ده خصوصاً د خاوند له نژدی خپلوانو سره يې دا غلط کار کـړی نـو دا ډيـر لـوی جـرم دی، که اسلامي حکومت وي او په شرعي طريقه باندې دا ثابت شـي چـې واده شـوی ښځې يا سړی زنا کړی ده نو پر هغه د سنګسار کولو حکم دی، په قران او حـديث کـې د زنا ډير سخت مذمت او بدي بيان شوی دی. پـه يـو حـديث کـې دي چـې رسـول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اووه اسـمانونه او ځمکـې پـه واده کـړی شـويو زناکـارانو باندې لعنت وايی او په جهنم کې د داسـې خلکـو د شـرمګاهونونه داسـې ګنـده بـوی خوريږي چې جهنميان هم له دی بوی نه پريشانه کيږي او د اور له عذاب سره د هغـوی رسوايی به په جهنم کې هم کيږي. (رواه البزاز عن بريدة، مظهري بحواله معارف القـران مفتی محمد شفيع صاحب ص ۴۶۳_۴۶۴ ج ۵.) (الترغيب والترهيب ص ۳۱۴ ج ۴.)

په يو بل حديث کې دي:
حضرت ابو هزيره رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشـاد وفرمايل:
لا يزنی الزانی حين يزنی وهو مؤمن ولا يسرق السارق حين يسرق وهو مـؤمن ولا يشرب الخمر حين يشربها وهو مؤمن ...... الخ (مشكوة شـريف ص ۱۷ بـاب الكبائر و علامات النفاق).

زنا کوونکی سړی د زنا په وخت کې مومن نه پاتې کیږي، غلا کوونکی سړی د غلا کولو په وخت کې مومن نه پاتې کیږي او شراب څکونکی سړی د شراب څکلو په وخت کې مومن نه پاتې کیږي... الخ. (مشکوت شریف ص ۱۷ باب الکبائر و علامات النفاق.)

په ابو داود کې دا الفاظ دي:

د زنی العبد خرج منه الایمان و کان فوقه کالظلة فاذا خرج من ذلك العمل رجع الیه الایمان (مشکوة شریف ص ۱۸باب الکبائر).

کله چې سړی زنا کوي نو ایمان د هغه له زړه نه اوځي او سوری په شان وربانديې ودریږي، کله چې له دی بد عمل نه خلاصیږي نو بیرته ورته راځي. (مشکوت ص ۱۸ باب الکبائر.)

لهذا که د دی خبرې شرعي ثبوت وشي چې ښځې د خاوند په غیر حاضري کې د هغه له خوری او وراره سره زنا کړی ده نو دا ډیر د غندلو وړ او کبیره ګناه ده، پر هغوی تولو بانديې لازم دی چې د زړه له اخلاص نه توبه وباسي او آئنده لپاره داسې ګناه ونکړي. دا ټول د بی پردګی او آزادانه ناستي ولاړی نتحه ده چې غیر محرم بلا تکلف ښځې خواته ټګ راټګ کوي او خلک دا بد نه ګڼی او بیا دا قسم پیسې منح ته راځي د خاوند خوری او وراره هم د هغه د ښځې محرم نه دی، له هغوی نه ستر کول ضروري دي. دا چې ترینه ستر ونکړ نو نتیجه یې زنا شوه، شریعت چې د ستر کولو کوم حکم کړی دی په هغه کې ډیر زیات حکمتونه دي مګر خلک د دی بالکل پروا نه کوي، او کوم خلک چې په ستر بانديې عمل کوي نو هغه بد رد وایي.

غرض دا چې که ښځې دا غلط حرکت کړی وي نو ډیر خراب او ګنده عمل یې کړی دی، مګر پر خاوند بانديې دا لازم او واجب نه دي چې طلاق ورته ورکړي، که وغواړي نو خپل ځان سره ساتلې شي په دی شرط چې له داسې ګنده کار نه په اخلاص سره توبه وباسی او د خاوند د حقوقو ادا کولو یقین وي: په در مختار کې دي:

لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة ولا علیها تسریح الفاجر الا اذا خافا ان لا یقیما حدوداللہ فلا بأس ان یتفرقا (در مختار مع رد المختار ج ۲ ص ۴۰۳ فصل فی المحرمات کتاب النکاح).

دا چې خاوند خپل خوانه ښځه پریښی او مزدوري لپاره باهر ملک ته تللی و دا هم غیر مناسب کار و. څرنګه چې په سړو کې جنسي خواهش وي په ښځو کې هم جنسي

خواهش موجود وي بلكه له سري نه په بنځه كې جنسي خواهش زيات وي، او د سړي په وجه شيطان هغه په ګناه كې اخته كوي، خاوند ته پكار دى چې د دې خبرې پوره خيال وساتي او له ښځې نه مباشرتي مباشرتې لرى لاړ نشي فقط والله اعلم بالصواب

كه ښځه او د هغه وريندار د طلاق بيان كوي او خاوند ته د كومې خبرې يقين نه وي نو څه حكم يې دى؟

۳۵۰ـ سوال): يو سړى خپلې ښځې ته وويل چې زه تاته طلاق دركوم، څو ساعته وروسته يې بيا وويل زه تاته طلاق وركوم، بله ورځ خاوند خپل مور ته وويل چې زه به دې ته طلاق وركوم، دا جمله يې دوه كرته تكرار كړه، د هغه د ښځې او وريندار بيان دى چې بله ورځ زما خاوند خپل مور ته داسې ويلى دي چې زه ديته طلاق وركوم، طلاق وركوم. ليكن د خاوند مور وايي چې اسلم په دويمه ورځ هم ديته نه طلاق وركوم خبره كړې ده مګر خاوند يې وايي چې ماته پوخ يقين نشته چې ما څه ويلى دي نو په مسئوله صورت، كې د چا خبره منل كيداى شي؟ ايا طلاق واقع شوى دى او كه نه؟ كه واقع شوى نو څو طلاقه واقع شوي دي؟ ايا رجوع ورته كولې شي؟ ښځه او د هغه وريندار دواړه ديندار او لمونځ ګذارى دي. والسلام. بينوا توجروا.

(خواب): په مسئوله صورت كې پخپله د ښځې او د هغې وريندار بيان دا دى چې خاوند ورته طلاق وركوم، طلاق وركوم، دوه كرته ويلې دي، او ښځه او وريندار دواړه ديندارې او عادلې هم دي، همدغه راز دا قاعده هم ده چې المرأة كالقاضي، او د فروجو په بارد كې احتياط هم بهتر دى، خاوند ته هم د كومې خبرې يقين نشته چې څنګه يې ويلې دي نو څكه د نزاع د ختمولو لپاره ښه صورت همدا دى چې دوه طلاق رجعي واقع كيدو فيصله وكړى شي، طلاق د دياناتو له قبيل څخه دى په دى كې د عادل خبر اګر كه ښځې وي مقبول او منلو وړ دى. په امدادالفتاوى كې هم همداسې راغلى دي:

بعد از نقل روايات ميګويم كه در صورت مسئوله از دو حال خالى نيست يا زن مطلقه را عدد طلاق ياد است يا نه اګر ياد است در حق او صحت باشد پس اګر ياد باشد او مغلظ شد حسب علم خود پس او را رواه نيست كه زوج را بر خود قدرت دهد چنانچه روايت اولى صريح است و اګر ياد نيست صرف زنان حاضره خبر مى دهند پس از دو

حال خالی نیست یا ایشان عادل اند یا فاسق یا مستورالحال. اگر عادل هستند عمل بر قول شان واجب است کیرا که طلاق از دیاناتی است که اخبار عدل در آن مقبول است احتیاج شهادت نیست مگر عندالقاضی و در صورت مسئوله تحقیق فتوی است نه قضاء چنانچه قول ردالمختار در روایت اولی اواخیر ها عدل دلیل صریح است بر بودن طلاق از دیانات و همچنین قول ایشان در روایت ثانیه درمختار و ردالمختار و ان اخبره عدل الخ نص است بر اکتفا بر اخبار و شرط نبودن شهادت پس عدم صلاحیت محض زنان مر شهادت را درین باب مضر نیست .. الخ (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۳۴۹ مطبوعه کراچی) فقط والله اعلم بالصواب.

په غلط اقرار سره هم طلاق واقع کیږي:

۳۵۱ـ سوال): زما يو دوست زما خواته راغی او ويی ويل چې ما خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی دي او دلته راغلی يم. ما ورته وويل تا دری طلاقه ولی ورکړل؟ يو طلاق دی ولی ورنکړه. هغه راته وويل زما خپله ښځه بالکل نه ده خوښ نو ځکه ما ورته دری طلاقه ورکړی دي، يو مياشت وروسته هغه خپله خبره بدلوي او وايي چې ما دوه طلاقه ورکړي وی خو د غصې په وجه مې تاته دری طلاقه وويل، په مسئوله صورت کې دوه طلاقه واقع کيږي او که دری طلاقه؟ بينوا توجروا.

(جواب): په غلط اقرار سره هم طلاق واقع کيږي. په شامی کې دي:

ولو اقر بالطلاق كاذباً او هازلا وقع قضاءً لا ديانةً اه (شامی ص ۵۷۹ ج ۲ کتاب الطلاق قبيل مطلب في تعريف السكران و حكمه).

په مسئوله صورت کې ستا دوست يوه مياشت مخکې ستا په وړاندې ويلی وو چې ما خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی دي او في الحال هم اقرار کوي چې ما په هغه وخت د غصې په وجه مې دری طلاقه ويلی وو،لهذا په مسئوله صورت کې دری طلاقه واقع شوي دي او ښځه يې وربانديې حرامه شوې ده اوس ورته له شرعي حلالې نه بغير نه روا کيږي فقط والله اعلم بالصواب.

ښځه دری طلاقه واوري او خاوند يې انکار وکړي نو په دی صورت کې ښځه څه وکړي؟

۳۵۲ سوال : زما نوم داكرد ده او زما د خاوند نوم محمد اقبال دى. زمونږ دوه هلكان دي د. يو عمر پنځه كاله دى او د بل اووه كاله د واده نه كاله شوي دي. د دريو كلو راهيسې زمونږ په منځ كې جګړه روانه ده. په وقفه وقفه كې څلور كرته يې طلاق ويلي دي. يو ځل ډير مخكې ويلي و چې زما خواښى او ورينداږ كانو ته مې هم نه ياد دى. دويم كرت زما پلار ته په تليفون كې وويل چې زه ستا لور ته طلاق وركوم. دريم كرت د شپې نا وخته راغلى و ما چې ور تلو نو ويې ويل ما تاته طلاق وركړ. او آخرى ځل ۲ جنورى ۱۹۹۳ع كې طلاق راكړ. خو زما خاوند وايي چې ما تاته له سره طلاق وركړى نه دى. اوس ما لپاره څه حكم دى. زه څه وكړم؟ لارښونه راته وكړئ

(ځواب): د طلاق لفظ صريح طلاق دى. په دى سره رجعى طلاق واقع كيږي. او له طلاق نه وروسته يو ځاى اوسيدل د رجعت ثبوت دى لهذا لدينه وروستى طلاق له مخكيني طلاق سره ملحق كيږي په مسئوله صورت كې تا پخپله د طلاق الفاظ وخت په وخت آوريدلي دي او تاته پوره يقين هم دى او له طلاق نه وروسته ورسره يو ځاى اوسيدلى هم يې نور تا لپاره حلال نه دى چې خپل ځان خاوند ته حواله كړې. لدينه پس له خپل خاوند نه جلا واوسه او پلار ته دى هم پكار دى چې نور خاوند كره دى ونه ليږي. په شامى كې دي چې:

المراه كالقاضى اذا سمعته او اخبرها عدل لا يحل لها تمكينه (شامى ص ۵۹۴ ج ۲ باب الصريح). ښځه د قاضي په څير ده كله چې هغه پخپله د طلاق الفاظ واوري يا دوه معتبر كسان خبر وركړي نو هغې ته حلال نه دى چې خاوند خپل ځان ته پريږدي. (شامي ص ۵۹۴ ج ۲ باب الصريح.)

په مذكوره صورت كې چې ښځه حلفيه د طلاق وركولو بيان وركوي نو خاوند ته يې پكار دي چې د طلاق وركولو اقرار وكړي او يا اوس ورته طلاق وركړي. دا د حلال او حرام او د ټول ژوند معامله ده. كه چيرته خاوند په زور او زبردستى له خپل ځان سره ايساروي نو هميشه نزاع او شك و شبهه پاتى كيږي او خاوند يې ګنهكاريږي. كه خدا ناخواسته خاوند يې نه د طلاق اقرار وكړي او نه اوس ورته طلاق وركړي او د طلاق شرعي ګواهان هم موجود نه وي نو په داسې صورت كې دى ښځه له خاوند نه خلع واخلي او ځان ترينه خلاصه كړي، د كلي مشران دى خاوند خلع ته اماده كړي او دا لانجه دى حل كړي. لدينه پرته ښځه په بل ځاى كې واده نشي كولى

که حلی حوانه وي او له خاوند نه پرته د عصمت او عزت ژوند تیرول ورته گرانه وي نو په صورت یې دا هم دی چې د موقع پیدا کولو سره له خاوند نه جبرا او اکراها بائن طلاق تربینه واخلي، خو دا آخرین درجه ده. فقط والله اعلم بالصواب.

د ښځې بد زبانی له کبله که پلار خپل زوی طلاق ورکولوته مجبور کړي نو طلاق ورکول څنګه دی؟

(۳۵۳۔ سوال): زما د ښځې زما له مور او پلار سره سلوک ښه نه دی له هغوی سره زبان درازي کوي آن چې ورته کنځلې هم کوي، له ما سره هم ښه سلوک نه کوي. پلار مې ترینه په تنګ راغلی دی او ما طلاق ورکولو ته مجبوروي او راته وایی که تا خپلې ښځې ته طلاق ... نو هلاک او برباد به شي، زه ډیر پریشان یم، زما دوه واړه واړه ماشومانی هم دی، په داسې حالاتو کې زما لپاره څه حکم دی، ایا زه ورته طلاق ورکولی شم؟ لدینه مخکې مې اته کرته خپل پلار کره لیږلې ده مګر بیا هم له خپل شرارت نه لاس نه آخلي. بینوا توجروا.

(ځواب): له شرعی عذر نه پرته طلاق ورکول د نعمت کفران دی، الله تعالی وربانـدې خفه کیږي او شیطان وربانـدې خوشالیږي. که چیرته په حقیقت کې د ښځې څه قصور نه وي او پلار خپل زوی طلاق ورکولوته مجبور کړي نو د هغه اطاعت ضروري نه دی. په داسې حالت کې طلاق ورکول جائز نه دی. پلار ته هم پکار دي چې پخپل خبره اصرار ونکړي او خپل زوی طلاق ورکولوته مجبور نکړي، په طلاق ورکولو سره د ماشومانو په تعلیم او پالنه کې هم خراب اثر پری اوځي. په درمختار کې دي:

((ایقاعه مباح) عند العامة لا طلاق الایات اکمل (و قیل) قائله الکمال (الاصح حظره) ای منعه (در مختار).

په شامي کې دي:

و اما الطلاق فان الاصل فیه الحظر یعنی انه محظور الالعارض یبیحه وهو ، معنی قولهم الاصل فیه الحظر و الا باحة للحاجة الی الخلاص فاذا کان سبب اصلاً لم یکن فیه حاجه الی الخلاص بل یکون حمقاً و سفاهة رای و مجرد کفران النعمه و اخلاص الایذاء بها و باهلها و اولادها و لذا قالوا ان سببه الحاجة الی الخلاص عند تباین

والاخلاق و عروض البغضاء الموجبة عدم اقامة حدود الله . الى قوله . فحيث تجرد عن الحاجة المبيحة له شرعا يبقى على اصله من الحظر و لهذا قال تعالى فان اطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلاً اى لا تطلبوا الفراق و عليه حديث ابغض الحلال الى الله الطلاق (شامى ج ۲ ص ۵۷۱ – ۵۷۲ اول كتاب الطلاق).

البته که ښځه ناشزه او بد زبانه وي، د خپلو مشرانو د پوهولـو بـا وجـود خپـل خـراب عادتونه نه پریږدي او په دغـو وجوهـاتو سـتا پـلار هغـې تـه د طـلاق ورکولـو لپـاره تـا مجبوروي او ناته هم د اصلاح کیدو امید نه وي او ته هم فيما بينكم و بين الله طلاق ورکول مناسب ګنی نو په داسې حالاتو طلاق ورکول صحیح دی مګر صرف يـو طـلاق ورته ورکړه، دری طلاقه هرګز مه ورکوه. په درمختار کې دي:

بل يستحب لو موذيته.

په شامی کې دي:

(قوله لو موذية) اطلقه فشمل الموذية له او لغيره بقولها او بفعلها (شامى ج ۲ ص ۵۷۱ – ۵۷۲ ایضاً) فقط والله اعلم بالصواب.

که د یو سړی ښځه له پردی سړی سره لاړه شي نو پر نکاح اثـر پرې اوځی او که نه؟

(۳۵۴ـ سوال): يوه واده شوی ښځه د پردی سړی سره لاړه دوه دری ورځـې لـه هغـې سره تیری کړې او بیرته راغله، د دغې ښځې دری ماشومان هـم دي، ايـا د ښځـې دغـه حرکت په وجه د هغې پر نکاح څه اثر پرې اوځی او که نه؟ خاوند څه وکـړي لـه خـان سره وساتي او که طلاق ورته ورکړي، د ماشومانو په وجـه خاونـد يـې ډيـر پريشـانه دی، امید دی چې تاسې رهنمائی وکړئ.

(خواب): داسې ښځې ته شرعاً طلاق ورکول واجب نه دی، په حدیث کې راغـي چـې يو شخص د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کـې حاضـر شـو او ویی ویـل: يـا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما ښځه بد کاره ده، زه څـه وکـړم؟ ورتـه يـې وفرمايـل طلاق ورته ورکړه. هغه ووېل: زما ورسره مینه ده. رسول الله صلی الله علیـه وسـلم ورتـه وفرمایل: بیا له خان سره وساته.

په مشکوات شریف کې دي:

عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما قال جاء رجل الى النبي صلى الله عليه وآله وسلم فقال ان لي امرأة لا ترد يد لامس (اى لا تمنع نفسها من يقصدها بفاحشة و يؤيده ... حاشيه) فقال النبي صلى الله عليه وآله وسلم طلقها قال اني احبها قال فامسكها اذا . (رواه ابو داود والنسائي .... الخ) (مشکوة شريف ص ٢٨٧ باب اللعان).

په شامي کې دي:

(قوله لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة) ولا عليها تسريح الفاجرة الا اذا خاف ان لا يقيما حدود الله فلا باس ان يتفرقا اه مجتبى والفجور يعم الزنا وغيره وقد قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم لمن زوجته لا ترديد لا مس و قد قال اني احبها استمتع بها اه (شامي ج ٥ ص ٣٧٧ ، كتاب الحظر و الا باحة ، فصل في البيع).

دا چې ستا ښځه دوه درې ورځې د پردي سړي سره پاتې شوې ده دا کـار پخپـل ذات کې ډیره لویه ګناه ده، ښځه دې د زړه له اخلاص نه توبه او استغفار وکـړي او بیـا لپـاره دې داسې کار د نه کولو پخه اراده وکړي، مګر په دغه حرکت سره پر نکاح اثر نـه پـرې اوځي. که خاوند د هغې پر عادت باندې اعتبار لري او مطمئن وي چـې بیـا داسـې نـه کوي نو بلا تکلف یې له ځان سره ساتلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

خاوند یې لیونی دی او ښځه یې د ځلورو کلـو راهیسـی ترینـه جدا اوسیږي:

(٣٥٥ ـ سوال) د یوې ښځې د واده تقریباً اووه کاله کیږي، د خاوند د لیونتوب له کبلـه ښځه یې د خپل پلار کره ده، ځلور کاله کیږي چې ښځـه لـه خپـل خاونـد نـه جـلا ده، خاوند یې تردی حد پورې لیوني دی چې په دی نه پوهیږي ښځه مې چیرته او چا کره ده او په دی هم نه پوهیږي چې ښځه یې ځوک ده او څه نومیږي نـو ځکـه هغـې تـه د خرچې ورکولو سوال خو له سره نه پیدا کیږي، پـه دی سلسـله کـې د ښـار خـو معتبـرو اشخاصو له هغه لیوني سره ملاقات هم کړې و او ترینه پوښتنی هـم کـړي وي، پـه دغـو شرانو کې د هغه ماما هم شامل و، هغه ترینه پوښتنه وکړه چې ته ما پیژنی، زه ځوک یم؟ هغه وویل نه زه تا نه پیژنم. دویمه پوښتنه یې دا کړی وه چې ستا ښځه چیرتـه ده؟ هغـه

وبلي وو چې نه نه يم خبر دريمه پوښتنه يې دا وکړه چې ايا تا څېلې ښځې ته طلاق ورکړی دی؟ هغه ووبل ورکړی مې دی. بيا چې ترينه پوښتنه وکړه خو هيڅ ځواب يې ورنکړ. نو په دی صورت کې طلاق واقع شو او که نه؟ د دواړو ترمنځ د جدايی خلوږ کاله کيږي. ايا اوس ښځه بله نکاح کولې شي او که نه؟

ځواب : حامداً و مصليا و مسلما: په مسئوله صورت کې چې خاوند د ليونتوب دا حال دی نو په مذکوره صورت کې د هغه طلاق نه دی واقع شوې. دا چې ښځه له هغه نه خان خلاص کړي او په بل ځای کې واده وکړي نو دی لپاره دی په همدې فتوه کې د نکاح د تنسيخ په باب کې((که خاوند ليونی شي نو څه وکړي)) تر عنوان لاندی وګوري، هلته د دی پوره ځواب ورکول شوي هغه دی وګوري او د هغه په مطابق دی عمل وکړي. فقط والله اعلم بالصواب. ۲۷ شوال ۱۴۱٦ھ کال.

ښځې پخپله دری طلاقه د خاوند له خولې نه آوريدلي دي ليکن سړی ته په ياد نه دي؟

(۳٥٦ـ سوال): ښځه په قسم سره وايې چې زما خاوند ماته دری صريح طلاق راکړي دي، خو خاوند ته يې هيڅ په ياد نه دي، خو ګواهانو وينا دا ده چې صرف دوه صريح طلاق ورکړي دي. په دی صورت کې شرعاً څه حکم دی؟ اوس د سړی او ښځې ترمنځ د تعلق قائمولو لپاره څه کول پکار دي؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ.

(ځواب): حامداً و مصلياً و مسلماً. خاوند ته د طلاق عدد نه دي ياد او ګواه د دوه صريحو طلاق ورکولو ګواهي ورکوي نو قضاءً دوه طلاقه واقع کيږي، ليکن دا چې ښځه پخپله به ذات خود هلته موجوده وه او هغې دری طلاقه اوريدلي دي او په قسم سره وايي چې زما خاوند دری صريح طلاق راکړي دي نو هغې ته پکار دي چې له شرعي حلالی نه بغير خپل ځان خاوند ته حواله نه کړي. په شامی کې دي:

والمراه کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل تمکينه (ج ۲ ص ٥۹۴ باب الصريح).

په طلاق ورکولو عجله مه کوئ او په دری طلاقو ورکولو سره خپل کور مه بربادوئ:

(۳٥۷ـ سوال): نن سبا په معمولي معمولي خبرو باندې خلک خپلو ښځوته طلاق ورکوي، دا کار څنګه دی؟ په کومو حالاتو کې اسلام د طلاق ورکولو اجازه ورکوي؟

که چیرته د ښځې او خاوند ترمنځ اختلافات پیدا شي نو په دی صورت کې اسلام څه لارښوونه کوي؟ او که له طلاق ورکولو نه بغیر بله لاره او چاره نه وي نو د طلاق ورکولو ښه طریقه کوم یوه ده؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ.

(ځواب): حامداً و مصلیاً، له شرعي وجهی نه بغیر دی طلاق ورکړی نشي. ځکه چې طلاق د الله تعالی بالکل خوښ نه دی او ورباندې خفه کیږي، په طلاق سره شیطان ډیر خوشالیږي. په دی اړه په همدې باب کې مکمل بحث تیر شوی دی هلته (بلا وجه په طلاق باندې د بنديز لګولو) تر عنوان لاندې وګورئ.

که چیرته کومه ښځه له څه شرعي عذر نه بغیر طلاق وغواړي نو پر هغې د جنت خوشبوئی حرام دی. (مشکواه شریف ص ۲۸۳ کتاب الطلاق.)

په حلالو څیزونو کې له ټولو نه مبغوض څیز د الله په نزد طلاق دی. (مشکواه شریف ص ۲۸۳ ایضاً.)

لهذا له شرعي عذر نه پرته ښځې ته طلاق ورکول لویه ګناه ده، لدینه باید کلکه ډډه ورکړی شي.

نکاح د الله تعالی ډیر لوی نعمت دی، ښځې او خاوند دواړوته پکار دي چې د دی لوی نعمت قدر وکړي او له طلاقق نه اجتناب وکړی.

که خدای ناخواسته د ښځې او خاوند ترمنځ اختلاف پیدا شي نو که د خاوند قصور وي نو هغه دی ژر تر ژره خپل ځان اصلاح کړي او د خپلې ښځې حقوق ادا کړي او که د ښځې قصور وي نو هغه دی په ډیره نرمي او خوږو خبرو پوه او د خاوند په باره کې چې کوم شرعی هدایات دي هغه دی ورته بیان کړي، او د خاوند د نافرماني په باره کې چې کوم وعیدونه راغلی دي هغه دی ورته واوروي، د دواړو ماشومانو له انجام نه خبر کړي چې له طلاق نه وروسته ورسره مخامخ کیږي. دا د اصلاح لومړي درجه ده، که په دی سره معامله صحیح شي نو ډیر ښه، که نه دویم درجه یې دا ده چې خپله بستره له هغې نه جدا کړي، کیدای شي د تعلقاتو د غوڅولو دا ظاهري طریقه د ښو تعلقاتو د جوړیدو باعث وګرځي او ښځه له خپل بد اخلاقی او نا فرمانی څخه محفوظ پاتی شي. لیکن دا قطع تعلق دی صرف د بستری تر حده پورې وي نه د کور جدائی چې ښځه یواځې په کورکې پریږدي، کومه ښځه چې لدی شریفانه سلوک او تنبیه سره سمه نشي نو بیا دریمه درجه دا ده چې هغه معمولي غوندې ووهلی شي یعنی داسې دی ووهی چې په بدن باندې د وهلو اثر پاتی نشي او په بدن باندې زخمونه جوړ

نشي. په مخ باندې دی بالکل نه وهي که څه هم پر مخ باندې د وهلو اجازه خو شته مګر شریف خاوند داسې نه کوی لکه چې په حدیث کې دي:
و من یضرب خیار کم.
شریف سړی ښځې ته د وهلو سزا نه ورکوي. او له انبیا علیهم السلام نه چیرته هم دا عمل نه دی صادر شوي.
که دغه دری تدبیرونه هم څه نتیجه ورنکړي او خپل منځی اختلاف ختم نشي نو بیا قرآنی هدایت دا دی چې د سړي او ښځې له کورنی څخه حکم مقرر کړی شي او هغوی دواړو ترمنځ د اصلاح او خیر ښیګنې لپاره په اخلاص سره کار وکړي، کوم یو چې ملامت او په غلطی وي هغه ته دی د اصلاح کیدو تاکید او نصیحت وکړي، په دی کار سره ممکن دی چې د دواړو ترمنځ د روغی جوړی لاره ووځي او کور یې آباد شي.
که چیرته دواړه حکم او ثالث بالخیر دی نتیجی ته ورسیږي چې دواړو ترمنځ اصلاح او روغه ناممکنه ده، د دواړو ترمنځ نفرت او خفګان دومره زیات شوې چې حقوق الزوجین تر پښو لاندې کیږي او د روغی جوړی هیڅ شکل په نظر نه راځي نو د داسې صورت حال متعلق حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله علیه فرمایی چې په داسې حالت کې په زور او زبردستی د دواړو نکاح برحال او برقرار ساتل لوی بلا ده، په داسې نازک حالت کې طلاق ورکول بهترین کار دی. (حجة الله البالغه ص ۳۹۸ ج ۲.)
دغه پورتنی هدایت د قرآن کریم په سوره نساء آیت نمبر ۳۴_۳۵ کې موجود دی.
کله چې خاوند د طلاق ورکولو اراده وکړي نو د طلاق ورکولو تر ټولو ښه طریقه دا ده چې خاوند ښځې ته په داسې طهر کې چې ورسره جماع یې نه وي کړی، صرف یو طلاق ورکړي، د عدت له تیریدو نه وروسته ښځه له خاوند نه بالکل جدا کیږی او هر چیرته چې نکاح کول غواړي کولی شي. دا طریقه له ټولو نه ښه ده، یوه بله طریقه د طلاق دا ده چې په هریو طهر کې له جماع نه مخکې یو یو طلاق ورکړي. نن سبا چې په خلکو کې یو ځای د دریو طلاقو درکولو کوم رواج پیدا شوی دی او ډیر خلک دا فکر کوي چې له دریو طلاقو ورکولو نه پرته طلاق نه واقع کیږي بالکل غلط دی، په یو طلاق ورکولو سره هم طلاق واقع کیږي او له عدت له تیرودونه وروسته بائنه کیږي او چیرته چې نکاح کول غواړي کولي شي. د جوش او غصې په وجه دری طلاقه یو ځای ورکوي، بیا چې کله جوش او غصه یې ختمه شي او یا ورته صحیح طریقه معلوم شي نو بیا پښیمانیږي او خفه کیږي، که یواځې یو طلاق ورکړی نو بیا له داسې پریشانی سره نه

نخ کیږي. کا، چیرته له یو طلاق له وروسته خاوند خپله ښځه له خان سره ساتل غواړي نو په ډیره آسانی سره ساتلی شي که عدت یې نه وي پوره شوی نو صرف رجوع ورته کافی دی. د رجوع کولو په صورت کې ښځه یې د پخوا په څیر د هغه په نکاح کې پاتی کیږي. او که عدت یې پوره شوي وي او دواړه پخپلو کې د ښځې او خاوند په شکل کې اوسیدو لپاره رضا وي نو د دواړو په رضا سره دوباره نکاح کول کافی دی. د حلالی ضرورت نه پاتی کیږي، البته په دواړو صورتونو کې خاوند صرف د دوه طلاقو مالک پاتی کیږي. که آینده چیرته یو بل طلاق ورکړي نو بیا صرف د یو طلاق حق ورسره پاتی کیږي او که بل طلاق یې ورکړي نو ښځه وربانده په قطعی توګه طلاقیږي او له شرعي حلالی نه پرته وربانده نه حلالیږي، که خاوند دری طلاقه یو ځای په یو وخت کې ورکړي نو ګنهګاریږي او خپل کور هم له شرعي حلالی نه پرته نشی آبادولی. له قران او حدیث نه همدا ثابت دي.

په بخاري شریف کې حدیث دی:

عن ابی شهاب قال اخبرنی عروة بن الزبیر ان عائشه اخبرته ان امراته رفاعه القرظی جاءت الی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فقالت یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ان رفاعة طلقنی فبت طلاقی و انی نکحت بعده عبدالرحمن ابن الزبیر القرظی و انما معه مثل الهدبة قال رسول الله صلي الله علیه واله وسلم لعلك تریدین ان ترجعی الی رفاعة لا (ای لا ترجعی الیه ، مرقاه) حتی یذوق عسیلتك و تذوقی عسیلته.

عروه بن زبیر فرمایی چې د مؤمنانو مور حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنه ماته وویل چې حضرت رفاعه قرظي رضی الله عنه ښځه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضره شوه او عرض یې وکړ چې رفاعه ماته دری طلاقه راکړي دي، (په مسلم شریف کې په صراحت سره دری طلاقه راغلی دي.) لدینه وروسته ما له عبدالرحمن بن قرظی سره نکاح وکړه خو د هغه آلت د کپړی نه جوړ شوی ډبلی پشان دی، یعنی د جماع قدرت نه لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل شاید ته دوباره رفاعه ته تلل غواړی، ته له هغه سره تر هغه نکاح ورسره نشي کولې ترڅو پورې چې سنا دا دویم خاوند ستا څه مزه ونه څکی او ته د هغه مزه ونه څکی. (مطلب دا چې هغه له تا سره جماع وکړي.) لدینه پس هغه تاته طلاق درکړي، او د عدت له

نیرولونه وروسته ته له لومړی خاوند رفاعه سره نکاح کولی شي (بخاري شریف ص ۷۹۱ ج ۲ باب من اجازالطلاق الثلث مسلم شریف ج ۱ ص ۴۶۳.)

په بخاری شریف کې یو بل روایت دی:

عن عائشه رضی الله تعالی عنها ان رجلا طلق امرأته ثلثا فتزوجت فطلق فسئل النبی صلی الله علیه واله وسلم اتحل للاول قال قل لا حتی یذوق عسیلتها کما ذاق الاول (بعضه للبخاری).

له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دي چې یو سړي خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی بیا د هغې ښځې له بل چا سره نکاح (واده) وکړه، دویم خاوند ورته له جماع کولونه پرته طلاق ورکړ، محمد صلی الله علیه وسلم ترینه پوښتنه وکړه چې ایا دا ښځه د مخکینی خاوند لپاره حلاله شوه؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ترڅو پورې چې دویم خاوند ورسره صحبت ونکړي د مخکینی خاوند لپاره نه حلالیږي. (بخاری شریف ص ۷۹۱ ج ۲_ مسلم شریف ص ۴۶۳.)

له دغو دواړو روایتونو څخه ثابتیږي چې په یو مجلس کې دری طلاقه واقع کیږي او له دریو طلاقونه وروسته ښځه د لومړی خاوند لپاره له شرعی حلالې نه پرته نه حلالیږي.

لهذا مسلمانانو ته پکار دي چې په یو ځای د دریو طلاقو د ورکولو طریقه بالکل پریږدي، خصوصاً د غصې په حالت کې دې طلاق نه ورکوي، ځکه چې د غصې په وخت کې شیطان مسلط کیږي، د فکر او غور کولو موقع نه ورکوي، او چې طلاق درکوي نو له دریو نه په کمو زړه یې نه یخیږي، په غصه کې طلاق ورکول څه بهادري او پهلوانی نه دی. بلکی په حقیقت کې پهلوان هغه څوک دی چې په غصه کې پخپل ځان قابو راولي. په حدیث کې دي:

قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لیس الشدید بالصرعة انما الشدید الذی یملك نفسه عند الغضب متفق علیه.

قوي او پهلوان هغه څوک نه دی چې خلک خملوي، پهلوان هغه دی چې د غصې په وخت کې پخپل ځان قابو راولي. (مشکواة شریف ص ۴۳۳، کتاب الغضب والکبر فصل فخر).

له بده مرغه په مسلمانانو کې د شراب څکلو عادت هم ډیر شوی دی او له شراب څکلونه وروسته اکثر طلاق واقع کیږی بیا وروسته ندامت کوي. په شریعت کې شراب

څکل د سیارۍ څکلو سره برابر دی، په قرآن کریم او حدیث کې د شراب ډیر زیات بدي بیان شوی دی. شرابي انسان د مور او خور فرق هم نشي کولی، عقل یې ختمیږي. نو څکه په ټولنه کې د شراب څکلو عادت ختمول هم پکار دي. با اثره خلک باید په دی لر کې عملی ګامونه اوچت کړي او له دی بد عادت نه د مسلمانانو د بندولو هر ممکن تدبیر پکاروی.

که چیرته له طلاق نه علاوه بله چاره نه وي نو مناسب دا دی چې له طلاق ورکولو نه مخکې له کوم مستند تجربه کار عالم یا مفتی څخه مشوره واخلي او د هغه په مشوره عمل وکړي ان شاء الله بیا به د ندامت او پښیمانی نوبت نه راځي.

زیاتره وخت خلک د طلاق معامله وکیل ته وړي، وکیل هم په طلاق نامه دری طلاقه لیکي. هغوی دی هم لدینه باید ډډه وکړي، که ډیر شدید ضرورت وي نو صرف د یو طلاق په لیکلو دی اکتفا وکړي، که چیرته د ښځې او د هغې د کورنۍ زیات اصرار وي نو بیا دی یو بائن طلاق ولیکی، په دی مضمون دی ځان ښه پوه کړي او وربانـدې دی عمل وکړي.

د حال په صیغه هم طلاق واقع کیږي، ماضی صیغه ضروري نه ده:

(۳۵۹ـ سوال): یو شخص خپلې ښځې ته په ۱۸ جنوري ۱۹۷۹ع کې طلاق ورکړ، لدینه وروسته خپل پلار کره لاړه، بیا د هغې خاوند ۱۲ فبروري کال ۱۹۷۹ع خپلې ښځې ته رجسټری خط واستاو چې پکې هغه د دوه مخکینو طلاقو اقرار کړی د دریم طلاق لپاره داسې جمله لیکلې وه: اوس زه تاته دریم طلاق درکوم، په دی صورت کې پر ښځه څو طلاقه واقع شول؟ بیا ۱۸ فبروري خپل خسر ته د معافی خط لیکي او معافی ترینه غواړي، ایا په معافي غوښتو سره د هغه ښځه ورته روا کیږي او که نه؟ همدغه راز هغه ته چا ویلی دي چې تا د دریم طلاق لپاره د ماضی صیغه استعمال کړی ده لهذا ستا دریم طلاق نه دی واقع شوی، ته رجوع کولی شې. ایا د هغه دا خبره صحیح ده؟ په مذکوره الفاظ سره طلاق واقع کیږي او که نه؟ مهرباني وکړئ ځواب راته راکړئ. بینوا توجروا.

(ځواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. په مسئوله صورت کې خاوند ۱۸ جنوري ۱۹۷۹ع خپلې ښځې ته دوه طلاقه ورکړی دي او خاوند یې په دغو دوه طلاقو باندې اقرار هم کوي، لدینه وروسته د مخکینو دوه طلاقو د عدت په وخت یعنی ۱۲ فبروري ۱۹۷۹ع خپلې ښځې ته رجسټر شوی خط ولیکله او په هغه کې ورته ولیکل چې زه تاته دریم

طلاق هم ورکوم. مزکوره جمله چې د حال په زمانه کې په طلاق ورکولو دلالت کوي نو په دی سره دریم طلاق هم واقع کیږي،لهذا لومړني دو طلاق او د هغې په عدت کې ورکول شوی دریم طلاق په یو ځای کیدو سره پر هغې دری طلاقه واقع کیږي. او ښځه په مغلظ طلاق پر خپل خاوند حرامیږي. اوس صرف د معافی په غوښتولو سره حرام شوې ښځه پر هغه نه حلالیږي. ترڅو پورې چې شرعي حلاله نه وي شوي دا ښځه پر هغه نه حلالیږي. داسې لفظ چې په زمانه حال کې د طلاق ورکولو دلالت کوي په دی باندې هم طلاق واقع کیږي. په درمختار کې دي:

(باب الصریح) (صریحه مالم یستعمل الافیه) ولو بالفارسیه کطلقتك ، و انت طالق و مطلقه) ..... (و یقع بها) ای بهذه الالفاظ وما بمعنا ها من الصریح.

په ردالمختار کې دي:

(قوله وما بمعنا ها من الصریح) ای مثل ما سیذکر من نحو کونی طالقاً واطلقی و یا مطلقة بالتشدید و کذالمضارع اذا غلب فی الحال مثل اطلقك کما فی البحر ...... الخ (در مختار ورد المختار المعروف به شامی ص ۵۹۰ – ۵۹۱ ج ۲ ، باب الصریح).

په در مختار کې دي:

(و فی اختاری نفسك .....) (تبین) بواحدة (ان قالت اخترت) نفسی (و انا اختار نفسی) استحساناً ..... الخ.

په شامی کې دي:

(قوله استحساناً) راجع الی قوله او انا اختار نفسي ای لو ذکرت بلفظ المضارع سواء ذکرت انا او لا ففی القیاس لا یقع لانه وعد ، ووجه الاستحسان قول عائشه رضی الله تعالی عنهالما خیرها النبی صلی الله علیه واله وسلم بل اختار الله و رسوله و اعتبره رسول الله صلی الله علیه واله وسلم جواباً ، ولان المضارع حقیقه فی الحال مجاز فی الاستقبال کما هو احد المذاهب ..... الخ (در مختار و شامی ج ۲ ص ۶۵۷ ، باب تفویض الطلاق).

په فتح القدیر کي دي.

و لا يقع بصفعت لا اذا غلب في الحال ، (فتح القدير مع كفايه و عنايه ص ۷ ج ٤
ب يقع الطلاق.

په فتاوای عالمګیري کې دي:

قالت لزوجها من باتو نمی باشم فقال الزوج مباش فقالت بدست تواست مرا طلاق
کن فقال الزوج طلاق میکنم ، طلاق میکنم و کرر ثلاثاً طلقت ثلاثاً.

حاشیه کې دي:

(ای . طلق اطلق.) (عالمگيري ج ١ ص ٣٨٤ مصری فصل نمبر ٧ باب نمبر ٢
كتاب الطلاق.)

په فتاوای دارالعلوم کې دي:

(سوال): د زید زوی خالد خپلې ښځې ته وایی زه تاته طلاق درکوم ..... خالد او د هغه پلار څو څو ځلې دا کلمه وویله. په دی صورت کې طلاق واقع شو او که نه؟

(خواب): دا چې خالد خپلې ښځې ته ویلی دي چې زه تاته طلاق درکوم نو په دی سره یو طلاق واقع شوی دی، نو که خالد دری کرته یا لدینه زیات ویلي دي نو پر ښځه یې دری طلاقه واقع شوي دي او ښځه ترینه طلاقه شوی ده او په نکاح کې ورته نه ده پاتی. (فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ص ۱۳۴_۱۳۵ ج ۹.)

په فتاوای دارالعلوم قدیم کې دي:

(سوال): یو سړی خپلې ښځې ته په دی مضمون طلاق نامه ولیکله چې: زه په دومره نیټه فلان کال. فلانکی د خپل نکاح له قید نه آزادوم او طلاق ورته ورکوم. طلاق ورته ورکوم. طلاق ورته ورکوم. په دی صورت کې کوم یو طلاق واقع شو؟ رجوع ورته کیدلې شي او که د حلالی ضرورت دی؟ ......الخ.

(خواب): اقول و به نستعین، د زید پر ښځې باندې دری طلاقه واقع شوي دي. د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دی قول له کبله:

لقوله علیه السلام ثلث جدهن جد و هزلهن هزل و عزمنهن الطلاق.

له دری طلاق نه وروسته پر خاوند باندې د ښځې حرامیدل په قطعی نص کې منصوص دی الخ. (فتاوای دارالعلوم قدیم ص ۲۴۹ ج ۳_۴ عزیز الفتاوا.)

له دغو حوالو جاتو نه معلوم شو چې داسې لفظ چې د حال په زمانه کې د طلاق په ورکولو دلالت کوي، طلاق واقع کيږي، د طلاق واقع کيدو لپاره د ماضی صيغی استعمال ضروري نه دی. فقط والله اعلم بالصواب. ۲۹ شوال المکرم ۱۴۱۷ھ کال.

باب ما یتعلق فی الطلاق الصریح

د صریح طلاق په باره کې معلومات :

له نکاح نه دی علیحده کوم او علیحده کړی مې ده، دا قسم لیکلو سره کوم یو طلاق واقع کیږي؟

(٣٦٠_ سوال): که چیرت یو سړی په طلاق نامه کې لاندینی الفاظ لیکلي وي چې زه تا له نکاح نه علیحده کوم یا ما هغه له خپل نکاح نه علیحده کړی ده، په دی الفاظو سره طلاق واقع کیږي او که نه؟ او که واقع کیږي نو کوم یو طلاق؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې صرف یو رجعی طلاق واقع شوې دی، د دی حکم دا دی چې په عدت کې دننه دننه ورته رجوع کولې شي او ښځه پخپل نکاح کې ساتلی شي، د تجدید نکاح ضرورت نشته، که چیرته د عدت موده تیر شي نو بائنه کیږي نو بیا له نکاح نه علاوه ورته نه حلالیږي، البته د حلالی ضرورت ورته نشته.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

طلاق، طلاق خپل کورته لاړه شه، په دغو الفاظو کوم یو طلاق واقع کیږي؟

(٣٦١_ سوال): زما دوست خپلې ښځې ته دوه کرته طلاق ورکړی دی یعنی طلاق، طلاق ورته ویلی دي، او بیا ورته دا هم ویلی دي چې خپل کورته لاړه شه، د دی مطلب دا و چې ما تاته طلاق ورکړی دی، اوس خپل کورته لاړه شه. اوس زما د دوست ښځه د عدت له تیرولو نه بغیر او له تجدید نکاح نه پرته د خپل خاوند کورته راتلی شي او که نه؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې د طلاق لفظ یې دوه کرته استعمال کړي، او لاړه شه د طلاق نیت نه پرته یې ویلی دي، نو رجعی طلاق واقع شوی او په عدت کې دننه دننه

---

[1] - ((خرنګه چې زمونږ په علاقه کې دا لفظ د طلاق لپاره استعمالیږي نو ځکه له نیت نه بغیر هم په دی الفاظو سره طلاق واقع کیږي و قد مران الصریح مالم یستعمل الا فی الطلاق من ای لغه کانت لکن لما غلب استعمال حلال الله فی البائن عند العرب والفرس وقع به البائن ولو لا ذلک لوقع به الرجعی شامی باب الکنایات تحت قوله حرام ج ٢ ص ٢٣٨

ورته رجوع صحیح دی، د تجدید نکاح ضرورت نشته. خو که عدت یې تیر شوې وي نو له نکاح نه علاوه ورته نه حلالیږي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

د الله په واسطه مې ده ته طلاق ورکړ. په دې جملې سره کوم یوه طلاق واقع شو؟

(۳۶۲_ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته یو طلاق ورکړی دی او هغه تاریخ یې نه ده لیکلې خو دومره یې یاد دی چې په ۱۹ مارچ کال ۱۹۷۵ع کې ورکړی دی، اوس ښځه ورباندې طلاقه شوې ده او که نه؟ خاوند یې د ښځې د وړلو لپاره راغلی دی خو ښځه یې ورسره تللو ته تیاره نه ده، د طلاق نامې په نقل کې د دو ګواهانو دستخطونه موجود دي، طلاق نامه یې داسې لیکلې ده: زه د خدای په واسطه فلانکی د فلان سړي لور چې ما ورته د شریعت مطابق څه تکلیف نه دی ورکړي او دا هم هغه منې، هغې له مانه طلاق وغوښت او ما انکار وکړ، مګر هغه بیاهم طلاق رانه غواړي نو ما مجبوراً الله حاضر و ناظر وګاڼه او د همغه په واسطه مې طلاق ورکړ چې په دې کې زما هیڅ قصور نشته! د ګواهانو دسخطونه.

(خواب): د طلاق نامې له عبارت نه رجعي طلاق واقع کیږي.[2]

که چیرته د عدت دننه رجوع یې وکړ، نو ښځه یې په نکاح کې ده او خاوند ته دا حق حاصل دی چې له ځان سره یې یوسي، او که عدت یې تیر شوی وي او رجوع ورته هم نه وي کړی نو ښځه ورباندې بائنه طلاقه شوې ده یعنی له نکاح نه یې وتلې ده او د خاوند وربانديې هیڅ حق نشته، خو که ښځه رضا وي نو دوباره نکاح ورسره کولې شي، د حلالې ضرورت ورته نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ((صریحه ما لم یستعمل الا فیه ولو بالفارسیه کطلقتك و انت طالق و مطلقه ..... و یقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعنا ها من الصریح (در مختار مع الشامی اول باب الصریح ج ۲ ص ۵۹۰).

[2] - ((صریحه ما لم یستعمل الا فیه ولو بالفارسیه کطلقتك و انت طالق و مطلقه ..... و یقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعنا ها من الصریح (در مختار مع الشامی اول باب الصریح ج ۲ ص ۵۹۰).

که د طلاق پر ځای طلاغ ووایی نو د دی څه حکم دی؟

(۳۶۳ سوال): د ښځې او خاوند ترمنځ د جګړې له کبله خاوند د یو ګاوندي په ګواهۍ کې چېلي ښځې ته درې طلاقه ورکړه، د هغه په ګاونډ کې دوه نوری ښځې او نو سری هم موجود وو، هغوی هم د طلاق آواز آوریدلی دی، په تول کلي کې د طلاق ورکولو چرچا او آوازه خپره شوی ده، دری خلور ورځې وروسته د جماعت خلکو د ښځې خاوند ته وویل چې ته ښځې ته طلاق ورکولو وروسته څنګه پخپل کور کې ساتې او تعلق ورسره لرې؟ هغه ورته په ځواب کې وویل ما د هغې ویرولو لپاره د طلاق پر ځای طلاغ ویلی دي. نه طلاق، مګر هلته موجود خلک وایی چې طلاق یې ویلی دي، ایا په مذکوره حالت کې طلاق واقع شوی دی او که نه؟

(ځواب) که صرف په غلطۍ سره د طلاق پر ځای طلاغ یې ویلی وي نو څه فرق پکې نه راځي، بلکې طلاق یې واقع کیږي، نور د نیت او ارادی اعتبار له الله سره دی.[1]

خو که دا معامله اسلامي عدالت ته لاړ شي نو قاضی په الفاظو باندې فیصله کوي نه په نیت باندې، البته که هغه د دغه الفاظ په ویلو کې دوه تنه ګواهان نیولي وو او هغوی ته یې ویلی وي چې دغه لفظ د ویرولو لپاره استعمالوم او ګواه د هغه په دی خبره ګواهي ورکړي نو بیشکه چې د قاضی فیصله به هم د دی په حق کې کیږي چې طلاق نه دی واقع شوی.

صریحه ما لم یستعمل الا فیه ولو بالفارسیة کطلقتك و انت طالق و مطلقه ..... و یقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح (در مختار مع الشامی اول باب الصریح ج ۲ ص ۵۹۰).

که په انګریزی کې ډائی ورس درې کرته ولیکله نو څو طلاق واقع کیږي؟

(۳۶۴ـ سوال): د ښځې او خاوند ترمنځ جګړه وشوه، ښځې خپل پلار ته تیلیفون وکړ چې تاسې ما لدې ځای نه له ځان سره یوسئ، پلار یې راغی او خپل لور او مسی یې له ځان سره بوتلل، د ماشوم عمر درې کاله دی، د ښځې له تللو نه وروسته خاوند خپلې

---

[1] قال الشامی و یدخل طلاغ و تلاغ و طلاك و تلاك و ط ـ ل ـ ق. (شامی ص ۵۹۱ ج ۵ ..... ۳.)

ښځې ته خط ولیکلو چې په هغه کې دری کرته دائی ورس لیکلی و وروسته دا خبره عام شوه چې فلان سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی. کله چې خاوند یې خبر شو نو یو خط ښځې ته او یو خط د هغې پلار ته ولیکلو په هغه کې هغه په قسم سره لیکلی وو چې ما بالکل د طلاق اراده نه وه کړې، صرف د ویرولو لپاره مې دا خط لیکلی و، نو په دی مسئله کې د شریعت څه فیصله ده؟ مهرباني وکړئ ځواب یې راکړئ والسلام (ساوت افریقه)

(ځواب) هوالموفق للصواب: طلاق نامه زما په وړاندې نشته او ماته دا هم نه دی معلوم چې د دائی ورس لفظ هلته په افریقا کې عرفاً صریح طلاق دی یا کنایه؟ یا اصلا خو د کنایې لفظ دی مگر په طلاق کې د غالب استعمال په وجه د صریح په حکم کې دی؟لهذا ما لپاره قطعی فیصله کول گران کار دی. دا د هغه ځای علماو کار دی چې دا ورته معلوم وي چې دا لفظ صریح طلاق دی او که کنائي طلاق؟ یا د زیات استعمال په وجه په صریح حکم کې راغلی دی.

که چیرته د هغه ځای د خلکو په ژبه دائي ورس د طلاق لپاره وي او د طلاق لپاره استعمالیږي نو که څه هم دا عربی لفظ نه دی مگر بیا هم په دی سره طلاق واقع کیږي، په یو ځل ویلو سره رجعی طلاق په دوه ځله ویلو سره دوه رجعی طلاق او په دری کرته ویلو سره دری طلاقه واقع کیږي او ښځه وربانذې مغلظ بائنه طلاق کیږي. او د ښځې د خاوند دا قول چې زما د طلاق نیت مراد نه و بلکې ویرول مې مقصد و، د اوریدو وړ نه دی. او که دا لفظ کنائي طلاق وي او طلاق لپاره موضوع نه دی مگر د طلاق لپاره هم استعمال لري، یعنی له دی لفظ نه د طلاق کیدل مراد نه وي له طلاق نه علاوه د نورو معناگانو لپاره هم مستعمل وي نو د طلاق واقع کیدو لپاره د نیت ضرورت دی، که د طلاق نیت یې وي نو یو بائن طلاق واقع شوې البته د طلاق له بحث او د ښځې او خاوند ترمنځ د جنگ له قوی قرائنو څخه دا غالب گمان وي چې مقصد یې طلاق ورکول و نو د طلاق د واقع کیدو حکم کیدلې شي، که چیرته له دغو قوي قرائنو په موجودگی کې خاوند د طلاق له نیت نه انکار وکړی نو د هغه خبره هیڅ اعتبار نه لري

او که د دائی ورس لفظ په اصل کې کنایه وي او د طلاق لپاره نه استعمالیږي لیکن په طلاق کې د زیات استعمال په وجه د صریح په حکم کې راغلی نو بیا د نیت محتاج نه دی له نیت نه بغیر بائنه طلاق واقع کیږي، که بائن متعارف وي لکه د فارغخطی لفظ

بائن متعارف دی، که نه نو رجعی طلاق دی، لکه چې ما پرېښودلی کې رجعی طلاق متعارف دی به درمختار باب الصریح کې دي:

(صریحه ما لم یستعمل الا فیه) ولو بالفارسیة (قوله ما لم یستعمل الافیه) فما لا یستعمل فیها الا فی الطلاق فهو صریح یقع بلانیة وما استعمل فیها استعمال الطلاق وغیره فحکمه حکم کنایات العربیة فی جمیع الاحکام بحر (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۵۹۰ باب الصریح).

په بل ځای کې دي:

(باب الکنایات) (کنایته) عند الفقهاء (ما لم یوضع له) ای الطلاق (واحتمله وغیره) فالکنایات لا تطلق بها قضاءً (الانیة اودلالة الحال) وهی مذاکرة الطلاق او الغضب (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۶۳۵ – ۶۳۶ باب الکنایات).

(نوټ): په کوم صورت کې چې قضاءً طلاق واقع کیږي پر ښځې هم لازم دی چې د طلاق په واقع کیدو باندې عمل وکړي ځکه چې ((المرأة کالقاضی.)) مصرح ده، او کله چې قاضي او یا د هغه قائم مقام (قومي مشران) د طلاق د واقع کیدو فیصله وکړي نو دیانتاً هم طلاق واقع کیږي. فقط والله اعلم بالصواب. ٦ جمادی الثانی ۱۴۰۰هـ.

که چیرته په یو ځای کې یوه، دوه، دری لفظ په عرف کې د طلاق لپاره مستعمل وي نو څه حکم یې دی؟

(۳۶۵_ سوال): له سلام مسنون نه وروسته عرض دا دی چې زمونږ ښار ګودهرا کې ښځې او خاوند ترمنځ په جګړو کې خاوند یوه، دوه، دری لفظ له ژبی نه راوباسي، خو ورسره د طلاق لفظ نه استعمالوي، دا لفظ هلته دومره عام شوی دی چې اوریدونکي لدینه همدا مطلب اخلي چې فلان سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی. همدغه راز د دغه ښار د زیاترو علماو رجحان هم همدا دې چې د ګودهرا د خلکو په عرف کې د یوه. دوه. دری لفظ د کثرت استعمال په وجه د صریح په حکم کې راغلی دی،لهذا په دې لفظ سره مغلظ طلاق واقع کیږي، اوس سوال دا دی چې د دغو الفاظو څه حکم دی؟ ایا د عرف په وجه دا لفظ د صریح طلاق په حکم کې دی او که نه؟ او په دی لفظ

سره مغلظ طلاق واقع کیږي او که نه؟! امید دی چې مونږ ته به دی هکله پوره معلومات راکړئ.

(جواب): که چیرته په سوال کې لیکل شوي خبرې صحیح وي او د هغه ځای علماو تحقیق همدا وي چې د ګودهرا د ښار د خلکو په عرف کې دا الفاظ د طلاق لپاره استعمالیږي او خلک لدینه طلاق مطلب اخلي نو ستاسی په علاقه کې د هغه ځای د خلکو عرف مطابق احکام جاري کیږي. د عرف بدلولو سره حکم بدلیږي. په شامي کې دي: وقدمو ان الصریح و قد مر ان الصریح ما غلب فی العرف استعماله فی الطلاق بحیث لا یستعمل عرفاً الا فیه من ای لغة کانت و هذا فی عرف زماننا کذالك فوجب اعتباره صریحاً کما افتی المتاخرون فی انت علی حرام بانه طلاق بائن للعرف بلانیة مع ان المنصوص علیه عند المتقدمین توقفه علی النیه ...... الخ (شامی ج ۲ ص ٥٩٤ باب الصریح).

په شامی کې دي:

و ان کان الحرام فی الاصل کنایة یقع بها البائن لا نه لما غلب استعماله فی الطلاق لم یبق کنایة و لذا لم یتوقف علی النیة اودلالة الحال . الی قوله . ثم فرق بینه و بین سرحتك فان سرحتك کنایة لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصریح فاذا قال رها کردم ای سرحتك یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة ایضاً وما ذاك الا لانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق و قدمر ان الصریح ما لم یستعمل الا فی الطلاق من ای لغة کانت (شامی ج ۲ ص ٦٣٧ باب الکنایات).

لهذا په مسئوله صورت کې ستاسې په علاقه کې د عرف په لحاظ سره دا الفاظ د صریح په حکم کې دي، او که علماو هم همدا تحقیق وي نو په دغو الفاظو سره له نیت نه پرته هم دری طلاقه واقع کیږي، د ویرولو دلیل یې نه منل کیږي، او همدې کې احتیاط دی چې په باب الفروج کې په احتیاط باندې عمل کول اولی او بهتر دی.

په شامي کې دي:

لانه یعمل بالاحتیاط خصوصاً فی باب الفروج (شامی ج ۱ ص ٦٢۴ قبیل باب طلاق غیر المدخول بها).

په فتاوی خیریه کې د یو سوال په خواب کې لیکل شوي دی

... (أي قول الزوج) على ما عليه الاعتماد والفتوى احتياطا في أمر الفروج في زمان غلب فيه على الناس الفساد (فتاوى خيريه ص ٤٣ ج ١ . كتاب الطلاق) فقط والله اعلم بالصواب.

که یو سړی دا جمله څو څو ځلې ووایي چې ته مې پرېښې يې، نو د دې څه حکم دی؟

(٣٦٦_ سوال): د ښځې او خاوند ترمنځ جنګ جګړې کیدلې. ښځه له خپلو ماشومانو سره خپل پلار کره لاړه، هغه وایي چې خاوند ماته څو څو کرته ویلي دي چې ته مې پرېښې يې. خاوند يې هم په دې اعتراف کوي چې ما دا خبره څو څو کرته تکرار کړې ده. په دې باره کې د شریعت څه حکم دی؟ بينوا توجروا.

(خواب): ما پرېښودلی لفظ د کثرت استعمال په وجه په صریح حکم کې دی. په دې سره رجعی طلاق واقع کیږي. په شامي کې دي:

فاذا قال رها كردم اي سرحتك يقع به الرجعي مع ان اصله ، كنايه. (شامي ص ٦٣٨ باب الكنايات) په مطابق پر ښځې درې مغلظ طلاق واقع کیږي. والله اعلم بالصواب.

ښځې ووېل چې ماته طلاق راکړه، خاوند ورته ووېل درمې کړ. ایا په دې سره طلاق واقع کیږي او که نه؟

(٣٦٧_ سوال): د ښځې او خاوند په جګړه کې ښځې خپل خاوند ته ووېل چې ماته طلاق راکړه ره له تا سره نشم اوسیدلې، خاوند ورته په ځواب کې ووېل ما درکړ، لدینه وروسته ښځې بيا ووېل چې ماته طلاق راکړه، خاوند يې ورته ووېل زه لاړه شه ما درته درکړه. ایا په مذکوره صورت کې طلاق واقع شو او که نه؟ خاوند يې د طلاق لفظ نه دی استعمال کړی. که مذکوره صورت کې طلاق واقع شوې وي نو څومره طلاقه ورباندې واقع شوي دي؟ بينوا توجروا.

(خواب): که چیرته کومه خبره د کوم سوال په ځواب کې ووېل شي نو ځواب د اعاده ما فی السوال متضمن وي لهذا که څه هم خاوند يې په طلاق کې د طلاق لفظ استعمال نه دی کړی مګر په خواب کې دا لفظ موجود ګڼل کیږي، دوه کرته سوال او ځواب شوی دی، نو ځکه په مسئوله صورت کې دوه رجعي طلاق واقع شوي دي، په

عدت کې خاوند ته د رجوع کولو حق شته، ښځه يې خوشاله وي او که نه خاوند ورته رجوع کولې شي. په درمختار کې دي:

قالت لزوجها طلقني فقال فعلت طلقت فان قالت زوني فقال فعلت طلقت اخرى (در مختار)

په ردالمختار کې دي:

(قوله فقال فعلت) اى طلقت بقرينه الطلب، والجواب يتضمن اعاده ما في السوال (در مختار و رد المختار ص ٦٣٣ ج ٢ قبيل باب الكنايات) فقط والله اعلم بالصواب.

باب مایتعلق بالکنایة

ښځې ته دا ویل چې ته زما مور په شان یې:

۳۶۸ سوال): د دین علماء او مفتیان په دی لاندینی مسئله کې څه وایی: زما ښځې ماته، بیا بیا ویل چې ته به زما څه وکړی؟ زیات نه زیات خوشی (رخصت) به مې کړې. یوه ورځ د غرمی په وخت کې بیا وویل چې ته به زما څه وکړي رخصت به مې کړی کنه. زه اوس مې رخصت کړه، ما د غصې په حالت کې دری کرته وویل: لدینه پس ته زما لپاره د مور او خور پر ځای یې. په شریعت کې د دی څه حکم دی. ښځه مې هم زما په نکاح کې د پاتی کیدو هیله لري، ایا د تجدید نکاح ضرورت شته او که نه؟

کله چې د طلاق د مذاکری او بحث په وخت کې چې کـه مـا خوشـی کـول غـواړی، خوشی مې کړه، په ځواب کې دا الفاظ دی ویلی وي نو یو بائن طلاق واقع شوی دی، ځکه چې دا دکنائې طلاق الفاظ دي، نو ځکه په لومړي لفظ سره طـلاق بـائن واقـع کیږي او دویم او دریم ځل ویل لغوه دي، ځکه چې ضابطه دا ده چې ((البـائن یلحـق بالبائن))لهذا که تاسې ښځه او خاوند دواړه رضا یي نـو دوبـاره نکـاح کیـدلې شـي د حلالې ضرورت نشته.

ولو قال انت علی مثل امی او کامی یرجع الیٰ نیته فان قال اردت الطـلاق فهـو طـلاق (هدایه ص ۳۹۰ ج ۲ بَب الظهار) لا یقع بها الطلاق لا الا بالنیه او بدلاله الحـال (هدایـه ج ۳۵۳ ج ۲ باب ایقاع الطلاق اما الضرب الثانی ..... الخ) فقط والله اعلم بالصواب.

په فارغخطي ویلو سره بائنه طلاق واقع کیږي.

(۳۶۹_ سوال): یو سړی په جنګ جګړه کې خپلې ښځې تـه وویـل: زه خـو اوس سـتا هـې برای نام (تش په نامه) خاوند یم، ښځې ترینه پوښتنه وکړه: لدینه سـتا څـه مطلـب دی؟ په ځواب کې ورته وویل: فارغخطي _ طلاق، طلاق، طلاق. په مسئوله صـورت کـې کوم یو طلاق واقع کیږي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کې دری مغلظ طلاق واقـع شـوي دي. د فـارغخطي لفـظ کنایه ده، په دی سره بلا نیت بائن طلاق واقع کیږي. (لانه فی العرف طلاق بائن.) لکـه چې په امداد الفتاوی کې دي: د فـارغخطي لفظ کنایـه ده نـو څرنګـه پـه دی سـره د طلاق بائن واقع کیدل متعارف دي نو ځکه په دی سره بلا نیت بائن طلاق واقع کیږي.

(ص ۳۹۳ ج ۲.) د فارغخطی له لفظ نه وروسته د صریح طلاق الفاظ. یې ویلي دي او قاعده دا ده چې کله ښځه مدخوله وي نو بائن ته صریح طلاق لاحق کیږي.

الصریح یلحق الصریح و یلحق البائن بشرط العده. (درمختار مع الشامی ص ٦۴۵ ج ۲ باب الکنایات مطلب الصریح یلحق الصریح والبائن.)

هذا وروستي دو صریح طلاق لاحق شول او مغلظ طلاق ترینه جوړ شو.

که د عدم اضافت شبهه وي نو اضافت صریحه ضروري نه دی، معنوي اضافت ورته کافي دی چې هغه لپاره دلالت (قرینه) موجوده ده.

(قوله لترکه الاضافه) ای المعنویه فانها الشرط والخطاب من الاضافه بالمعنویه و کذا الاشاره .... الخ ولا یلزم کون الاضافه صریحه فی کلامه (الی) فهذا یدل علی وقوعه وان لم یضفه الی المراه صریحاً (شامی ج ۲ ص ۵۹۰ – ۵۹۱ باب الصریح).

لهذا د طلاق په واقع کیدو کې هیڅ شبهه نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

دری کرته د فارغخطی لفظ په ویلو سره کوم یو طلاق واقع شوی دی؟

(۳۷۰_ سوال): تقریباً دری کاله کیږي چې یو سړي خپلې ښځې ته دری کرته د فارغخطی په الفاظو سره طلاق ورکړی دی. په هغه وخت ښځه حامله وه، فی الحال ماشوم یې د پنځلس میاشتو په عمر کې دی، لدینه علاوه دوه نور ماشومان یې هم شته، نو خکه ښځه د خاوند کره تلل غواړي او خاوند یې هم په کور کې د هغې ساتل غواړي. په شریعت کې دی لپاره څه لاره شته او که نه؟

(خواب): په مسئوله صورت کې د فارغخطي په لومړی لفظ سره یو بائن طلاق واقع شوي دی، دویم او دریم یې نه دی واقع شوې _ د فقه قاعده ده لا یلحق البائن. دواړه کولې شي دوباره نکاح وکړي د حلالې ضرورت نشته.[1]

---

[1] « وضاحت : فارغخطی لفظ چون زمونږ په خلکو کې د طلاق لپاره استعمالیږی نو څکه که له نیت نه پرته هم ووېل شي نو طلاق واقع کیږي، که دری خلي ووایی نو دری طلاق واقع کیږي،لهذا له شرعي حلالې نه پرته دوباره نکاح یې نه صحیح کیږي.

ولعمر ان الصریح ما لم یستعمل الا فیه من ای لغه کانت ...... الخ شامی (باب الکنایات ج ۲ ص ٦۳۸).

صریحه ما لم یستعمل الا فیه ولو بالفارسیه قال فی الشامیه ولو بالفارسیه قال فی الشامیه ولو بالفارسیه فما لا یستعمل فیها الا فی الطلاق فهو صریح یقع بلانیه (شامی باب الصریح ج ۲ ص ۵۹۰).

(درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۲۹٦) فقط والله اعلم بالصواب.

د بائن طلاق تعریف:

(۳۷۱_ سوال): یو طلاق بائن څه ته وایی؟

(ځواب): بائن داسې طلاق ته ویلی شي چې په هغه کې رجعت نشی کیدی یعنی له تجدید نکاح نه پرته یې نشي ساتلې. په یو بائن طلاق سره ښځه له نکاح نه اوځي.[1]

خاوند وویل: کله چې ته له مانه جدا کیدل غواړی نو ماشومانو ته خیرا کوه. د دی جملې شرعي حکم څه دی؟

(۳۷۲_ سوال): یو سړی خپل ښځې ته وویل: کله چې له مانه جدا کیدل غواړی نو ماشومانوته بده دعا (خیرا) کوه نو له مانه به جدا شي، یعنی رخصته به شې. د خاوند مطلب خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو اختیار ورکول و. ښځې تر اوسه پورې خپل دا حق نه دی استعمال کړی، ایا خاوند د طلاق اختیار واپس اخستلی شي؟

او که ښځه خپل اختیار استعمال کړي نو کوم طلاق واقع کیږي؟ رجعی او که بائن؟

(ځواب): کله چې ښځې ته د طلاق اختیار ورکولو لپاره داسې ویلی وي نو بیا ښځې ته د طلاق اختیار ترلاسه شوې دی، کله چې خپلو اولادوته بده دعا یعنی خیرا وکړي نو یو رجعی طلاق ورباندې واقع کیږي، په عدت کې دننه ورته رجوع جائز دی او له عدت نه وروسته د دواړو ترمنځ د رضا په صورت کې تجدید نکاح صحیح دی، د حلالې ضرورت نشته، خاوند خپل اختیار واپس نشي اخستلې.

و ان قال طلقی نفسک فلیس له ان یرجع عنه لان فیه معنی الیمین لا نـه تعلیـق الطـلاق طتطلیقها والیمین تصرف لازم (هدایه اولین ص ۳٦۱ باب تفویض الطلاق).

ولو قال لها انت طالق اذا شئت او اذا ما شئت او متی شئت او متـی مـا شـئت فـردت الا مرله یکن ردا ولا یقتصر علی المجلس (هدایه ج ۲ ص ۳٦۳ ایضاً) ص ۳۰۰

فاذا قال رها کردم ای سرحتک (چهوړ دی) یقع الرجعی مع ان اصله کنایـه (شـامی ج ۲ ص ٦۳۸ باب الکنایات) فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ((والطلاق البائن هو الذی لا یملك الزوج فیه استرجاع المراه الا بعقد جدید. (لسان العرب باب الباء ج ۱ ص ۵٦۰.)

((اوس دا ښځه زما ښځه نه ده.)) د دی جملې حکم:

(۳۷۳_ سوال): د ښځې او خاوند ترمنځ ناچاقی او نفرت پیدا شـو. پخپلـو کـې لاس او گریوان شول، د محلې څلور سړي او شپږ ښځې دی مقصد لپـاره راغونـدی شـوې چـې دواړه پوه کړي او روغه جوړه پکې وکړي. خلکو ښځه پوه کړه او هغـه غلـی شـوه، کلـه چې د خاوند د پوهولو لپاره لاړل نو هغه ځواب ورکړ چې نور هغه ښځه زما ښځه نـه ده پاتی، هغه زما مور او خور ده. د دغو الفاظو په آوریدو سره یو تن ورته وویل: داسـې مـه وایه که نه ښځه به درباندې طلاقه شي. د هغه په ځواب کې د ښځې خاوند وویـل چـې هو! ما ورته طلاق ورکړه. د طلاق لفظ یې صرف یو ځل استعمال کړی، اوس د کتـاب او سنت په رڼا کې فیصله وکړئ.

(ځواب): د سړی دا الفاظ چې اوس دا زما ښځه نه ده پاتی بلکی زما خور او مـور ده، د طلاق په نیت یې ویلی دي، نو ځکه بائن طلاق ورباندې واقع شوی دی او دا الفـاظ د هغوی په ځواب کې ویل شوي دي چې هو ما طلاق ورکړی دی، که چیرتـه دا نـوی طلاق ومنل شي نو دوه بائنه طلاق شمارل کیږي د دواړو په رضاء پـه عـدت کـې او لـه عدت نه وروسته هم نکاح کیدلې شي د حلالی ضرورت ورته نشته.

الصریح یلحق الصریح و یلحق البائن بشرط العدة. (درمختار مع الشـــامی ص ٦٤٥ ج ٢ باب الکنایات مطلب الصریح یلحق الصریح والبائن.)

اوس دا خاوند صرف د یو طلاق مالک دی. فقط والله اعلم بالصواب.

رَجعي طلاق په عدت کې دننه هم بائن کیدلې شي:

(۳۷۴_ سوال): رجعی طلاق یې ورکړ خو بیا یې وویل چې رجـوع کـوونکی نـه یم، لـه بل چا سره نکاح کولې شي زما درباندې هیڅ اعتراض نشته ، ایا په داسـې صـورت کـې خاوند ته د رجوع حق شته او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب)له خاوند له رجعی طلاق نه وروسته کنائي الفـاظ اسـتعمال کـړی وي، نـو کـه چیرته د جدید طلاق نیت یې نه وي نو بائن طلاق شمیرل کیږي او د رجـوع حـق یـې ختمیږي، او که د جدید طلاق نیت یې کړی وي نو دواړه طلاقه یـې بـائن دي رجـوع نشي کولې.

لو قال لامرأته انت طلاق ثم قال للناس زن من برمن حرام است و عنی بـه الاول اولانیة له فقد جعل الرجعی بائناً و ان عنی به الابتداء فهی طلاق اخر بائن. (خلاصة الفتاوی ج ۲ ص ۸٦) فقط والله اعلم بالصواب.

که یو سړی خپلې ښځې ته مور وویل نو د دی څه حکم دی؟

(۳۷۵ـ سوال): د ناپوهۍ او جهالت په وجه خاوند خپلې ښځې سینه په خوله کې ونیوله او ورته یې وویل موری ! . دغه لفظ یې دری څلور کرته وویل، ایا په داسې ویلو سره ښځه حرامیږي او دری طلاقه وربانډې واقع کیږي؟ بینوا توجروا.

(خواب): په مسئوله صورت کې د ډیر شهوت په وجه چې سینه یې خوله کې نیولې او ورته ای موری ویلي دی، په دی سره ښځه وربانډې نه ده حرامه شوې او طلاق هم نه دی واقع شوې، د دستور مطابق د هغه ښځه ده او هغه لپاره حلاله ده. لیکن داسې حرکت کول ښه کار نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

په خاوند باندې په زور او زبردستی بائن طلاق واچول شو، ایا طلاق یې واقع کیږي او که نه؟

(۳۷٦ـ سوال): زما اراده هرګز دا نه وه چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړم او نه مې کله د طلاق ورکولو فکر کړی دی، لیکن د جنوری په ۲۲ تاریخ ۱۹۹٦ع کال پرما زبردستی وکړه چې ته خپلې ښځې ته بائن طلاق ورکړه، ما طلاق بائن ورکړ، په هغه وخت ما طلاق بائن نه پیژندلو، په هغه وخت زما اراده خپلې ښځې ته د یو طلاق هم نه و چې ور یې کړم. ایا زما طلاق واقع شوی دی؟ که واقع شوې نه وي نو زه له خپلې ښځې سره رشته قائمولی شم او که نه ؟ د دی به څه صورت وي؟ په طلاق بائن کې عدت تیرول ضروري دی او که نه؟ او که عدت نه وي نو د دی څه صورت دی؟

(خواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. په مسئوله صورت کې چې تا پخپله ژبه خپلې ښځې ته بائن طلاق ورکړی دی نو ستا پر ښځې بائن طلاق واقع شوی دی. ۱ او هغه ستا له نکاح نه وتلې ده، دا چې ستا او د هغې ترمنځ خلوت شوی دی نولهذا پر هغې عدت لازم دی، که حمل یې نه وي نو دری حیضه دي. که ښځه او خاوند دواړه یو ځای اوسیدو باندې رضا وي نو تجدید نکاح ضروری دی لدینه پرته یو ځای نشئ اوسیدلې،

که چیرته دواړه تجدید نکاح وکړئ نو رتلونکی لپاره خاوند صرف د یو طلاق مالک باتی کیږي. والله اعلم بالصواب.

زما او ستا ترمنځ هیڅ تعلق نشته له کور نه مې لاړه شه. ایا په داسې وینا سره طلاق واقع کیږي؟

(۳۷۷_ سوال): زمونږ مشره خور په بمبئ کې واده شوی ده، خاوند او ښځې ترمنځ وخت په وخت جنګونه کیدل، زمونږ کشری خور چې په بمبئ کې ده تلیفون وکړ چې ماته زما د مشری خور غیر مسلم ګاوندي ویلی دي چې ستا د خور میړه خپلې ښځې ته دویم ځل داسې ویلي دي چې زما او ستا ترمنځ هیڅ تعلق نشته ته له کورنه لاړه شه. دا الفاظ یې د غصې په حالت کې ویلي دي، زه د دغې خبرې په اوریدلو سره بمبئ ته ولاړم او له مشر خور سره مې ملاقات وکړ او له هغې نه مې حالات معلوم کړ،هغې اقرار وکړ چې هو زما خاوند ماته داسې ویلی دي، هغې دا هم وویل چې هغه خو دا خبرې هر وخت کوي، لدینه وروسته ما د خپل خور له خاوند سره مخامخ ملاقات وکړ، هغه هم وویل چې هو ما لومړی ځل دا خبره په فلان تاریخ او دویم ځل مې په فلان تاریخ کړی ده، خو دا مې د غصې په وخت کې کړي ده، هغه دا هم راته وویل چې دوه کرته په ویلو سره طلاق نه واقع کیږي، دری کرته ویل ضروري دی. بل هغه دا وویل چې د طلاق لپاره په سوچ او فکر سره ویل ضروري دي، د غصې په حالت کې طلاق نه واقع کیږي، په دی باره کې هغه وایي چې ما دا خبرې له یو عالم نه اوریدلي دي. تاسې مهرباني وکړئ په دی باره کې معلومات راکړئ.

(ځواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. په فتاوای دارالعلوم قدیم کې دي:

(سوال): زید د خپلې ښځې پلار کره لاړ ترڅو خپل ښځه کور ته راولي خو ښځې د تللو نه انکار وکړ. زید ورته وویل: که چیرته همدا اوس له ما سره لا نه ړلی نو بیا له ما سره تر عمره پورې ستا هیڅ تعلق او سروکار نه وي، ښځې بیا هم ورسره له تللو نه انکار وکړ او زید دری کرته خپل دغه پورتنې الفاظ تکرار کړل او د خپلې ښځې خپلوانوته وویل چې زمونږ ګانه واپس راکړئ او تاسې خپل د جهیز ټول سامان هم واپس راوړئ.

(ځواب):د زید دغه وینا چې بیا به ستا له ما سره ټول عمر هیڅ تعلق نه وي کنائي طلاق دی.

صرح به في العالمگيريه والخلاصة حيث قال لم يبق بيني و بينك عمل او شئي و امثال ذلك.

او دا کنایه په نیت پورې موقوف دی، که چیرته زید په دغو الفاظو د طلاق نیت کړی وي لکه چې له قرائنو نه همداسې معلومیږي نو یوه بائنه طلاق واقع شوی دي. او که نیت یې نه وي کړې نو طلاق نه دی واقع شوې، له زید نه په قسم ورکولو سره د دی خبرې پوښتنه پکار ده چې تا د طلاق نیت کړی و او که نه؟

قال في الدر المختار ، و في الغضب توقف الا ولان اى نوى وقع و الا لا وقال قبله باسط والقول بيمينه في عدم النية و يكفي تحليفها له في منزل فان ابى رافعته الى الحاكم فان نكل فرق بينهما ، فقط كتبه (مولا نا مفتي محمد شفيع غفرله (فتاوی دارالعلوم قديم ج ۳ – ٤ ص ۳۱۱ امداد المفتيين).

په امدادالفتاوی کې دي:

که چیرته یو سړی خپلې ښځې ته وویل چې زما له کور نه لاړه شه زما له تا سره هیڅ تعلق او واسطه نشته، ښځه د خاوند په دی خبره ترینه لاړه او بیرته خپل کورته نه راځي، خاوند یې ورته وایی ما معاف کړه له غصی نه مې درته ویلی دي.

(ځواب): دا کنایات دي د دی ذار و مدار نیت پورې دي، که د طلاق نیت یې کړی وي نو بائن طلاق واقع کیږي او که د طلاق نیت یې نه وي کړی نو طلاق یې نه واقع کیږي. (امدادالفتاوی ص ۳۷۴ ج ۲.)

همدغه راز په امدادالفتاوی کې دي:

که چا خپلې ښځې ته وویل چې زما له کوره ووځه نو دا د هغه نیت سره تعلق لري که په دی الفاظو سره د طلاق نیت یې نه وي کړې نو نه واقع کیږي. (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۳۷۷.)

له پورتنیو حواله جاتو څخه ثابتیږي چې بره په سوال کې کوم الفاظ لیکل شوي دي په دی کې طلاق د هغه تر نیت پورې موقوف دی.

لهذا په مسئوله صورت کې که هغه دا الفاظ د طلاق په نیت ویلی وي نو یو بائن طلاق یې واقع شوی دی او که د طلاق نیت یې نه وي کړي نو له خاوند نه په قسم ورکولو سره پوښتنه کیدلی شي.

لا يلحق البائن البائن. (درمختار مع ردالمختار ۶۴۲/۲ باب الكنايات.

(نوټ): که د طلاق په نیت یې دا الفاظ یې ویلی وي نو له کوم تاریخ نه چـې دا لفـظ ویلی دی له همغه تاریخ نه د عدت تاریخ شروع کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

اوس دا نفرت خدای هم نشی ختمولې ایا په دی سره طـلاق واقع کیږي؟

(۳۷۸_ سوال): یو سړي خپلې ښځې ته په خفګان کې لیکلی دي چې په کوم زړه کـې دا مینه ځای پر ځای شوې ده اوس له نفرت نه ډک شـوی دی، اوس دا نفـرت خـدای هم نشي ختمولې. (معاذ الله) ایا په دغو الفاظو سره ښځه ورباندې طلاقـه شـوی ده او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. د نفرت په الفاظو سره خو طلاق نه واقـع کیـږي مګـر په دی جملې سره چې (معاذ الله) اوس دا نفرت خدای هم نشي ختمولې. ایمـان یـې په خطره کې غورځیدلی دهلهذا د تجدید نکاح حکم ورباندې کیـدلې شـي. فقـط والله اعلم بالصواب.

ماته نه یې پکار په ویلو سره طلاق واقع کیږي او که نه؟

(۳۷۹_ سوال): یو سړی پخپله ښځه باندې له څه وجهی نه پرته ډیر زیـات ظلـم کـوي. یوه ورځ د ښځې خپلوان هغه خپل کورته راوست، لدینه وروسته د هغه خاوند د بل چـا په لاس ځواب ولیږه چې ښځه ژر تر ژره بیرته خپل کورته راولې، د ښځې خپلوانـو ورتـه وویل چې په دی هفته کې مونږ کره واده ده، واده نه وروسته به در کـره راولـو. خاونـد یې بیا د چا په لاس ځواب ولیږه چې ژر تر ژره ولیږه که نه له واده نه وروسته مـې نـه ده پکاره، ایا په دغو الفاظو سره طلاق واقع کیږي او که نه؟ که واقع شوي وي نـو کـوم یـو طلاق واقع شوې دی. دا معامله د غضب او خفګان په حالت کې واقع شوې دی.

(ځواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً. په مسئوله صورت کې طلاق نه واقع کیږي.

ولو قال لا حاجةَ لی فیك ینوی الطلاق فلیس بطلاق. (فتاوای عالمگیری ج ۱ ص ۳۷۵ الفصل الخامس فی الکنایات.

لیکن احتیاط په دی کې دی چې له واده نه مخکې د هغه ښځه ورته ولیږلی شـي. فقـط والله اعلم بالصواب. ٦۰ می ۱۹٦٦ع.

ازاده مې کړی، دا د صریح په حکم کې دی.

(۳۸۰ سوال): حضرت تهانوي رحمه الله علیه ازاده مې کړی. یا ازاده کرخه ته صریح ویلی دي. (امدادالفتاوی، کتاب الطلاق.)

لیکن د گجرات خلکو عرف په دی باره کې څه شی دی؟ د ځینو گجراتی عـرف پوهـانو وینا ده چې د دی ځای په عرف دا کنایه ده، ستاسې خپل ذاتی رای پـه دی بـاره کـې څه ده. (مفتی سعید احمد پالن پوري.)

(ځواب): زما رای دا ده چې ازاده مې کړی الفاظ د خوشی مې کړیې په شـان ملحـق صحیح دي.[۱]

معلق طلاق

که چیرته ښځه له خاوند نه د جواری پریښودلـو لپـاره د طـلاق قسم واخلي نو د دی څه حکم دی؟

(۳۸۱_ سوال): زید جوارګر دی، نو ځکه د هغه ښځه ترینه خفـه وي، یـوه ورځ ښځـې ورته وویل، تاسې زما د طلاق قسم وخورئ او قمار پریږدئ. زید ورته وویل ماته د طـلاق قسم منظور دی. اوس پوښتنه دا ده چې په دی سره قسم منعقد شوی دی او کـه نـه؟ او که منعقد شوې وی نو د قمار په صورت کې طلاق واقع کیږي او که نه؟ که واقـع کیـږي نو کوم یو طلاق واقع کیږي؟ که یو رجعی طلاق واقع کیږي نو د رجوع طریقه به څنګـه وي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): که په مسئوله صورت کې جواري وکړي نو یو رجعی طلاق واقع کیږي.

په عدت کې دننه رجوع کولی شي، د رجوع صورت دا ده چې ورسره مجامعت وکړي، یا په ژبه ووایی چې زه خپله ښځه واپس اخلم نو په دی سـره رجـوع صـحیح کیـږي، د تجدید نکاح ضرورت نشته.

[۱] - ((فاذاقال رها کردم ای سرحتك یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة وما ذاك الا لا نه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق وقد مر ان الصریح ما لم یستعمل الا فی الطلاق من ای لغه کانت لکن لما غلـب اسـتعمال حلال الله فی البائن عند العرب والفرس وقع به البائن ولو لا ذلك لوقع به الرجعی (و شامی باب الکنایات ج ۲ ص ۶۳۸) فقط والسلام.

الرجعة هی استدامه الملك القائم فی العدة بنحو راجعتك و رددتك و امسكتك بلانية لانه صريح و بالفعل مع الكراهة بكل ما يوجب حرمه المصاهرة كمس .... ج (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۷۲۸ — ۷۲۹ باب الرجعة) والله اعلم بالصواب.

که ته زما اجازې نه بغیر پلار کور ته لاړې نو پر ما حرامه یې. د دغې جملې حکم؟

(۳۸۲_ سوال): خاوند خپله ښځه پلار کره له تللو نه منع کړه لیکن ښځه اصرار کوي چې زه به خامخا خپل پلار کره ځم، کله چې هغه خپل پلار کره تللو ته تیاره شوه نو ورته یې وویل که چیرته زما اجازې نه بغیر پلار کره لاړې نو پر ما حرامه یې. لدینه وروسته هغې عهد وکړ چې زه به لدینه وروسته نه ځم. اوس پوښتنه دا ده چې که ښځې او خاوند ترمنځ روغه وشي نو ښځه یې پلار کره تللی شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): په مسئوله صورت کې که ښځه د خاوند په اجازه پلار کره لاړه شي نو طلاق وربانديې نه واقع کیږي او که د هغه له اجازې نه بغیر لاړه شي نو طلاق واقع کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

(۱): که ته د خپل خور یا مور کره لاړه شي نو درې طلاقه، د دغې جملې حکم.

(۲): د دریو طلاقو د واقع کیدو څخه د بچ کیدو تدبیر؟

(۳۸۳_ سوال): د زید او د هغه د ښځې ترمنځ جګړه وشوه، ښځې ورته په غصه کې وویل ما پریږده چې لاړه شم، زید د هغه د ویرولو لپاره وویل که ته خپل خور یا مور کره لاړې نو درې طلاقه یې. لدینه وروسته د زید ښځه روانه شوه خو لوی دروازې ته نژدې ګاونډیانو ونیوله او بیرته یې پخپل کور کې کیناوه. د زید ښځه ډیره غصه وه او ویل یې چې زه به تر مابنامه پورې ورزم، خو خاوند ورته وویل که تا د خپل خور او مور په کور کې قدم کیښود نو انجام به دی ډیر خراب وي، کله چې د هغې قهر سوړ شو نو د خپل خور او مور کورته لانړله، په دغو الفاظو سره په نکاح اثر کیږي او که نه؟ او د شرط پوره کیدو په صورت کې درې طلاقه واقع کیږي او که نه؟ ایا داسې کوم تدبیر شته چې شرط پوره شي مګر درې طلاقه واقع نشي؟

(خواب): په مسئوله صورت کې ښځه په دی وخت له نکاح نه نه ده وتلې مګر کله چې هغه د خپل خور یا مور کره لاړه شي نو دری طلاقه واقع کیږي او پر خاوند حرامیږي او بیا له شرعی حلالی نه بغیر ورته نه حلالیږي.

و اذا اضافه الی شرط وقه عقیب الشرط مثل ان یقول لا مرأته ان دخلت فانت طالق

(هدایه اولین ج ۲ ص ۳٦٥ باب الایمان فی الطلاق).

او له دریو طلاقو نه د بچ کیدو صورت دا دی چې خاوند دی ورته یو رجعی طلاق ورکړي او له خپل ځان نه جلا کړي له عدت نه وروسته دی خپل خور یا مور کره لاړه شي، په دی سره تعلیق شرط او تعلیق پوره کیږي او دری طلاقه نه واقع کیږي. ځکه چې د شرط پوره کیدو په وخت کې د هغه په نکاح کې نه ده. لدینه وروسته دی له خاوند سره بیا نکاح وکړي، لدینه پس چې هغوی کره ځی راځي نو پر نکاح یې هیڅ اثر نه پری اوځي، او طلاق یې نه واقع کیږي. په درمختار کې دي:

و تنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقاً لکن ان وجد فی الملك طلقت و عتق و الا لا . فحیلة من علق الثلاث بدخول الدار ان یطلقها واحدةً ثم بعد العدة تدخلها فتنحل الیمین فینکحها (در مختار ج ۲ ص ٦٩٠ باب التعلیق) فقط والله اعلم.

زه کله چې له سلمی سره نکاح وکړم نو هغه پر ما دری طلاقه ده، د دی خبرې حکم:

(۳۸۴_ سوال): زید سلمی ته دری طلاقه ورکړل، لدینه وروسته یې یو خط ورکړه چې زه کله هم له سلمی سره نکاح وکړم نو هغه پر ما په دریو طلاقو طلاقه ده. او په دی خط کې زید خپل دستخط هم وکړه، له عدت نه وروسته د سلمی نکاح له بکر سره وشو، په څه وجه بکر سلمی ته دری طلاقه ورکړل، اوس زید له سلمی سره دوباره نکاح کول غواړي، ایا دوباره نکاح ورسره کولې شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): دا چې زید پخپله یا د خلکو په وینا داسې لیکلی دي چې زه کله هم له سلمی سره نکاح وکړم نو هغه پر ما په دریو طلاقو طلاقه ده او پر هغه یې خپل دستخط هم کړی دی نو اوس چې کله هم ورسره نکاح وکړي نو هغه طلاقه ده. په هدایه کې دي:

ففی هذه الالفاظ اذا وجد الشرط انحلت و انتهت الیمین ...... (الا فی کلمة کلما ..... الخ (ص ۳٦٦ باب الایمان فی الطلاق) فقط والله اعلم بالصواب.

له معاهدی نه په مخالفت کولو باندې د طلاق قسم یې خوړلی دی، نو کوم یو طلاق واقع کیږي؟

(۳۸۵_ سوال): په یوه مدرسه کی مدرسینو په یو اتفاق سره د مدرسی د کمیټی نـه پـه تنخواه کې د اضافی کولو درخواست ورکړ، خو د کمیټی ارکانو د هغوی په درخواسـت توجه ونکړه. مدرسینو پخپلو کې معاهده وکړه چې که چیرته کمیټه د کوم مدرس د لری کولو یا په تنخواه کې د اضافه کولو غوښتنه قبوله نکړه نـو هـیڅ یـو بـه مدرسـی تـه نـه راځي، هر یو مدرس چې له دی معاهدی نه مخالفت وکـړي پـر هغـه دی ښځـه طلاقـه وي. په دی معاهده باندې ټول دستخط وکړ، اوس که چیرته کوم مدرس لدینه مخالفت وکړي نو د هغه پر ښځه څومره طلاقه او کوم یو طلاق واقع کیږي؟ بینوا توجروا.

(ځواب): مذکوره واقعه ډیر د افسوس نه ډکه ده، له علمـاو څخـه دا قسـم یـو حرکـت صادریدل ډیر د غندلو او افسوسناک دی. حقه خبره خـو دا ده چـې علمـا بایـد دینـی خدمت خالص د الله رضاء لپاره وکړي، د حالاتو په اعتبار سره فقهاء رحمهـم الله علـیهم د اجرت اخستل جائز کړي دي، خو دا بایـد مقصـود ونـه ګرځـول شـي بلکـی مقصـود یواځې د الله رضاء وي. که چیرته د تنخواه د اخستلو ضرورت مخې تـه راشـي نـو هغـه دی دینی عوض په توګه وانخستل شي، اکابرو علماو به صرف د ضرورت پـه وخـت کـې تنخواه اخستله او ویل به یې چې الله دی وکـړي پـه دی بانـدې مونـږ ونـه نیسـي. الله تعالی دی د دین علماو ته صحیح پوهه په نصیب کړي. آمین.

د کوم مدرس چې د کور ضروریات ډیر وي او تنخواه یې نه پوره کیـږي نـو هغـه دی د مدرسی منتظمین په صحیح ډول پـوه کـړي، د مدرسـینو د ښځـو څـه ګنـاه ده چـې د تنخواه د زیاتولو لپاره د طلاق قسم وخوري، دا حرکت ډیر غلط او د غندلو وړ دی. بـلا وجه ښځې ته طلاق ورکول لوی ظلـم او کـبیره ګنـاه ده، الله تعـالی وربانـدې خفـه او شیطان پری خوشالیږي. په ټولو مباحاتو کې له ټولو نه زیات مبغـوض طـلاق دی، علمـاء باید له داسې حرکت نه لاس په سر شي. همدغه راز د مدرسی مسئولینو ته هم لازم دی چې هغوی د مدرسینو علمی صلاحیت، مرتبه، محنت او د ضـروریاتو پـوره پـوره خیـال وساتي او ښه تنخواه دی ورته مقرر کړي. له هغوی سره د نورو ملازمانو پـه شـان سـلوک

ونه کړي. د هغوی د علمي مرتبې خيال وساتي، داسې دې نه کوي چې د هغوی خبرو ته بالکل ونه کړي. له مدرسينو سره داسې سلوک کول چې هغوی دا قسم معاهدې کولو ته اړشي، د مدرسی منتظيمونو لپاره هم د شرم خبره ده، خصوصاً په هغه وخت کې چې ورسره پيسې وي. که پيسې ورسره نه وي نو د پيدا کولو کوشش دې وکړي او که ضرورت وي نو ځانده دې وکړي. غرض دا چې مذکوره واقعه د مدرسی مدرسينو اوکميټي لپاره د شرم او افسوس خبره ده.

په مذکوره صورت کې چې مدرسينو د مجبورۍ له کبله داسې يو غلط حرکت کړی دی نو يو معامله فهم شخص دی د مدرسې د منتظمينو او مدرسينو ترمنځ د سولې کولو کوشش وکړي ترڅو د مدرسينو پر ښځو باندې طلاق واقع نشي، که کومه روغه جوړه ونشي نو ځرنګه چې په معاهده کې صرف دا ليکل شوي دي چې د طلاق قسم خورو، له طلاق سره عدد نه دی ليکل شوي،لهذا که کوم مدرس له معاهدی نه مخالفت کوي خو د هغې پر ښځې صرف يو رجعی طلاق واقع کيږي او آينده لپاره صرف دوه طلاقه ورسره پاتی کيږي. له طلاق نه د بچ کيدو يو صورت دا دی چې ټول مدرسين استعفی ځانې ورکړي. فقط والله اعلم بالصواب.

د دريو شرطونو په موندلو سره درې طلاقه واقع کيږي:

(٣٨٦_ سوال): يو سړي خپلې ښځې ته درې جملې وويل: (١): که چيرته تا له فلان شخص سره زما له اجازې نه پرته خبرې اترې وکړې يا دې ورسره څه قسم اړيکی وساتلې نو ته طلاقه يې. (٢): که چيرته ته زما له اجازې نه بغير فلانکی ځای ته لاړې نو ته طلاقه يې. (٣): که چيرته تا خپلې خور ته زما له اجازينه پرته خط وليکله نو ته طلاقه يې.

ښځې د دغې درې واړو خبرو هيڅ پروا ونکړه او د خاوند له اجازينه پرته درې واړه کارونه يې په يوه ورځ وکړل. نو اوس د هغه څه حکم دی؟

ايا پر ښځه طلاق واقع کيږي، او که واقع کيږي نو کوم يو طلاق؟ بينوا توجروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کې خاوند په دريو مختلفو کارونو باندې يو يو طلاق معلق کړی دی، نو د هر يو شرط په تحقق باندې يو يو رجعی طلاق واقع کيږي، او د سوال په مطابق ښځې په يوه ورځ کې درې واړه کارونه کړي دي،لهذا په مذکوره صورت کې د درې واړه شرطونو د تحقق به وجه پر ښځې درې طلاقه واقع شوي دي او ښځه مغلظ طلاقه شويده او پر خپل خاوند حرامه ده. په درمختار کې دي:

(و تنحل) اليمين (بعد) وجود (الشرط مطلقاً) لكن ان وجد فى الملك طلقت عتق و الا لا (قوله لكن ان وجد فى الملك طلقت) اطلق الملك فشمل ما اذا وجد فى العدة (در مختار و شامى ص ٦٩٠ ج ٢ باب التعليق) فقط والله اعلم بالصواب.

زما کورته مه رازه، که راغلی نو پوه شه چې طلاقه به شې، د دغې جملې حکم او د رجوع طریقه.

(۳۸۷_ سوال): د ښځې او خاوند ترمنځ جګړه وشوه، خاوند ښځې ته وویل ته خپل مور پلار کره لاړه شه او زما کورته مه رازه، که واپس راغلی نو پوه شه چې ته طلاقیږې. ښځه یې خپل مور پلار کره لاړه، څو ورځې هغوی کره وه او بیا یې خپل خاوند کره راوست. خاوند یې غواړي چې خپله ښځه خان سره په کورکې وساتي خو وایی چې ما خپلې ښځې ته پورتنی الفاظ ویلی دي. لهذا تحقیق پکار دی چې په دی سره طلاق خو نه واقع کیږي؟ هلک دا هم وایی چې کوم وخت ما دا الفاظ ویل نو زما نیت د طلاق نه و، بلکې زما مقصد د خپلې ښځې ویرول و. د دغو الفاظو په وخت کې نه د طلاق بحث شوې و او نه مطالبه، ښځه هم همداسې وایی چې زه په هغه وخت بالکل غلې وم، نو د مذکوره صورت څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب): په مذکوره صورت کې صرف یو رجعی طلاق واقع کیږي، په عدت کې دننه (د ښځې خوښه وي یا نه) خاوند ته د رجوع کولو حق حاصل دی. که رجوع وکړي نو ښځه د هغه په نکاح کې راځي. او که خاوند په عدت کې دننه رجوع ونه کړي او عدت یې تیر شي نو ښځه یې بائنه طلاقه ده، لدینه وروسته د دواړو په خوښه تجدید نکاح کیدلې شي، لیکن آینده دی خیال وساتي چې خاوند صرف د دوه طلاق حق لري.

که خاوند یې رجوع کول غواړي نو د دی ښه طریقه دا ده چې دری څلورو کسانو په وړاندې داسې ووایی: ما خپلې ښځې ته رجوع وکړه او پخپل نکاح کې مې راوست. یا دی خپلې ښځې ته ووایی چې زه تاته رجوع کوم تا نه پریږدم، نو په دی سره رجعت صحیح کیږي او ښځه د دی په نکاح کې پاتی کیږي. او د رجعت یوه طریقه دا ده چې په ژبه دی څه نه وایی لیکن ورسره دی صحبت وکړي یا دی ورسره بوس و کنار وکړي نو په دی سره هم رجوع یې صحیح کیږي. په هدایه اولین کې دي:

و اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجيعة او تطليقتين فله يراجعها فى عدتها رضيت بذلك او لم ترض . لقوله تعالى فامسكوهن بمعروف من غير فصل ولا بد من قيام العدة لان الرجعة استدامة الملك الا ترى انه سمى امساكاً وهو الا بقاءً و انما يتحقق لاستدامه فى العدد لانه لا ملك بعد انقضائها والرجعة ان يقول راجعتك او راجعت امراتى و هذا صريح فى الرجعة ولا خلاف بين الائمه قال اويطأها او يقبلها او يلمسها بشهوة او ينظر الى فوجها بشهوة و هذا عندنا . الى قوله . و يستحب ان يشهد على الرجعة شاهدين فان لم يشهد صحت الرجعة (هدايه اولين ج ٢ ص ٣٧٤ — ٣٧٥ باب الرجعه) فقط والله اعلم بالصواب.

په شرطيه طلاق كې رجعى طلاق واقع كيږي او كه بائن؟

(٣٨٨_ سوال): كه چيرته طلاق له كوم شرط سره معلق كړى شي، مثلاً داسې يې وويل: كه تا له فلانكې سړى سره خبرې وكړى نو ته طلاقه يې. كه ښځه يې له هغه سره خبرې وكړي نو كوم يو طلاق ورباندې واقع كيږي؟ رجعى طلاق او كه بائن طلاق؟. خينې علماء وايى چې په شرطيه طلاق كې بائنه طلاق واقع كيږي. بينوا توجروا.

(ځواب): كه تعليق بالشرط كې صريح الفاظ ويلى وي لكه چې په مسئوله صورت كې، نو د شرط د تحقق نه وروسته رجعى طلاق واقع كيږي نه بائنه. البته له كنايى الفاظو څخه كوم لفظ د طلاق په نيت ووايى نو په هغه وخت كې بائنه طلاق واقع كيږي، لكه چې داسې ووايى: كه ته له فلان سړى سره خبرې وكړې نو ته فارغخطى، يا داسې ووايى ته پر ما حرام يې، يا داسې ووايى چې زما او ستا ترمنځ هيڅ واسطه نشته، يا ورته ووايى تاته بائن طلاق. هودغه راز كه طلاق معلق كړي نو يو طلاق واقع كيږي او كه دوه معلق كړي نو دوه طلاقه او كه درى معلق كړي نو درى واقع كيږي. په فتاواى دارالعلوم كې دي:

(سوال ٧٠٦): په تعليق طلاق كې د شرط پوره كيدو په صورت كې بائن طلاق واقع كيږي او كه نه؟

(ځواب): كه چيرته صريح طلاق د معلق وي نو د شرط له تحقق نه وروسته رجعى طلاق واقع كيږي، او كه بائن يې معلق كړى وي نو بائن طلاق واقع كيږي. په حاشيه كې دي:

(۳) و اذا اضافه الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول لا مراته ان دخلت الدار فانت طالق (هدایه باب الایمان فی الطلاق ص ٣٦٤ ج ٢).

الطلاق علی ضربین صریح و کنایة فالصریح قوله انت طالق و مطلقة و طلقتك فهذا یقع به الطلاق الرجعی ..... الخ و اذا وصف الطلاق بضرب من الزیادة والشدة کان بائناً مثل ان یقول انت طالق بائن (هدایه باب ایقاع الطلاق ج ۲ ص ۳۳۸ و ج ۲ ص ۳۳۹) (فتاوی دارالعلوم مدلل و مکمل ج ۱۰ ص ۹۱) فقط واللہ اعلم بالصواب.

طلاق بالکتابت

مکره (په زوره) لیکل شوی طلاق صحیح دی او که نه؟

(۳۸۹ـ سوال): ښځه له خاوند سره اوسیدل نه غواړی او سړی ورته طلاق نه ورکوي، په داسې حالت کې د ښځې خپلوانو سړی یوازې راګیر کړ او په زوره ورباندې طلاق ولیکله، سړی د ځان د خطرې په وجه طلاق نامه ولیکله خو په ژبه یې طلاق لفظ نه دی ویلی. ایا په دی صورت کې طلاق ورباندې واقع شو او که نه؟

(ځواب): دا چې په زور او جبر سره ورباندې طلاق نامه لیکلی ده او په ژبه لفظ یې نه دی ادا کړې، نو طلاق یې نه ده واقع شوې.

وفی البحر ان المراد الا کراه علی التلفظ بالطلاق . فلو اکره ان یکتب طلاق امرأتـه فکتب لا تطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا (مطلب فی الاکراه علی التوکیل بالطلاق ردالمختار علی درالمختار ص ۵۷۹ ج ۱ مطلب فی المسائل التی تصح مع الاکراه) فقط واللہ اعلم بالصواب.

ښځې ته د طلاق اطلاع یا د ښځې منظوري:

(۳۹۰ سوال) یو سړي خپلې ښځې ته د راجسټر په ذریعه په ډاک کې طلاق نامه ولیږلو. لیکن ښځې هغه وانخست او واپس یې کړ، ښځې ته د طلاق هیڅ خبر نه دی رسیدلی. ایا دا طلاق شرعاً صحیح دی او که نه؟

(جواب) کله چې ترته په طلاق کې څه شرط یې نه وي لګولی نو هر قسم طلاق چې ورکړې نو واقع کیږي. د ښځې خبریدل یا د خط منظورول ضروري نه دی. څنګه چې خاوند یې طلاق نامه ولیکی نو طلاق واقع کیږی. البته دا یې لیکلې وي چې کله دا طلاق نامه زما ښځې ته ورسیږي نو هله زما ښځه طلاقه ده، نو په دی صورت کې د طلاق نامې د ترلاسه کیدو په صورت کې طلاق واقع کیږي.[1]

د ډاک په ذریعه طلاق واقع کیږي او که نه؟

(۳۹۱ـ سوال): ما خپلې ښځې ته د هغې د بد اخلاقۍ په وجه یو بائن طلاق د خط له لارې ورکړه او خط مې ورته واستاو، لیکن هغه طلاق نامه وانخستله او واپس یې کړه. لدینه وروسته مې د هغه پرځای د قاضی صاحب په نامه طلاق نامه ولیږله، هغه یې هم واپس کړې ده. د مهر او عدت حق مې له قاضی سره جمع کړی دی، اوس پوښتنه دا ده چې طلاق واقع شوې دی او که نه؟ د ښځې مور او پلار او نور خپلوان یې وایی چې تحریری طلاق نه واقع کیږي او ترڅو پورې چې مهر او د ښځې خرچه هغې ته ونه رسیږي طلاق نه واقع کیږي. ایا د هغوی دا خبره صحیح ده او که نه؟

(جواب): تحریري طلاق د ژبی طلاق په څیر دی، یعنی کوم حکم چې په ژبی سره د ویلو دی همغه حکم د لیکل شوی طلاق هم دی، البته په زوره د لیکلو په صورت کې ترڅو پورې چې په ژبه د طلاق لفظ ونه وایی طلاق نه واقع کیږي. لهذا تا چې پخپله خوښه د عقل او هوش په حالت کې ښځې ته طلاق نامه لیکلی ده، نو طلاق واقع شوی دی. ښځې ته د طلاق نامې رسیدل او هغې ته د طلاق خبر رسیدل شرط نه دی. په شامي کې دي:

---

[1] ((فروع کتب الطلاق ان مستبينا على نحو لوح وقع ان نوى و قيل مطلقاً ..... ولو كتب على وجه الرساله والخطاب كان يكتب يا فلانه اذا اتاك كتابي هذا فانت طالق طلقت لوصول الكتاب جوهره (در مختار مع الشامي مطلب في الطلاق بالكتابه).

ولو کتب اما بعد فانت طالق فلما کتب هذا یقع الطلاق و تلزمها العدة من وقت الکتابة) ج ۲ ص ۵۸۹ حوالہ گذشته از مرتب).

خو که چیرته تا په طلاق نامه کې لیکلي وي چې کله طلاق نامه تاته ورسید نو همغه وخت نه طلاقه یې. نو کله چې طلاق نامه ورسیږي له همغه وخت نه طلاقیږي او که ونه رسیږي نو نه واقع کیږي. په شامي کې دي:

و ان علق طلاقها بمجیئ الکتاب بان کتب اذا جاءك کتابي فانت طالق فجاءها الکتب فقراه و لم تقره یقع الطلاق) ج ۲ ص ۵۸۹ ایضاً) فقط والله اعلم بالصواب.

د طلاق د واقع کیدو لپاره په طلاق نامه کې دستخط کول شرط دی.

(۳۹۲_ سوال): که چیرته په طلاق نامه کې د خاوند او گواهانو دستخطونه نه وي نو طلاق واقع کیږي او که نه؟ خاوند په یقین سره وایی چې طلاق نامه مې په بل چا باندې لیکلې ده.

(ځواب): کله چې طلاق نامه یې د طلاق په نیت لیکلې ده نو څنگه او څومره طلاقه چې لیکلې دي همغه طلاق واقع کیږي، که دستخط ورباندې وکړي یا نه.[1]

که په خط کې کنایي الفاظ ولیکي نو د طلاق واقع کیدو څه حکم دی؟

(۳۹۳_ سوال): زما واده له یو تن سره شوی دی، زما څلور زامن دي، د جگړې له کبله خپل پلار کره لاړمه ، هغه ماته دری خطونه ولیږل، زه تا ولې را وغواړم که ته مې راوغوښتلی نو زه به ستا زوی یم. په بل خط کې لیکلي دي: لدینه دا ښه ده چې تاته طلاق درکړم په دریم خط کې لیکلي دي چې زه تا له ځان سره ساتونکی نه یم، ته له بل چا سره واده وکړه سر د نن نه درته طلاق درکوم ته زما نه یې لدینه طلاق درکول درته ښه دي. ته زما لپاره لائقه نه یې.

---

[1] - ((ولو استکتب من اخر کتابا او قراه علی الزوج فاخذه الزوج و ختمه و عنونه و بعث به الیها فاتاها وقع ان اقر الزوج انه کتابه (حواله بالا).

د هغه درې ږاړه خطونه چې پخپل لاس لیکلي دي له ما سره موجود دي. ایا په دې خطونو طلاق واقع شوی دی او که نه؟

(خواب): که خاوند دی د دغو خطونو اعتراف وکړي نو طلاق واقع کیږي او ښځه یې له نکاح نه خارجیږي، له عدت نه وروسته بل چا سره واده کولې شي.[1]

ایا په طلق، طلق، طلق لیکلو سره طلاق واقع کیږي او که نه؟

(۳۹۴_ سوال): یو سړي د شراب د نشی په حالت کې له خپلې ښځې سره د جنګ په وخت کې طلق، طلق، طلق، الفاظ په یو کاغذ باندې ولیکل او ښځې ته یې ورکړ، په هغه کې خپل دستخط هم کړی دی، په دغه کاغذ کې د خپلې ښځې نوم یې نه دی لیکلې. ایا په داسې صورت کې طلاق واقع کیږي او که نه؟ که واقع شوی وي نو څو طلاقه؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ.

(ځواب): د نشې په حالت کې په طلاق ورکولو سره، طلاق واقع کیږي. (درمختار ج ۲ ص ۵۷۹_۵۸۰.) همدغه راز د طلاق د واقع کیدو لپاره د ښځې په طرف صریح اضافت کول هم شرط نه دی، معنوی اضافت هم ورته کافي دی. (شامي ص ۵۹۰_۵۹۱ ج ۲ باب الصریح.) مصحفة او محرفة الفاظو سره هم طلاق واقع کیږي.

(و یقع بها) ای بهذه الالفاظ وما بمعنا ها من الصریح و یدخل نحوه طلاع و تلاع و طلاک و تلاک او طلاق (در مختار مع شامی ص ۵۹۱ ج ۲ باب الصریح).

په مذکوره صورت کې د خاوند له ښځې سره جګړه شوې وه او په همغه وخت کې ورته دا الفاظ لیکلي دي، دلالت حال او قرائن معنوي اضافت دی. لهذا پورتنی حواله جاتو په نظر کې نیولو سره د هغه پر ښځې درې طلاقه واقع شوي دي. ښځه وربانـدې مغلظ طلاقه او حرامه ده، له شرعی حلالې نه پرته ورته نشی حلالیدلي. فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ((د خاوند په دی الفاظو سره چې زه له خان سره ساتونکی نه یم ته بله واده وکړه، ته زما لائقه نه یې. په دغو الفاظو سره یو باثن طلاق واقع کیږي. (ږ عالمگیري الفصل الخامس فی الکنایات ج ۱ ص ۳۷۵.) د دغو الفاظو په لیکلو سره چې له همدا نن نه طلاق لیکم یو رجعی طلاق.واقع کیږي، د دواړو په یو ځای کیدو سره دوه طلاقه شول.))

و بابتعی الا زواج تقع واحدة بائنه (فتاوی عالمگیری الفصل الخامس فی الکنایات ج ۱ ص ۳۷۵).

طلاق حسن ووایی، مګر طلاق، طلاق، طلاق ولیکـي نـو د دی څه حکم دی؟

(۳۹۵ـ سوال): یو سړی دغه لاندینی طلاق نامه لیکلی او خپلې ښځې ته یې لیږلې ده:

ما له خپلې ښځې د ګوزاری کولو ډیر کوشش وکړ لیکن کامیاب نه شوم. زما ښځه لـه مـا سره محبت نه کوي بلکې ماته تکلیف او غم راکوي. د پوهولو با وجود له خپل لـه دی غلط حرکت نه نه وروسته کیږي، له ډیر غور او فکر نه وروسته د دغو وجوهاتو له کبلـه زه خپلې ښځې ته د حسن طلاق په مطابق لومړی طـلاق ورکـوم (۱) طـلاق (۲) طـلاق (۳) طلاق. دستخط.

د پورتنی لیکل شوی طلاق نامې په متعلق څه حکم دی، خاوند غواړي چې خپل ښځـه له خان سره کورته بوځي. ایا دواړه یو ځای اوسیدلی شي او که نه؟ که طلاق یـې واقـع شوی وي نو عدت یې کله پوره کیږي، ښځه حامله ده. فقط بینوا توجروا.

(خواب): خاوند یې په طلاق نامه کې د حسن طـلاق لفـظ استعمال مـړی دی مګـر د حسن طلاق له طریق نه خبر نه دی، د حسن طلاق طریقه دا ده چې مدخول بها تـه پـه داسې طهر کې یو طلاق ورکړي چې په هغه کې ورسره صحبت نه وي کړې. بیا په دویم طهر کې دویم طلاق او دریم طهر کې دریم طلاق ورکړي. په هدایه اولین کې دي:

والحسن هو الطالق السنة وهو ان يطلق المدخول بها ثلثا في ثلثة اطهار ..... الى قوله .... و لنا قوله عليه السلام في حديث ابن عمر رضى الله تعالى عنهما السـنة ان يستقبل الطهر استقبالاً فيطلقها لكل قرء تطليقة ...... الخ (هدايه اولـين ص ۳۳۵ كتاب الطلاق باب طلاق السنة).

که چیرته هغه په داسې طهر کې چې صحبت یې ورسره نـه وي کـړې صـرف دا جملـه لیکلی وای چې د حسن طلاق مطابق لومړی طلاق ورکوم، او په آینـده کـې پـه هـر یـو طهر کې یوه یوه طلاق درکړی وای نو د هغه طلاق به حسن طلاق و. لیکن هغه د دغـې جملې له لیکلونه وروسته په نمبر لګولو سره طلاق، طلاق، طلاق لیکلی دي، نو دا حسـن طلاق نه دی بلکه بدعی طلاق دی.

اوالصریح یلحق الصریح په حساب سره دری طلاقه واقع شوي دي او خلورم طلاق يې لغوه ده لهذا په مذکوره صورت کې ښځه مغلظ طلاق شوې او پر خپل خاوند حرامه شوی ده. اوس له شرعی حلالې نه پرته ورته نشي حلاله کیدلي.

و طلاق البدعة ان یطلقها بکلمة واحدة او ثلثا فی طهر واحد فاذا فعل ذلك وقع الطلاق و کان عاصیاً (هدایه اولین ص ۳۳۵ کتاب الطلاق باب طلاق السنة) دا چې ښځه حامله ده نو د ماشوم د پیدا کیدونه وروسته د هغې عدت پوره کیږي. په قرآن کریم کې دي:

وأُولَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ.

په عالمگیری کې دي:

عده الحامل ان تضع حملها کذا فی. (فتاوای عالمگیري ص ۱۵۸ ج ۲ باب العده.)

ته چې هر چیرته وغواړي ګرځیدلی شي. په دی جملې سره کوم یو طلاق واقع کیږي؟

(۳۹٦_ سوال): زما دوست خپلې ښځې ته د فارغخطی طلاق نامه لیکلی ده او په هغې کې داسې ویلی دي: ته چې چیرته غواړی ګرځیدلی شي. ته زما خور په شان يې، ته همدا نن نه له مانه علیحده يې څه چې کول غواړی کولې شي. طلاق، طلاق، طلاق او دا يې د نشې په حالت کې لیکلی دي خو اوس افسوس کوي او وایي چې خپله ښځه بیرته خپل کورته راوړل غواړي، په دی مسئله کې شرعی حکم څه دی؟

(ځواب): د نشې په حالت کې چې کوم طلاق ورکړی دی، هغه واقع شوی ده. په هدایه کې دي: (طلاق السکران واقع)لهذا په مسئوله صورت کې دری طلاقه واقع شوي دي او ښځه له نکاح نه وتلې او پر هغه حرامه ده. والله اعلم بالصواب.

طلاق ثلاثه (درى طلاقه.)

له نيت نه بغير طلاق، طلاق، طلاق ويلو سره طلاق واقع كيږي.

(۳۷۹_ سوال): څه وايي د دين علماء او د متين شرع مفتيان په لاندېنۍ مسئله كې چې يو سړى خپل ښځې ته د هغې د ويرولو په خاطر وويل: لاړه شه او د طلاق له نيت پرته يې له ژبې نه طلاق، طلاق، طلاق وويل، حال دا چې نيت يې د طلاق نه و. نو طلاق يې واقع شو او كه نه؟ كه واقع شوې نو رجعي واقع شوې او كه بائن او څومره طلاقه واقع شوي دي؟ سړى د رجوع حق شته او كه نه؟! او كه حق ورته حاصل نه دى نو ايا له حلالى نه بغير په تجديد نكاح كولو سره خپله ښځه بيرته خپل كورته راوستلى شي او كه نه؟ مهرباني وكړئ د شرعي حكم په رڼا كې ځواب راكړئ.

(ځواب): اللهمه هدايه الحق والصواب: كه څه هم خاوند د ښځې د ويرولو لپاره دا ويلي دي چې لاړه شه، كه چيرته لدينه مخكې د طلاق بحث او مباحثه د دواړو ترمنځ روانه وه او يا يې په غصه كې وويل نو يو بائن طلاق ورباندې واقع كيږي. په عدت كې دننه وي يا باهر د نكاح ضرورت دى خو هله چې ښځه رضا وي، او دا د كنايه لفظ دى. بائن طلاق واقع كيږي نه رجعي. او د طلاق، طلاق، طلاق په لفظ سره طلاق نه واقع كيږي، ځكه چې په طلاق كې اضافت ضروري دى او له اضافت نه پرته طلاق نه واقع كيږي او دلته اضافت نشته.

كوم حكم چې ما ليكلى دى دا د سوال په ځواب كې دى، كه په نفس امر كې دا واقعه نه وي نو دا حكم هم نه دى چې څه واقعه وي همغه به حكم وي. فكذا فى كتب الفقه. والله اعلم بالصواب. (كتبه مظفر احمد قادري _ مفتى جامعه مظفريه بركات العلوم دانا گنج _ ضلع بديوان يوپى.) تاريخ ۲۳ ذى الحجه ۱۳۹۱ مطابق ۹ جنوري ۱۹۷۲ع.)

الجواب حق و صواب شفيع احمد عفى عنه، خادم جامعه مظفريه بركات العلوم.

جواب): لاړ شه لفظ د كناياتو څخه دى، او په دى كې نيت شرط دى لهذا كه د ښځې د ويرولو لپارد لاړشه ويلي وي او د طلاق نيت يې نه و نو طلاق نه دى واقع شوى.

(والكنايات ثلاث ما يحتمل الردا وما يصلح للسب او لا ولا) فنحوا خرجي و اذهبي و

ای من هذا لمکان لینقطع الشر فیکون ردا لانه طلقها فیکون جواباً رحمتی (شامی ص ۶۳۷ ج ۲ باب الکنایات) (امداد الفتاوی ص ۳۷۷ ج ۲).

لیکن لدینه وروسته دری کرته طلاق ویل شوی دی نو ځکه د دریو طلاقو د واقع کیدو حکم ورکولی شي، پاتی شو دا چې هغه د طلاق ورکولو نیت نه درلـود. نـو دا حقیقت دی چې د طلاق لفظ د طلاق ورکولو لپاره صریح دی د نیت محتاج نه دی.

ولا یفتقر الی نیه لانه صریح فیه لغلبه الاستعمال (هدایه ص ۳۳۹ ج ۲ باب ایقاع الطلاق)

البته د طلاق د واقع کیدو لپاره اضافت ضروری دی، یعنی نوم اخستل یا اشاره کـول او یا ښځې ته په خطاب سره طلاق د ښځې په طرف منسوبول. مثلا د ښځې نوم هنـده ده، د هغې نوم واخلی او ووایی چې هندی ته طلاق، یا دهغې په طرف اشاره وکړي او دا ووایی چې دا طلاقه ده، یا هغې ته په خطاب کـې ووایی تـه طلاقـه یـې، لـیکن صریح اضافت لازم نه دی، معنوی اضافت چې له قرائن مذاکره او دلالت حـال څخـه ثابت وي همغه کافی دی!

(قوله لترکه الاضافه ای المعنویة فانها الشرط والخطاب من الاضافه المعنویة و کذا الاشارة ..... الخ ولا یلزم کون الاضافة صریحة فی کلامه (الی) و ظاهره انه لا یصدق فی انه لم یرد امراته للعرف ! (شامی ص ۵۹۰ – ۵۹۱ ج ۲ ایضاً) والله اعلم بالصواب.

په یو ځای د دری طلاق ورکولو څه حکم دی؟

(۳۹۸_ سوال): د مسلمان خاوند په نوم مې یو کتاب ولوست په هغه کې دا لیکل شوي دي چې په حنفی مذهب کې دری طلاقه یو ځای په یـوه مجلـس کـې ورکـول حـرام دی؟

(خواب): هو دا صحیح خبره ده چې په حنفی مذهب کې دری طلاقه پـه یـو مجلـس کې یو ځای ورکول حرام او بدعت دی. په حدیث کې دي:

اخبر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم عن رجل طلق امراته ثلث تطلیقات جمیعاً فقام غضبان ثم قال ایلعب بکتاب الله عزوجل و انا بین اظهرکم حتی قام واجل فقال

یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم الا اقتله (نسائی شریف ج ۲ ص ۳٦ کتاب الطلاق الثلث المجموعه وما فیه من التغلیظ).

یعنی محمد صلی الله علیه وسلم ته دا خبر ورسید چې یو سړي خپلې ښځې ته درې طلاقه یو ځای ورکړی دي. محمد صلی الله علیه وسلم ډیر غصه شو او ودرید. بیا یې وفرمایل: ایا له کتاب الله سره لوبه کولي شي؟ حال دا چې زه اوس ستاسو په منځ کې موجود یم، په دی وخت یو اصحابي پاځید او ویې ویل: ایا زه هغه قتل نه کړم؟ (نسائی شریف)

د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه په روایت شوي حدیث کې دي:

عن ابن عمر قلت یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارایت لو طلقتها ثلاثا قال اذاً قد عصیت ربك وبانت منك امرأتك (زجاجة المصابیح ج ۲ ص ٤٧٠ بباب الخلع والطلاق.

ابن عمر رضی الله عنهما فرمایي چې ما له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ایا زه خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړم ستا په دی باره کې څه رای ده؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیا خو تا د خپل رب نافرماني وکړه او تا ښځه درباندې بائنه طلاق کیږي. (زجاجت المصابح.)

له دغو احادیثو نه ثابت شو چې یو ځای درې طلاقه ورکول له قران سره د مذاق کولو په برابر دی د الله تعالی نافرمانی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خفګان سبب دی، لهذا دا ناجائز او د ګناه کار دی، خو طلاق واقع کیږي. (بحرالرائق ج ۳ ص ۹۳۸ـ هدایه ج ۲ ص ۳۵۵ ـ درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۵۷٦.)[1]

د امام مالک په نزد هم ټول درې طلاقه یو ځای ورکول ناجائز دی. خو امام شافعی د جواز قائل دی، لیکن خلاف اولی دی. فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] ـ ((والمراد بها هنا الحرمة لا لهم صرحوا بعصیانه و مراده بهذا القسم ما لیس حسنا ولا احسن (کتاب الطلاق تحت قوله و ثلاثا فی طهر ..... الخ).

په دریو طلاقو سره د حرمت حکم ثابتیږي.

(۳۹۹) سوال: ... الدین ویوز، ۱۹ اکتوبر ۱۹۶۰ کنه کې دپرپیتوریا جناب اسماعیل اعظم عابد ساسی پر فتوی باندې تنقید کړي دی. فتوی او تنقید دواړه ستا په خدمت کې پیش کوم، هیله ده چې خلص خواب یې ولیکئ.

تبصره او تنقید:

زمونږ په خیر د جاهلو عوامو په فکر کې دا خبره قانونی نه ده چې په کوم یو کار کې د الله نافرمانی کیږي په کوم یو کې د الله له کتاب سره مذاق کولې شئ. په کوم یو کې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ناراضګی موندل کیږي، او کوم یو کار ته چې پخپله امام ابو حنیفه حرام ویلی دي، مګر بیا هم هغه جائز او طلاق واقع کیږي. دا څنګه کیدای شي؟ په قران کریم کې شراب څکل او سود اخستل حرام دی، لیکن تر اوسه پورې یو عالم هم دا نه دي ویلی چې د دی با وجود چې حرام او د الله تعالی نافرمانی دی مګر بیا هم جائز دی، نو بیا د طلاق په باره کې د جواز حکم ولی صادر وي؟

(خواب): بې له شکه چې په حنفی مذهب کې یو ځای دری طلاقه په یو مجلس کې ورکول بدعت او حرام دی. د څلورو امامانو په دی خبره اتفاق دی چې که دری طلاقه یو ځای ورکړی شي نو دری واړه واقع کیږي او ښځه ورباندې مغلظه طلاقیږي. په شامي کې دي:

و ذهب جمهور الصحابة والتابعين و من بعدهم من الائمة المسلمين الى انه يقع ثلثاً (ج ۱ ص ۵۷۶ كتاب الطلاق).

(۱) په حدیث کې دي چې حضرت ابن عمر رضی الله عنهما له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې که زه دری طلاقه ورکړم نو رجوع ورته جائز دی او که نه؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل نه رجوع ورته نشی کولی. ښځه له تانه جدا کیږي او ته د خپل رب نافرمان ګرځي. تفسیر مظهري ج ۱ ص ۳۰۱ تحت قوله الطلاق مرتان ... الخ.)

(۲): عن عبادة بن الصامت ان اباه طلق امرأة له الف تطليقه فانطلق عبادة رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فقال بانت بثلث فى معصية الله.(شرح النقايه ج ۲ص ۲۰).

د عباده بن صامت پلار خپلي ښځي ته زر طلاقه ورکړل، حضرت عباده له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، هغه صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل له الله نه نا فرمانی هم شوې خو ورسره ورسره دری طلاقه هم واقع شوي دي. حواله ایضا (زجاجه المصابیح ج ۲ ص ۴۷۰ کتاب الطلاق والخلع.)

(۳): عن مجاهد قال كنت عند ابن عباس فجاء رجل فقال انه طلق امرأته ثلاثا قال فسكت حتى ظننت انه رادها اليه ثم قال ينطلق احدكم فيركب الحموقة ثم يقول يا ابن عباس يا ابن عباس و ان الله قال ومن يتق الله يجعل له مخرجاً و انك لم تتق الله فلا اجد لك مخرجاً عصيت ربك وبانت منك امرأتك ..... الخ (ابو داؤد شريف ج ١ ص ٣٠٦ كتاب الطلاق باب بقية فسخ المراجعة بعد التطليقات الثلث).

(۴): په حدیث کې دي چې یو سړي خپلې ښځي ته سل طلاقه ورکړل، بیا حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته د مسئلې د تپوس لپاره راغی، هغه ورته وویل تا د خپل رب نافرماني کړې دی او له تا نه ستا ښځه جدا شوې ده. (طحاوي شریف باب الرجل یطلق امراته ثلاثاً معاً.)

(۵): په مؤطا امام مالک کې له حضرت ابن عباس او حضرت ابن مسعود رضی الله عنهما څخه هم همداسې یو روایت نقل شوې دی. (ص ۱۹۹ اول کتاب الطلاق.)

دری طلاقه ورباندې واقع کیږي او په دی باندې د اصحابو اجماع ده. (شرح معانی الاثار ج ۲ ص ۳۲ باب الرجل یطلق امراته ثلاثاً معاً.)

(٦): په فتاوای عالمگیري کې دي:

فان فعل وقع الطلاق و كان عاصياً.

یعنی دا طلاق بالاجماع واقع کیږي او طلاق ورکوونکی گنهگاریږي. ((ج ۱ ص ۳۴۹ مطلب الطلاق البدعي ـ فتاوای خیریه ج ۱ ص ۳٦.)

دغه تنقید او تبصره کوونکی شخص چې عالم نه دی، قران، حدیث، فقه، اصول فقه، تفسیر او نورو علومو څخه خبر نه دی او نه یې دي لوستلي نو هغه ته د دی ضرورت نشه چې په داسې نازکو مسائلو کې مداخله وکړي.

حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي د داسې خلکو په باره کې فرمایی: د نن سبا تعلیم یافته خلک دومره متکبر دي چې د انګریزي په لوستلو سره خپل خان د دین محقق هم

نهي، په شرعي احکامو کې رای ورکوي، د مولويانو خبره حو لا څه کوي چې د رسولانو خبرې هم ردوي. (محاسن الاسلام ص ۴۹)
امام غزالي فرمايي:

و انما حق العوام ان يومنوا و يسلموا و يشغلوا بعبادتهم و معايشهم و يتركوا العلم للعلماء فالعامي لوزنی و سرق كان خيراً له من ان يتكلم في العلم فانه من تكلم في الله و في دينه من غير اتقان العلم وقع في الكفر من حيث لا يدرى كمن يركب لجة البحر وهو لا يعرف السباحة (احياء العلوم ج ۳ ص ٣٤ بيان تفصيل مداخل الشيطان الى القلب).

يعنی د عوامو فرض دی چې ايمان او اسلام راوړي او پخپلو عبادتونو او روزګارونو کې مشغول شي، د علم په خبرو کې مداخله ونکړي، دا صرف علماوته پريږدي، جاهل او عامی سړی چې په دين کې خپل فکر چلوي نو دا له زنا او غلا نه هم زيات نقصان ورکوونکی او خطرناک دی،حکه چې کوم يو سړی په دينی علومو کې بصيرت نه لري که چيرته هغه د الله او د هغه په دين کې بحث او مباحثه کوي نو ډير ممکن دی چې داسې رای قائم کړي چې کفر وي او هغه ته دا احساس هم نه وي چې هغه کوم رای ورکوي هغه کفر دی، د داسې سړي داسې مثال دی چې لامبو يې نه وي ياد، خو په سمندر کې ځان غورځوي. (احياء العلوم.)
عام مسلمانانو ته پکار دي چې شرعي حکم معلوم کړي او وربانديې عمل وکړي، په باريکيو کې د غورځيدلو ضرورت نشته. په حديث شريف کې دي چې يو سړی محمد صلی الله عليه وسلم ته عرض وکړ چې تاسې ماته علمي حقائق وښايئ. هغه صلی الله عليه وسلم ترينه څو پوښتنې وکړې: (۱): د الله معرفت حاصل کړ. (۲): تا د الله څومره حقوق ادا کړي دي؟ (۳): تاته د مرګ پته شته. (۴): تا د مرګ لپاره تياری کړی دی؟ په آخر کې محمد صلی الله عليه وسلم وفرمايل: لاړ شه اول بنياد مظبوت کړه او بيا راشه زه به تا له علمي حقائقو نه خبر کړم. (جامع البيان العلم ص ۱۳۳.)
غرض دا چې په علمی خبرو کې مداخلت د عوامو کار نه دی.
تر کومه حده چې د مسئوله صورت تعلق دی نو حقيقت دا دی چې د تنقيد بنياد بالکل غلط دی په فتوه کې د جائز دی لفظ بالکل نشته، ما دری طلاقه ورکولو ته جائز نه دي ويلی، تنقيد کوونکی شخص د جائز لفظ له خپل طرف نه زيات کړی دی‌او په دی سره

د شراب او سود مثال ورکړی دی. دا مثال دلته بی محل او بی موقع دی، ما حسو دری طلاقه یو خای ورکولو ته ناجائز او گناه لیکلی دی، رما الفاظ دا دی
له مذکوره احادیثو نه ثابتیږي چې دری طلاقه یو خای ورکـول لـه قـران کـریم سره د مذاق کولو په برابر دی،همدغه راز د الله او د هغه رسول نافرماني دی.لهذا دا ناجـائز او گناه ده، خو طلاق واقع کیږي. د طلاق واقع کیـدو دلائـل مـي بـره لیکلـي دي. یـو خای دری طلاقه ناجائز او حرام کیدو با وجـود بیـا هـم واقـع کیـږي او پـه دی کـې د تعجب هیڅ خبره نشته، لکه چې د حیض په حالت کې ښځې ته طلاق ورکول شرعاً منـع دی لیکن طلاق واقع کیږي. (حدیث).
(۲): ظهار یعنی ښځه د مور په شان پخپل ځان حرام گرځـول شـرعاً منـع او گنـاه ده. او خیني علماء ورته کبیره گناه وایی، په قران کریم کې ظهار ته ((منكراً من القول و زورا)) ویل شوي دي مگر ظهار کیږي او کفاره وربانديې لازمیږي. (قران کریم).
(۳): د حلالی لپاره شرط ایښودل او نکاح کول ناجائز او د لعنـت موجـب دی، لـیکن د حلالی نکاح صحیح کیږي.
(۴): د حیض په حالت کې وطی حرام دی لیکن حلالی لپاره کافی دی.
(۵): په حرام مال سره حج کول حرام دی، لیکن حج یې کیږي. (اگـر چـې مقبـول نـه دی.)
(٦): له خاوند او محرم نه پرته ښځې لپاره حج ته تلل حرام دی، مگر حج یې کیږي.
(۷): د عدت په حالت کې ښځې ته حج ته تلل جائز نه دی مگر حج یې کیږي.
(۸): مسافر لپاره د دوه رکعته پر خای خلور رکعته لمونځ لوستل ناجائز دی لـیکن لمـونځ یې کیږي. (په دی شرط چې د دویم رکعت قعده کړی وي.) اگر چـې واجـب الاعـاده دی.
(۹): د زمزم په اوبو سره استنجاء کول مکروه دی او د خینـو پـه نـزد حـرام دی، لـیکن استنجاء وربانديې کیږي.
(۱۰): په مسجد کی د جنابت غسل کول حرام دی، لیکن غسل یې کیږي.
(۱۱): د نجاست په حالت کې د قران کریم لیکل حرام دی، لیکن څه چې لیکـل شـوي وي هغه قران دی او تلاوت یې د ثواب موجب او بی حرمتی یې حرام دی.
(۱۲): زنا حرامه ده، مگر په دی سره حرمت مصاهرت ثابتیږي. مقصـد دا چـې د هـر یـو خیز یو تاثیر دی کله چې هغه عمل ته راشي نو هغه خپـل اثـر خامخـا کـوي، عمـل پـه

صحیح توکه شوی وي یا په غلطه طریقه: مثلا عمدا قتل کول ، حرام دی مګر قتل خامخا واقع کیږي

(۱۳) زهر خوړل حرام دی، لیکن بیا هم سړی ورباندې مړ کیږي.

(۱۴) همدغه راز په یو ځای درې طلاقه ورکول حرام دی، لیکن طلاق واقع کیږي او بنځه مغلظ کیږي، چې له حلالې نه پرته خاوند سره نکاح نشي کولی. که بیا هم څوک نه پوهیږي ګناه او قصور د چا ده؟

گر نبیند بروز شپره چشم
چشم آفتاب را چه ګناه

که چیرته شاپیرک د لمر رڼا نشي لیدلی، نو په دې کې د لمر څه ګناه ده؟

که د طلاق په اوریدو کې د ګواهانو ترمنځ اختلاف وي نو څه حکم یې دی؟

(۳۹۹ـ سوال): که یو سړی د دوه ګواهانو په وړاندې داسې ووایي چې ما خپلې ښځې ته د دغو دواړو ګواهانو په مخ کې طلاق ورکړ، طلاق ورکړ، طلاق ورکړ. له ګواهانو نه یو سړي درې طلاقه آوریدلي دي او بل وانه وریدل. نو د دې څه حکم دی؟

(ځواب): درې طلاقه واقع کیږي، د طلاق ورکولو لپاره په دومره اوچت آواز سره ویل کافي دي چې پخپله واوري، دا ضروري نه دی چې ګواهان یې هم واوري.[1]

((تاته درې طلاقه)) او تاته طلاق دی، داسې ویلو سره څومره طلاق واقع کیږي؟

(۴۰۰ـ سوال): د یو سړي په کور کې جګړه وشوه هغه خپلې ښځې ته وویل: تاته درې کرته طلاق بیا یې وویل چې ته طلاقه یې، نو په دې صورت کې مغلظ طلاق واقع کیږي او که نه؟

(ځواب) په مسئوله صورت کې درې طلاقه واقع شوي دي او مغلظ طلاق ده.[2]

---

(۱) ((و ادنى الجهر اسماع غيره و ادنى المخافتة اسماع نفسه و يجرى ذلك المذكور فى كل ما يتعلق بنطق كتسمية على ذبيحة و وجوب سجدة تلاوة و عتاق و طلاق (در مختار مع الشامى فصل فى القراءة ج ۱ ص ۵۳۵)

(۲) ... يعود الى العدد ان يطلقها ثلاثا فى طهر و احد بكلمة واحدة او بكلمات متفرقة ..... الخ (فتاوى عالمگيرى كتاب الطلاق ج ۱ ص ۳۴۹)

که په طلاق کې ښځه او خاوند اختلاف وکړي نو د کوم یو خبره قبوله کړی شي؟

(۴۰۱_ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړ او هغه خپل پلار کره لاړه، دوه کاله وروسته خاوند یې وایی چې ما ورته دوه طلاقه ورکړی دی او ښځه وایی چې درې طلاقه یې راکړي دي، دواړه ګواهان نه لري، د چا خبره دی ومنل شي؟ د دوه کلونو راهیسی خرچه او نفقه هم ورته نه ده ورکړی.

(خواب): دا چې د طلاق دوه کاله شوي دي او عدت یې ختم شوی دی نو ښځه له خاوند نه آزاده شوی ده، اوس دا سړی له ښځې سره د هغې له رضاء پرته واده نشي کولې، د خاوند د وینا په مطابق ښځې ته د حلالې ضرورت نشته، لیکن دا چې ښځه یقیني ده چې ماته یې درې طلاقه راکړي دي نو ترڅو پورې چې هغه له بل سړي سره نکاح او مجامعت نه وروسته طلاق وانخلی له دغه خاوند سره د نکاح کولو اجازه نشی ورکول کیدلی. په داسې صورت کې باید ښځه پخپل یقین باندې عمل وکړی.

والمراه کالقاضی اذا سمعته اوا اخبرها عدل لا یحل لها تمکینه (شامی ص ۵۹۴ ج ۲ باب الصریح).

درې مغلظ طلاق او شرعي حلاله:

(۴۰۲_ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته په څه وجه طلاق ورکړی دی، د هغه دماغی حالت هم ډیر ښه دی، او هغه ته ښه یاد دي چې خپلې ښځې ته دوه کرته درې درې طلاقه ورکړی دي، یعنی نن چې درې طلاقه درکړي نو درې څلور ورځې بعد بیا ورته درې طلاقه ورکړی دي د طلاق ورکولو په وخت د هغه ښځه حامله وه، ایا د حامله کیدو په وجه د هغه طلاق واقع شوې او که نه؟ او که واقع شوي وي نو دا له خپلې ښځې سره نکاح کولې شي او که نه؟ له حمل نه د فارغیدو نه وروسته عدت لپاره به کینی او که نه؟ د حلالې لپاره شرعی حکم څه دی؟ او طریقه یې څه ده؟ مهربانی وکړئ وبی لیکئ.

(جواب) په مسئوله صورت کې پر ښځې درې طلاقه واقع شوي او پر خاوند یې حرامه شوې ده. عدت د ماشوم له پیدا کیدو سره سم ختمیږي. د حمل په حالت کې طلاق واقع کیږي. حمل د طلاق لپاره مانع نه دی. په قران کریم کې دي:
وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ. (سوره طلاق.) تفسیر جلالین سوره طلاق ص ۳٦۲ مطبع مجبوري.
په هدایه کې دي: وطلاق الحامل ... الخ (ص ۳۳٦ ج ۲.)
اوس له شرعي حلالې نه بغیر ښځه د هغه خاوند لپاره نشي حلال کیدلې. شرعي حلاله دا ده چې د عدت له پوره کیدو نه وروسته ښځه له بل سړي سره نکاح وکړي، هغه له ده سره جماع وکړي، بیا دا خاوند مړ شي یا په څه وجه ورته طلاق ورکړي نو له عدت تیرولو نه وروسته له لومړني ښځې سره نکاح کولې شي. دا خبره دې معلومه وي چې په دې طریقه حلاله کول چې له صحبت نه وروسته به ورته طلاق ورکوي ډیره بده خبره ده او د ګناه عمل دی، الله جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم له داسې شرطیه نکاح څخه راضي نه دی. لهذا له شرعي مجبوري نه بغیر دې داسې ونکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

د غصې په وجه ورکول شوي درې طلاقه واقع کیږي او که نه؟

(۴۰۳ـ سوال): یو سړي خپلې ښځې ته په غصه کې درې طلاقه ورکړل او ورته یې وویل چې ته زما ورور کره لاړه شه، ګواهانو چې د هغه د طلاق دا الفاظ واوریدل په هغو کې د ښځې د لومړي خاوند نه دوه بالغې جنوکیانې هم دي او ناته په ګاوند کې دوه نورو ښځو هم د هغه د خولې طلاق آوریدلی دی، ښځې ورته ویلي دي چې اوس ستا د کور اوبه زما لپاره حرامې دي. ایا دا طلاق واقع شوی او که نه؟
(خوابه): که چیرته دا خبره صحیح وي چې خاوند خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې دي نو د طلاق د واقع کیدو لپاره د ګواه موجودیت شرط نه دی له ګواه نه بغیر هم طلاق واقع کیږي، خو که خاوند له طلاق ورکولو نه منکر وي نو بیا د طلاق د ثبوت لپاره د دوه سړو یا د یو سړي او دوه ښځو ګواهي ضروري دی، یواځې د ښځو ګواهي کافي نه دی. د هغوی پر ګواهي د طلاق فیصله نشي کیدلې. لیکن دا چې پخپله ښځې هم د دریو طلاقو الفظ آوریدلي دی او موجود جنوکیانې هم د دریو طلاقو ګواهي

ورکوي نو هغې ته پکار دي چې بيرته خپل خاوند ته ځان حواله نکړي، که داسې وکړي نو ښځه او د هغه خاوند دواړه ګنهګار دي.
لان المراه کالقاضي. (باب الصريح ص ۵۹۲) فقط والله اعلم بالصواب.

تاته يو طلاق، دو طلاقه، دغه جمله يې بيا بيا تکراره کړه. نو په دی سره څو طلاقه واقع کيږی؟

(۴۰۴_ سوال): له مسنون سلام نه وروسته عرض دا دی چې زيد خپلې ښځې هندی ته په داسې الفاظو طلاق ورکړی دی: يو طلاق، دوه طلاقه. او دغه جمله يې بيا بيا تکراره کړه. ايا د طلاق مع العدد له تکرار سره د عدد تکرار معتبر دی او که نه؟ او که د عدد دغه تعدد تکرار لغوه ده؟ مهرباني وکړئ وضاحت ورکړئ. بينوا توجروا.
(ځواب):په مذکوره صورت کې د طلاق لفظ له عدد سره مقرون دی لهذا په جمع کيدو سره دری طلاقه واقع کيږي.

(والطلاق يقع بعدد قرن به لابه) نفسه عند ذکر العددو عند عدمه الوقوع بالصيغة (در مختار) و في رد المختار . اى متى قرن الطلاق بالعدد كان الوقوع بالعدد .... الخ (در مختار والشامى ج ۲ ص ٦٢٧ باب الطلاق عن المدخول بها مطلب الطلاق يقع بعد قرن به لابه).

د زيات اطمنان لپاره د مفتي عزيز الرحمن صاحب فتوه هم ولولئ:
(۳۲۰ سوال): تاته مې يو طلاق درکړ دو طلاقه درکړل، يوه يوه طلاق مې درکړ، دوه طلاقه مې درکړل. ايا په داسې ويلو سره دوه طلاقه واقع کيږي او که دری؟
(ځواب): په دی صورت کې په جمع کيدو سره دری طلاقه واقع کيږي. فقط.
(فتاوای دارالعلوم مکمل و مدلل ج ۹ ص ۲۴۱ کتاب الطلاق.)
د نومړي دويمه فتوی:
(۴۰۵ سوال): يو سړي خپلې ښځې سره جګړه وکړه او ورته يې وويل: تاته مې يو طلاقم دوه طلاقه درکړل، لاړ شه، د دواړو ترمنځ هيڅ سکوت ونکړ او پر له پسې يې وويل. په دی صورت کې پر ښځې باندې دوه طلاقه واقع کيږي او که دری؟ طلاقوونکی وايي چې زما نيت د دوه طلاقو دی، د قاضي خان په عبارت:

... صفت ثلاثا ولو قال دو طلاق بغير حرف العطف ...
... لا يقع الا واحدة (فتاوی قاضی خان علی هامش
... كتاب طلاق ج ۱ ص ٤٦٠).

که ووایی تانه مې یو طلاق، بیا چپ شو، وروسته یې وویل دوه طلاقه، درې طلاقه مې درکړل. که چیرته د حرف عطف نه بغیر دوه طلاقه.
لدینه دوهره استفاده کیږي چې د سکوت په حالت کې دوه طلاقه ورکوونکې د عطف نیت کړی وی درې طلاقه کیږي که نه نو یو طلاق. لیکن که چیرته بلا سکوت او بلا عطف ووایی درې طلاقه واقع کیږي یا نه؟ بینوا توجروا.
ځواب: ستاسې له عبارت نه چې لیکلې مو دی همدا واضح کیږي چې په مذکوره صورت کې درې طلاقه واقع کیږي. او احتیاط هم پدې کې دی چې د دریو طلاقو واقع کیدو حکم وکړی شي.

قال في الشامي في قوله انت طالق لا بل ثنتين ..... الخ ولو كانت مدخولةً تقع ثلث لانه اخبرانه غلط في ايقاع الواحدة و رجع عنها الى ايقاع الثنتين بدلها فصح ايقاعها دون رجوعه (رد المختار ج ۲ ص ٤٥٧) (از فتاوی دارالعلوم مکمل و مدلل ج ۹ ص ٣٠٦ — ٣٠٧) فقط والله اعلم بالصواب.

یوه، دوه، درې طلاقه. د دغې جملې حکم؟

(۴۰٦ـ سوال): د حاجی نظر محمد لور د خاوند له کور نه خفه پلار کره راغلې ده، د دغې خبرې په وجه د حاجی نظر محمد او د هغه د ښځې ترمنځ جګړه وشوه، خاوند ورته وویل چې لور دې بیرته خپل خاوند کره ورسوه خو د هغه ښځې مریم لدې کار نه انکار وکړ، حاجی نظر محمد غصه شوه او خپلې ښځې ته وویل: تاته یوه، دوه، درې طلاقه درکوم. اوس پوښتنه دا ده مریم طلاقه شوې ده او که نه؟ که طلاقه شوې وي نو کوم یو طلاق ورباندې واقع شوي؟ بینوا توجروا.
(ځواب): په مذکوره صورت کې په دریو طلاقو طلاقه شوې ده او ورباندې بائنه مغلظه ده.

(شامي ج ۲ ص ٦٢٦ـ تیره حواله) فقط والله اعلم بالصواب.

په یو مجلس کې ورکړ شوي درې طلاقه بالاجماع واقع کیږي.همدغه راز د غصې طلاق هم واقع کیږي.

(۴۰۷_ سوال) محترم مفتی صاحب! له مسنون سلام نه وروسته عرض دا دی چې زمونږ په محله کې یو سړی دغصې په حالت کې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې دي، لدینه وروسته سامرود ته لاړ او هلته له غیر مقلدینو څخه فتوی راوړی ده. په دغه فتوی کې دي چې : د امام ابو حنیفه په نزد د غصې په حالت کې طلاق نه واقع کیږي او په یو مجلس کې درې طلاقه یو طلاق حسابیږي. هغوی د شامي، امدادالفتاوی او نورو کتابونو حوالې هم ورکړي دي. د مفتی کفایت الله او ستاسې فتوی رحیمیه دویم جلد حواله یې هم لیکلې ده، د هغوی د دغې فتوی په وجه خلک دلته پریشانه او بې اتفاقه دي. ځینې خلک په دغه فتوی باندې د عمل کولو لپاره هم نصیحت کوي. تاسې مهربانی وکړئ د قرآن کریم او حدیث په رڼا کې د دی ځواب راکړئ. ـه سورت څخه.)

(ځواب): د غضب او درې طلاقه په باره کې د غیر مقلدو فتوی بالکل غلط ده، او کومې حوالې چې درکړی دي هغه هم دوکه او فریب دی، په امداد الفتاوی یا نورو معتبر کتابونو کې بلکل دا نشته چې امام اعظم ابو حنیفه په نزد د غصې په حالت کې طلاق نه واقع کیږي دا سوچه دروغ دي، په (لعنة الله علی الکاذبین.) باندې هم دوی غور نه کوي.

په امدادالفتاوی کې د دی خبرې تصریح شوې دی، که یو سړی د غصې په حالت کې پخپل قول، فعل یعنی پخپل وینا او عمل باندې خبر وي او پوه وي چې زه څه کوم او څه وایم نو د هغه د طلاق په واقع کیدو کې هیڅ شک نشته، خو که د غصی په وجه بالکل پاګل او لیونی شوې وي او پخپل کړه او وینا باندې نه پوهیږي نو بیا طلاق او بل کار یې هیڅ اعتبار نه لري. (امدادالفتاوی جلد دوم.)

طلاق په عمومي توګه د غصې په حالت کی ورکول کیږي. په خوشالي کې څوک طلاق ورکوي؟

کله چې دغصې په حالت کې لین دین، خرید و فرووخت، رجعی نکاح معتبر دي نو طلاق دی ولې معتبر نه شي؟ په حدیث شریف کې خو تر دی پورې راغلی دي:

ثلاث جدهن جد وهزلهن جد النكاح والطلاق والرجعة (مشكوة شريف ص ۲۸۴ باب الخلع والطلاق)

یعنی دری شیان داسې دي چې په هغه کې د ارادی او نه ارادی هیڅ فرق نشته. یعنی نکاح، طلاق او رجعت. (له طلاق نه رجوع کول.) مطلب دا چې په توقو تقالو کې هم نکاح صحیح کیږي، طلاق هم واقع کیږي او رجوع یې هم معتبر دی. (مشکواه شریف ص ۲۸۴ باب الخلع والطلاق.)

د دارالعلوم دیو بند لومړی مفتی عزیزالرحمن صاحب لیکي:

(سوال): (۱) زید د غضب او شدید تبی په وخت کې خپلې ښځې ته دری کرته په تکرار سره وویل چې زه تاته دری طلاقه درکوم. ایا د زید ښځه لدینه وروسته په څه وجه د هغه په نکاح کې پاتی کیدلې شي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): په دی صورت کې د زید پر ښځې دری طلاقه واقع شوي دی. له حلالی نه بغیر زید ورسره نکاح نه شي کولې ... الخ. (فتاوای دارالعلوم مدلل ج ۹ ص ۵۵.)

(سوال): (۲) یو سړی له ښځې سره د جنګ په وخت کې وویل چې ما تاته سل طلاقه درکړل اوس هغه سړی وایی چې ما د غصې په حالت کې د طلاق نیت نه بغیر دا الفاظ ویلی دي. نو ایا د هغه دا طلاق واقع شوي دي او که نه؟ بینوا توجروا.

(خواب): په صریح طلاق کې دنیت هیڅ ضرورت نشته، له نیت نه بغیر طلاق واقع کیږي. همدغه راز د غصې په حالت کې هم طلاق واقع کیږي بلکې ښکاره خبره ده چې طلاق د غصې په حالت کې ورکول کیږي نه د خوشالي په وخت کې .... الخ. (فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ج ۹ ص ۴۹.)

(سوال): (۳) که کوم یو سړی خپل ښځې ته مور او خور ووایی نو د دی څه حکم دی؟ او که د غصې په حالت کې دری طلاقه ورکړي نو طلاق واقع کیږي او که نه؟ ایا د هغې سائل جائز دی او که نه؟

(خواب): خپلې ښځې ته یواځې په داسې خبرو کولو سره چې ته زما مور او خور یې، طلاق نه واقع کیږي، هغه یې د پخوا په شان ښځه ده، خو که څوک د غصې په حالت کې خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي نو دری طلاقه ورباندې واقع کیږي، له حلالی نه پرته ورته جائزه نه ده. (فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ج ۹ ص ۳۶۵.)

په شامي کې د غصې دری حالته بیان شوي دي او د هغوی حکم هم بیان کړی دی:

(لومړی حالت): د غصې په وجه د هغه په عقل کې څه خلل نه وي راغلی. پخپلو خبرو باندې ښه پوهیږي چې زه څه وایم او څه کوم. نو په داسې حالت کې طلاق واقع کیږي او په واقع کیدو کې هیڅ شبهه او شک نشته، طلاق عموماً د غصې په وخت کې ورکول کیږي احد (احدها ان یحصل له مبادی الغضب لا یتغیر عقله و یعلم ما یقول و یقصده و هذا لا اشکال فیه).

(دویم حالت): له ډیرې غصې نه د لیونی په شان شو او پخپلو خبرو باندې نه پوهیږي چې څه وایی او څه کوي نو د هغه طلاق صحیح نه دی. همدغه راز د هغه خرید و فروخت هم صحیح نه دی او دا صورت نادرالوقوع دی، مګر له شرعی شهادت نه د ثابت کیدو په صورت کې د طلاق د نه واقع کیدو حکم ورکولی شي.

(والثانی ان یبلغ النهایة فلا یعلم ما یقول ولا یریده فهذا لا ریب انه لا ینفذ شیئی عن اقواله (شامی ج ۲ ص ۵۸۷).

(دریم حالت): بین البین او منځنی حالت دی، په دی کې له غایت نه تردد دی. علامه شامي د طلاق د واقع کیدو قول نقل کړی دی.

والثالث من توسط بین المرتبتین بحیث لم یصیر کالمجنون فهذا محل النظر و الا دلة تدل علی عدم نفوذ اقواله اه ملخصاً من شرح الحنبلیه لکن اشارف الغایة الی مخالفته فی الثالث حیث قال و یقع طلاق من غضب خلافاً لا بن القیم و هذا الموافق عندنا اه (شامی ج ۲ ص ۵۸۷ مطلب طلاق مدهوش باب الفروج).

په باب الفروج کې همدغه قول احوط او فتوی لپاره مختار دی .... غیر مقلدینو چې کومه فیصله علامه شامي په طرف منسوبه کړې ده هغه د شامی قول نه دی او نه یې پر هغه فتوی ورکړې ده. آخر د هغه په طرف منسوبول د کوم ځای دیانت دی.

د غیر مقلدو دا دعوی هم غلطه او له کتاب او سنت نه خلاف دی چې یو ځای درې طلاقه نه واقع کیږي، دا د خوارجو، شیعه ګانو او روافضو عقیده ده. د اهل سنت والجماعت دا عقیده نه لري. کوم خلک چې داسې عقیده ولري هغه له اهل سنت والجماعت نه وتلی دی. په شرح الوقایه کې دي:

و عندنا الثلث دفعة سنی الوقوع ای وقوعها مذهب اهل السنة و عند الروافض لا یقع (شرح الوقایة ج ۲ ص ۷۰ کتاب الطلاق).

یعنی زمونږ اهل سنتو په نزد یو ځای درې طلاقه واقع کیږي البته روافض د دې خلاف دي (شرح الوقایه ج ۲ ص ۷۰ کتاب الطلاق)
طحطاوي على الدرالمختار کې دي.
و ذهب جماعة منهم الظاهرة و الشيعة الى ان الطلاق الثلث جملة لا يقع الا واحدة
(طحطاوی علی الدر المختار ج ۲ ص ۱٦٦ ایضا).

یوه ډله چې ظاهریه او شیعه دي د هغوی مسلک دا دی چې مجموعاً درې طلاقه په یو طلاق کې حسابیږي یعنی یو طلاق واقع کیږي. (طحطاوي على الدرمختار ج ۲ ص ۱٦٦ ایضاً)

په هر حال له درې طلاقونه وروسته له حلالې نه پرته نکاح نشي کیدلې او د هغوی ترمنځ د ښځې او خاوند اړیکې قطعاً حرامې دي، دواړه زاني او بدکار ګڼل کیږي په قرآن کریم کې دي: ((الطلاق مرتان)) په کوم طلاق کې چې رجوع کولې شي هغه دوه طلاقه دي یعنی له یوه نه تر دوه پورې رجوع کولې شي.
الطلاق اى التطليق الذى يراجع بعده مرتان اى اثنتان (تفسير جلالين ص ۳۳) ص ۳۲٤.

وړاندې د دریم طلاق په باره کې دي:
((فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ـ سوره البقره
فان طلقها الزوج بعد اثنتين فلا تحل له من بعد الطلقه الثالثة حتى تنكح زوجا غيره
(تفسير جلالين ص ۳۳).

ترجمه: (بیا که سړی ښځې ته (له دوه طلاقونه وروسته) دریم طلاق ورکړي نو بیا هغه ښځه ورته نه حلالیږي، تر دې چې هغه ښځه له دې علاوه له بل سړي سره واده وکړي. (تفسیر جلالین ص ۳۳.)
په احکام القران کې دي
فالكتاب والسنة و اجماع السلف الصالحين توجب ايقاع الثلث معا و ان كانت معصية
(احكام القرآن الجصاص ج ۱ ص ٤٥۹ باب عدد الطلاق).

قران. سبب او د سلفو احماع همدغه ده چې يو حاى وركول شوي درى طلاقه واقع كيږي. كه څه هم يو ځاى درى طلاقه وركول گناه ده احكام القرآن الجصاص ج ۱ ص ۳۰۹ باب عددالطلاق.

په تفسير مظهري كي دي

لكنهم اجمعوا على انه من قال لا مراته انت طالق ثلثا يقع ثلاثا بالاجماع (مظهرى ج ۱ ص ۳۰۰ تحت قوله الطلاق مرتان).

ترجمه: د جمهور علماو قول دى چې كوم سړى خپلې ښځې ته درى طلاقه يو ځاى وركړي نو بالاجماع درى طلاقه واقع كيږي. (مظهري ج ۱ ص ۳۰۰ تحت قوله الطلاق مرتان)

په فتح القدير كي دي:

و ذهب جمهور الصحابة والتابعين و من تبعهم ائمة المسلمين الى انه يقع ثلثاً (فتح القدير ج ۳ ص ۳۳۰ كتاب الطلاق).

ترجمه: جمهور صحابه، تابعين او وروسته د مسلمانانو ائمه د دى خبرې قائل دي چې درى طلاقه واقع كيږي. (فتح القدير ج ۳ ص ۳۳۰ كتاب الطلاق)

بحرالرائق كي دي

(ولا حاجة الى الاشتغال بالادلة على رد قول من انكر وقوع الثلاث جملة لانه مخالف للاجماع كما حكاه فى المعراج و لذا قالوا لو حكم حاكم بان الثلاث بفم واحدة لم ينفذ حكمه لانه خلاف لا اختلاف).

يعنى كوم كسان چې د مجموعى طلاقونو د واقع كيدو قائل نه دي د هغوى د قول د رد لپاره د دلائلو جمع كولوته ضرورت نشته. څكه چې د هغوى دا قول له اجماع نه مخالف دى. لكه چې په معراج الدرايه كي دي: له همدې كبله علماو ويلى دي چې كه كوم حاكم فيصله وكړي چې په يو ځل وركول شوي درى طلاقه يو طلاق حسابيږي نو د هغه فيصله نه نافذيږي، څكه چې د هغه دا فيصله خلاف او مذمومه ده. اختلاف نه دى چې رحمت او غوره وي. (بحرالرائق ج ۳ ص ۲۳۹_۲۴۰ كتاب الطلاق تحت قوله و ثلاثا فى طهر الخ)

عينى شرح بخاري كي دي

و مذهب جماهير العلماء من التابعين و من بعدهم منهم الاوزاعی والنخعی والثوری و ابو حنيفه و اصحابه و مالك و اصحابه والشافعی و اصحابه و اسحق و ابی ثور و ابو عبيد و آخرون كثيرون على ان من طلق امراته ثلثا وقعن ولكنه يا ثم و قالوا من خالف فيه فهو شاذ مخالف لاهل السنة و انما تعلق به اهل البدعة و من لا يلتفت اليه الشذودة عن الجماعة ص ٣٢٤ — ٣٢٥

يعنی جمهور علماء، تابعين او له هغوی نه وروسته علماء، فقها، محدثين، امام اوزاعی، امام نخعی، امام ثوري، امام ابو حنيفه او د هغه ملګري، امام اسحق، امام ابو ثور، امام ابو عبيد او نور فقها د دی خبرې قائل دي چې هر څوک خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي هغه واقع کيږي، ليکن طلاق ورکوونکی ګنهګاريږي.

د دوی وينا ده چې کوم خلک د دی خبرې مخالفت وکړي هغوی د اهل سنتو مخالف دي او د روافضو له ډلی څخه دي، د هغوی خبره هرګز د منلو وړ نه ده. دغه قول بدعتيانو او هغه خلکو خپل کړی دی چې د هغوی هيڅ اعتبار او مقام نشته، ځکه چې هغوی د اهل سنت والجماعت نه وتلي دي. (عينی شرح بخاري ج ۹ ص ۵۳۷ کتاب الطلاق باب من اجاز طلاق الثلث.)

مرقاه المصابيح شرح مشکوات المصابيح کې دي:

وذهب جمهور الصحابة والتابعين و من بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلث (ج ٣ ص ٢٨٤ باب المطلقه ثلاثاً).

يعنی جمهور صحابه رضی الله عنهم، تابعين او له هغوی نه وروسته دِ مسلمانانو ائمه دا خبره منی چې دری طلاقه يو ځای په يو مجلس کې نافذيږي. (ج ٣ ص ٢٨٤ باب المطلقة ثلاثاً.)

امام نووي په شرح مسلم کې فرمايي:

و قداختلف العلماء فيمن قال لأ مراته انت طالق ثلثاً فقال الشافعی و ابی حنيفه و احمد و جماهير العلماء من السلف والخلف يقع الثلث (نووی شرح مسلم ج ١ ص ٤٧٨ باب طلاق الثلاث).

کوم سړی چې خپلې ښځې ته ووایي ، انت طالق ثلثاً ، نه په درې طلاقو طلاقه یې، د دې په حکم کې علماء اختلاف کړی دی، امام شافعی، امام ابو حنیفه او امام احمد او جمهور علماء خلفاً او سلفاً وایي چې درې طلاقه واقع کیږي. (نووي شرح مسلم ج ۱ ص ۴۷۸ باب طلاق الثلاث.)

په زاد المعاد کې دي:

و هذا (ای وقوع الثلث بکلمة واحدة) قول الائمة الاربعة و جمهور التابعین و کثیر من الصحابة رضی الله تعالی عنه اجمعین (ج ۲ ص ۲۵۵).

یعنی په یو مجلس کې د ورکول شوو درې طلاقو واقع کیدل څلورو امامانو، جمهورو تابعینو او زیاترو اصحابو قول دی. (ج ۲ ص ۲۵۵.)

په شامي کې دي:

و ذهب جمهور الصحابة والتابعین و من بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع ثلث

جمهور صحابه. یعنی جمهور فقها د دې خبرې قائل دي چې په یو ځل د درې طلاقو د ورکولو حکم همغه دی چې درې کرته د درې طلاقو ورکولو حکم دی. (هدایه المجتهد العلامه ابن رشید ج ۲ ص ۴.)

په فتاوای اسعدي کې دي:

(سوال): في رجل قال لزوجته انت طالق ثلثا ثم قال من فور لا بل اثنین کیف حکم افتونا؟

ترجمه: یو سړی خپلې ښځې ته ووېل ته په درېو طلاقو طلاقه یې بیا یې فوراً ووېل نه نه دوه طلاقه، د دې څه حکم دی؟

(جواب): وقع علیها ثلاث تطلیقات.

(ځواب): پر ښځې درې طلاقه واقع کیږي. (فتاوای اسعدیه ج ۱ ص ۵۳.)

په هدایه کې دي:

و طلاق البدعة ان یطلقها ثلثاً بکلمة واحدة او ثلثاً فی طهر واحد فان فعل ذلك وقع الطلاق و کان عاصیاً (هدایه اولین ص ۳۳۵ کتاب الطلاق باب طلاق السنة)

(فتاوی قاضی خان ج ۱ ص ٤٥٤) (شرح نقایه ج ۲ ص ۲۸) (رحمة الامه فی اختلاف الائمه ص ۲۱۸).

یعنی بدعي طلاق دا دی چې ښځې ته په یو لفظ کې درې طلاقه ورکړي، یا په یو طهر کې درې طلاقه ورکړي، که څوک داسې وکړيَ نو درې طلاقه یې واقع کیږي خو ګنهګار دی.

(هدایه اولین ص ۳۲۵ کتاب الطلاق باب طلاق السنه_ فتاوای قاضی خان ج ۱ ص ۴۵۴ _ فتاوای عالمکیري ج ۲ ص ۵۴_ الجوهرة النیرة ج ۲ ص ۱۰۰_ مجمع الانحر ج ۲ ص ۳۸۲_ شرح القایه ج ۲ ص ۲۸_ رحمه الامه فی اختلاف الائمه ص ۲۱۸.)

په فتاوای خیریه کې دي:

(سئل) (سئل) فی شخص طلق زوجة ثلثاً مجتمعا فی كلمة واحدة فهل يقعن ام لا . و هل اذا رفع الی الحاكم حنفی المذهب يجوز له تنفيذ الحكم بعد الوقوع اصلا اوبوقوع واحدة او يجب عليه ان يبطله و هل اذا نفذه نفذ ام لا ؟ (اجاب نعم يقعن يعنی الثلاث فی قول عامة العلماء المشهورين من فقهاء الامصار ولا عبرة بمن خالفهم فی ذلك او حكم بقول مخالفهم والرد علی المخالف القائل بعدم وقوع شيئ او وقوع واحدة فقط مشهور و اذا حكم حاكم بعدم وقوع الطلاق المذكور لا ينفذ حكمه كما هو مسطور ففی الخلاصة او بان لا يقع شئی لا تنفذ و فی التبيين وغيره فی كتاب القضاء وقع باطلا لمخالفته الكتاب والسنة والاجماع فلا يعود صحيحاً بالتفيذ (فتاوی خيريه ج ۱ ص ٤٣ كتاب الطلاق و مطالبه).

(د سوال او ځواب خلاصه)

(۴۰۸) سوال : یو سړی خپلې ښځې ته په یو ځای درې طلاقه ورکړل. هغه واقع کیږي او که نه؟ که هغه خپله مسئله د حنفی قاضي په عدالت کې پیش کړي نو ایا حاکم لپاره دا جائز دي چې هغه بالکل د طلاق د نه واقع کیدو چې د شیعه ګانو مسلک دی، یا د یو طلاق د واقع کیدو، چې د غیر مقلدو مذهب دی؛ فیصله وکړی او د یو طلاق واقع کیدو حکم صادر کړي نو ایا د هغه فیصله نافذیږي؟

جواب: دری طلاقه واقع کیږي د فقهاو او مشهور علماو د قول مطابق کله چې کومه حاکم د مذکوره طلاقونو د نه واقع کیدو فیصله وکړي نو د هغه فیصله او حکم نه نافذیږي لکه چې زمونږ په کتابونو کې په صراحت لیکل شوی دی په خلاصة الفتاوی او نورو کتابونو کې د دې خبرې تصریح موجود دی چې کوم سړی د دریو طلاقو فیصله په یو طلاق وکړي، یعنې یو طلاق نافذ کړي یا یو هم نافذ نه کړي نو د هغه فیصله نشي نافذیدلای. په تبیین او نورو کتابونو کې دي چې که زرګونه قاضیان هم د دې په خلاف فیصله وکړي نو د هغوی فیصله هم نه نافذیږي، د کتاب، سنت او اجماع د مخالف کیدو په وجه. (ج ۱ ص ۴۳.)

په فتاوای خیریه کې یو بل سوال دی:

(سئل مرةً اخری) فی رجل طلق زوجته ثلثاً مجمعاً فی کلمة واحدة فافتاه حنبی المذهب بعدم الوقوع فاستمر معاشر الزوجته بسبب الفتوی المذکور مدة سنین فهل یعمل بافتاء الحنبلی المذکور ام لا ولو اتصل حکم منه فکیف الحال (اجاب) لا عبرة بالفتوی المذکورة ولا ینفذ قضاء القاضی بذلك ولو نفذ الف قاضی و یفترض علی حکام المسلمین ان یفرقوا بینهما . قال بعض العلماء و حکی عن الحجاج بن ارطاة و طائفة من الشیعة والظاهریة انه لا یقع منها الا و اختاره من المتاخرین من لا یعبأ به و اقتدی به من اضله الله تعالی اعلم (فتاوی خیریه ج ۱ ص ۱۴۰ — ۱۴۱) (کتاب الطلاق و مطالبه).

(د سوال او ځواب خلاصه.)

(۴۰۹_ سوال): یو سړي په یو لفظ سره یو ځای دری طلاقه ورکړل. هغه ته یو حنبلی المذهب مفتي د طلاق د نه واقع کیدو فتوی ورکړی ده، د دغې فتوی له کبله هغه څو کاله له خپلې ښځې سره تیری کړې. ایا د حنبلی المذهب مفتي په دغه فتوی باندې عمل کول جائز دی او که نه؟ او که د دې مطابق قاضي فیصله وکړه نو د هغه لپاره څه حکم وي؟

جواب: مذکوره فتوی بالکل غلطه او معتبره نه ده او د هغه په مطابق د قاضي فیصله هم نشي نافذیدلای. که څه هم زرګونو قاضیان دا فیصله وکړي څکه چې دا د ...

نص نه خلاف فیصله ده، او پر حاکم باندې لازم دی چې د ښځې او خاوند ترمنځ تفریق وکړی
حجاج بن ارطاه، شیعه او ظاهریه و له یوې ډلی نه نقل شوی دی هغوی وایی چې صرف یو طلاق واقع کیږي او دغه قول له متاخرینو علماو څخه داسې خلکو اختیار کړی چې د هغوی هیڅ اعتبار او مقام نشته. او الله تعالی چې کوم خلک ګمراه کړي دي هغوی په دغه فتوی عمل کړی دی او هغوی پسې اقتداء کړی ده. والله اعلم بالصواب.
(فتاوای خیریه ج ۱ ص ۴۴.)
د امام بخاري په نزد هم په یو وخت او یو مجلس کې دری طلاقه واقع کیږي، او د دی په متعلق هغه رحمه الله علیه یو باب قائم کړی دی: (باب من اجاز طلاق الثلث.) بیا دغه باب لاندې احادیث یې راوړي دي چې له هغو نه یو حدیث دا هم دی:
عن عائشة رضی الله تعالی عنها ان رجلاً طلق امرأته ثلثا فتزوجت فطلق فسئل النبی صلی الله علیه واله وسلم اتحل للاول ؟ قال لا حتی یذوق عسیلتها کما ذاق الاول
(بخاری شریف ج ۲ ص ۷۹۱) (مسلم شریف ج ۱ ص ٤٦٣).
یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړل، بیا هغې له بل سړي سره واده وکړه هغه له هغې سره له صحبت کولونه بغیر طلاقه کړه، له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړی شوه ایا دا د مخکینی خاوند لپاره حلالیږي او که نه؟ محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ترڅو پورې چې دویم خاوند ورسره صحبت ونکړي نو لومړنی خاوند لپاره نه حلالیږي. (بخاري و مسلم.)
پورتنی حدیث په دې خبره ښه دلالت کوي چې ورکول شوی دری طلاقه چې په یو وخت کې یې ورکړی وي واقع کیږي. فتح الباري شرح صحیح بخاري کې دي:
فالتمسك بظاهر قوله طلقها ثلثاً فانه ظاهر فی کونها مجموعه (ج ۹ ص ۳۲۱ باب من اجاز طلاق الثلاث).
په عین الهدایه کې دي: مونږ ته دین او قران اصحابو کرامو رسولی دی، له مبتدع او فاسق نه علاوه بل هیڅوک دا ګمان قدری هم نشي کولی چې اصحابو څه تحریف او تبدل پکې کړی، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت په مطابق به عمل کاو، بی له شکه حضرت عمر رضی الله عنه او ټولو اصحابو رضی الله عنهم اجماع کړی چې څوک دری طلاقه یو ځای په یو وخت ورکړي نو واقع کیږي. دا کله هم له سنت نه

مخالف نه دی، بلکې حضرت عمر، عثمان، علي او نورو صحابه رضي الله عنهم، علماء او فقهاو په دی سنت باندې اتفاق کړی دی او د هغوی اجماع قطعي حجت دی. (عین الهدایه)

له پورتنیو حوالو څخه څرګندیږي چې جمهور صحابه رضي الله عنهم، تابعین، تبع تابعین، د دین ائمه، فقهاء، علماء، محدثین او مشائخ رحمه الله علیهم اجمعین په نزد یو ځل او په یو مجلس کې درې طلاقه واقع کیږي، او کوم خلک چې وایي نه واقع کیږي د هغوی دا قول مردود او باطل دی. دا هم بالکل اصل نه لري چې حضرت عمر رضي الله عنه د سیاست په توګه د دریو طلاقو حکم نافذ کړه، بلکې هغه شرعي حکم او فتوه وه چې قران کریم او حدیث سره عین موافق وه، د ټولو اصحابو اجماع او اتفاقي فیصله وه. همدغه وجه ده چې د حضرت عمر رضي الله عنه نه وروسته اصحابو د همدې موافق فتوی ورکوله، یو اصحابي هم لدینه خلاف نه دی کړې. (فمن ادی فعلیه البیان.) دا هم بې بنیاده خبره ده چې عمر رضي الله عنه له خپلې دغې فتوی نه په آخر عمر کې پښیمانه و.

غیر مقلدینو پخپل ځواب کې د مولانا مفتي کفایت الله فتوی ذکر کړې ده ترڅو عام خلک ورباندې ګمراه کړي، د هغه فتوی ولولئ:

(ځواب): زید خپلې ښځې ته د غضب په حالت کې درې طلاقه یو ځای په یو وخت کې ورکړي، له حلالې نه بغیر، له جدید نکاح سره ورته رجوع وکړه. ایا د زید رجعت په څلورو امامانو کې د کوم یو امام په نزد جائز دی او که نه؟

(ځواب ۳۲۲): (۱) که په یو وخت کې درې طلاقه یو ځای ورکړی شي نو درې واړه واقع کیږي. همدا د جمهورو صحابه و، تابعینو او د مسلمانانو د ائمه و مسلک دی. البته د امامیه و د فرقې په نزد یو طلاق واقع کیږي لیکن دا بالاتفاق مردود دی. څکه چې حضرت عمر رضي الله عنه فیصله پخپله په دی باندې ګواه ده.

فقال عمر ان الناس قد استعجلوا في امر كان لهم فيه اناة فلو امضيناه عليهم فامضاه عليهم و ذهب جمهور الصحابة والتابعين و من بعدهم من ائمة المسلمين الى انه ثلث

(كفايت المفتي ج ٦ ص ٣٢١).

نو د اهل سنت والجماعت په موافق دغه سړي ته له تحلیل نه وړاندې خپلې ښځې ته رجوع کول حرام دی. (کفایت المفتي ج ٦ ص ٣٢١.)

خواب) (۲) خلور امامان یعنی امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمه الله علیهم او جماهیر اهل سنت والجماعت د دی خبرې قائل دي چې په دریو طلاقو ورکولو سره دری طلاقه واقع کیږي اګر که په یو لفظ سره ورکړی شي یا په یو مجلس کې یا په یو طهر کې .... الخ. (کفایت المفتي ج ٦ ص ۳۲۲.)

(۳): په یو مفصله فتوی کې د دریو طلاقو د واقع کیدو په تحقیق کې لیکی.

پس له ټولو عبارتونو ښخه ښکاره شو چې په یو لفظ یا په یوه مجلس کې ورکول شوي دری طلاقه واقع کیږي او همدغه له قران کریم او حدیث شریف ښخه ثابت دی. او د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې په همدې باندې د اصحابو اجماع وشوه او خلورو واړه امامان هم د همدغې خبرې قائل دي. سلفاً و خلفاً د ټولو علماو همدغه مذهب دی، له دی نه مخالفت کوونکی له اهل سنت والجماعت نه جدا دي او قول یې هیڅ اعتبار نه لري. ... الخ. (کفایت المفتی ج ٦.ص ۳۳۱.)

غیر مقلدینو حلکو ته د دوکی ورکولو لپاره زما د فتوی حواله هم ورکړی ده. حال دا چې فتاوای رحیمیه اتم جلد کې د دریو طلاقو د واقع کیدو په متعلق ګنې فتاوی موجودی دی.د زیات اطمنان لپاره د اکابر علماو او فقهاو فتاوی وګورئ.

(۱): د هند د علماو لوی استاذ حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوی فتوی:

(اګر سه طلاق داد خواه یکبار خواه متفرق، باز در نکاح نمی تواند درآورد تا وقتیکه حلاله نکند.

یعنی که ځوک خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي برابره خبره یو ځای یا جلا جلا، نو ترځو پورې چې حلاله ونکړي دوباره پخپل نکاح کې نشي راوستلی. (فتاوای عزیزي ج ۳ ص ۲۰.)

په یو مجلس کې د دریو طلاقو ورکولو په صورت کې خاوند ورته رجوع کولی شي او که نه؟ په دی باره کې محدث جلیل فقیه امت حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي لیکي:

(خواب): دری طلاقه یې واقع شوي دي له حلالی نه علاوه هیڅ تدبیر نشته. فقط والله اعلم بالصواب_ کتبه الاحقر بنده رشید احمد عفی عنه ګنګوهي. (فتاوای رشیدیه ص ۱۳۰ حصه دویم مطبع هندوستان پرنتنګ ورکس دهلي.)

د دريو طلاقو ورکولو بيان

که حرته چا خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل نو اوس هغه ښځه پر هغه بالکل حرامه ده. که چیرته ورسره له سره نکاح وکړي نو بیا هم له دغه سړي سره د ښځې اوسیدل حرام دی. (بهشتی زیور ص ۱۲۷ حصه چهارم.)

د دارالعلوم ديو بند لومړنی مفتی حضرت مولانا مفتی عزيزالرحمن فتاوی:

(۱) سوال: په يو مجلس کې درې طلاقه_ يو سړی وايي چې حضرت عمر رضـی الله عنـه سياسی حکم قائم کړی دی. د دی څه حکم دی؟

(خواب): **کوم مسلمان چې د اصحابو اجماع او د حضرت عمر رضـی الله عنـه د فتـوی په باره کې داسې ووايي، هغه جاهل او گمراه دی. حضرت عمر رضی الله عنه د شـرعی نصوصو په بناء داسې حکم صادر کړی دی. او د اصـحابو اجمـاع لـه پـوښتنې نـه پرتـه څنگه کيدلی شي؟**

(په شامي کې دي:

قال فى فتح القدير بعد سوق الاحاديث الدالة عليه الى ان قال و قد يثبت النقل عـن اكثرهم بايقاع الثلث و لم يظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال (فتح القـدير ج ۳ ص ۲۵ كتاب الطلاق). **له دې عبارت نه واضح شو چې حضرت عمر رضـی الله عنه شرعی حکم نافذ کړی دی چې صحيح احاديث ورباندې دلالت کوي، او د هغه لـه حکم سره د هغه وخت يو صحابی هم مخالفت ونکړ. پس دا عين شرعی حکم دی،لهـذا فتح القدير مصنف ليکلی دي: (فما ذا بعدالحق الا الضلال.) يعنی حقه خبره دا ده چې درې طلاقه واقع کيږي او هر څوک چې له دې حقـی فيصـلی نـه مخالفـت کـوي هغـه گمراه دی. ففط . . . (فتاواى دارالعلوم مدلل و مکمل ج ۹ ص ۳۲٦_۳۲۷.)**

(۲ سوال ۳۷۹): **زيد خپلې ښځې ته په يـوه مجلـس کـې متـواتر درې طلاقـه ورکـړل، اوس هغه رجوع کول غواړي، د مولوی ثناء الله امرتسری او د نـورو فتـوی د اسـتدلال لپاره پيش کوي، په داسې صورت کې رجوع کول جائز دی او که نه؟**

(خواب): **له درې طلاق نه وروسته ښځه مغلظ بائنه کيږي او له حلالی نـه پرتـه دوبـاره نکاح کول حرام دی،ځکه چې دا له قطعی نص نه ثابت دی او د امت اجمـاع هـم ده چې درې طلاقه واقع کيږي. لدې نه خلاف کوونکی هيڅ اعتبار نه لري. زيد لـه حـلالی**

نه پرته خپلې ښځې ته رجوع نشي کولی. فقط والله اعلم بالصواب. (فتـاواى دارالعلـوم مدلل و مكمل ج ۹ ص ۲۳٦.)
په يو بل ځواب کې ليکي:
بې له شکه هر چا چې په دريو طلاقو کې د يو طلاق د واقع کيدو فتوى ورکړه هغه لويه غلطي کړې ده. د جمهور صحابه و او ائمـه و نـه مخالفـت کـړى دى. قطعـي نـص يـې پرېښى دى. داسې عالم د امامت قابل نه دى هغه پسې لمونځ ونه کړې شي. هغه بيشکه زانى دى او هغه ته زانى ويل صحيح دى. بلکې زانى نه هم بد تـر دى چـې پـه دريـو طلاقو سره طلاقه شوې ښځې ته رجوع کوي او ورسره وطى کوي، او دا کـار لـه قطعـي نص نه مخالفت دى... الخ. (فتاواى دارالعلوم مدلل و مکل ج ۹ ص ۳۲٦.)
(۴): يو سړى له حلالې نه پرته له خـپلې هغـې ښځـې سـره چـې درې طلاقـه يـې ورتـه ورکړې وى، نکاح وکړه. د هغه په ځواب کې ليکي:
(ځواب): له درې طلاقه ورکولونه وروسته له حلالې نه پرته ورسـره دوبـاره نکـاح کـول قطعي حرام دى. قال الله تعالى:
فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىَ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۝.
پس په مسئوله صورت کې چې د شاهدانو په وړاندې درې طلاقه ورکـول ثابـت دى نـو دغه سړى ته له خپلې ښځې سره له حلالې نه پرته دوباره نکاح کول حـرام دى. او دى لپاره دا تعزير دى چې دا ښځه له هغه نه جلا کړې شي او خاوند يې سخت ګنهکار دى. همدغه راز نکاح تړونکى او هلته ناست ګواهان هم سخت ګنهکار دي، هغوى دى ټول توبه وباسي او آينده لپاره د داسې عمل ارتکاب ونکړي. دا خبـره واضـحه ده چـې کـه خاوند درې طلاقه يو ځاى ورکړي نو درې طلاقه واقع کيږي او دا اجمـاعي مسـئله ده، لدينه مخالفت کوونکوته فتح القدير ګمراهي ويلې دي. له اصـحابو نـه نيـولې تـر اوسـه پورې په دې باندې اجماع ده، د لږ غوندو خلکو و د خپلو خواهشاتو اتباع کوونکـو تـه هيڅ اعتبار نشته لکه چې علامه شامي په کتاب الطلاق کې ويلـې دي: (شـامي ج ۲ ص ۵۷٦_ فتاواى دارالعلوم مدلل و مكمل ص ۳۰۳ _ ۳۰۴ ج ۹.)
(۵) ۳۳۷ سوال : په قصور ښار کې يو مولوى صاحب له کافي وخت نه اوسـيږي، هغـه دا فتوى جاري کړې ده چې کوم سړى خپلې ښځې ته (دفعة واحدة) يعنې يو ځل درې طلاق ورکړي، نو هغه ته له حلالې نه پرته رجوع کول صحيح دى. پـه دې صـورت کې شرعي فتوى څه ده؟

خواب): دا فتوى بالكل غلط او له قطعي نص نه خلاف ده او د جمهورو ائمه د له مذهب نه مخالفت دى. په دريو طلاقو سره طلاقه شوي ښځې سره له حلالى نه پرته نكاح كول گويا د الله تعالى د كلام مقابله كول دى. څكه چې په هغه كې دا حكم دى چې له دريم طلاق نه وروسته له حلالى نه پرته هغه ښځه خپل خاوند لپاره حلاله نه ده. برابره خبره ده چې په يو ځاى وركړى وي يا جدا جدا متفرق دول. قال الله تعالى: فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ۝.

او علامه محقق ابن همام د هغه خلكو پوره ترديد كړ دى چې له دريو طلاقونه وروسته بيرته د لومړى خاوند د حلاليدو لپاره درې طلاقونه جائز وايي، او په آخره كې دا يې لكلي دي:

و قد ثبت النقل عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلث لم يظهرلهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال (فتاوى دارالعلوم مدلل و مكمل ج ۹ ص ۳۰۸ - ۳۰۹).

لدينه معلوم شو چې په مذكوره صورت كې له حلالى نه پرته د نكاح جواز وركول عين گمراهي ده. د داسې فتوى وركوونكى عالم فتوى دى هرگز ونه منل شي. فقط...

(فتاواى دارالعلوم مدلل و مكمل ج ۹ ص ۳۰۸_۳۰۹.)

د غير مقلدينو پيشوا شيخ محمد بن عبدالوهاب زوى شيخ عبدالله پخپل يوه رساله (الهدية السنية.) كې د طلاق ثلاثه په اړه د خپل پلار د مسلک وضاحت كړى دى او ليكلي يې دي: زمونږ په نزد شيخ الاسلام ابن القيم او د هغه استاذ شيخ الاسلام ابن تيميه د اهل حق اهل السنه امام دى او د دوى دواړه كتابونه زمونږ ډير خوښ دي، ليكن مونږ په هره مسئله كې د هغوى هم تقليد نه كوو، په گنو مسائلو كې له هغوى سره اختلاف لرو، له دغو مسئلو نه يوه مسئله په يو مجلس كې د دريو طلاقو وركولو ده، په دى كې مونږ د دواړو بزرگانو تحقيق په خلاف د څلورو امامانو د متفقه فيصلى اتباع كوو. ... الخ.

(به حواله شيخ محمد بن عبدالوهاب كې خلاف پروبيگنډه اور هندوستان كي علماء حق پر اس كي اثرات. مصنفه مولانا محمد منظور نعمانى مدظله ص ۶۳_۶۴.)

د دريو طلاقو په باره کې د عربو علماو يوه مهمه فتوه

د سعودي حکومت له طرف نه يو مجلس « اللجنه الدائمه للبحوث العلميه والافتاء » جوړ کړی شوی دی چې پکې د ټول ملک لوی علماء او صلحاء شريک دي. هغوی په مختلفو مسائلو باندې بحث کوي او فيصله وربانديې صادروي. په دی سلسله کې هغوی په يو مجلس کې ورکول شويو دريو طلاقو په باره کې هم خپله فيصله صادره کړی ده چې په يو مجلس کې ورکول شوي دری طلاقه د محمد صلی الله عليه وسلم د نبوت په زمانه کې دری طلاقه حسابيدلی او وربانديې عمل کيده. د ټولو روايتونو له نقلولونه وروسته مجلس دغې نتيجې ته رسيدلی ده چې « القول بوقوع الطلاق الثلث بلفظ واحد ثلاثاً » (په يو مجلس کې دری طلاقه ورکولو سره دری طلاقه واقع کيږي.) ماخوذ از ماهنامه جامع الرشاد. اعظم گړه جلد ۲ شماره نمبر ۱۷ بابت جون ۱۹۸۲، مطابق رمضان المبارک ۱۴۰۲هـ ـ پندره روزه گلشن ماليگاون جلد نمبر ۲ شماره ۱۴ـ۱۵.)

لهذا د غير مقلد سامرودي په فتوی باندې عمل کول نه دی پکار او خپلې ښځې ته په رجوع کولو يا تجديد نکاح سره ښځه نه حلاليږي.

په شامي کې دي چې يوه حنفي المسلک ځوان د اهل حديث لور سره د نکاح کولو پيغام ورکړ، هغه ورته وويل که ته خپل مذهب پريږدی او اهل حديث شي نو ستا پيغام ماته منظور دی. دغه حنفي المسلک ځوان د هغه دا شرط قبول کړ او له هغې سره نکاح وکړه. کله چې امام ابوبکر جوزجاني لدې واقعی نه خبر شو نو ډير افسوس يې وکړ او ويې ويل:

النكاح جائز ولكن اخاف عليه ان يذهب ايمانه وقت النزع لانه استخف بالمذهب الذى هو حق عنده و تركه لاجل جيفة منتنة (شامى ج ۲ ص ۲٦۳ باب التعزير فيما اذا ارتحل الى غير مذهبه) فقط والله اعلم بالصواب وهو الهادى الى الصراط المستقيم.)

يعنی نکاح يې خو جائزه ده، ليکن ماته د دغه ځوان د خرابی خاتمې ويره ده چې د يوې ښځې په خاطر د هغه مذهب سپکاوی کړی دی چې ترننه پوری حق گڼل کيږي او هغه يې پرېښوده. (شامي ج ۲ ص ۲٦۳ باب التعذير فيما اذا ارتحل الى غير مذهبه.) فقط والله اعلم بالصواب هولهادی الی الصراط المستقيم.

خاوند يې درې طلاقه ورکړي، خو ښځې دوه طلاقه آوريدلې دي. څو طلاقه واقع کيږي؟

(۴۱۰ـ سوال): يو سړي په روانه رکشا کې خپلې ښځې ته د قهر او غصې په وجه درې طلاقه ورکړې، خو ښځې د رکشاء د شور په وجه دوه طلاقه اوريدلي دي او هغه قسم خوړلو ته تياره ده چې زما خاوند ماته صرف دوه طلاقه راکړې دي. علماء کرام د دغې مسئلې په هکله څه فيصله کوي؟ په رکشاء کې همدوی دواړه وو بل څوک ورسره نه و چې ګواهي ورکړي. بينوا توجروا.

(خواب): کله چې خاوند د غصې په حالت کې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې دي او هغه پوهيږي چې درې طلاقه يې ورکړې دي نو ښځه ورباندې مغلظه طلاقه او پر خاوند باندې حرامه ده، که څه هم ښځې دوه طلاقه اوريدلي وي. ښځه واوري او يا نه طلاق واقع کيږي. د طلاق واقع کيدو لپاره دا شرط نه دی چې هغه د طلاق الفاظ واوري. فقط والله اعلم بالصواب. ۷ ذی الحجه ۱۴۰۱ھ.

د يو مجلس درې طلاقه

(قران، حديث، اصحابو او تابعينو د اقوالو په رڼا کې.)

(۴۱۱ـ سوال): څه وايي علماء او مفتي حضرات چې په يو مجلس کې ورکول شوي درې طلاقه د قران او حديث په رڼا کې واقع کيږي او که نه؟ زمونږ په علاقه کې غير مقلدو دا شور ګډ کړی دی چې په يو مجلس کې ورکول شوي درې طلاقه نه واقع کيږي بلکې يو طلاق واقع کيږي، رجوع کول جائز دي، ځينې خلک د هغوی دا خبره منې او عمل ورباندې کوي، غير مقلدين په دې باره کې صحيح احاديث وړاندې کوي. مهرباني وکړئ تاسې هم د قران کريم او نبوي احاديثو په رڼا کې مدلل او مفصل ځواب راکړئ. والسلام.

(خواب): حامداً و مصلياً و مسلماً. د غير مقلدينو دا وينا چې په يو مجلس کښ درې طلاقو په ورکولو سره صرف يو طلاق واقع کيږي بالکل غلط او ګمراهي ده، قران کريم، احاديث، د اصحابو اجماع، د سلفو فقهاو، علماو او څلورو امامانو له متفقه فيصلې نه مخالفه ده.

له دریو طلاقو نه وروسته له شرعي حلالې نه پرته دوباره له هغې سره نکاح نه صحیح کیږي، که څوک داسې وکړي نو هغوی بدکار او زنا کار ګڼل کیږي. په قران کریم کې دي:

((الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ. سورة بقره

ترجمه: طلاق دوه کرته ده. لدینه وروسته دی یا خو ښځې ته رجوع وکړي او په بایسته طریقه له خان سره ایسار کړي یا دی په ښه طریقه خوشې کړي.

قول مفسرین د دغه آیت شان نزول دا بیانوي چې د اسلام په شروع کې د خلکو حالت دا و چې خپلو ښځو ته به یې بې حسابه طلاقونه ورکول، چا به داسې کول چې ښځې ته طلاق درکاو او کله به چې عدت پوره کیدو ته نژدې شو نو رجوع به یې ورته کاوه، بیا ورته بل طلاق ورکاو او د هغې د آزارولو لپاره به یې بیا رجوع کاو، نو په دی باندې الله تعالی دا حکم نازل کړ. (تفسیر مظهري به حواله بغوي عن عروه ج ۱ ص ۴۹۲ اردو.)

په دغه آیت کې دا خبره وښودل شوه چې رجعي طلاق دوه دي. یعنې داسې طلاق چې له هغه نه وروسته خاوند ته د رجوع حق پاتې کیږي صرف دوه دي. لدینه وروسته چې دریم طلاق ورکړ نو بیا د خاوند د رجوع حق ختم شو، لکه چې لهی ارشاد دی:

((فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ.

له دوه طلاقو نه وروسته که دریم طلاق هم ورکړی نو اوس دا ښځه د هغه لپاره هرګز نشي حلالیدلې ترڅو پورې چې له بل چا سره نکاح وه کړي.

نو د آیت مطلب دا شو چې ((مرتان)) د ((داشنا)) په معنا ده، یعنې رجعي طلاق دوه دي، برابره خبره ده چې دا په دوه طهرو کې ورکړی شي یا په یوه طهر کې. په جلا جلا مجلس کې ورکړی شي، یا په یو مجلس کې. جلا جلا لفظونو کې ورکړی شي. د آیت شریف دا مطلب د هغه د شان نزول سره زیات موافق دی او همدغه مطلب د قران کریم د عبارت زیات لائق دی.

د روح المعاني مصنف لیکي:

و هذا یدل علی انّ معنی (مرتان) اثنان . و لعله الیق بالمنظم . و اوفق بسبب النزول (ج ۲ ص ۱۳۵ روح المعانی).

له حدیث نه هم د دی تائید کیږي، لکه چې یو تن له نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه: ((الطلاق مرتان)) نه وروسته دریم طلاق چیرته بیان شوی دی؟ محمد

صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ((التسریح باحسان هو الثالثه)) دریم طلاق تسریح باحسان دی.

(روح المعانی به حواله ابو داود ج ۲ ص ۱۳۵_ تفسیر مظهری بـه حوالـه ابـو داود و سنن سعید بن منصور و ابن مرویه ج ۱ ص ۵۰۳ اردو.)

او په قران کریم کې هم ((مرتان)) لفظ د اثنان په معنا استعمال شوې دی. لهـی ارشـاد دی:

((نوتها اجر ها مرتین.)) (سوره احزاب).

او د قران کریم یو آیت د بل آیت تفسیر کوي. نو د دغه اصول په نظر کې نیولو سره په ((الطلاق مرتان)) کې هم همدغه معنا اخستل مناسب دی. لکه چې همدغـه معنـا امـام بخاري هم کړی ده.او پخپل مشهور کتاب صحیح بخاري کـې دری طلاقـه پـه یـو ځـل واقع کیدوبه هکله کې باب قائم کړی دی او په ترجمه الباب کې همدغـه آیـت شـریف یې راوړ دی. وګورئ:

باب من اجاز طلاق ثلاث لقول الله تعالی: ((الطلاق مرتـان فامسـاک بمعـروف او تسـریح باحسان.)) (بخاري شریف ج ۲ ص ۷۹۱.)

نو اوس د قران کریم د آیت خلاصه دا شوه چې قران کریم د طلاقونو ترتیـب نـه بلکـی تعداد یې بیانوي او واضح کوي چـې خـومره طلاقـه پـورې خاونـد تـه د رجـوع حـق حاصلیږي او له څومره طلاق نه وروسته نه حاصلیږي. طلاق خو د خاوند حـق دی چـې د نکاح په ذریعه ترلاسه کوي، اوس د هغه خوښه ده چې یو ځای یې ورکوي او که جـلا جلا یوه یوه، څنګه یې چې استعمال کړي نو د هغـه دا حـق پـوره کیـږي، د دی مثـال داسې دی چې ته دری روپۍ په یو وخت مصرف کړې یا جلا جـلا وختونـو کـې نـو پـه دواړو صورتونو کې دغه روپۍ ستا له ملکیت نه اوځي. علامه ابن حزم هم د آیت شریف همدغه معنا آخستی ده او فرمایلی یې دي:

و اما قولهم معنی قوله الطلاق مرتان ان معناه مرة بعد مرة فخطأً بل هذه الایة کقوله تعالی نوتها اجرها مرتین ای مضاعفاً معاً .... الخ (محلی ابن حزم ج ۱۰ ص ۱۶۸)

و قوله (الطلاق مرتان) یدل علی صحة الجمع بین الاثنین اذا حملت کلمة مرتـــان علی الاثنتین کما فی قوله تعالی (نوتها اجرها مرتین) والقران یفسر بعضه بعضـــاً و هکذا فهم البخاری معنی الایة حتی ذکرها فی باب من اجاز الثلث بلفظ واحد و کذا

ابن حزم و ایده الکرمانی لانه لا یوجد من یفرق بین الاثنین والثلاث فی صحة الوقوع (کتاب الاشفاق فی حکم الطلاق ص ۳۸ للعلامه الکوثری).

کوم خلک چې په یو مجلس کې د دریو طلاقو واقع کیدو قائل نـه دي. هغـوی پـه دې آیت کې د مرتان ترجمه اثنان نه کوي بلکې د هغوی په نزد ((مرتـان)) ترجمـه مـرة بعد مرة دی یعنی طلاق ټول په یو ځل نشي ورکـول کیـدلې. بلکـې یـو بـل پسـې بـه ورکوي. په دی صورت کې دوه یا دری طلاقه په یو ځل د ورکولو جواز لـه آیـت نـه نـه معلومیږي. خو یواځې په دی خبره د هغوی دا دعوه نـه صـحیح کیـږي، ځکـه چـې د هغوی دعوه خو دا ده چې په یو مجلس کې دری طلاقه له سره نه واقـع کیـږي برابـره خبره ده چې په یوه جمله کې ورکړی وي یا جلا جلا جملو کې، لیکن د هغوی له دلیل نه خو دا ثابتیږي چې کوم سړی خپلې ښځې ته دا ووایي: ته طلاقه یې. تـه طلاقـه یـې، ته طلاقه یې. پکار دي چې دری واړه واقع شي ځکه چې دریم طلاق یې په هغه وخت واقع کړی چې دوه طلاقه یو بل پسې ورکړی دی. دا همدغه ترتیب دي چې لـه قـران کریم نه معلوم شوی، د دغه ترتیب د شتون با وجود د هغوی دا وینا چې یو طلاق واقـع شوی دی، واضح کوي چې د هغوی استدلال فقط مغالطه ده چې د خپلو مخـالفینو پـه خلاف د حربی په توګه استعالوي. پاتی شوه د هغوی دا خبره چې یـو پـر بـل پسـې پـه جلا جلا مجلسونو کې دی طلاق ورکړی شي نو هغوی ته دا عـرض ذی چـې پـه آیـت کې مره بعد مره د معنا اخستلو په صورت کې هم د مجلس جلا والی ضروري نه ثابتیږي صرف د فعل جلا والی ترینه معلومیږي چې دا قسم هم ممکن دی چې په یو مجلس کې جلا جلا ورکړي. اوس روایتونه وګورئ او معلوم یـې کـړئ چـې د قـرآن کـریم صـحیح مفهوم څه شي دی او کوم یو حق دی.

له احادیثو نه د دریو طلاقو د واقع کیدو ثبوت

که چیرته د مذکوره آیت مطلب همدا وای چې په یو مجلس کی ورکـول شـوي طـلاق نه واقع کیږي نو د محمد صلی الله علیه وسلم له ارشاداتونه به یقیناً د دی تائیـد شـوې و، ځکه چې د هغه صلی الله علیه وسلم ارشادادت د قرآن کریم تشریح دی. الهی ارشاد دی:

مونږ ستا په طرف دا قران حکه نازل کړی دی چې ناسې خلکو ته د دی توضیح وکړی حال دا چې په دې باره کې چې د محمد صلی الله علیه وسلم ارشادادت او فیصلی د احادیثو په کتابونو کې موجود دي له هغو نه دا معلومیږي چې د یو مجلس دری طلاقه واقع کیږي، دا جلا خبره ده چې دا قسم طلاق ورکول د شریعت له بنودل شویو طریق نه خلاف دی او په دی وجه طلاق ورکوونکی گنهکاریږي. اوس د محمد صلی الله علیه وسلم ارشادادت او فیصلی ولولئ:

(۱): اخبرنا سلیمان بن داؤد عن ابن وهب قال اخبرنا مخرمة عن ابیه قال سمعت محمود بن لبید قال اخبر رسول الله صلی الله علیه وسلم عن رجل طلق امراته ثلث تطلیقات جمیعاً فقام غضباناً ثم قال یلعب بکتاب الله و انا بین اظهرکم حتی قام رجل و قال یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم الا اقتله (نسائی شریف ج ۲ ص ۳٦) (مشکوة شریف ص ۲۸٤ باب المطلقه الثلاثا) (اغاثه الهفان ص ۳٥٤).

له محمود بن لبید څخه روایت دی هغه وایی چې محمد صلی الله علیه وسلم ته خبر ورکړی شو چې یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه یو ځای ورکړي دی، محمد صلی الله علیه وسلم په غصه شو او تقریر یې وکړ چې آیا له کتاب الله سره لوبه کولی شي حال دا چې زه ستاسې په منځ کې موجود یم؟ یو صحابی د محمد صلی الله علیه وسلم د غصې په لیدلو سره ودرید او عرض یې وکړچې یا رسول الله ! قتل یې نه کړم؟

له پورتنی حدیث نه دا ثابتیږي چې ورکول شوي دری طلاقه چې په یو ځل یې ورکړی وي واقع کیږي که دا نه واقع کیدلې نو محمد صلی الله علیه وسلم به نه غصه کیده او فرمایل به یې چې هیڅ خبره نشته رجوع دی وکړي.

قاضي ابوبکر ابن العربي د دغه حدیث په متعلق ویلی دي چې محمد صلی الله علیه وسلم عویمر عجلاني د دریو طلاقو په خیر د دغه شخص دری طلاقه هم نافذ کړی و.

فلم یرده النبی صلی الله علیه واله وسلم بل امضاه کما فی حدیث عویمر العجلانی فی اللعان حیث امضی طلاقه الثلث ولم یرده (تهذیب سنن ابی داؤد طبع مصر ج ۳ ص ۱۲۹ از عمده الاثات).

ترجمه. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مسترد نه کړ بلکی نافذ یې کړ لکه چې د عویمر عجلاني د لعان په حدیث کې دي چې د هغه دری واړه طلاقه یې نافذ کړی وې او رد کړی یې نه وې (به حواله معرف القران ج ۱ ص ٥٦٥.)

(۲): حدثنا علی بن محمد بن عبید الحافظ نا محمد بن شاذان الجوهری نا معلی بن منصور نا شعیب بن رزیق ان عطاء الخراسانی حدثهم عن الحسن قال نا عبد الله بن عمر انه طلق امرأته تطلیقة و هی حائض ثم اراد ان یتبعها بتطلیقتین اخریین عند القرائن فبلغ ذلك رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فقال یا ابن عمر ما هکذا امرك الله انك قد اخطات السنة . والسنة ان تستقبل الطهر فیطلق لکل قروء قال فامرنی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فراجعتها ثم قال اذا هی طهرت فطلق عند ذلك او امسك فقلت یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارایت لو انی طلقتها ثلثاً کان یحل لی ان اراجعها قال لا کانت تبین منك و تکون معصیه (سنن دار قطنی ج ۲ ص ۴۳۸) (زاد المعاد ج ۲ ص ۲۵۷)(مصنف ابن ابی شیبه بحواله عینی شرح کنز ص ۱۴۱) (سنن دار قطنی ج ٤ ص ۳۱ مطبوعه قاهره).

د حضرت حسن بیان دی چې مونږ ته حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما بیان کړ چې هغه خپلې ښځې ته د حیض په حالت کې یو طلاق ورکړ، بیا یې اراده وکړه چې پاتې دوه طلاقه وروسته دوه طهرونو کې ورکړي، محمد صلی الله علیه وسلم ته د دی اطلاع وشو. نو هغه صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل: ای ابن عمره ! الله تعالی تاته داسې حکم نه دی کړی، تا د سنت له طریقې نه مخالفت کړی دی (چې د حیض په حالت کې دی طلاق ورکړی دی.) د سنت طریقه دا ده چې د طهر انتظار وکړی شي او په هر طهر کې یو یو طلاق ورکړی شي. لدینه وروسته محمد صلی الله علیه وسلم ماته د رجوع کولو حکم وکړ او ما رجوع وکړه. بیا یې وفرمایل: کله چې هغه پاکه شي نو تاته اختیار دی، که خوښه دی وي طلاق ورته ورکړه او یا یې له خان سره وساته. حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چې: ما وروسته بیا له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې که ما دری طلاقه ورکړی وای نو ایا ماته د رجوع کولو جواز و؟ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نه جائز درته نه و، په دی صورت کې ښخه له تانه جدا کیدله. خو ته په یو خای د دریو طلاقو ورکولو په وجه گنهکاریدلی. (دارقطنی ج ۲ ص ۳۳۸)

په دی حدیث کي محمد صلی الله علیه وسلم په صراحت سره ویلی دي چې که تا دري طلاقه نو ځای ورکړی وای نو تاته رجوع کول جائز نه و. نو ځکه عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما به د دریو طلاقو د واقع کیدو فتوه ورکوله او نسبت به یې محمد صلی الله علیه وسلم ته کاو.

و قال الليث عن نافع كان ابن عمر اذا سئل عمن طلق ثلاثا قال لو طلقت مرة او مرتين (لكان لك الرجعه) فان النبي صلى الله عليه واله وسلم امرني بهذا (اى بالمراجعة) فان طلقها ثلاثاً حرمت حتى تنكح زوجاً غيره (بخارى شريف ج ٢ ص ٧٩٢ باب من اجاز طلاق الثلث نيز ج ٢ ص ٨٠٣).

ترجمه: حضرت نافع فرمایي: کله به چې د هغه څخه په هکله فتوه غوښتل کیده چې خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی وي، نو هغه رضي الله عنه به ویل: که تا یوه یا دوه طلاقه ورکړي وای نو رجوع دی کولی شوه، ځکه چې محمد صلی الله علیه وسلم ماته د دی (د رجعت) حکم راکړی و، او که دری طلاقه ورکړی نو ښځه دربانديحرامیږي. تر هغه چې له بل سړی سره نکاح وکړي، او بیا دویم خاوند پخپله خوښه طلاق ورکړي یا مړ شي نو د عدت له تیریدونه وروسته د لومړي خاوند لپاره حلالیږي. (بخاري شریف، ج ۲ ص ۷۹۲ باب من اجاز طلاق الثلث، و نیز ج ۲ ص ۸۰۳)

په مسلم شریف کي هم د هغه فتوه منقوله ده.

و كان عبد الله اذا سئل قال لاحدهم اما انت طلقت امراتك مرة او مرتين فان رسول الله صلى الله عليه وسلم امرنى بهذا و ان كنت طلقتها ثلاثاً فقد حرمت عليك حتى تنكح زوجا غيرك و عصيت الله فيما امرك من طلاق امراتك (مسلم شريف ج ١ ص ٤٧٦ باب طلاق الثلث).

د صحیحینو په مذکوره روایت کي د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دا فرمان: (فان رسول الله صلی الله علیه وسلم امرنی بهذا) د دغي واقعي په طرف اشاره ده چې بره په مفصل ډول د دارقطني په حواله بیان شو. د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما له دغو دواړو فتوو څخه چې بخاري او مسلم روایت کړی دی د دارقطني د روایت تائید کیږي. د دارقطني د دغه روایت په هکله ویل کیږي چې امام بیهقي فرمایلي دي چې په دی کي عطا خراساني له خپل طرف نه څه زیاتوالی کړی دی او

هیچ چا د هغه موافقت نه دی کړي او عطا خراسانی پخپله ضعیف دی. کوم روایت چې دا پخپله روایت کړي. هغه مقبول نه دي
مګر علامه ابن همام فرمایی: امام بیهقی چې عطا خراساني ته ضعیف ویلی دي هغه مردود دی ځکه چې د عطا خراسانی موافقت په سند او متن کې شعیب ابن زریق هم کړی دی چې طبرانی هغه نقل کړی دی. (تفسیر مظهري عربي ج ۱ ص ۳۰۱_ اردو ج ۱ ص ۴۹۵ _ فتح القدیر ج ۳ ص ۳۲۸ کتاب الطلاق باب طلاق السنته)
د عطاء خراسانی په اړه محدث علامه حبیب الرحمن دامت برکاتهم تحقیق هم ولولئ:
د حدیثو اکابرو، ماهرینو او مسلمانانو ائمه و له عطاء خراسانی څخه روایت کړی دی.
بلکی د هغوی له شاګردانو څخه داسې حضرات هم شته چې له چانه د هغوی روایت کول د هغه د ثقاهت لپاره کافی سند دی، لکه شعبه، مالک. او له هغوی نه علاوه امام ابو حنیفه، معمر، سفیان ثوري، امام اوزاعي هم له هغه نه روایت کړی دی. د ماهرو رجالو څخه هغه خلک چې شرطونه یې ډیر سخت دي هغوی د عطاء توثیق کړی دی.
مثلاً امام نسائی هغه ته لا باس به ویلی دي. او ابو حاتم ورته ثقه محتج به یعنی معتبر او له هغه نه حجت نیول جائز ویلی دي. له دغو حضراتو نه علاوه امام احمد، بن معین او عجلی ورته ثقه ویلي دي. یعقوب بن شیبه ورته ثقه معروف بالفتوی والجهاد (یعنی معتبر او په جهاد کې مشهور دی.) دارقطنی ورته ثقه فی نفسه الا انه لم یدرک ابن عباس (یعنی پخپل ځای ثقه دی.) مګر هغه ابن عباس نه دی لیدلي. همدغه راز ترمذي د هغه په باره کې ویلی دي چې:
(عطآء ثقه روی عنه ما لک و معمر و لم اسمع احدا من المتقدمین تکلم فیه).
یعنی عطاء ثقه او معتبر دی له هغه نه مالک او معمر حدیث اوریدلي دی. ما نه دي اوریدلي چې له متقدمینو څخه چا د عطا په باره کې کلام کړی وي. او ترمذي د هغه خینو احادیثو ته حسن صحیح ویلی دي. او حافظ بن حجر هم په القول المسدد ص ۴۵ کې د عطاء یو روایت ته قوي ویلی دي. له بخاري نه علاوه ټولو د هغه روایتونه نقل کړی دي. امام مسلم خو ترینه استدلال هم کړی دی. الی قوله. د کلام حاصل دا چې د مذکوره حدیث اسناد قوي دي او لدې حدیث نه احتجاج او استدلال هم صحیح دی. خینو خلکو چې د دی په اسناد کې کوم کلام کړی او عیب یې وربانـدې لګولی دی هغه نهایت لغوه او د محدثینو له اصولو څخه په ناخبري مبني ده. (اعلام مرفوعه ص ۹_۱۰).

(۳): حدثنا احمد بن محمد بن سعیدنا یحیی بن اسماعیل الجریری نا حسین بن اسماعیل جریری نا یونس بن بکیرنا عمر و بن شمر عن عمران بن مسلم و ابیراهیم بن عبد الاعلی عن سوید غفله قال لما مات علی رضی الله تعالی عنه جاءت عائشه بنت خیفة الخثعمیة امراة الحسن بن علی فقالت له لتهنك الا مارة فقال لها تمنیني بموت امیر المؤمنین انطلقی قالت طالق ثلاثاً فتقنعت بثوبها او قالت انی لم ارد الا خیرا فبعث الیها بمتعة عشره الاف و بقیة صداقها فلما وضع بین یدیها بکت و قالت متاع قلیل من حبیب مفارق فاخبره الکرسلو فبکی و قال لو لا انی ابنت الطلاق لها لراجعتها لکنی سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول ایما رجل طلق امراته ثلاثا عند کل طهر تطلیقه او عند راس کل شهر تطلیقه او طلقها ثلاثاً جمیعاً لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (سنن دار قطنی ج ۲ ص ۴۳۸ کتاب الطلاق والخلع و الایلاء) (بیهقی ج ۷ ص ۳۳۶ باب ما جآء فی امضاء الطلاق الثلاث).

د دغه روایت خلاصه دا ده چې حضرت حسن بن علی رضی الله عنهما یو خل خپلې ښځې عائشه خثعمیه ته په دی لفظ طلاق ورکړ (انطلقی فانت طالق ثلاثاً) یعنی ته لاړه شه ته په دریو طلاقو طلاقه یې. عائشه ترینه لاړه، وروسته حضرت حسن ته معلوم شو چې عائشه ډیره خفه او پریشانه ده نو په ژړا شوه او ویی فرمایل: که بائنه طلاق مې ورته نه وای ورکړی نو رجوع به مې ورته کړی و. ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دی (او په یو بل روایت کې دي که چیرته ما له خپل پلار نه او هغه زما له نیکه محمد صلی الله علیه وسلم څخه نه وای اوریدلی.) چې کوم سړی چې خپلې ښځې ته دری طلاقه داسې ورکړي چې په هر طهر کې یو طلاق ورکړي یا د هر میاشتې په شروع کې یو طلاق ورکړي یا دری طلاقه یو ځای ورکړي، نو ترڅو پورې چې دا ښځه له بل سړي سره نکاح ونه کړي د لومړی خاوند لپاره نشي حلالیدلې. (که ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فیصله نه وای اوریدلې نو رجوع به مې کړی و.)

(۴) د حضرت عویمر عجلانی رضی الله عنه په واقعه کې دي:

فلما فرغا قال عویمر کذبت علیها یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ان امسکتها طلقها ثلاثا (بخاری شریف ج ۲ ص ۷۹۱ باب من اجاز طلاق الثلث . نیز ج ۲

ص ۸۰۰) (مسلم شريف ج ۱ ص ٤٨٩) (نسائى شريف ج ۲ ص ۸۱ باب الرخصة فى ذلك اى الثلاث المجموعة) (ابو داؤد شريف ج ۱ ص ۳۱۲) (موطا امام مالك ص ۲۰٦).

يعنى كله چې حضرت عويمر او د هغه ښځه له لعان نه فارغ شول نو عويمر وويل: كه زه اوس دا له خپل خان سره وساتم نو د دى مطلب به دا وي چې ما دروغ ويلي دي. بيا هغه خپلې ښځې ته درى طلاقه وركړل. (بخاري شريف ج ۲ ص ۷۹۱ باب من اجاز طلاق الثلث، ج ۲ ص ۸۰۰ ـ مسلم شريف ج ۱ ص ۴۸۹ ـ نسائي شريف ج ۲ ص ۸۱ باب الرخصه في ذلک اى الثلاث المجموعه ـ ابو داؤد شريف ج ۱ ص ۳۱۲ ـ موطا امام مالک ص ۲۰٦.)

حضرت عويمر عجلانى رضى الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم په وړاندې په يو مجلس كې درى طلاقه واچول، په يو روايت كې هم دا نه دى راغلي چې محمد صلى الله عليه وسلم په هغه نكير كړى وي او درى طلاقه يې په يو حساب كړى وي. د محمد صلى الله عليه وسلم سكوت كول په دى خبره دلالت كوي چې درى طلاقه په يو ځاى واقع كيږي.

او دا دومره واضح دليل دى چې ابن حزم ظاهري د دغه حديث په تشريح كې فرمايلى دي:

(ولولا وقوع الثلاث مجموعه لا نكر ذلک عليه.)

كه چيرته په يو ځاى درى طلاقه نه واقع كيدلې نو خامخا به محمد صلى الله عليه وسلم به وربادې نكير كړى و. او بخاري هم دغه حديث (باب من اجاز طلاق الثلاث.) د دى خبرې يادونه كړى ده. گويا امام بخاري لدې حديث نه د دريو طلاقو واقع كيدل منلى دى او د استلال په توګه يې دغه حديث په دى باب كې بيان كړى دى.

امام نسائى وړاندې يو باب قائم كړى دى. (الثلاث المجموعة و ما فيه من التغليظ.) او لدينه وروسته يې باب قائم كړى دى: (باب الرخصة فى ذلك.) او په دى دويم باب كې د حضرت عويمر مذكوره حديث يې بيان كړى دى. ابو داؤد هم د دى روايت كړى دى او په يو بل روايت كې چې د حضرت عويمر د واقعې په متعلق دى. په دى كې دا هم تصريح دى.

(عن ابن شهاب عن سهل بن سعد فی هذا الخبر قال : فطلقها ثلاث تطليقات عند رسول الله صلی الله علیه واله وسلم).

یعنی عویمر رضی الله عنه خپلې ښځې ته د محمد صلی الله علیه وسلم په وړاندې دری طلاقه ورکړ او محمد صلی الله علیه وسلم هغه نافذ کړ. (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۲۱۳ باب اللعان.)

د حضرت فاطمه بنت قیس حدیث چې د ابن ماجه په سنن کې روایت شوی او ابن ماجه پخپله لدې حدیث نه د دریو طلاقو په واقع کیدو استدلال کړی دی. هغه په دی باب یو عنوان قائم کړی دی. (باب من طلق ثلاثاً فی مجلس واحد)یعنی دا باب د هغه شخص په هکله دی چې په یو مجلس کې دری طلاقه ورکړي.) او په دی باب کې یې دا حدیث ذکر کړی دی.

حدثنا محمد ..... عن عامر الشعبی قال قلت لفاطمه بنت قیس حدثینی عن طلاقك فقالت طلقنی زوجی وهو خارج الی الیمن فاجاز ذلك رسول الله صلی الله علیه واله وسلم (ابن ماجه ص ۱٤۷).

یعنی عامر شعبی وایي چې ما فاطمه بنت قیس ته وویل، ته د خپل طلاق قصه ماته بیان کړه. هغه وویل: زما خاوند یمن ته تللی و، له همغه ځایه نه ماته دری طلاقه ولیږل. محمد صلی الله علیه وسلم د هغه دری واړه طلاقه د واقع کیدو فتوه ورکړه. (ابن ماجه ص ۱۴۷.)

د حضرت فاطمه بنت قیس رضی الله عنها دا واقعه نسائی هم (باب الرخصة فی ذلك.) (ای الثلاث المجموعة.) کې په دی سند سره بیان کړی دی.

قال حدثنی ابو مسلمة قال حدثنی فاطمة بنت قیس ان ابا عمرو بن حفص المخزومی طلقها ثلاثاً فانطلق خالد بن الولید فی نفر من مخزوم الی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فقال یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ان ابا عمرو بن حفص المخزومی طلق فاطمه ثلاثاً ..... الخ (نسائی شریف ج ۲ ص ۸۲) (ابو داؤد ج ۱ ص ۳۱۶).

په دارقطنی کې هم دغه روایت په دی الفاظو روایت شوی دی

حدثنا ابو عبيد القاسم بن اسماعيل ..... ناسلمة بن ابى سلمة عن ابيه انه ذكر عنده ان الطلاق الثلاث بمرة مكروه فقال طلق حفص بن عمرو بن ابى سلمة عن ابيه انه ذكر عنده ان الطلاق الثلاث بمرة مكروه فقال طلق حفص بن عمرو بن المغيرة فاطمة بنت قيس بكلمة واحدة ثلاثاً فلم يبلغنا ان النبى صلى الله عليه واله وسلم عاب ذلك عنيه (دار قطنى ج ۲ ص ٤٢٩ ص ٤٣٠ كتاب الطلاق و الخلع ..... الخ).

لنډه دا چې د حضرت فاطمه بنت قيس له ګنو روايتونو څخه ثابتيږي چې فاطمې ته د هغې خاوند درې طلاقه په يو وخت کې ورکړی وي او محمد صلی الله عليه وسلم هغه درې نافذ کړي و علامه ابن حزم هم دېته راجح ويلی دی. او له کومو روايتونو څخه چې د دی خلاف معلوميږي د هغه ځواب يې ورکړی دی. (محلی ج ۱۰ ص ۱۷۱_۱۷۲ کتاب الطلاق.)

(٦): دارقطني له حضرت علی رضی الله عنه څخه روايت کړی دی:

عن على قال سمع النبى صلى الله عليه واله وسلم رجلاً طلق البته فغضب و قال تتخذون آيات الله هزواً . و دين الله هزواً و لعباً من طلاق البته الزمناه ثلاثاً لا تحل له حتى تنكح زوجاً غيره (سنن دار قطنى ج ۲ ص ٤٣٣ كتاب الطلاق والخلع) (اغاثه اللهفان ص ٣٥٦).

له حضرت علی کرم الله وجهه نه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو سړي په هکله واوريدل چې هغه خپلې ښځې ته طلاق البته ورکړی دی (د البته له لفظ نه يو طلاق مراد وي او د دريو طلاقو نيت هم کيدای شي.)

محمد صلی الله عليه وسلم غصه شو او ويې فرمايل: چې د الله تعالی له آيتونو سره مذاق کوي. هرڅوک چې درې طلاقه ورکړي مونږ د هغه درې طلاقه واقع کوو، او تر هغه به خپله ښځه ورته نه حلاليږي ترڅو پورې چې له بل سړی سره نکاح ونکړي. (دارقطني ج ۱ ص ۴۳۳.)

ناسې غور وکړئ چې محمد صلی الله عليه وسلم ناراض شو مګر د هغه با وجود وفرمايل چې هر څوک خپلې ښځې ته البته طلاق ورکړي مونږ درې واړه لازموو.

د دې په تائيد کې يو بل روايت ولولئ:

(۷) په دارقطنی کښې حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی حدثنا

محمد محمد بن مخلد ..... قال سمعت معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه یقول سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول یا معاذ من طلق للبدعه واحده او اثنین او ثلثاً الزمناه (دار قطنی ج ۲ ص ۴۴۳ – ٤٤٤ ایضا) (اغاثة اللهفان ص ۳۵۵ – ۳۵٦).

په مصنف عبدالرزاق کښې يو روايت په دغو الفاظو روايت دی:

عن ابراهيم بن عبيد الله بن عبادة بن الصامت عن ابيه عن جده قال طلق بعض ابائی امراته الفاً فانطلق بنوه الی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فقالوا یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ان ابانا طلق امنا الفاً فهه له من مخرج فقال ان اباکم لم یتق الله فیجعل له من امره مخرجاً بانت منه بثلاث علی غیر السنة و تسع مائة و سبعة و تسعون اثم فی عنقه (دار قطنی ج ۲ ص ٤٣٣ ایضاً) (زاد المعاد ج ۳ ص ۳۳۰).

په مصنف عبدالرزاق کښې دا روايت په دي الفاظ دي:

عن عبادة بن الصامت ان اباه طلق امراته الف تطليقه فانطلق عبادة فساله رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فقال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم بانت بثلاث فی معصية الله تعالی و بقی تسعمائة و تسعون عدواناً و ظلماً ان شاء عذبه الله و ان شاء غفرله (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۹۳) (فتح القدير ج ۳ ص ۳۳۰).

حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه وايی چې د هغه پلار خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړل. هغه د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او دا واقعه يې ورته بيان کړ، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې د هغه ښځه په دريو طلاقو سره بائنه شوی ده او پاتی نور ۹۹۷ طلاقه ظلم او عدوان دی، که الله وغواړي نو د دی ظلم سزا ورکړي، او که وغواړي نو معاف يې کړي. (دا حديث طبرانی هم روايت کړی دی)

... حدي روايت كړى دى او مصنف عبدالرزاق كې بعض آبايي روايتونه دي. په فتح القدير كې علامه ابن همام له مصنف عبدالرزاق نه بعض آباني نقل دي ... هم دا خبره ده چې دا واقعه د حضرت عباده رضى الله عنه د پلار وه
به هر حال واقعه چې د هرڅا وي خبره بالكل واضحه ده چې په يو دم زر طلاقه وركړي وې محمد صلى الله عليه وسلم درى طلاقه يو ځاى واقع كيدل نافذ كړل او نورو ته يې كناه وويل.

۹. امام بخاري رحمه الله له ام المومنين حضرت عائشه صديقه رضى الله عنها څخه روايت كړى دى:

ان رجلاً طلق امرأته ثلاثاً فتزوجت فطلق فسئل النبى صلى الله عليه واله وسلم اتحل للاول قال لا حتى يذوق عسيلتها كما ذاق الاول (بخارى شريف ج ۲ ص ۷۹۱ باب من جاز طلاق الثلاث) (مسلم شريف).

يعنى يو سړي خپلې ښځې ته درى طلاقه وركړل بيا هغې له بل سړي سره نكاح وكړه، هغه ورته له صحبت كولو نه پرته طلاق وركړه. له محمد صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه چې آيا دا ښځه د مخكينى خاوند لپاره حلاله شوه؟ محمد صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ترڅو پورې چې له دويم خاوند سره صحبت (جماع) ونكړي لومړى خاوند لپاره نه حلاليږي (بخارى او مسلم.)

دا حديث په دى دلالت كوي چې په يو وخت كې وركول شوي درى طلاقه نافذى دي. (فتح البارى شرح البخارى كې دي:

فالتمسك بظاهر قوله طلقها ثلاثاً فانه ظاهر فى كونها مجموعة (ج ۹ ص ۳۲۱ باب من اجاز طلاق الثلث) (عمدة القارى شرح).

شرح صحيح البخاري كې دي:

مطابقته للترجمة فى قوله طلق امرأته ثلاثاً فانه ظاهر فى كونها مجموعه (ج ۱۰ ص ۲۳۷).(باب امضاء الطلاق و ان كن مجموعات).

په سنن كبرى كې باب امضاء الثلاث، تر عنوان لاندې حديث راوړى دى:

(۱) د حضرت عباده پلار په اصحابو كې نه دى تير شوى »

عن عائشة رضى الله تعالى عنها ان رجلاً طلق ثلاثاً فتزوجت فسئل النبى صلى الله عليه واله وسلم اتحل للاول قال لا حتى تذوق عيلته كما ذاق الاول (ج ۲ ص ۳۳٤).

(۱۰): عن صفوان بن عمر الطائى ان امرأة كانت تبغض زوجها فوجدتها نائما فاخذت شفراة و جلست على صدره ثم حركته و قالت لتطلقنى ثلاثاً او لا ذبحنك فناشدها الله فابت فطلقها ثلاثاً ثم جآء الى رسول الله صلى الله عليه واله وسلم فسأله عن ذلك فقال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم لا قيلولة فى الطلاق . رواه محمد باسناده (زجاجة المصابيح ج ۲ ص ٤٧٢ باب الخلع والطلاق) (انوار السنن ص ١٨٤).

له صفوان بن عمر څخه روايت دى چې د يوى ښځې خپل خاوند خوښ نه و، يو ځل يې هغه ويده وليد پر سينه يې چاړه كيښوده او ورته يې وويل ماته درى طلاقه راكړه كه نه نو زه به تا ذبح كوم، خاوند ورته قسم وخوړ چې زه به تاته وروسته طلاق دركوم، ليكن ښځې انكار وكړ، خاوند يې مجبور شو او ښځې ته يې درى طلاقه وركړل. لدينه وروسته هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او په دى باره كې پوښتنه ترينه وكړه، هغه صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: په طلاق كې چشم پوشي نشته. تلك عشرة كاملة.

د غير مقلدينو په مستدلاتو باندې يو نظر

(۱): د ابن عباس رضى الله عنه حديث:

د اصحابو د اثارو له نقلولونه مخكې مناسب ښكاري چې غير مقلدين له كومو دوو احاديثو څخه استدلال كوي د هغوى په متعلق عرض وكړى شي.

لومړى د مسلم حديث وړاندې كولې شي چې راوي يې عبدالله بن عباس رضى الله عنهما دى. د دى مضمون دا دى:

ابوالصهبا له حضرت ابن عباس نه پوښتنه وكړه چې آيا تاته نه دى معلوم چې په نبوي او صديقي زمانه كې، همدغه راز د فاروقي زماني په ابتداء كې درى طلاقه يو حسابيده. حضرت ابن عباس رضى الله عنه وفرمايل: هو راته معلوم دى. ليكن كله چې خلكو په

کثرت سره طلاق ورکول شروع کړ نو حضرت عمر رضی الله عنه دری واړه طلاقه نافذ کړل. (مسلم شریف)

(لومړی خواب): د دی حدیث لومړی خواب دا دی چې دا حدیث ابو داؤد هم روایت کړی دی، او لدې روایت نه دا معلومیږي چې دا روایت د غیر مدخوله په متعلق دی نه عام.

ښځې په دوه قسمه دي، یوه غیر مدخوله یعنی د چا سره چې صحبت نه وي شوی. بله مدخوله یعنی له کومی ښځې سره چې صحبت شوي وي. که چیرته غیر مدخوله ښځې ته جلا جلا الفاظو کې دا رنګه طلاق ورکړل شي چې ته طلاقه یې، ته طلاقه یې، ته طلاقه یې. نو په لومړی لفظ سره هغه بائنه کیږي، یعنی له هغه له نکاح نه اوځي او پر داسې ښځه عدت هم نه دی لازم. پس کله چې دا ښځه په لومړی لفظ سره بائنه کیږي او وربانديې عدت هم نشته نو لدینه پس هغه د طلاق محل پاتی نه شوه نو ځکه لومړی او دوهم طلاق لغو او هدر کیږي. په دی لحاظ سره په حدیث کې ویل شوي دي چې که چیرته دری طلاقه ورکړي نو یو واقع کیږي. د محمد صلی الله علیه وسلم، ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما په ابتدایی زمانه کې غیر مدخولی ته د طلاق ورکولو همدغه طریقه ده، مګر وروسته خلکو له عجله او بیړی نه کار واخیست او غیر مدخولی ته هم په یو ځای په یو لفظ کې دری طلاقه ورکول، نو عمر رضی الله عنه وفرمایل: چې اوس نو دری طلاقه واقع کیږي ځکه چې انت طالق ثلثاً په لفظ سره طلاق ورکړی دی، او دا لفظ نیی د نکاح د قائم کیدو په حالت کې ویلي دي. (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۳۰۶.) [1]

(دویم خواب): د محمد صلی الله علیه وسلم، ابوبکر صدیق او د عمر رضی الله عنهما په ابتدائی زمانه کې به چې انت طالق وویل شو نو عموماً خلکو د دویم او دریم طلاق

---

[1] - (انت طالق ثلثا (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۳۰۶) ص ۳٤۲

عن طاوس من ان رجلاً یقال له ابو الصهباء کان کثیر السوال کان اذا طلق امراته ثلاثاً قبل ان یدخل بها جعلوها واحده علی عهد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم و ابی بکر وصدر من اماره عمر قال ابن عباس بلی کان الرجل ان طلق امراته ثلاثاً قبل ان یدخل بها جعلوها واحدة علی عهد رسول الله صلی الله علیه واله وسلم و ابی بکر رضی الله تعالی عنه و صدرا من اماره عمر فلما رای الناس قد تتابعوا فیها قال اجیزوهن علیهم باب بقیة نسخ المراجعة بعقد التطلیقات الثلث.

سره د تاکید نیت به درلوده نه د استیناف نیت. په هغه زمانه کې تقوی، د اخـرت او الله نه ویره زیاته وه، د دنیا لپاره دروغ ویل د هغوی په زړونـو کـې کلـه هـم نـه راتلـو. پـه آخرت کې له ځواب ورکولو او عذاب ځخه به دومره ډاریدل چې مجرم به پخپلـه راتلـو او د جرم اقرار به یې کاو، پخپل ځان باندې به د شرعی حـد د جـاري کیـدو غوښتنـه کوله. نو ځکه د هغوی په خبره به یقین کاو او د یوه طلاق حکم بـه ورکـول کیـده، نـو ځکه په حدیث کې ویل شوي دي چې په هغه زمانه کې دری طلاقه یـو طـلاق شـمارل کیدل. لیکن کله چې خلک د نبوي زمانې وروسته شول او ډیر عجمی د اسلام پـه دیـن مشرف شول په هغوی د تقوی، ویرې او د آخرت پروا مخ په کمیدو لاړ، د پخوا پـه شـان ربنتونولي، امانت او دیانت پاتی نه شو، د دنیا او ښځې په خاطر دروغ ویل شروع شـول چې اندازه یې له دی،لاندینی واقعی نه ښه لګیدلی شي:

حضرت عمر رضی الله عنه ته له عراق نه یو سرکاری خط راغی چـې دلتـه سـړي خـپلې ښځې ته دا جمله ادا کړی ده: حبلک علی غار بک. (ستا پړی ستا پر غاړه ده.) عمر بـن خطاب رضی الله عنه خپل عامل ته ولیکل: (ان مرة ان یوفینی بمکة فی الموسم.) هغه ته ووایه چې د حج په موسم کې له ما سره په مکه مکرمه کې ووینې.

حضرت عمر رضی الله عنه د حج په زمانه کـې د کعبـې طـواف کـاو چـې هغـه عراقـی شخص له عمر رضی الله عنه سره ملاقات وکړ، عمر رضی الله عنـه ورتـه وویـل تـه څـوک یې؟ هغه ورته وویل: انا الرجل الذی امرت ان اجلب علیک. یعنی زه هغه څوک یم چـې تاسې د حج په موسم کې راغوښتی وم. عمر رضی الله عنه ورته وویل: تاتـه د کعبې پـه رب قسم درکوم ته رښتیا ووایه چې (حبلک علی غاربک.) څخه ستا څه نیت و؟ هغه ویـل: یا امیرالمومنین!

لو استخلفتنی فی غیر هذا الموضع ما صدقتك اردت بهذا الفراق.

ای امیرالمؤمنین! که تاسې له دی مبارک ځای نه علاوه په بل ځای کـې لـه مانـه قـسم آخستی وای نو ما به درته رښتیا نه وو ویلي. حقیقت دا دی چې ما لـه دی جملـې نـه د فراق یعنی له خپلې نکاح نه د خپلې ښځې د جـدا کولـو اراده کـړی وه. حضـرت عمـر رضی الله عنه ورته وفرمایل: ستا ښځه ستا د ارادی په مطابق له تانه علیحـده شـوی ده.

(موطا امام مالك ص ۲۰۰ جاء فی الحلیتة والبریة و اشباه ذلك.)

باسي حيله غور وكړي چې دغه عراقي د خپلې ښځې لپاره دروغ ويلونه تيار و مكر د كعبه الله او حرم شريف د عظمت او تقدس په خاطر له دروغ ويلونه ډډه وكړه.
حضرت عمر رضى الله عنه چې د خلكو دا حالت وليد او حديث شريف:
(اكرموا اصحابي ثم الذي يلونهم ثم الذين يلونهم ثم يظهر الكذب.)
باندې غور وكړ نو له اصحابو سره يې مشوره وكړه چې كه اوس دا حالت دى نـو آينـده حالت به څنګه وي؟ خلک به د خپلو ښځو د عليحده كولو په نيت درى طلاقـه وركـوي او بيا به دروغ وايي چې مونږ له دى نه يو طلاق نيت كړى و، نو عمـر رضـى الله عنـه د درواغو د دغې دروازى بندولو لپاره فيصله وكړه چې خلكو په داسې كار كې له بيړى نـه كار اخستى دى چې په هغه صبر كول ورته پكار و، اوس چې هرڅوک خپلې ښځې ته يـو ځاى درى طلاقه وركړي نو مونږ هغه درى طلاقه حسابوو. اصحابو كرامـو د عمـر رضـى الله عنه له دى فيصلې سره موافقه وكړه او هيڅ يو اصحابى د عمر رضـى الله عنـه د دى فيصلې مخالفت ونكړ. لكه چې امام طحاوي ليكي:
فخاطب عمر رضى الله تعالى عنه بذلك الناس جميعاً و فيهم اصحاب رسول الله صلى الله عليه واله وسلم و رضى عنهم الذين قد علموا ما تقدم من ذلك فى زمن رسـول الله صلى الله عليه واله وسلم فلم ينكره عليه منهم منكر و لم يدفعه دافع.
حضرت عمر رضى الله عنه ټولو خلكو ته خطاب وكړ، په دغـو خلكـو كـې هغـه اصحاب كرام هم وو چې له دى خبرې نه واقف وو چې په نبوى زمانـه كـې د دريـو طلاقـو څـه حكم و؟ مګر بيا هم له هغوى نه يو اصحابى هم د حضرت عمر رضـى الله عنـه لـه دى فيصلې سره مخالفت ونكړ. (طحاوى شريف ج ۲ ص ۲۹ باب الرجـل ان يطلـق امرائتـه ثلاثاً معاً.)
محقق علامه ابن همام وايي:
لم ينقل عن احد منهم انه خالف عمر حين امضى الثلاث و هى يكفى فى الاجمـاع
(حاشيه ابو داؤد ج ۱ ص ۳۰۶ باب بقيه نسخ المراجعه بعد التطليقات الثلث).
يعنى له يو اصحابى نه هم دا نـه ده منقولـه چـې كلـه حضـرت عمـر رضـى الله عنـه د اصحابو په موجوديت كې د دريو طلاقو فيصله وكړه نو له هغو نه يو صحابى دى هم لـه حضرت عمر رضى الله عنه سره مخالفت كړى وي. او همدا خبره د اجمـاع لپـاره كـافى ده. (حاشيه ابو داؤد ج ۱ ص ۳۰۶ باب بقيه نسخ المراجعه بعد التطليقات الثلث.)

امام نووی د دغه حدیث په شرح کې لیکي

فاختلف العلماء فی جوابه و تاویله فالاصح ان معناه انه کان فی الامر الاول اذا قال لها انت طالق انت طالق انت طالق و لم ینو تاکیدا ولا استینافا یحکم بطلقه لقلة ارادتهم الاستیناف بذلك فحمل علی الغلب الذی هو ارادة التاکید فلما کان فی زمن عمر رضی الله تعالی عنه و کثر استعمال الناس بهذه الصیغة و غلب منهم ارادة الاستیناف بها حملت الا طلاق علی الثلاث عملاً بالغالب السابق الی الفهم (نووی ج ۱ ص ٤٧٨ باب طلاق الثلاث).

یعنی د ابن عباس د حدیث بالکل صحیح تاویل او مراد دا دی چې په لومړی سر کې به چا انت طالق، انت طالق، انت طالق، په ویلو طلاق ورکاو نو عموماً په دی زمانه کې د دویم او دریم طلا سره د تاکید نیت کیده. نه د استیناف. کله چې د حضرت عمر رضی الله عنه زمانه راورسیده او خلکو دا جمله په کثرت سره استعماله کړه او د هغوی نیت به د اسیناف و نو ځکه د عرف په بناء د دریو طلاقو حکم کیدو. (نووی شرح مسلم ج ۱ ص ۴۷۸.)

د ابن عباس د حدیث مطلب د محدثینو په نظر کې همدا و، او همدغه تشریح او مقصد صحیح هم دی. کوم مطلب چې غیر مقلدین بیانوي هغه صحیح نه دی، ځکه چې د حدیث راوي پخپله عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما د دریو طلاقو د نفاذ فتوی جاري کړی ده چې ډیر ژر به هغه رانقل کړو.

علامه ابن قیم هم په دی مسئله کې د ابن عباس د فتوی چې په یو مجلس کې یو ځای دری طلاقه ورکول دری واقع کیږي او لدینه وروسته د رجوع کولو حق نه لری، مخالفت نه دی کړی بلکی صحیح یې ګرځولی ده. هغه لیکي:

فقد صح بلاشك عن ابن مسعود و علی و ابن عباس الالزام بالثلاث ان اوقعها جملة (اغاثة اللفهان ص ۱۷۹).

یعنی له حضرت ابن مسعود، حضرت علی او حضرت ابن عباس رضی الله عنهم څخه په یو ځای ورکول شوي دری طلاقه لازمول له څه شک او شبهې نه ثابت دی. (اغاثه اللهفان ص ۱۷۹)

په اعلام الموقعین کی هم همداسې راغلی دي. لدینه واضحه شوه چې د حضرت ابن عباس له فتوی نه د انکار کولو هیڅ گنجائش نشته.

(۲) د رکانه رضی الله عنه حدیث:

غیر مقلدین حضرات د رکانه رضي الله عنه په حدیث باندې زیات ناز کوي. له حضرت رکانه څخه روایت دی چې هغه خپلې ښځې ته د البته په لفظ سره طلاق ورکړی و. (چې په هغه کې له یوه نه تر دریو پورې د طلاق گنجائش دی.) که د یوی طلاق نیت وي نو یو طلاق واقع کیږي او که د دریو طلاقو نیت وي نو دری واقع کیږي. بیا لاړ محمد صلی الله علیه وسلم ته خبر ورکړ. حضرت رکانه د محمد صلی الله علیه وسلم په مخکې وویل: (والله ما اردت الا واحده.) په الله قسم چې ما د البته په لفظ سره د یو طلاق نیت کړی دی. محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: والله ما اردت الا واحده. نو هله محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: تا چې کوم نیت کړی دی همغه معتبر دی. د رکانه رضی الله عنه حدیث دا دی:

عن عبدالله بن یزید بن رکانه عن ابیه عن جده قال اتیت النبی صلی الله علیه واله وسلم فقلت یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم انی طلقت امراتی البته فقال ما اردت بها قلت واحده قال والله قلت والله قال فهو ما اردت (ترمذی شریف ج ۱ ص ۱٤٠ باب فی الرجل امراته البتته).

و فی سنن ابن ماجه : عن عبدالله بن علی بن زید بن رکانه عن ابیه عن جده انه طلق امراته البته فاتی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فساله فقال ما اردت بها ؟ قال واحدةً : قال والله ما اردت بها الا واحدةً ؟ قال والله ما اردت بها الا واحدةً قال فردها علیه (ابن ماجه شریف ج ۱ ص ۱٤۹ مجتبائی دهلی باب طلاق البتته) (ابو داوٗد شریف ج ۱ ص ۳٠۸ مجتبائی).

که چیرته یو طلاق واقع کیدای نو د قسم په ورکولو سره د یو طلاق د نیت مقررولو څه ضرورت و؟ محمد صلی الله علیه وسلم به ورته فرمایلی وو چې که د یو طلاق نیت کړی وي یا د دریو صرف یو طلاق واقع کیږي. له سوال خواب او قسم ورکولو څخه (۱) خبره واضحه کیږي چې که چیرته د دریو طلاقو نیت درلودی نو دری طلاققه واقع کیدل.

لهذا دا خبره قطعاً غلطه ده چې په یو مجلس کې په دریو طلاقو ورکولـو سـره یـو طـلاق واقع کیږي.

د دغه پورتنې حدیث صحت امام ابـو داوُد، ابـن حبـان، حـاکم، دارقطنـی او طنافسـی منلی دی. د دی برعکس غیر مقلدین حضرات چې په ثبـوت کـې د مسـند احمـد کـوم حدیث پیش کوي هغه د استدلال وړ نه دی. ځکه چې هیڅ یو محـدث د دی تصـحیح او تحسین نه دی کړی، بلکې د دی تضعیف کړی دی. او ډیر زیـات کمـزور ورتـه ویلـی دي. لکه چې حافظ ابن حجر په تلخیص کې دغه حدیث نقل کړی دی او فرمـایلی یـې دي: (و هو معلول ایضاً.) دا حدیث هم معلول یعنـی ضـعیف دی.(ص ۳۱۹.) او حـافظ ذهبی هم دا د اوود بن الحصین په مناکیرو کې شـمار کـړی دی. حـافظ بـن حجـر پـه بلوغ المرام کې دا روایت نقل کړی او لیکلی یې دي:

و قد روی ابو داؤد من وجه اخر احسن منه ان کانه ضوی مرأته سهیمة البتته (بلوغ المرام ص ۱۲۹). یعنی ابو داوُد په یوی بلی طریق سره چې د مسند احمد له طریـق نـه بهتره ده روایت کړی دی چې رکانه خپلې ښځې سهیمې ته د البته په لفـظ سـره طـلاق ورکړی و. (بلوغ المرام ص ۱۲۹.)

امام ابو داوُد فرمایي:

و حدیث نافع بن عجیر و عبدالله علی بن یزید بن رکانة طلق امراته البتته فردها الیه النبی صلی الله علیه واله وسلم اصح لا هم ولد الرجل و اهله اعلم به ان رکانه انمـا طلق امراته البته فجعلها النبی صلی الله علیه واله وسلم واحدةً (ابو داؤد شریف ص ۳۰۶ باب بنیة نسخ المراجعة التطلیقات الثلث).

یعنی د نافع بن عجیر روایت چې رکانه خپلې ښځې ته د البته پـه لفـظ طـلاق ورکـړ او محمد صلی الله علیه وسلم هغه ته د هغې ښځه واپس کړه:

دا روایت صحیح دی، ځکه چې د دی روایت راوي پخپله د حضرت رکانـه اولاد یعنـی کورنی یې ده، او د کور خلک په کورنیو مسـائلو ښـه پوهیـږي، د هغـه وینـا دا ده چـې رکانه خپلې ښځې ته د البته په لفظ سره طلاق ورکړی و چې محمد صلی الله علیه وسلم له هغه نه د قسم اخیستلو نه وروسته یو طلاق حساب کـړی و. (ابـو داوُد شـریف ص ۳۰۶ باب بقیه نسخ المراجعه بعدالتطلیقات الثلث.)

و اما الرواية التي رواها المخالفون ان ركانة طلقها ثلاثا فجعلها واحدة فرواية ضعيفة عن قوم مجهولين و انما الصحيح منها ما قدمنا انه طلقها البتة و لفظ البتة محتمل للواحدة والثلاث و لعل صاحب هذه الرواية الضعيفة اعتقد ان لفظ البتة يقتضي الثلاث فرواه بالمعنى الذي فهمه و غلط في ذلك (نووی شرح مسلم ج ۱ ص ۴۷۸ باب طلاق الثلاث).

د اصحابو کرامو رضوان الله علیهم اجمعین آثار او فتاوی .

الله جل جلا له خپل رسول ته تشریعی منصب ورکړی و . د هغه رسول خپل اصحاب د اجتهاد پر منصب فائز کړل ، همداسې دا نعمت چې د امت په برخه کې راغلی و امت ته هم لدینه څه حصه ورسیده ، څرنګه چې الله تعالی د خپل ذات او رسول ترمنځ د تفریق اجازه نه ورکوي همداسې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل ځان او اصحابو ترمنځ د تفریق اجازه نه ورکوي. په حقیقت کې دا انتهائي ناپوهي او بې لاری توب دی چې د امت کومه ډلي چې د هغوی او د رسول ترمنځ واسطه ده یعنی مونږ ته د هغه اقوال او افعال رسوي پر هغوی دی اعتماد ونکړی شي، کـه د الله رسول پخپل ژوند کی پر هغوی اعتماد کړی دی، له پا چا یا نو او د کفارو له قبائل سره خبری اتري د همغوی په معرفت کړی دی نو بیا هیڅ وجه نشته چې امت پر هغوی اعتماد ونکړي ، له کومی ډلی نه چې یو عالمګیر دین خور شوی دی کـه همغه ډله د اعتماد وړنه وي نو بیا لپاره دی د دی دین الله حافظ شي .

د همدغه اهمیت په نظر کی نیولو سره په حدیث کی دنا جیه فرقی نسبنه :

((ما انا علیه و اصحابی)) په ویلو سره د اصحابو کرامو سنت تـه یـو مستقل اهمیت او حیثیت ورکول شوی دی. څرنګه چې د محمد صلی الله علیه وسلم طریقه د الله تعالی له طریق نه جدا نه ده ، بالکل همداسې د اصحابو کرامو سنت د محمد صلی الله علیه وسلم له سنت نه جدا نه دی . نو ځکه د ناجیه فرقی لوی علامت دا دی چې د همغو دوه طریقو چې په حقیقت کی یوه دي پخپل پخپل ځای عزت او احترام وکړی شي او ورباندې عمل وکړی شي. خوارجو صرف د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ونیوه او د اصحابو یوه ډله یې کافر وګرځوله . همدغه د هغوی په ناحق کیدو لوی علامت دی

د هجرت په شپږم کال د صلح حدیبیه په وخت کې چې کله عروه ثقفي د قریشو له طرف نه د صلحې په شرائطو باندې د خبرو اترو لپاره راغی نو په کومو الفاظو چې د اصحابو کرامو د وفادارۍ نقشه هغوی د قریشو په وړاندې پیش کړه له هغه نه دا اندازه کیدلی شي چې د یو کافر په زړه کې د هغه خومره لوی اثر شوی و ؟ هغه وایي :

ما د قیصر. کسرا او نجاشي دربارونه لیدلي دي لیکن د مینې او عقیدت کوم منظر چې ما دلته ولیده هغه مې چیر ته نه دی لیدلې. کله چې محمد صلی الله علیه وسلم خبرې کوي نو ټول سرونه ورته ټیټ نیول کیږي او په محفل کې یو سکوت او خاموشي پیدا کیږي، هیڅوک د هغه په طرف نشي کتلی، د هغه صلی الله علیه وسلم د اودس اوبه او لاړې پر زمکه دپرې وتو لپاره څوک نه پر یږدي بلکې پخپلو لاسو کې نیسي او پر مخ سولوي. نو څکه مسلمان او کافران دواړه په دې خبره متفق دي چې لدینه زیات اطاعت د بل هیچا نه دی شوی .

د اصحابو کرامو له تاریخ نه دا ترلاسه کیږي چې له کتاب الله تعالی نه وروسته به هغوی د محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو تابعداري او لټه کوله . که هغه به یې ترلاسه نکړل نو پخپل اجتهاد باندې به یې فیصله کاو. او که چیر ته لدینه وروسته به د هغه صلی الله علیه وسلم سنت ترلاسه کړ نو له خپل قول نه به یې رجوع کاو او پر هغه به یې عمل کاو.

نو څکه په موجوده مسئله کې د دې خبرې له معلومیدونه وروسته چې د اصحابو کرامو فتوی څه ده ، دا خبره ترلاسه کیږي چې د محمد صلی الله علیه وسلم فیصله هم همدا ده.

سهل بن ابي حشمه رحمه الله فرمائی :

د محمد صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کې به شپږو تنانو د فتوی ورکولو کارو ته کول دري له مهاجرینو څخه وو او دري له انصارو څخه: (۱) عمر رضی الله (۲) عثمان بن عفان (۳) علی مرتضی (۴) ابی بن کعب (۵) معاذ بن جبل (٦) زید بن ثابت رضی الله.

او مسور بن مخرمه فرمائی چې د ټولو اصحابو کرامو علم په همدغو شپږو اصحابو کرامو ته رسیږي. کله به چې ابو بکر صدیق رضی الله عنه ته کوم مشکل پیدا شو نو له همدغو شپږو کسانو سره به یې مشوره کاو، بیا د عمر رضی الله عنه په زمانه کې هم همدغه

حضرات په فتوو کی د خلکو مرجع گڼل کیدل . (طبقات ابن سعد ج ۲ ص ۱۰۹ بحواله ثمرات الاوراق ص ۱۹۲)

اوس د اصحابو کرامو فتوی مخکې کولې شي چې د پورتنیو شپږو اصحابو له جملی څخه د څلورو اصحابو فتوی موجودی دي. او پاتی له دوه څخه حضرت معاذ رضی الله عنه د مرفوعه روایتونو تر عنوان لاندی وړاندي تیر شوی دي . صرف له حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه څخه په دی باره کی څه نه دی نقل شوي، لیکن د دریو طلاقو د واقع کیدو په خلاف هم د هغه فتوی نشته، له هغو نه علاوه د یولسو نورو اصحابو کرامو فتوی موجودی دي ایا لدینه وروسته هم اوس ددی خبرې کولو څه گنجائش شته چې د یو مجلس دری طلاقه، یو واقع کیږي ؟ !

علامه ابن قیم رحمه الله علیه د اووه و جلیل القدرو اصحابو نومونه نقل کړي دي (۱) حضرت عمر رضی الله عنه (۲) حضرت علی رضی الله عنه (۳) حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه (۴) حضرت عائشه رضی الله عنها (۵) حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه (٦) حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه (۷) حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهم اجمعین.

د دغو اووه اصحابو کرامو فتوی د دریو طلاقو د واقع کیدو په باره کی موجودی دي .

د دغو فتوو له کتلو نه وړاندی په دی خبره هم ځان پوه کړی چې د غیر مقلدینو مسلم پیشوا او مقتدی حضرت مولانا سید نذیر حسین صاحب دهلی اقرار دادی چې د اصحابو کرامو هیڅ یو حکم او فتوه د نص په خلاف نشي کیدلې. لکه چې هغه لیکي د اصحابو دا عادت و چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اجازی او حکم نه پرته هیڅ شرعي او دینی حکم له خپل طرف نه نه جاري کاو . (مجموعه فتاوی نذیریه ج ۱ ص ۳۵۸)

لهذا که چیر ته د اصحابو کرامو کوم حکم او فیصله د نص په خلاف ښکاره شي نو منغه په دی خبره معلوموليِ شي چې د حکم کوم ناسخ به ضرور د هغه په علم کی وي چې مونږ ته روایتاً نه دی رسیدلي.

(۱) د راشده خلیفه حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه آثار :

(عن انس رضی الله عنه قال کان عمر رضی الله عنه اذا اتی برجل قد طلق امراته ثلاثاً فی مجلس اوجعه ضرباً و فرق بینهما (مصنف ابن ابی شبه ج ۵ ص ۱۱ من کره ان یطلق الرجل امراته ثلاثا .... الخ).

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چې کله حضرت عمر رضی الله عنه ته داسې یو شخص راوستی شو چې هغه په خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی وی نو هغه ته به یی سزا ورکوله او د دواړو ترمنځ به یی تفریق کاو .

(۲) و کان عمر بن الخطاب اذا اتی برجل طلق امرأته الفاً فقال له عمر رضی الله تعالی عنه اطلقت . فقال انما کنت العب فعلاه عمر بالدرة و قال انما یکفیک من ذلك ثلاث (محلی ابن حزم ج ۱ ص ۱۷۲ کتاب الطلاق) (سنن بیهقی ج ۷ ص ۳۳٤ باب ما جاء امضاء الطلاق) (زاد المعاد بحواله عبد الرزاق ج ۲ ص ۲۵۹) (مصنف ابن شیبه ج ۵ ص ۱۲) (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ۲۹۳ — ۲۹٤).

یعنی زید بن وهب فرمایی چې یو سړی د حضرت عمر بن خطاب څنګ ته راوستلی شو هغه خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړی وی ، عمر رضی الله عنه هغه ته وویل :

ایا ته دومره ډیر طلاقه ورکړي دي ؟ هغه وویل ما خو مذاق کاو، عمر رضی الله عنه هغه په درو باندې وواهه او ورته یی وویل ستا لپاره له زرو طلاقونه صرف درې طلاق کافی وو.

(۳) حضرت عمر رضی الله عنه خپل والي (ګورنر) ابو موسی اشعري ته یو سرکاري خط واستاو، په هغه کی یی دا هم ولیکل :

(من قال انت طالق ثلثاً فهی ثلاث)

کوم سړی چې خپلې ښځې ته ووایی چې ته په دریو طلاقو طلاقه یې، نو درې واړه یو خای واقع کیږي. (سنن سعید بن منصور ج ۳ ص ۲۰۹ قسم اول ـ رقم الحدیث نمبر ۱۰٦۹).

(۲) د خلیفه راشد حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه فتوی :

ری وکیع عن معاویه بن ابی یحیی انه قال جاء رجل الی عثمان بن عفان فقال طلقت امرأتی الفاً فقال بانت منک بثلاث (محلی ابن حزم ج ۱۰ ص ۱۷۲ کتاب الطلاق) (زاد المعاد بحواله عبدالرزاق ج ۲ ص ۲۵۹) (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۳۰) (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ۳۹۴).

په حاشیه کې دي:

فی المحلی و من طریق وکیع عن جعفر بن برقان عن معاویه ابن ابی یحیی قال : جاء رجل الی عثمان بن عفان فقال : طلقت امراتی الفاً . فقال بانت منک بثلاث (ج ۱۰ ص ۱۸۳) (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ۹۳۴ باب ارجل طلق امراته ثلاثاً معاً) (طحاوی ج ۱ ص ۳۰).

معاویه بن یحی بیان کوي چې یو سړی حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه په خدمت کې حاضر شو او ویې ویل ما خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړی دي .عثمان رضی الله عنه ورته وویل : (بانت منک بثلاث.) ستا ښځه له تانه په دریو طلاقو جدا شوه.

(۳) د راشده خلیفهِ حضرت علی کرم الله وجهه آثار :

(۱) روی وکیع عن حبیب بن ابی ثابت قال جاء رجل الی علی بن ابی طالب قال انی طلقت امراتی الفاً فقال له علی بانت منك بثلاث (محلی بن حزم ج ۱ ص ۱۷۲ کتاب الطلاق) (سنن بیهقی ج ۷ ص ۳۳۵ جواله بالا) (زاد المعاد ج ۲ ص ۲۵۹) (مصنف ابن ابیشیبه ج ٥ ص ۱٦) (ایضاً ج ٥ ص ١٤) (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۳۰) (طحاوی شریف ج ۱ ص ۳۰).

حبیب ابن ابی ثابت روایت کوي چې علی کرم الله وجهه ته یو سړی راغی او ویې ویل : ما خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړی دي ، هغه رضی الله عنه ورته وویل : په دریو طلاقو سره ستا ښځه له تا نه بائنه شوی ده .

علامه شوکاني هم په نیل الاوطار کی د حضرت علی رضی الله عنه همدغه مسلک بیان کړی دی چې هغه د دریو طلاقو د واقع کیدو قائل و . (نیل الاوطار ج ٦ ص ۲۴۵ باب ماجاء فی طلاق البته و جمع الثلث.)

(۲) عن الاعمش انه کان بالکوفه شیخ .... ای قوله ..... فاخرج کتابه فاذا فیه بسم الله الرحمن الرحیم هذا ما سمعت علی بن ابی طالب یقول اذا اطلق الرجل امراته ثلاثا

فی مجلس واحد فقد بانت منه ولا تحل له حتی تنکح زوجا غیر قلت و یحك هذا غیر الذی تقول قال الصحیح هو هذا ولکن هولاء ارادونی علی ذلك (سنن بیهقی ج ٦ ص ٢٤٥ باب ماجاء فی امضاء الطلاق الثلاث و ان کن مجموعات).

له اعمش کوفی څخه روایت دي هغه وایی چې د کوفي یو شخص به ویل چې ما له علی بن ابی طالب نه آوریدلي دي چې کوم یو سړی په یو مجلس کی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي نو هغه یو طلاق ګرځول کیږي ما شیخ ته وویل تاسی دا له حضرت علی نه چیرته آوریدلي دي ؟ (شیخ وویل زه خپل کتاب راو باسم په دی کی موجود دي) کتاب یی وویست په هغه کی له بسم الله الرحمن الرحیم نه وروسته لیکل شوی و دا هغه حدیث دی چې ما له حضرت علی نه اوریدلی دی هغه فرمایل : کله چې یو خوک په یو مجلس کي خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي نو ښځه له هغه نه جدا کیږي او تر هغه ورته نه روا کیږي تر څو پورې چې له بل سړی سره واده یی نه وي کړی.

ما ورته وویل دا خوستا د خبری مخالف دی ، شیخ وویل صحیح خو همدا ده، لیکن زه خلکو مجبور کړی وم نو څکه ما داسې بیان کړ. (بیهقی ج ٦ ص ۲۴۵)

(۳) مصنف عبد الرزق کی دي :

(عن شریک بن ابی نمر قال جاء رجل الی علی رضی الله تعالی عنه فقال انی طلقت امراتی عدد العرفج قال تاخذ من العرفج ثلاثاً و تدع سائره (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۹۴ باب المطلق ثلاثاً).

ترجمه : له شریک بن ابی نمر څخه روایت دی چې یو سړی علی رضی الله عنه ته راغی او ویی ویل چې ما خپلې ښځې ته د عرفج د ونو په اندازه طلاق ورکړی دی ، علی رضی الله عنه ورته وویل : له هغونه دری واخله او نوریی پریږده . (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ۳۹۴ باب المطلق ثلاثاً)

(٤) عن الحکم ان علیاً و ابن مسعود و زید بن ثابت قالوا اذا طلق البکر ثلاثاً فجمعها لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره فان فرقها بانت بالاولی (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٣٦ باب طلاق البکر).

حکم روایت کوي چې حضرت علی رضی الله عنه ، حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او حضرت زید بن ثابت رضی الله عنهم اجمعین دری وارد فرمانی چې که چیر

ته غیر مدخوله منکوحې ته درې طلاقه په یو لفظ کې ورکړي نو درې واړه طلاقه واقع کیږي او دا ښځه خپل خاوند لپاره تر هغې نه حلا لیږي تر څو پورې چې له بل سړي سره واده ونکړي، او که چیر ته له جدا جدا لفظ سره طلاق ورکړي نو په لومړي طلاق سره بائنه کیږي. (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ٣٣٦ باب طلاق البکر.)

(۴) د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه آثار :

(عن مسروق عن عبدالله (یعنی ابن مسعود انه قال لمن طلق امراته مائةً بانت بثلاث و سائر ذلك عدوان (مصنف عبدالرزاق ج ٥ ص ١٢ باب المطلق ثلاثاً) (طحاوی شریف ج ٢ ص ٣٠ باب الرجل یطلق امراته ثلاثاً معا) (سنن بیهقـــی ج ٧ ص ٣٣٢).

(٢) و اخرج ابن حزم بطریق عبدالرزاق .... عن علقمة عن ابن مسعود انـــه قـــال لرجل طلق امراته تسعاً و تسعین ثلاث تبینها و سائرهن عدوان (محلـــی ج ١٠ ص ١٧٢) (مصنف ابن ابی شیبه ج ٥ ص ١٢) (زاد المعاد ج ٢ ص ٢٥٩).

مسروق او علقمه فرمایي چې حضرت عبد الله بن مسعود یو سړي ته چې هغه خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي وي، او یو بل شخص ته چې خپلې ښځې ته ٩٩ طلاقه ورکړي وي وویل چې په دریو طلاقو سره ستاسي ښځې له تا سونه طلاقي شوي دي او پاتې نور طلاقونه ظلم او زیاتی دي.

(٣) مالك انه بلغه ان رجلاً جاء الی عبد الله بن مسعود فقال انی طلقت امراتـــی بمئتی تطلیقات فقال ابن مسعود فماذا قیل ذلك قال قیل لی انها قد بانت منی فقال ابن مسعود صدقوا ..... الخ (مؤطا امام مالك ص ١٩٩ ماجاً فی البته) (فتح القـــدیر بحواله مو،طاامام مالك ج ٣ ص ٣٣٠ کتاب الطلاق باب طلاق السنه).

امام مالک فرمایي چې ما ته یو روایت رسیدلی دی چې یو شخص عبد الله ابـن مسعود ته راغی او ویې ویل ما خپلې ښځې ته دوسوه طلاقه ورکړي دي. ابن مسعود رضـی الله عنه ورته وویل: د نورو مفتیانو له خوا تاته څه ځواب درکول شوی دی ؟ هغه وویل ما ته داویل شوي دي چې زما ښځه له ما نه بائنه شوی ده. ابـن مسعود ورتـه وویـل هغـوی صحیح وایی.

(٤) عن علقمة قال جاء رجل الى ابن مسعود فقال انى طلقت امراتی تسعه و تسعين و انى سالت فقيل لى قد بانت منى فقال ابن مسعود لقد احبوا ان يفرقوا بينك و بينها قال فما تقول رحمك الله فظن انه سير خص له فقال ثلث تبينها منك و سائرها عدوان (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٩٥ باب المطلق ثلاثاً).

علقمه فرمایی چې یو شخص ابن مسعود ته وویل ما خپلې ښځې ته ۹۹ طلاقه ورکړي دي، ما چې په دی باره کی معلومات ترلاسه کړل نو راته ځواب راکړشو چې ښځه له ما نه جدا شوی ده، ابن مسعود ورته وویل: د هغو خلکو خواهش دا دی چې ستاسې دواړو ترمنځ تفریق او جدا والی راولي .ٌهغه چې دا خبره واوریده نو ویې ویل : تاسې څه فتوه ورکوئ؟ ابن مسعود ورته په ځواب کې وویل:

هغه په دری طلاقو سره له تا نه جدا شوی ده او پاتی نور طلاقونه ظلم او زیاتی دي . (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ٣٩٥).

(۵) عن مطرف عن الحكم عن ابن عباس و ابن مسعود قالا فى رجل طلق امراته ثلاثاً قبل ان يدخل بها ، لا تحل له حتى تنكح زوجاً غيره (مصنف ابن ابى شيبه ج ۵ ص ۲۲ فى الرجل تزوج المراه ثم يطلقها) (طحاوى شريف ج ۲ ص ۳۰).

حکم له ابن عباس رضی الله عنه او ابن مسعود څخه روایت کوي چې کوم سړی خپلې ښځې ته له صحبت نه مخکې دری طلاقه ورکړي نو ښځه هغه لپاره تر هغه حلاله نه ده ترڅو پورې چې له بل سړی سره واده ونه کړي .

(۵) د حضرت ابن عباس رضی الله عنه آثار او فتوي :

(۱) په ابو داود شریف کی دي :

حدثنا اسماعيل نا ايوب عن عبدالله بن كثير عن مجاهد قال كنت عند ابن عباس فجاءه رجل فقال انه طلق امرأته ثلاثاً قال فسكت حتى ظننت انه رادها اليه ثم قال ينطلق احدكم فيركب الحموقة ثم يقول يا ابن عباس يا ابن عباس و ان الله قال و من يتق الله يجعل له مخرجاً و انك لم تتق الله فلا اجد لك مخرجاً عصيت ربك و بانت منك امرأتك ....

قال ابو داؤد روی هذا الحدیث حمید الاعرج وغیره عن مجاهد عن ابن عباس و رواه شعبة عن عمرو بن مرة عن سعید بن جبیر عن ابن عباس و ایوب و ابن جریج جمیعاً عن عکرمه بن خالد عن سعید بن جبیر بن ابن عباس و ابن جریح عن عبد الحمید رافع عن عطاء عن ابن عباس و رواه الاعمش عن مالك بن الحارث عن ابن عباس و ابن جریح عن عمرو بن دینار عن ابن عباس کلهم قالوا فی الطلاق الثلاث انه اجازها قال و بانت منك نحو حدیث اسماعیل عن ایوب عن عبدالله بن کثیر (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۳۰۶ باب بقیة نسخ المراجعة بعد التطلیقات الثلاث) (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۳۰) (سنن بیهقی ج ۷ ص ۳۳۷).

مجاهد فرمایی چې زه له حضرت ابن عباس سره وم چې یو شخص راغی او ویی ویل ما خپلې ښځې ته په یوځای درې طلاقه ورکړی دي، ابن عباس ورته غلی شو تردې چې زه په گمان کې شوم چې د رجوع کولو حکم به ورته کوي، بیا یې وفرمایل :

خلک لومړی حماقت کوي او بیا وایي چې ای ابن عباسه ! ای ابن عباسه ! بیشکه چې الله فرمایلی دي څوک چې له الله نه وویریږي هغه لپاره د خلاصون صورت وي، خو ته له الله نه نه یې ویریدلې نو ځکه ستا لپاره هیڅ نجات نشته، تا د خپل رب نافرماني کړی دی او ستا ښځه له تا نه جدا شوی ده یعني په دریو طلاقو طلاقه شوی ده.

لدینه وروسته امام ابو داود وویل : چې د غوحضراتو له ابن عباس نه روایت کړی دی، دا روایت په متفقه ډول دا نقل کوي چې ابن عباس رضی الله عنه درې طلاقه نافذ کړي دي او فتوه یې ورکړی چې ښځه ورته طلاقه شوی ده. (ابو داود شریف ج ۱ ص ۳۰۶).

(۲) حدثنا ابراهیم بن مرزوق .... عن مالك بن الحارث قال جاء رجل الی ابن عباس فقال ان عمی طلق امراته ثلاثاً فقال ان عمك عصی الله فاثمه الله واطاع الشیطان فلم یجعل له مخرجاً فقلت کیف تری فی رجل یحلها له فقال من یخادع الله یخادعه (طحاوی شریف ج ۲ ص ۲۹ باب الرجل یطلق امراته ثلاثاً معاً) (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۱۱) (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۳۲) (سنن سعید بن منصور

ج ۳ ص ۲۵۷ قسماول رقم الحدیث نمبر ۱۰۶۴ — ۱۰۶۵)اغاثه ص ۱٤٦ مبحث التحلیل فصل فی الاثار).

مالک بن حارث فرمایی : یو شخص ابن عباس ته راغـی او ویی ویـل: زما تـره خپلې ښځې ته په یو ځای دفعتاً دری طلاقه ورکړي دي، ابن عباس ورته وویل ستا تـره لـه الله نه نافرماني کړی دی او د شیطان اطاعت یی کړی دی. هغه رضی الله عنه هغه لپاره د نجات هیڅ لاره ونه وینست.

مالک بن الحارث فرمایی : ما عرض وکړ تاسی د هغه په باره کی څـه وایی چـې د هغـه ښځه ورته حلاله کړي.

هغه رضی الله عنه وفرمایل : هر څوک چې له الله تعالی سره چل کـوي الله تعـالی هـم هغه سره همداسې کوي.

(۳) مالك انه رجلاً قال لا بن عباس انی طلقت امرأتی مائة تطليقة فما ذا ترى علی فقال له ابن عباس طلقت منك بثلاث و سبع و تسعون اتخذت بها ايـات الله هـزوا (مؤطاامام مالك ص ۱۹۹ باب ما جاء فی البتة) (فتح القـدير ج ۳ ص ۳۳۰) (زاد المعاد ج ۲ص ۲۵۹ بحواله مصنف عبدالرزاق)(طحاوی ج ۲ ص ۳۰) دار قطنی ج ۲ ص ۴۳۰).

یو سړي ابن عباس ته وویل چې ما خپلې ښځې ته سل طلاقـه ورکـړی دي ، تاسـی پـه دی باره کی ما ته هدایت کوئ ؟ هغه رضی الله عنه وویل په دریو طلاقو سره ستا ښځـه له تا نه بائنه شوی ده، او پاتی ۹۹ طلاقونو سره تا د الله تعالی د ایتونو مسخره کړی.

(٤) قال وحدثنا ابن المبارك انا سفيان و عبدالرزاق عن الثوری عن عمرو بن مرة عن سعيد بن جبير قال جاء ابن عباس رجل فقال طلقت امراتی الفاً فقال ابن عباس ثلاث تحرمها عليك و بقيتها عليك وزراً اتخذت آيات الله هزواً (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۹۷ — ۳۹۸) (دار قطنی ج ۲ ص ٤۳۰) (مصنف ابن ابی شيبه ج ٥ ص ۱۳) (محلی حزم ج ۱۰ ص ۱۷۲) (سنن بيهقی ج ۷ ص ۳۳۲).

(۵) حدثنا ابو محمد بن صاعد ...... عن سعید بن جبیر و مجاهد عن ابن عباس انه سئل عن رجل طلق امرأته عدد النجوم فقال اخطأ السنة حرمت علیه امراتـــه (دار قطنی ج ۲ ص ۴۳۳) ص ۳۵۳

سئل ابن عباس عن رجل طلق امرأته عدد النجوم انما یکفیه راسل الجوزاء (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۲۹٦.).

له ابن عباس نه د یو داسې سړي په باره کی پوښتنه وکړی شوه چې هغه خپلې ښځې ته د ستورو د تعداد په برابر طلاقه ورکړی وي.

نو هغه رضی الله عنه وفرمایل: هغه د سنت له طریق نه مخالفت کړی دی او دهغه ښځه ورباندې حرامه شوی ده.

(۷) حدثنا ابو بکر ..... عن رجل عن الانصار یقال له معاویة ان ابن عباس و ابا هریرة رضی الله تعالی عنه و عائشة رضی الله تعالی عنها قالوا لا تحل حتی تنکح زوجاً غیره (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۲۲ فی الرجل یتزوج المراه ثم یطلقها).

(۸) حدثنا ابو بکر قال نا عباد بن العوام عن هارون بن عتره عن ابیه قال کنت جالساً عند ابن عباس فاتاه رجل فقال یا ابن عباس انه طلق امرأته مائة مرة و انما قلتها مرةً واحدةً فتبین منی بثلاث "ام" هی واحدة؟ فقال بانت بثلاث و علیك و زر سبعة و تسعین (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۱۳).

یو سړی ابن عباس ته راغی او ویی ویل ای ابن عباسه! ما خپلې ښځې ته سل طلاقه په یو ځای ورکړی دي ایا هغه له ما نه په دریو طلاقو سره بائنه کیږي او که یوه طلاق واقه کیږي؟

هغه رضی الله عنه وویل: په دریو طلاقو سره ستا ښځه درته طلاقه شوی ده او پاتی ۹۷ طلاقه پر تا بوج دي.

همدغه فتوه د حضرت ابو هریره او عائشی رضی الله عنها هم ده.

کوم خلک چې دری طلاقو ته یو طلاق وایی نو هغوی دی د انصاف په نظر دا وګوري او بیا دی فیصله وکړي چې په حدیثو عمل کوونکی مقلدین دی او که غیر مقلدین؟

(۹) عبد الرزاق .... ان رجلا قال لا بن عباس رجل طلق امراته مائه فقال ابن عباس یاخذ من ذلك ثلاثاً و یدع سبعاً و تسعین (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۹٦ باب المطلق ثلاثاً).

یو سړی ابن عباس ته وویل یو سړی خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي دي.
ابن عباس وفرمایل: له هغونه دری واخله اوپاتی ۹۷ پریږده.

(۱۰) عبدالرزاق ..... ان رجلاً جاء الی ابن عباس فقال طلقت امرأتی الفاً فقال تاخذ ثلاثاً و تدع تسع مائة و سبعة مائة و سبعة و تسعین(مصنف عبدالرزاق ج ٦ص ۳۹٦ ایضاً)(مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ۳۹٦ ایضاً)

یو شخص حضرت ابن عباس ته راغی او وبی ویل: چې ما خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي دي.
هغه رضی الله عنه ورته وفرمایل : له هغونه دری طلاقه واخله (ځکه چې د ښځې حرام کیدو لپاره دري طلاقه کافي دي او سړی د دریو طلاقو مالک دی) او پاتی ۹۹۷ پریږده.

(۱۱) محمد. قال اخبرنا ابو حنیفه .... عن عطاء ان رجلاً جاء عند ابن عباس فقال طلقت امراتی ثلاثاً قال یذهب احدکم یتلطخ بالاثم فیاتی بعده عندنا اذهب انت عصیت ربك فقد حرمت علیك امراتك لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیرك (کتاب الاثار للامام محمد ص ۲۲۰ – ۲۲۱ مترجم).

عطا فرمائي : یو سړی د ابن عباس خواته راغی او وبی ویل ما خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی دي.
هغه ته یې وفرمایل: ستا سی غوندی خلکو طریقه داده چې ځانونه په ګندګی کې ککړو او بیا زموږ خواته راځئ، لاړشه تا د خپل رب نافرمانی کړی دی پر تا ستا ښځه حرامه شوی ده تر څو پورې چې بله نکاح یې نه وي کړې.(کتاب الاثار ج ۲ ص ۳۰).

(۱۲) عن محمد بن ایاس ان ابن عباس و ابا هریرة رضی الله تعالیٰعنه و عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه سئلوا عن البکر یطلقها زوجها ثلاثاً فکلهم قالوا لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (ابو داوٗد ج ۱ ص ۳۰٦ باب بقیه نسخ المراجعه

بعد التطليقات الثلاث) (زاد المعاد ج ۲ ص ۲۵۹) (طحاوی شـــريف ج ۲ ص ۳۰).

محمد ابن اياس فرمايي: چې ابن عباس رضی الله عنه، ابو هريره رضی الله عنه او عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې که غير مدخولې ته د هغه خاوند يو ځای دری طلاقه ورکړی نو څه حکم يې دی؟
نو د غو دری واړو حضراتو په متفقه ډول ووېل چې: دغه ښځه دغه سړی لپاره حرامه شوی ده تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح ونکړي.

(۱۳): اخبرنا مالك .... عن محمد بن اياس بن بكير انه قال طلق رجل امرأته ثلاثاً قبل ان يدخل بها ثم بدا له ان ينكحها فجاء يستفتي قال فذهب معه فسأل ابا هريـــرة رضی الله تعالی عنه و ابن عباس رضی الله تعالی عنه فقالا لا ينكحها حـــتی تـــنكح زوجاً غيره فقال انما كان طلاقي اياها واحدة قال ابن عباس ارسلت من يدك ما كان لك من فضل (موطا امام محمد صلی الله عليه واله وسلم ص ۲۰۳ باب الرجل يطلق امراته قبل ان يدخل بها) (فتح القدير ج ۳ ص ۳۳۰) (طحاوی شريف ج ۲ ص ۲۹) (سنن بيهقی ج ۷ ص ۳۳۵) (موطا امام مالك ص ۲۰۷).

محمد بن اياس بن بكير فرمايي چې يو سړي له صحبت نه مخکې خپلې ښځې تـه دری طلاقه ورکړل بيايي غوښتل چې له هغې سره نکاح وکړي نو ځکه د فتوی معلومولو لپاره ووت. محمد بن اياس فرمايي چې زه له هغه سره ملګری شوم، هغـه ابـن عبـاس او ابـو هريره ته لاړ.
دواړو وفرمايل چې: اوس ته له هغې سره تر هغه نکاح نشې کولې تر څو پورې چې هغه له بل سړی سره نکاح ونه کړي.
هغه ووېل زما نيت د يو طلاق و.
ابن عباس ورته وفرمايل : ستا پخپله (انت طالق ثلاثاً) په ويلو سره هغه امکان ختم کـړی دی چې تا ته حاصل و.

(۱٤): حدثنا ابو بكر رضی الله تعالی عنه ..... عن محمد بن اياس بن بكير عن ابی هريرة و ابن عباس و عائشه رضی الله تعالی عنها فی الرجل يطلق امراته ثلاثاً قبل ان

یدخل بها قالوا لا تحل له حتی تنکح زوجا غیره (مصنف ابن ابی شیبه فی الرجل بتزوج المرأة ثم یطلقها ج ٥ ص ٢٣).

محمد بن ایاس فرمایی چې حضرت ابو هریره رضی الله عنه، حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت ابن عباس رضی الله عنه د هغه چا په متعلق چې خپلې ښځې ته له صحبت نه مخکې درې طلاقه ورکړي فرمايي: چې هغه ښځه ورته تر هغې نه ده حلاله تر څو پورې چې له بل سړی سره نکاح و نه کړي.

(١٥): عبدالرزاق عن ابن جریح قال قال مجاهد عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه قال قال له رجل یا ابا عباس ! طلقت امراتی ثلاثاً فقال ابن عباس : یا ابا عباس ! یطلق احدکم فیستحمق ثم یقول یا ابا عباس ! عصیت ربك فارقت امراتك (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٩٧ باب المطلق ثلاثاً).

مجاهد له ابن عباس نه نقل کوي چې یو سړي هغه ته وویل : ای ابن عباسه ! ما خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي دي.

ابن عباس رضی الله عنه ورته وفرمايل : له تا سونه څه خلک کم عقلي کوي او خپلې ښځې ته طلاق ورکوئ، بیا دا خبره کوئ چې ای عباسه ! ای عباسه ! ای عباسه. تا خپل رب نافرمانی کړی، ستا ښځه له تا جدا شوی ده. (منصف عبد الرزاق ح ٦ ص ٣٩٧ باب طلاق البکر).

(١٦): یو روایت د ابن عمر له اثارو څخه هم راځي. هغه دا چې له ابن عباس، ابو هریره او ابن عمر رضی اله عنهم اجمعین څخه د غیر مدخوله ښځې په اړه پوښتنه وشوه چې که د هغې خاوند له صحبت نه مخکې (په یو خای) درې طلاقه ورکړي نو د هغه څه حکم دی ؟

هغو ټولو حضراتو وفرمايل چې: هغه ورته حلاله نه ده تر څو پورې چې له بل سړي سره یې نکاح نه وي کړی. (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ٣٣٣).

دا دي د حضرت ابن عباس رضی الله عنه فتواګانی، د دی ټولو په نظر کی نیولو سره بڅپله غور وکړئ چې په حدیثو باندې څوک عمل کوونکی دی ؟ او ایا د ابن عباس د روایت مطلب همدا دی چې غیر مقلدین یی ګڼي؟ له دغو فتوو څخه څرګندیږي چې د ابن عباس د حدیث هرګز دا مطلب نه دی چې غیر مقلدین یی ګڼي .

(٦١): د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه آثار :

(۱): عن نافع و كان ابن عمر اذا سئل عمن طلق ثلاثاً قال لو طلقت مرة او مرتين فان النبي صلى الله تعالى عله واله وسلم امرني بهذا (اى بالمراجعة) فان طلقها ثلاثاً حرمت حتى تنكح زوجاً غيره (بخاری شریف ج ۲ ص ۷۹۲ و ج ۲ ص ۸۳۰ باب من اجاز طلاق الثلاث).

حضرت نافع بيان كوي چې كله به له حضرت عبد الله بن عمر څخه د يو داسې چا په باره کی پوښتنه وشو چې هغه به خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی وي نو هغه به ځواب ورکاو چې که يو ځل يا دوځل يې طلاق ورکړی وای نو رجوع يې کولی شوه ځکه چې محمد صلی الله عليه وسلم به ما ته د دی د رجعت حکم راکړی و. ليکن که درې طلاقه ورکړی وي نو بيا ورباندې تر هغه حرامه ده تر څو پورې چې له بل سړي سره واده ونکړي . (بخاری شریف).

(۲) په مسلم شریف کی هم د هغه فتوی ده :

عن نافع عن ابن عمر رضي الله تعالى عنه ..... اما انت طلقها ثلاثاً فقد عصيت ربك فيما امرك به من طلاق امرأتك و بانت منك (مسلم شريف ج ۱ ص ٤٧٦ باب طلاق الثلاث) (دار قطني ج ۲ ص ٤٣٦).

ابن عمر رضی الله عنه فرمایی : که درې طلاقه دي ورکړی نو تا له خپل رب نه نافرمانی کړی دی (چې يو ځای درې طلاقه دی ورکړي دي) او ستا ښځه له تا نه بائنه یعنی جدا شوی ده (مسلم شریف).

(۳): و كان عبدالله اذا سئل عن ذلك قال لاحدهم اما انت طلقت امراتك مرةً او مرتين فال رسول الله صلى الله عليه واله وسلم امرني بهذا و ان كنت طلقتها ثلاثاً فقد حرمت عليك حتى تنكح زوجاً غيرك و عصيت الله فيما امرك من طلاق امرتك (مسلم شريف ج ۱ ص ٤٧٦ ايضاً).

کله به چې له ابن عمر نه د دريو طلاقو په باره کی پوښتنه کيدله نو هغه رضی الله عنه به ويل : که چير ته تا يوه يا دوه طلاقه ورکړی وي (نو د رجعت حق لرې) ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ما ته د رجعت حکم کړی و. او که تا درې طلاقه ورکړی وي نو پر تا ستا ښځه حرامه ده تر څو پورې چې دويم نکاح ونکړی او ښځو ته د طلاق

ورکولو په متعلق چې د الله تعالی کوم هدایت دی په هغه کی تا د خپل رب نافرمانی کړی دی. (مسلم شریف).

(٤): حدثنا سعید المقبری قال جاء رجل الی عبدالله بن عمرو انا عنده فقال یا ابا عبدالرحمن انه طلق امرأته مأة مرة قال بانت منك بثلاث و سبعة و تسعون یحاسبك الله بها یوم القیامه (مصنف ابن ابی شیبه ج ٥ ص ١٤ فی الرجل یطلق امرأته او الفاق قول واحد).

یو سړی ابن عمر رضی الله عنه ته راغی او ویی ویل : ای ابو عبد الرحمانه ! ما خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي دي.
هغه رضی الله عنه ورته وویل : په دریو طلاقو سره خو ستا ښځه بائنه شوه او پاتی ۹۷ طلاقو په باره کی به الله تعالی د قیامت په ورځ حساب کوي.

(٥): حدثنا ابو بکر قال نا اسباط بن محمد عن اشعث عن نافع قال قال ابن عمر من طلاق امراته ثلاثاً فقد عصی ربه و بانت منه امرأته (مصنف ابن ابی شیبه ج ٥ ص ١١ من کره ان یطلق الرجل امراته ثلاثاً ...... الخ).

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمایی : کوم سړی چې خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي نو هغه د خپل رب نافرماني وکړ او ښځه ترینه جدا شوه.

(٦): عن سالم عن ابن عمر قال من طلق امراته ثلاثاً طلقت و عصی ربه (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٩٥ باب المطلق ثلاثاً).

ابن عمر رضی الله عنه فرمائي کوم سړی چې خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی نو هغه ترینه طلاقه شوه او هغه د خپل رب نافرماني کړې دی.

(٧): عبدالرزاق .... عن محمد بن ابی ایاس ابن البکیر ان ابن عباس رضی الله تعالی عنه و ابا هریرة رضی الله تعالی عنه سئلوا عن البکر یطلقها زوجها ثلاثاً فکلهم قالوا لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٣٣ باب طلاق البکر).

له ابن عباس رضی الله عنه، ابو هریره رضی الله عنه او ابن عمر رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې که غیر مدخولې ته د هغې خاوند درې طلاقه یو ځای ورکړی نو د دې څه حکم دی ؟

دغو درې واړو حضراتو وفرمایل: هغه ښځه ورته تر هغه نه حلا لیږي تر څو چې له بل سړي سره نکاح ونه کړي.

(۸): عن ابی وائل عن عبدالله انه قال فیمن طلق امراته ثلاثاً قبل ان یدخل بها قال لا تحل حتی تنکح زوجاً غیره (طحاوی شریف ج ۲ ص ۳۱ باب الرجل یطلق امراته ثلاثاً معاً).

عبد الله بن عمر رضی الله عنه د هغه چا په متعلق چې خپلې ښځې ته له صحبت نه وړاندې درې طلاقه ورکړي وي فرمایي چې: هغه ښځه اوس هغه لپاره تر هغه نه ده حلاله تر څو چې له بل سړي سره نکاح ونه کړي.

(۹): عن علقمة عن عبدالله انه سئل عن رجل طلق امرأته ماةً قال ثلاث تبینها منك و سائرهن عدوان (طحاوی شریف ج ۲ ص ۱۳۱ ایضاً).

له عبد الله بن عمر څخه د هغه چا په باره کې پوښتنه وشوه چې خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي.

نو هغه رضی الله عنه وفرمایل: درې طلاقه ښځه له خاوند نه جدا کوي او پاتې نورهسې زیاتی دی.

د حضرت عبد الله بن عمر روایت څخه چې بخاري او مسلم روایت کړی دی دا خبره واضح کیږي چې د ابن عمر د بیان په مطابق رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو دریو طلاقو د واقع کیدو حکم کوي چې له مسنونی طریق نه مخالف په یو وخت کې ورکړی شي. که چیر ته په مسنونه طریقه ورکړی شي نو د الله تعالی جل جلا له د نافرماني او ګناه سوال.نه پیدا کیږي.

حاصل دا چې په یو ځای درې طلاقه ورکول ښه کار نه دی او له مسنونی طریق نه مخالفت دی لیکن که څوک ورکړي نو نافذیږي او هغه ګنهګاریږي هم، مګر ښځه وربانديې حرامه ده او له شرعی حلالی نه بغیر ورته نه حلالیږي. والله اعلم بالصواب

(۷) د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما آثار :

(۱): حدثنا یونس ..... عن عطاء بن یسار انه جاء رجل الی عبدالله بن عمرو فساله عن رجل طلق امراته قبل ان یمسها قال عطاء فقلت له طلاق البکر واحدة فقال عبدالله انما انت قاص الواحدة تبینها والثلاث تحرمها حتی تنکح زوجاً غیره (طحاوی شریف ج ۲ ص ۱۳۰ ایضاً) (مصنف ابن ابی شیبه ج ٥ ص ۲۲) (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۳٤).

له عطا بن یسار څخه روایت دی چې یو سړی عبد الله بن عمرو بن العاص ته راغی او د هغه ځا په متعلق یې پوښتنه وکړه چې هغه له صحبت نه مخکې ښځې ته دری طلاقه ورکړی وي.

عطا فرمایي چې ما عبد الله بن عمرو ته وویل چې په غیر مدخوله خو یو طلاق واقع کیږي.

عبد الله بن عمرو رضی الله عنه راته وفرمایل چې: ته خالص قصه ګوئي، بیا یې وفرمایل چې غیر مدخوله په یو طلاق سره بائنه کیږي (یعنی رجوع ورته نشی کیدلی) البته که ښځه رضا وي نو دوباره نکاح یې کیدلی شي د شرعي حلالی ضرورت نشته او په دریو طلاقو داسې حرامیږي چې تر څو پورې له بل سړي سره نکاح نه وي کړی ورته نه حلالیږي.

(۲): حدثنا فهد ...... عن عطاء بن یسار عن عبدالله بن عمرو قال الواحدة تبینها والثلاث تحرمها (طحاوی شریف ج ۲ ص ۳۰) (موطا امام مالک ص ۲۰۷) (سنن سعید بن منصور ج ۳ ص ۳٦٥ قسم اول رقم الحدیث نمبر ۱۰۹٥).

یو سړی پوښتنه وکړه چې که څوک خپلې ښځې ته له خلوت نه مخکې دری طلاقه ورکړي نو د هغه څه حکم دی ؟

هغه رضی الله عنه وفرمایل : د هغه ښځه په یو طلاق بائنه کیږي او په دریو سره حرامیږي. (له شرعي حلالی نه پرته ورته نه حلالیږي).

(۳): عن محمد بن ایاس ان ابن عباس و ابا هریرة و عبدالله بن عمرو بن العاص سئلوا عن البکر یطلقها زوجها ثلاثاً فکلهم قال لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۳۰۶ باب بقیة نسخ المراجعة بعد التطلیقات الثلث) (زاد المعاد ج ۲ ص ۲۵۹) (سنن بیهقی ج ۷ ص ۳۳۵) (کذا فی المصنف العبدالرزاق ج ٦ ص ۳۳۵ عن الزهری).

له ابن عباس رضی الله عنه، ابو هریره رضی الله عنه او عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه د غیر مدخولی په باره کی پوښتنه وشوه چې که د هغې خاوند دری طلاقه ورکړي نو د هغه څه حکم دی ؟ ټولو وویل: چې هغه ورته تر هغه نه ده حلاله تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح و نه کړي.

(۸): د حضرت ابو هریره رضی الله عنه آثار او فتوی :

(۱): عن محمد بن ایاس ان ابن عباس و ابا هریرة و عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه سئلوا عن البکر یطلقها زوجها ثلاثاً فکلهم قال لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۳۰۶ باب بقیة نسخ المراجعة بعد التطلیقات الثلاث) (زاد المعاد ج ۲ ص ۲۵۹) (طحاوی ج ۲ ص ۳۰) (کذا فی المصنف لعبدالرزاق عم الزهری ج ٦ ص ۳۳۵) ص ۳۵۸ – ۳۵۹ .)

له ابن عباس رضی الله عنه، ابو هریره رضی الله عنه او عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه د غیر مدخوله په باره کی تپوس وشوه چې که د هغې خاوند ورته دری طلاقه ورکړي نو څه حکم یې دی ؟ ټولو وویل چې: هغه خپل خاوند لپاره تر هغه حلاله نه ده تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح ونکړي.

(۲): اخبرنا مالك ..... عن محمد بن ایاس بن بکیر قال طلق رجل امرأته ثلاثاً قبل ان یدخل بها ثم بدأله ان ینکحها فجاء یستفتی قال فذهب معه فسال ابا هریرة و ابن عباس فقال لا ینکحها حتی تنکح زوجاً غیره فقال انما طلاقی ایاها واحدة قال ابن عباس ارسلت من یدك ما كان لك من فضل) موطا امام محمد ص ۲۰۳) (فتح

القدیر ج ۳ ص ۳۳۰) (طحاوی ج ۲ ص ۲۹) (موطا امام مالك ص ۲۰۷) (سنن بیهقی ج ۷ ص ۳۲۵).

ددی ترجمه مخکې تیره شوی ده.

(۳): حدثنا یونس ...... عن معاویه بن ابی عیاس الانصاری انه کان جالساً مع عبدالله بن الزبیر و عاصم بن عمر فجاءهما محمد بن ایاس بن البکیر فقال ان رجلاً من اهل البادیة طلق امراته ثلاثاً قبل ان یدخل بها فما ذا تریان فقال ابن الزبیر ان هذا الامر ما لنا فیه من قول فاذهب الی ابن عباس و ابی هریرة فاسئلها ثم ائتنا لهما فقال ابن عباس لابی هریرة افته یا ابا هریرة فقد جاء تك معضلة فقال ابو هریرة الواحدة تبینها والثلاث تحرمها حتی تنکح زوجاً غیره (طحاوی شریف ج ۲ ص ۲۹ — ۳۰ باب الرجل یطلق امراته ثلثا قبل ان یدخل بها) (موطا امام مالك ص ۲۰۸) (سنن بیهقی ج ۷ ص ۳۳۵) (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۳٤ عن محمد بن عبدالرحمن و فیه فقال ابن عباس زینتها یا ابا هریره).

د معاویه بن عیاش روایت دی چې زه د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه او عاصم بن عمر رضی الله عنه په څنګ کی ناست وم چې محمد بن ایاس راغی او ورته یی وویل: چې یو اطرافی سړی خپلې غیر مدخوله ښځې ته دری طلاقه ورکړي دي، تاسې دواړه د هغه په باره کی څه نظر لرئ ؟

ابن زبیر وویل: په دی باره کې مونږ څه نشوو ویلی ته ابن عباس رضی الله عنه او ابو هریره رضی الله عنه ته لاړ شه هغوی دواړو چې څه ځواب درکړ له هغه نه مونږ هم خبر کړئ.

محمد بن ایاس د هغوی په خدمت کی حاضر شو، ابن عباس رضی الله عنه او ابو هریره رضی الله عنه ته وویل دغه سړي ته فتوه ورکړه دا مشکل تا ته راغلی دی.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه وویل : په یو طلاق سره سړی له ښځې نه جدا کوي او دری طلاقه ورباندې حراموي، تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح ونکړي لومړی ...سړي لپاره نه حلالیږي.

(٤): حدثنا ابو بكر ..... عن محمد بن اياس بن بكير عن ابى هريرة و ابن عباس و عائشة فى الرجل يطلق امرأته قبل ان يدخل بها قالوا لا تحل له حتى تنكح زوجا غيره (مصنف عبدالرزاق عن ابى سلمة ج ٦ ص ٣٣٤ باب طلاق البكر) (مصنف ابن ابى شيبة ج ٥ ص ٢٣).

له حضرت ابو هريره رضی الله عنه، حضرت ابن عباس رضی الله عنه او حضرت عائشه رضی الله عنها څخه د هغه چا په متعلق پوښتنه وکړی شوه چې خپلې ښځې ته له صحبت نه مخکې طلاق ورکړي.

هغو دری واړو حضراتو وویل: اوس نو د هغه ښځه ورته تر هغه حلاله نه ده تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح ونه کړي.

(٥) د حضرت ابو هريره رضی الله عنه یوه فتوی د ابن عمر په اثارو کی تیر شوی دي په هغه کی حضرت ابو هريره رضی الله عنه له ابن عمر رضی الله عنه سره شریک دی. (مصنف عبد الرزاق ج ٦ ص ٣٣٣ باب طلاق البكر).

(٩) د ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها آثار :

(١): حدثنا ابو بكر ...... عن محمد بن اياس بن بكير عن ابى هريرة و ابن عباس و عائشة و عبدالله بن عمرو بن العاص سئلوا عن البكر يطلقها زوجها ثلاثاً فكلهم قالوا لا تحل له حتى تنكح زوجاً غيره (مصنف ابن ابى شيبه ج ٥ ص ٢٣ فى الرجل يتزوج المراه ثم يطلقها) (مصنف عبدالرزاق عن ابى سلمه ج ٦ ص ٣٣٤).

د دی اثر ترجمه هم د ابو هريره رضی الله عنه د اثارو په عنوان کی تیره شوی ده.

(٢): حدثنا ابو بكر ..... عن رجل من الانصار يقال له معاوية عن ابن عباس و ابا هريرة و عائشة قالوا لا تحل له حتى تنكح زوجاً غيره (مصنف ابن ابى شيبه ص ٢٢ ايضاً).

معاویه فرمایی چې ابن عباس رضی الله عنه، ابو هريره رضی الله عنه او حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها (د هغې ښځې په باره کی چې دری طلاقه ورته ورکول شوي وي) وفرمایل : اوس هغه ښځه خاوند لپاره حلاله نه ده، تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح ونکړي

(۳): مالك عن يحيى بن سعيد ..... عن معاوية بن ابى عياش الانصارى انه كان جالساً مع عبدالله بن الزبير و عاصم بن عمر قال فجاءهما محمد بن اياس بن بكير فقال ان رجلاً من اهل البادية طلق امرأته ثلاثاً قبل ان يدخل بها فما ذا تريان فقال عبدالله بن الزبير ان هذا الامر مالنا فيه من قول فاذهب الى عبدالله بن عباس و ابى هريرة فانى ترتكتها عند عائشه فاسئلها ثم اتنا فاخبرنا فذهب فسالهما فقال ابن عباس لابى هريرة افته يا ابا هريرة فقد جاء تك معضلة فقال ابو هريرة الواحدة تبينها والثلاث تحرمها حتى تنكح زوجاً غيره و قال ابن عباس مثل ذلك(موطا امام مالك ص ۲۰۸ باب طلاق البكر) (طحاوى ج ۲ ص ۲۹ — ۳۰) (بيهقى ج ۷ ص ۳۳۵) ص ۳٦۰ حدثنا ابو بكر قال نا عبدالله بن نمير عن اشعت عن ابى الزبير عن جابر قال سمعت ام سلمة سئلت عن رجل طلق امرته ثلاثاً قبل ان يدخل بها فقالت لا تحل له يطأها زوجها (مصنف ابن شيبة ج ٥ ص ۲۲ فى الرجل يتزوج المرأة ثم يطلقها).

ددی ترجمه هم د حضرت ابو هریره رضی الله عنه په اثارو کی دریم نمبر کی تیره شوی ده.

(۱۰) د ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها اثر :

حدثنا ابو بكر قال نا عبدالله بن نمير عن اشعت عن ابى الزبير عن جابر قال سمعت ام سلمه سئلت عن رجل طلق امرته ثلاثاً قبل ان يدخل بها فقالت لا تحل له يطاها زوجها (مصنف ابن شيبه ج ٥ ص ۲۲ فى الرجل يتزوج المراه ثم يطلقها).

له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایی چې له حضرت ام سلمه رضی الله عنها څخه د یو داسې چا په باره کې پوښتنه وشوه چې هغه خپلې ښځې ته له صحبت نه مخکې دری طلاقه ورکړي وي.

هغې خواب ورکړ چې اوس دغه خاوند لپاره حلاله نه ده چې ورسره وطی وکړي.

(۱۱) د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه اثر:

حدثنا ابو بکر قال نا غندر و عن شعبة عن طارق عن قیس بن ابی حازم انه سمعه یحدث عن المغیرة بن شعبة انه سئل عن رجل طلق امرأته فقال . ثلاث تحرمها علیه و سبعة و تسعون فضل (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۱۳ — ۱۴ فی الرجل یطلق امرأته) (اغاثة اللهفان ص ۳٦۹ عن بیهقی) ص ۳٦۱).

طارق فرمایی چې قیس بن ابی حازم له حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه څخه روایت کوي چې حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه څخه د داسې سړي په باره کی سوال وشوه چې هغه خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي وي

نو هغه خواب ورکړ چې درې طلاقو ښځه بخپل خاوند حرامه کړی ده. پاتی نور ۹۷ زیاتی او بیکاره دي

(۱۲) د حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه اثر :

حدثنا ابو بکر قال نا سهل بن یوسف عن حمید عن واقع قال سئل عمران بن حصین عن رجل طلاق امرأته ثلاثاً فی مجلس قال اثم بربه و حرمت علیه امرأته (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۱۰ — ۱۱ من کره ان یطلق الرجل امرأته ثلاثاً ..... الخ)

(احکام القران لجصاص ج ۱ ص ۳۸۳) (اغاثة اللهفان ص ۳۷۱).

له عمران بن حصین رضی الله عنه څخه د یو داسې چا په متعلق پوښتنه وشوه چې هغه خپلې ښځې ته پو یو مجلس کی درې طلاقه ورکړي وي. نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هغه د ګناه مرتکب شوی دی او ښځه یې وربانديې حرامه ده.

(۱۳) د حضرت انس رضی الله عنه اثر :

حدثنا سعید قال ناسفیان عن شفیق سمع انس بن مالك یقول فی الرجل یطلق امرأته ثلاثاً قبل ان یدخل بها قال : هی ثلاث ، لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره و کان عمر رضی الله عنه اذا اتی به اوجعه (سنن سعید بن منصور ج ۳ ص ۲٦۰ قسم اول . رقم الحدیث نمبر ۱۰۷٤) (طحاوی ج ۲ ص ۳۰) (مصنف ابن ابی شیبه

شفیق فرمایی چې حضرت انس بن مالک رضی الله عنه به د هغه چا په باره کې چې خپلې ښځې نه له صحبت نه وړاندې درې طلاقه ورکړي ویل چې: دا درې طلاقه واقع شوي دي اوس هغه ښځه ورته تر هغه حلاله نه ده تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح ونکړي. حضرت عمر رضی الله عنه ته به داسې سړی راوستې شو نو هغه ته به سزا ورکاو.

(۱۴) د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه اثر :

عبدالرزاق عن ابی سلیمان عن الحسن بن صالح عن مطرف عن الحکم ان علیا رضی الله تعالی عنه و ابن مسعود رضی الله عنه و زید بن ثابت رضی الله عنهم اجمعین. قالوا : اذا طلق البکر ثلاثاً ، فجمعها لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره ، فان فرقها بانت بالاولی و لم تکن الاخرین شیئاً (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٣٦ باب طلاق البکر) (سنن سعید بن منصور ج ٣ ص ٢٦٢ قسم اول رقم الحدیث نمبر ١٠٨٠).

ترجمه : که خاوند غیر مدخوله ښځې ته په یو لفظ درې طلاقه ورکړي نو هغه د خاوند لپاره تر هغه نه حلالیږي تر څو چې له بل چا سره نکاح ونکړي، او که جدا جدا لفظونو کې درې طلاقه ورکړي دي نو په لومړی طلاق سره بائنه کیږي او پاتې دوه نور کالعدم ګرځي.

نوټ :

د غیر مدخوله ښځې همدا حکم د احنافو په نزد دی چې که هغې ته داسې طلاق ورکړي شي چې ته طلاقه یی، ته طلاقه یی، ته طلاقه یی. نو هغه په لومړی طلاق سره بائنه کیږي او وروستی دوه طلاقه کالعدم ګرځي یعنی نه حسابیږي لیکن که چیر ته غیر مدخوله ته داسې طلاق ورکړي چې ته په دریو طلاقو طلاقه یی نو درې واړه واقع کیږي او ښځه له حلالې نه بغیر نه حلالیږي.

(۱۵) د حضرت حسن بن علي رضی الله عنه فتوی :

د حضرت حسن رضی الله عنه ارشاد دی چې :

لو لا انی بنت الطلاق لها لراجعتها لکنی سمعت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم یقول ایما رجل طلق امراته ثلاثاً عند کل طهر تطلیقة او عند راس کل شهر تطلیقه او طلقها ثلاث جمیعا لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (دار قطنی ج ۲ ص ٤۳۸) سنن بیهقی ج ۷ ص ۳۳٦).

ترجمه یې وړاندې تیره شوې ده

د تابعینو آثار

د حضرت عبد الله بن مغفل رحمه الله علیه فتوی :

حدثنا ابو بکر قال نا علی بن مسهر عن اسماعیل عن الشعبی عن ابن مغفل فی رجـــل طلق امراته قبل ان یدخل بها قال لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (مصنف ابـــن ابی شیبه ج ٥ ص ۲۳ فی الرجل یتزوج المراة ثم یطلقها).

کوم سړي چې خپلې منکوحې ته له صحبت نه وړاندې طلاق ورکړ نو اوس هغـه لپـاره تر هغه حلاله نه ده تر څو پورې چې له بل سړی سره نکاح ونکړي.

د قاضی شریح رحمه الله علیه آثار :

شریح رحمه الله علیه د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کی قاضي و، د هغه له زمـانی نه تر معاویه رضی الله عنه پورې قاضی پاتی شوی دی بو ډیر او چت تابعی وو.

(۱): حدثنا ابو بکر قال نا وکیع عن اسماعیل عن الشعبی عن الشریح قال (رجل) الی طلقتها مائة بانت منك بثلاث و سائرهن اسراف و معصیة (مصنف ابن ابی شیبه ج ٥ ص ١٤ فی الرجل یطلق امراته او الفا ..... الخ).

د شعبي بیان دی چې یو شخص شریح رحمه الله علیه ته وویل چې ما خـپلې ښځـې تـه سل طلاقه ورکړي دي.

قاضی شریح رحمه الله علیه وفرمایل: ښځه درته په دریو طلاقو طلاقه شوی ده او پـاتی ۹۷ طلاقه اصراف او ګناه ده.

(۲): عن الشعبی انه قال : قال رجل لشریح القاضی طلقت امراتی مائة فقال شریح بنت منك بثلاث و سبع و تسعون اسراف و معصیه (محلی ج ۲ ص ۱۷۳ احکام الطلاق).

(۲) د حضرت ابراهیم نخعي رحمه الله علیه فتوای :

(۱): حدثنا ابو بكر قال ناجریر عن مغیره عن ابراهیم فی الرجـــل یتـــزوج المـــرأة فیطلقها ثلاثاً قبل ان یدخل بها قال ان كان (قال) طالق ثلاثاً كلمه واحدة لم تحل له حتی تنكح زوجاً غیره او اذا طلقها طلاقاً متصلاً فهو كذلك (مصنف ابن ابی شیبة ج ۵ ص ۲۳ فی الرجل یتزوج المرأة ثم یطلقها).

مغیره له ابراهیم نخعی ځخه روایت کوي چې که کوم سړی نکاح وکړي او لـه صـحبت نه مخکې ورته دری طلاقه ورکړي نو د دی څه حکم دی ؟

هغه رحمه الله علیه وویل: که په یوه جملـه کـی دری طلاقـه ورتـه ورکـړي دي یعنـی داسې ورته ویلی وي چې ته په دریو طلاقو طلاقه یې نو ښځه هغه لپاره تر هغه حلاله نـه ده تر څو چې له بل سړي سره واده ونکړي.

(۲): حدثنا ابو بكر قال نا محمد بن فضیل عن حصین عن ابراهیم قال اذا طلقهـــا ثلاثاً قبل ان یدخل بها لم تحل له حتی تنكح زوجاً غیره(مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۲۳).

وېی فرمایل : کله چې څوک ښځې ته له جماع نه مخکې دری طلاقه ورکړي نو تر هغـې ورته نه حلالیږي تر څو پورې چې له بل سړي سره نکاح یی نه وي کړي.

(۳): حدثنا ابو بكر قال (حدثت) عن جریر عن مغیرة عن حماد عن ابراهیم قال اذا خیرها ثلاثاً فاختارت مرةً فهی ثلاث (مصنف ابن ابی شـــیبة ج ۵ ص ۶۵ فی الرجل یخیر امراته ثلاثاً فتختار مرة).

فرمایی : کله چې خاوند ښځې ته د دریو طلاقو اختیار ورکړي بیا ښځه په یـو خـل دری واړو طلاقه غوره کړي نو پر ښځه دری طلاقه واقع کیږي.

(٤): عبدالرزاق ..... عن ابراهیم قال اذا طلق الرجل ثلاثاً و لم یدخل فقد بانت منه حتی تنکح زوجاً غیره ..... الخ (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٣٢ – ٢٢٢ باب طلاق البکر) (اخرجه سعید بن منصور عن ابراهیم ج ٣ ص ٢٦١ قسم اول . رقم الحدیث ص ١٠٧٨ ایضاً ص ٢٦٣).

ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی : کله چې خاوند خپلې ښځې ته له صحبت نـه مخکې درې طلاقه ورکړي نو ترینه علیحده کیږي او وربانديې حرامه ده، ترخو چې له بل سـړي سره نکاح و نه کړي.

(۳) د حضرت مکحول رحمه الله اثر :

حدثنا ابو بکر قال نا حاتم بن ورد عن مکحول فیمن طلق امرءته قبل ان یدخل بهـا انها لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (مصنف ابن ابی شیبه ج ٦ ص ٣٠).

مکحول فرمایی کوم سړی چې خپلې ښځې ته له صحبت نه وړاندې طلاق ورکـړي نـو تر خو پورې چې له بل سړي سره نکاح ونکړی هغه لپاره حلاله نه ده.

(۴) د حضرت قتاده رحمه الله علیه آثار :

(١): حدثنا ابو بکر قال نا عبد الاعلی عن سعید عن قتاده عن الحسن وهو قـول قتاده انهما قالا اذا قال الرجل لا مرءته اعتدی ثلاثاً لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (مصنف ابن ابی شیبه ص ٣٠ ج ٥٠ قالوا اذا قال اعتدی ثلاثاً).

(٢) عبدالرزاق عن معمر عن قتادة فی رجل قال لا مراته اعتدی ، اعتدی ، اعتـدی هی ثلاث ..... الخ (مصنف عبدالرزاق ج ٢ ص ٣٦٤ باب قوله اعتدی).

د دواړو اثرونو مطلب دا دی چې کله خاوند خپلې ښځې ته اعتـدي، اعتـدی، اعتـدی درې کر ته ووایی نو درې طلاقه واقع کیږي او ښځه ورته له حلالی نه پرته نه حلالیږي.

(۵) د امام شعبی رحمه الله علیه آثار :

(۱): حدثنا ابو بکر قال نا عبده بن سلیمان عن عاصم عن الشعبی فی رجل یطلق امرءته ثلاثاً قبل ان یدخل له حتی تنکح زوجاً غیره (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۲۳ فی الرجل یتزوج المراه ثم یطلقها).

ترجمه یی واضحه ده.

(۲): حدثنا ابو بکر قال نا غندر عن شعبه عن عبدالله ابی السفر عن الشعبی فی رجل اراد ان تبین منه امرءته قال یطلقها ثلاثاً (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۱۲ من رخص للرجل ان یطلق ثلاثاً فی مجلس) (سنن سعید بن منصور ج ۳ ص ۲٦۰). (قسم اول رقم الحدیث نمبر ۱۰۷۲ ایضاً رقم الحدیث نمبر ۱۰۹۱).

امام شعبی فرمایی کوم سړی چې دا اراده وکړي چې د هغه ښځه دی له ما نه بالکل علیده شي نو هغې ته دی دری طلاقه ورکړي.

(۳): حدثنا ابو بکر قال نا ابو الا حوص عن مغیرة عن الشعبی فی رجل خیر امراته ثلاث مرار فاختارت نفسها مرةً واحدةً قال بانت نه بثلاث (مصنف ابی شیبة ج ۵ ص ٦٤ فی الرجل بخیر امراته ثلاثاً فتختار مرة).

امام شعبی فرمایی : کوم سړی چې خپلې ښځې ته دری کرته د طلاق ورکولو اختیار ورکړي او ښځه خپل ځان دری طلاقه واقع کړي نو ښځه په دری طلاقه وربانـدې طلاقیږي او ښځه ترینه جدا کیږي.

(٤): عبدالرزاق عن معمر عن عطاء بن السائب عن الشعبی مثله (قال فی الرجل یطلق البکر ثلاثاً جمیعاً و لم یدخل قال لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۳٦ باب طلاق البکر).

امام شعبی فرمایی : کوم سړی چې خپله ښځه له د خول نه مخکې یو ځای دری طلاقه ورکړي نو ښځه ورته تر هغه نه حلالیږي تر څو چې له بل سړي سره نکاح ونه کړي.

(٦) د امام زهري رحمه الله علیه اثار :

(۱): حدثنا ابو بکر قال نا عبد الاعلی عن معمر عن الزهری فی رجل طلق امراته ثلاثاً جمیعاً قال ان من فعل فقد عصی ربه و بانت منه امرءته (مصنف ابن ابی شیبه ج ۵ ص ۱۱ من کره ان یطلق الرجل امراته ثلاثاً ..... الخ).

امام زهري رحمه الله د هغه ځا په متعلق چې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی وي فرمایي : څوک چې دا قسم طلاق ورکړي نو هغه د خپل رب نافرماني وکړه او ښځه ترینه جدا شوه.

(۲): عن معمر عن ایوب قال دخل الحکم ابن عتیبه علی الزهری بمکة و انا معه فسالوه عن البکر تطلق ثلاثاً قال : سئل عن ذلك ابن عباس ، و ابو هریرة ، و عبدالله بن عمرو فکلهم قال لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره .... الخ (مصنف عبأالرزاق ج ٦ ص ۳۳۵).

ایوب فرمایي چې حکم بن عتبه په مکه مکرمه کی د امام زهري رحمه الله علیه په خدمت کی حاضر شو، زه هم له هغه سره وم. هغه له امام زهري رحمه الله علیه نه سوال وکړ چې: که څوک خپلې ښځې ته چې صحبت یې ورسره نه وي کړی طلاق ورکړي نو ؟

هغه ووېل: همدغه سوال ابن عباس رضی الله عنه، ابو هریره رضی الله عنه او عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه هم شوی و، هغوی ټولو فرمایلي وو چې: ښځه ورباندې تر هغه حرامه ده تر څو پورې چې له بل سړی سره نکاح یې نه وي کړې.

(۳): و کان عمرو ابو هریرة و ابن عباس و ابن شهاب رضی الله تعالیٰ عنه و غیرهم یقولون من طلق امرءته طلق الدخول بها ثلاثاً لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره ..... الخ (کشف الغمه للشعرانی ج ۱ ص ۱۰۱).

حضرت عمر رضی الله عنه، حضرت ابو هریره رضی الله عنه، حضرت ابن عباس رضی الله عنه، ابن شهاب زهری او نور فرمایي : کوم سړی چې خپلې ښځې ته له د خول نه مخکې طلاق ورکړي نو هغه له حلالی نه بغیر ورته نه حلالیږي.

(۷) د حضرت حسن بصري رحمه الله عليه آثار :

(۱): حدثنا اب، بكر قال نا وكيع عن الفضل ..... عن الحسن قال جاء رجل الى الحسن فقال انى طلقت امرأتى الفاً قال بانت منك العجوز (مصنف ابن ابى شيبه ج ٥ ص ١٤ فى الرجل يطلق امراته ماته ..... الخ)

يو سړی حسن بصري رحمه الله عليه خواته راغی او ويی ويل: ما خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي دي.

هغه رحمه الله وفرمايل : هغه له تا نه جدا شوي ده.

(۲): حدثنا سعيد قال نا حزم بن حزم قال سمعت الحسن ساله رجل فقال يا ابا سعيد رجل طلق امرءته البارحة ثلاثاً وهو شارب فقال يجلد ثمانين و برت منه (سنن سعيد بن منصور ج ۳ ص ٢٦٦ قسم اول رقم الحديث نمبر ١١٠٠ ايضاً ج ۳ ص ٦٦٣ — ٦٦٤ قسم اول رقم الحديث نمبر ١٠٨٨).

حزم بن حزم فرمايي : يو سړی له حسن بصری رحمه الله عليه نه پوښتنه وکړه چې تيره شپه يو تن خپلې ښځې ته د نشي په حالت کی درې طلاقه ورکړي دي.

هغه وفرمايل : هغه دی اتيا درې ووهل شي او ښځه دی ترينه جدا کړی شي.

(۸_۹_۱۰) د حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله عليه ، د حضرت سعيد بن جبير رحمه الله عليه او د حضرت حميد بن عبد الرحمان رحمه الله عليه آثار :

حدثنا ابو بكر قال نا عبد الاعلى عن سعيد عن قتادة عن سعيد بن المسيب و سعيد بن جبير و حميد بن عبدالرحمان قالوا لا تحل له حتى تنكح زوجاً غيره (مصنف ابن ابى شيبه ج ٥ ص ٢٤ فى الرجل يتزوج المرءة ثم يطلقها) (كذ عن سعيد بن جبير مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ٣٣٤ من قال اذا طلق امراته ثلاثاً وهى حامل ..... الخ).

مذکوره دری واړه حضرات فرمایی چې که کوم سړی ښځې ته دری طلاقه ورکړي نو له حلالی نه پرته ورته نه حلالیږي.

(۱۱) حضرت مصعب بن سعید رحمه الله علیه.

(۱۲) حضرت ابی ملک رحمه الله علیهعلیه.

(۱۳) حضرت عبد الله بن شداد رحمه الله علیه آثار

حدثنا ابو بکر قال نا وکیع عن سفیان عن منصور عن ابراهیم و عن جابر عن عامر و عن عمران بن مسلم عن ابن عفان و ابی ملک و عبدالله بن شداد قالوا اذا طلق الرجل امراته ثلاثاً وهی حامل لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره(مصنف ابن شیبه ج ۵ ص ۴۳).

پورتنی یادشوي دری واړه حضرات وایی چې که کوم سړی خپلې حاملې ښځې ته دری طلاقه ورکړي، نو تر څو پورې چې هغه له بل چا سره نکاح ونه کړي هغه لپاره حلاله نه ده.

(۱۴) د حضرت عطاء بن ابی رباح رحمه الله علیه اثر:

عبدالرزاق عن ابن جریح قال قلت لعطاء البته ، قال یدین فمن اراد ثلاثاً فثلاث و ان ارادو احد فوحدةً (مصنف عبدالرزاق ج ٦ ص ۳۵۵ اب البتة والخلیة).

ابن جریج فرمایی چې ما له حضرت عطاء رحمه الله علیه نه پوښتنه وکړه چې که یو سړی خپلې ښځې ته د " البته " په لفظ سره طلاق ورکړي نو څه حکم یې دی ؟

هغه وفرمایل : که چیر ته په دی لفظ سره د دریو طلاقو اراده وکړي نو دری واقع کیږي او که د یو طلاق اراده وکړي نو یو واقع کیږي.

د حضرت عطاء بن ابی رباح رحمه الله علیه له دی اثر نه معلوم شو چې د البته په لفظ کې یو ځای د دریو طلاقو نیت معتبر دی، کله چې د دریو طلاقو نیت وکړي نو دری واقع کیږي.

(۱۵) د حضرت امام جعفر صادق رحمه الله علیه اثر:

د حضرت امام جعفر صادق رحمه الله علیه صریحه فتوه ده چې له دریو طلاقو وروسته ښځه خپلې مخکینی خاوند لپاره له حلالی نه پرته نه حلالیږي.

عن ابان تغلب قال سألت جعفر بن محمد عن رجل طلق امرأته ثلاثا فقال بانت منه ولا تحل له حتى تنكح زوجا غيره فقلت افتى الناس بهذا قال نعم (سنن دار قطني ج ۳۰ ص ٤٤٤).

ابان تغلب فرمايي : ما له امام جعفر رحمه الله عليه نه پوښتنه وکړه چې که څوک خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي نو ايا هغه ښځه ورته حلاله پاتې کيږي ؟

هغه وويل : ښځه ترينه بائنه شوى ده او تر هغه ورته حلاله نه ده تر څو چې له بل چا سره نکاح ونکړي.

ما عرض وکړ ايا خلکوته زه دا فتوه ورکړم ؟

هغه راته وويل: هو! ښه په شوق سره.

خينو خلکو د امام جعفر رحمه الله په زمانه کې د هغه او د هغه اهل بيت په طرف دا غلط نسبت شروع کړ چې اهل بيت وايي : که چيرته کوم سړى د جهالت په وجه درى طلاقه ورکړي، نو يو طلاق واقع کيږي. کله چې دا خبره امام جعفر رحمه الله عليه ته ورسيده نو هغه ددې سخت ترديد وکړ او ويې فرمايل چې: زمونږ په نزد په درى طلاقو ورکولو سره درى واقع کيږي.

لکه چې سنن کبرى کې امام بيهقي دا روايت نقل کړى دى.

عن مسلمة بن جعفر قال لجعفر بن محمد الصادق ان قوماً يزعمون ان من طلق بجهالة رد الى السنة و يجعلونها واحدة يروونها عنكم قال معاذ الله ما هذا من قولنا من طلق ثلاثا فهو كما قال (سنن الكبرى للبيهقى اخر باب من جعل الثلاث واحدة ..... الخ ج ۷ ص ۳۷۰).

له مسلمه بن جعفر څخه روايت دى هغه فرمايي : ما له جعفر صادق څخه پوښتنه وکړه کوم سړى چې د جهالت په وجه درى طلاقه ورکړي نو هغه د سنت په طرف اړول کيږي او يو طلاق ګرځول کيږي او دا خبره له تا نه روايت کوي.

هغه وفرمايل : معاذ الله ! دا زمونږ قول نه دى. که کوم سړى خپلې ښځې ته درى طلاقه ورکړي نو همدغه درى طلاقه ورباندې واقع کيږي.

(۱٦) د حضرت عمر بن عبد العزیز اثر :

قال عمر بن عبدالعزیز لو كان الطلاق الفاً ما ابقت البته منه شیئًا. (موطا امام مالك ص ۱۹۹ باب ما جاء في البتة).

عمر رضی الله عنه فرمایی : که چیر ته سړي ته د شریعت له طرف نه د زرو طلاقو د ورکولو اختیار ورکول شوی وای او کوم سړي د البته په لفظ سره طلاق ورکولو نو یو طلاق به هم نه و پاتی شوي (ټول به واقع کیدل). (سنن سعید بن منصور ج ۳ ص ۳۹۰ قسم اول رقم الحدیث نمبر ۱٦۷۳).

(۱۷) د حضرت سلیمان اعمش کوفی رحمه الله اثر :

حضرت علی کرم الله وجهه په فتوی کی چې کوم اثر بیان شوی دی لدینه د امام اعمش کوفی مسلک د دریو طلاقو واقع کیدل ښه ښکاره ګنډیږي.

(۱۸) د امام محمد بن سیرین رحمه الله علیه اثر :

اخبرنا سعید قال ناهشیم قال انا ابو عون عن ابن سیرین انه كان لا یری باساً ان یطلق ثلاثا (سنن سعید بن منصور ج ۳ ص ۲٦۰ قسم اول رقم الحدیث نمبر ۱۰۷۱).

د ابن عون وینا ده چې ابن سیرین دری طلاقه ورکول بد نه ګڼل. (یعنی که څوک دری طلاقه ورکړي نو د هغوی د واقع کیدو قائل و).

(۱۹) د مروان بن حکم رحمه الله علیه اثر :

مالك عن ابن شهاب ان مروان بن الحكم كان یقضی في الذي یطلق امرأته البته انها ثلاث تطلیقات (موطا امام مالك ص ۲۰۰ باب ماجاء في البته)

ابن شهاب زهري فرمایی : که کوم سړی به خپلې ښځې ته البته طلاق ورکول نو مروان بن حکم رحمه الله علیه به هغه دری طلاقه ګرځول.

(۲۰) د حضرت امام مسروق رحمه الله علیه اثر :

حدثنا سعید عن الشعبی عن مسروق فیمن طلق امراته ثلاثاً و لم یدخل بها قال لا تحل له حتی تنکح زوجاً غیره (سنن سعید بن منصور ج ۳ ض ٦٢ قسم اول رقم الحدیث نمبر ۱۰۸۹).

مسروق فرمایی : کوم سړی چې خپلې غیر مدخوله منکوحې ته دری طلاقه ورکړي نو اوس هغه لپاره تر هغه نه ده حلاله ترڅو چې له بل سړي سره نکاح ونه کړي. فقط والله اعلم بالصواب.

زه تا ته فارغ خطی درکوم، طلاق، طلاق، طلاق د دی جملی حکم :

(۴۱۲_ سوال) یو سړی خپلې ښځې ته دا الفاظ ولیکل: زه تا ته فارغ خطی طلاق، طلاق، طلاق. په دی صورت کی څو واقع کیږي؟ بینوا تو جروا .

(ځواب): په مسئوله صورت کی د فارغ خطی په لفظ سره یو بائن طلاق واقع کیږي، (په دی لفظ سره د طلاق د واقع کیدو لپاره نیت ضروري نه دی لدینه وروسته دری لفظ د صریح طلاق لیکلي دي. او قاعده داده چې:

" الصریح یلحق الصریح ویلحق البائن بشرط العدة "

در مختار مع لشامي ص ٦٤٥ ج ۲ باب الکنایات صریح طلاق له صحیح طلاق سره لاحق کیږي او د عدت په شرط صریح طلاق له بائن طلاق سره هم لاحق کیږي،لهذا وروستي دوه صریح طلاق د لاحقیدو په وجه مغلظ طلاق واقع کیږي، او اخیرنی یو طلاق لغو کیږي.

په فتاوی خیر یه کی دي :

(سئل) فی رجل قال لزوجته انت علی حرام و نوی بذلك الطلاق ثم قال عقب ذلك فی العده انت طالق فهل یلحق الثانی الاول . اولا یلحقه ؟ لکون الثانی بائنا والاول بائن ، والبائن لا یلحق البائن (اجاب) تطلق ثلاثاً کما صرح به غیر واحد من علمائنا قال فی فتح القدیر الطلاق الثلاث من قبیل الصریح اللاحق بصریح و بائن و مثله فی البحر والنهر و منح الغفار و غیرها من الکتب و فی مشتمل الاحکام والبائن لا یلحق البائن یعنی البائن اللفظی لا یلحق البائن اللفظی ، اما المعنوی یلحق

اللفظی مثل الثلاثه من المبسوط انتهی قالوا وهی حادثة وقعت فی جلب رجل ابان زوجته ثم طلقها ثلاثاً و قدافتی بعضهم بعدم وقوع الثلث لانه بائن فی المعنی والبائن لا یلحق البائن فاعتبار المعنی اولی من اعتبار اللفظ کما ذکر فی السوال وافتی بعضهم بوقوع الثلاث قال فی الفتح الحق انه یلحقها ..... الخ (فتاوی خیریه ص ۵۱ — ۵۲ ج کتاب الطلاق مطالبه) فقط والله اعلم بالصواب.

که یو سړی وویل د الله تعالی په واسطه تاته طلاق دی، دا ئي دری کرته وویل نو د دی څه حکم دی؟

(۴۱۳_ سوال): یوسړي خپلي ښځي ته دری کرته دا جمله وویل چې: د الله تعالی په خاطر تا ته طلاق. نو د دی څه حکم دی ؟ بینوا تو جروا.

(ځواب): په مسئوله صورت کی پر ښځي دری طلاقه واقع شوي دي او مغلظه شوی ده، له شرعي حلالی نه پرته ورته نشي حلالیدلي. فقط والله اعلم.

باب الایلاء والظهار

له خپلې ښځې سره کله هم د صحبت نه کولو قسم خوړل او د هغه کفاره :

(۴۱۴ _ سوال): یو سړي دا قسم وخوړ چې کله هم له خپلې ښځې سره صحبت نه کوم، په انګریزی او ګجراتي ژبه کی قسم نامه یی ولیکله او خپلې ښځې ته ورکړه. د دغه کار یو کال تیر شوی دی او په دی وخت کی هغه له خپلې ښځې نه جدا اوسیږي، نو په دی صورت کی شرعاً حکم څه دی ؟ ایا پر ښځه کوم طلاق واقع شوي او عدت وربانديږ لازم شوي او که نه ؟ که هغه په دغه موده کی له خپلې ښځې سره صحبت کړی وای نو حکم به یی څه و ؟ بینوا توجروا. مفصل او مدلل یی ولیکئ (له افریقانه).

(خواب): دا چې خاوند دا قسم خوړلی دی چې زه به کله هم له خپلې ښځې سره صحبت نه کوم او پوره کال وربانديږ تیر شوی دی او په دی موده کی دواړه یو ځای نه دي اوسیدلي بلکی جدا جدا اوسیدلي دي نو د قسم خوړلو له وخت نه د څلورو میاشتو په تیریدو سره یو بائن طلاق واقع شوی دی او له هغه وخت نه د هغه عدت شروع شوی دی، که چیر ته دواړه پخپلو کی په نکاح کولو رضاء وي نو نکاح کولی شي که عدت یی پوره شوي وې یا نه، او که له بل سړي سره ښځه نکاح کول غواړي نو د عدت پوره کول ضروري دی، د عدت له پوره کیدونه مخکې نکاح نه صحیح کیږي له ښځې سره د صحبت نه کولو قسم خوړلو ته ایلا ویل کیږي، د ایلا د تحقق لپاره دا ضروري دی چې څلور میاشتو یا لدینه زیات د صحبت نه کولو قسم وخوري، که چیر ته لدینه د کمی مودی لپاره د صحبت نه کولو قسم وخوري نو ایلا یی نه صحیح کیږي مګر د صحبت کولو په صورت کی قسم یی ماتیږي او د هغه کفاره ورکول وربانديږ لازمیږي.

کله چې د ایلا تحقق وشي نو د هغه دوه صورتو نه دي .

لومړی صورت :

ترڅلورو میاشتو پورې د صحبت نه کولو قسم وخوري نو د دی حکم دا دی چې که د څلورو میاشتو له تیریدو نه مخکې مخکې صحبت ورسره وکړي نو قسم یی ماتیري او د

دی به کفاره ورکول کیږي . او که تر څلورو میاشتو پورې ورسره صحبت ونه کړي نو د څلورو میاشتو په تیریدو سره یو بائن طلاق واقع کیږي، که چیر ته لدینه وروسته دواړه خپلو کې یو ځل بیا یو ځای اوسیدو باندې رضاء وي نو دوباره به نکاح کوي. که له نکاح وروسته ورسره صحبت ونکړي نو طلاق نه واقع کیږي ځکه چې هغه قسم صرف تر څلورو میاشتو پورې د صحبت نه کولو خوړلی و. او دیته موقت ایلا ویل کیږي .

دویم صورت دا دی چې همیشه لپاره د صحبت نه کولو قسم وخوري، یعنی داسې ووایي :

په الله تعالی قسم چې زه به له تا سره هیڅکله صحبت ونکړم. کله چې په مسئوله صورت کې دی. نو د دی حکم دا دی چې که هغه ورسره صحبت ونکړ نو د څلورو میاشتو په تیریدو سره یو بائن طلاق واقع کیږي، که لدینه وروسته دواړه بیرته یو ځای اوسیدل غواړي نو دوباره نکاح به وتړي او که یو ځای اوسیدو باندې رضا نه وي نو د عدت د پوره کیدو نه وروسته چې هر چیر ته وغواړي نکاح کولی شي. که چیر ته دواړو پخپله خوښه دوباره نکاح وکړه نو که له نکاح نه وروسته صحبت وکړي نو قسم یې ماتیږي او ددی به کفاره ورکوي. او که تر څلورو میاشتو پورې صحبت ورسره و نه کړي نو د څلورو میاشتو له تیریدو نه وروسته دویم بائن طلاق ورباندې واقع کیږي او که حسب سابق یو ځای اوسیدل غواړي نو دوباره نکاح کوي، که بیا هم له همدی سره نکاح وکړه او ورسره صحبت یې وکړه نو د قسم د ماتیدو په وجه به کفاره ورکوي، او که تر څلورو میاشتو پورې ورسره صحبت ونه کړي نو د څلورو میاشتو په تیریدو سره دریم طلاق واقع کیږي. اوس له شرعي حلالې نه پرته له هغې سره نکاح یې نه کیږي، که له شرعي حلالې نه وروسته ورسره نکاح وکړه خو صحبت یې ورسره ونکړه نو طلاق نه واقع کیږي خو قسم یې باقي دي،لهذا چې کله هم صحبت ورسره وکړي نو د حانث کیدو له کبله به کفاره ورکوي (دغه دویم صورت مؤبد ایلا ویل کیږي).

په هدایه اولین کې دي :

و اذا قال الرجل لامرءته والله لا اقربك او قال لا اقربك اربعة اشهر فهو مول لقوله تعالی للذين يؤلون من نسائهم تربص اربعة اشهر فان وطيها في الاربعة الاشهر حنث في يمينه و لزمته الكفارة لان الكفارة موجب الحنث و سقط الايلاء لان اليمين ترتفع بالحنث و ان لم يقربها حتى مضت اربعة اشهر بانت منه بتطليقة . الى قوله . فان كان

حلف علی اربعة اشهر فقد سقطت الیمین لانها کانت موقتة به و ان کان حلف علی الابد فالیمین باقیة . الی قوله . فان عاد فتزوجها عادا الایلاء فان وطیها (فبـها) و الا وقعت بمضی اربعة اشهر تطلیقة اخری . الی قوله . فان تزوجها ثالثا عاد الایلاء ووقعت بمضی اربعة اشهر اخری ان لم یقربها لما بینا فان تزوجها بعد زوج اخر لم یقع بذلك الایلاء طلاق . والیمین باقیه لا طلاقها و عدم الحنث فان وطیها کفر عن یمینه لو جود الحنث ، فان حلف علی اقل من اربعا اشهر لم یکن مولیاً لقول ابن عبـاس الایلاء فیما دون اربعة اشهر (هدایه اولین ص ۳۸۱ ص ۳۸۲ باب الایلاء).

د قسم ماتولو کفاره داده چې لسو مسکینانو ته سهار او مانبام ډوډی ورکړی شـي یـا هـر مسکین ته د صدقه فطر په برابر غنم یا د هغه قیمت ورکړی شي. یا هـم هـر مسـکین تـه یوه جوړه جامی ورکړي او که له دغو شیانو څخه د یو څیز هم طاقت نه لري نـو پـر لـه پسې ډول دی دری روژی ونیسي :

په اولین هدایه کی دي :

کفارة الیمین عتق رقبه یجزی فی الظهار و ان شاء کسا عشرة مساکین کل واحـد ثوبا فما زاد و ادناه ما یجوز فیه الصلوة و ان شاء اطعم عشرة مساکین . الی قوله . فان لم یقدر علی احد الاشیاء صام ثلثه ایام متتبعات (هدایه ولین ص ٤٦١ کتـاب الایمان فصل فی الکفارة) فقط والله اعلم بالصواب.

که مې له تا سره صحبت وکړ نو ته را باندې طلاقـه یې، ایـا پـه دی سره ایلا کیږي او که نه؟

(۴۱۵_ سوال): محترم مفتی صاحب اسلام علیکم ورحمه الله وبرکاته :

الله دی وکړي طبیعت دی ښه وي، ما ته یوه مسئله پیدا شوی ده او زه ډیـر پریشـان یم، له تاسی نه د دغې مسئلی په باره تحقیق غوارم، هغه دا چې یو سړی زما خواتـه راغلـی وهغه له ما نه دا مسئله وپوښتله چې ما خپلې ښځې ته دا خبره کړی وه چې که زه له تـا سره وطی وکړم نو نه پر ما طلاقه یې، لدینه وروسته هغه تبلیغی جماعت سـره لاړ او اووه

سوال: ورسره تیری کړي له واپس راتلو نه وروسته یې له ما نه پوښتنه وکړه چې زما د دغې خبرې څه حکم دی ؟

ما ورته وویل کله چې ته له هغې سره وطی وکړی نو پر هغې صریح طلاق واقع کیږي نو څکه هغې ته رجوع کولی شي. هغه لاړ او ورته یې رجوع وکړه. د هغه اړیکی ورسره صحیح و او که نه ؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ.

(ځواب): په مذکوره صورت کی ایلا واقع شوی دی او د هغه حکم دا دی چې که هغه په څلورو میاشتو کی د ننه ورسره صحبت کړی وای نو رجعی طلاق واقع کیده او یواځی رجوع ورته کافی کیده او ایلا یې ساقطیده، لیکن په مذکوره صورت کی څلورو میاشتی تیری شوي دي او صحبت یې ورسره نه دی کړې نو یو بائن طلاق وربانديې واقع شوی دی. د دواړو په رضا له تجدید نکاح نه وروسته له یو بل سره د ښځې او خاوند په څیر اوسیدلی شي. په دی صورت کی یواځی رجوع کول کافی نه دی.

په هدایه اولین کی دي :

ولو حلف بحج او بصدقة او عتق او طلاق فهو مؤل لتحقق المنع باليمين وهو ذكر الشرط والجزاء ...... والحلف بالطلاق ان يعلق بقر بانها طلاقها او طلاق صاحبتها (هدايه اولين ص ۳۸۳ باب الايلاء).

په عنایه شرح الهدایه کې دي:

(قوله ولو حلف بحج او بصوم) لما فرغ من بيان اليمين بالله في الايلاء شرع في بيان اليمين بغير الله بذكر الله الشرط والجزاء بان يعلق قربانها بحج او صوم او صدقة او طلاق او عتق فانه يصير مولياً لتحقق المنع باليمين بذكر الشرط والجزاء (عنايه شرح هدايه ص ۲۰۳ مع فتح القدير ايضاً).

په در مختار کې دي:

و ان قربتك فعلى حج او نحوه .... او فانت طالق او عبده حر ..... فان قربها في المدة .... حنث و حنيئذ (ففي الحلف بالله و جبت الكفارة و في غيره و جب الجزاء و سقط الايلاء) للانتهاء اليمين (و الا) يقربها (ابنت بواحدة) بمضيها .... الخ.

په شامي کې دي:

(قوله او فانت طالق او عبده حر) ..... فان قربها تطلق رجعية و يعتق العبد (در مختار و ردالمحتار ص ٧٥٤ ج ٢ باب الايلاء).

په بهشتی زیور کی دي :

مسئله : پر الله تعالی یی قسم نه دی یا دکړی بلکی داسې یی ویلی دي که له تا سره صحبت وکړم نو ته پر ما طلاقه یی نو بیا هم ایلا وشو. که ورسره صحبت وکړي نو رجعی طلاق ورباندې واقع کیږي. او په دی صورت کی د قسم کفاره ورباندې نشته او که صحبت ورسره نه وي کړی نو له څلورو میاشتو تیریدونه وروسته بائن طلاق ورباندې واقع کیږي. او که داسې ورته وویل چې که زه له تا سره صحبت وکړم نو زما په سر به یو حج یا یوه روژه وي . یا یو روپی به خیرات ورکوم یا به قربانی کوم نو په دغو ټولو صورتونو کی هم ایلا واقع کیږي. که صحبت ورسره وکړي نو کومه خبره چې کړی ده هغه به ضرور سرته رسوي او کفارد به نه ورکوي، او که صحبت یی ورسره ونکړ نو له څلورو میاشتو نه وروسته ورباندې طلاق واقع کیږي. (بهشتي زیور ص ۷۷ څلورم جلد).

له ښځې سره صحبت نه کول او خپل مور پشان ګڼل :

(۴۱۶ _ سوال): کله چې زه د خپلې ښځې څنګ ته د صحبت لپاره لاړم نو هغې له ما سره زما د خوښی مطابق له صحبت کولو نه انکار وکړ، نو ما ته غصه راغله او ورته می وویل : زه قران کریم ګواه نیسم چې لدینه وروسته به له تا سره کله هم صحبت نه کوم. ته زما د مور پشان یی ما دا خبره د طلاق په اراده نه ده کړی بلکی د صحبت نه کولو په اراده می کړی ده.

نو د دی شرعي حکم څه دی ؟ ایا لدینه وروسته زما لپاره جائز ده او که نه ؟ مهربانی وکړي خواب راکړئ .

(خواب): مذکوره صورت د قسم نه دی بلکی اظهار دی. لهذا اظهار د کفاری له ادا کولونه وراندی له ښځې سره جماع او صحبت کول جائز نه دی.

په کفاره کی مسلسل دوه میاشتی روژی نیول دي، که د دی طاقت نه لری او نه یی شی نیولی نو سهار او ماښام دوه وخته ۶۰ مسکینانو ته ډودی ورکړه، یا هم هر یو مسکین ته پاو کم دو سیره یعنی دوه کیلو غنم ورکړه ، په دی سره ستا کفاره وی نو کفاری ادا کیږي او صحبت ورسره درته جائز ګرځي [1].

---

[1] ((الظهار هوَ تشبه الزوجة او جزء منها شائع او معبّر به عن الكل بما لا يحل النظر اليه من المحرمة على التابيد ولو برضاع و صهرية كذا فى فتح القدير (فتاوى عالمگيرى الباب التاسع فى الظهار ج ۱ ص ۵۰۵) كفارة الفطر و كفارة الظهار واحدة وهى عتق رقبه مؤمنه او كافرة فان لم يقدر على العتق فعليه صيام شهرين متتابعين و ان لم يستطع فعليه اطعام ستين مسكينا كل مسكين صاع من تمر او شعير او نصف صاع من حنطة (فتاوى عالمگيرى كتاب الصوم المتفرقات ج ۱ ض ۲۱۵).

د نکاح تنسیخ

د نامردی په حالت کې طلاق " خلع " کولی شی:

(۴۱۷ ـ سوال): یو تن خلور کاله وړاندې واده کړی ده، لیکن هغه نامرد دی. ښځه یې خوانه ده. د دوه کلو راهیسی د پلار کره ده ، د جلی پلار طلاق غواړي خوهغه طلاق نه ورکوي او وایی چې دوه کاله وروسته طلاق ورکوی، خلور کاله کیږی چې د علاج باوجود ښه نه شوی لدینه وروسته به څنګه ښه شی د ښه کیدو هیڅ نښی نښانئ نشته. ښځه یې خوانه جلی ده له هغې نه ګناه کیدو قوي امکان دی او مور پلار عزت ته د تاوان رسیدو سوال هم شته، غواړم چې عدالت ته رجوع وکړم مهربانی وکړئ ما ته په دی باره د شریعت حکم بیان کړئ چې څه وایی، مهربانی وکړئ په تاکید سره ځواب راکړئ؟

(ځواب): په مسٔوله صورت کې لومړی د خلع کولو کوښښ وکړئ، یعنی که مهر یې باقی وي نو هغه ورته معاف کړئ او طلاق ترینه وغواړئ او که طلاق ورنکړي نو خپل مسٔله شرعي قاضی یا مسلمان حاکم ته یوسه، اوکه داسي نشي کیدلی یعنی شرعي قاضی او مسلمان حاکم نه وي نو بیا د مسلمانانو جرګی ته حواله کړه چې پکې تجربه کار عالم موجود وي ، که چیرته د هغه نامردی ثابت شي نو علاج لپاره یو کال نور هم ورکول کیږی، که چیرته په دی یو کال کې هم روغ رمټ نشي او طلاق ورکولو ته زړه نه ښه کوي نو شرعي قاضي یا د مسلمانانو جرګه په زور د دواړو تر منځ نکاح فسخ کولي شي.

د حضرت سعید بن میسب بیان دی، چې کوم سړی له یوی ښځې سره نکاح وکړی مګر له هغه سره د ښځې سره د مجامعت کولو طاقت نه وي (نامرد وی). نو هغه ته دی یو کال مهلت ورکړی شی، که چیرته په دی یوکال کې ښه شو او صحبت یې ورسره وکړه نو ډیر ښه خو که ښه نه شو نوښځه دی له هغه نه جدا کړی شي.[1] (موطا امام مالک ص۲۱۴ مجتبائی ۱

---

[1] - ((عن سعید بن مسیب انه کان یقول من تزوج امراته فلم یستطع ان یمسها فانه یضرب له اجل سنة فان مسها والافرق بینهما (اجل الذی لا یمس امرءته ص ۵۶۸).

د فقه معتبر کتاب په قدوری کي دي:

و اذا كان الزوج عنيناً اجله الحاكم حولاً فان وصل فى هذه المدة فلا خيار لها والا فرق بينهما ان طلبت المرأة ذلك (ص ١٦٦ مطبع العليمى لاهور).

یعنی کله چې خاوندیی نامرد وي نو مسلمان حاکم دی هغه ته علاج لپاره یو کال وخت ورکړي، که چیرته په دی موده کې ښه شو نو ډیره ښه که نه نو ښځه د طلاق مطالبه ترینه وکړي نو د دواړو تر منځ دی تفریق وکړی شي. (الحيلة الناجزة) د ښځي او خاوند تر منځ په تفریق کې د غیر مسلم قاضي فیصله شرعاً معتبره نه ده لهذا د مسلمانانو جرګه چې پکې عالم هم موجود وي د دواړو تر منځ د نکاح فسخ کولو فیصله دي وکړي.

د مفقود شرعي حکم څه دی؟

(۴۱۸ ـ سوال): تقریباً د ۲۲ کلنی جلۍ واده څلور کاله وړاندې شوی وه، له واده دوه دو نیم کاله وروسته د هغه خاوند ورک شو، ډیره لټه مو وکړه خو پیدا نه شو د شلو میاشتو راهیسی ورک دی، د هغه ښځې ته څوک نان ونفقه نه وړکوي نو اوس دی ښځه څه وکړي؟ د هغې د نفقې او لباس مسٔول څوک دی، د دی ښار علما وایی چې ښځه نوي کاله انتظار وکړي. که په دی فاسده زمانه کې د یوي خوانی ښځې لپاره په پاک شریعت کې څه ګنجائش وي نو د عربی عبارتونو په حوالی سره ځواب راکړئ؟

(ځواب): د جمهورو ائمه و او مجتهدینو اجماع دا ده چې ورک شوي سړی د مال او جانداد په باره کې تر هغو ژوندی منل کیږی ترڅو پورې چې د هغه همزولي ژوندي وي، کله چې د هغه همزولي مړه شي نو هله هغه هم مړ شمارل کیږی او ترکه یې ویشل کیږی، لهذا د هغه ښځه هم نوي کاله وروسته کنډه ګڼل کیږی، خو په ځینو صورتونو کې چې یا په جنګ ورک شوی وي یا کینسر په ناروغی کې ورک شوی وي، یا په دریاب کې د کار کولو په وخت کې ورک شوی وي او شرعي قاضي ته د هغه د مړکیدو غالب ګمان وشي نو هغه د مړکیدو حکم ورکولی شي.

لیکن حضرت امام مالک رحمه الله علیه د ښځې په باره کې د څو شرطونو په نظر کې بیولو سره د څلور کلونو موده ټاکلی ده او په دلیل کې د حضرت عمر رضی الله عنه فیصله یې وړاندې کړی ده:

ایما امرأة فقدت زوجها فلم یدراین هو فانها تنتظر اربع سنین ثم تعتد الربعة اشهر و عشر ثم تحل. (موطا امام مالك ص ۲۰۹ عدة التی تفقد زوجها).

یعنی د کوم ښځې خاوند چې ورک شي او معلوم نشي چې چیرته دی (ژوندی دی اوکه مړ). نو ښځې دی (د شرعي قاضي په حکم سره). څلور کاله انتظار وکړي او بیا څلور میاشتي او لس ورځې عدت نه وروسته نکاح کولی شي.

حضرت امام احمد بن حنبل هم په خینو مواقعو کې د څلورو کالونو موده منلی ده اوس د وخت د نزاکت او د فاسدی زمانی په خاطر د مجبوریت له وجه حنفی فقهاء هم د امام مالك د مذهب په مطابق د څلورو کالونو د مودی فتوه ورکوي.

لو افتی حنفی فی هذه المسئلة بقول مالك عند الضرورة لا باس به عمدة الرعایة علی شرح الوقایة (ج ۲ ص ۳۱۳ کتاب المفقود الدر المنتقی شرح الملتقی ج ۱ ص ۱۲۲) (شامی ج ۳ ص ٤٥٦). لنډه دا چې که د کومې ښځې خاوند ورک شوی اودا هم معلوم نه وي هغه ژوندی دی اوکه مړ شوی دی ، او ښځې ته نفقه او لباس نه رسیږی، یا په عزت او عفت سره ژوند تیرول ورته گران وي نو د داسې مجبوریت په صورت کې دی ښځه خپله مقدمه د قاضي په عدالت کې پیش کړي، له پوره تحقیق او تفتیش نه وروسته دی څلور کاله وخت ورکړي، کله چې څلور کاله پوره شي نو د ښځې په غوښتنه دی د هغې د خاوند د مرینی او وفات حکم صادر کړي او له عدت نه وروسته له بل چاسره د نکاح کولو اجازه ورکړي. که چیرته ښځه دیره تنکه وي او نور څلور کاله صبر نشي کولی، په فتنه کې د غورځیدلو قوی اندیښنه وي نو په داسې خطرناک وخت که د مالکې مذهب په مطابق فقط د یو کال له انتظار نه وروسته د عدت له تیرولونه بعد قاضی ورته د بل نکاح اجازه ورکولی شي.(الحیلة الناجزة ص ٦١ بالفاظة). د عدت تر ختمیدو پورې ښځه د خپل لاپته خاوند په جائداد کې د نفقی لباس او د نورو خرچو د اخستو شرعاً حقداره ده.

که غیر مسلم قاضي د ښځې او خاوند تر منځ نکاح ماته کړي.

(۴۱۹ _ سوال):: په بمبئ کې یو جلی واده شوه، مگر د پنځو کلو راهیسی خاوند یې په افریقا کې دی، فی‌الحال د جلی عمر شل کاله دی، له واده نه وروسته د هغه خاوند افریقا ته تلی دی. نه خپله ښځه هلته وری اونه ورته نان نفقه لیږی، هغه د خپلې

ښځې د خطونو خواب نه ورکوي بالاخر د بمبئ په کورټ (عدالت). کې مقدمه دائره کړه او طلاق یې ترینه واخست. ایا د هغې طلاق واقع شوی اوکه نه؟ که نه وي واقع شوي نو د طلاق د ترلاسه کولو څه صورت کیدلی شي؟ ایا تر اوسه پورې د مهر او نفقې حقداره ده که نه؟ که حقداره وي نو ایا د عدالت د لارې د هغه ترلاسه کول صحیح دی ؟

(خواب).: په مسٔوله صورت کې د غیر مسلم قاضي فیصله شرعاً معتبره نه ده لهذا په بل خای کې واده نشي کولي اوکه وکړي نو اعتبار نه لري، لهذا دغه مقدمه دی د دیندار مسلمانانو جرګې ته وړاندې کړی شي چې په دی کې یو ماهر عالم موجود وي. دغه جرګه دی شرعی ګواهي او نورو تحقیقاتو په ذریعه د نکاح د فسخ کولو فیصله وکړي، لدینه وروسته ښځه د شریعت په رڼاکې آزاده ده، ښځه د مهر حقداره ده لیکن د تیر شویو ورځو د نفقې حقداره نه ده.

والنفقت لا تصير دينا الا بالقضاء والرضاء (در مختار)..

(قوله والنفقة لا تصير دينا) ای اذا لم ينفق عليها بان غاب عنها او كان حاضراً فامتنع فلا يطالب بها بل تسقط بمضى المدة (در مختار مع الشامى ج ٢ ص ٩٠٦ باب النفقة مطلب لا تصير النفقة دينا الا بالقضاء اوالرضاء).

د مجبوریت له کبله له انګریزی عدالت نه طلاق اخستل څنګه دي ؟

(۴۲۰ ـ سوال).: زما لور خوانه او عاقله ده، د هغې واده شوي ده، دری کاله وروسته د هغه د خاوند دماغ خراب شو، علاج مو ورته ډیر وکړ خو ښه نه شو، هغه هیڅ کاراو بار نشي کولی او هر وخت خپله ښځه وهي او ډبوي. زما لور ډیره پریشانه ده. زما لور فی‌الحال له ما سره اوسیږی او نه غواړي چې له خپل لیونی خاوند سره واوسي خو خاوند ورته طلاق نه ورکوي. ایا له کورټ (عدالت). نه ورته طلاق اخستلی شوو او که نه ؟ ایا دا طلاق شرعاً منل کیږي ؟

(خواب).: جلی ته پکار دي چې پر خپل تقدیر باندې راضی واوسي. خو که بیاهم دومره پریشانه وي چې له خاوند سره نور ګوزاره نشي کولي نو خاوند ته دی مهر معاف کړي او یا هم د څه مال په بدل کې ترینه طلاق واخلي. خاوندیي طلاق ورکولو ته تیار

نه وی او جلی دخوانی په وجه تحمل نه لري. یا دا چې خاوندیې بالکل لیونی دی او خوراک څښاک لپاره څه نشته نو ښځه شرعاً د شرعي قاضي د لاری طلاق اخستلی شي اوکه شرعي قاضي نه وي موجود د مسلمانانو جرګی د لاری چې پکې تجربه کار عالم هم موجود وي طلاق واخلي. د غیر مسلم قاضي فیصله صحیح نه ده. (الحیله الناجزه).
فقط والله اعلم باصواب

که زما خاوند ما ونه غواړي او نه راته طلاق راکړي نو له هغه نه د خلا صیدو څه صورت دی؟

(۴۲۱ ـ سوال): لس کاله کیږي چې زما خاوند ما خپل ځانته نه غواوړي او نه هم زما حال احوال اخلی. نان نفقه زاته نه راکوي، هغه دویم واده کړی ده، هغه ماته طلاق هم نه راکوي، په دی صورت کې زه څه وکړم، زما پلارغریب دی لهذا تاسی مهربانی وکړئ ماته له هغه نه د خلاصیدو شرعي لاره وښائ ؟

(ځواب): که خاوند تا ته طلاق نه ورکوي نو ته مهر معاف کړه چې طلاق درته درکړي، یا هم څه مال ورته ورکړه چې په بدل کې درته خلع درکړی او که په دی هم رضا نه وي نوهغه دی په قانوني توګه طلاق ورکولو مجبور کړی شی. که شرعي عدالت نه وي نو مسلمانانو جرګه دی چې پکې دینی او تجربه کار عالم موجود وي، د شریعت په رڼاکې دی ستا خاوند تا ته د طلاق ورکولو لپاره مجبور کړی. یا د پخپله د طلاق واقع کولو فیصله صادر کړي، عدت له تیرولونه وروسته ته کولی شی چې د بل چا سره نکاح وکړی. (الحیله الناجزه). فقط والله اعلم بالصواب.

د ورک خاوند د فیصلې لپاره د کمیټی انتخاب دی څوک وکړي ؟ او د فیصلې کولو طریقه به څنګه وي ؟

(۴۲۲ ـ سوال): زمونږ مدرسی ته د یو ورک شوي خاوند مسٔله راغلی ده، ما الحیله الناجزه نومی کتاب کتلی دی په دی وخت د هغه په باره یو دوه خبرې د پوښتنې دي.

(۱). د مسلمانانو د غونډي تشکیل به څوک کوي ؟ ایا چاته چې دا مسٔله راغلی د دی پخپله خوښه کمیټی راغواړي یا عام مسلمانان دی د دغې کمیټی ارکان منتخب کړی؟

(۲). کله چې د ښځې یا د نورو بیان واخستلی شي نو په دی وخت د کمیټی د ټولو ارکانو موجودیت ضروري دی اوکه یواځې صدر کافي دی؟ هم دا راز یواځې د صدر فیصله معتبره ده اوکه د ټولو ارکانو متفقه فیصله ضروري ده؟ بینواتو جروا.

(ځواب): (۱). چیرته چې شرعي قاضي موجود نه وي او د حکومت له لوری د ده قسم مقدمو د تصفیه کولو اختیار کوم مسلمان قاضي ته حاصل وي او هغه د شریعت د قانون په مطابق فیصله وکړي نو د هغه فیصله هم د قاضي د قضا قائم مقام ګرځي. او چیرته چې د حکومت له طرف نه دا قسم انتظام نه وي او عام مسلمانان د دا قسم معاملاتو د تصفیي لپاره د علم اوفهم له خاوندانو څخه له لږه تر لږه دری کیسږه جرګه جوړه کړي او هغه متفقه فیصله صادره کړي نو د هغوی دا فیصله د قاضي د قضا قائم مقام ده (۲). د بیانو نو د اخستلو او د واقعاتو د تحقیق په وخت کې د ټولو ارکانو موحودیت ضروري دی او فیصله هم هغه معتبره ده چې متفقه وي، صرف د صدر تحقیق او فیصله معتبره نه ده. فقط والله اعلم بالصواب.

که خاوند نامرد وي نو ښځه څه وکړي؟

(۴۲۳ ـ سوال): زمونږ شرعي جرګې ته د نامرد سړی په باره کې یو مقدمه راغلی ده، د واده ۱۲ کاله تیر شوي دي تر ۸ کاله پورې خاوند یې روغ رمټ و، څو ځلور کاله کیږی چې نامرد شوی دی، د الحیله الناجزه په مطابق د دوی تر منځ تفریق نشي کیدلی، مګر ښځه ځوانه او صحت منده ده، خاوند یې نه علاج کوي او نه هم په نورو خدمتونو سره خپله ښځه خوشالوي، د موجوده ماحول په مطابق زمونږ جرګې رای داده چې خاوند ته یو کال بل هم د علاج لپاره وخت ورکړی شي، که چیرته په یو کال کې هم صحت مند نشي نو د دواړو تر منځ دی تفریق وکړی شي. که خاوند یې زمونږ دا فیصله ونه منی نو ایا مونږ بیا هم د دواړو تر منځ تفریق کولي شو او که نه؟ زمونږ په شرعي جرګه کې مستند او متدین علماء شامل دي. مهرباني وکړئ په دی باره کې مونږ ته لار ښوونه وکړئ چې په دی مسله څنګه او څه قسم فیصله وکړو؟ (احمد آباد څخه)..

(ځواب): په مذکوره صورت کې ښځې ته د تفریق حق نشته، مناسب دا دی چې د هغې خاوند ته د علاج لپاره نور مهلت هم ورکړی شي او ورسره دی تعاون هم وکړئ شي، که له علاج نه وروسته بیا هم جوړ نشي نو د خلع او نورو څیزونو باندې دی رضا کړی شي. که هغه انکار وکړي او ښځه یې ځوانه وي او په ګناه کې د واقع کیدو قوي

ویره وي نو ناسی په زوره ترینه د طلاق اخستلو حق لرئ.هذا ما ظهرلی فقط والله اعلم بالصواب.

که خاوند یې شیعه وي نو د ښځې او خاوند تر منځ تفریق ضروري دی او که نه ؟

(۴۲۴ _ سوال):: د نکاح په وخت ښځه او خاوند دواړه د اهل السنت و الجماعت عقیده درلوده. مګر دو کاله کېږي چې خاوند یې شیعه شوی دی ښځه پخپله عقیده ولاړه ده خاوند یې پر هغې هم د شیعه کیدو دباو او فشار آچوی مګرښځه یې ورسره نه مني نو ځکه د دواړو تر منځ سخت اختلاف پیدا شوی دی او ښځه ترینه خپل پلار کره تلی ده. اوس سوال دا دی چې بیرته خاوند کره ولیږل شی او که بل ځه وکړی شي ؟ بینوا توجروا.

(خواب):: د شیعه ګانو ګنې ډلې او عقیدې دي. د ځینو ډلو عقیده د کفر تر حده رسیدلې دی. پاتې نور مبتدع او ګمراه دي کوم سړی چې د اهل السنت و الجماعت عقیده پریږدي او شیعه شي هغه مردود دی. د حق مسلک توهین کړی دی د دی خبرې قوی امکان دی چې خاتمه یې خرابه شي

لهذا ترڅو پورې چې توبه ونه باسي او بیرته د اهل السنت و الجماعت مسلک خپل نکړي نو ښځې لپاره جائز نه دی چې د هغه سره بو ځای واوسي. هغې ته پکار دي چې د مسلمانانو جرګې ته خپله عریضه او مقدمه یوسي او د تفریق غوښتنه وکړي. له تحقیقات نه وروسته چې کومه شرعي فیصله صادره شي د هغې په مطابق دی عمل وکړي. فقط والله اعلم بالصواب.

که خاوند نه طلاق ورکړی او نه د زوجیت حقوق ادا کړی نوله هغه نه د خلاصون لاره څه ده ؟

(۴۲۵ _ سوال):: یو سړی په برما کې دی او ښځه یې په هندوستان کې ده، پنځه لس کاله کیږی چې خاوند ورسره نه رابطه کوي او نه ورته خرچه لیږی، د خط خواب ورته هم نه ورکوي، د طلاق مطالبه هم نه پوره کوي، ایا په داسې حالت کې ښځه بل خاوند کولی شي او د دی څه شرطونه دی مهربانی وکړئ خواب یې راکړئ؟

(خواب):: د طلاق تر لاسه کولونه بغیر بل واده نشي کولی، که ښځه تفریق غواړي نو خپله عریضه دی شرعي قاضي یا د مسلمانانو جرګې ته وړاندې کړي اوله خپله خاوند نه

تفریق غوښتنه وکړي، شرعي قاضي یا د مسلمانانو جرګی ته له پوره تحقیق نه وروسته د طلاق واقع کولو او د تفریق حق شته د شرائطو او د طریقو د معلومولو لپاره د الحیله الناجزه نومی کتاب لوستل ضروري دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د ورک شوي خاوند په باره کې د غیر مسلم قاضي فیصله معتبره ده او که نه ؟

(۴۲۶ ـ سوال): یو سړی د دوه کلو راهیسې لاپته دی، د هغه له طرف نه تر اوسه هیڅ قسم خط و کتابت نه دی شوي د هغه ښځه او خپلوان یې غواړي چې د هغه ښځې واده له بل چاسره وکړي، د جلی له طرف نه په کوټ (عدالت). کې مقدمه دائره کړی شوی ده په هغه کې ویل شوي دی چې زما خاوند ورک شوی دی، لهدا کوټ (عدالت). دی ماته له بل چاسره د واده کولو اجازه راکړي.
ایا ښځه له بل چاسره واده کولي شي؟ کورټ ورته له بل چاسره د نکاح کولو اجازه ورکړی ده او هغه له بل سړي سره واده کوی، ایا دهغې په نکاح کې ګډون کوونکې خلک د شریعت له مخی ګنهګاریږي، که شرعاً دا نکاح جائز وی نو د دی عدت به څه صورت وي؟

(خواب): چیرته چې شرعي قاضي موجود نه وی مګر هلته د حکومت له طرف نه د دا قسم مقدمو تصفیه کولو اختیار مسلمان قاضي وي او هغه د شریعت مطابق فیصله وکړي نو د هغه فیصله د قاضي د فیصلې قائم مقام ګرځی او ښځې ته جائز دي چې د عدت له تیرو لو نه وروسته له بل سړی سره نکاح وکړي. د غیر مسلم جج (قاضي). فیصله صحیح نه ده نو ځکه طلاق نه واقع کیږي او نکاح یې هم نه صحیح کیږي، کوم خلک چې د پوهی باوجود د هغې په نکاح کې ګډون وکړي هغوی خلک ګنهګار دي.
په داسې صورت کې باید خو مسئول کسان په دریو کسانو مشتمل یوه جرګه دائره کړي چې یکې لږ تر لږه یو مستند عالم هم وي او هغوی ته دی د فیصلې کولو اختیار ورکړی شي. او هغه جرګه دی د شرعي قانون په مطابق له تحقیق نه وروسته فیصله وکړي نو بیا د هغوی فیصله هم د قاضي د فیصلې په حکم کې دی اوپر دغه فیصله عمل کول صحیح دی. (الحیله الناجزه). فقط والله اعلم بالصواب.

که خاوند یې لیونی شي نو د هغه ښځه دی څه وکړي ؟

(۴۲۷ سوال):: یو سړی لیونی شوی دی خپله ښځه ډېر زیات وهي چې له زغم نه وتلی دی، نو ځکه له خاوند سره اوسیدل نه غواړی، هغه ځوانه ده، له خاوند نه بغیر د عفت او عصمت ژوند تیرول ډیر ګران کار دی. ایا داسې کوم صورت شته چې ښځه په بل ځای کې واده وکړي او له خپل لیونی خاوند خلا صه شي ؟

(ځواب):: داسې لیونی چې کله لیونی وي او کله روغ رمټ وي، نو که د صحت په حالت که طلاق ورکړي نو طلاق یې معتبر دی او ښځه یې طلاقیږي خو د لینتوب په حالت طلاق یې نه واقع کیږي. څه نکه چې د نا بالغ طلاق معتبر نه دی همه غسی د لیوني طلاق هم نه واقع کیږي، دا چې ښځه له خپل خاوند سره ګوزاره نشي کولي او د هغه له وهلو نه تنګه شوي ده، همدغه راز د ځوانی په وجه له خاوند سره اوسیدل هم ورته ګرانه ده، نو د شرعي جرګی په وړاندې چې په هغې کې مستند عالم هم موجود وي خپله عریضه او مقدمه وړاندې کړي او ترینه د علیحده کیدو غوښتنه کولي شي. شرعي جرګه دی د هغې خاوند د علاج لپاره یو کال نور وخت هم ورکړی که په دغه موده کې ښه شو نو ډیر ښه که نه ښځه د شرعي جرګی د فیصلې په نتیجه کې طلاق حاصلول او د عدت له تیرولونه وروسته په بل ځای کې نکاح کولي شي (الحیلة الناجزة). فقط والله اعلم بالصواب.

ایا د نسلبندې کولو په صورت کې ښځی ته له خپل خاوند د تفریق حق شته او که نه ؟

(۴۲۸ _ سوال):: حضرت المخدوم و المحترم ! عرض دا دی چې دارلقضاء امارت شرعیه کې دښځو له ظرف نه داسې استغاثې راغلي دي چې د هغوی خاوندانو خپل خانونه له تولیدی قوت نه محروم کړی دي نو ځکه هغوی ته دی له خپلو خاوندانو څخه علیحده او له بل چا سره د واده کولو حق ورکړی شي. اوس سوال دا دی چې په دی صورت کې ښځې ته د نکاح د فسخ کولو حق شته او که نه ؟

دا حقیقت پخپل ځای مسلم دی چې نسلبندې په وجه د سړی صرف د تولید قوت له منځه ځي مګر د جماع او صحبت قدرت پخپل ځای پاتې وي، که څیرته د نکاح مقصد توالد او تناسل وی نو ښځه کماحقه د نکاح له مقصد نه ګټه نشي او چتولي او د

هغې حق یعنی د ماشومانو پیدا کیدل شرعاً متاثره کیږي او که نه ؟ (دارالقضاء امارت شرعیه بهار اوریسه دربهنګه).

(ځواب):: یواځې د قوت تولید د مفقود کیدو په وجه د ښځې او خاوند تر منځ تفریق نشي راوستل کیدلی.

لو لم یکن له ماء و یجامع فلا ینزل لا یکون لها حق الخصومه کذا فی النهایه (عالمګیری ج ۲ ص ۱۵٦ – ۱۵۷ الباب الثانی عشر فی العنین).

لهذا ښځې ته د نکاح فسخ کولو د مطالبې حق نشته. خو خلع کولی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

که خاوند نامرد وی نو څه حکم یې دی ؟

(۴۲۹ ـ سوال):: زما د لور واده دری ځلور میاشتې مخکې شوی ده، په دغو میاشتو کې خپل خسر کره اوسیده اوس خپل کورته راغلی ده، هغه د خپل خاوند نه شکایت کوي چې هغه نامرد دی او تر اوسه پورې ورسره جماع نه ده کړی، لدینه علاوه له خاوند نه د لوچکې او غفلت شکایت هم کوي. ما چې د هغې له خاوند سره دا خبره وکړه نو هغه انکار وکړ او ویې ویل چې دا پرما هسې تور او الزام دی، ما هغه ته داکتر ته د تللو وویل مګر هغه داکتر ته تللونه انکار کوي، زما لور هغه کره تللو ته رضا نه ده. په دی مسئله کې د شریعت څه حکم دی ؟

(ځواب):: خپل خاوند کره هله ولیږه چې هغه داکتر ته لار شي او هغه د صحت تصدیق وکړی، که خاوندیې دیته هم تیار نه وی نود خلع صورت دی خپل کړی شي او د څه ورکولو په عوض کې دی ترینه نجات حاصل کړی شي. له طلاق نه پرته خلاصی ترینه مشکله ده او په بل ځای کې واده کول شرعاً جائزه نه ده، که د مسلمانانو کومه قومي شرعي جرګه وي نو جلی دی هملته خپل عریضه وړاندې کړي، له تحقیق نه وروسته چې کومه شرعي فیصله هغوی وکړي نو هغه دی ومنل شي. والله اعلم بالصواب.

که ښځه د مغلظ طلاق دعوه وکړي مګر خاوند يې منکروي نو په دی صورت کې شرعي جرګی ته د نکاح د فسخ کولو حق شته او که نه ؟

(۴۳۰ ـ سوال):: د زید او د هغه ښځې تر منځ يوه شپه جګړه وشوه، زینب وائي چې د جګړي په وخت کې زید ماته بدی ردی وويل بیا راته دری صریح طلاقه راکړل. مګر زید وایی چې ما زینب ته بدی ردی ویلی دي مګر طلاق مې ورته نه دی ورکړي.
دواړه د خپل بیان لپاره قسمونه خوري خو له دواړونه يو هم د خپلې خبرې د ثبوت لپاره ګواه نه لري. جرګی چې څومره تحقیق کوی د اصل حقیقت ته له رسیدونه قاصر پاتی شوي دي. تر کومه حده چې د اخلاق او کردار خبره ده د جرګی په نظر کې زینب ثقه ښکاری له دینداری کورنۍ سره تعلق لري، لمونځ ګذاره او دینداره ده، زید داکتر دی د تولید د ختمولو کار هم کوي.نکاح يې لس کاله مخکې شوی ده، خلور ماشومان يي هم شته. شرعی جرګی د مصالحت هر ممکن کوشش وکړ تردی چې د خلع تجویز مو وړاندې کړه لیکن د زید پلار بې ځای مداخلت کوي او زمونږ د صلحی کوشش سبوتاژ کوي.
اوس سوال دا دی چې ایا شرعي جرګی ته د نکاح د فسخ کولو حق شته او که نه ؟ مهرباني وکړی مونږ ته لارښوونه وکړئ. بینوا توجرو.
(ځواب):: په مسئوله صورت کې چې د ښځې قسمیه بیان دا دی چې زید هغه ته دری طلاقه ورکړی دي اوهغې پخپله اوریدلي دي نو په داسې صورت کې هغې ته حلال نه دی چې خاوند کره لاړه شي او ازدواجی تعلقات ورسره جاري وساتي. د مال په ورکولو سره دی خلع وکړي، یا دی له هغه نه جلا ځانله واوسیږي. ښځه او د هغه خپلوان دی کوشش وکړی عدالت یا شرعي جرګی ته دی خپله عریضه وړاندې کړي، که خدا ناخواسته دا ټول کوششونه ناکام شي او خاوند د یوی خبرې منلوته هم تیار نشي او د شرعي قاضي یا جرګی په وړاندې د طلاق نه ورکولو قسم وخوري نو په دی صورت که ټوله ګناه د هغه پر خاوند او د هغه ملګرو باندې واقع کیږی، په مسئوله صورت کې چون د طلاق ثبوت په شرعي ګواهانو سره نه کیږی او خاوند يې په قسم سره له طلاق نه انکار کوي نو شرعي قاضي یا شرعي جرګه نه د طلاق د واقع کیدو فیصله کولي شي او نه فسخ. په شامي کې دی :

والمرأة کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل لا یحل لها تمکینه والفتوی علی انه لیس لها قتله ولا تقتل نفسها بل تفدی نفسها بمال او تهرب کما انه لیس له قتلها اذا حرمت عنیه و کلما هرب ردته بالسحر ، و فی ابزازیه عن الا وزجندی انها ترفع الامر لقاضی فان حلف ولا بینه لها فالا ثم علیه اه قلت اذا لم تقدر علی القداء او الهرب و لاعلی منعه عنها فلا ینا فی ما قبله (شامی ص ۵۹۴ ج ۱ باب الصریح).

که کورټ یواځې د ښځې په درخواست د نکاح یا د طلاق فیصله وکړي نو شرعاً اعتبار لري او که نه؟

(۴۳۱ _ سوال):: مخدوم المکرم حضرت مفتی صاحب مدظلهم له سلام نه وروسته کیدای شي ستاسي طبیعت ښه او په خیر سره وي، له کانادا نه درته سوال استوم هیله ده چې خواب یې راکړی.

په کانادا کې یوی ښځې په کورټ (عدالت). کې درخواست ورکړ چې زه له خپل خاوند سره اوسیدل نه غواړم، مګر خاوند یې طلاق ورکول نه غواړي نو ځکه هغه نه په کورټ کې په کوم لیک او خط باندې دستخط کړی دی نه یې طلاق نامه لیکلی او نه په ژبه ورته طلاق وذکړی دی. ښځې چې پخپل دستخط کوم درخواست عدالت کې پیش کړی دی د همغه درخواست په بنیاد کورت خپله فیصله ښځې ته ورکړی دی چې په هغې کې د ښځی او خاوند ترمنځ د تفریق یادونه شوی ده نو په شرعي لحاظ سره ښځه طلاقه شوی ده او که نه ؟ ایا د دواړو ترمنځ تفریق واقع شوی او که نه ؟ دواړو ترمنځ نکاح پاتی ده او که نه ؟

(خواب):: په مسُوله صورت کې چې ښځې پخپل سر له خاوند د علیحدګی لپاره درخواست ورکړي مګر خاوند یې طلاق ورکول نه غوښت او په کوم لیک اه تر باندې خپل امضا هم نه ده کړی، نه یې طلاق نامه لیکلی او نه هم د لیکلو لپاره خپل وکیل نیولی دی او نه یې په خوله طلاق ورکړی دی نو ځکه کورټ چې د ده ترمنځ د نکاح د فسخ کولو کومه فیصله صادره کړی ده هغه په شرعي لحاظ سره اعتبار نه لري. نکاح یې هم نه ده فسخ شوي او طلاق هم نه ده واقع شوی.

د دا قسم فیصلې حق شرعی قاضي ته وي، چیرته چې شرعي قاضي نه وي او حکومت مسلمان قاضی ته د دا قسم مقدمو او عریضو د فیصلې واک ورکړی وی او هغه د شریعت

په مطابق فيصله د قاضی د فيصلې قائم مقام ګرځي. يا هم ديندار شرعي قومي جرګه چې پکې لږ تر لږه دوه مستند عالمان موجود وي او دا له شرعی تحقيق نه وروسته فيصله وکړي نو د هغې فيصله هم صحيح ده، د غير مسلم جج (قاضي). فيصله په داسي معاملاتو کې معتبره نه ده لهذا په مسٔوله صورت کې دی ښځه يا له خپل خاوند نه طلاق واخلي او يا هم خلع يا هم شرعي قومي جرګی ته خپله عريضه وړاندې کړی او د هغه د فيصلې مطابق دی وروباندې عمل وکړی. فقط والله اعلم بالصواب.

له متعنت خاوند نه دی ښځه څنګه خپل ځان خلاص کړي ؟

(۴۳۲ ــ سوال):: د يوی ښځې خاوند تقريباً له ۹ کلو راهيسی لاپته و. اوس اوس د هغه پته لګيدلی ده او دا هم معلوم شوي چې هغه له بلې ښځې سره نکاح کړی ده هغه اوس مخکنۍ ښځی خوانه راتګ نه غواړی او نه هم مخکينۍ ښځې ته نان او نفقه ورکوي، ښځه خوانه ده او په عفت کې ژوند تيرول غواړي، نو په مذکوره صورت کې هغه څنګه له خپل خاوند نه ځان خلاصولي شی. ښځه غواړي چې خامخا ترينه ځان خلاص کړی او له بل سړی سره واده وکړي، هليه ده چې په دی مسٔله کې زمونږ لارښوونه وکړئ.

(خواب)::دا چې په مسٔوله صورت کې د خاوند پته لګيدلی مګر هغه لومړی ښځې څنګ ته په راتلو رضا نه دی او نه ورته نان او نفقه ورکوي، چون ښځه يې ځوانه ده او غواړي چې په عفت کې ژوند تير کړی او دی لپاره له بل چاسره واده کول غواړي نو په دی صورت کې پکار دی چې د هغې خاوند پوه کړی شي او ترينه بائن طلاق واخستل شي او که طلاق ورکولو او خلع لپاره هم تيار نه وي او ښځه هسې معلقه او پريشانه ساتل غواړي نو له داسې ظالم سړی نه په زوره هم طلاق آخستلی شي. د دوه ګواهانو په وړاندې بائنه طلاق ترينه بايد واخستل شی ترڅو ښځه ترينه خلاصه شي.

کله چې ښځه ترينه طلاق واخلی نود عدت له تيرولونه وروسته له بل چاسره واده کولي شي، خو که له خاوند نه طلاق يې نه وی اخستي نو د مسلمانانو جرګی ته دی خپله مقدمه وړاندې کړی، کله چې جرګه په (الحيله الناجزه). کې ليکل شوي او بيان شوی شرائطو په مطابق له تحقيق نه وروسته فيصله وکړی نو د هغوی فيصله هم د قاضی د قضا قائم مقام ګرځی لدينه وروسته ښځه د طلاق عدت له تيرولونه بعد کولی شی له بل چاسره واده وکړی.

د المراة کالقاضي تشریح :

(۴۳۳ _ سوال): جناب مفتی صاحب اسلام علیکم ورحمه الله و برکاته ! عرض دا دی چې تاسی په فتاوای رحیمیه کې د

((المراة کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل لا یحل لها تمکینه ..... الخ).

قاعده لیکلی ده، د دی قاعده محل څه شی دی. که چیرته قاضي قضاً د طلاق د واقع کیدو فیصله وکړی نو د ښځې په حق کې د قاضي فیصله حجت کیږی او که د هغه علم ؟ امید دی چې په دی باره کې وضاحت وکړئ. بینوا توجرو.

(ځواب): علامه ابن همام رحمه الله علیه په فتح القدیر کې په دی قاعده باندې خبرې کړی او داسې فرمایلی دي:

داسې موقع او محل چې قاضي ظاهر په نظر کې نیسی او د طلاق د واقع کیدو فیصله کوي او د شوهر نیت چې ما د طلاق اراده نه درلود نه تصدیقوی، که داسې موقع ښځی ته راپیښ شي یعنې خاوند یې داسې لفظ وایی چې ظاهراً طلاق واقع کیږی او ښځه هغه پخپلو غوږونو هغه لفظ واوري یا کوم عادل سړی د هغه په وړاندې ګواهی ورکړی مګر خاوند یې وایی چې ما د طلاق نیت نه درلود، نو په داسې صورت کې پر ښځې لازم دي چې د قاضي پشان ظاهر په نظر کې ونیسی او پخپل ځان باندې خاوند حرام کړي او د خاوند د نیت تصدیق دی نه کوي. د فتح القدیر عبارت دا دی :

و کل مالا یدینه القاضی اذا سمعته منه المرءة او شهد به عندها عـدل لا یسـعها ان تدینه لا نها کالقاضی لا تعرف الاالظاهر (فتح القـدیر ج ٤ ص ٧. بـاب ایقـاع الطلاق).

په امداد الفتاوی کې لیکلی دی: او کله چې دلالتاً د قرینی حال ظاهره ده نه د خاوند خبره ځکه نه منل کیږی چې له ظاهر نه خلاف ده او پرښځې باندې د قاضی دقضاء پشان عمل کول واجب دی.

قال الشامی عن الفتح التاکید خلاف الظاهر و علمت ان المرءة کالقاضی لا یحل ان تمکنه اذا علمت منه ما ظاهرة خلاف مدعاة ص ۷٦۹ ج ۲ (امداد الفتاوی ص ٤٦۲ ج ۲ مطبوعه دیو بند.

که چیرته د قاضی قضا هم وی او ښځې ته هم علم وي نو په دی صورت که ښځې په حق کې دواړه حجت ګرځی خو که یواځې د قاضی فیصله وی مګر ښځې ته څه علم نشته نو په دی صورت د قاضی فیصله حجت دی او د دی فیصلې په مطابق به ښځه خپل ځان طلاقه ګڼي. ځکه چې چیرته قضاء طلاق واقع شي نو دیانتاً هم طلاق واقع کیږی، د امام ابو حنیفه په نزد عقود او فسخ کې د قاضي فیصله ظاهراً او باطناً نافذیږی. په آخري هدایه کې دي:

وکل شئی قضی به القاضی فی الظاهر بتحریمة فهو فی الباطن (ای عند الله) کذلك (ای حرام) عند ابی حنیفة رحمه الله و کذا اذا قضی بحلال ..... وهی مسئلة قضاء القاضی فی العقود و الفسوخ بشهادة الزور (هدایه اخرین ص ۱۲۵ کتاب ادب القاضی).

لهذا په داسي صورت که ښځې لپاره د قاضی له فیصلې نه د تیښتي ګنجائش نشته اوهغه لپاره حلاله نه ده چې د خاوند تصدیق وکړي، له هغه سره ناسته ولاړه وکړي او ورسره واوسیږی، او که یواځې ښځې ته معلوم وي او د قاضي قضاء (فیصله). نه وي نو په دی صورت کې د ښځې علم او یقین د هغې په حق کې حجت ګرځي، پر هغه لازم دی چې پخپل ځان خاوند قادر نه کړي او خپل ځان خاوند ته حواله نکړی.

په امداد الفتاوی کې دي :

بعد از نقل روایات می ګویم که در صورت مسٔوله از دو حال خالی نیست یا زن مطلقه را عدد طلاق یاد است یا نه اګر یاد هست در حق او حجت باشد، پس اګر سه یاد باشد او مغلظه شد حسب علم خود پس او را روا نیست که زوج را بر خود قدرت دهد چنانچه روایت اولی صریح است در آن. و اګر یاد نیست صرف زنان حاضره خبر می دهند پس از دو حال خالی نیست یا ایشان عادل اند یا فاسق یا مستورالحال. اګر عادل هستند عمل بر قول ایشان واجب است زیرا که طلاق از دیاناتی است که اخبار عدل در آن مقبول است احتیاج شهادت نیست مګر عندالقاضی و صورت مسئوله تحقیق فتوی است

نه قضاء ... الخ.(امداد الفتاوی ص ۴۱۸ ج ۲_ مطبوعه دیوبند ص ۳۴۹ ج ۲ مطبوعه کراچی.) فقط والله اعلم بالصواب.

نوټ:اوس ښځه څه وکړي نو وروستی خواب ولولئ.

د ورک شوی میړه په باره کې له عریضه نه وروسته یو کال انتظار ضروري دی او که نه؟ او د دی یو کال ابتدا له کله نه باید شروع شی ؟

(۳۳۴ _ سوال):: زمونږ په شرعي محکمه کې د ورک شوي میړه له طرف نه د نکاح د فسخ کولو درخواست پیش شوی دی، (خاوند یې له پنځو کلو نه ورک دی). مونږ په لومړی مجلس کې مو د نکاح انعقاد او تر اوسه پورې د نکاح قائمدو باندې مو له دوه معتبرو ګواهانو نه مو ګواهی واخست، د ګواهی الفاظ دا وو:زه ګواهی ورکوم چې د دغې رخسانی خور نکاح له یعقوب خان سره شوي وه او هغه تر اوسه پورې غائب دی. بیا د خاوندد لاپته کیدو باندې د دوه معتبرو ګواهانو ګواهي واخست، بیا موله مدعیه (رخسانی). نه د دی خبرې قسم واخستل شو چې خاوند یې هغه لپاره د نان نفقی هیڅ قسم انتظام نه دی کړی، نه یې څه مال دولت پریښی او نه یې هم څوک ضامن نیولی دی او نه هم ښځې خپل نان نفقه معاف کړی دی، همدغه راز له ښځې نه مو دا قسم واخست چې هغه له خاوند نه پرته په عفت او حیاء کې وخت نشی تیرولی. بیا مو د مفقود شخص لټه کونکو خپلوانو څخه معلومات ترلاسه کړ نو مونږ ته معلوم شو چې د مفقود مشر وررور په پاکستان کې اوسیږی او یو ځل پاکستان تللی هم دی، پاسپورټ یې مخکې نه جوړ و. کله مو چې د هغه له وررونه د ټیلفون له لاری پوښتنه وکړه نو هغه وویل چې هغه دوئم ځل دلته نه دی راغلي او ماته د هغه په باره کې هیڅ معلومات نشته.

بیا مو په اخبار کې د هغه د لادرکې او مفقودی اعلان ورکړ لیکن تر یونیم میاشت پورې د هغه هیڅ پته ونه لګید. نورو ذرائع موهم په کار واچول لیکن د مفقود هیڅ اته پته ونه لګید، اوس مونږ هم د هغه له پیدا کیدونه نامیده یو دا چې مونږهم د هغه له پیدا کیدونه نامیده شوي یو او ښځه هم د خپل بیان په مطابق له شپږو میاشتونه زیات د عفت ژوند نشي تیرولی او صبر یې نه کیږی، لهذا مونږ غواړو چې د ښځې او خاوند ترمنځ د تفریق فیصله وکړو. په دی مسٔله کې له تاسو محترم نه پوښتنه کول غواړو چې

ایا مونږ د یو کال صبر کولونه پرته همدا اوس د تفریق حکم او فیصله کولی شوو؟ لکه څنګه چې په احسن الفتاوی ج ۵ ص ۴۲۱ عبارت نه همداسې معلو میږی او پر هغه حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله علیه او د هغه زوی مولانا محمد رفیع او مولانا مفتی تقی صاحب دستخطونه موجود دي.

که چیرته د الحیله الناجزه د عبارت په مطابق د یو کال حکم ورکول له تفریق نه مخکې ضروري دی نو هغه یو کال له کوم وخت نه شروع کیږی ؟

شرعي محکمی ته د ښځې د عریضه له راتلونه وروسته او که د مفقود پیدا کیدو څخه له ناامیدی نه وروسته ؟ امید دی چې ځواب یې راکړئ.

(ځواب):: په الحیلة الناجزة کې چې څه لیکل شوي دي د هغه په مطابق دی وربانـدې عمل وکړی شی په همدې کې احتیاط دی‌لهذا پوره یو کال دی د انتظار حکم ورکـړی شي.

په مسٔوله صورت کې د ابتلاء او امتحان شدید خطره ده‌لهذا د مرافعه له وخت نـه یعنـی له کوم تاریخ نه چې ښځې په شرعي محکمه کې عریضه ورکړی وی له همغه وخت نـه د کال حسابول پکار دي، لکه چې د الحیلة الناجزة د حاشیه له عبارت نه معلومیږی.

که چیرته د همدغې قاعدی په مطابق تفریق وکړی شي نـو د دې خبـرې خیـال سـاتل ضروري دی چې دا تفریق به رجعی طلاق وي او په دی صورت کـې د مفقـود ښځـې د وفات عدت پرځای د طلاق عدت تیروي یعنی دری حیضه له عدت نـه وروسـته دی لـه بل چاسره نکاح وکړي. (الحیله الناجزه۶۳). فقط والله اعلم بالصواب.

یو سړی په لویه ویاله کې وغورځید، د هغه ډیره لټه وشوه خو هیڅ پتـه یې ونه لګید، په دی صورت کې دی د هغه ښځه څه وکړي ؟

(۴۳۵ _ سوال):: زما زوی له خپلو دوستانو سره یو ځـای هماچـل پـردیش تـه د تفـریح اوسیل لپاره تللی و، هلته دیوی لوی ویالی غاړی ته په یـوه کـانی بانـدې ناسـت و، د اوبو یو موج راغی او هغه یې له ځانه سره یووړ، له هغه نه وروسته مونږ هغه ډیر ولټاوو خـو پیدا مو نکړ، د دغې پیښی څوارلس میاشتی کیږی، د هغه ښځه ځـوان ده د واده ایلـه شپږ میاشتی یې کیږی، څه خلک وایی چې د ده واده دی بـل چیرتـه وکـړی شـي ایـا مونږ د هغې نکاح کولي شوو او که نه ؟

له نجومیانو سره موهم رابطه کړی ده هغوی وایی چې ستا زوی ژوندی دی او چیرته بل ځای کې اوسیږی ایا د هغوی خبره د منلو وړ ده ؟
(ځواب): په مسٔوله صورت کې ستا زوی د نهر په غاړه کې ناست و د اوبو څپه راغله او هغه یې له ځان سره یووړ، لدینه وروسته تاسی پوره د هغه د پیدا کولو لپاره کوشش وکړ مګر کامیاب نه شوئ او د دی پیښی ځوارلس میاشتی تیری شوي دي که چیرته هغه ژوندی وای نو خامخا به د هغه پته لګیدلی و مګر تراوسه پورې هیڅ پته یې ونه لګیده لهذا که ښځه ځوانه وي او په دی ګنده زمانه کې په حیاء او عفت سره ژوند تیرول ورته ګرانه وي نو په دی صورت کې ښځه خپله فیصله د مسلمانانو جرګه کې پیش کولي او نرینه د خلاصی دعوه کولي شي، شرعي جرګه له پوره تحقیق او پلټنی نه وروسته چې د هغې د خاوند وفات کیدو پوره یقین یې راشي، کولی شي د هغه د وفات حکم او فیصله صادره کړی او د هغه ښځه د وفات عدت له ختمولونه وروسته کولي شي چې له بل سړی سره نکاح وکړي.
عامل او نجومیان چې څه وایې د هغوی وینا له شرعی شهادت درجه نشي ورکول کیدای نو ځکه د هغه ښځه له واده کولونه څوک نشي منع کولي. والله اعلم بالصواب.

د غیر مسلم قاضي د نکاح د فسخ کولو فیصله معتبره نه ده.

(۴۳٦ ـ سوال): د شفیق الرحمن نومي سړی له بشری سره نکاح شوی ده تقریباً د اتو کلو راهیسی یو ځای اوسیدل او دوه ماشومان هم لري، بیا د شفیق الرحمن د بشری او د هغې له پلار سره جګړه وشوه، بشری د خفګان په وجه خپل پلار کره لاړه او هلته په کورټ (عدالت) کې د طلاق اخستلو درخواست ورکړ، کورټ د دواړو خبرې واریدلی او د خاوند له انکار نه وروسته دهغې نکاح فسخ نه کړه، لدینه وروسته د بشری مور او پلار امریکا ته لاړ او همله په کورټ کې د نکاح د فسخ کولو عریضه یې پیش کړ، د هغه ځای کورټ د هغې د خاوند بیان اوریدونه پرته د نکاح د فسخ کولو فیصله ورکړه.
ایا د هغه ځای د کافر قاضي دغه فیصله صحیح ده او که نه ؟
امید دی چې په دی باره کې مونږ ته لارښودنه وکړئ.بینوا توجرو.
(ځواب): حامداً و مصلیاً و مسلماً ! که چیرته کافر جج (قاضي). د نکاح د فسخ کولو فیصله وکړي نو هغه فیصله شرعاً اعتبار نه لري او په دی سره نکاح نه فسخ کیږی.

په الحیلة الناجزة کې دی: که چیرته په کوم ځای فیصله کونکې حاکم کافر وي نو د هغه فیصله هیڅ اعتبار نه لري او نکاح نه فسخ کیږي.

لان الکافر لیس باهل للقضاء علی المسلم. کما هو مصرح فی جمیه الکتب الفقة.

آن تردی چې که د مقدمې کیس کافر سړی ولیکې او مسلمان قاضي پر هغه فیصله ورکړی هغه هم شرعي اعتبار نلري او که فیصله د ججانو یوی ډلی نه پیش کړی شي یا هم د څو تنو جرګی ته وړاندې کړی شي نو په دی صورت کې د دغو ټولو قاضیانو او د جرګی غړو مسلمانی ضروري شرط دی. که چیرته یو قاضی یا د جرګی یو تن هم کافر وي نو شرعاً دهغوی هیڅ فیصله د اعتبار وړ نه دی او نکاح نه فسخ کیږی ... الخ.

(الحیلة الناجزة ص ۲۳، ۲٤، جزء دوم تفریق بین الزوجین بحکم حاکم)..

لهذا په مسٔوله صورت کې چې د ښځې په درخواست کافر جج د نکاح د فسخ کولو کومه فیصله کړی ده هغه شرعاً معتبره نه ده او نکاح نه فسخ کیږی. فقط والله اعلم باصواب

که خاوندیې شیعه شي نو څه حکم لري ؟

(۴۳۷ _ سوال): ښځه او خاوند دواړه سنیان وو څه وخت وروسته خاوند یې شیعه شو او خپل ګمراه پیر ته سجده وکړه هغه ته ناطق قران او قرانکریم ته ګونګ قران کریم وایی ښځه سنی ده، ایا د دواړو نکاح ماته شوه او که نه ؟ که ماته شوی وي نو ښځې ته په بل ځای کې د نکاح کولو لپاره د شرعي فیصلې ضرورت شته او که نه ؟ د الدر المختار لاندینی عبارت څخه معلومیږی چې د قاضي فیصلې ته ضرورت نشته:

" وارتدد احدالزوجین فسخ عاجل بلا قضاء."(شامی ص ۳۹۲ _ ۲۷)..

لیکن فتاوای رحیمیه لدینه مخالف معلومیږی مهربانی وکړئ تسلی بخش ځواب راکړئ.

(ځواب).: په شیعه ګانو مخلف العقائد فرقی دي. کوم خلک چې نعوذ بالله منها علی رضی الله عنه ته خداي وایی او د الله تعالی له قدرت سره شریک ګني، او دا عقیده لري چې جبریل امین د وحی په را وستو کې غلطی کړی او د علی رض پرځای پر محمد صلی الله علیه وسلم وحی را وړی دی، او په عائشه رضی الله عنها باندې د زنا تهمت لګوي، د ابو بکر صدیق له صحابی کیدونه انکار کوي، نو داسي خلک کفري عقیده لري او فقهای کرام دغې شیعه ګان له اسلام نه خارج ګني.

نعم لا شك فى تكفير من قذف السيدة عائشه رضى الله تعالى عنها او انكر صحبة الصديق او اعتقد الالوهية فى على رضى الله تعالى عنه او ان جبريل غلط فى الوحى او نحو ذلك من الكفر الصريح المخالف للقران (شامى ج ٣ ص ٤٠٦) (فتاوى عالمگيرى ج ٢ ص ٢٦٤ مطلب موجبات الكفر و منها ما يتعلق بالانبياء ..... الخ).

او د کومو شیعه ګانو عقیدی چې کفر ته نه رسیږي او مبتدع او ګمراه دي نو ځکه د نکاح د فسخ کیدلو فیصله احتیاطاً ورنکړی شوه.خو ځو کاله وړاندې د خمینی کتابونه او د هغه لټریچر مخی ته راغلل چې په هغه کې د شیعه ګانو خصوصاً د اثنا عشریه د فرقی عقائد ماته معلوم شول، د حضرت مولانا منظور نعماني په تحریک دا مسٔله پورته شوه او علمای کرامو په متفقه توګه پر هغوی د کفر فتوه ولکوله ما هم پر هغه خپل امضاء وکړه، لهذا لدینه وروسته چې هر څوک شیعه شي نو هغه مرتد دی، نکاح یې فسخ او سنی ښځې ته یې بل ځای کې د نکاح کولو حکم ورکولی شو.

په الحیلة الناجزة کې دي:معاذ الله که د کومې مسلمانی ښځې خاوند مرتد شي او اسلام پرېږدي نو د څلورو امامانو په نزد او د جمهور د فقهاو په اتفاق د هغه نکاح پخپله فسخ کیږی د قاضي فیصلی یا د حاکم حکم ته هیڅ ضرورت نشته، که دا ارتدات له خلوت صحیحه نه مخکې شوی وی نو د خاوندپه ذمه نیمایي مهر دی او پرښځې عدت هم واجب دی، همدغه راز په دغه مرتد باندې د هغې نفقه هم لازمه ده.

لما فى الدر المختار (وارتداد احدهما) اى الزوجين (فسخ) فلا ينقض عددا (عاجل) بلاقضاء فللمو طوء ولو حكماً كل مهرها لتاكدة به و لغيرها نصفه لو سمى او المتعة او ارتدو عليه نفقة العدوة و فى رد المحتار قوله (بلا قضاء) اى بلا توقف على قضاء القاضى و كذا بلا توقف على مضى عدة فى المدخول بها كما فى البحر (شامى باب نكاح الكافر ص ٤٢٥ ج ٣) (الحيلة الناجزة ص ٩٢ ص ٩٣) فقط والله اعلم بالصواب.

باب الرجعة

ایا له دریو طلاقو نه وروسته رجوع کولی شوو او که نه؟

(۴۳۸ _ سوال):: یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکـړي دي. حنفـی علمـاو فتـوه ورکړی ده چې طلاق یې واقع شوی دی او رجوع یې جائز نه دی، له شرعی حلالی نه پرته نکاح یې نه صحیح کیږی، مګر یو غیر مقلد مولوي هغه غولولې او فتوه یـې لیکلـی ده چې په دریو طلاقو ورکولو سره یو طلاق واقع کیږی لهذا رجوع یې صـحیح دی، نـو هغه سړی له خپله ښځې سره دوباره نکاح کړی او خپل کورته یې رواستی ده. مهربـانی وکړئ په دی باره کې د احادیثو په رڼا کې فتوه ولیکئ او مونږ ته یې واستوئ.

(خواب):: د غیر مقلد مولوي دا خبره چې په دریو طلاقو ورکولو سره صرف یـو طـلاق واقع کیږی قطعاً غلط او ګمراه کن دی، دا د قـرآن کـریم نبـوي احادیـث، د اصـحابو اجماع، دسلفو او خلفو علما و او د څلورو امامانو له متفقه فیصلې نـه خـلاف ده لهـذا د هغه دوباره رجوع صحیح او جائز نه دی. له دریو طلاقو نـه وروسـته شـرعي حـلالی نـه وروسته نکاح نشي کیدلی او پخپلو کې د ښځې او خاوند په توګه اوسیدل شرعاً حـرام دی، دواړه زانی او بدکار ګڼل کیږی. په قرآن کریم دي:

﴿الطلاق مرتان﴾ (بقره).

ترجمه: له کوم طلاق نه وروسته چې رجوع کیدلی شی هغه دوه طلاقـه دي. یعنـی لـه یو نه تر دوه طلاقو پورې رجوع جائز دی.

الطلاق ای التطلیق الذی یراجع بعده مرتان ای اثنتان. (تفسیر جلالین ص ۳۳).

فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجاً غیره. (سوره البقره ع ۲۹).

ترجمه: که چیرته ښځې ته له دوه طلاقو نه وروسته دریم طلاق ورکړی نو بیا دغـه ښځـه هغه لپاره حلاله نه ده ترڅو پورې چې دغه ښځه له بل سړی سره واده ونکـړي. (تفسـیر جلالین ص ۳۳). په احکام القران کې دي:

فالکتاب والسنة و اجماع السلف الصالحین توجب ایقاع الثلث معـنـاً وان کانـت معصیة.

ترجمه: د قرآن کریم، سنت او صالحو سلفو فیصله همدا ده چې په یو ځـای دری طلاقـه واقع کیږی که څه هم په یو ځای دری طلاقو ورکول ګناه ده.
(احکام القران للجصاص ج ۱ ص ۴۵۹).
او په تفسیر مظهری کې دي:
لکنهم اجمعو علی انه من قال لامرانه انت طلاق ثلثا یقع ثلاثا بالا جماع.
ترجمه: جمهور علماءٔ وايي چې کوم سړی دری طلاقه یو ځـای ورکـړي نـو بـالا جمـاع دری واړه طلاقه واقع کیږی. (ج ا ص ۳۰۰).
او په فتح القدیر کې دي:
و ذهب جمهورالصحابة والتابعین و من بعد هم من الائمة المسلمین الی انه یقع ثلثا.
ترجمه: جمهورو اصحابو، تابعینو او له هغوی نه وروسته د مسلمانانو امامـانو قـول دا دی چې په یو ځای دری طلاقه واقه کیږی. (ج۳ ص ۳۳۰ کتاب الطلاق باب طلاق السنته).
او په همدې کتاب کې دي چې دریو طلاقو د واقع کیدلو حکـم اجمـاعي او حـق دي لهذا لدینه مخالفت کول له ګمراهي نه علاوه بل څه نه دی او که کوم شـرعي قاضـي د دی په خلاف فیصله وکړی نو هغه هیڅ اعتبار نه لـري ځکـه چـې د دریـو طلاقـو واقـع کیدلو مسْله اجتهادي نه بلکه اجماعی ده. (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۳۰).
په بحرالرائق کې دي:
ولا حاجة الی الاشتغال بالادلة علی رد قول من انکر وقوع الثلاث جملة لانه مخالف للاجماع کما حکاة فی المعراج حکمة لانه خلاف. لا اختلاف (البحـــر الرائـــق ص ۲۳۹ ص ۲٤۰ ج ۳ کتاب الظلاق تحت قوله و ثلاثا فی طهر او کلمة بدعی).
شیخ الاسلام علامه عینی په شرح صحیح بخاري کې فرمایی:
و مذهب جماهیر العلماء من التابعین و من بعدهم منهم الا و زاعی والنخعی والثوری و ابو حنیفة و اصحابه و مالك والشافعی و اصحابه و احمد و اصحابه و استحاق و ابو الثور و ابو عبید و اخرون کثیرون علی ان من طلق امراته ثلاثا و قعن و لکنه یاثم (عینی ج ۲۰ ص ۲۳۳ باب من اجاز طلاق الثلاث).
یعنی جمهور علماء تابعین او لـه هغـوی نـه وروسـتی علمـاء، فقهـا، محـدثین، او امـام اوزاعي، امام نخعی، امام ثوري، امام ابو حنیفه او د هغوی ملګری، همدغـه راز امـام

مالک، امام شافعی او د هغوی ملګری، امام احمد بن حنبل او د هغه ملګری. امام اسحاق، امام ابو ثور، امام ابو عبید او ډیرفقها دا خبره منی چې هر څوک خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی هغه واقع کیږی خو طلاق ورکوونکې ګنهګاریږی ځکه چې هغه له سنت نه خلاف طلاق ورکړی چې د شریعت خوښ نه دي نو ځکه دیته بدعي طلاق ویل کیږی. (عینی شرح بخاري ج ۹ ص ٥٣٨).

او په بدایه المجتهد کې دي:

جمهور فقهـــــــــاء الامصار على ان الطلاق بلفظ الثلاث حكمة حكم الطلقة الثلثة. (ج٢ ص٤).

یعنی علامه ابن رشد فرمایي چې جمهور فقهاء په دی خبره قائل دي چې په یو خل ورکول شوي دری طلاقه واقع او نافذیږي. (هدایه المجتهد ج ٢ ص ٦ کتاب الطلاق).

همدغه راز د مسلم شریف شارح امام نووي لیکي:

فقال الشافعی و مالك و ابو حنيفة و احمد و جماهيرالعلماء من السلف والخلف يقع الثلاث.

یعنی امام شافعی، امام مالک، امام ابو حنیفه او امام احمد وغیره جمهورو سلفو او خلفو علما و همدا ویله ده چې په یوځای ورکول شوی دری طلاقه واقع کیږی. (ج٢ ص ٥٧٦ باب المطلقه ثلاثا).

د امام بخاری په نزد هم په یو وخت او په یو مجلس کې ورکول شوی دری طلاقه نافذیږي او په دی باره کې یې یو باب قائم کړی دی. باب من اجاز طلاق الثلاث.

بیا د هغه لاندی احادیث راوړی دي، له هغوی نه یو حدیث دا دی:

عن عائشة رضى الله عنها ان رجلاً طلق امرءته ثلثاً متــــزوجت فطلق فســئل الــنبى صلى الله عليهواله وسلم اتحل للاول ؟ قال لا حتى يذوق عسيلتها كما ذاق الاول (لفظه للبخارى) (بخارى شريف پ ٢٢ ج ٢ ص ٧٩١ باب من اجــاز طـــلاق الثلاث) (مسلم شريف ج ١ ص ٤٦٣).

یعنی یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی، بیا هغې له بل چاسره نکاح وکړه هغه هم له صحبت کولونه بغیر یې طلاقه کړه، له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چې ایا لومړی خاوند لپاره حلاله شوه او که نه ؟

محمد صلی الله علیه وسلم و فرمایل: ترڅو پورې چې دویم خاوند ورسره صحبت ونکړي نو لومړی خاوندلپاره نه حلالیږي. (بخاری و مسلم).

په فتح الباري شرح صحیح البخاري کې دي:

فالتمسك بظاهر قوله طقها ثلاثاً فانه ظاهر فی کونها مجموعة (ج ۹ ص ۳۲۱) مطابقة للترجمة فی قوله طلق امراته ثلثاً فانه ظاهر فی کونها مجموعة (عمدة القاری شرح صحیح البخاری ج ۲۰ ص ۲۳۷ ایضاً).

پـه سنن کبری کې "باب امضاء الثلاث وان کن مجموعات " **تر عنوان لاندی حدیث دی :**

عن عائشة رضی الله تعالی عنها ان رجلاً طلاق ثلاثاً فتزوجت فطلق فسئل النبی صلی الله علیه واله وسلم اتحل للاول قال لا حتی تذوق عسیلته کما ذاق الاول ج ۷ ص ۳۳٤ ایضاً). **یو څونور احادیث هم ولولئ:**

(۱). له حضرت علی رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم یـو سړی ولید چې خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی، نو هغـه تـه محمـد صـلی الله علیـه وسلم ډیر په قهر شو او ویې فرمایل :

تتخذون ایات الله هزوا او دین الله هزوا و لعباً ، طلق البنه الزمناه ثلاثا لا تحل حتی تنکح زوجا غیره. (المغنی لابن قدامه ج ۷ ص ۱۰۳).

یعنی ایا ته د الله تعالی له ایتونو سره مذاق کـوی، یـا یـې دا وویـل چـې ورسـره لوبـه کوی. هر څوک چې خپلې ښځې ته د البتـه طـلاق (دری طلاقـه). ورکـوي هغـه مونـږ دری واړه نافذوو. او ښځه ورته تر هغه نه حلالیږی ترڅو چې له بل چاسره واده ونکړی.

(المغنی لابن قدامة ج ۷ ص ۹۰۳ کتاب الطلاق ۵۸۱۹ مسالة قال، ولو طلقها ثلاثا فی طهر... الخ).

(۲). و عن محمود بن لبید قال اخبر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم عن رجل طلق امراته ثلاث تطلیقات جمیعاً فقام غضبان ثم قال یلعب بکتاب الله و انا بین اظهر

كم حتى قام رجل فقال يا رسول الله صلى الله عليهواله وسلم الا اقتلـه (نسـائى شريف ج ۲ ص ۳٦) (مشكوة ص ٢٨٤ باب المطلقة ثلاثاً).

يعنى محمد صلى الله عليه وسلم ته خبر وركړ شو چې يو سړى خپلې ښځې ته پـو يـو ځاى درى طلاقه وركړى دى نو محمد صلى الله عليه وسلم له غصى نـه ودريـد او ويـې فرمايل:له كتاب الله سره لوبى كيږى ؟ په داسې حال كې چې زه ستاسـى پـه منځ كې موجود يم. د محمد صلى الله عليه وسلم د دغې غصى په ليدلو سره يو اصحابى ودريـد او ويې ويل:ايازه هغه ونه وژنم ؟ (نسائي مشكواه شريف).

له مذكوره حديث څخه ثابتيږى چې درى طلاقـه مجموعـاً واقـع كيـږى، كـه نـه واقـع كيدلى نو محمد صلى الله عليه وسلم به نه غصه كيده ويل به چې هيڅ حرج پكې نشته.

(۳). په صحيح بخارى كې دي :

و قال الليث عن نافع كان ابن عمر اذا سئل عمن طلق ثلاثاً قال لو طلقت بمـرة او مرتين فان النبى صلى الله عليه واله وسلم امرنى بهذا فان طلقتها ثلثاً حرمت حتى تنكح زوجاً غيرك (صحيح بخارى ج ۲ ص ۷۹۲ پ ۲۲ من اجاز طلاق الثلاث).

په صحيح مسلم شريف كې دي:

و كان عبدالله اذا سئل عن ذلك قال لاحدهم اما انت طلقت امراتك مرة او مـرتين فان رسول الله صلى الله عليهواله وسلم امرنى بهذا و ان كنت طلقتها ثلاثـاً فقـد حرمت عليك حتى تنكح زوجاً غيرك و عصيت الله فيما امرك من طـلاق امراتـك (صحيح مسلم ج ۱ ص ٤٧٢ باب طلاق الثلاث).

يعنى كله چې يو سړى خپلې ښځې ته درى طلاقه وركړى او له حضرت ابـن عمـر رضـى الله عنه نه به فتوه غوښتله نو هغه رضى الله عنه ويل:كه تا يو يا دوه طلاقه وركـړى واى نو رجوع دى كولى شو ځكه چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم ماتـه د دى حكـم راكړى و. ليكن دا چې تا درى طلاقه وركړى دي نو هغه پرتا حرامه شوى ده او تر هغې درته نه روا كيږى ترڅو پورې چې له بل چاسره نكاح ونكړى. (بخارى و مسلم).

(٥) عن مجاهد قال كنت عند ابن عباس فجاءه رجل فقال انه طلق امراته ثلاثاً قال فسكت حتى ظننت انه رادها اليه ثم قال ينطلق احدكم فيركب الحمزقة ثم يقول يـا

ابن عباس یا ابن عباس و ان الله قال و من یتق الله یجعل له مخرجا و انك لو تتق الله فلا اجد لك مخرجاً عصیت ربك و بانت منك امراتك ((ابـو داؤد ج ۱ ص ۳۰۶ باب بقیة فسخ المراجعة بعد الثلث).

حضرت مجاهد فرمایي چې زه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په خنګ کې وم یو سړی راغی او ویې ویل: ما خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی. ابن عباس ورته غلی شو ما فکر وکړ چې شاید د رجوع حکم ورته وکړي. بیائی وفرمایل: لومړي حماقت کوي او بیا وایي چې ای ابن عباسه ! ای ابن عباسه ! بیشکه الله فرمایلی دي چې څوک له الله نه ویریږي هغه لپاره د خلاصون لاره وي، او تا له الله نه ویره نه ده کړی نو ځکه تا لپاره هیڅ د نجات لاره نشته تا د خپل رب نافرماني کړی دی او ښځه له تانه طلاقه شوی ده. (ابو داود).

(٦). کتاب الاثار (امام محمد) کې دي :

باب من طلق ثلثا (**تین طلاق دینے کے بیان مین**) محمد قال اهبرنا ابو حنیفة عن عبدالله بن عبدالرحمن بن ابي حسین عن عمرو بن دینار عن عطاء ان رجلا جاء عند ابن عباس فقال طلقت امراتی ثلثا قال یذهب احدکم فیتلطخ بالاثم فیاتی بعده عندنا اذهب انت عصیت ربك فقد حرمت علیك لا تحل لك حتی تنکح زوجاً غیرك قال محمد و به ناخذ وهو قول ابی حنیفة و قول العامة لا اختلاف فیه (کتاب الاثار امام محمد ص ۲۰۰ او طلق واحدة وهو یرید ثلاثاً).

یعنی امام محمد فرمایي چې حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله علیه، عبدالله بن عبدالرحمان، حضرت عمرو بن دینار په واسطه له حضرت عطا نه روایت کوی چې یو سړی ابن عباس رض الله عنه ته راغی او ویې ویل چې: ما خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی دي د دی څه حکم دی ؟

ابن عباس وفرمایل: ستاسی په خیر خلکو طریقه داده چې په ګندګی کې اخته شئ نو بیا مونږ ته راځئ. تا د خپل رب نافرماني کړی دی او پر تا خپله ښځه حرام شوی ده، او تر هغې درته حلاله نه ده ترڅو پورې چې له بل سړی سره واده ونکړی او د هغه له صحبت نه کته اوچته نکړی بیا ورته طلاق ورکړی او یا مړ شي، بیا له عدت نه وروسته له

لومړی خاوند سره نکاح وکړی. امام محمد ویل مونږ په همدغه فتوه عمل کوو او همدغه د امام ابو حنیفه او نورو عموم علماو قول دی او په دی کې هیڅ اختلاف نشته.

(۷). حضرت امام حسن رضی الله عنه خپلې ښځې ته چې ترینه په څه خبره خفه شوی و ورته وویل

اذهبی فانت طالق ثلاثا.

لاړه شه ته په دریو طلاقو طلاقه یې، وروسته امام حسن رضی الله عنه ته معلوم شو د هغه ښځه ډیره خفه ده هغه په ژړا شو او بیایې وفرمایل:

لولا انی سمعت جدی او حدثنی ابی انه سمع جدی یقول ایما رجل طلاق مراته ثلاثاً عند الاقراء او ثلاثاً بمبهمة . لم تحل حتی تنکح زوجاً غیره لراجعتها (دار قطنی ج ۲ ص ۴۳۷) (سنن کبری ج ۷ ص ۳۳۶ باب امضاء الثلاث و ان کن مجموعات).

که چیرته ما له خپل نیکه نه وای اوریدلي، یایې داسې وویل: ما له خپل پلار نه آوریدلی دي هغه به فرمایل که چیرته زما نیکه له محمد صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي نه وای چې کوم سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه په طهرکې ورکړی یا دری مبهم طلاقه (په یو لفظ کې). ورکړی، نو ترڅو پورې چې هغه له بل سړی سره نکاح ونه کړی نو لومړی سړی لپاره نه حلالیږی، نو ما به خپله ښځه ضرور واپس راوستی وه. دار قطنی ج ۲ ص ۴۳۷ ـ سنن کبری ج ۷ ص ۳۳۶ باب امضاء الثلاث و ان کن مجموعات).

د رکانه حدیث: غیر مقلدین د رکانه په حدیث باندې زیات ناز کوي مګر پخپله له حضرت رکانه څخه روایت دی چې هغه پخپله خپلې ښځې ته د البته په لفظ سره طلاق ورکړ (چې په هغه کې له یو طلاق نه تر دریو طلاقو پورې ګنجائش وي، (که د یو طلاق نیت یې کړی وي نو یو، او که د دریو نیت کړی وي نو دری طلاقه واقع کیږی). محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:(والله ما اردت الا واحدة.)

په الله قسم وخوره ایا تا د یو طلاق نیت کړی و ؟ نو حضرت رکانه وویل: والله ما اردت الا واحده، هله محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: تا چې د کوم یو طلاق نیت کړی دی همغه معتبر دی. درکانه حدیث دا دی:

عن عبدالله بن یزید بن رکانة عن ابیه عن جده قال اتیت النبی صلی الله علیه والـــه وسلم فقلت یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم انی طلقت امراتی البته فقال مـــا اردت بها قلت واحدة قال والله قلت والله قال فهو مــــا اردتَ (ترمــــذی ج ۱ ص ۱٤٠ باب ماجاء یطلق امراته البته).

و فی سنن ابن ماجه : عن عبدالله بن علی بن یزید بن رکانة عن ابیه عن جده انـــه طلق امراته البته فاتی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فساله فقال ما اردت بهـــا قال واحدةً قال الله ما اردت بها الا واحدة ؟ قال الله ما اردت بها الا واحـــدة قـــال فردها علیه (ابن ماجه شریف ج ۱ ص ۱٤۹ مجتبائی دهلی) (ابو داؤد شریف ج ۱ ص ۳۰٦ مجتبائی).

که چیرته یو طلاق واقع کیدو نو د قسم ورکولو څه ضرورت و ؟ بلکې ورتـه ویلـی بـه وو چې که د یو طلاق نیت کړی وي یا دریو طلاقو یـو طـلاق واقـع کیـږی لهـذا دا خبـره بالکل غلط ده چې که دریو طلاقو اراده کړي وي نو بیا هم یـو طـلاق واقـع کیـږی نـه دری طلاقه.

حاصل دا چې د دریو طلاقو په خلاف د غیر مقلـدینو دعـوه د قـران کـریم، حـدیث د اصحابو اجماع او د جمهور اهل سنت له مسلک نه خلاف ده.لهذا د غیر مقلدپـه خبـره یقین کول هیچا لپاره جائز نه دی.

په شامي کې دي چې یو حنفی المسلک شخص یو اهـل حـدیث تـه د هغـه لـور سـره د نکاح پیغام ولیږه، هغه ورته وویل که ته خپل مذهب پریږدی، نو ما ته ستا پیغـام منظـور دی. حنفي شخص دهغه شرط ومنله او د هغه له لور سره یـې نکـاح وکـړه کلـه چـې د هغې زمانې شیخ امام ابوبکر جوزجاني رحمه الله علیه دا خبره واوریده نو افسـوس یـې وکړه او ویې فرمایل :

النکاح جائز ولا کن اخاف علیه ان یذهب ایمانه وقت النـــزاع لانـــه اســـتخف بالمذهب الذی هو حق عنده و ترکه لاجل جیفة منتنة .

ترجمه:شیخ امام ابوبکر جوزجانی وویل:نکاح خوبې شویده لیکن زهَ د هغه شـخص پـه بده خاتمه باندې ویریږم ځکه چې د دغې ښځې په خاطر د هغه مذهب تـوهین کـړی

دی چې ترننه حق ګڼلو او یواځې د ښځې په خاطر یې هغه پریښود. (شامي ج ۳ ص ۲٦۳ باب التعزیر فیما اذا ارتحل الی غیرمذهبه).
لهذا هغه ته پکاردي چې خپل آخرت خراب نه کړی او له ګمراهي نه ووځي. او که ونه منی نو له داسې سړی سره دی ناسته ولاړه پریښودلی شي.
په حدیث شریف کې دي چې کوم سړی په ګناه کې اخته شي نو هغه په لاس منع کړئ که ونه مني نو ورسره خپلې اړیکې او تعلق وشلوه، ځکه چې هغه پخپل ګناه سره نور خلک هم تباه کوي. د زیات اطمینان لپاره څو نوری فتوی هم ولوئی.
د هند د علماو څخه د استاذ شاه عبدالله محدث دهلوي فتوی :
اګر سه طلاق داد خواه یکبار خواه متفرق باز او را نکاح نمی تواند تا وقتیکه حلاله نه کند.
یعنی که دری طلاقه ورکړی، برابره خبره ده چې یو ځای یې ورکړی وي یا جدا جدا نو ترڅو پورې چې حلاله ونکړي پخپل نکاح کې نشي راوستلی. (فتاوای عزیزیه ج۲ ص۲۰).

دویم نمبر فتوی: د حضرت مولانا عزیزالرحمن دیوبندی فتوی: -

له دریو طلاقو نه وروسته ښځه مغلظه بائنه طلاقیږی او له حلاله نه بغیر له هغې سره نکاح کول حرام ده، ځکه چې دا له قطعی نص نه ثابت دی، او د امت اجماع هم په همدې ده لهذا د هیچا مخالفت په دی کې معتبر نه دی. (فتاوای دارلعلوم دیوبند ج۳-۴ ص ۲۵۸).
په فتاوای خیریه کې دي:
(مسئله): (سئل) فی شخص طلاق زوجته ثلاثاً مجتمعاً فی کلمة واحدة فهل ام لا وهل اذا رفع الی حاکم حنفی المذهب یجوز له تنفیذ الحکم الوقوع اصلاً او بوقوع واحد او یجب علیه ان یبطله و هل اذا نفذه ینفذ ام لا .
(اجاب) نعم یقعن اعنی الثلاث فی قول عامة العلماء المشهورین من فقهاء الابصار ولا عبرة بمن خالفهم فی ذلك او حکم یقول مخالفهم والرد علی المخالف القائل بعدم وقوع شیئ او وقوع واحدة فقط مشهور و اذ حکم حاکم بعد وقوع الطلاق المذکوره لا ینفذ حکمه کما هو مقرر مسطور ففی الخلاصة وفی کثیر من کتب

علمائنا التی لا تعد لواقضی فیمن طلق امراته ثلاثا جمله انها واحدة او بان لا یقع شیء لا ینقدو فی التبیین وغیره فی کتاب القضاء ان القضاء بمثل ذلك لا ینفذ بتنفیذ قاضی اخر ولو رفع الی الف حاکم و نفذه لان القضاء وقع بـاطلاً لمخالفتـه والسـنة او الاجماع فلا یعود صحیحاً بالتنفیذ اه (ج ۱ ص ۴۳ کتاب الطلاق و مطالبه).

(و سئل مرة اخری) فی رجل طلق زوجته ثلاثاً مجتمعاً فی کلمة واحدة فافتاه حنبلی المذهب بعدم الوقوع فاستمر معاشر الزوجته بسبب الفتوی المذکورة مدة سنین فهـل یعمل بافتاء الحنبلی المذکور ام لا ولو اتصل به حکم منه فکیف الحال.

(اجاب) لا عبرة بالفتوی المذکورة ولا ینفذ قضاء القاضی بذلك ولو نفذ الـف قاض و یفترض علی حکام المسلمین ان یفرقوا بینهما قال بعض العلماء و حکی عن الحجاج بن ارطاه و طائفة من الشیعة والظاهریة انه لا یقع منها الا واحدة واختـاره من المتاخرین من لا یعبا به فافت به واقتدی به من اضله الله تعالی والله اعلم (فتاوی خیریه ج ۱ ص ۴۴ ایضاً).

که د مهر په عوض طلاق ورکړی نورجعت پکې صحیح کیږی او که نه ؟

(۴۳۹ ـ سوال):که ښځه خپل مهر معاف کړی او خاوند د دی په عوض کې صریح طلاق ورکړی. یعنی ښځې ته یې داسي ووایی:ما تا ته د مهر په عوض کې طلاق ورکړی دی، نو ایا لدینه به رجوع کولی شي؟ دا رجعی طلاق دی او که بائن ؟

(خواب):کله چې شرعی طلاق د مهر په عوض کې ورکول کیږی نو بائن طلاق واقع کیږی او رجوع ورته نشي کیدلی. په شامي کې دي:

" یقع بائناً لانه بعوضه " (**ص ۶۶۰ ج ۳ باب الخلع**).

همدغه راز له خلوت نه مخکې چې کوم طلاق ورکول کیږی هغه هم بائن دی او خاوند ته د رجوع حق نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

په دوه صریحو طلاقونو کې تجدید نکاح ضروري ده او که نه ؟

(۴۴۰ ـ سوال):: ما خپلې ښځې ته د غصې په حالت کې دوه صحیح طلاق ورکړی دي اوس غواړم چې پخپل نکاح کې وساتم، ایا بله نکاح ورسره ضروري ده او که له نکاح نه بغیر یې له ځان سره ساتلی شم ؟ د طلاق اته ورځې تیری شوي دي.

(ځواب):: که د طلاق لفظ یې دوه ځلې ویلی وي نو په عدت کې ورته رجوع کولی شي د نکاح ضرورت نشته، لیکن له رجعت نه وروسته کله هم یو طلاق ورکړی نو د مخکینو دو طلاقو سره دری طلاقه واقه کیږی، د دی خیال ساتل دیر ضروري دی.[1]
فقط والله اعلم بالصواب.

یوه طلاق نامه او دهغې حکم :

(۴۴۱ ـ سوال)::طلاق نامه څه داسې ده:

ستا د لور نکاح له ما سره له کافی وخت نه شوی ده، لیکن د هغې دماغی حالت د خراب والي له کبله زه یي په پریشانی کې اچولی یم لهذا زه له همدا نن نه ورته طلاق ورکوم او خوشي کومه یې.

(نوټ). د دی طلاق نامی څلور کاله شوي دي، اوس ښځه او خاوند دواړه دوباره نکاح لپاره تیار دي نو ایا له حلالی نه پرته یې نکاح صحیح کیږی او که نه ؟

(ځواب)::که دا طلاق نامه اصل وي یا د اصل مطابق وي نو نکاح یې کیدلي شي د حلالی ضرورت ورته نشته.[2] فقط والله اعلم بالصواب.

که یو سړی د نشي په حالت کې طلاق ورکړی نو واقع کیږی او که نه ؟

---

[1] - ((واذ اطلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فى عدتها رضيت بذلك او لم ترض انما شرط بقائها فى العدة لا نها اذا انقضت زال الملك و حقوقه فلا تصح الرجعة بعد ذلك.(جو هرة السنيرة كتاب الرجعة ج ۲ ص۱۲۷).

[2] - واذ اطلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فى عدتها رضيت بذلك او لم ترض انما شرط بقائها فى العدة لا نها اذا انقضت زال الملك و حقوقه فلا تصح الرجعة بعد ذلك.(جو هرة النيرة كتاب الرجعة ۲ ص۱۲۷).

(۴۴۲ ـ سوال): زه د اختر په ورځ خپل خسرکره تللی وم زما ښځه هم هلته وه، له اختر نه وروسته مې ښځې نه وویل چې زه تاپسې راغلی یم، لیکن زما خسر او خواښې دواړو انکار وکړ، د هغوی د کور په وړاندې د جلی د ترور کور دی ما هغې ته هم وویل خو هیڅ ترینه جوړ نه شو، زه په نشه کې وم، د هغې د ترور لور په وړاندې دوه کرته د طلاق،طلاق لفظ استعمال کړ، ایا هغه زما په نکاح کې پاتې شوې ده او که نه ؟

(خواب): کله چې تا خپلې ښځې ته دوه کرته د طلاق لفظ استعمال کړی دی نو هغه رجعي طلاق واقع شوي دي، په عدت کې ورته رجوع کولی شې او له تجدید نکاح نه پرته له ځان سره ساتلی شي. لیکن لدینه وروسته چې کله هم ورته یو طلاق ورکړی نو له مخکینو دوه طلاقو سره په یو ځای کیدو ستا ښځه در نه په دریو طلاقیږی او له شرعي حلالی نه پرته ورسره نکاح نشي کولی. فقط والله اعلم بالصواب.

که له مخالطت نه وړاندې طلاق ورکړی نو د هغه څه حکم دي ؟

(۴۴۳ ـ سوال): یو سړی واده وکړه، له واده نه وروسته دا رواج دی چې دوه دری میاشته وروسته جلی واده کوي. په دی موده کې څه جګړه را پیښه شوه د قهر او غصی په وجه د هغې خسر او ورور یې له خپل زوم نه په زوره طلاق واچاو اوس خاوند یې ډیر زیات خفه او پریشانه دی او وایې چې د شریعت څه حکم وي د همغه په مطابق دی عمل وکړی شي، مهرباني وکړئ تاسی په دی باره کې خواب راکړئ.له نکاح نه وروسته ورسره صحبت نه دی شوي سړی ورته دری کرته د طلاق لفظ استعمال کړی دی.

(خواب): کله چې له نکاح نه وروسته جلی نه ده واده شوی او خپل پلار کره ناسته ده، همدغه راز د جلی او د هغې خاوند ترمنځ مخالطت هم نه دی شوی او خاوند ورته دری طلاقه پرله پسی ورکړی دي.نو په لومړی طلاق سره بائنه شوی ده، دویم او دریم طلاق یې نه دی واقع شوی، اوس که د جلی خوښه وي نو نکاح ورسره کیدی شي دحلالی ضرورت ورته نشته. (هدایه ج ۱ ص ۳۵۱).[1]

که د یو طلاق نه وروسته رجوع وکړ نو دا طلاق بیا محسوبیږی او که نه ؟

---

[1]- فان فرق الطلاق بانت بالاولی ولم تقع الثانیه والثالثة فصل فی الطلاق قبل الدخول .

(۴۴۴ ـ سوال):.زید خپلې ښځې ته پښځه کاله مخکې طـلاق ورکـړی و او دوه ورځـې بعدې ورته رجوع کړی وه، بیا یو کال وروسته یو بل طلاق ورکړ، بیا یې رجـوع وکـړ، بیا څه وخت وروسته یوبل طلاق هم ورکړ. نو په دی صورت کې یو طلاق شمارل کیـږی او که دری ؟ بینوا توجرو..

(ځواب):.د احادیثو په کتابونو کې دي چې حضـرت عبـدالله بـن عمـر رضـی الله عنـه خپلې ښځې ته د حیض په حالت کې یو طلاق ورکړ نو محمد صلی الله علیه وسلم ورتـه د رجوع کولو حکم ورکړ، ځکه چې د حیض په حالت کې طـلاق ورکـول ممنـوع دی، کله چې ابن عمر رضی الله عنه دا حدیث بیان کړ نو له هغه دا سـوال وشـو چـې ایـا دا رجوع شوی طلاق به حسابیږی او که نه ؟ نو هغه وویل ولی نه خامخا حسابیږی.

طلق ابن عمر رضی الله تعالی عنهما امراته وهی حائض فذکر عمر رضی الله تعـالی عنه النبی صلی الله علیهواله وسلم فقال لیراجعها قلت تحتسب قال فمـه (بخـاری شریف ج ۲ ص ۷۹۰ کتاب الطلاق باب اذ طلقت الحائض یعتد بذلك الطلاق جز نمبر ۲۲ مسلم شریف ج ۱ ص ٤۷۷).

لهذا په مسئوله صورت کې چې ښځه مذخوله ده نو دری طلاقه وربانديې واقع شـوي دي او ښځه مغلظ طلاقه شوي ده، زید د حلالی نه پرته لـه هغـې سـره نکـاح نشي کـولی.

لقوله تعالی:

فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىَ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ. (سوره بقـره). فقـط والله اعلم بالصواب.

د حلالی شرعی حیثیت:

(۴۴۵ ـ سوال):.یو مسلمان ورور خپلې ښځې تـه د کلـی د دوه ښځـو پـه وړانـدې دری کرته په غصه که طلاق طلاق طلاق وویل، ښځـه او خاونـد د دی اعتـراف کـوي، خـو دواړه اوس هم یو ځای اوسیدل غواړي، د دی بـه څـه صـورت وي ؟ مهربـانی وکـړئ خواب راکړئ.

(خواب):. په مذکوره صورت کې دری طلاقه واقع شـوی‌دی او ښځـه پـر خاوندحرامـه شوی ده له شرعي حلالی نه پرته ورسره نکاح نشي کیدلی. شرعی حلالـه داده چـې د طلاق عدت (که حیض راځی). نو دری حیضه او که د زیات عمر په وجه حیض یـې نـه

راخي نو دری میاشتی او حامله د ماشوم له زیږیدونه وروسته پخپله خوښه لـه چاسره نکاح وکړی او ورسره صحبت هم وکړی. لدینه وروسته دغه دویم خاوند یې یا سرشي یا په کومه وجه ورته دری طلاقه ورکړی نو د طلاق عدت له تیرولو نـه وروسـته لـه لومړی خاوند سره نکاح کولی شي.

لا ینکح مطلقة بها ای بالثلاث . الی قوله . حتی یطاها غیره ولو الغیر مراهقاً یجـامع مثله ..... الی . نکاح و تمضی عدتة ای الثانی ...... الخ (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۷۳۹ و ص ۷۴۰ باب الراجعة) فقط والله اعلم بالصواب.

له دویم خاوند سره د دخول نه کولو په شرط سره د نکاح کولو حکم.

(۴۳٦ سوال): که چیرته یو سړی خپل ښځې ته په یو وخت کې دری طلاقه ورکړي وي او له یو سړی سره د حلالی لپاره په دی شرط رضامندي ښکاره کړی وي چې لـه صحبت کولونه بغیر به طلاق ورکوي او هغه سړی د شرط په مطابق لـه صحبت نـه بغیرطلاق ورکړي. ایا دا شرطیه نکاح صحیح ده او که نه ؟ ایا ښځه د لومړی خاونـد لـه پاره حلالیږی ایا طلاقه شوي اینګور له خسر سره پاتی کیدلې شي او که نـه؟ بینـوا توجرو.

(خواب).:د شرطیه نکاح په اړه په حدیث شریف کې لعنت راغلـی دی لیکن نکـاح صحیح کیږی خو شرط باطلیږي، که له جماع نه مخکې ورتـه طـلاق ورکـړی شي نـو طلاق یې واقع کیږی لیکن لومړی خاوند لپاره نه حلالیږی.

((وکره التزوج الثانی تحریما) لحدیث لعن الله المحلل والمحلل له (بشرط التحلیـل) کتزوجتك علی ان احللك (وان حلت للاول) لصحة النكاح و بطلان الشرط الخ (در مختار مع اشامی ج ۱ ص ۷۴۳ باب الرجمة).

لومړی خاوند د حلالیدو لپاره د دویم خاوند لپاره وطی کول ضروري دی.په در مختـار کې دي: حتی یطا غیره (ج۲ ص ۷۳۹ باب المراجعه).

مطلقه انګور خوابنی او خسر له خپل خان سره اوسولی شي په دی شرط چې لـه څـه قسم ګناه کې د اخته کیدو ویره نه وي.فقط والله اعلم بالصواب.

که اته کاله وروسته دویم میړه د صحبت نه کولو اعتراف وکړی نو حلاله صحیح ده او که نه؟

(۴۴۷ ـ سوال):: یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي مګر ښځه يې له کوره ونه وته علماو ورته دا فتوه ورکړه چې له شرعي حلالی نه بغیر ښځه خاوند له پاره حلاله نه ده نو د طلاق عدت له تیرولونه وروسته د خاوند ورور د هغه له ښځې سره نکاح وکړه او دری ورځې ورسره تیرولونه وروسته ورته طلاق ورکړه، د عدت له تیریدونه وروسته له لومړي خاوند سره نکاح وکړه چې اوس تقریباً اته.کاله کیږی، اولادونه يې هم شوي دي، لیکن اوس د هغه ورور او ښځه وایې چې مونږ صحبت نه وکړی صرف دری ورځې له ساتلو نه وروسته یې راته طلاق راکړی و. اوس د هغه خاوند څه وکړی ؟

(خواب)::کله چې دواړه له نکاح نه وروسته د ښځې او خاوند په شان دری شپې او ورځې په خلوت کې تیروي او هغه ته دا هم معلوم و چې حلالی لپاره صحبت شرط دی مګر په هغه وخت کې دواړو څه ونه ویل اوس اته کاله وروسته د صحبت نه کولو دعوه یې نه آوریدل کیږی، دواړه د ښځې او خاوند پشان اوسیدلی شي.

فقط والله اعلم بالصواب. ۲۰ شوال المکرم سن ۱۳۹۴ ھ

ایا د مرتد کیدو په وجه په دریو طلاقو طلاق شوي حلالیږی او که نه؟

(۴۴۸ ـ سوال)::یو نوي مسلمان شوي سړی له مسلمانی ښځې سره نکاح وکړه څه وخت وروسته دواړه بې اتفاقه شول او ښځې ته يې دری طلاقه ورکړل. لدینه وروسته هغه خپل قوم ته لاړ او مرتد شو. بیا دوباره مسلمان شو، که د هغه طلاقه شوي ښځه له هغه سره بیا نکاح وکړي نو صحیح کیږی او که نه ؟ بینوا توجرو..

(خواب)::که چیرته له طلاق نه وروسته د عدت له تیرولونه وروسته له بل سړی سره نکاح کړی وي او له هغه سره د اوسیدونه وروسته خاوندیې مړشوي وي، یا يې ورته طلاق ورکړی وي او عدت یې ختم شوي وي نو اوس هغه ښځه له مخکینی خاوند سره نکاح کولی شي که نه نو نکاح نشي کولی ځکه چې خاوندد دریو طلاقو ورکولو سره

خپل حق ختم کړی دی هغه حق د سرتد کیدو په وجه واپس نشي ترلاسه کولي ترڅو پورې چې شرعي حلاله ونکړی شي.

(والزوج الثاني یهدم بالدخول). فلو لم یدخل لم یهدم اتفاقا قنیه). (در مختار مع الشامي ج ۲ ص ۷٤٦ باب الرجعة).

لدینه معلوم شوو چې واقع شوی طلاق لره منهدم کوونکې څیز د دویم خاوند نکاح او وطی ده. فقط والله اعلم.

د شرعي حلالی یو صورت :

(۴۴۹ ـ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی دي اوس دواړه پخپله خوښه دوباره نکاح کولو لپاره تیار شوي دي اوښکاره ده چې اوس له حلالی نه پرته نکاح یې نشي کیدلی هغه د حلالی لپاره هم تیار دی، لیکن اوریدلی مې دي چې په حدیث کې په دی باندې لعنت ویل شوی دی، زما پوښتنه دا ده چې دا لعنت په کومو خلکو او په کوم صورت کې دی ؟ زمونږ په علاقه کې یو مولانا صاحب وایې چې په داسې حلاله کونکو او څوک چې وربانده دا حلاله کوي دواړو باندې لعنت دی او هغوی حرام کاري کوي، ایا په دی معامله کې شریکو خلکو نکاح تړونکو او گواهانو باندې هم لعنت دی ؟ بینوا توجرو.

(خواب): چا چې خپلې ښځې ته دری طلاقه په یوځای ورکړی وي او هغه له عدت نه وروسته شرطیه نکاح نه وروسته یعنی د نکاح د تړلو په وخت کې ښځه ووایې چې زه خپل ذات تا ته په دی شرط حواله کوم چې له صحبت کولونه وروسته ماته طلاق راکړی او هغه سړی ووایې چې زه یې قبلوم او له صحبت نه وروسته درته طلاق درکوم نو دا قسم نکاح مکروه او د لعنت موجب ده، خو که د نکاح په وخت کې دا شرط ونه لګول شي او هسی نکاح یې وشي او له صحبت نه وروسته طلاق یې کړی نو دا صورت، له دینه اخف او اسان دی، له حلالی نه پرته د ښځې خاوند په خیر اوسیدل او غیر مقلدوځخه د غلط فتوی ترلاسه کولو اوټول عمر له زنا کولونه بهتر دی. فقط والله اعلم بالصواب.

(نوټ). که د ښځې او خاوند خپلوانو ته دا خطره وي چې که چیرته د دواړو ترمنځ دوباره نکاح ونه کړی شي نو په گناه کې به اخته شي، یا د عیالدار کیدو په وجه به

دواړه پریشانه شي، نو په دی وجه د هغو خپلوان دوستان او ملګری د اصلاح په غرض د ښځي نکاح له چاسره وکړی او دویم خاوند هم د اصلاح په خاطر له صحبت نه وروسته طلاق ورکړي نو ان شا الله دا کار د لعنت موجب نه ګرځی. بلکي امید دی چې د اصلاح او ګناه نه د بچولو نیت په وجه د ثواب مستحق وګرځی.

په ترمذي شریف کې د دغه حدیث په حاشیه کې دي :

وقيل المكروه اشتراط الزوج بالتحليل فى القول لافى النية بل قد قيل انه ما جور بالنية لقصدنا لا صلاح كذا فى اللمعات ترمذى ج۲ ص ۱۳۳ باب ما جا فى المحلل والمحلل له).

شرعی حلاله څه ته وایي ؟

(۴۵۰ سوال). د شرعي حلالی څه صورت دی د دی پوره وضاحت او سپیناوی وکړئ؟

(ځواب):.د شرعي حلالی صورت دا دی چې ښځه د طلاق عدت تیر کړی، د طلاق عدت دا دی چې که د ښځې حیض راځی نو هغه دی دری حیضه تیرکړی، برابره خبره ده چې دری واړه حیضونه په څومره وخت کې راځي، په دریو میاشتو کې راځي یا لدینه کم موده کې او یا لدینه زیاته موده کې، په دریو حیضونو سره یې عدت پوره کیږی.عوام خلک مطلقاً دری میاشتی ګنی دا صحیح نه ده.

که چیرته د دریو حیضونه وړاندې ښځه نکاح وکړی نو نکاح یې نه صحیح کیږی او شرعي حلاله یې هم نه کیږی او که چیرته ښځه د زیات عمر وي او حیض یې نه راځی نو د هغې عدت دری میاشتی دي، او که حامله وي نو د ماشوم له پیدا کیدونه وروسته د هغې عدت پوره کیږی، د عدت له پوره کیدونه وروسته ښځه له څه شرط نه بغیر له چاسره واده وکړي له هغې سره واوسي او ورسره مجامعت وکړي، لدینه وروسته خاوندیې مړ شي او یا هم ورته دری طلاقه ورکړي نو د وفات د عدت او د طلاق د عدت له تیرولونه وروسته د پورنتی لیکل شوي طریق په مطابق نکاح کولي شي. که لومړنی خاوند ورسره نکاح کول غواړي نو له هغه سره هم نکاح کولي شي ځکه چې د حلالی عمل ترسره شوی دی. فقط والله اعلم بالصواب.

له اوښي سره د نکاح کولو په صورت کې حلاله صحيح کيږی او که نه ؟

(۴۵۱ _ سوال): عابدی ته د هغه خاوند دری طلاقه ورکړل، د عدت له پوره کيدونه وروسته د عابدی نکاح د هغې اخښی اقبال سره وکړی شوه حال دا چې د عابدی مشره خور د هغه په نکاح کې موجوده ده، له نکاح نه وروسته اقبال له عابدی سره شپه تيره کړه او ورسره صحبت يې هم وکړ، لدينه وروسته اقبال عابدی ته طلاق ورکړه. د عدت له پوره کيدونه وروسته عابده له لومړی خاوند سره نکاح وکړه، اوس سوال دا دی چې عابدی نکاح له اقبال سره صحيح شوی ده او که نه ؟ ايا ديته شرعي حلاله ويلی شو او که نه ؟
همدغه راز د هغې سکه خور د خالدې په نکاح څه اثر پری وتی دی او که نه ؟ حافظ صاحب له نکاح نه مخکې تحقيق کړی و او ورته ويل شوي و چې څه ګربړ پکې نشته، له دينه وروسته هغه نکاح وتړله ايا په دی صورت کې هغه ګنهګار دئ او که نه ؟ مهرباني وکړئ خواب راکړئ.

(خواب): حلاله په هغه صورت کې صحيح کيدلی شي چې کله دويمه نکاح صحيح وي، که چيرنه دويمه نکاح صحيح نه وي نو بيا هيڅ اعتبار نه لري او ښځه د مخکينی خاوند له پاره نه حلاليږی. په هدايه اولين کې دي:

وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة الى قوله. لم تحل له حتى تنكح زوجاً غـيره نكاحـا صحيحاً ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها.(هدايه اولين ص ۳۷۹ باب الرجعة).

په در مختار کې دي:

لا ينكح مطلقة........ بها). اى بالثلاث ..... حتى يطها ها ولو (الغير). مراهقاً بنكاح نافذ خرج الفاسد والموقوف ... الخ (در مختار مع شامي ص ۷۳۹ _ ۷٤۰ ج ۲ ايضاً).

د يوی خور موجودګی کې ورسره د بل خور نکاح کول بالکل حرام دی. په قران کريم کې دي: وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ الأُخْتَيْنِ.(نساء ايت ۲۳). کله چې په مسٔوله صورت کې د

مغلظی مطلقی دویم نکاح له سره نه ده صحیح شوی نو حلاله هم نه ده شوی عابـده د خپل لومړی خاوند لپاره حلاله نه ده. هغه چې له خپل لومړی خاوند سره کوم نکـاح کړی ده هغه هم باطله ده که دواړه یو ځای اوسیږي نو ژر تر ژره دی جدا شـي کـه نـه دواړه سخت گنهکار دي، دا ډیر غلط کار شوی دی، پـه ټولـو خلکـو لازم دی چـې د زړه له کومې توبه او استغفار وکړی، د عابدی مشره خور د پخوا پشان د خپل خاوند پـه نکاح کې پاتی ده او پر هغه حرامه نه ده، البته ترڅو پـوري چـې د هغـې کشـری خـور عابدی عدت نه وي پوره شوي ترهغه وخته پورې د مشری خور خاونـد لپـاره لـه خـپلې ښځې سره جماع کول حرام دی. په در مختار کې دي:

(وان تزوجهما معاً) ای الاختین او من بمنا هما (او بعقدتین ونسی) النکاح (الاول) ص ۴۰۳ .

قوله ونسی الاول) فلو علم فهو الصحیح والثانی باطل وله ، وطء الاولی الا ان یطا الثانیة فتحرم الا ولی الی انقضاء عدة الثانیة کمالو وطی ء اخت امرأته بشبهة حیـــث تحرم امراته مالم تنقض عدة ذات الشبهة عن البحر.

د مذکوره عبارت لنډیز او خلاصه داده چې که چا له دوه خویندو سره جـلا جـلا نکـاح وکړ او له دویمی خورسره د نکاح په وخت کې لومړی نکاح یـې پـه یـاد ده نـو لومـړی نکاح یې صحیح ده او دویمه نکاح باطله ده، له کوم خور سره چې لومړی نکاح کړیده له هغې سره صحبت کولي شي، البته که له دویمی خور سره چې صحبت کـړی وي نـو لومړی خور د دویم خور د عدت ترپوره کیدو پورې پرهغـه حرامـه ده، لکـه چـې کـوم سړی د خپلې ښځې له خور سره بالشبیه وطی وکړي نو موطوه بالشبه د عدت پوره کیـدو پـوری د هغـه ښځـه پـر هغـه حرامیـږی (در مختـار و شـامي ص ۳۹۳ ج ۲ فصـل فـی المحرمات).

که چیرته حافظ صاحب ته ربنتیا علم نه وي او تحقیق باوجود ورباندې خبر نه وي او په بی‌خبرۍ که یې نکاح تـړلی وي نـو حـافظ صـاحب گنهکـار نـه دی. فقـط والله اعلـم بالصواب.

ته دی همیشه لپاره طلاقه یې د ویلو باوجود، له حلالی نه وروسته ښځه حلالیږی.

(۴۵۲ ـ سوال): که چیرته یو سړی خپلې ښځې ته وویل زه تـا تـه همیشـه لپـاره طـلاق درکوم نو په دی صورت کې له شرعي حلالی نـه وروسـته دا ښځـه خپـل خاونـد لپـاره حلالیږی او که نه ؟

(خواب): په مذکوره صورت کې له شرعي حلالی نه وروسته ښځه د لومړی خاوند لپـاره حلالیږی ځکه چې له شرعي حلالی نه وروسته لومړی خاونـد حلالیـدل مخصـوص دی ح، لهـی ارشـاد دی: فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىَ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ. لـه دوه طلاقو نه وروسته که دریم طلاق هم ورکړی نو اوس دغه ښځه هغه لپاره تر هغه حلاله نـه ده ترځو پورې چې له بل سړی سره نکاح ونـه کـړی دا حلـت د همیشـه لپـاره د لفـظ استعمالولو سره نه ختمیږی بلکې دا لفظ لغوه ده، لاتـدینی جزئیـه د دی واضـح دلیـل دی، په فتاوای عالمګیری کې دي:

وان قال انت طالق علی ان لا رجعة لی علیك یلغو ویملك الرجعة كذا فی السـراج الوهاج (فتاوای عالمگیری کتاب الطلاق باب ۲ ، فصل نمبر ۳) فقط والله اعلـم بالصواب .

باب العدة

دعدت تیرولو ځای او موقع څنګه پکار ده ؟

(۴۵۳ ــ سوال):ښځه او خاوند دواړه له کلی نه لری په باغ کې اوسیږي، هلته یې خاوند مړشو، له ښځې سره واړه واړه ماشومان دي، کوم مشر سړی له هغوی سره نشته، لهذا د ښځې مال او عزت ته خطره ده، نو له عدت نه مخکې کلی ته راتللی شي او که نه ؟

(ځواب): په مسٔوله صورت کې ښځه کلی ته راتللی شي (فتاوای عالمګیری ج ۱ ص ۵۳۵).[1]

ایا د حمل په غورځولو سره عدت ختمیږي او که نه ؟

(۴۵۴ ــ سوال):ایا د حمل په غورځولو سره عدت ختمیږی او که نه ؟

(ځواب):هو ! د حمل په غورځولو سره عدت ختمیږی په دی شرط چې د ماشوم اندامونه جوړ شوي وي.[2]

د نوی مسلمانه شوي ښځې سره د نکاح لپاره عدت شرط دی او که نه ؟

(۴۵۵ ــ سوال):یوه هندو جلی ده، هغې د هندوانه په مذهب واده کړی ده، د هغې خاوند لا ژوندی دی لا کن هغه له یو مسلمان ځوان سره تبنتیدلی‌ده او مسلمانه شویده، له تبنتیدلی هلک سره نکاح کول غواړي، ایا نکاح ورسره جائز ده او که نه ؟

---

[1] - (ولو كانت بالسواد فدخل عليها الخوف من سلطان او غيره كانت فى سعة من التحول الى المصـــر كـــذا فى المبسوط الباب الرابع عشر فى الحداد).

[2] - (و عدة الحامل ان تضع حملها كذا فى الكافى . عالمگيرى الباب الثالث عشر فى العدة . و ســـقطای ســـقوط ظهر بعض خلقها كيد او رجل او اصبع او ظفر او شعر . . . . ولد حكما فتصير المرءة به نفساء و الا مة ام ولد يحنث به فى تعليقه و تنقضى به العدة و ان لم تظهر له ، شئى فلس بشئى باب الحيض مطلب فى احوال الســـقط و احكامه ج ۱ ص ۳۰۲).

(خواب): د نوی مسلمانه جلی چې دری حیضه راشي او که حیض یې نـه راځـی نـو د دری میاشتی عدت له تیرولونه وروسته له خپل خاوند نه علیحده کیـږی. کـه چیرتـه پـه دی موده کې د هغه هندو خاوند اسلام قبـول کـړی نـو دا ښځـه د مخکینـی خاونـد د نکاح له تجدید نه بغیر د ښځې او خاوند په توګـه پاتی کیـدلی شـي. کـه چیرتـه هغـه اسلام قبول نه کړي نو د دری حیض له تیرولونه وروسته لـه مسلمان سره نکـاح کـولی شي.

كما قاله الشامى تفصيلا لم تبن حتى تحيض ثلاثا او تمضى ثلاثة اشهر قبـــل اســـلام الاخر اقامة لشرط الفرقة مقام السبب (در مختار) وهل تجب العدة بعد مضى هـــذه المدة فان كانت المرءة حربية فلا لانه لا عدة على الحربية وان كانت هى المســـلمة فخرجت الينا فتمت الحيض هنا فكذلك عندابى حنيفة خلافا لهما لان المها جـــرة لا عدة عليها عنده خلا فالهما كما سياتى بدائع وهدايه و جزم الطحاوى بوجو بها قال فى البحر وينبغى حمله على اختيار قولهما . شامى ج ۲ ص ۵۳۷ باب نكاح الكافر.

او په حيلة الناجزة كې دي: كه چيرته ښځه مسلمانه شوي وي نو د صاحبينو پـه نـزد پـر هغې د دريو حيضو نه علاوه دری نور حيض عدت تيرول واجب دی، او د امام صـاحب په نزد عدت وربانديې واجب نه دی، البته كه ښځه حامله وي نو د امام صاحب پـه نـزد هم د حمل له پيدا كيدونه مخكې د هغې نكاح جائزه نه ده او احتياط په دی كـې دی چې د صاحبينو په قول بانديې عمل وكړی شي، امام طحاوي همدغه غوره كـړی ده. (ص ۹۲).

منكوحه زاني سره د زاني سړي نكاح كله كيدلی شي ؟

(۴۵٦ _ سوال): يو سړی خپلې ښځې ته څكه طلاق وركړی چې هغـې لـه پـردی سـړی سره زنا كړی ده او ترينه بلاربه شوي ده، دواړه په دی اقـرار هـم كـوي، اوس د دوی دواړو نكاح د عدت له تيرولونه وروسته او د حمل د پيدا كيدونـه مخكـې صـحيح ده او كه نه ؟

(خواب): په مذكوره حالت كې د طلاقه شوي حاملې عدت د حمل پيدا كيـدل دي ماشوم پيدا كيدونه مخكې ورسره نكاح صحيح نه ده. (عنايه).

(_ سوال): مهرباني وكړئ د دغه لاندينی مسئلی په باره كې خواب راكړئ:

یو سړی بخپل ژوند کې د خپلې ښځې له پاره یو کور اخستی و. هغه کورد دغه سړی کورنه بالکل نژدی دی. اوس هغه سړی مړ شوی دی او د هغه وارثانو همغه کور د مرحوم ښځې ته په میراث کې ورکړی ده. اوس ښځه غواړی چې همغه کورته لاړشي کوم چې ورته په میراث کې رسیدلی دی او مخکینی کور سره بالکل متصل دی. د هغې خاوند د انتقال او مړکیدو ۳۰ ورځې پوره شوي دي. اوس سوال دا دی چې ایا دغه ښځه د عدت له تیرولونه وړاندې هغه کور ته تللی شي او که نه ؟

(جواب): د خاوند د مړکیدو په وخت چې ښځه په کوم کور کې اوسیدله په همغه کور کې باید خپل عدت تیر کړی. که چیرته په دی کور کې د هغې حصه نه وي یا حصه یې خو وي مګر د اوسیدو لپاره کافی نه دی او وارثان یې پخپل حصه کې اوسیدو ته نه پریږدي نو په دی صورت کې دا کور بدلولي شي. او که کور د کرایه وي او کرایه ورکولي شي نو بیا هم په دغه کرایې کور کې اوسیدل وړباندې لازم دی.

وعلی المعتدة ان تعتد فی المنزل الذی یضاف الیها بالسکنی حال وقوع الفرقة والموت لقوله تعالی ولا تخرجو هن من بیوتهن والبیت المضاف الیها . هو البیت الذی تسکنه فقال علیه السلام للتی قتل زوجها اسکنی فی بیتك حتی یبلغ الکتاب اجله وان کان نصیبها من دارالمیت لا یکفیها فاخرجها الورثة عن نصیبهم انتقلت لان هذا انتقال بعذر الخ .

یعنی پر عدت تیروونکې ښځې باندې لازم دی چې په همغه کور کې خپل عدت تیر کړی چې په کوم یوکې د طلاق یا خاوند د وفات په وخت کې اوسیدله، ځکه چې د الله تعالی هدایت دی چې ښځې له خپلو کورونو څخه مه اوباسی او د هغوی کور همغه دی چیرته چې هغه اوسیدله.

محمد صلی الله علیه وسلم هغې ښځې ته چې خاوند یې وژل شوي و فرمایلي وو چې په دغه کور کې واوسیږه تر هغه چې د کتاب الله په مطابق موده پوره شي. یعنی: (اربعه اشهر و عشرا، یا وضع حمل).

که چیرته د خاوند په کور کې د کونډې حصه د اوسیدو لپاره ناکافي وي او وارثانو ویستلوته مجبوره کړی وي نو بل کورته تللی شي، ځکه چې دا عذر دی. (هدایه ج۲ ص ۴۵۹ فصل فی الحداد) (فتاوای عالمګیری ج ۱ ص ۵۳۵)

وتعتدان معتدة طلاق و موت في بيت وجبت فيه ولا تخرجان منه الا ان تخرج (د ر مختار) شمل اخراج الزوج ظلما او صاحب المنزل لعدم قدرتها على الكراء وتورث اذا كان نصيبها عن البيت لا يكفيها (شامی ج ۲ ص ۸۵۴ فصل فی الحداد).

د عدت موده:

(۴۵۷ _ سوال): (۱). یو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی دي اوس دوباره له هغې سره نکاح کول غواړي نو شرعاً عدت او حلاله دواړه لازم دي. سوال دا دی چې د دغې ښځې عدت څومره دی؟ د ځوانې ښځې عدت څومره وخت دی؟ او که بوډۍ وي یا حیض یې نه راځي نو د هغې عدت څومره دی؟ او که ښځې مجبوراً اپریشن کړی وي نو ایا د هغې په موده کې څه فرق شته او که نه؟ مهربانی وکړئ تفصیلي ځواب راکړئ.

(۲). دویمه پوښتنه داده چې د ښځې کم مهر به څومره وي؟

(ځواب (۱).). که ښځه حامله وي نو عدت د ماشوم تر پیدا کیدو پورې دی او که حامله نه وي نو درې حیضه عدت به تیروي، او که حیض نه راځي او د راتلو امید یې هم نه وي نو دریو میاشتو له تیرولونه وروسته یې عدت پوره کیږي.[۱]
لدینه وروسته نکاح کولي شي. د حلالې په صورت کې که دویم خاوند طلاق ورکړی یا مړشي نو د طلاق یا وفات عدت له تیرولونه وروسته له لومړی خاوند سره نکاح کولي شي. د اپریشن شوي ښځې حکم له پورتنی بیان څخه معلومیدلی شي.

(۲). لږترلږه مهر لس درهمه ده. (واقل المهر عشره دراهم " ولنا قوله علیه السلام ولا مهر اقل من عشره دراهم (هدایه ص ۳۰۴ ج ۲ باب المهر).

[۱] - (اذا طلق الرجل امراته طلاقا بائنا او رجعيا او ثلاثا او وقعت الفرقة بينهما بغير طلاق وهى حرة ممن حيض نعدقها ثلاثا اقراء ...... و العدة لمن لم تحيض لصغر او كبر او بلغت بالسن و لم تحض ثلاثا اشهر ...... و عدة الحامل ان تضع حملها كذافى الكافى. فتاوى عالمگيرى الباب الثالث عشر فى العدة ج ۱ ص ۵۲۶،

او د لسو درهمو ورن تقریبا پاو باندې دری تولې سپین زر دی چې قیمت یې نن سبا د تولې په حساب سره ٦ روپۍ دی او تول ١٦ نیمې روپۍ کیږی. فقط والله اعلم بالصواب.

د شک یا تهمت په وجه طلاقې شوي ښځې نان ونفقه په چاده؟

(۴۵۸ ـ سوال): له ښځې سره د واده یو نیم میاشت کیږی، معلومه شوه چې هغه بلاربه ده، داکتر د پنځو میاشتو فیصله کړی ده، نو ځکه هغه یې پلارکره ولیږله. اوس هغې ته طلاق ورکوي نو د عدت او واده خرچ حکم څه دی ؟.

(ځواب): غیر منکوحه حامله بالزنا سره نکاح صحیح کیږی. (وصح نکاح حبلی من زناء.(کتاب النکاح در مختار).

اوله چانه حمل پاتې شوی که هغه ورسره نکاح وکړي نو صحبت ورسره هم کولي شي ځکه چې حمل د همغه له نطفې څخه پاتې دی.

لو نکحها الزانی حل له وطیها اتفاقا والولدله، ولزم النفقة، (درمختار).

او که بل څوک ورسره نکاح وکړي نو هغه لپاره د ماشوم تر پیداکیدو پورې وطې کول حرام دی .

" وان حرم وطئوها ودواعیه حتی تضع " (درمختار کتاب النکاح).

اوکه په ناخبرۍ کې ورسره وطې وکړي نو ګنهګار نه دی.

په مسئوله صورت کې د داکټر معائنه او تشخیص شرعي شهادت نشي کیدلی، کیدی شي ګیډه یې هسې غټه شوي وي یا بل څه ناروغي ولري چې ګیډه یې غټه ښکاری، دا هم کیدی شي چې له واده نه وروسته له خپل خاوند نه حامله شوي وی او ډاکټر ته زیاتې میاشتې ښکاری. خو د واده له زمانې نه وروسته د ماشوم تر پیدا کیدو پورې له شپږو میاشتو نه کمه موده وي نو بیا خاوند له خپل حمل نه انکار کولی شي. او دا دعوه کولي شي چې دا زما ماشوم نه دی.

وکذا ثبوته، مطلقاً اذا جاءت به لستة اشهر من النکاح لا حتمال علوته بعد العقد وان ما قبل العقد کان انتفاخاً لا حملاً و یحتاط فی اثبات النسب ما امکن. (شامی ص ٤٠١ ج ٢ ایضاً).

د شریعت قاعده داده چې کله په هیڅ طریق سره د ماشوم حلال کیدل ممکـن نـه وي نو هله دی د ماشوم د حرامی کیدو حکم ولګول شي اوښځـې تـه زانیـه وویـل شـي او ترڅو پورې چې دا صورت نه وي هسی الزام لګول بی دلیلـه او لـه وخـت نـه مخکـې دی. په دی کې خاموشی او چوپتیا غوره کړی شي. په حدیث کې دي :

ما من مسلم یرد عن عرض اخیه ولا کان حقا علی الله او یرد عنه نار جهنم یـوم القیامة " یعنی هر څوک چې خپل مسلمان ورور او خور له بی آبرو توب نه بچ کوي الله تعالی هغه د قیامت په ورځ د جهنم له اور نه بچ کوي. (شرح السنه عن ابی الدردا).

په یو بل حدیث کې دي:

(من ستر مسلما ستره الله فی الدنیا والاخرة).

یعنی څوک چې د مسلمان پرده پوشی وکړی الله تعالی په دنیا او آخرت کې د هغه پرده پوښي کوي (مشکوة ص ٤٢٢ باب الشفقة والرحمة علی الخلق).

په یو بل حدیث کې دي:

" لا یو من احد کم حتی یحب لاخیه ما یحب لنفسه ."

یعنی یو سړی تر هغه وخته پورې مومن ویلو مستحق نه دی ترڅو چې پـه هغـه کـې دا جذبه پیدا نشي چې خپل مسلمان ورور له پاره هغه څیز غوره کړی چې خپل ځان لپـاره خوښوی. (بخاری شریف و مسلم شریف).

کله چې په شرعي لحاظ سره دا ثابت شي چې ماشوم حرامي دی اوښځه بدکاره ده نـو د دی حکم جلا دی. لیکن ترڅو پورې چې په شرعی توګه ثابـت نشـي او خاونـد ورتـه طلاق ورکړی نود عدت د زمانې نان و نفقه به ورکوي، البته که هغـه پخپلـه چیرتـه لاړه شي د خاوند په کور کې پاتی نشي نو په دی صورت کې پر خاوند نفقـه نشـته. د واده د خرچې مطالبه کول صحیح نه ده.

کومې ښځې ته چې خلوت نه مخکـې طـلاق ورکـړی شـي پـر هغې عدت شته او که نه ؟

(۴۵۹ _ سوال). د یوی جلی د نکاح شپږ کاله تیر شوي دي خو تراوسـه پـورې لا خپـل پلار کره ده او نه ده واده شوی. له خاوند سره یې کله خلـوت هـم نـه دی شـوي اوس

ورته طلاق ورکړی دی. ایا پرهغې عدت تېرول نشته او که د عدت له تیرولونه وروسته دویمه نکاح کولي شي ؟

(جواب) په مسوله صورت کې کله چې جلی له خپل کورنه نه ده رخصته شوی او خلوت هم نه دی شوي نو پر هغې عدت نشته. په قران کریم کې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا. (پاره ۲۲ سوره احزاب).

د حاملې عدت څنګه دی ؟

(۴۶۰ ـ سوال): که حامله ښځه طلاقه کړی شي نو په عدت کې به دری میاشتی تیروی او که د ماشوم تر پیدا کیدو پورې به صبر کوي ؟

(جواب): کله چې حامله ښځې ته طلاق ورکړی شي نو د هغې عدت د ماشوم تر پیدا کیدو پورې دی.

(وَأُوْلَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ). (سورة طلاق).

(دویمه پوښتنه). که لذې واقعی نه وروسته سړی او ښځه دواړه پښیمان شي نو اوس دواړه څنګه کولی شي چې د ښځې او خاوند په توګه پاتی شي ؟

(جواب): په دریو طلاقو سره ښځه حرامیږی په نکاح سره نه حلالیږی، خو که د عدت له ختمیدونه وروسته له بل سړی سره نکاح وکړی او دویم خاوند له هغې سره صحبت هم وکړی او بیا هغه مړ شي او یا ورته طلاق ورکړی نو د عدت له ختمیدونه وروسته له لومړی خاوند سره نکاح کولی شي. په قران کریم کې دي :

فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىَ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ.(سوره بقره).

که هغه خپلې ښځې ته دری طلاق ورکړی نو بیا هغه ښځه ورته حلاله نه ده ترڅو پورې چې له بل سړی سره نکاح ونکړی. بیا کله چې هغه پخپله خوښه طلاق ورکړی نو دواړو لپاره نکاح کولو کې څه حرج نشته .

په حدیث شریف کې دي چې یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړ بیا هغې له بل سړی سره واده وکړه خو له صحبت نه بغیر یې ورته طلاق ورکړ. له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه، چې ایا دا ښځه له مخکینی خاوند سره نکاح کولی شي او که نه ؟ محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل تر هغه له مخکینی خاوند سره نکاح نشي کولی ترڅو پورې چې دویم خاوند ورسره صحبت ونه کړي

عن عائشة رضی الله عنه رجلا طلق امرأته ثلثاً فتــزوجت فطلق فسئل النبی صلی الله علیه وسلم اتحل للاول ؟ قال لا حتی یذوق عسیلتها کمـا ذاق الاول. (بخـاری شریف ص ۷۹۱ ج ۲ . پ ۲۲ کتاب الطلاق باب من اجاز طلاق الثلاث).

په دی شرط نکاح کول چې له صحبت نه وروسته ورته طلاق ورکړي مکروه او گناه ده خو بیا هم نکاح صحیح او شرط باطل دی.

(وکره التزوج الثانی). (تحریماً). لحدیث لعن المحلل والمحلل له (بشرط التحلیل). کتزوجتك علی ان احللك (وان حلت للاول). لصحة النکاح وبطلان الشــرط. (درمختار مع الشامي ص ۷٤۳ ج ۲ باب الرجعة).

لدینه زیات گناه او ایمان لپاره خطرناك خیز دا دی چې د ښځې په خاطر خپل حق مذهب پریږدي او د غیر مقلدینو په فتوه خپل طلاقه شوي ښځه له حلالی نه پرته ځانته حلاله کړی.

د حاملې ښځې طلاقول او د هغې عدت او نفقه :

(۴٦۱ ـ سوال): له دعا و سلام نه وروسته التماس دا دی چې اووه میاشتې وړانـدې د طلاق واقعه پیښه شوی ده، خاونـد خپلې ښځې تـه دری طلاقـه ورکـری دي، لدینـه وروسته د جلې پلارته خبر ورکړ هغه راغی او جرگـی یـې جـوړه کـره ترڅـو د عـدت او نفقې په اړه فیصله وکړی، د عدت په سلسله کې بحث او مباحثه وشـوه نـو ښځـې وویـل چې د دونیمو میاشتو راهیسي زما حمل پاتې دی. خاونـد هـم د هغـه دعـوه ومنلـه، د جرگې کسانو د ښځې عدت د ماشوم تر پیدا کیدو پورې مقرر کړ او په هره میاشت کې د پنځو سو روپو په حساب سره نفقه مقرره کره، دواړو طرفونو پـه دی بانـدې دسـتخطونه وکړل، مهر او نور حساب یې ادا کړه، لدینه تقریباً یوه میاشت وروسته یـوی ښځـې خبـر ورکړ چې د ښځې حمل غورځیدلی دی، له تحقیق نه وروسته د حمـل غورځیـدل هـم ثابت شو.

اوس د هغه خاوند وایې چې د عدت نفقه پر ما لازم نه ده ځکه چې د حمل مدت ختم شوی دی، مگر د جلې کورنی وایې چې صرف وینه راغلی ده حمل یې پاتې شوی لهـذا د طلاق د عدت نفقه باید ورکړی.

دا اختلاف ډیر سخت شوی دی. اوس مسله د جرګې په مداخله ترخه حده پــوری ســره شوي ده.د نقی مطالبه د وینی راتلونه پنځه میاشتی وروســته شــوي ده اوس پوښتنــه دا ده چې په دی باره کې د شریعت څه حکم دی؟ امید دی چې لاندینی امور پــه واضــح توګه بیان کړئ :

(۱). که د حمل په عدت کې له څلور میاشتو نه وروسته حمل ساقط شي نو عدت شــوي او که نه؟

(۲). په مذکوره صورت کې له سقوط نه وروسته د سړی په سر نفقه پاتی کیږی او که نه؟

(۳). که په سړی باندې نفقه وي نو څومره او څنګه ورکړی ؟

(۴). د طلاق په وخت کې د ښځې دوه خبــرې چــې زه حاملــه یم، بیــا لــه ســقوط نــه وروسته وایې چې زه له مخکې نه حامله نه وم، په دغو دواړو خبرو کې کــوم یــو د منلــو ده ؟ په داسي حال کې چې له لومړی خبرې سره دحمل تصدیق خاوند کړی و.

(خواب).: لدینه مخکې دا سوال راغلی و چې د طــلاق پــه وخــت د دوه نیمــو میاشــتو حمل یې و، او د همدې مطابق د عدت خرچ هم مقررکړی شي، لیکن پنځلس ورخــې وروسته حیض یې راغلو نو اوس بــه د دی د عــدت څنګــه کیــږی، نــو د دی خــواب دا لیکل شوی و چې کله حیض یې شروع شوی دی نــو د دغــې ښځــې د طــلاق عــدت د دریو حیضونو له راتلونه وروسته ختم شوي دی، دوه دری میاشتی وروســته چــې کومــه وینه راغلی ده دا لومړی حیض دی ځکه چې کله کله حیض خــو خــو میاشــتی وروســته هم راځی. پاتی شو د اسقاط معامله نو په دی کې اصل دا دی چې ترخــو پــورې کــوم اندام یې نه وي جوړ شوی نو د دی قسم اسقاط سره عدت نه ختمیږی. قوله تعالی:

وَأُوْلَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ.

یعنی د حاملو ښځو عدت د هغوی د حمل ترپیدا کیدو پورې دی. برابره خبره ده چې کامل وي یا ناقص په دی شرط چې عضوه یې جوړه شوی وي، اګر که یــوه عضــوه ولی نه وي.(بیان القران سوره طلاق).

والمراد به الحمل الذی استبان بعض خلقه او کله فان لم یستبن بعضه لم تنقض العدة لان الحمل اسم لنفقة متغیرة فان کان مضغة او علقة لم تتغیر فلا یعرف کونها متغیرة بیقین الا باسنبانة بعض الخلق (بحر عن المحیط) و فیه عنه ایضا انه لا یســتبین الا فی

مأة و عشرين يوماً (الى قوله) و اذا سقطت سقطا ان استبان بعض خلقه انقضـت به العدة لانه ولد والا فلا . (شامی ص ۸۳۱ ج ۲ باب العدة).

د فقها و په حساب سره تقريباً په خلورو مياشتو کې د ماشوم اندامونه جوړيدل شروع کيږي، کله چې د هغه اندامونه جوړشي نو هغه ماشوم دی او د هغه په ساقط کيدو سره عدت ختميږي، که يواځې د وينې يا د غوښې ټوټه وغورځيږي نو په دی سره عدت نه ختميږي، لهذا د مطلقې ښځې عدت پاتی دی او د نفقې حقداره ده، دوه هفتې د پنځو سو روپو په حساب سره ورکړی دي هغه پيسې په عدت کې حسابيږي، که د حمل غورځيدل هم ثابت شی نو بيا هم څه فرق نه پری اوځي، بيشکه د تيری زمانی نفقه چې نه وي غوښتل شوي ساقطيږي، ليکن په مسٔوله صورت کې د عدت نفقه ورکول خاوند يې قبول کړی و او د مياشتې په حساب سره دوه هفتې ورکړی هم دي، د دغه اقرار نامې په مطابق به مطابق نفقه ورکوي.فقط والله اعلم بالصواب.

حلاله او عدت :

(۴٦۲ ـ سوال):.يو سړی خپلې ښځې ته مغلظ طلاق ورکړی دی، بيا دغې ښځې له دری نيمو مياشتونه وروسته دويمه نکاح يعنی حلاله وکړه، بيا هغه هم ورته طلاق ورکړو. دری نيم مياشتی عدت يې تيرکړ، اوس غواړی چې له لومړی خاوند سره نکاح وکړی. مګر صورت حال دا دی چې له کله نه لومړی خاوند نه ماشوم يې پيدا شوی دی له همغی ورځې نه تراوسه پورې تقريباً اته مياشتی کيږی چې د هغې حيض نه دی راغلی. ايا اوس دغه ښځه له لومړی خاوند سره نکاح کولی شي او که نه ؟

(ځواب):. په مسٔوله صورت کې چې مغلظ طلاقه شوي ښځې چې د دری نيمو مياشتونه وروسته له بل سړی سره نکاح کړی ده هغه معتبره نه ده، د دريو حيضونو تيرول ضروري دي، همدغه راز که دويم خاوند له صحيح نکاح او دخول نه وروسته طلاق ورکړی نو د ريو حيضونو له تيرولونه وروسته د لومړی خاوند په نکاح کې راتلی شي. او که حمل يې پاتی شي نو بيا د ماشوم له پيدا کيدونه وروسته له لومړی خاوند سره نکاح کولی شي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ((څرنګه چې نکاح يې په عدت کې کړی دی نو څکه له دويم خاوند سره يې نکاح نه ده شوی او لومړی خاوند له پاره حلاله نه ده.

ایا له طلاق، نه وروسته حیض په عدت کې شمارل کیږی او که نه ؟

(۴٦۳ ـ سوال): که چیرته یو سړی خپلې ښځې ته نن دری طلاقه ورکړی او دوه ورځې بعد حیض یې راشي ایا دا حیض یې په عدت حسابیږی ؟

(ځواب): له طلاق نه وروسته چې کوم حیض راشي هغه په عدت کې شمارل کیږی لدینه وروسته دوه نوروحیضونو په راتلو سره د طلاق عدت پوره کیږی.

تبتدء العدة في الطلاق عقب الطلاق و في الوفاة عقب الوفاة (فتاوای عالمگیری ج ۱ ص ۵۳۲، ایضا) (فقط والله اعلم بالصواب.)

په تنګلاسی ښځې باندې هم د وفات عدت لازم دی:

(۴٦۴ ـ سوال): د کومې ښځې خاوند چې وفات شي پر هغې وفات عدت تیرول ضروري دي لیکن یوه کونده ښځه دا حیثیت نه لري چې په عدت کې کینی او خپل خان او ماشومانو لپاره نان نفقه پیدا کړی. ایا په داسي ښځې باندې هم په عدت کې کیناستل ضروري دی ؟ که په کور کې ونه اوسیږی او بیرون کار ته لاړه شي نو ګنهګاریږي او که نه ؟ او که کوم سړی ورسره مرسته وکړی او په کور کې کینوي ایا دا د ثواب باعث دی او که نه ؟

(ځواب): هو په داسې ښځې باندې هم خلور میاشتی او لس ورځې په کور کې کیناستل واجب دی، که بلاربه وی نو تر ماشوم تر پیدا کیدو پورې په عدت کې کیناستل ضروري دی، له څه شرعي عذر نه پرته له کور نه وتل حرام دی. که په کور کې عدت تیرنکړی نو د شرعی قانون نه مخالفت کوي او ګنهګاریږي، که چیرته ګوزاره یې نه کیږی نو د هغې خپلوانو ته پکار دي چې ورسره مرسته وکړی، هر څوک چې ورسره مرسته وکړی د ثواب حقدار ګرځی. که څه انتظام یې ونشی بیا هم عدت یې نه ساقطیږی البته دومره قدری اجازه ورته شته چې کار لپاره د ورځې په وخت بیرون لاړه شي خو شپه دی ضرور کورته راوړی.

په درمختار کې دي:

(و معتدة موت تخرج في الجديدين و تبيت) اكثر الليل (في منزلها) لان نفقتها عليها فتحتاج للخروج حتى لو كان عندها كفايتها صارت كالمطلقة فلا يحل لها الخروج فتح اه وفي الشامي والحاصل ان مدار حل خروجها بسبب قيام شغل المعيشة

وینفدر بقدره، فمتی انقضت حاجتها لا یحل لها بعد ذلك صرف الزمان خارج بیتها ۵۱ (ج ۲ ص ۸۵٤ باب العدة).

د وفات په عدت کې د لیونی ښځې له کورنه د باندې تلل :

(۴۶۵ _ سوال).: زما د خسر د مړینې درې نیمې میاشتې شوي دي، زما د خواښې د عدت څه وخت پاتې دی، مګر دهغې دماغی حالت داسې شوي دی چې کله خاندي او کله ژاړي، د باندې د وتلو کوشش کوي ایا شریعت د داسې ښځې ته د باندې تللو اجازه ورکوي او که نه ؟ که دباندې لاړه شي ګنهګاریږي او که نه ؟

(ځواب).: کونډه شوي ښځه په عدت کې خپلو خپلوانو یا د ناروغ پوښتنې لپاره هم د باندې نشي تللی، وتل ورته حرام دی.په عدت کې حج ته هم نشي تللی، بازار ته هم په هیڅ حالت کې نشي تللی. که الله مکره د لیونتوب په حالت کې باهر لاړه شي نو ګنهګاره نه ده. مګر د کور د خلکو دا فرض دی چې د هغې حفاظت وکړي که نه نو ګنهګاریږی.(شامي وغیره.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

ایا د وفات په عدت کې ښځه سفر کولي شي او که نه ؟

(۴۶۶ _ سوال).: زما د خاوند د مرګ۴۵ ورځې کیږی او زه په سوات کې اوسیږم زما د خاوند کاروبار په مدراس کې دی، که څه هم زما زامن کاربار سنبال کړی دی مګر زما ضرورت ورته پیښیږی. په سرکاری کاغذونو کې د دستخط کولو ضرورت هم شته ایا زه هلته تللی شم او که نه ؟ بینوا تو جروا.

(ځواب).: د خاوند د وفات عدت څلور میاشتې اولس ورځې دی. د الله تعالی ارشاد دی:

والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجا یتربصن بانفسهن اربعة اشهر و عشرا "

یعنی له تاسونه چې څوک مړشي او ښځې پریږدي نو هغوی دی څلور میاشتې او لس ورځې خپل خانونه ایساري کړي. (یعنی په عدت کې کینی).

---

[1] - (ولا تخرج معتدة رجعی و بائن لو حرة مکلفة من بیتها اصلا لا لیلا ولا نهارا الخ قال فی الشامیة تحت قوله مکلفه اخرج الصغیرة والمجنونة . . . . . : لکن للزوج منع المجنونة و الکتابیة صیانة لمائة در مختار مع الشامی فصل فی الحداد ج ۲ ص ۸۵۳).

او په بل ځای کې فرمایي

و تغو سّد ر کم لا تخرجوهن من بیوتهن ولا یخرجن الا ان یاتین بفاحشه مبینة.

یعنی د خدای (جل جلاله). (د قانون له مخالفت کولونه). وویر یږی چې ستاسی رب دی. او نه تاسی په عدت کې ناستی ښځې له خپلو کورونونه وباسئ او نه دی پخپله له کوره ووځی. (طلاق پاره نمبر ۲۸).

د جاهلیت په زمانه کې به ښځو تر یو کال پورې پخپلو کورونو کې عدت تیراوه او ډیری ګنده ځامې به ئې اغوستلې. کله به چې کال پوره شو نو عدت به یې ختمیدو. اسلام صرف څلور میاشتی او لس ورځې مقرر کړی دی، محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

ځوک چې د قیامت په ورځ ایمان لري هغې لپاره حلاله نه ده چې په مړي باندې له دریو ورځونه زیات غم او سوګوکړی مګر د خاوند په مرګ څلور میاشتی لس ورځې سوګ کول ضروري دی. یعنی په زړو جامو کې دی و اوسي په سر دی تیل نه لګوي او خوشبو دی نه استعمالوي، سره اوسپین زر دی نه اغوندی، رانجه دی نه اچوی او نکریزی دی نه پورې کوي، زیب او زینت دی نه کوي او داسې حالت کې دی واوسي چې که د کوم سړی نظر پر هغه ولګیږی نو د هغې په طرف رغبت ونکړي.[1]

خو که چیرته د ناروغی له کبله په سر باندې تیل ولګوي یا په سترګو کې رانجه واچوي نو معافه ده. او که چیرته له ښځې سره د خوراک څښاک لپاره څه انتظام نه وي او نه هم ورسره ځوک کومک کوي نو مزدوزی لپاره د ورځې د باندې تللی شي لیکن شپه دی خامخا کورته راځی.

همدغه راز که چیرته د فصلونو د حفاظت لپاره ځوک نه وي او فصل ته د قوی نقصان رسیدو اندیښنه وي نو د ورځې په وخت د هغه د حفاظت لپاره له کورنه د باندې وتلی شي، د کوم ضرورت لپاره چې د وتلو اجازه ورکول شویده لدینه هغه ضرورت مراد

---

[1]-(تحد مکلفة مسلمة ولو امه منکوحة بنکاح صحیح و دخل بها بدلیل قوله اذا کانت معتدة بت او موت . . . . . بترك الزینة بحلی او حریر او امتشاط بضیق الاسنان و الطیب و ان لم یکن لها کسب الافیه والدهن ولو بلا طیب کزیت خالص والکحل والمز عفر الا بعذر در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۸٤۹).

دی چې له هغه نه پرته چاره نه وي. د طبیعت خواهش ته ضرورت ویل غلط دی او په عدت کې دننه د حج لپاره هم سفر نشي کولی.

المعتدة لا تسافر لا لحج و لا لغیره. (فتاوای عالمکیری ج ۲ ص ۱۶۲ الباب الراجع عشر فی الحداد). (هدایه اولین ج ۲ ص ۴۱۰).

که عزیز او اقارب یې ناروغ وي نو د هغوی د پوښتنې لپاره هم جائز نه دی، د سرکاري کارونو لپاره دی له وکیل سره مشوره وکړی شي. که کاغذونه دلته راوړل کیدی شي نو دلته دی راوغواړي. که چیرته د عدت عذر نه منل کیږي نو ډاکتری سند دی ورته ولیږل شي چې د سفر قابله نه ده. که بیا هم یو عذر هم د منلو وړ نه وي او د زیات نقصان رسیدو امکان وي نو سفر کولي شي مگر نقصان برداشت کول غوره دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د ممتدة الطهر عدت څومره دی؟

(۴۶۷ ـ سوال): **یوی ښځې ته حیض له کافی وخت نه وروسته راځی. د خاوند له طلاقولو نه دری میاشتی وروسته حیض یې راغی ایا د هغې عدت د دریو میاشتو په تیریدو پوره شوی دی او که دری حیضه ورته ضروري دي؟ مهربانی وکړئ ځواب راکړئ.**

(ځواب): **کومه جلۍ چې بالغه وي او هغه حامله هم نه وي نو د هغې عدت دری میاشتی دی همدغه راز د هغې ښځې عدت هم دری میاشتی دی چې د زیات عمر په وجه حیض یې نه راځی. په مذکوره صورت کې که د ښځې حیض راځي اگر چې په دریو میاشتو کې راځي نو هغه حائضه گڼل کیږی او ممتدة الطهر ورته ویلی شي د هغې عدت دری حیضه دی نه دری میاشتی لهذا د دریو حیضونو په راتلو سره د هغې عدت پوره کیږی.**

والعدة فی حق من لم تحض حرة ام ام ولد لصغربان تبلغ تسعا او کبرا بان بلغت سن الایاس او بلغت بالسن . و خرج بقوله لم تحض الشابة الممتدة بالطهربان حاضت ثم امتد طهر ها فتعتد بالحیض الی ان تبلغ سن الایاس جو هرة وغیره (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۸۲۸ باب العدة).

له خاوند نه دوه کاله جلا پاتې شوې ده ایا دغه موده په عدت کې شمارل کیږی او که نه ؟

(۴٦٨ ـ سوال):د یوی مشری او پخته سال جلی واده شوی ده، له خاوند سره پنځلس ورځې تیرولونه وروسته خپل پلار کره راغله، دوه کاله کیږی چې د خاوند خواته نه ده تللی اوس خاوند هغې ته طلاق ورکړی دی، د مهر او عدت خرچه یې هم ورته ورکړی ده ایا دغې ښځې لپاره عدت شته او که نه ؟ فی الحال هغه د پلار په کور کې نه اوسیږی له کوم سړی سره چې نکاح کول غواړی همغه کره اوسیږی مګر هغه سړی په بل ځای کې اوسیږی. ایا په دی کې څه ګناه شته او که نه ؟

(خواب):کله چې دا جلی له نکاح نه وروسته له خاوند سره پاتې شوی ده نو هغې لپاره عدت ضروري دی، دری حیضه به تیروی اوبیا به بل سړی سره واده کوي، د عدت له تیریدونه مخکې نکاح یې نه صحیح کیږی، که نکاح یې وکړ نو هغه او د هغې ملګری سخت ګنهګار دي، دا چې د خاوند کورئي د دوه کلو راهیسې پریښې دی په دی سره د هغې په عدت کې هیڅ فرق نه راځي، ښځه دی د مور اوپلار په کور کې او یا هم په داسې ځای کې عدت تیر کړي چې هلته د هغې په عزت او عصمت باندې تور ونه لګیږی، له کوم سړی سره چې واده کول غواړي د هغه په کور کې عدت تیرول له خطری نه خالی نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

له طلاق نه وروسته دری میاشتې تیرول اوبیا نکاح کول :

(۴٦٩ ـ سوال):کله چې ښځې ته طلاق ورکړی شی نو دلته دا خبره مشهوره ده چې ښځه د دریو میاشتو له تیرولونه وروسته دویمه نکاح کولی شي. ایا دا خبره صحیح ده ؟

(خواب):د ښځې چې څنګه حالت وي همغی به عدت یې هم وي، د ښځو حالتونه یو شانتې نه وي لهذا عدت یې یو شانتې نه دی، د ښځې څلور حالتونه دي او په همدې اعتبار سره د هغې دعدت موده ده.

(۱). د حاملې ښځې د عدت موده د ماشوم پیدا کیدو پورې دی، نه دری میاشتې.

(۲). د کومې ښځې چې حیض نه راځی د لږ عمر په وجه بالغه شوی وي خو حیض یې لا نه وي راغلی، نو د هغې عدت دری میاشتې دی.

(۳). د کومې ښځې حیض چې د زیات عمر په وجه بندی شوي وي او حیض یې نه راځی نو د هغې عدت هم دری میاشتې دی.

(۴) د کومې ښځې چې حیض راځی اګر که ممتده الطهر وي نـو د هغـې عـدت دری حیضه دی. په موطا امام محمد کې دي:

للحامل حتی تضع . والتی لم تبلغ الحیضة ثلثة اشهر . والتی قد یئست من الحیض ثلثة اشهر. والتی تحیض ثلث حیض . (موطا امام محمد ص ۲۱۰ باب المـــراة یطلقهـــا زوجها یملك الرجعة ... الخ).

له طلاقه شوی ښځې سره يې په عدت کې صحبت وکړ:

(۴۷۰ _ سوال):.یو سړی د پوهی باوجود چې ښځه پر ما حرامه شوی ده په عـدت کې ورسره صحبت وکړ، ایا په دی سره په عدت باندې څه اثر کیږی او که نه ؟ یعنـی عـدت به له سره شروع کوي او که نه ؟

(خواب):. په مذکوره صورت کې عدت له نوی سره نه شروع کیږی، مګر د دغه زنـا پـه وجه دواړه د شرعي سزا مستحق دي:

واما المطلقة ثلاثا اذا جا معها زوجها فی العدة مع علمه انها حرام علیه ومع اقـــراره بالحرمة لا تستانف العدة ولکن یرجم الزوج والمراة الخ (فتاوی عالمګیری ج ۲ ص ۱۲۱ الباب الثالث عشر فی العدة).

له زناء بلاریه شوی ښځې سره داسقاط نه وروسته وطی جائزه ده او که نه ؟

(۴۷۱ _ سوال):.کومه ښځه چې د زنا پـه وجـه حامله شـوي وي لـه هغـې سـره نکـاح صحیح ده، لیکن که له زانی نه علاوه بل سړی ورسره نکـاح کـړی وي نـو د حمـل تـر پیدا کیدو پورې له هغې سره وطی کول جائزه نه ده، لیکن که ښځې حمل وغورځاو نو بیا ورسره وطی جائزه ده او که نه ؟

(خواب):.کله چې په اسقاط سره رحم پاک شي او د حمل څه اثر پاتې نشي او وینه يـې هم ودریږی نو وطی ورسره جائزه ده، لیکن کله چې د ماشوم انـدام جـوړ شـي یعنـی خلور میاشتی وړباندې تیر شي او بیا قصداً وغورځوي نو داسي کول حـرام او ګنـاه ده. فقط والله اعلم بالصواب.

د مجبوریت په وجه په بل کلی کې عدت تیرول:

(۴۷۲ ـ سوال) زما پلار وفات شوی دی، په کور کې زما مـور یـواځې ده، کمـزوری او بوډۍ هم ده، د هغې خدمت کوونکې هم نشته، زه یوره عدت له هغې سره نشم پـاتی کیدلی ځکه چې زه بل ځای کې نوکر یم، که زما مـور لـه مـا سـره لاړه شـي او عـدت همغلته تیرکړی نو داسې کول ورته جائز دی او که نه ؟

(ځواب):د عدت مسٔله ډیره مهمه ده زمونږ په زمانه کې ډیر خلک د دی پروا نه کـوي. هسې معمولي معمولي خبرې بهانـه کـوي او د شـرعي قواعـدوخلاف کـوي. پـه مسٔوله صورت کې د کونډی کفیل یواځې د هغې زوی دی، اوهغه پخپلـه پـه بـل ځـای کـې اوسیږی. هغه کولي شي چې له همغه ځای نه د خپل مور کفالت وکړی او له هغې سره له خپل خپلوانو څخه څوک ورسره د هغې د خدمت لپاره پریږدی همدغه راز پـه کلـی کې د خدمتګارانو پیدا کیدل هم څه ګران کار نـه دی. کـه بیـا هـم څـوک د هغـې د خدمت لپاره پیدا نشي او هغه یواځې پاتی کیږی یا د هغـې عـزت او آبـرو تـه د نقصـان رسیدو ویره وي نو په بل کلی کې عدت تیرولی شي.

((وتعتد ان) ای معتدة طلاق و موت (فی بیت وجبت فیه) ولا یخرجان منه (الا ان تخرج او ینهدم المنـــزل او تخاف) انهدامه او (تلف مالها او لا تجد کراء البیت) و نحو ذلك من الضرورات فتخرج منه لا قرب موضع (در مختار) (قولـــه و نحـــو ذلك)منه ما فی الظهیر یه لو خافت باللیل من امر المیت والموت والا احد معها لهـــا التحول لو الخوف شدیداً والا فلا (در مختار و الشامی ج ۲ ص ۸۵٤ باب العدة).

د ممتدة الطهر د عدت تحقیق :

(۴۷۳ ـ سوال):یوه ښځه حامله وه خاوند ورته دری طلاقه ورکړی، د ماشوم زیږدلو لـه عدت نه وروسته له بل سړی سره نکاح وکړه، دویم خاوند هم هغې نـه طـلاق ورکـړ، د دغې ښځې تر یونیم کاله پورې حیض نه راځـی، اوس د دغـې ښځـې د عـدت د پـوره کیدو څه صورت دی؟ ایا دا ښځه د میاشتو په حساب عدت تیرولي شي ؟ بینوا توجرو.

(ځواب):په مسٔوله صورت کې د احنافو په نزد د حـیض عـدت تـیرول لازم دی. پـه در مختار کې دي:

و خرج بقوله لم تحض الشابة الممتدد بالطهر بان حاضت ثم امتد طهر ها فتعتد بالحيض الى ان تبلغ سن الا ياس جوهرة وغيرها (درمختار مع الشامي ج ۲ ص ۸۲۸، باب العدة) ص ٤١٥

والله اعلم (مولانا مفتی) کفایت الله رحمه الله. (کفایت المفتی ج ٦ ص ۳۸۳ ششم. کتاب الطلاق) فقط والله اعلم بالصواب ۲۸. جمادی الاول ۱۳۹۹ ه.

که چیرته دومره انتظار د عدت تیرولو لپاره ناقابل برداشت وي نو د حیض د اجرا لپاره علاج وکړی او که په دی کې ناکامه شي او په گناه کې د اخته کیدو قوي خطره وي نو د مالکي المذهب مفتی ښځه عدت بالاشهر د نهو میاشو د یو کال مودی فتوه دی حاصله کړی یا شرعي قومي جرگی باندې دی فیصله وکړی او د هغه په مطابق دی عمل وکړی. فقط والله اعلم بالصواب.

که د حیض له مودی نه لږه وینه راشي نو عدت پوره کیږی او که نه ؟

(۴۷۴ _ سوال): یوه طلاقه شوې ښځه چې د عدت په دوران کې په لومړی میاشت کې دری ورځې د حیض وینه راغله، په دویم میاشت کې دوه ورځې او په دریم میاشت کې یوه ورځ حیض یې راغی ایا د مذکوره ښځې عدت پوره شوه او که نه ؟ او که خوک په دی خیال سره چې د هغې عدت پوره شوی دی ورسره نکاح وکړی نو نکاح یې صحیح ده او که نه ؟ او که دغې ښځې ته ترخو میاشتو پورې مکمل دری ورځې حیض رانشي نو د دغې ښځې عدت کله پوره کیږی ؟ (له گودهرا خخه).

(خواب): د حیض لږه موده دری ورځې دری شپې ده، دا چې دوه ورځې حیض راغی بیا بند شو، بیا یوه ورځ راغی نو دا حیض نه بلکې استحاضه ده.[1]

لهذا ترخو پورې چې ښځې ته باقاعده دری ورځې حیض رانشي عدت یې نه ختمیږي او چې عدت ختم نشي نو نکاح ورسره هم نه صحیح کیږی، خو که ښځه اسسه وي نو

---

[1] - (و منها النصاب اقل الحيض ثلاثة ايام و ثلاث ليال فى ظاهر الرواية هكذا فى التبين فتاوى عالمگيرى البـــاب السادس فى الدماء الخ).

دري میاشتی وروسته نکاح ورسره صحیح ده.فقط والله اعلم بالصواب. ۱۴ شعبان ۱۳۹۹ ه.

که په دریو طلاقو طلاقه شوی ښځه د خپل خاوند په کور کې عدت تیر کړی ؟

(۴۷۵ ـ سوال):.یوه ښځه چې خاوند یې ورته پوره دری طلاقه ورکړی وي ایا هغه کولی شي چې له خپلو ماشومانو سره یو ځای د خاوند د کور په دویم منزل کې خپل عدت تیر کړی؟ د هلک پلار ضمانت ورکوي چې زه به خپل زوی له خپلې ښځې سره خبرو اترو او ناستی ولاړی ته نه پرېږدم، ښځه او خاوند له شرعي حلالی نه وروسته دواړه بیرته یو ځای کیدو ته هم چمتو دي، له دویم نکاح نه وروسته چې کوم طلاق ورکول کیږی د هغه عدت هم په همدغه کور کې د تیرولو اراده لري ایا داسې کول جائز دي ؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ.

(ځواب):. مغلظ طلاقه شوي ښځه دی خپل عدت په داسې ځای کې تیرکړي چیرته چې د هغه خاوند تګ راتګ و نه لري. یو کور چې په برنی چت کې اوسیدل د ښځې او د هغه مخکینی خاوند ترمنځ ملاقات او له یو بل سره خبرې اترو مخه نشي نیولي او په ګناه کې د اخته کیدو قوی امکان دی، په داسي حال کې چې دواړه له یو بل سره مینه هم لري که چیرته د کور مشران په دی خبرو قادر وي چې د دواړو تر منځ د یو ځای کیدو او خبرو اترو کلک مخه ونیسی نو بیا خیر دی. په در مختار کې دي:

(ولا بد من سترة بینهما فی البائن) لئلا یختلی بالاجنبیة و مفادة ان الحائل یمنع الخلوة المحرمة (وان ضاق المنـــزل او کان الزوج فاسقاً فخروجه اولی) لان مکثها واجب لا مکثه (وحسن ان یجعل القاضی بینهما امرءة ثقة قادرة علی الحیلولة بینهما) وفی المجتبی الافضل الحیلولة بستر . ولو فاسقا فبامرأة . قال و لهما ان یسکنا بعد الـــثلاث فی بیت واحد اذا لم یلتقیا التقاء الا زواج و لم یکن فیه خوف فتنه انتـــهی الخ (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۸۵۵ باب العدة فصـــل فی الحـــداد).فقـــط والله اعلـــم بالصواب. ۱۳ ربیع الاول ۱٤۰۰ه.

له ورک شوي میړه د مرافعی نه وروسته د نکـاح د فسـخ کولـو عدت ضروري دی او که نه ؟

(۴۷۶ _ سوال):: د یوی ښځې خاوند تقریباً لـه اتـو کلونـه ورک دې ښځـې پـه شـرعي عدالت کې استغاثه دائره کړه، قاضي په یو میاشت کـې اسـتغاثه قبولـه کـړه او د هغـې نکاح یې فسخنه کړه. د نکـاح د فسـخ کولـو تـاریخ ۹ ذی القعـده ۱۴۰۹ هـ دی.لدینـه وروسته د ذی‌الحجی ۱۴ تاریخ ۱۴۰۹ ه د دغې ښځې د نکاح لپاره خلک راغلل په دی وخت له مانه پوښتنه وشوه چې نکاح یې صحیح کیږی او که نه ؟ مـا ورتـه خـواب ورکـړ چې د حکم بالموت په صورت کې خلور میاشتی لس ورځې او د نکاح د فسخ په صـورت کې دری حیضه عدت تیرولونه وروسته نکاح کولی شي خو لدینه مخکـې نکـاح یـې نـه صحیح کیږی، له قیل او قال نه وروسته خلک واپس لاړل.
د هلک والاو له جملی څخه یو تن قاضی صاحب ته استفتا لپاره لاړ. قاضـی صـاحب یـو خط ولیکل چې دلته فتوه د امام مالک صاحب په قول باندې ورکول کیـږی، اتـه کالـه یې انتظار کړی دی نو ځکه دوباره خلور کاله تا جیل او عدت پوره کولو ضـرورت نشته، د دغې فتوی په لیدلو سره د دی ځای قاضی صاحب نکاح وتړ له، ما په دی وخت هـم د دی مخالفت وکړ خو زما خبره چا قبوله نکړه.
اوس سوال دا دی چې ایا له استغاثی نه وروسته خلورکاله تاجیل ضروري دی او که نـه ؟ همدغه راز د نکاح له فسخ کولو نه وروسته عدت تیرول ضروري دی او که نه ؟ ایا امام مالک رحمه الله علیه د خلور کاله تاجیل او عدت نه پرته د نکاح کولو فتوه ورکـړی ده ؟ امید دی چې خواب یې راکړئ.
(خواب):.مولانا اشرف علی تهانوی د مالکیه وله تحقیق نه وروسته کتاب الحیله والناجزه مرتب کړی دی په هغه کې هغه رحمه الله علیه لیکلی دي:
که چیرته د ښځې خاوند ورک شي او دا پتـه ونـه لګیـږی چـې مـړ دی او کـه ژونـدی، ښځې یې له نفقی او لباس نه تنګ راغلی وی، یا په عفت کې ژوند تـیرول ورتـه مشـکل وي، نو د داسې مجبوریت په صورت کې دی ښځـه خپـل عریضـه یـا مقدمـه د شـرعی عدالت قاضي ته وړاندې کړی. قاضي دی له پورې تحقیـق نـه وروسـته ښځـې تـه نـور خلور کاله د انتظار وخت ورکړی، خو که ښځه نـور خلـور کالـه انتظـار نشـي کـولی او ډیره تنګه وي، په ګناه او فتنه کې د اخته کیدو ویره وي نـو پـه داسـي صـورت کـې د

مالکي مذهب، په مطابق فقط د یو کال انتظار حکم ورکول کیدای شـي. کلـه چـې یـو کال انتظار وکړی نو لدینه وروسته که د هغې پر هغه خاوند د مړ کیدو فیصـله شـوي وي نو ښځه به د وفات عدت یعني څلور میاشتی او لس ورځې هم تیروي. او که د دواړو تـر منځ نکاح فسخ کړی وي نو په دی صورت کې دری حیضه عـدت بـه تـیروي او لدینـه وروسته له بل سړی سره نکاح کولی شي.

دا چې په مسئوله صورت کې قاضي صاحب له مرافعی نه وروسته صرف یه یو میاشت کـې نکاح قسخ کړی صحیح نه دی او په دی وخت کې چې له بل سـړی سـره نکـاح شـوي هغه هم صحیح نه دی. قاضي صاحب چې کومه دعوه کړی ده چـې دلتـه فتـوه دامـام مالک صاحب په مسلک ورکول کیږی، ښځې اته کالـه انتظـار کـړی دی او د نکـاح لـه فسخ نه وروسته د عدت ضرورت نشته، دا غلط ده او د امام مالک له مسلک نه خـلاف ده. لهذا د قاضي صاحب فتوه د منلو وړ نه ده تا چې کوم ځواب ورکړی دی همغـه صـحیح دی. فقط والله اعلم بالصواب.

(۱). ایا د نامرد سړی له طرف نه په طلاقه شوي ښځه عدت لازم دی ؟

(۲). په عدت کې له کومو څیزونو څخه ځان ساتل پکاردي ؟

(۴۷۷ _ سوال).:زما لور یو کس ته واده شوه، مګر د هغې خاوند نـامرد دی، لـه جلـی سره یې دوهکاله تیر کړی دي خو صحبت یې ورسره نه دی کړی، د هغـې خاونـد زمـا لور ته دری طلاقه ورکړی دي ایا زما لور لپاره عدت تـیرول شـته او کـه نـه ؟ کـه عـدت تیرول ورباندې ضروري وي نو د عدت موده څومره ده ؟ عدت څنګه تیرول پکـار دي ؟ په دی باره کې د شریعت په رڼاکې معلومات راکړئ .

(ځواب).:که چیرته د ښځې او خاوند ترمنځ خلوت وشي یعنی په یو داسـې ځـای کـې سره یو ځای شي چې صحبت کولو په وړاندې هیڅ قسم ممانعت نه وي موجود، نو پـه داسې خلوت سره د ټول مهر ورکول لازمیږی، او د طـلاق پـه صـورت کـې عـدت هـم ورباندې لازمی دی، اګر چې که حقیقتاً د دواړو صـحبت نـه وي شـوي، څکـه چـې د نامرد خلوت هم معتبر دی.په هدایه اولین کې دي:

و اذا خلا الرجل بامراته ولیس هناك مانع من الوطی ثم طلقها فلها کمال المهر . الی قوله . و علیها العدة فی جمیع المسائل (هدایه اولـین ص ۳۰۵ ، ص ۳۰۲ بـــاب المهر).

په مسئوله صورت کې ښځه او خاوند دو کاله يو ځاى اوسيدلى دى ځامخا د دوارو ترمنځ خلوت شوي دى. دا چې اوس خاوند يې ورته طلاق ورکړى دى نو پر ښځه عدت لازم دى که ښځې ته حيض راځي نو د هغې عدت د طلاق له ورځې نه مکمل د دريو حيضونو په راتلو سره پوره کيږي. په قران کريم کې دي:

والمطلقت يتربصن ... قروء (بقره پاره ۲).

د عدت په ورځو کې دى ښځه له شرعى عذر نه پرته له ځپل کور نه نه اوځي. په عالمگيرى کې دي:

ان كانت معتدة من نكاح صحيح وهى حرة مطلقة بالغة عاقلة مسلمة والحالة حالة الاختيار فانها لا تخرج ليلا ولا نهار اسواء كان الاطلاق ثلاثا او بائناً او رجعياً كذا فى البدائع (عالمگرى ص ٥٣٤ فصل فى الحداد).

همدغه راز د عدت په زمانه کې دى له بل چا سره نکاح هم ونکړى. په قران کريم کې دي:

ولا تعزموا عقدة النكاح .... الكتاب اجله

په عدت کې ناسته ښځه بايد زيب او زينت هم ونکړى. ښکلى جامې دى نه اچوى، خوشبو دى نه استعمالوي، په سر کې دى تيل نه لګوي، رانجه دى نه پورې کوي، نکريزى دى نه پورې کوي. وېښتان دى نه جوړ وى البته که په سر کې درد وي نو تيل لګولى شي او د سترګو د مرض لپاره رانجه هم پورې کولى شي. په فتاواى عالمگيري کې دي:

على المبتوته والمتوفى عنها زوجها اذا كانت بالغة مسلمة الحداد فى عــدتها كــذا فى الكافى والحداد الا جتناب عن الطيب والدهن والكحل والحناء والخضــاب ولــبس المطيب والمعصفر والثواب الا حمرو ما صبغ بز عفران الا اذا كان غسيلاً لا يــنقض ولبس القصب والخزو الحرير ولبس الحلى والتزين والا متشاط كذا فى التاتار خانيه . . . . وانما يلزمها لا جتناب فى حالة الاختيار اما فى حالة الاضطرار فلا باس بهــا ان اشتكت راسها و عينها فصبت عليها الذهن او اكتحلت لاجل المعالجة فلا باس بــه

كذا في المحيط. (عالمگیری ص ۱۲۱ ج ۲ ، کتاب الطلاق ، الباب الرابع عشـــر في الحداد).

د غیر مقلدینو په فتوی عمل وکړه او په دریو طلاقو سره طلاقه شوی ښځه یې بیا کورته راوستله کله چې خبر کړی شو چې د هغوی فتوه غلطـه ده نـو بیرتـه یـې خپل پلار کره ولیږله، په دی صورت کې د عدت څه حکم دی ؟

(۴۷۸ ـ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی، ښځه یې خپـل پـلار کـره لاړه، لس ورځې وروسته د هغې خاوند له غیر مقلد عالــم نـه فتـوه راوړل او ښځـه یـې بیرته له ځانه سره یوړ حال دا چې د ښځې مور او پلار په دی رضا نه وو. مګر ښځـه یـې له خاوند سره لاړه او دواړه یو ځای اوسیدل، په دغه وخت کې د دواړو تـرمنځ صـحبت هم وشو، تقریباً پنځلس ورځې وروسته خلکو ښځه او خاوند دواړه پوه کـړل چـې د غیـر مقلدینو فتوه غلطه ده او ستاسی دا کار صحیح نه دی. دواړه یو ځل بیا سره جدا شـول او ښځه خپل پلار کره لاړه، اوس سوال دا دی چې د دغې ښځـې عـدت بـه لـه کـوم وخت نه شروع کیږی، د طلاق له وخت نه او که د مفارقت له وخت نه ؟ او کـه لـه بـل چاسره واده کول وغواړي نو کله کولی شي ؟

(ځواب): د دغې ښځې عدت خو په حقیقت کې د طلاق له وخت نـه شـروع شـوي و، لیکن د غیر مقلدینو په فتوه دا فکر یې کړی دی چې ښځه زما لپـاره حلالـه ده او زه لـه هغې سره ازدواجی ژوند تیرولی شم او په همدې وجه یې خپله ښځـه کورتـه راوسـته او دواړه یو ځای واوسیدل، بیا د خلکو له پوهولو نه وروسته بیرتـه سـره جـدا شـول نـو د عدت په باره کې دیته وطی بالشبه ویل کیږی (که څه هم پـه حقیقـت کـه زنـا نـه ده). نوله مفارقت نه وروسته مستقل عدت لازمیږی البته په دواړو عدتنو کـې تـداخل راځـی، له مفارقت نه وروسته چې کوم حیض راشي د هغه شـمار پـه دواړو عـدتونو کـې کیږی. مثلاً که له وطی بالشبه څخه مخکې یو حیض راغلی وي نـو لـه مفارقـت نـه وروسـته بـه دری حیضه هم تیروي او که ښځه حامله شي نـو د ماشـوم پـه پیـدا کیـدو سـره دواړه عدتونو پوره کیږی او که خاوند په دی خبره ښه پوه وي چې له طلاق نه وروسـته ښځـه بالکل حرامیږی مګر د نفسانی خواهشاتو نه د مغلوبیدو په وجه خپلـه ښځـه بیرتـه خپـل کورته راوسته او هسی خلکو ته ښودلو لپـاره د غیـر مقلـدینو فتـوه واخسـتله نـو پـه دی صورت کې د عدت په زمانه کې چې کوم صحبت له ښځې سره کړی دی د هغه پـه زنـا

کیدو کې هیڅ شک نشته او په دی سره په عدت باندې هیڅ اثر نـه پـری اوخـی او بـل عدت ورباندې نه لازمیږی. په در مختار کې دي :

(و اذا وطئیت المعتدة بشبهة) ولو من المطلق (وجبت عدة اخرى) لتجدد السبب (و تداخلتا والمرئی) من الحیض (منها و) علیها ان (تتم) العدة (الثانیة) ان تمت الاولی وکذالو بالاشهر . . . . . ولو حبلت فعدتها وضع الحمل الا معتدة الو فـــاة فلا تتغیر بالحمل کما مر وصححه ، البدائع (در مختار).

په شامی کې دي:

(قوله بشبهة) متعلق بقوله وطئت و ذلك کالمو طوئه للزوج فی العدة بعد الـــثلاث بنکاح و کذا بدونه اذا قال ظننت انها تحل لی او بعد ما اباها بالفاظ الکنایة و تمامـــة فی الفتح و مفادة انه لو وطئها بعد الثلاث فی العدة بلا نکاح عالماً بحر متها لا تجـــب عدة اخری لا نه زنا وفی البزازیة طلقها ثلاثا و وطئها فی العدة فی العلم بالحرمـــه لا تستانف العدة بثلاث حیض ویرجمان اذا علما بالحرمة و وجه شرائط الاحصان ولو کان منکر اطلاقها لا تنقضی العدة ولو ادعی الشبهه تستقبل . . . . . الخ (در مختار و شامی ص ۸۳۷ ، ص ۸۳۸ ج ۲ باب العدة) (فتح القدیر مع العنایـــة ج ٤ ص ۳۱۱ باب العدة).

په بهشتی زیور کې دي:

مسٔله:یو سړی خپلې ښځې ته دری بائن طلاق ورکړل بیا په عدت کې د ننه په دوکه کې له هغې سره صحبت وکړ نو د دغه صحبت په وجه بو عدت بـل هـم واجـب شـو، اوس دی دری حیضه نور هم پوره کړی، کله چې دری حیضـه تـیر کـړی نـو دواړه عدتونـه ختمیږی. (بهشتی زیور ص ۸۴).(فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ج ۱۰ ص ۳۴۶).

(سوال).:په دریو طلاقو سره طلاقه شوی ښځې سره د عدت په ورځو کـې صحبت وکـړ په داسې حال کې چې هغه په دې پوهیدو چې ښځه پر مـا حرامـه ده، نـو ایـا پـه دی صورت په عدت باندې اثر پری اوځی او که نه ؟ یعنی عدت له سر نه بیا شروع کیږی او که نه ؟

(خواب): په مسئوله صورت کې عدت له سرنه نه شروع کیږی مګر د دغه زنا په وجه دواره د شرعي سزا مستحق دي.

والمطلقة ثلاثا اذا جامعها زوجها في العدة مع علمه انها حرام عليه ومع اقراره بالحرمة لا تستانف العدة ولكن يرجم الزوج والمرأة... الخ (فتاوای عالمګیری ج ۲ ص ۱۶۱ _ فتاوای رحیمیه ص ۴۰۲، ۴۰۳ پنځم جلد د حدید ترتیب په مطابق په همدې باب کې ولولئ.

(۱). د وفات عدت له کوم وخت نه شروع کیږی او څومره وخت به وي ؟

(۲). عدت به د سپوږمی په حساب سره تیروي او که د ورځو په حساب

(۳). د عدت په وخت کې له غیر محرم سره خبره کول.

(۴). په عدت کې له اسمان نه پرده کول.

(۴۷۹ _ سوال): (۱). کله چې د یوی ښځې خاوند مړ شي نو عدت یې له کوم وخت نه شروع کیږی؟ د عدت څو ورځې دي ؟ عدت د سپوږمی په حساب سره دی او که د ورځو په حساب سره؟

(۲). ایا د کور په یوه مخصوصه کوټه کې عدت تیرول ضروري دی ؟ نورو کوټو ته تللی شي او که نه ؟

(۳). له غیر محرم سره د عدت په وخت کې خبرې اترې کولي شي او که نه ؟

(۴). په ښځوکې دا خبره مشهوره ده چې له اسمان نه هم پرده کول ضروري ده. ایا دا شرعی حکم دی ؟ بینوا تواجروا.

(ځواب). (۱). له کوم وخت نه چې خاوند یې مړ شي له همغه وخت نه د هغه د ښځې عدت شروع کیږی، که حمل یې نه وي پاتی نو د هغې عدت څلور میاشتی او لس ورځې وی او که حامله وي نو د ماشوم پیدا کیدو سره عدت یې پوره کیږی. برابره خبره ده چې کله هم ماشوم یې پیدا شي .په قران کریم کې دي :

والذين يتوفون ....و عشراً.

او کوم خلک چې له تاسونه مړه شي او ښځې شاته پریږدي نو دهغوی ښځې دی خپل خانونه (له نکاح او نورو څخه). څلور میاشتی او لس ورځې وساتی. (بقره ایت ۲۳۴).

همدغه راز په ایت شریف کې دي :

واولات الاحمال ...... حملهن.

او د حاملو ښځو عدت دهغوی ماشوم ترپیدا کیدو پورې ده. (سوره دطلاق ایت ۴).
که اتفاقاً د خاوند وفات د سپوږمی په لومړی تاریخ شوي وي او ښځه یې حامله نه ده نو د سپوږمی په حساب سره دی څلور میاشتی او لس ورځې عدت تیرکړی. خو که په لومړی تاریخ نه وي مړ شوي نو د هری میاشتی دیرش ورځې په حساب سره څلور میاشتی او لس ورځې دی پوره کړی، یعنی ۱۲۰ ورځې دی پوره کړی. په در مختار کې دي:

بالا هله لو فی الغرة والا فبالایام بحر.

په شامي کې دي:

(قوله والا فبالایام) فی المحیط اذا اتفق عدة الطلاق والموت فی غرة الشهر اعتبرت الشهور بالا هله وان نقصت عن العددوان اتفق فی وسط الشهر فعند الامام یعتبر بالایام فتعتد فی الطلاق بتسعین یوماً و فی الوفاة بمائه و ثلاثین الخ (در مختار و شامی ص ۸۲۹ ج ۲ ، باب العدة (بهشتی زیور ص ۸۵ چوتها حصه .موت کی عدت کا بیان

(۲). د ضرورت په وخت کې د کور نورو کوټوته تللی شی. فقط

(۳). که له غیر محرم سره خبرې کول ضروري وي نو په پرده کې د حاجت په اندازه خبرې کولي شی دا دی په یاد وي چې دا حکم صرف د عدت زمانی لپاره نه دی، بلکې هر وخت باید له غیر محرم سره له بی ضرورته خبرونه ډډه وکړی شي.

(۴). دا کوم شرعی حکم نه دی.فقط والله اعلم با لصواب

د عدت په حالت کې په شفاخانه کې د ښځې داخلول:

(۴۸۰). یوه ښځه د عدت شپې ورځې تیروی، ناڅاپی ناروغه شوه ایا هغه د خپل علاج لپاره شفاخانی ته تللی شی او که نه ؟ همدغه راز که ناروغی یې سخته شی په شفاخانه کې داخلیدلی شی او که نه ؟

(خواب).:داکتر دی علاج لپاره کورته راوستی شی، خو که چیرته حالت یې زیات خراب وي او یو مسلمان ډاکتر په شفاخانه کې د داخلولو مشوره ورکړی نو بیا څه حرج پکې نشته، خو له ضرورت نه زیات دی له کورنه باندې و نه اوسي. (۱). فقط والله اعلم بالصواب.

[1] ((واماالخروج للضروره فلا فرق...ص ۴۲۳

ایا د عدت په وخت کې زوم لـه خپلې خـوانبې سـره خبرې کولي شي، او که نه ؟

(۴۸۱ ـ سوال): ایا د عدت په ورځو کې زوم له خپلې خواښې سره خبرې اتـرې کـولي شي او که نه ؟ بینوا توجرو.

(ځواب): خواښې د زوم لپاره دائمي محرمه ده ځکه ورسره خبرې اترې کـولي شـي د کور نورو خلکو په وړاندې دې خبرې وکړي خو یواځې دې ورسره خلوت نـه کـوي پـه همدې کې احتیاط دی. فقط والله اعلم بالصواب.

د خاوند له مړ کیدو نه وروسته ښځه یې د هغه له مړي سره بـل ځای ته لاړه اوس هغه دې عدت چیرته تیر کړي ؟

(۴۸۲ ـ سوال): یو سړی په بمبئ کې د ملازمت په غرض له خپل کورنۍ سره اوسـیدو دا د هغه اصل وطن نه دی. دی هلته مړشو، په کوم وخت کې چې هغه مړشو نو ښځـه یې هم ورسره وه کله چې د هغه جنازه خپل اصلي ښارته چـې ۱۹۰ کیلـومیتر لـرې دی راوست او هلته یې دفن کړ نو ښځه یې هم ورسره راغلې وه، اوس سـوال دا دی چـې دا ښځه خپل عدت میاشتې چیرته تیر کړي په بمبئ کې او که پخپل اصلي ځـای کـې ؟ د هغې ټول خپلوان په اصلي کلي کې اوسیږي. بینوا توجرو..

(ځواب): له مړ کیدو نه مخکې چې ښځه په کوم کورکې اوسیدله په همغه کـورکې دې عدت تیر کړي، خو که کوم شرعي عذر ولري نو یو مناسب ځای ته تللی شـي او هلتـه خپل عدت تیرولی شي. په درمختار کې دي:

(وتعتدان) ای متعدة طلاق و موت(فی بیت وجبت فیه) (درمختار.)

په شامي کې دي:

(قوله فی بیت وجبت فیه) هو ما یضاف الیها بالسکنی قبل الفرقة و لو غـــیر بیـــت الزوج کما مرنفاً.(در مختار و ردالمختار ص ٨٥٤ ج ٢ باب العدة).

ښه کار خو دا و چې مرحوم یې په بمبئ کې دفـن کـړی وای او د اصـولو پـه مطـابق د هغه کونډې همغلته خپل عدت تیر کـړی وای، مګـر پـه مسئوله صـورت کـې د مرحـوم کونډه د هغه له جنازې سره خپل اصلي ځای ته راغلې ده او هلته د هغه خپل خپلـوان

هم اوسیږی لهذا دوباره بمبئ ته د تللو ضرورت نشته همغلته پخپل اصلی کلـي کـې دی عدت تیرکړی، په عدت کې دی له سفر کولونه ډډه وکړی شی. په شامی کې دي
و حکم ما انتقلت الیه حکم المسکن الاصلی فلا تخرج منه. (شامی ج۲ ص ۸۵٤ باب العدة). فقط والله اعلم بالصواب.

ښځه او خاوند تر ځلور کلو پورې جدا جدا اوسیدلی دي، لدینه وروسته یې طلاق ورکړ نو عدت وربانديې لازم دی او که نه ؟

(۴۸۳ ـ سوال): خاوند له نکاح نه وروسته له خپلې ښځې سره تـر دریـو کلـو پـورې یـو ځای اوسیدلی و. بیا د دواړو ترمنځ لانجه پیدا شـوه، د ځلـورو کلـو راهیسـې ښځـه د خپل پلار په کور کې وه اوله یو بل سره یې بالکـل نـه دي کتلـی، دوه ورځـې مخکـې خاوند ورته طلاق ورکړ، ایا د هغه پر ښځه عـدت لازم ده او کـه نـه ؟ د عـدت خـومره خرڅه به ورکوي ؟ امید دی په تفصیل سره ځواب راکړئ.

(ځواب): څرنګه چې ښځه او خاوند دواړه یو ځای اوسیدلی دی او له دی نه وروسـته ورته طلاق ورکړی دی نو له طلاق نه وروسته پر ښځه عـدت لازمیـږی، د عـدت لـزوم د نکاح له ختمیدونه وروسته کیږی، که ښځه او خاوند څومره له یو بل نه جـدا اوسـیدلی وي. کوم وخت چې خاوند ورته طلاق ورکړی یا هم مړ شی په همغـه وخـت نکـاح یـې زائلیږی او لدینه وروسته ښځې ته مطلقه یا کونډه ویلی شي، لهذا د جداتوب زمانه نه په عدت کې حسابیږی او نه هم د هغې په عدت اثر اچولی شي.
په در مختار کې دي :

هی (ای العدة) تربص یلزم المرءة .... عند زوال النکـــاح او شـــبهتة ...... (و سبب وجوبها) عقد (النکاح المؤکد بالتسلیم وما جری مجراة) من موت او خلوة ..... و شرطها الفرقة (در مختار علی هامش رد المختار ص ۸۲۵ ج ۲ باب العدة.

چون په مذکوره مسٔله کې ښځه او خاوند دواړه دری کاله یـو ځـای اوسـیدلی دی مګـر اخري ځلور کاله له یو بل نه جدا شوي دي مګر طلاق یې اوس ورکړی دی نو له طـلاق نه وروسته عدت وربانديې لازم دی، د دریو حیضونو په راتلو سره یې عدت پـوره کیـږی او پر خاوند بانديې دهغې د عدت خرڅه ورکول ضروري ده، د خرڅې مقدار او انـدازه نه ده معلوم بلکې د دواړو مالي حالت به نظر کې نیول کیږی او بیا بـه د نفقـی انـدازه

معلومولي شي، که چیرته یو مالدار او بل غریب وي نـو د مفتـی پـه قـول پـه مطـابق د اوسطی درجې نفقه د هغې په خاوند لازم ده. په درمختار کې دي:

(بقدر حالهما) به یفتی

په ردالمختار کې دي:

(قوله به یفتی) کذافی الهداية و هو قول الخصاف ، وفی الو لو الجية وهو الصحيح و عليه الفتوی و ظاهر الرواية اعتبار حاله فقط و به قال جمع كثير من المشائخ و نـــص عليه محمد و فی التحفة والبدائع انه الصحيح بحر ، لكن المتون والشروح على الاول . . . . قال فی البحر واتفقوا على وجوب نفقة الموسرين اذا كانا موسرين و علـــى نفقه المعسر اذا كانا معسرين وانما الاختلاف فيما اذا كان احدهما موســـراً والاخـــر معسراً فعلی ظاهر الرواية الاعتبار لحال الرجل فان كان موسراً و هی معسرة فعليـــه نفقة الموسرين و فی عكسة نفقة المعسرين ،و اما على المفتى به فتجب نفقة الوسط فی المسئلتين وهو فوق نفقه المعسرة ودون نفقة الموسرة اه (رد المختار ص ٢٨٨ ج ٢ ، باب النفقة). فقط والله اعلم بالصواب.

یوه طلاقه شوی ښځه د عدت په وخت له زنا نه بلاربه شوه نو د هغې عـدت کلـه پـوره کیږی ؟

ایا زانی د ماشوم له پیدا کیدونه مخکې ورسره نکاح کولی شي او که نه ؟

(۴۸۴ ـ سوال): یوه ښځه د طلاق په عدت کې وه، هغې د عدت په وخت کـې لـه یـو واده والا سړی سره زنا وکړه اوبلاربه شوه، اوس سوال دا دی چې د هغې عدت به کله پوره کیږی ؟ که زانی له دغې ښځې سره نکاح کول وغواړی نو نکاح ورسره کولی شـي او که نه ؟

(ځواب): په مسئوله صورت کې به عدت ناستی ښځې چې زنا کـړی او حاملـه شـوی ده نو دا ډیره سخته گناه ده، پر ښځه او سړی باندې د زړه له تل نـه توبـه او اسـتغفار لازم دی. که اسلامي حکومت وای او گواهانو له لاری زنـا وربانـدې ثابتـه شـوی وای نـو دواړه به سنگساره شوی وو. اوس د هغه عدت د ماشوم لـه پیـدا کیدونـه وروسته بشپړه

کیږی، د ماشوم له پیدا کیدونه مخکې زانی ورسره نکاح نشي کولی ځکه چې ښځه په عدت کې ده. په شامی کې دي:

اذا حبلت المعتدة و ولدت تنقضی به العدة سواء کان من المطلق او من زنا . . . . . الی قوله ، واعلم ان المعتدة لو حملت فی عدتها ذکرة الکرخی ان عدتها وضع الحمل ولم یفصل والذی ذکره محمد ان هذا فی عدة الطلاق اما فی عدة الوفاة فلا تتغیر بالحمل وهو الصحیح کذا فی البدائع (شامی ص ۸۳۱ ج ۲ . باب العدة).

په فتاوای ارالعلوم کې دي:

(۱۱۴۵ _ سوال):د طلاقه شوي ښځې یو حیض راغی، بیا د زنا په وجه حمل یې پاتی شو اوس زانی له دغې ښځې سره نکاح کول غواړی، کله ورسره نکاح وکړی ؟

(خواب):د ماشوم له پیدا کیدونه وروسته ورسره نکاح کولی شي، نه مخکې ځکه چې د ماشوم زیږول د هغې عدت دی.

کما فی رد المحتار للشامی و مثله ، مالو کان الحمل فی العدة ... الخ و فی الحاوی اذا حبلت المعتدة ، معتدة الطلاق و ولدت تنقضی به العدة الخ فالمراد بقوله اذا حبلت المعتدة معتدة الطلاق بقرینة ما بعده الخ(فتاوی دارالعلوم مدلل ومکمل ص۳۵۱ ج ۱۰)

فی رد المختار عن الحاوی الزاهدی اذا حبلت المعتدة و ولدت تنقضی به العدة سواء کان من المطلق او من زنا.

که په عدت کې طلاق ورکړی شی نو دهغې عدت کله پوره کیږی ؟

(۴۸۵ _ سوال):یو سړی خپلې ښځې ته د جولائی په اتم تاریخ یو طلاق ورکړ، بیا لدینه وروسته د اګست په یولسم تاریخ دوه طلاقه ورکړی، په مذکوره صورت کې څومره طلاقه شوي دي او عدت یې کله پوره کیږی ؟

(خواب): پر ښځې دری طلاقه واقع شوي دي او ښځه په مغلظ طلاق طلاقه شوی ده او پر خاوند همیشه لپاره حرامه ده. اوس له شرعی حلالی نه بغیر د خپل خاوند لـه پـاره نشي حلالیدلی، د دغې ښځې عدت له لومړی طلاقه وروسته فوراً شروع شوی دی، د

لومړی طلاق نه وروسته د مکمل دری حیضونو په راتلو سره یې عدت پوره کیږی (بدائع الصنائع، جلد ۴ ص ۹۱ فصل بیان مقادیر العده و ما تنقضـی بـه فتح القـدیر ص ۳٦۷ ج۳). فقط والله اعلم بالصواب

په مغلظ طلاقو طلاقه شوی ښځې باندې سوګ شته ؟

(۴۸٦ ـ سوال): ایا په دریو طلاقو سره طلاقه شوی ښځې باندې د عدت په زمانه کې د خپل خاوند په مرګ غم او خفګان کول شته او که نه ؟ که وي نو له کومو ځیزونو ځخه دې خپل ځان وساتی. مدلل ځواب راکړئ.

(ځواب): هو په داسې ښځې باندې د عدت په زمانـه کې سوګ ضروري دی زیب او زینت دی نه کوي، خوشبو دی نه استعمالوي، کاجل، رانجه، تکریزی او نـور د ډول ځیژونه دی نه استعمالوي. په ویښتانو کې دی تیل نه لګوي خو که په سر یې درد وي نو دوا په خاطر لګولې شي البته داسې تیل دې ولګوي چې خوشبوی ونلري. په هدایه کې دي:

على المبتوتة والمتوفى عنها زوجها اذا كانت بالغة مسلمة الحداد . الى . والحـداد ان تترك الطيب والزينة والكحل والدهن المطيب و غير المطيب الا من عذر فى الجـامع الصغير الا من وجع . الى . ولا تختضب بالحناء ولا تلبس ثوبا مصبوغاً بعصفر ولا بز عفران لا نه يفوح منه رائحة الطيب (هدايه اولين ص ٤٠٧ ، ص ٤٠٨ فصـل فى الحداد).

مور د عدت په زمانه کې د خپـل زوی پـه نکـاح کـې ځنګـه شرکت وکړی ؟

(۴۸۷ ـ سوال): د یوی ښځې خاوند، مړ شو، هغه د وفات عـدت تیروي، هغـه غـواړي چې په دغو ورځو کې خپل زوی نکاح وکړی، ایا هغه په عدت کې خپل زوی ته نکـاح کولی شي او که نه؟ خومره میاشتو پورې سوګ‌کول پکار دی ؟

(ځواب): مور کولی شي چې د عدت پـه ورځـو کـې د خپـل زوی نکـاح لپاره مشـوره ورکړی خو د نکاح او واده په خوشالۍ کې دی له شـرکت نـه ډډه وکـړی. د عـدت پـه ورځو کې چې کوم ساده لباس یـې اغوسـتی همغـه دی واغونـدی ښـه لبـاس دی نـه

اچوی. زیب او زینت دی نه کوي. له کورنه دی باندې نه اوځي. ترڅو پورې چې د عدت میاشتې نه وي ختمې شوي سوګورباندې ضروري دی.فقط والله اعلم بالصواب.

د حسن طلاق په مطابق یې طلاق ورکړی دی، په دی کې د ښځې عدت کله پوره کیږی ؟

(۴۸۸ _ سوال):که یو سړی خپلې ښځې د حسن طلاق په مطابق طلاق ورکړی یعنی په دریو طهرونو کې چې صحبت یې ورسره نه وي کړی. نو د هغې عدت کله پوره کیږی ؟ له لومړی طلاق نه وروسته دری حیضه دهغې عدت دی یا له دویم طلاق نه وروسته دری حیضه دهغې عدت دی؟

کفایت المفتي شپږم جلد له ځواب نه معلومیږی چې دهغې عدت له دریم طلاق نه وروسته د دریو حیضونو په راتلو سره پوره کیږی، تاسې مهربانی وکړی د دلائلو په رڼاکې ځواب راکړئ .

(ځواب):په مسُوله صورت کې دغه سړی د حسن طلاق په مطابق دری طلاقه ورکړی دي او له هر یو طلاق نه وروسته ورته رجوع نه ده کړی نو عدت د لومړی طلاق نه وروسته شروع کیږی او د دریو حیضونو له راتلو نه وروسته یې عدت پوره کیږی.د کفایت المفتی په ځواب کې له مفتی صاحب نه تسامح شوی دی.

په بدائع الصنائع کې دي :

ثم اذا وقع علیها ثلاث تطلیقات فی ثلاثة اطهار فقد مضی من عدتها حیضتان ان کانت حره لان العدة بالحیض عند ناو بقیت حیضة واحدة فاذا حاضت حیضة اخری فقد انقضت عدتها. . . . . و ان کانت من ذوات الاشهر طلقها واحدة رجعیة و اذا مضی شهر طلقها اخری ثم اذا مضی شهر طلقها ثم اذا کانت حره فوقع علیها ثلاث و مضی من عدتها شهر ان و بقی شهر واحد من عدتها فاذا مضی شهر اخر فقد انقضت عدتها الخ (بدائع الصنائع ج ۳ ص ۹۱ فصل فی بیان مقادیر العدة... الخ).

په فتح القدیر کې دي:

ثم اذا او قع الثلاثة فی ثلاثة اطهار فقد مضت من عدتها حیضتان ان كانت حرة فاذا حاضت حیضة انقضت الخ فتح القدیر.ج ۳ ص ٤٦٧ ، ٤٦٨ باب طلاق الثلثـــة .

فقط والله اعلم بالصواب.

په دریو طلاقو سره طلاقه شوی ښځه عدت چیرته تیرکړی ؟

(۴۸۹ ـ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته دری طلاقه یـو ځـای ورکـړی دي اوس دغـه ښځه خپل عدت چیرته تیر کړی او د هغې نان نفقه څومره وخت پورې د خاوند پـه سر ده او څومره به ورکوی ؟ د خاوند په کور کې ټول څلور کوټی دي، په برنی چـت کـې هم دوه کوټی شته، په دی کور کې ټول لس کسان اوسیږی چې د خسر او خـوابنی نـه علاوه د خاوند ورونه او خویندی هم اوسیږی.

(ځواب): دغه ښځه چې دری واړه طلاقه په یو ځـای ورتـه ورکـړی دي پخپـل خاونـد باندې بالکل حرامه ده، لهذاهغې ته پکار دي چې خپل عدت په داسې ځای تـیر کـړی چې هلته د هغه خاوند تګ او راتګ نه کوي. په مسئوله صـورت کـې لـه لانـدی او بـره منزل کې په اوسیدو کې ملاقات او د خبرو اترو کولو لوی امکان دی، او په ګناه کـې د اخته کیدو قوي ویره ده، همدغه راز د خاوند له ورور سره هم د خبـرو اتـرو او ملاقـات قوي امکان دی، لهذا ښځې ته پکار دي چې خپل عـدت د خپـل پـلار پـه کـورکې تـیر کړي.[1]

د عدت په زمانی نفقه د هغې پر خاوند ده، د نفقی مقدار معلوم نه دی، د دواړو مـالي حالت په نظر کې نیولو سره مقررولي شي.(درمختار، شامي ۲\۸۸۸ باب النفقه).

که ښځې ته حیض راځی نو ذ هغې د عدت موده دری حیضه ده او کـه حمـل یـې وي نو د حمل له پیدا کیدو نه وروسته یې عدت پوره کیږی.فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ((ولا بد من ستره بینهما فی البائن لئلا یختلی بالاجنیة و مفاده ان الحائل یمنع الخلـــوة المحرمـــة و ان ضـــاق المنـــزل او كان الزوج فاسقا فخروجه اولی لان مكثها واجب لامكثه در مختار مع الشامی فصل فی الحدا ج . ۲ ص ۸۵۵).

په عدت کې ناستی ښځې ته بل ملک ته سفر کول :

(۴۹۱ _ سوال):: زه له خپلو اولادونو سره په امریکا کې اوسیږم، زما خاوند د هندوستان په راندیرکې اوسیدو، هغه ناروغ و، ځکه زه راندیر ته راغلم، هغه د الله په حکم د فبروری په ۲۵ تاریخ وفات ش، زما د خاوند دلته هم کور شته، زه پخپله هم په راندیرکې کور لرم، فی‌الحال زه پخپل کور کې اوسیږم، د امریکا یې قانون په مطابق هلته زما تلل ضروري دي که چیرته زه په دغو ورځو کې هلته لاړه شم نو ماته د هغه خای شهریت (تابعیت) را کول کیږی، ایا په داسي حالت کې زه امریکا ته سفر کولي شم او که نه ؟ مهربانی وکړی ځواب راکړئ.

(ځواب):: د عدت په زمانه کې ښځه د حج په سفر هم نشي تللی.

المعتدة لا تسافر لالحج و لا لغیره.(فتاوای عالمگیری ص ۱٦٢ ج ٢ کتاب الطلاق باب نمبر ١٤ فی الحداد).

په در مختار کې دي:

(و تعتدان) (ای معتدة طلاق و موت) (فی بیت وجبت فیــــه) و لا تخرجــــان منه.... الخ.)لهذا په مسُوله صورت کې تا ته پکار دي چې لـه دومـره اورد سـفر نـه ډډه وکړی اوستا لپاره په دی اورد سفر وتل بالکل مناسب نه دی، ځکه چې تـه پخپـل کـور کې ښه په عزت او ابرو سره اوسیږی او هیڅ قسم مشکل درته نشته، اولاد دی پـه امریکـا اوسیږی او له هغه خای تاته د ضرورت ټول شیان آستوی.

که طلاقه شوی ښځه د عدت ختمیدو دعوه وکړی نو د قسم خوړلـو پـه صورت کې منل کیدلی شي؟

(۴۹۲ _ سوال):: یوې ښځې ته طلاق ورکول شوی دی، تر اوسـه پـورې د هغـې درې حیض راغلی دي، د طلاق له ورځو نه تر اوسه پورې تقریباً دو نیم میاشتی تـیری شـوي دي، اوس هغه غواړی چې له بل سړی سره واده وکړی ایا نکاح یې کیږی ؟

د ښځې بیان:

محترم مفتی صاحب ! السلام علیکم و رحمه الله وبرکاته :

له سلام نه وروسته عرض دا دی چې زه په ۱۲\ ۳ \ ۸۳ کې طلاقه شوی يم له طلاق نـه وروسته زما پنځه ورځې حيض راغلې. زه الله حاضر او ناظر گنم چې له طلاق نه وروسته تر اوسه پورې زما دری حيض راغلي دي.فقط والسلام .... ۲۹\ ۵ \ ۸۴

(ځواب): دا چې له طلاق نه اته ورځې وروسته پنځه ورځې حيض يې راغلـی او بيا لـه دينه وروسته ن ښځو د عادت مطابق د حيض راتلو قسميه بيان ورکوي او د طـلاق مـوده يې دوه نيمی مياشتی کيږی نو د ښځې بيـان منـل کيـدای شـي او د عـدت د ختميـدو حکم ورکول کيدای شي.

په درمختار کې دي:

قال مضت عدتی والمدة تحتملة و كذبها الزوج قبل قولها مع حلفها.(در مختار مـع ردالمختار ۲ (۸٤۲ باب العدة). والله اعلم

که تا لور وځيږوله نو ته په دريو طلاقو طلاقه يې، بيا جلی يې وځيږوله نو د عدت موده يې د ماشوم پيدا کيدل دی او که حيض ؟

(۴۹۴ _ سوال): زما زوم د يو سفر په وخت کې خپلې ښځې ته ويلی ووچې که ستا لـور وشوه نو ته له مانه په دريو طلاقو طلاقه يې. دهغې لور پيدا شوه، ايا په دی صورت کـې هغه په مغلظ طلاق طلاقه شوی ده او که نه ؟ او د ښځې عدت د حمل پيـدا کيـدل دي او که نه ؟

(ځواب): حامداً و مصلياً و مسلماً ! په مسُوله صورت کې دری مغلظ طـلاق واقـع شـوي دي، ليکن په دی صورت کې د هغې عدت د حمل پيدا کيـدل نـه بلکـې دری حيضـه دي ځکه چې طلاق له ولادت نه وروسته واقع شوی دی.

و صورة العدة اذا قال لامراته اذا ولدت فانت طالق فولدت فانها تحتاج الی ثـــلاث حيض ما خلا النفاس وسياتی بيانه (شامی ص ۲۷٦ ج ۱ باب التعليق ، ص ٦٩٦ ج ۲ باب العدة) فقط والله اعلم بالصواب ، ۲۳ جمادی الاول ۱۳۸۰ ه.

باب النفقة

د عدت په زمانی کې د نفقی او لباس په متعلق شرعي حکم :

(۴۹۴ _ سوال): زما ښځه له څه وجی نه پرته زما له اجازی نه بغیر خپل پلار کره لاړه نـو ما هغې ته دری طلاقه ورکړی. اوس پـه حنفـی مـذهب کـې عـدت د نفقـی او لبـاس شرعی حکم څه دی ؟

(ځواب): د طلاقی شوي ښځې لپاره ضروري ده چې عدت پـه هغـه کـورکې تـیر کـړی چې له جدایې نه مخکې هغه اوسیدله، د الله جل جلاله ارشاد دی :

لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ.

نه تاسی هغوی د اوسیدو له کورونو څخه وباسئ او نه دی هغوی پخپله ووځی مگر کـه څوک ښکاره بی حیایې (بد کاری). وکړی نو جدا خبره ده.

همدغه راز دالله تعالی حکم دی :

أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ .

طلاقه شوي ښځې د خپل وسعت او گنجائش مطابق په همغه کـور کـې وسـاتی. چیرتـه چې تاسی اوسیږی. (سوره طلاق).

لهذا که ښځه د طلاق په عدت کې د خاوند په کور کې واوسي یا د خاوند په خوښه او یـا د شرعی عذر په وجه په بل ځای کې واوسیږی نـو بیـا د خـرڅې او نفقـی حقـداره ده، لیکن که ښځه بلا عذر او بلا شرعي عذر خاوند نه نافرمانی وکړی او د هغه له خوښی نـه پرته لاړه شي نو د خرڅې او نفقی حقداره نه ده. په مسُوله صورت کې چـون سـتا ښځـه ستا له خوښی نه پرته تللی ده نو خرڅه او نفقه نشي غوښتلی.

په هدایه کې دي:

و ان نشزت فلا نفقة لها حتی تعود الی منــزلة.(ج۲ ص ٤١٨ باب النفقة).

یعنی که ښځه د خاوند نافرمانی وکړی او ترینه لاړه شي نو ترڅو پورې چې خاوند کـره پخپله رانشي هغه د خرڅې حقداره نه ده. (هدایه).

او په شامي کې دي :

اذا نشزت فطلقها زوجها فلها النفقة والسكنى اذا عادت الى بيت الزوج . (شـامي جلد ۱ ص ۹۱۰ باب النفقة).

يعنى که ښځه نافرمانی کولو سره د خاوند لـه کـور نـه لاړه شـي او خاونـد ورتـه طـلاق ورکړي. که هغه د خاوند کور ته واپس راشـي نـو د نفقـى او سـکونت حقـداره ده کـه رانشي حقداره نه ده.(شامي جلد ۱ ص ۹۱۱ باب النفقه).

په فتاوی اسعديه کې دي:

اعلم ان المرأة اذا طلقت فانها تعتد فى البيت الذى كانت فيه ساكنةً من قبل ويجـب عليه النفقة والسكنى و ان خرجت باختيار ها فهى ناشزة لا تجب لها نفقة (ج ۱ ص ۱۱۵ ايضاً).

بيشکه طلاقه شوي ښځه دی په هغه کور کې عدت نير کړی چيرته چې مخکې اوسـيدله اوپر خاوند يې لازم دي چې د هغې خرچه پوره کړی، که خاونـديې لـه خپـل کـور نـه وباسي نو د هغې د خرچه او د اوسيدو د ځای انتظام پـر خاونـد ضـروري دی، او کـه ښځه پخپله خوښه د خاوند له کور نه لاړه شي نو هغـه ناشـزه او نافرمانـه ده، د نفقـى، لباس او د کور حقداره نه ده.(فتاوای اسعديه ج ۱ ص ۱۰).

او شاه عبدالعزيز محدث دهلوي فرمايي :

ارى نان و نفقه مقابل احتباس در خانه است، اگـر از خانـه برآيـد بـلا اذن زوج نفقـه و کسوه واجب نه ماند، قاعده فقه است که نفقه جزای احتباس است .

هو ! د ښځې نفقه او خرچه په کور کې د هغې د ايساريدو عوض او بدله ده که چيرتـه د خاوند له اجازې نه بغير لاړه شي نو نان نفقه کور او لباس په خاوند باندې نـه دي لازم، د فقهي قاعده دا ده چې د ښځـې نفقـه د هغـې د پـاتې کيـدو او ايسـاريدو بدلـه ده. (مجموعه فتاوای عزيزی ج ۱ ص ۱۳).

ايا د نا شزى نفقه واجب ده او که نه ؟

(۴۹۵ ـ سوال): هغه بائنه او مغلظ طلاقه شوى ښځه چې په کـور کـې وربانـدې عـدت تيرول واجب وي له هغه کورنه لاړه شي او له خاوند نه نافرماني وکړی ايا هغه د عـدت د خرچې حقداره ده او که نه ؟

(ځواب): د عدت نان او نفقه د نکاح په ځيردی د نافرمانه کيدو په وجه يعنی د خاوند له کور نه له څه شرعي حق نه بغير د تللو په صورت کې له نفقي نه محروميږی.[1]

د رجعی طلاق په صورت کې ښځه او خاوند له څه پردی نه پرته يو ځای اوسيدلی شي، خو بائن او مغلظ طلاق په صورت کې د ښځې او خاوند ترمنځ پرده لازمه ده، که په ګناه کې ککړېدو شک وي نو پر هغوی پهره او نګرانی هم ضروری ده، که کور پراخ نه وي يا پکې د اوسيدو پوره انتظام نه وي نو بيا دی يا ښځه بل کورته ولیږی او یا د هغه خاوند لدي کورنه لاړ شي.

(دويم ـ سوال): يوه ښځه له دريو طلاقو نه وروسته دری هفتی د خاوند په کور کې وه. دهغې له ارادی نه کله هم دا نه معلوميدله چې دا کور به پريږدي، له دريو هفتو نه وروسته يوه ورځ چې خاوند او خواښی يې په کورکې نه وو له خپلو شپږو ماشومانو سره يو ځای له کورنه وتښتيدله او د کور له سامان نه څه ضروري شيان هم له ځانه سره ويوړ او خپل خور کره لاړه. کله چې د هغې خاوند هغه راوغوښت نو د هغې خور او دهغې د خور ميړه ورته وويل چې تا خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی نو ځکه تاکره نه راځي، دوه مياشتی له هغوی سره تيری کړی، اوس هغې يو کور په کرايه اخستی دی، خپل او د ماشومانو نان نفقه له خپل خاوند نه غواړي، هغه ته دمکې ورکوي چې که پخپله خوښه خرچه رانکړی نو په عدالت کې به دربانديې عريضه وکړم.

اوس پوښتنه داده چې په پورتني صورت کې ښځه طلاقه شوي ده او که نه ؟ که طلاقه شوي وي نو رجعی طلاق شوی او که بائن ؟ که رجعی طلاق واقع شوي وي نو د رجوع کولو حق لري او که نه ؟ که بائن طلاق وربانديې واقع شوي وي نو سړی له حلالي نه پرته په نوی نکاح سره کورته راواستلی شي او که نه ؟

(ځواب): په مسُوله صورت کې بائنه اومغلظ طلاق واقع شو دی، د رجوع حق نه لري. په نوی نکاح کولو سره هم ښځه ورته نه حلاليږی، له شرعي حلالي نه پرته ښځه ديته نشي حلاليدلی.

و ان كان الطلاق ثلاثاً لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره.(هدايه ص ۳۷۹ ج ۲ باب الرجعة).

---

[1] - ((و ان نشزت فلا نفقة لها حتى تعود الى منــزله. (هدايه باب النفقة ج ۲ ص ۷۱۸.)

د طلاق عدت تر ختمیدو پورې د نفقی او کور انتظام د وس په مطابق د هغې پر خاوند دی هله چې ښځه د خاوند په کور کې عدت تیروی. یا د خاوند په اجازه او یا هم د شرعي عذر له کبله په بل ځای کې عدت تیروي. یا خاوند له خپل کورنه ویستلې وي. خو که د خاوند له اجازی نه پرته لاړه شي لکه چې په سوال کې ویل شوي دي نو په دی صورت کې د هغې نفقه او خرچه پر خاوند نه کیږی.

(و ان نشزت فلا نفقة لها حتی تعود الی منــزله هدایه باب النفقة ج ۲ ص ۴۱۸) ص ۴۳۳ .

عمه ـ ان المرأة اذا طلقت فانها تعتد فی البیت الذی کانت فیه ساکنة من قبل ویجب علی الزوج ان ینفق علیها فان اخرجها یجب علیه النفقة والسکنی و ان خرجت باختیارها فهی ناشزة لا تجب لها نفقة. (فتاوای اسعدیه ص ۱۱۵ ج ۱ باب النفقة).

یعنی بی شکه طلاقه شوی ښځه دی په هغه کور کې عدت تیر کړی چیرته مخکې اوسیدله. او پر خاوند باندې نفقه او د اوسیدو ځای لازم دی، خو که چیرته خاوندېې له خپل کورنه وشړی نو بیا هم د هغې نفقه او کور پر خاوند واجبه ده، او که ښځه د خاوند له اجازی نه پرته لاړه شي نو هغه ناشزه (نافرمانه). ده نو په دی صورت کې پر خاوند باندې د هغې نفقه واجبه نه ده. (فتاوای اسعدیه ص ۱۱۵ ج ۱ باب النفقه). فقط والله اعلم بالصواب.

(۳ ـ سوال).:او که دا طلاق مغلظ وي نو دغې ښځې ته د خپلو شپږو ماشومانو چې یو پکې د اوو کلو له عمر نه لږغوندی کم دی او نور ټول ماشومان یې له لس کلونو نه زیات عمر لري د نفقی او خرچې مطالبه کولي شي او که نه ؟ ایا دا ښځه ناشزه (نافرمانه). گڼل کیږی او که نه ؟ حال داچې د هغې خاوند وایې چې ما ورته له سره طلاق نه دی ورکړی زه غواړم چې ټول زما کورکې واوسي. لیکن ښځه د ماشومانو له ورکولونه انکار کوي نو شرعاً دغه ښځه د څومره نفقی حقداره ده ؟ مهربانی وکړئ د شریعت په رڼاکې معلومات راکړئ.

(خواب).:په مسٔوله صورت کې د واړه ماشومانو له ځان سره د اوسولو او د هغوی د پالنې حق له مور سره دی چې د هغوی د عمر موده فقهاو د هلک لپاره اوه کاله او جلۍ لپاره ۹ کاله او له زیات نه زیات د حیض تر راتلو پورې مقرر کړی ده. د دغه عمر نفقه او نورو ضروریاتو ذمه وار پلار دی، که له ماشومانو سره مال وي نو له هغه نه دا

اخراجات پوره کولي شي که چيرته د ماشومانو پلار مالدار وي نو د هغوی مور د هغوی د بالنی معاوضه هم غوښتلی شي، لدينه بره او زيات عمر لرونکي ماشومان حپل پلار اخستلی او له خان سره اوسولی شي.[1]

که ښځه خپل پلار کره عدت تير کړی نو د عدت د خرچې غوښتنه کولی شي او که نه؟

(۴۹۶ _ سوال): له طلاق نه وروسته ښځې ته د خپل خاوند په کورکې د عدت تيرولو اجازه ورکړی شوه مګر هغه پاتی نه شوه. د ښځې پلار د هغې د خسر په اجازه خپل لور کورته ويوړه هغه اوس د عدت خرچه د خاوند له پلار ته غواړي ايا هغه د دې حقداره ده؟ بينوا توجرو.

(خواب): که چيرته د خاوند په کور کې کوم شرعي قباحت او بدي نه وي مګر بيا هم ښځه د پلار په کور کې عدت تيرول غواړي نو د عدت د خرچې غوښتنه نشي کولی، خو که خاونديې تبرعاً ورکړی نو ښه او غوره کار دی.[2] فقط والله اعلم بالصواب.

له شرعي قانون نه په مخالفت کولو سره دنفقې مطالبه کول څنګه ده؟

(۴۹۷ _ سوال): (۱). مسلمان لپاره د شرعي قانون په مطابق د فيصلې کولو انتظام موجود دی مګر هغه په غير شرعي قانون باندې فيصله غواړي. ايا هغه لپاره داسې کول جائز دی؟

---

[1] - ((و تستحق الحاضنة اجرة الحضانه اذا لم تكن منكوحة و لا متعدة لابيه و هى غير اجـرة ارضـاعة . . . . . والحاضنة اما او غيره احق به اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء و قدر بسبع و به يفتى . . . . . بالصـغيرة حتى تحيض اى تبلغ فى ظاهر الرواية . . . . . و قر بتسع و به يفتى . در مختار مع الشامى بـاب الحضـانة ج ۳ ص ۵۶۰ . ۵۶۶).

[2] - ((و تسقط بالنشوز و تعود بالعودو اطلق فشمل الحامل و غيرها والبائن بثلاث او اقل كما فى الكناية بـاب النفقة مطلب فى نفقة المطلقة ج . ۲ ص ۹۲۱).

(۲) ایا طلاقه شوي ښځې لپاره دا جائز دی چې د خپل عدت له خرچې نه علاوه ترېل نکاح پورې خپل نان او نفقه له مخکینی خاوند نه په زوره وغواړي ؟
(۳) د نفقې په باره کې چې کوم حکومتي قانون دی ایا مسلمان سړی یا ښځې لپاره جائز دی چې، هغه د دغې نفقې ترلاسه کولو لپاره حکومت ته لاړ شي او پخپل حق کې فیصله وربانډې ورکړی ؟
(۴) که بالفرض حکومت تر دویم نکاح پورې د نفقې ورکولو حکم جاری کړ نو غریب خاوند د داسې ظالمانه نفقې د ورکولو لپاره د سود پیسې ورکولې شي او که نه ؟ بینوا توجرو..

(ځواب):(۱). د شرعي قانون نه بغیر په بل قانون باندې فیصله کول او پر هغه عمل کول حرام دی. فقط والله اعلم بالصواب.
(۲). طلاقه شوی ښځه د عدت په میاشتو کې د خرچې حقداره ده، تر بل نکاح پورې نفقه نشي غوښتلی، د اسلامی قانون په مقابله کې د حکومتي قانون ته ترجیح ورکول او هغه خوښول ناجائز او حرام دی. په دی سره ایمان په خطره کې غورځیږی.[1]
(۳). بالکل جائز نه دی د ګناه موجب دی. فقط
(۴). د عدت له ورځو نه زیات د خرچې مطالبه کول اود حکومت فیصلې په مطابق عمل کول د ښځې لپاره جائز نه دی، که خاوند له عدت نه زیات خرچې لپاره مجبور کړی شي نو د سود پیسې ورته ورکولی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

که ښځه له خاوند سره له سفر کولو نه انکار وکړی نو هغه د نفقې حقداره ده او که نه؟

(۴۹۸ ـ سوال).: زید غواړی چې خپله ښځه له ځان سره یوسي مګر ښځه یې تللونه انکار کوي نو ایا د هغې د ښځې نفقه په زید باندې ده او که نه ؟ بینوا توجرو..

(ځواب).: په مسٔوله صورت کې د زید د ښځې نفقه پر خاوند باندې ده، هغه وربانډې نفقه نشي بندولي.

اوابت الذهاب الیه اوالسفر معه . الی قوله فلها النفقة (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۸۹۰ . ۸۹۱ باب النفقة). فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - ((المعتدة عن الطلاق تستحق النفقة والسكنى كان الطلاق رجعيا او بائنا او ثلاثا حملا كانت المراه او لم تكن كذا في فتاوى قاضى خان . فتاوى عالمگيرى الفصل الثالث فى نفقة المعتدة ج . ۱ ص ۵۵۷).

تره او مور یې ژوندی دي نو د ماشوم نفقه پر چا ده ؟

(۴۹۹ ـ سوال): زید او عمر دوه سکه ورونه دي، زید مشر او عمر کشر دی زید مړ شـو د هغه په وارثانو کې د شپږو میاشتو یوه جلـی. ښځـه او یـو ورور (عمـر) دی د زیـد د ښځې مور او پلار هم ژوندی دي، مګر د زید پلار او مور دواړه مړه دي.
په مسٔوله صورت کې د زید د ښځې او د هغه د ماشومي لور خرچه پر چا ده ؟
د عمر په ذمه او که د ښځې د مور او پلار په ذمه. بل دا چې د زید ترکه به څنګه ویشـل کیږی؟ بینوا توجرو.

(ځواب): په مسٔوله صورت کې د زید ښځې ته پکار دي چې خپل مـال یـا د خاونـد لـه ترکې نه چې د میراث په توګه ورته رسیدلی ده له همغونه نان او نفقـی لپـاره اسـتعمال کړی. که چیرته څه ورسره نه وي نو د هغې مـور او پـلار د هغـې د نفقـی ذمـه وار دي همدغه راز د هغې د لور نفقه د هغې له ذاتی مال نه یا د هغه له پلار نـه څـه مـال ورتـه رسیدلی وي مصرف کړی که ورسره څه نه وي یا ورنه خلاص شي نـو د هغـې د خـرچې زمه واري د هغې په مور او کاکا باندې دی، یوه حصه به موریې ورکـوي او دوه حصـی به د هغې تره ورکوي، خو که چیرته مور یې محتاجه او غریبه وي نو یواځې د هغې تره ذمه وار دی. د زید مال او نور شیان به اته برخې کیږی، لـه هغونـه یـوه حصـه د هغـه ښځې ته، لورته یې څلور حصې او د ورور عمر ته درې حصی به ورکول کیږی.

و انما تجب النفقه علی الاب اذا لم یکن للصغیر مال اما اذا کان فالاصـــل ان نفقـــة الانسان فی مال نفسه صغیراً کان او کبیراً (هدایه اولین ص ۴۲۵ کتاب النفقـــات باب النفقات) و ان کان من الصنفین اعنی الاصول والحواشی وارثا اعتـــبر الارث ففی ام واخ عصبی او ابن اخ کذلك او عم کذلك علی الام الثلث و علی العصـــبة الثلثان بدائع (شامی ج ۲ ص ۹۳۵ باب النفقة مطلب ضابط فی حصر احکام نفقة الاصول والفروع).

(و) تجب لکل ذی رحم مرحم صغیر او انثی مطقاً (ولو) کانت الانثـــی (بالغـــة) صحیحة (قوله مطلقاً) قید للانثی ای سواء کانت بالغةً او صغیرةً، صحیحة او زمنة

(در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۹۳۸ ایضا) فقط و الله اعلم بالصواب . ۲۹ جمادی الثانی ۱۴۰۰ ھ.

(۵۰۱ ـ سوال): د دین مفتیان او علما پر دی باره کې څه وایې چې د طلاقی شوی ښځې نفقه له عدت نه وروسته تر مرګه یا دویم نکاح پورې شرعاً ثابته ده او که نه ؟ سپریم کورټ د شاه بانو په کیس کې د وجوب فیصله کړیده. او د سوره بقره آیت نمبر ۲۴۱:

و للمطلقت ...... علی المتقین.

څخه استدلال کړی دی. ایا د هغه دا فیصله صحیح ده. امید دی چې مفصل ځواب راکړئ. بینوا توجرو.

(ځواب): د اسلامي شریعت قانون دا دی چې کومې ښځې ته خاوند له وطی او صحیح خلوت نه مخکې طلاق ورکړي په داسي ښځې باندې عدت تیرول نشته، هغه آزاده ده او له خاوندسره یې هیڅ قسم تعلق نه دی پاتی هغه فوراً له بل سړی سره نکاح کولی شي. په قران کریم کې دي:

یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا نَکَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَکُمْ عَلَیْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا. (الاحزاب :۴۹).

ای مومنانو ! کله چې تاسی د مسلمانو ښځو سره نکاح وکړئ او بیا تاسی له هغوی سره لاس لګولو نه مخکې ورته طلاق ورکړئ نو پرهغوی باندې ستاسی د عدت حق نشته چې تیر یې کړئ. (سوره احزاب آیت نمبر ۴۹ پاره ۲۲).

(۲). کومې ښځې ته چې خلوت او وطی نه وروسته خاوند طلاق ورکړی نو که چیرته دغې ښځې ته حیض راشي نو د هغې د عدت موده دری حیضه دي. په قران کریم کې دي:

طلاقې شوی ښځې دی دری حیضه عدت تیر کړی. سوره بقره آیت ۲۲۸.

او د کومو ښځو چې عمر زیات وي او حیض یې نه راځی، یا داسي ښځه چې بالکل حیض یې نه راځی نو داسي ښځو لپاره دری میاشتې عدت دی. په قران کریم کې دي:

﴿وَاللَّائِي یَئِسْنَ مِنَ الْمَحِیضِ مِنْ نِسَائِکُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ﴾ (الطلاق۴)

سوره طلاق آیت نمبر ۴ پاره نمبر ۲۸).
ستاسی له طلاقو شویو ښځو نه چې کوم یوه ښځې (د زیات عمر په وجه). د حیض راتلو نه نا امیده شوی وي که چیرته ناسی د هغوی د عدت په اندازه کې شک وي نو د هغوی عدت دری میاشتې دي، همدغه راز کومو ښځو ته (کم عمري په وجه). حیض نه راځی د هغوی عدت هم دری میاشتې دی.(سوره طلاق آیت نمبر ۴ پاره نمبر ۲۸).
(۴). کومې ښځې چې حامله دي د هغوی د عدت موده د ماشوم تر پیدا کیدو پورې دی په قران کریم کې دي:
وَأُوْلَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ (الطلاق٤)
(آیت نمبر ۴ پاره نمبر ۲۸).
یعنی د حاملو ښځو عدت د هغوی حمل تر پیدا کیدو پورې دی. (سوره طلاق آیت نمبر۴ پاره نمبر ۲۸).
له پورتنی نفصیل نه معلوم شوه چې کومې ښځې ته له صحبت یا خلوت صحیحی څخه وړاندې طلاق ورکړې شوي هغې لپاره عدت نشته، کله چې عدت نه تیروي نو د نان اونفقی خرچه هم د هغې په خاوند لازمه نه ده، او کومې ښځې ته چې له صحبت او مجامعت نه وروسته طلاق ورکول شوی وي نو پر هغه د رحم د صفایې او د خاوند د نطفی د حفاظت لپاره عدت لازم دی. که چیرته د ښځې حیض راځی نو تر دریو حیضونو پورې عدت دی، او کومې ښځې ته چې د کم عمری په وجه حیض نه راځی، همدغه راز کومې ښځې ته چې د زیات عمر په وجه حیض نه راځی د داسې ښځو د عدت موده دری میاشتې ده. او کومه ښځه چې حمل لري د هغې عدت د ماشوم تر پیدا کیدو پورې دی، او د دغو دری واړاو ښځو د عدت د زمانی خرچه د هغوی پر خاوندانو ده، لکه چې قران کریم په دی باره کې وضاحت کړی دی:
که چیرته طلاقی شوي ښځې حامله وي نو د حمل تر پیدا کیدو (د هغوی د نان او نفقی). خرچه ورته ورکړئ.
قران کریم فیصله کوي چې حامله ښځو ته دی دهغوی د حمل تر پیدا کیدو پورې نفقه ورکړې شي، لدینه وروسته دی ورنکړی شي. څکه چې د حتی لفظ تر محدود وخت پورې د حکم د متعین کولو لپاره راځی لهذا د حمل تر پیدا کیدو پورې د نفقی حقداره ده لدینه وروسته هیڅ حق نه لري، لدینه په صراحت سره معلومیږی چې په کومو طلاقو

شویو ښځو باندې عدت لازم دی هغوی هم صرف د عدت تر زمانی پوري د نفقی حقداره ده او له عت نه وروسته حقداره نه ده. له حدیث نه هم د دی تائید کیږی لکه چې د هدایې مصنف له حضرت عمر رضی الله عنه نه حدیث نقل کړی دي حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي:

سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول للمطلقة الثلث النفقة والسكنى ما دامت فى العدة.

ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دي چې کومې ښځې ته دری طلاقه ورکړی شي پرهغه نفقه او د اوسیدو کور واجب دی. ترڅو پورې چې هغه په عدت کې وي (هدایه اولین ص ۴۲۲ فصل فى نفقة المطلقة جلد ثانى).

صاحب نصب الرایه د دغه حدیث تخریج کړی دی.او (ما دامت فى العدة). باندې يې څه جرح نه ده کړی. د قران او حدیث په رڼاکې فقهاو همدا لیکلی دي. په هدایه کې دي:

و اذا طلق الرجل امراته فلها النفقة والسكنى فى عدتها رجعيا كان او بائناً. (هدايه اولين ج ۲ ص ۴۲۴ فصل فى نفقة المطلقة).

کله چې سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړی نو هغې لپاره د عدت تر زمانی پورې نفقه او کور لازمی ده. برابره خبره ده چې طلاق رجعی وی یا بائن.(هدایه اولین ج ۲ ص ۴۲۴ فصل فى نفقة المطلقة).

په شرح الوفایه کې دي :

والمطلقة الرجعى والبائن . . . . . النفقة والسكنى اى ما دامت فى العدة. (شرح الوقاية ج۲ ص ۱۷۹ باب النفقة).

.او هغې ښځې ته رجعی یا بائن طلاق ورکول شوی وي هغې لپاره نفقه او د اوسیدو کور دی ترڅو پورې چې په عدت کې وي. (شرح الوقایه ج۲ ص ۱۷۹ باب النفقه).

په قدوري کې دي:

و اذا طلق الرجل امراته فلها النفقة والسكنى فى عدتها رجعيا كان او بائنا. (قدوري ص ۱۹۰ كتاب النفقات ـ الجوهرة النيرة ص ۱۶۶ جلد ثانى).

کله چي یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړی که هغه رجعی طلاق وي یا بـائن طـلاق د عدت تر زمانی پورې هغې لپاره نفقه او کـور ده.(قـدوري ص ۱۹۰ کتـاب النفقـات ـ الجوهره النیره ص ١٦٦ جلد ثانی).

د قران کریم، نبوی حدیث او د فقهی له کتابونو نه همدغه خبـره ثابتیـږی چـې طلاقـه شوی ښځه تر هغه د نفقې حقداره ده ترڅو پورې چـې پـه عـدت کـې وي کلـه چـې د عدت میاشتې تیری شي نو له خاوند سره یې هیڅ قسم تعلق نه پاتی کیږی. بالکـل ورتـه پردی کیږی او له بل سړی سره نکاح کولی شي. نو ځکـه د هغـې د نفقـې ذمـه وار او مسول د هغې خاوند نه دی، که هغه پخپله خوښه په هغه څه ورکـوي هغـه ممنـوع نـه دی. ورکولی شي مګر په زور او زبردستی سره په هغه باندې ورکـول ظلـم دی. داسـې حکم په قران کریم او حدیث کې نشته، د قران کریم له ایت نه غلـط مطلـب اخسـتل او پکې تحریف کول د شریعت په قانون کې لاسوهنه ده چـې هـیڅ یـو رښتـونی مسـلمان نشي قبلولي.

په قران کریم او حدیث کې چیرته هم دا نه دی راغلي چې طلاقـی شـوی ښځـې تـه د هغې تر ژونده یا له بل سړی سره تر واده پـورې نفقـه ورکـول پـه خاونـد لازم دی، الله تعالی خو دا فرمـايي:(وان یتفرقا). او کـه چیرتـه د ښځـې او خاونـد تـرمنځ جـدائي رانشي نو (یغن الله کلاً من سعته). یعنی الله تعالی دواړه له یو بل نه بی نیازه کـوي، ښځې ته بل ځای او د کفایت ذریعه پیدا کیږی او سړی ته بله ښځه پیـدا کیـږی.(وکـان الله واسعاً حکیما)الله تعالی ډیر وسعت والا او حکمـت والا دی. (سـوره نسـا' آیـت ۱۴۰ پاره نمبر ۴).

په خصوصي توګه په سوره طلاق کې د عدت، طلاق او د نفقی یا دونـه پکـې شـوی ده داسي ارشادیې فرمایلی دی:

سوره طلاق آیت نمبر ۳-۴

او کوم سړی چې په الله تعالی توکل کوي نو الله تعـالی هغـه لپـاره کـافی دی.(سـوره طلاق آیت نمبر ۳-۴).

په حدیث کې دي:حضرت عمر رضی اله عنه فرمایي: ما له محمد صلی الله علیه وسلم نـه آوریدل دي چې بیشکه که تاسی خلک پر الله بروسه او توکـل وکـړی لکـه چـې د هغـه حق دی نو هغه تاسو ته په داسې طریق سره رزق ورکوي لکـه چـې مارغـانو تـه رسـوي

چې هغوی سهار وختي په خالي ګیډه الوځي او ماښام په مړه ګیډه واپس راځي.
مشکواة شریف. باب التوکل والصبر ص ۴۲۵).
یو خدای پرست شاعر څومره ښه ویلي دي:

غم روزي مخور برهم مزن اوراق دفتر را
که پیش از طفل ایزد پرکند پستان مادر را

د روزی غم مه خوره او پریشانی مه کوه. ګوره چې الله تعالی د ماشوم له پیدا کیدو نه مخکې د هغې د مور سینې له شدونه ډکوي.
مګر د دې باوجود شریعت هسې بې مرستی او بې اسرې نه ده پرېښې دا چې له عدت نه وروسته د ښځې ګذران به څنګه کیږي د هغه حل څه داسې دی.
ښځه دی دویم واده وکړی ځکه چې په اسلام کې دویمه واده څه عیب نه ده بلکې د فضلیت خیز دی. په قران کریم کې د داسې ښځو په باره کې حکم ورکول شوي دی چې کونډی ښځې واده کړی. وانکحوا لایامی منکم. (سوره نور آیت ۳۲ پاره ۱۸).
علامه شبیر احمد عثمانی فرمايي :
په دی آیت کې دا حکم ورکول شوی دی چې د کوموښځو واده نه ده شوي یا واده شوي خو طلاق یا کونډی شوي دي نو د مناسب وخت د ترلاسه کیدو په صورت کې هغوی واده کړئ.
په حدیث شریف کې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایی: ای علی ! په دریو کارونو کې خند مه کوه. کله چې د فرض لمونځ وخت راشي، کله چې د جنازی لمونځ حاضر شي او د کونډی ښځې په نکاح کې چې د هغې مناسب سړی ورته پیدا شي.
کوم خلک چې د کونډو په واده کولو خفه کیږی د هغوی ایمان سالم نه دی پاتی (فوائد عثمانی سوره نور پاره نمبر ۱۸).
که چیرته د کومې مجبوری له کبله د هغوی نکاح ونشي نو که ښځه پخپله مال او دولت لري نو پخپل مال باندې دی ګذاره وکړی او که پخپله څه نه لري نو د ښځې اولاد به دهغې نفقې په غاړه اخلی او که اولاد هم نه لري نو بیا د هغې پلار او ورونه به د هغې د نفقې انتظام کړي. که چیرته خپل خپلوان نه لري نو د هغې قوم دی دهغې د نفقې بندوبست وکړي، که نه نو په عامو مسلمانانو باندې د هغې مدد مرسته ضروري ده.
وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ۝. (البقرة۲٤۱)

لدې آيت نه دا استدلال کول چې طلاقې شوي ښځې لپاره تـر دويمـې نکـاح او يـا تـر مرګه پورې نفقه ده په هيڅ حالت کې صحيح نـه دی. دا مطلـب اخسـتل قـران کـريم، حديث او د فقهي تولو کتابو څخه مخالف دی. هيڅ يو مفسر، محدث او فقيـه دا نـه دي ليکلی. په قران کريم کې د متاع لفظ په ګنو ځايونو کې استعمال شوي دی ليکن پـه يـو ځای کې هم دا مفهـوم ترينـه نـدی اخسـتل شـوی. لغـات القـران مولـف مولانـا سـيد عبدالدائم جلالي کې دي:

متاعاً – اسم مفرد منصوب نکره. اسم مصدر په معنی مصدر متعدی يعنی چاته د کـار آمـد ځيز ورکول. لکه جامی، بوټان يا بل څيز چې حاکم يې مناسب وګنی.

د عربی مشهور ډکشنری المنجد کې دي:

المتعه : اسم للتمتيع . الوداد القليل . متعة المرأة ما وصلت به بعد الطلاق مـــن نحـــو القميص والا زار و الملحفة الطلاق . متعته :يعنی فائده پهنچانا . زاد قليل.

متعه:يعنی فائده رسول، قليل زاد

متعه المراه: د ښځې متعه، قميص، پرتوګاو څادر چې طلاقـې شـوی ښځـې تـه ورکـولی شي، همدغه راز متعه الطلاق دی.(-المنجه ص ۷۹۹).

لهذا د متعه يا متاع مفهوم دا شو چې داسي څيز ورکول چې فائده يې مـوقتی وي او ژر له منځه ځی. د دی مصداق فقهاو دا ګرځولي دی چې سړی د خپل حيثيت مطابق يوه جوړه لباس ورکړی، او له حديث نه هم د دی تائيد کيږی:

يو ځل يو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړ نو له هغه نـه محمـد صـلی الله عليـه وسـلم پوښتنه وکړا " امتعتها " ايا تا دغې ښځې متعه ورکړه ؟

هغه وويل:" لم يکن عندی شئی " له ما سره هيڅ څيز نشته، نو هغه صلی الله عليه وسـلم وفرمايل:" متعتها بقلنسوتک " يعنی ديته متعه ورکړه اګر که سـتا تـوپی ولی نـه وي.(روح المعاني ص ۱۵۴ ج ۲۲ تحت قوله:والمطلقات متاع بالمروف ... الخ).

لدينه معلوم شو چې پر معمولی څيز باندې هم متعه صادقيږی.

حضرت مولانا ابوالکلام ازاد د دغه آيت ترجمه داسي کړی ده:

او په ياد وساته کومو ښځو ته چې طلاق ورکړی شـي نـو پکـار دی چـې هغـوی تـه پـه مناسبه طريقه ګته ورسول شي (يعنی له هغوی سره څومره اندازه ښه سلوک کيدلی شـي ورسره دی وکړی شي.د متقيانو لپاره داسي لازم دی.) (ترجمان القران سوره بقره).

حضرت مولانا عبدالماجد دريا بادي د دی ترجمه داسي کړی ده:

او د طلاقو شویو ښځو په حق کې هم نفع رسول د دستور په موافق مقرر دی (دا) په پرهیزکارانو واجب دی (تفسیر ماجدي سوره بقره).
حضرت مولانا اشرف علی تهانوي د دی ترجمه داسي کړی ده :
او تولو طلاق شویو ښځو لپاره څه فائده رسول (په څه درجه کې تاکل شوی دی) دا د قاعدی موافق پر هغو مقرر شوی دی چې (له کفر نه او شرک نه). پرهیز کوي (بیان القران).
تاسي وګورئ چې هیڅا هم د متاع ترجمه او مصداق دا نه ده ویلی چې ښځې ته تر دویمه نکاح او یا تر مرګه پورې ورته نفقه یا زیاتی پیسې ورکړی شي لهذا دا خبره صحیح نه ده چې د طلاقه شوي ښځی نفقه د هغې تر دویم نکاح یا مرګه پورې د هغه په لومړي خاوند باندې دی. البته که هغه پخپله خوښه څه ورکړي نو هغه منع نه دی، مګر دینه قانوني شکل ورکول او په زوره د هغه خاوند د نفقی ذمه وار ګرځول او د نه ورکولو په صورت کې سزا ورته ورکول په هیڅ حالت کې صحیح نه دی. له کومو حضراتو نه چې د زیاتو پیسو ورکول منقول دی هغه هم له همدغې قبیل څخه دی چې هغې ته د تبرع او احسان په خاطر ورکړی خو دا عام قانون نه دی. فقط والله اعلم بالصواب .

سید عبدالرحیم لاجپوري شم راندیری غفرله ۲۳ محرم ۱۴۰۴ ه مطابق ۱۱۹کتوبر سن ۱۹۸۵ع تمت بالخیر.

(۱) د ماشوم مور، نیا، نیکه او تره ژوندي دي، د ماشوم نفقه پر چا ده ؟
(۲) د کونډی پلار ژوندي دی ایا په پلار باندې د هغې نفقه واجبه ده او که نه ؟

(۵۰۲ ـ سوال):: یو سړی وفات شو، د هغه څوارلس میاشتی زوی دی، د دغه ماشوم د پرورش حق پر چا دی ؟ د ماشوم نیکه نیا او ترونه موجود دي په دی صورت کې د دغه ماشوم له مورسره پاتی کیږی او که هغه نیکه او نیا اخلي ؟ که چیرته ماشوم د مور سره پاتی شي نو د هغه نفقه د چا په سر ده، همدغه راز د کونډی نفقه به څوک ورکوي ؟ بینوا توجرو.

(خواب)::د وړوکې ماشوم د پرورش او پالنی حق مور ته دی. تر اوو کلو پورې مور خپل زوی له خان سره ساتلی شي، لدینه وروسته د هغه نیکه پخپل پرورش کې اخستلی شي، د ماشوم نفقه د هغه په نیکه ده، که چیرته ماشوم پخپله مال لري نو له همغه دی ورباندې خرچ کړی شي. په شامي کې دي:

ولو وجد معهما (اى مع الام) جد لاب بان كان للفقير ام وجد لاب واخ عصبى او ابن اخ او عم كانت النفقة على الجد وحده كما صرح به فى الخانية ووجه ذلك ان الجد يحجب الاخ وابنه والعم لتنزيله حينئذ منزلة الاب و حيث تحقق تنزيله منزلة الاب صار كما لو كان الاب موجودا فتجب على الجد فقط بخلاف مسألة كان للفقير ام وجد لاب فقط فان الجد لم ينزل منزلة الاب فلذا وجبت النفقة عليهما اثلاثا فى ظاهر الرواية كما مر (شامى ج ٢ ص ٩٣٦ ، باب النفقة ، مطلب ضابط فى حصر احكام نفقة الاصول والفروع).

که چیرته له ښځې سره خپل مال وي نو له همغه نه دی خرچه وکړی، او که نه وي نو دهغې خرچه د هغې په پلار باندې ده. په در مختار کې دي:

(و كذا) تجب (لو لده الكبير العاجز عن الكسب) كانثى مطلقا.

په ردالمختار کې دي:

(قوله كانثى مطلقاً) اى ولو لم يكن لها زمانة تمنعها عن الكسب فمجرد الا نوثه عجز الا اذا كان لها زوج فنفقتها عليه ما دامت زوجه الخ (رد المحتار ج ٢ ص ٩٢٥ ، باب النفقة).

ښځې له پاره تر ټولو ښه خبره داده چې له عدت نه وروسته فوراً نکاح وکړی ، په شرعي لحاظ دویمه واده کې هیڅ قباحت نشته بلکې غوره ده، په قرآن کریم کې دی :

و انكحوا الا يامى منكم والصلحين من عبادكم واماء كم ان يكونوا فقراء يغنيهم الله من فضله و الله واسع عليم.

په غنیه الطالبین کې حدیث شریف دی:

مسكينة مسكينة امرءة ليس لها زوج قيل يا رسول الله و ان كانت غنية من المال ..... قال و ان كانت غنية من المال. (غنية الطالبين ص ٩٦ فصل فى اداب نكاح).

مسکینه ده مسکینه ده هغه ښځه چې خاوند یې نه وي. تپوس ترینه وشو اګر که هغه مالداره وي بیا هم مسکینه ده ؟ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو بیا هم مسکینه ده.(غنیه الطالبین ص ٩٦ فصل فی اداب تکاح).

که ښځه د ماشوم له محرم نه علاوه له بل چاسره واده وکړي نو د هغې د پرورش حق ختميږي، بيا دا حق د ماشوم نيا، آنی ته حاصليږي. فقط والله اعلم بالصواب.
په بل حديث کې دي:
ليس شئ خير الا مرءة من زوج او قبر.

ايا ښځه د تيرې شوی زمانی د نفقې مطالبه کولي شي او که نه ؟

(۵۰۳ ـ سوال): يوی طلاقی شوي ښځې د خپل عدت زمانه د خپل پلار په کور کې تيره کړه، د عدت خرچه ورته نه خاوند وکړه او نه هم ښځې وغوښتله. اوس څوکاله بعد ښځه په د تير عدت خرچه غواړي ايا د هغې مطالبه صحيح ده او که نه ؟ ايا دهغې په خاوند د عدت د زمانی نفقه ورکول لازمه ده او که نه، همدغه راز دغې طلاق شوی ښځې د خپلې وړی لور پالنه او پرورش کړيدی، هغه د خپل لور د خرچې غوښتنه هم کوي په دی باره د شريعت څه حکم دی ؟
(ځواب): په مسُوله صورت کې چون د زوجينو ترمنځ د دواړو له رضا سره د عدت د نفقې لپاره کوم خاص مقدار نه دی مقرر شوي او نه هم کوم شرعي قاضي يا د قوم جرګی مقرر کړی دی نو په داسې صورت د صحيح قول په مطابق ښځه د خپل تير عدت د زمانی نفقه نه شي غوښتلی، دا نفقه د هغې په خاوند قرض نه دی چې د هغې ورکول پر خاوند باندې لازم شي، همدغه راز د ماشومی اخراجات او خرچه هم نه ده ټاکل شوی او ښځې د خپل خوښې مطابق پر هغې خرچه کړی ده نو د هغې د خرچې مطالبه هم نشي کولي. په درمختار کې دي:
(والنفقة لا تصير دينا الا بالقضاء او الرضا) ای اصطلاحهما علی قدر معين اصنافاً او دراهم فقبل ذلك لا يلزمه شئی و بعدة ترجع بما انفقت الخ (در مختار) (قوله و بعدة) ای و بعد القضاء والرضا ترجع لانها بعدة صارت ملكاً لها كما قد مناه و لذا قال فی الخانية لو اكلت من مالها او من المسئلة لها الرجوع بالمفروض ١ ه و كذا لـو تراضيا علی شيئی ثم مضت مدة ترجع بها ولا تسقط ..... الخ (در مختار و شـامی ص ۹۰۶ ، ص ۹۰۷ ج ۲ باب النفقة).
په امداد الفتاوی کې دي:

(۶۴۴ _ سوال): د دین علما او مفتی حضرات په دی مسّله کې څه وايي چې زيد له هندی سره نکاح وکړه بيا تر يوی هفتی پورې له خان سره ساتلو نه وروسته يې د هغې پلار کره وليږله. لدينه وروسته تر سو کلو پورې د هغې د نان او نفقی خبر وانخست په دی صورت کې د هندی پلار له زيد نه نان او نفقه شرعاً اخستلی شي او که نه ؟

(ځواب): فی الدر المختار والنفقة لا تصير دينا الا بالقضاء او الرضاء . الى قوله . فقبل ذلك لا يلزمه شئی....الخ .

لدې روايت نه معلوميږی چې د هندی پلار له زيد نه د نفقی په باره کې څه نشي اخستلی. البته که حاکم څه مقدار مقرر کړي يا ښځه او خاوند دواړه په يو خاص مقدار باندې اتفاق وکړی نو له همغه تاريخ نه د آينده لپاره هغه مقدار د قرض په توګه د هغه د خاوند په غاړه ده او ښځه د هغې مطالبه کولي شي.فقط والله اعلم بالصواب.، (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۵۴۷ مطبوعه ديوبند).

په فتاوای دارالعلوم کې دي :

(۳۰۲ _ سوال): زيد هندی ته دا الفاظ ووېل چې ما دا پرېښودله او زما له دی سره هيڅ واسطه نشته.که چيرته په همدې کال هنده قرض واخست او د خپل ژوندانه ضروریاتو کې ولګول نو د دی د ادا کولو صورت په څنګه وي ؟

(ځواب):.د فقه په کتابونو کې دي چې مخکينی نفقه د فيصلې او يا رضا نه پرته د خاوند په سر نه ده لهذا د تير شوی زمانی خرچه او نفقه له خاوند نه نشي غوښتلي البته که هغه پخپله خوښه ورکړی نوبيا صحيح ده.

په درمختار کې دي:

والنفقة لا تصير ديناً الا بالقضاء او لرضاء... الخ. فقط والله اعلم بالصواب.،
(فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ص ۱۳۰ ح ۱۱).

دريمه فتوی :

(۵۰۴ _ سوال):.د محمد اسحاق يوه ماشومه لور د هغې طلاقه شوي ښځې سره لاړه تقريباً پنځه کاله کيږی چې له هغې سره اوسيږی، د جلی مور قرض پورې اخستی او د هغې پرورش کړی ده ايا د دغې تير شوي زمانی خرچه په محمد اسحاق باندې ده او که نه ؟

خواب ... اصل دا دی چي ماضي نفقه ساقطيږي. د قاضـی لـه فیصلې او د خاونـد لـه رضا نه پرته دغه خرڅه د خاوند پر ذمه نه ده

كما في الدر المختار والنفقة لا ... دينا الا بالقضاء او الرضاء... الخ.

نو د همدغې قاعدې په مطابق كله چې قضاء يا رضـاء د نفقـې پـه كـوم خـاص مقدار باندی نه ده شوی نو هغه ساقط شوی ده (فتاوای دارالعلـوم مـدلل ومكمـل ج ۱۱ ص ۱۴۱ .۲٦) فقط والله اعلم بالصواب.

كه چيرته د ماشومانو مور، نيكه او تره موجود وي نو پر مور باندې د ماشومانو نفقه واجبه ده او كه نه ؟

(۵۰۵ _ سوال): زما د نوسی خاوند وفات شوی دی، دهغه دوه ماشومان دی هلک یـې د دريو كلو دی او لور يې ديو كال ده. زما نوسـی خپـل پـلار كـره راغلـی ده او دواړه ماشومان هم ورسره دي ايا د دغو ماشومانو نفقه د هغه له نيكه نه اخستلی شي او كه نـه ؟ د ماشومانو نيكه او تره ژوندی دي، مهربانی وكړئ خواب راكړئ.

(خواب): كه چيرته له ماشومانو سره خپل مال حـال وی نـو همغـه مـال دی وربانـدې خرڅ كړی شي. په درمختار كې دي:

و تجب) النفقة بانواعها على الحر (لطفلة) يعم الانثى والجمع (الفقير) فان نفقة ... على مالكة والغنى في ماله الحاضر ..... الخ (در مختار مع رد المختار ۹۲۳/۲ باب النفقة فصل مطلب الصغير المكتسب نفقة في كسبه لا على ابيه.

او كه ماشومان خپل مال حال نه لري نو په مسؤله صورت كې د ماشومانو نان او نفقـه د هغه د نيكه په سر ده، په مذكوره صورت د ماشومانو نيكه او د هغوی تره موجـود دي د نيكه په موجودگی كې ورور تره او نـور لـه تـركې نـه محـروم وي لكـه چـې د پـلار پـه موجودگی كې دا خلك محروميږی، گويا حكماً پلار يې موجـود دی، كلـه چـې حقيقتـاً پلار موجود وي نو د ماشومانو د نفقی پوره مسؤليت او ذمـه واري پـه پـلار بانـدې وي، موري ذمه وار نه وي، همدغه راز كله چې پلار حكماً موجود وي نو په دی صـورت كـې هم د نفقی ذمه واري پر مور باندې نه وي بلكې په نيكه باندې ده چې حكماً د پلار پـه خای موجود دی. په شامي كې دي :

و لو وجد معها (ای مع الام) جد لاب بان كان للفقير ام وجد لاب واخ عصبی و ابن اخ او عم كانت النفقة على الجد وحده كما صرح به فى الخانية و وجه ذلك ان الجد يحجب الاخ وابنه والعم لتنـــزيله حينئذ منـــزله الاب و حيث تحقق تنـــزله منـــزله الاب، صار كما لو كان الاب موجوداً حقيقة و اذا كـــان الاب موجـــوداً حقيقةً لا تشار كه الام فى و جوب النفقة فكذا اذا كان موجوداً حكماً فتجب على الجد فقط ، بخلاف مالو كان للفقيرام وجد لاب فقط . فان الجد لم ينزل منــــزله الاب فلذ او جبت النفقة عليهما اثلاثا فى ظاهر الرواية كمامر (شـــامی ص ۹۳٦ ، ج ۲ باب النفقة).

(نوټ). که چیرته د ماشوم ورور تره یا دواړه نارینه اولاد نه وي صرف د ماشوم نیکـه او مور وي نو په دی صورت کې نیکه حکماً د پلار پر ځای نه کیږی نو په دی صورت کـې د ماشوم نفقه مور او نیکه دواړو باندې کیږی پر مـور بانـدې یوثلـث او نیکـه بانـدې دو ثلث، لکه چې د شامي له پورتنی عبارت ښخه ثابتيږی.همدغه راز په شامي کې دا الفـاظ هم راغلي دی:

قلت اعلم انه اذا مات الاب فالنفقة على الام والجد على قدر ميراثهما اثلاثا فى ظاهر الرواية و فى رواية على الجد وحدة ، كما سياتى (شامى ص ۹۲۵ ج ۲ باب النفقة مطلب الكلام على نفقة الا قارب) فقط والله اعلم بالصواب.

(۱) د کور کارونه لکه ډوډی او کتوي پخول پر ښځې لازم دی ؟

(۲) د کمزوری مور او معذور ورور او خور نفقه پر چا باندې ده ؟

(۵۰٦ _ سوال).:د خاوند له پاره پر ښځې خوراک ښناک تیارول او د کـور کارونـه کـول لازم دی او که نه ؟ د خاوند مور ډیره کمزوری دی، همدغه راز د هغه ورور او خور هـم معذور دي ایا د غه پر ښځې د ځپل خوانبی لیور او وریندار لپاره خوراک ښناک تیـارول ضروري دی او که نه ؟ بینوا توجرو.

(خواب).:که د ښځې تعلق له داسې کورنۍ سره وي چـې هلتـه ښځـې د کـور کارونـه پخپله کوي خوراک ښناک پخپله تیار وي نو په داسې ښځې بانـدې د ځپـل خاونـد لـه پاره خوراک ښناک تیارول او د کور کارونه دیانتاً لازم دی. خو که ښځـه ناروغـه وي نـو

په دی صورت کې ورباندې دغه کارونه لازم نه دي. محمد صلی الله علیه وسلم د حضرت علی رضی الله عنه او فاطمه الزهرا رضی الله عنها تر منځ تقسیم کړی و چې له کوره باهر کار دی حضرت علی رضی الله عنه کوي او د کور دننه کار دی فاطمه رضی الله عنها کوي. حال دا چې حضرت فاطمه رضی الله عنها د ټولو ښځو سرداره ده. لهذا پر ښځه دیانتا لازم دی چې ډوډی او کټوه پخه کړی او د کور کارونه ترسره کړي، د کور نه باندې کارونو ذمه وار ښځه نه ده. البته که ښځه له داسې کورنۍ څخه وي چې هلته ښځې د کور کارونه نه کوي نو په دی صورت کې پر خاوند باندې واجب دی چې ښځې لپاره تیاره ډوډی او کټغ برابر کړي. په درمختار کې دي:

(امتنعت) المرءة (من الطحن و الخبزان کانت ممن لا تخدم) او کان بما عله (فعلیه ان یاتیها بطعام مهیا والا) بان کانت ممن تخدم نفسها و تقدر علی ذلك (لا) یجب علیه و لا یجوز لها اخذ الاجرة علی ذلك لو جوبه علیها دیانة ولو شریفة لا نه علیه الصلوة والسلام قسم الاعمال بین علی و فاطمة رضی الله عنهما فجعل الا عمال الخارج علی علی رضی الله عنه والداخل علی فاطمه رضی الله عنها مع انها سیدة نساء العالمین بحر.

په شامي کې دي:

(قوله لو جوبه علیها دیانة) فتفتی به ولکنها لا تجبر علیه ان ابت ، بدائع (در مختار و شامی) (ج ۲ ص ۸۹۲ ، ۸۹۳ ، باب النفقة).

د خاوند کور او د هغه ورور او خور له پاره د ډوډی او ترکاری انتظام کول شرعاً پر ښځې باندې ضروري نه دی، البته که ښځه د خپلې خوابنې دکمزوري په وجه د هغې خدمت وکړی او د هغې لپاره ډوډی او ترکاری پخه کړی نو دا به هغې لپاره د ثواب کار وي لیکن دی کار لپاره هغه نشي مجبور ولی، خصوصاً کله چې هغه ناروغه وي، یا دومره نازکه وي چې د کور کار هغې لپاره له برداشت نه وتلی وي نو پر هغې زور نشي اچول کیدی. پر خاوند باندې لازم دی چې د خپل مور او معذور ورور او خور د خوراک څښاک بندوبست پخپله وکړي، که د خادم ضرورت وي نو خادم دی ورته ونیسي. په شامي کې دي:

(قوله كنفقة ...... وعرسة) ای لا يشارك احد فی نفقة ولا فی نفقة زوجنة (شامی ص ۹۲٦ ج ۲ ، باب النفقة) .

همدغه راز په شامي کې دي:

و انه اذا احتاج احدهما لخادم و جبت نفقة كما وجبت نفقة المخدوم فكان من جملة نفقة و اذا لم يحتج اليه فلا تجب عليه فاعلم ذلك واغتنمة فانه كثير الو قــوع و الله سبحانه و تعالى اعلم (شامی ج ۲ ص ۹۲۷ باب النفقة).

په درمختار کې دي.

و تجب ايضا (لكل ذی رحم محرم صغير اوانثی) مطلقاً (ولو) كانت الانثى بالغة صحيحة (او) كان الذكر (بالغاً) لكن (عاجزاً) عن الكسب (بنحــو زمانــه كعمی و عته و فلج زاد فی الملتقی والمختار او لا يحسن الكسب لحرفة او لكونة مــن ذوی البيوتات (در مختار مع شامی ص ۹۳۷ ،ص ۹۳۸ ج ۲ باب النفقة) فقــط والله اعلم بالصواب.

د عدت د زمانی نفقه پر خاوند باندې ده :

(۵۰۷ ـ سوال): يوې ښځې ته د هغې خاوند د حمل په حالت کې طلاق ورکړ نو د هغې عدت څومره دی او د عدت نفقه د هغې پر خاوند لازمه ده او که نه ؟ که لازم وی نو د هغې مقدار څومره دی ؟ بينوا توجرو.

(ځواب): که د حمل په حالت کې طلاق ورکړی وی نو د هغه عدت د ماشوم تر پيدا کيدو پورې دی. لکه چې آيت شريف دی:

وَأُوْلَاتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ.

د عدت د زمانی نفقه د هغې پر خاوند ده. په هدايه اولين کې دي:

و اذا طلق امراته فلها النفقه و السكنى فى عدتها رجعياً كلن او بائنا.

يعنی کله چې سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړی نو د عدت تر زمانی پورې نفقه او د اوسيدو کور په خاوند باندې دی، برابره خبره ده چې طلاق رجعی وي يا بائن. (هدايه اولين ج ۲ ص ۴۲۳ باب النفقه).

و اذا طلق الرجل امراته فلها النفقة والسكنى فى عدتها رجعيا كان او بائنا (قـدورى ص ۱۹۰ كتاب النفقات).

په درمختار کې دي:

(و) تجب لمطلقة الرجعى والبائن . الى قوله . النفقة والسكنى والكسوة (در مختار مع الشامى ج ۳ ص ۹۲۱ باب النفقة).

که خاوندېي مالداره وي نو د خپل حيثيت په مطابق به د عدت خرچه ورکوي او که خاوندېي مالداره نه وي نو اوسط نفقه به ورکوي لکه چې په شامي کې دي:

قال فى البحر وانفقوا على وجوب نفقة الموسرين اذا كان موسرين و على نفقة المعسر اذا كانا معسرين و انما الاختلاف فيما اذا كان احدهما موسراً و الاخر معسراً فعلى ظاهر الرواية لاعتبار لحال الرجل فان كان موسراً وهى معسره فعليه نفقة الموسرين وفى عكسة نفقة المعسرين . و اما على المفتى به فتجب نفقة الوسط فى المسئلتين وهو فوق نفقة المعسرة و دون نفقة الموسرة (شامى ج ۲ ص ۸۸۸ باب النفقة). فقط والله اعلم بالصواب.

ښځې ته له عدت نه وروسته د خپلو ماشومانو له پاره پيسې اخستل څنګه دی؟

(۵۰۸ ـ سوال): يوی ښځې ته د هغې خاوند مغلظ طلاق ورکړی دی، د هغه دوه واړه ماشومان دي او له مور سره دی. ښځې د ماشومانو له پلار نه د هغوی نان و نفقې مطالبه وکړه مګر هغه له ورکولو نه انکار وکړ. ښځې مجبوراً په کورټ کې عريضه وکړه، کورټ فيصله وکړه چې خاوند دی خامخا خپلو اولادو ته د مياشتې دوه دوه سوه او د هغې مورته دوه نيم سل روپی ورکړی. ښځه د خپل ځان له پاره دو نيم سل روپی نه آخلی البته د ماشومانو ګوزاره په څلور سو روپی ډيره ګرانه ده، که چيرته ښځه دا پيسې پخپلو ماشومانو باندې د خرچې په نيت واخلی نو د دی څه حکم دی ؟ بينوا توجروا!

(ځواب):د شرعي قانون مطابق که طلاقه شوي ښځه ناشزه نه وي نو د عدت د زمانې نان او نفقې حقداره ده، له عدت نه وروسته له خاوند نه خرچه اخستل ورته جائزه نه

دد په مسوله صورت کې ښځې ته د دود نیم سود روپو اخستل جائز نه دی. پخپلو ماشومانو باندې د خرچ کولو په نیت اخستل هم ورته جائز نه دي. البته په کورټ کې عریضه کولي شي چې په څلورو سوو روپو باندې د ماشومانو ګوزاره نه کیږی او د هغوی د نفقې پیسې دې زیاتې کړي . فقط والله اعلم بالصواب.

د عدت او دویم نکاح کولو پورې له خاوند نه د نفقې د غوښتلو لپاره په کورټ کې عریضه کول؟

(۵۰۹) سوال: یوې خپلې ښځې ته طلاق ورکړ. بیا هغه د مهر او عدت پیسې چې د محلې دیندارو خلکو ورباندې مقرر کړې دي هغه ورته ورکړي. ځو ورځې وروسته د ښځې پلار د هغې د خاوند په خلاف په کورټ کې مقدمه دائره کړه چې هغه خپلې طلاقې شوې ښځې ته د عدت پیسې ورکړي دي، لدینه زیاتي پیسې باید ورته ورکړي ښي همدغه راز تر دویم نکاح پورې دې ورته هره میاشت څه پیسې ورکړي، که چیرته په مذکوره صورت کې کورټ ښځې ته دغه پیسې مقرری کړي نو د دغو پیسو اخستل څنګه دي ؟ بینوا توجروا.

(خواب: دا چې د محلې دیندارو او معامله فهم اشخاصو د عدت د نفقې فیصله کړی او ښځې هغه فیصله قبوله کړې ده نو له دینه وروسته ښځې او د هغې پلار ته پکار دي چې په دغه فیصله باندې عمل وکړي.

والنفقة لا تصير دينا الا بالقضاء او الرضاء اى اصطلاحهما على قدر معين اصنافا لو درهم فقبل ذلك لا يلزمه شئي و بعدة ترجع بما انفقت در مختار مع الشامی باب النفقات مطلب لا تصير النفقة دينا... الخ .

۱- چون پلار د نفقې له ورکولو نه انکار کړی دی، نو اوس چې کورټ ښځې او د هغې اولاد لپاره کومې پیسې مقررې کړې دي، نو که هغه د ماشومانو د خرچې له پاره کافي دي، نو په دې صورت کې د دوارو ماشومانو پیسې ښځه اخستلی او پر هغوی خرچولی شي خو پخپله نشي استعمالولی.

دی لپاره د حضرت هنده هغه دلیل دی چې هغې له محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه او ورته یې وویل چې ابو سفیان کنجوس سړی دی، پوره خرچه نه ورکوي نو ایا زه په پټه د هغه مال استعمالولی شم؟ محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: د ضرورت په اندازه استعمالولی شي.(زجاجه المصابیح باب النفقات و حق المملوک ج۲ ص ۵۳۷).

که چیرته دا پیسې کمی وی نو په همغه وخت باید نه وای قبولی کړی. اوس پـه کـورټ کې عریضه کول نا جائز کار دی. همدغه تر دویمی نکاح پورې د نفقی مطالبه کـول هـم ظلم او له شریعت نه مخالف کار دی، د شرعي قانون په مقابل انګریزی قانون ته تـرجیح ورکول ایمان له خطر سره مخامخ کوي. توبه اسـتغفار دی وکـړي او خپـل عریضـه دی واپس واخلي. فقط والله اعلم بالصواب.

که د عدت په زمانه کې ښځه ناروغه شي نو د علاج خرچه د هغـې پر خاوند ده او که نه ؟

(۵۱۰ ـ سوال):.که ښځه د طلاق په عدت کې ناروغه شي نو د هغې د عـلاج خرچـه پـر خاوند باندې لازمه ده او که نه ؟ بینوا توجروا.

(خواب):.که چیرته ښځه د عدت په ورځو کې ناروغه شـي، نـو دوا د عـلاج خرچـه پـر خاوند باندې نه لازمیږی. په شامي کې دي:

لا الدواء للمرض ولا اجرة الطبيب. (شامي ص ۸۹۳ ج ۲ باب النفقة). فقط والله اعلم بالصواب.

د خاوند په وهلو ټکولو ښځه زخمی شوه او بیائی طلاق ورکړ نو د هغې د علاج پیسې پر چا باندې دي ؟

(۵۱۱ ـ سوال):.خاوند خپله ښځې ډیره سخته ووهله چې په ګیډه او کلمو کې زخمونـه جوړ شول او په هسپتال کې یي داخله کړه، خاوند یې د هغې په وهلو اقـرار کـوي او د کور نور خلک هم ورباندې ګواهي ورکوي، لدینه وروسته خاوند هغـه طلاقـه کـړه نـو د هغې د علاج دوا او خرچه پر چا کیږی؟

(خواب):.دا چې خاوند خپله ښځه ډیره سـخته وهلـی او زخمـی کـړی ده او د عـلاج لپاره په هسپتال کې داخله ده نو د هغې خرچه د هغه پـر خاونـد ده، لـه هغـه نـه بایـد واخستل شي. که چیرته اسلامي حکومت وی نو پر هغه د دیـت دریمـه حصـه لازمیـږی. په آخري هدایه کې دي:

ولا قصاص فى بقية الشجاج ..... و فى الجائفة ثلث الدية (هدايه اخرين ص ٥٧٤ كتاب الجنايات). والله اعلم

د ماشوم نفقه پر چا ده ؟

(۵۱۲ _ سوال) یو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی دي، که چیرته د عـدت پـه زمانه کې ماشوم له مور سره وي نو د هغه خرچه پر چـا ده او څـومره وخـت پـورې بـه ورکوي ؟

(خواب) د پرورش په زمانه کې د ماشوم نفقه د هغه په پلار باندې ده البته که پخپله لـه ماشوم سره مال وي نو دهغه له مال نه د هغه خرچه پوره کول پکـار دی. (درمختـار ۲ / ۹۲۳ باب النفقه).

او که د ماشوم پلاز مالداره وي نو د ماشـوم مـور د پـرورش د زمـانی معاوضـه غـوښتلی شي[1] (درمخنار شامي، ۲ / ۸۷٦. فقط والله اعلم بالصواب.

[1]- ((و تستحق الحاضة اجره الحضاة ارا لم تكن منكوحة ولا معتدة لابيه وهى غير اجرة ارضاعه و نفقتة قـال فى الشاميه تحت وله اذا لم تكن منكوحة الخ ان نفقة الصغير ما وجبت على ابيه لو غنيا والا فمن مال الصغير كان من حملتها الاتفاق على حاضنة التى حسبت لاجله ، باب الحضاة ج ۲ ص ۸۷٦).

باب الحضانة

پر ماشوم د تربيې حق څومره وخت پورې دی ؟

۵۱۳ ـ سوال): زما يو ماشوم دی چې عمر يې پنځه کاله دی هغه له مور سره اوسيږی د مور اخلاق خراب دي، ايا زه له هغې نه اخستلی شم او که نه ؟ زه ويريږم چې له هغې سره به زما د زوی اخلاق خراب شي.

(ځواب): د حضانت او ساتنې حق مور سره دی، هغه تر هغه له خپل ځان سره ساتلی شي ترڅو پورې چې د هغه خوراک څښاک، اغوستلو او د ناپاکې د پاکولو لپاره د مور ضرورت وي، د دې موده د هلک لپاره اووه کاله او ماشومې له پاره ۹ کاله ده. که خدای ناخواسته موريې مرتده يا بد چلنه شي، يا د ماشوم له غير محرم سړي سره واده وکړي نو له همغه وخت له د مور د پرورش حق باطليږی او دا حق د هغه نيا او نيکه لپاره ثابتيږی د مقدم حقدارانو په موجوديت کې تاسوله د هغه د اخستلو حق نشته. (هدايه ج۲ ص ۴۱۴ فتاوای عالمگيری ج۱ ص ۵۴۱)[1]

که ښځه د خپل پلار په کور کې عدت تير کړی نو د هغې د ورو ماشومانو نفقه پر چا ده ؟

(۵۱۴ ـ سوال): ما خپلې ښځې ته د هغې نافرمانی په وجه دری طلاقه ورکړی دی هغه له خپلو ماشومانو سره خپل پلار کره تللی ده، اوس د هغې او د ماشومانو نفقه پر ما ده او که نه ؟ که وي نو څومره وخت پورې ؟ ماشومان واړه دي د هغوی تربيه پر چا ده مهربانی وکړئ به تفصيل سره ځواب راکړئ. بينوا توجروا.

---

[1] - ((و اذا وقعت الفرقة بين الزوجين فالام احق بالو لد ..... فان لم تكن له ام فام الام اولى مـــن ام الاب ..... فان لم تكن ام الام فام الاب اولى من الاخوات ..... فان لم تكن له جده فالا حوات اولى من العمات ..... و الام و الجده احق بالغلام حتى يا كل وحده و يشرب وحد و يلبس وحده ويستنجى وحده ..... والخصـــاف قـــدر الاستغناء بسبع سنين احق بالجاية حتى تحيض باب حضانة الو لد ومن احق به و قد بستع و به يفتى در مختار مـــع الشامى باب الحضانة ج .۲ ص ۸۸۱) در مختار . شامى ج ۲ ص ۸۷۳).

(خواب):د عدت ترختمیدو پورې یعنی د دریو حیضونو تر راتلو پورې او که حامله وي نو د حمل د پیدا کیدو تر وخته پورې د ښځې نفقه او کور انتظام د خاوند په سر ده په دی شرط چې د خاوند په کورکې واوسیږی یا د هغه په اجازه بل کورکې واوسیږی، که نه نو پر خاوند د خرچې حق نه لري. که تا ورته اجازه ورکړي وي نو هغه د عدت د خرچې اخستلو حقداره ده.

(۲). که چیرته ستا ماشومان پخپله مال دولت لري نو د هغوی نان اونفقه او نور مصارف به د هغوی له خپلو پیسو نه کوي که مال دولت نه لري نو نفقه یې ستاسی په سر ده.

(۳). ستا د ماشومانو د پرورش حق له مور سره دي، هلکان تر اووه کلونو پورې او جلۍ تر نهو یا د حیض تر راتلو پورې ساتلی شي. که پرورش یې نه کوي لو پر هلې څه جبر او زور نشي کیدلی او که د ماشومانو مور د ماشومانو له غیر محرم سره واده وکړی نو د دې حق نه لري چې خپل ماشومان له ځان سره وساتي. بیا دا حق نیا آلي، خور، خاله او ترور ته رسیږی.

په شامي کې دي:

(الا ان تکون مرتدة) فحق تسلم لالما نحس (او فاجرة) فجور یضیع الــو لدبـه کزناء و غناء ،و سرقة ، و نیا حة الخ (در مختار مع الشامی ج ۲ ص ۸۷۳ بــاب الحضانة) ان اردت التفصیل فارجع الی اصل الکتاب الشامی).

پلار خپل زوی له مور نه کله اخستلی شي ؟

(۵۱۵ ـ سوال): په هندوستان کې یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی، له هغې سره د څلورو کلو ماشوم دی، اوس هغې د عربستان نجدکې واده کړی ده هغه غواړی دا ماشوم همغلته له ځانه سره یوسي، ایا له ځانه سره وړلی شي ؟ همدغه راز د هلک پلار له هغې نه اخستلی شي او که نه ؟

(خواب): په مسئوله صورت کې کله چې د ماشوم مور له پردي سړی سره واده کړی ده نو د حدیث اواسلامی فقه په رڼا کې د ښځې د پرورش حق ختم شوی نو ځکه هغه د دی حق نه لري چې خپل ماشوم له ځانه سره یوسي، له مور نه وروسته که د هغه نیا، انی نه وي چې د ماشوم د پرورش حق ورته وسپاری یا وی خو د هلک د پرورش کولو قابل نه وي نو د هغې پر مور دا فرض دی چې ماشوم خپل پلار ته وسپاری. په حدیث شریف کې دي چې یوه ښځه د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کې عرض وکړ

چې ای د الله رسوله! زما ماشوم زما په ګیډه کې و، تر یـوی مـودی پـورې زمـا شـیدی وڅکلی او زما په غیږکې لوی شو، د هغه پلار ماته طلاق راکړی دی، هغـه غـواړي چـې داماشوم زما له غیږنه واخلي. محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: (انت احق بـــه ما لم تنکحی) یعنی ترڅو پورې چې تـا واده نـه وي کـړی د دی د تربیـت حـق لـه تاسره دی.(ابو داود شریف کتاب الطلاق من احق بالولد ج ۱ ص ۳۱۰).

بد کاری ښځې ته طلاق ورکول، د هغې د مهر اوماشومانو پالنه :

(۵۱٦ ـ سوال):.د زید د واده ۳۹ کاله شوي دي، فی‌الحال له هغې نه ۸ ماشـومان دي. زید ته څو مودی راهیسې پخپلې ښځې د بدکاری شک دی او یـوځلې پـه قحبـه خانـه کې پخپلو سترګو لیدلې هم ده، تر اوسه پورې هغه د زید په کور کـې اوسـیږی لکـن لـه زید سره د ښځې په توګه له اوسیدو نه ګلکه ډډه کوي او ورته وایې چې ګوم وخـت نـه تا زه قحبه خانې (د زنا اډه). ته تللو نه منع کړی یم نو تـه هـم مـا تـه لاس مـه نـژدی کوه، که چیرته په داسې حالت کې ښځې ته طلاق ورکړی شي نو د ماشومانو د پـرورش صورت به څنګه وي ؟ ایا ښځه دا حق لري چې ماشومان لـه ځانـه سـره یوسـي؟ او کـه ماشومان به له خپل پلار سره اوسیږی ؟ داسې ښځه شرعاً د مهر حقـداره ده او کـه نـه ؟ ایا داسې ښځې ته طلاق ورکول ګناه لري او که نـه ؟ مهربـانی وکـړئ ځـواب راکـړئ. بینوا توجروا.

(ځواب).: واړه ماشومان مور له ځان سره وړلی شي د پرروش او پـالنی حـق همغـی تـه حاصل دی. کله چې هلک د ۷ کلو او جلۍ د نهو کلو شي یا د بلوغ حد ته ورسـیږی نـو بیا دا حق پلار ته حاصل دی. خو که ښځه بدکاري پـه وجـه لـه کـور نـه غائبـه وي او د ماشومانو حفاظت نشي کولي نو د هغې دا حق باطلیږی او د نیا انی حق جوړیږی.[1]

(۲). ښځه د مهر حقداره ده .

(۳). داسې ښځې ته طلاق ورکول ګناه نه لري، بلکې د غیرت تقاضا دا ده چـې طـلاق ورته ورکړی شي خصوصاً کله چې خاوند خپل خواته نه پریږدی. خو که لـه ښځـې سره

[1] - ((تثبت للام :.... الا ان تکون مرتدة او فاجرة در مختار مع الشـامی بـاب الحضـانة ج ۲ ص ۸۷۲ ولا حضانة لمن تخرج کل وقت و تترك البت ضائة کذا فی البحر الرائق فتاوی عالمگیری الباب السـادس عشـر فی الحضانة ج ۱ ص ۵۷۲).

يې مينه وي، په پرينبودلو کې د پريشانی کيدو انديښنه وی نو طلاق ورکول شرعا واجـب نه دی.

په حديث شريف کې دي چې يو سړی محمد صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او وويل ای د الله رسوله ! زما ښځه بدکاره ده زه ورسره څه وکـړم ؟ هغـه صـلی الله عليه وسلم وفرمايل: طلاق يې کړه. هغه وويل: (انی احبها) يعنی زما له هغـې سـره مينـه ده، ورته يې وفرمايل (امسكها اذاً). يعنی بيا له ځان سره وسـاته (مشـكوه شـريف ص ۲۸۷ باب العان).

نو ځکه فقهای کرام وايي چې بدکارو ښځو ته طلاق ورکول واجب نه دی که کوم عـذر او شرعي مصلحت وي نو له ځانه سره ساتلی شي.

لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة (در مختار مع الشامى ج ۴۰۲ فصل فى المحرمات)..

د حضانت او د نورو مختلفو حقوقو تحقيق:

(۵۱۷ _ سوال).: يو سړی خپلې ښځې ته مغلظ طلاق ورکړی دی، د هغـې يـوه وړه لـور ده، د هغې د پرورش حق پر چا ده .؟ که دا حق د هغې پـر مـور وي نـو څـومره وخـت پورې ؟ ايا هغه د دغې ماشوم نفقه او نور مصارف د هغې له پلار نه اخستلی شي او که نه ؟ همدغه راز د خپلې شيدی د ورکولو او د هغې د پالنی اجوره اخستلی شي او که نه ؟ مهربانی وکړئ مدلل ځواب راکړئ. بينوا توجروا.

(ځواب).: په مسئوله صورت کې که مور د خپل زوی د پرورش او پالنی له پاره امـاده وي نو د پرورش لومړی حق همغی ته حاصل دی، پلاريې په زوره له هغې نه نشي اخـستلی، فقهاو د هلک لپاره ۷ کاله او جلی لپاره ۹ کاله يا زيات نه زيات د حيض تـر راتلـو پـورې موده مقرر کړی ده. په فتاوای عالمگيری کې دي:

احق الناس بحضانة الصغير حال قيام النكاح او بعد الفرقة الام الا ان تكون مرتدةً او فاجرةً غير ما مونه كذا فى الكافى . الى قوله . والام والجدة احق بالغلام حتى يستغنى و قدر بسبع سنين و قال القدورى حتى يا كل وحدة يشرب وحده و يستنجي وحدة و قدرة ابو بكر الرازى بتسع سنين والفتوى على الاول والام والجدة احق بالجاريـــة حتى تحيض الخ (فتـاوی عـالمگيری ص ۱٦۵ ،۱٦٦ ج ۱ ، كتـاب الطـلاق بـاب ۱٦ فـی الحضانه).

په درالمنتقی شرح الملتقی کې دي

(ویکون الغلام عندهن) ای الحاضنات (حتی یستغنی عنها) ای عن النساء و یحتاج الی التخلق باداب الرجال و فسر القدوری الاستغناء (بان یا کل) وحدة (ویشرب) وحدة (ویلبس) وحدة (ویستنجی) ای یتطهر و قیل یزیل النجاسة عنه (وحدة) و قدر الا ستغناء (بتسع) سنین والمقدر ابو بکر الرازی (اوسبع) والمقدر الخصاف قالوا و علیه الفتوی اعتباراً للغالب . الی قوله . و تکون (الجاریة عند الام او الجدة) ام الام او الاب (حتی تحیض) فی ظاهر الوراية ...... (و عند محمد حتی تشتهی کما) تکون الجاریة (عند غیرهما) ای الام والجدة (عند غیرها) ای الام والجدة حتی تشتهی (به یفتی لفساد) اهل (الزمان) وفی الخلاصة و غیرهما و علیه الاعتماد وحد الشهوة تسع سنین و علیه الفتوی ذکره الزیلعی وغیره (در المنتقی شرح الملتقی علی هامش مجمع الانهر ج ۱ ص ٤٩ باب الحضانة.

که خدای ناخواسته مور یې مرتده شي یا بدکاره او لیونی شي، یا هم د ماشوم صحیح پالنه ونشي کړی یا د ماشوم له غیر محرم سره نکاح وکړی نو بیا د مور د پرورش حق له ماشوم نه ختمیږی او دا حق د ماشوم نیا، انی، خور، خاله او ترور ته منتقلیږي. (هدایه اولین ص ۱۴۴ درمختار، شامي ج ۲ ص ۸۷۳ ــ عالمګیري ج۱ ص ۵۴۱ بحواله فتاوای رحیمیه ج۲ ص ۱۵۴ د دغه باب لومړی سوال دی ولوستل شي).

د پرورش په زمانه کې د ماشوم نفقه او خرچه د پلار په غاړه ده، که ماشوم پخپله مالدار وي نو له همغه نه دی د هغه مصارف پوره کړی شي.

په درمختار کې دي:

(تجب) النفقة بانواعها علی الحر (لطفلة) یعم الانثی الذکر (الفقیر) الحر فان نفقة المحاوك علی مالکه والغنی فی ماله الحاضر فلو غائباً فعلی الاب الخ (در مختار ج ۲ ص ٦٢٣ ، ٩١٤ باب النفقة).

که ښځه منکوحه یا طلاقه شوی وي نو پر هغې دیانتاً لازم دی چې خپل ماشوم ته حپلې شیدی ورکړی او پرورش یې وکړی لهذا د عدت په زمانه کې ښځه نه د شدو

ورکولو اجوره غوښتلی شي او نه هم د ماشوم د حضانت اجوره په هدایه اولین کې دی

وان استاجرها وهي زوجة او معتدة لترضع ولدها لم تجز لان الا رضاع مستحق عليها ديانة قال الله تعالى والوالدات يرضعن اولادهن الخ . (هدايه اولين ص ٤٢٤ . ٤٢٥ فصل فى نفقة الاولاد الصغار).

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی په بیان القران کې لیکي:

مسٔله: که چیرته مور خپل ماشوم ته د سینې ورکولو اجوره غواړي، که هغه د خاوند په نکاح کې وي یا هم طلاقه شوي وی خو په عدت کی وي نو په دواړو حالتونوکې هغې ته اجوره اخستل جائز نه دی، بلکې قضاً هم دیته مجبورولی شي چې خپل ماشوم ته شیدی ورکړي. (بیان القران ص ۱۴۱ ج ۱سوره بقره).

حضرت مفتی محمد شفیع صاحب په معارف القران کې لیکي:

دولسم حکم: ماشوم ته د شیدی ورکولو اجورت دی. ترڅو پورې چې ښځه د خاوند په نکاح کې وي تر هغه وخته پورې د ماشوم شیدی پر هغې باندې د قران کریم په حکم واجب دی.

وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ.

کوم کار چې د چا په سر واجب وي پر هغه معاوضه او اجوره اخستل د رشوت حکم لري چې اخستل هم جائز نه دی او ورکول هم، د عدت ورځې هم په دی معامله کی د نکاح په حکم کې دي ځکه چې د ښځې نفقه څنګه د نکاح په حالت کې د هغې پر خاوند باندې لازمه ده په عدت کې هم واجبه ده...... الخ. (معارف القران ص ۴۹۱ ج ۸ پاره ۲۸ سوره طلاق).

که چیرته له عدت نه وروسته مور د ماشوم مفت پرورش لپاره تیاره نه وي او د پالنې او شیدی ورکولو معاوضه غواړی، پلار یې مالداره وي نو معاوضه دی ورکړي خو که غریب وي او د ماشوم ترور او نور خپلوان مفت پرورش ته تیار وي نو هغوی ته د ماشوم د حضانت حق حاصل دی او د مور حق ساقطیږي، البته که مور له خپل زوی سره ملاقات کول غواړی نو د ماشوم پرورش کونکو ته پکار دي چې ورته د ملاقات اجازه ورکړی په قران کریم کې دي :

فإنْ أرْضعْن لكُمْ فاتُوهُنّ أُجُورهُنّ وأْتمِرُوا بيْنكُم بمعْرُوفٍ وإن تعاسرْتُمْ فسترْضِعُ لهُ أُخْرى ۞.

په بیان القران، کې دي: که چیرته له عدت نه وروسته هغه طلاقی شوی ښځې چې لـه ښځکې نه په کیده کې ماشوم پاتی شوی وي یا هم د ماشوم د پیدا کیدو پـه وجـه يې عدت ختم شوي وي او تاسوته د اجرت په عوض کې ماشوم ته شیدی ورکړی نو هغـوی ته تاکل شوی اجورت ورکړی او د اجرت په باره کې پخپلو کې مناسـبه مشـوره وکـړئ، یعنی نه دی ښځه دومره زیات اجوره وغواړي چې سړی بلـه مـور ورتـه وګـوري او نـه سړی دومره کم اجوره ورکړی چې د ښځې ګوزاره ورباندې ونشي، بلکې حتی الامکـان دواړه دی د دی پوره خیال وساتی، ترڅو خپل اصلی مور ورته پـی ورکـړی پـدی کـې ماشوم لپاره زیاته ګټه ده او که تاسی پخپلو کې کشمکش کوئ نو بله ښځه به ورته خپـل پی ورکوي. (بیان القران ص ۱۸ ج ۱۲ پاره ۲۹ سوره طلاق).

په درمختار کې دي:

(ويستحق) الحاضنة (اجرة الحضانة اذا لم تكن منكوحة ولا معتدة) لابيه وهى غير ارضاعة و نفقة كما فى البحر عن السراجية الخ .

په شامی کی دي :

(قوله اذا لم تكن منكوحة ولا معتدة ابيه) هذا قيد فيما اذا كانت الحاضنة اما فلـو كانت غيرها فالظاهر استحقاقها اجرة الحضانة بالا ولى ..... الى قوله ..... بخلاف ما بعد انقضاء العدة فانها تستحقها عملاً بشبة الا جرة ، الخ . (قوله وهى غير اجرة ارضعة و نفقة) قال فى البحر فعلى هذا يجب على الاب ثلثة اجرة الرضاع و اجـرة الحضانة و نفقة الوالد او مثله فى الشرنبلالية (در مختار و شـامى ص ۸۷٦ ج ۲ ، باب الحضانة) ص ٤٥٦ .

په يوبل خاى كى دي :

(او بت ان تربية مجاناً) والحال ان الاب معسر والعمة تقبل ذلك) اى تربية مجانا ولا تمعنة عن الامر ..... (در مختار)

په شامی کی دی :

(قوله والخال ان الاب معسر) كذا قيده في الخانية والبزازية زالخلاصة والظهيريـــة و كثير من الكتب و ظاهرة تخلف الحكم المذكور مع يسارها لان المفهوم في التصانيف حجه يعمل به رملي وفي الشرنبلالية تقييد الدفع للعمة بيسارها و اعسار الاب يفيـــد ان الاب الموسر يجبر على دفع الاجره للام نظراً للصغيرة قلت والمراد من هذه الا جرة اجرة الحصانة كما هو مفهوم من سياق كلام المصنف تبعاً للفتح والدر روالبحـــر الخ (قوله ولا تمنعة عن الام) اى عن زويتها له و تعهدها اياه (در مختـــار و شـــامى ص ۸۷۳ ج ۲ ، باب الحضانة) فقط والله اعلم بالصواب.

(۱). د ماشوم د پرورش له پاره د هغه مـور مجبـورول (۲). د ولادت خرچه پر چا ده ؟

(۵۱۸ _ سوال).:يو سړی خپلې ښځې ته د حمل په حالت کې مغلظ طلاق ورکـړی دی، که چیرته د ماشوم د پیدا کیدو نه دوه میاشتی وروسته مور د خپـل زوی لـه پـرورش نـه انکار وکړی او ماشوم خپل پلار ته وسپاری نو د دی څه حکم دی ؟ ایـا پـه دی صـورت کې ښځه دیته مجبورولی شي چې د خپل زوی پرورش وکړی او تـی ورتـه ورکـړی ؟ دا هم بیان کړی چې د ولادت خرچه د چا په سر ده ؟

(ځواب).:که چیرته د ماشوم پدري آنی او یا بل کوم دی محـرم ښځـه موجـوده وي او ماشوم مور ته محتاج نه وي، بله کومه ښځه هغه ته د شـیدی ورکولـو او حفاظـت لپـاره موجود وي نو د ماشوم مور د هغه د پرورش او تی ورکولو لپاره نشي مجبورولی، خو کـه چیرته د ماشوم د پرورش او تی ورکولو لپاره څوک موجود نه وي یا د بلی ښځې شـدی نه څکې نو بیا د ماشوم مور د هغه د پرورش او تی ورکولو لپاره مجبـورولی شـي. پـه در مختار کې دي:

(ولا تجبر) من لها الحضانة (عليها الا اذا تعينت لها) بان لم ياخذ ثدى غيرها او لم يكن للاب ولا للصغير مال به يفتى ..... و اذا سقطت الام حقها صارت كميتة او متزوجه فتنتقل للجده بحر . ولا تقدر الحاضنة على ابطال حق الصغير فيهما.

په شامي کې دي:

حضانہ فی الحضانة هل حق الحاضنة او حق الولد فقیل بالاول فلا تجبر اذا امتنعت و رجحه غیر واحد و علیه الفتوی و قیل بالثانی فتجبر و اختاره الفقهاء الثلاثة ابو اللیث والهندوانی و خواهرزادة ..... قال فی البحر فالترجیح قد اختلف والاولی بالا فتاء بقول الفقهاء الثلاثة لکن قیدة فی الظهیریة بان لا یکون للصغیر ذو رحم محرم فحینئذ تجبر الام کی لا یضیع الولدا مالو امتنعت الام و کان له جدة رضیت بامساکه دفع الیها لان الحضانة کانت حقا للام فصح اسقاطها حقها الخ (در مختار و شامی ص ۸۷۵ ج ۲ ، باب الحضانة).

په هدایه اولین کی دی :

و اذا وقعت الفرقة بین الزوجین فالام احق بالولد . الی . و النفقة علی الاب علی ما تذکرة والا تجبر الام علیه لانها عست تعجز عن الحضانة.

په حاشیه کې دي:

قوله ولا تجبر الا علیه ای علی اخذالولد اذا ابت او لم تطلب کـذا ذکـره الا ان لا یکون للولد ذو رحم محرم سوی الام فتجبر علی حضانتة لئلا یفوت حق الولد اذا الا جنبیه لا شفقة لها علیه ۱۲ عنایة (هدایه ۴۱۴ باب حضانة الولد)

د ولادت خرچه د پلار په غاړه ده ځکه چې ماشوم د همغه دی او د ولادت زیاته ګټه ماشوم ته رسیږی، علامه شامي همدیته ترجیح ورکړی دی.

و فیه اجرة القابلة علی من استاجرها من زوجة او زوج ولو جاءت بلا استئجار قیل علیه و قیل علیها.

په شامي کې دي:

(قوله قیل علیه الخ) عبارة البحر عن الخلاصة فلقائل ان یقول علیه لانه مؤنه الجماع و للقائل ان یقول علیها کاجرة الطبیب . الی قوله . و یظهر ترجیح الاول لان نفع القابلة معظمه یعود الی الولد فیکون علی ابیه تامل (در مختار و شامی ص ۸۹۳ ج ۲ باب الحضانة).

په فتاوای دارالعلوم کې دي:

(ـ سوال): په ولادت خانه کې چې کوم مصارف شوي وي هغه د خاوند په سر دي او که نه؟

(خواب): هو! دغه ټول مصارف د خاوند په سر دي. (فتاوای دارالعلوم مدلل و مکمل ص ۱۵۰ ج ۱۱). فقط والله اعلم بالصواب.

که د پرورش په وخت کې د ماشوم پلار له خپل اولاد سره لیدل غواړي نود ملاقات وخت دی ورته ورکړی شي.

(۵۱۹ ـ سوال): ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی. زما ښځه نیمګو کلو عمر کې لور ده، زه چې له خپل لور سره د ملاقات له پاره ورځم نو خلک راته اجازه نه راکوي، راته وايي چې له غتیدونه وروسته ورسره ملاقات کولي شي. ایا د هغوی دا حرکت صحیح دی؟ او زه خپل لور د هغې له مورنه کله اخستلی شم؟ بینوا توجروا.

(خواب): د وړو ماشومانو د پرورش حق د هغه مور ته حاصل دی. که هلک وي تر اووه کلو پورې او که جلۍ وي نو ۹ کاله، یا زیات نه زیات د حیض تر راتلو پورې مور له ځان سره ساتلی شي، لدینه وروسته پلار یې کولي شي چې ترینه واخلي مور یې حق نه لرې چې ایساری کړی، که د پرورش په وخت کې د ماشوم پلار له اولاد سره ملاقات کول غواړي هغه ته دی د ملاقات کولو حق ورکړی شي. ځکه چې د هغه اولاد دی، له ملاقات نه منع کول ظلم دی. (۱) فقط والله اعلم بالصواب.

(۵۲۰ ـ سوال): یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړ له هغې نه یو زوی دی چې عمر یې دوه کاله دری میاشتې دی. لدینه وروسته هغې د ماشوم له نامحرم سړی سره واده وکړه. ایا له نکاح نه وروسته دغه ښځه د دې حق لري چې د خپل ماشوم پالنه وکړي او که نه؟

(خواب): کله چې د ماشوم مور داسي سړی سره واده وکړي چې د ماشوم محرم نه وي نو د هغه د مور دا حق باطلیږی چې د خپل ماشوم پرورش وکړی، دا حق د ماشوم

---

(۱) ((الولدمتی کان عندا حدا لا بوین لا یمنع الاخر عن النظر الیه و عن تعاهده کذا فی التتار خانیه ناقلا عن الحاوی فتاوی عالمګیری اخر الباب السادس عشر فی الحضانة ج ۱ ص ۵۴۳)).

پدري نيا يا نورومحترمو ته علي الترتيب رسيږي، لدينه وروسته مور په زوره نشي کولی چې خپل ماشوم له ځان سره وساتي.
په در مختار کې دي:
باب الحضانة تثبت للام ..... الا ان تكون مرتدة او فاجرة . الى . او متزوجه بغير محرم (در مختار مع رد المحتار ص ۸۷۲ ج ۲) فتاوى عالمگيرى ۲/۱۶۵ كتاب الطلاق ، باب ۱۶ فى الحضانة). (۱) ما چې کومه ښځه طلاقه کړې ده له هغې سره زما يو ورکوټی ماشوم دی هغه به څومره وخته له خپلې مور سره وي ؟
(۲) ايا يوه دوه ورځو لپاره هغه خپل کورته راوستلی شم او که نه ؟
(۵۲۱ _ سوال): ما خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړی دی او د هغې ۹ مياشتو وړوکې ماشوم دی هغه به له چاسره پاتې کيږی او څومره وخت پورې به ورسره وي؟
ايا زه خپل ماشوم د يوه دوه ورځو لپاره خپل کورته هم راوستلی شم او که نه؟
(ځواب): حامداً و مصلياً و مسلماً د وړو ماشومانو د پرورش حق د هغوی په مور دی او دا تر اووه کلو پورې دی.[1]
لدينه وروسته پلار خپل زوی ترينه اخستلی شي، که پلار له خپل زوی سره ملاقات کول غواړی نو ورسره کولي شي، د ماشوم مور او نور خپلوان له ملاقات نه نشي منع کولي ځکه چې هغه يې زوی دی، که چيرته مور يې يوه دوه ورځو لپاره خپل پلار کورته پريښلو رضا وي نو پلار خپل زوی يوه دوه ورځو لپاره خپل کورته راوستلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

ايا د پلار له خوښې نه بغير مور خپل زوی له ځان سره ساتلی شي؟

(۵۲۲ _ سوال): له صالحی نومي ښځې سره د زيد نکاح شوي و، تقريباً دوه مياشتی له خپلې خوابنې او خسر کره واوسيدلی، بيا ښځه او خاوند دواړه له خپل مور و پلار نه جدا شول. څه وخت وروسته د دواړو ترمنځ جګړه وشوه، صالحه زيد پريښود او خپل پلار کره لاړه، کوم وخت چې صالحه خپل پلار کره لاړه نو هغه حامله وه، بيا يې زوی

[1] - ((باب الحضانة تثبت للام ..... والحاضنة اما او غيره احق به اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء و قدر بسبع و به يفنى در مختار مع شامي ج ۲ ص ۸۷۰ ، ۸۸۱ الولدمتى كان عندا حد الا بوين لا يمنع الاخر عن النظر اليه و عن تعاهده فتاوى عالمگيرى اخرالباب السادس عشر فى الحضانة ج ۱ ص ۵۴۳).

وشو چې اوس تقریبا د لسو میاشتو دی، د دواړو ترمنځ اختلاف تر اخری حده پورې رسیدلی دی دواړه د طلاق لپاره آماده دي، لیکن زید وایې چې زه خپل زوی غواړم. مګر د صالحې پلار طلاق لپاره خو اماده دی خو د ماشوم له ورکولونه انکار کوي. هغه وایې چې ماشوم لا ورکوټی دی، له پلار نه مور ته زیات ضرورت لري، له ماشوم سره زمونږ مینه پیدا شوی ده. مګر زید وایې چې که ماته خپل زوی راکړی نو طلاق به ورته ورکړم او که رانه کړ نو نه طلاق ورته ورکوم او نه خپله ښځه کورته راولم. اوس سوال دا دی چې ایا د زید رضا نه خلاف صالحه یا د هغې پلار ماشوم له خپل ځان سره ساتلی شي او که نه ؟

(۱) د زید د رضا په خلاف صالحه یا د هغې پلار شرعاً ترڅو پورې خپل زوی له ځان سره ساتلی شي ؟

(۲) پر ماشوم باندې اصلي حق د چا دی ؟ د مور او که پلار یا د لیکه ؟

(ځواب): حامداً ومصلیاً و مسلماً د وړوکي ماشوم د پرورش له تولو له زیات حق د هغه د مور دی، که مور د خپل ماشوم پرورش کول غواړي نو په زوره له هغه نه اخستل جائز نه دی، فقهاو د پرورش حق اووه کلو ښودلی ده مګر د جلی ۹ کاله او زیات له زیات د حیض تر راتللو پورې دی.

په فتاوی عالمګیری کې دي:

احق الناس بحضانة الصغير حال قيام النكاح او بعد الفرقة الام الا ان تكون مرتدة او فاجرة غير ما مونة كذا في الكافي . الى قوله . والام والجدة احق بالغلام حتى يستغني و قدر بسبع سنين و قال القدوری حتى يا كل ويشرب وحده و قدر ابو بكر الرازی بتسع سنين والفتوى على الاول والام والجدة احق بالجاريه حتى تحيض الخ (عالمګیزی ۱/۱٦٥، ١٦٦، باب ١٦ ایضاً کتاب الطلاق). **(۲). که خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړی وي بیا هم د ماشومانو د پرورش حق همغې ته دی، برابره خبره ده چې د ماشوم پلار رضا وي او که نه، البته که مور یې د ماشوم له غیر محرم نه علاوه له بل چاسره واده وکړه نو د هغې د پرورش دا حق پخپله ختمیږی او د هغه د پرورش حق د هغه پدري نیا مشره نیا او نورو محرموته علی‌الترتیب حاصل دی. فقط**

که چیرته ښځه او خاوند او نور عزیز و اقارب دی نتیجی ته رسیدلی وي چې د دواړو ترمنځ روغه جوړه ناممکنه ده او له طلاق نه علاوه بله چاره نشته نو خاوند نه پکار دي

حتى له څه شرط نه پرته د شريعت په مطابق طلاق ورکړي. دا چې شـريعت د ماشـوم د پرورش حق د هغه مور ته ورکـړی وی نـو د طـلاق لپـاره د ماشـوم د ورکولـو د شـرط اسـودلو حق نه لري. د ماشوم معلق پريښودل هـم غلـط کـار دی، کلـه چـې د پـرورش وخت پوره شي نو پلار خپل ماشوم ترينه اخستلی شي. په هغه وخت کې د ماشوم مور او د هغه نيا نيکه د انکار حق نه لري، ماشوم به خامخا پلار ته حواله کوي. فقط والله اعلـم

باب النسب

که په غلطی سره له رضاعي خورزی سره واده وشو نو څه وکـړي ؟ اولاد یې ثابت النسب او وارث ګرځی او که نه ؟

(۵۲۳ سوال): د دین علماء په دی لاندینی مسٔله کې څه وایې چې زید په ماشوم تـوب کې د خپلې مادرې انی تی رودلی وه، وروسته د هغه نکاح د هغې د (رضـاعې خـور) له لور (رضاعې خورزی) سره وشوه.د دغې نکاح تقریباً ۲۵ کاله شـوي دی.د زیـد دوه جنوکیانی او دوه هلکان هم له هغې نه شوي دی، د هغې د دواړو لورګـانو هـم ودونـه شوي دی او ترینه ماشومان هم پیدا شوي دی.اوس زید ته معلومه شوي ده چـې ښځـه یې رضاعې خورزه او هغه یې ماما دی،لهذا نکـاح یـې صـحیح نـه ده، زیـد ډیـر زیـات پریشان او خفه دی چې د دی باوجود چې د نکاح ۲۵ کالـه تـیر شـوي دی او اولادونـه یې هم پیدا شوي دي نو ایا دا نکاح واقعي صحیح نـه ده ؟ ایـا اوس دواړه د ښځـې او خاوند په توګه وخت تیرولی شي ؟ ایا د دواړو ترمنځ تفریق ضروري دی ؟ ایـا د هغـو د خلـور مـاشومانو نسب له زید نه ثابت دی او که نه ؟ ایا هغـوی د زیـد وارثـان دی او که نه ؟

(ځواب): کله چې له شرعي حجت نه ثابت شي چې زید واقعی د رضاعت په موده کې د خپلې انی تی رودلی ده نو د زید دغه خاله زاد خـور رضـاعې خـورزه هـم ده لهـذا نکاح یې صحیح نه ده، دواړه د ښځې او خاوند په څیر نشـي اوسـیدلی د دواړو تـرمنځ تفریق ضروري دی.د هغو د ماشومانو نسب د زید نه ثابت دی او د هغه وارثان دی.

رجل مسلم تزوج بمحارمه فجئن باولاد یثبت نسب الا ولاد منه ، عند ابی حنیفـة رحمه الله تعالی خلافا لهما بناء علی ان النکاح فاسد عند ابی جنیفة رحمه الله تعـالی باطل عندهما کـــذا فی الظهیریة (فتـاوی عـالمگیری ج ۱ ص ۵۴۰ البـاب الخامس عشر فی ثبوت).

د خاوند له مړ کیدونه پنځه کاله وروسته ماشوم پیداشو نو د دی څه حکم دی ؟

(۵۲۴ ـ سوال):د یوی ښځې خاوند پنځه کاله وړاندې مړ شوی دی، اوس د هغې زوی پیدا شوی دی، ددغه ماشوم په باره کې د شریعت څه حکم دی ؟ حلالی دی او که حرامی ؟ له دغې ښځې سره د هغه خپلوانو او کلی خلکو سلوک څنګه پکار دي ؟ بینو توجروا.

(ځواب):که د خاوند له مړ کیدو نه وروسته په دوه کلونو کې دننه ماشوم پیدا شي نو هغه ثابت النسب نه دی،لهذا په مسُوله صورت کې چې ماشوم پنځه کاله وروسته پیدا شوي نو هغه ثابت النسب نه دی.

ولو فات عنها قبل الدخول او بعده ثم جاء ت بولد من وقت الوفاة الی سنتین یثبت النسب منه و ان جاء ت به لا کثر من سنتین من وقت الوفاة لا یثبت النسب ۵۱ (فتاوی عالمگیری ج ۲ ص ۱۶۳ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب).

البته که چیرته ښځې د عدت له وفات نه وروسته شرعي نکاح کړی وي نو بیا دا د بل خاوند ماشوم دی.کومه ښځه چې حرامی ماشوم وزیږوي له هغې نه د اړیکو غوځول ضروري دی، له هغې سره دی ناسته ولاړه ونکړی شي ترڅو ورته د عبرت درس وګرځی او آئنده لپاره له داسي کارنه ځان وساتي، فقط والله اعلم بالصواب.

که د ښځې او خاوند ترمنځ لس کاله جدایي وي نو اولاد یې ثابت النسب دی او که نه ؟

(۵۲۵ ـ سوال):د لاندینی مسٔلی په باره کې د دین علماء او مفتیان څه وایي :

د ښځې او خاوند ترمنځ تر لسو کلو پورې جدائی وو یعنی دواړه له یو بل نه جدا وو او له یو بل سره نه یو ځای کیدل، خاوند یې بل واده وکړه، اوس لس کاله وروسته له لومړی ښځې نه ماشوم پیدا شوي دی، نو دا ماشوم به د چا ګڼل کیږی؟ ایا دا ماشوم د هغه د مال او جائداد شرعاً وارث کیدی شي او که نه ؟ بینوا توجروا.

(ځواب):په مسُوله صورت کې چې خاوند تر لسو کلو پورې همداسې معلقه پریښی ده او هیڅ قسم حق یې نه دی ادا کړی نو دا پر هغې ډیر سخت ظلم او ناروا دی، خاوند

یې ډیر سخت ګنهګار او دغه ماشوم د حدیث له مخې الولد للفراش (بخاری شـریف). د ښځې د خاوند په طرف منسوب دی او ثابت النسب شمارل کیږی.
په عالمګیری کې دي:
والحکم فیه انه یثبت النسب من غیر دعوه لا ینتفی بمجرد النفی و انما ینتفی باللعـــان
(عالمگیری ج ۲ ص ۱۶۳ فصل فی ثبوت النسب).
لهذا ماشوم ته حرامی ویل او د هغې پر مور باندې له څه شرعي حجـت نـه بغیر د زنـا تهمت لګول صحیح نه ده، ممکن دی چې خاوند خپلې ښځې تـه پـه پټـه تللـی وی یـا ښځه خاوند ته تللی وی.
خو که خاوند انکار وکړی چې زه په دی لسو کلو کې له هغې سره نه یم یو ځـای شـوی او ماشوم له ما نه دی بلکې ولدالحرام دی، ښځه زانیه او بدکاره ده نو بیا به فیصـله پـه لعان باندې کیږی. په قران کریم کې دي:
وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاء إِلاَّ أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَـــهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ٥.
د لعان صورت دا دی چې د شرعی قاضي په عدالت یا د مسلمانانو په جرګې کې مقدمه پیش کړی شي، لومړی خاوند څلور کرته ووایې چې زه په قسم خوړلـو ګـواهی ورکـوم چې ما پر خپلې ښځې کوم تور لګولي دی په هغه کې ریښتونی یم او پنځم کرت ووایـې چې که زه دروغجن یم نو پر ما دی خدای لعنت وي.
بیا دی ښځه څلور کرته ووایی چې زه ګواهي ورکوم چې زما خاوند پـر مـا د زنـا کـوم تهمت لګولي دی دروغجن دی او په پنځم ځل ووایې چې که هغه ریښتونی وي نـو پـر ما د الله غضب نازل شي.
لدینه وروسته د دواړو ترمنځ تفریق کیږي او ښځې ته خپل مهر ورکول کیږی اود ماشـوم نسب له پلارنه قطع کیږی او ښځې ته د عدت له پورې کولونه وروسته له بل سـړی سـره د نکاح کولو حق لري. فقط والله اعلم بالصواب.

که په غلطی سره له رضاعي وریږې سره نکاح وشي نو څه حکم یې دی؟ اولاد یې ثابت النسب دی او که نه؟

(۵۲۶ ـ سوال): زمونږ په خاندان کې د یو ځوان هلک له داسي جلۍ سره په نا خبرۍ کې نکاح شوي چې هغې د رضاعت په موده کې د هغه هلک د مشرورور لـه ښځـې نـه

تقریباً تر دوه کلو پورې شیدی څکلی دي، د خاندان خلک لدینه خبر وي او ښځـه هـم په پوره یقین سره وايي چې ما ورته شیدی ورکړی دي مګر د نکـاح پـه وخـت د هیڅـا فکر ورته نه دی شوي او په لاعلمی کې ورسره نکاح وشوه. د دغـې نکـاح تقریباً پنځـه کاله شوي دي دوه ماشومان یې هم شوي دی، دواړه ښه خوشحاله ژوند تیروي اتفاقاً د دغه خاندان یو هلک په دارالعلوم کې سبق وايي د هدایـه اولـین پـه سـبق کـې خیـال راغی چې زمونږ په خاندان کې کومه نکاح شوي ده هغه صحیح نه ده باید فسـخ کـړې شي، څکه چې د ښځې او خاوند ترمنځ رضاعي رشته ده یعنی خاونـد د ښځـې رضـاعي تره او ښځه د هغه رضاعي وریره ده، دغه هلک دا خبره د هغې خاوند ته وکـړه او ورتـه یې وویل چې ستا ښځه ستا رضاعي وریره ده لهذا ستاسی دا نکاح د فسخ قابله ده.

په دی خبره د ښځې او خاوند خپلوانو ته ډیر پریشانی پیدا شوه تاسی مهربـانی وکـړئ په دی باره کې مدلل څواب راکړي چې دغه نکاح صحیح ده او که قابل فسـخ ؟ کـه د فسخ قابل وي نو اولاد یې ثابت النسب دي او که نه ؟

(څواب). په مسٔوله صورت کې چې کله د مشر ورور ښځه په پوره یقین او قسم سره دا وايي چې ما دغې جلی ته د رضاعت د عمر په موده کې خپلې شیدی ورکـړی دي او د کور خلک هم ترینه خبر دي، نو دغـې جلـی شـیدی ورکـونکې رضـاعي مـور اودهغـې خاوند د دغې جلی رضاعي پلار جوړ شو او د رضاعي پلار ورور چې له دغې جلـی سـره یې واده کړی ده د دغې جلی رضاعي تره، اودغه جلی د دی رضاعي وریره وګرځیدلـه، او د رضاعي تره له رضاعي وریری سره نکـاح نـه صـحیح کیـږی بلکـې حـرام ده،لهـذا مذکوره نکاح د فسخ کولو قابل دی دواړه باید فوراً جدا شي، خاونـد دی ورتـه طـلاق ورکړی او یا په ژبه ورته ووايي چې ته می پریښودلي. دواړه صحیح دی، له کـوم وخـت نه چې د دواړو ترمنځ تفریق وشي له همغی وخت نه عـدت شـروع کیـږی. پـه فتـاوای عالمګیری کې دي:

واخو الرجل عمه واخته عمته واخو المرضعة خاله واختها خالته (فتاوای عالمگیری ج ۲ ص ٤٨ کتاب الرضاع).

په القول الجازم فی بیان المحارم کې دي: او د شیر خوار رضاعي پلار ورور دشیر خـوار تره او دهــغې خور د شیرخوار د ترور کیدو په وجه په شیرخوار باندې حرامیږی. (ص ۱۱).

په علین هدایه کی دي:

لقوله علیه السلام لعائشة لیلج علیك افلح فانه عمك من الرضاعة.

محمد صلی الله علیه وسلم حضرت عائشه رضی الله عنها ته فرمایلی وو چې افلح دی ستا مخی ته راځي ځکه چې هغه ستا رضاعي تره دی.

(ف). پخپله حضرت عائشه رضی الله عنها روایت کوي چې د حجاب له حکم نه وروسته افلح زما په مخامخ را غی او ما ترینه پرده وکړه، هغه راته وویل ته له ما نه پرده کوي ؟ په داسي حال کې چې زه ستا تره یم، ما ورته وویل ته له کوم ځایه زما تره یې ؟ هغه راته وویل زما د ورور ښځې تاته شیدی درکړی دي، ما ورته وویل ما ته خو ښځې شیدی راکړي دي نه سړی ؟

بیا محمد صلی الله علیه وسلم زما څنګ ته راغی ما هغه ته دا خبره وکړه، هغه راته وویل چې هغه ستا تره دی. یعنی له پردی نه پرته ستا خواته راتلی شي. (عین لهدایه ج ۲ ص ۱۴۰ کتاب الرضاع). (هدایه اولین ص ۳۳۱ خاشیه ص ۸).

والمتارکة فی الفاسد بعد الدخول لا تکون الا بالقول کخلیت مبیلك او ترکتك (فتاوی عالمگیری ج ۲ ص ٤١ فصل فی النکاح الفاسد).

په مسٔوله صورت کې چې له هغوی نه کوم اولادونه شوي دی هغه ثابت النسب دي. په فتاوای عالمګیري کې دي:

رجل مسلم تزوج بمحارمه فجئن باولاد یثبت نسب الاولاد منه عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی خلافا لهما بناء علی ان النکاح فاسد عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی باطل عندهما کذا فی الظهیریة. یعنی کوم مسلمان سړی په خپلو محارمو کې چاسره نکاح وکړه او له هغه اولاد یې هم پیدا شول نو د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه په نزد د هغه نسب له هغه ثابتیږی او د صاحبینو په نزد نه ثابتیږی، د دغه اختلاف بنیاد دا دی چې د امام ابو حنیفه په نزد دا نکاح فاسده ده او د صاحبینو په نزد باطله ده. (فتاوای عالمګیري ج۱ ص ۵۴۰).

په هدایه اولین کې دي:

و اذا فرق القاضی بین الزوجین فی النکاح الفاسد قبل الدخول (الی قوله) و علیها العدة و یعتبر ابتداء ها من وقت التفریق لا من اخر الوطیات .و یثبت نسب ولدها

لان النسب يحتاط في اثباته احياءً للولد فيترتب على الثابت من وجه (هدايه اولين ص ۳۱۳ كتاب النكاح باب المهر) فقط والله اعلم بالصواب.

په ناخبرۍ کې له داسي خاله لور سره نکاح وکړه چې رضاعي خورزه يې ده له هغې نه اولادونه يې هم شوي دي :

(۵۲۷ _ سوال): زيد د ماشوم توب په عمر کې د خپلې آنى شيدی څکلی وی وروسته د زيد نکاح د هغه خاله (رضاعي خور). له لور سره وشوه، د دواړو ترمنځ . نکاح ۲۵ کاله شوي دي، دوه نارينه اولادونه او دوه زنانه اولادونه ترينه شوي دي. د جنوکيانو ودونه هم شوي دي او ماشومان ترينه هم پيدا شوي دی.

اوس زيد ته معلومه شوه چې دهغه نکاح له خپل رضاعي خورزی سره شوي ده او هغه يې ماما دی، ايا د دوی دواړو نکاح صحيح ده او که نه ؟ ايا د دواړو ترمنځ تفريق ضروري دی. ايا د هغه اولاد ثابت النسب دی او له خپل پلار نه ميراث وړلی شي او که نه ؟ بينواتوجروا.

(ځواب): حامداً ومصلياً ومسلماً کله چې په شرعي حجت سره دا ثابت شي چې واقعی زيد د رضاعت په موده کې د خپلې انی سينه رودلی ده نو د زيد دغه خاله لور رضاعي خورزه يې هم ده لهذا نکاح ورسره نه صحيح کيږی، دواړه د ښځې او خاوند په څير نشي اوسيدلی د دواړو ترمنځ تفريق ضروري دی، البته اولادی ثابت النسب او د خپل پلار وارثان دي.

ولو طلقها ثلاثا ثم تزوجها قبل ان تنكح زوجا غيره فجاء ت عنه بولد ولا يعلمان بفساد النكاح يثبت النسب ايضا عند ابى حنيفة رحمه الله عليه. (فتاوى عالمگيرى ج ۱ ص ۵٤۰ الباب الخامس عشر فى ثبوت النسب).

رجل مسلم تزوج بمحارمة فجئن باولاد يثبت نسب الاولاد منه عند ابى حنيفة رحمه الله خلافا لهما بناء على ان النكاح فاسد عند ابى حنيفة رحمه الله باطل عندهما ، كذا فى الظهيرية (فتاوى عالمگيرى ج ۱ ايضاً ص ۵٤۰) فقط والله اعلم بالصواب .

تمت بالخير